# جگړه او سوله

## دریم ټوک

لیف نیکولایوویچ تولستوی
ژباړن:
دوکتور لطیف بهاند

مسکو
۲۰۱۲

Ketabton.com

۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پېژندنه**:

د کتاب نوم: جګړه او سوله
لیکوال: لیف نیکولایوویچ تولستوی
ژباړن: دوکتور لطیف بهاند
ټوک: دریېم
طرحه او ډیزاین: سپین سهار
خپرندوی او مالي لګښت: د میدان وردګو ولایت والي محمد حلیم فدایي
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپکال: ۱۳۹۱ل/ ۲۰۱۲ز
د خپرونو لړ: (۳۹)

۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

جـګړه او سوله

# لومړی برخه

۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

د ۱۸۱۱ کال په وروستيو وختونو کې د لوديزې اروپا د پوځې قوتونو سفري برۍ او ځای پرځای کېدل پيل شول او په ۱۸۱۲ کال کې د دغو پوځونو شمېر (له هغو لوژستيکي وګړو سره چې د دوی د خوړو، کالو او لېږدولو دنده يې لرله) له څو ميليونو تنو نه واوښته. دغه پوځ له لوديزه ختيځ ته روان او د روسيې پولو ته يې مخه کړه. او دې ته په ورته توګه په همدې ۱۸۱۱ کال کې د پولو له بلې خوا د روسيې پوځونو ځان د پولو په اوږدو کې ځای پر ځای کاوه. د جون په ۱۲ مه د لوديزې اروپا په خوښه د روسيې پولې ماتې او جګړه پيل شوه. يعنې هغه څه پېښ شول چې د بشري تعقل او ټول انساني طبيعت ضد دی، په ميليونو وګړو د يو بل په ضد دومره بې اندازې شرارت وکړ. دومره دوکې، دومره خيانت، بربريت، دومره يې د يو بل پر شتمنيو تالان ګډه کړ، په بې ساري توګه يې يو بل ته جعلي اسناد او کوټه روپۍ جوړې کړې، داسې چورونه يې وکړل، دومره اورونه يې واچول او دومره وژنې يې وکړې، هسې خيانتونه او جنايتونه وشول چې تر هغه څه نه واوښتل چې د يوې پېړۍ په اوږدو کې د نړۍ پرخلکو تېر شوي وو، خو هغو وګړو چې دغه جنايتونه يې کول، ځانونه يې جاني نه ګڼل.

دغه غير معموله پېښې ولې رامنځ ته شوې؟ د هغو علتونه څه وو؟ مورخين په ساده باور وايي چې د دغو پېښو علتونه د الدنبورګ پر شهزاده ستم، پرسيمې، له لاسبرو قوانينونه سرغړونه، د ناپليون واک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالنه، د الکساندر ټینګار، د ډیپلوماتانو تېروتنې او نور وو...

په دې توګه، که میتېرنیخ او روما یا نخوف یا تالیران د کومې مېلمستیا کتنې په اوږدو کې د زړه له کومې د پلټون لپاره د یو لیک لیکلو تکل کړی وای او په غوره توګه هڅه شوې وای او یا هم ناپلیون الکساندر ته لیکلی وای:

-زما ورور ټولواکه ! زه چمتو یم د الدنبورګ سېمې بېرته د هغه څښتن ته وروسپارم. که دا شوې وای، جګړه به پېښه شوې نه وای.

دا څرګنده ده چې د هغو همهالو ته هر څه همدا ډول بربښېدلي وو، دا ښکاره خبره ده چې د ناپلیون لپاره د جګړې علت (لکه هغه شان یې چې د سنت هلن په وچه کې ویلي و ) د انګریزانو دوکې وې، دا هم ښکاره ده چې د انګریزانو د پارلمان غړو به د جګړې علت د ناپلیون واک پالنه ګڼلې وي، د الدنبورګ شهزاده ته د جګړې علت په ډاګه دده پر وړاندې شوی زور زیاتی بربښېده، سوداګرو ته به د جګړې علت د اروپا پر وچې هغه لاسبری قانون بربښېده، چې اروپا یې ړنګوله، کېدای شي زړو سرتېرو او جنرالانو ته به د جګړې تر ټولو غوره علت دا بربښېدلای و چې په دې چاره کې د دوی هنر ته اړتیا لیدله کېږي، د هغه پېر (زمانې) لژیتیمیانو ( د شاهي واک هغه پلویان چې د بوربن کورنۍ ته د واک د بېرته ستنېدو غوښتونکي وو ) د پخواني نظم او قوانینو بیا راژوندي کول، د جګړې علت ښکاره شوی وی، د هغه وخت دیپلوماتانو ته کېدای شي د دې ټولو پېښو د رامنځ ته کېدو علت له ناپلیونه د روسیې او اتریش، د ۱۸۰۹ کال د تړون راز، په پوره توګه پټ نه وی ساتل شوی او د ۱۷۸ شمېره یادښت په ترتیب کې له پوره ځېرکتیا نه کار نه وی اخېستل شوای. دا څرګنده ده چې دغه او نور بې شمېره بېلابېل علتونه، چې شمېر یې د هغه وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو د اندونو د شمېرې په اندازه دي، هغه علتونه چې د هغه وخت او زمانې د وګړو لپاره د جګړې د پیل علت بلل شوي وي، خو زموږ لپاره، د هغې زمانې د خلکو د پاتې شوونکو لپاره، چې د هغې سترې پېښې د پېښېدو جرړې په غوره او ځېرکتیا څېړو، د هغې ساده خو وحشتناکه معنې تل ته ورکېوزو، د هغه د پیل لپاره پاس یاد شوي دلایل پوره نه دي. هغه زموږ لپاره د پوهېدو وړ نه دي چې په میلیونونو، عیسویان دې له دې امله یو بل ووژني او وزوروي، چې یا ناپلیون پر واک مین دی یا الکساندر په هر څه ټینګار کوي، یا انګریزان ځېرک او دوکه مار دي یا هم د الدنبورګ شهزاده خوابدی شوی دی. دا د پوهېدو وړ نه دي چې ددغه حالت او په ډاګه د وژنو او زورزیاتي تر منځ څه اړیکي شته دي؟ ولې ددې په پایله کې چې د الدنبورګ شهزاده خوابدی شوی دی، د اروپا له هغه پلوه په میلیونو وګړي راشي د سمولینسک (روسي ښار) او مسکو د ولایاتو خلک ووژني او هر څه یې تالان کړي. موږ، او سنیو څېړونکو لپاره چې تاریخ لیکونکي، نه، یو او د څېړنې سودا مو نه بې لارې کوي، د سلیم عقل له برکته مو سالم عقل، له تتوالي راوتلی، نو زموږ لپاره د جګړې علتونه په بې توګه بې شمېره دي. هر څومره چې په خپله علتونو کې ژوربېږو، له داسې نورو نویو علتونو سره مخامېږو، چې د هغو هر یو یا یو شمېر، په ځانګړي ډول موږ ته ښتیني یا د پېښې د پرتم پر وړاندې په یوه کچه ناسم بربښي او د خپلې کمې اغېزې له امله یې (د نورو همهاله علتونو له اغېزه پرته) د دغې سترې ډرامې په رامنځ ته کولو کې ونډه لرلې نه ده. زموږ د اند له مخې د لهستان د ویسلا نومي سیند له غاړونه د ناپلیون له خوا د خپلو پوځونو د شاته کولو او د الدنبورګ خانانو ته د هغو د جایدادونو له بېرته سپارلو نه د غاړه غړولو علتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.. د جګړې په پيل کې په هماغه اندازه ونډه لري،لکه يو فرانسوي پوځي مشر، چې له خپلې دندې سر غړولای وای. په فرانسوي پوځ کې که يوه مشر له سر تېرې نيولي ،تر دلګۍ مشره، بيا تر پايه له خپلې دندې سرغړولی وای، بيا به په هغه پوځ کې چا د هغه واک ته غاړه نه اېښوده او په دې توګه به د هغه پوځ ورځ په ورځ کم شوی وای.

که ناپليون د ويسلا له سينده،شا تګ ته د روسانو وړانديز منلی وای او خپلو پوځونو ته يې د پرمختګ قومانده ورکړې نه وای،جګړه به پېښه شوې نه وای. .. که د الدنبورګ خان نه وای،که الکساندر هره چاره ځانته سپکاوی نه ګڼلی، که په روسيه کې استبداد واکمن نه وای،که په فرانسه کې انقلاب نه وای شوی. .. او نور ډېر. که نه وای. . جګړه به پېښه شوې نه وای. که دد غو علتونو هر يو په خپل ځای نه وای،دا پېښه به رامنځ ته شوې نه وای. .. په مليياردو علتونه او دلايل سره يو ځای شول،چې دغه پېښه، پېښه شي،خو په دې علتونو کې د دغې پېښې د رامنځ ته کېدو لپاره يوه هم غوره والی نه لاره،ځکه دغه پېښې ځکه بايد پېښې شوای وای چې بايد پېښې شوې وای.

په ميليونو وګړي بايد له خپلو انساني احساساتو او خپل عقل نه انکار کړی وای، له لوديزه، ختيځ ته تللي وای، ځان ته ورته، وګړي يې وژلي وای. هماغه شان چې څو پېړۍ مخکې د وګړو سترې پرګڼې له ختيځه،د لوديز لور ته تللې وې او خپل ځان ته ورته وګړي يې وژلي وو. د ناپليون او الکساندر کړه، چې ګواکې د هغو پرېکړو د جګړې بهير ټاکه، دومره بې اغېزې وې لکه د هغو سرتېرو کړه چې د هغو له خوښې پرته ،د پچې(جلب) پر دود او زور پوځ ته لېږل شوي وو او له دې پرته بله لاره يې لرلای نه شوه. دې چارې بله چاره نه لرله، ځکه د دې لپاره چې د ناپليون او الکساندر پريکړې(يعنې د هغو کسانو اراده چې جګړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو پریکړو پورې اړه لرله) عملي شي، دې کار ډېرو نورو هغو بې شمېره پریکړو پورې چې د هغو له اغېزه پرته د غه پریکړې ناشونې وې، اړه پیدا کوله. ددې لپاره اړتیا لیدله کېدله چې په میلیونو نه تنه، هغه وګړي چې ربښتینی واک یې درلود لکه هغه سرتېري چې ډزې یې کولې یا خواړه.. کالي وسلې، توپونه او نور مهمات یې رسول، باید د دروغجنو واک لرونکو واک ته غاړه ایښې وای..

په تاریخ کې تقدیر ته ځان سپارل د غیر منطقي پدیدو (یعنې هغه پدیدې چې عقل سره اړخ نه لګوي) د آرامۍ لپاره حتمي کار دی. څومره چې هڅه کوو د تاریخ دغه شان پدیدې د عقل په تله وتلو، په هماغه اندازه هغه زموږ لپاره غیر منطقي او ناپېژندلې پاتې کېږي. هر انسان د ځان لپاره ژوند کوي، د خپلو ځانګړو موخو لپاره خپلې خپلواکۍ نه ګټه اخلي او په ډاګه دا احساسوي چې اوس کوم کار کولای شي وکړي او کوم کار نه شي کولای، خو همدا چې دا کار یې وکړ هغه کار په یوې ټاکلې شېبه کې سرته رسېږي، هغه بیا د تاریخ یوه برخه او نه راګرځېدونکې ده، نور یې نو د عملي کېدو امکان نه شته بلکې د تاریخ په یوه پخوانۍ پېښې بدلېږي.

د هر انسان ژوند دوې برخې لري:

یوه یې د ژوند خپله ځانګړې برخه ده، چې څومره له نورو سره له اړیکو نه لرې وی، هومره آزاده وي او بله هغه، له نورو سره په اړیکو او ټولنیز ژوند کې ده، چې په هغه کې دده ژوند، د هغو کړو تر اغېز لاندې دی، چې پر ده زغمل کېږي. انسان په آګاهانه بڼه د ځان لپاره ژوند کوي، خو په ناآګاهانه توګه بې له هغه چې پوه شي، د انساني ټولنې د اهدافو د سرته رسولو لپاره یوه وسیله ګرځي. انساني کړه ډېرته راستنېدونکي نه دي. د هغه کړه د نورو میلیونو وګړو له کړو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښېږي او نورنو تاريخي ارزښت پيدا کوي. انسان چې په ټولنيز ژوند کې څومره لوړ دريځ او له زياتو وګړو سره اړيکي ولري، په هماغه اندازه يې د واک اندازه زياته او په هماغه کچه يې د کړو اغېز او موخه ځرګندېږي. يو روسي متل دى چې وايي:

د ټولواک زړه د خداى په لاس کې دى.

ټولواک د تاريخ مريى دى.

په بله وينا، تاريخ يا د وګړو ناآګاهانه، ډله ايزګله ايز ژوند، د ټولواکانو د ژوند هره شېبه د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره لکه يوه وسيله داسې په کاروى.

که څه هم ناپليون هغه وخت، په ۱۸۱۲ کال کې تر بل هر وخته داسې انګېرله چې ( لکه هغه شان چې الکساندر په خپل وروستني ليک کې هغه ته ليکلي و ) د خپلو خلکو وژل يا نه وژل دده په واک او اراده کې دي،خو تر بل هر وخته د هغو ناليکل شويو قوانينو په منلو محکوم (ده خپله تصور کاوه خپلواک دى ) او دې ته اړ و چې د بشريت او د هغه د تاريخ لپاره هغه څه تر سره کړي چې بايد تر سره شي. .

کله چې يوه مېنه پېښېږي، هغه رالوېږي، د هغې د رالوېدو علت څه دى؟ له دې کبله چې د ځمکې جاذبه يې راکشکاږي؟ يا له دې کبله چې د هغه ډکى وچ شوى او ماتېږي؟ له دې امله چې مېنه درنه شوې، له دې کبله چې باد يې راغورځوي، يا له دې کبله چې تر هغې لاندې ولاړ ماشوم غواړي هغه وخوري؟

له دغو دلايلو نه يو هم د مېنې د رالوېدلو علت نه دى. دغه ټول،يوازې د هغو شرايطو مجموعه ده چې د هغو تر اغېز لاندې طبيعي ژوند خپل بهير وهي. هغه باغوان چې هيله مند دى،مېنه د هغې د ډکي د حجرو د خوسا کېدو يا نورو دغه ته ورته دلايلو له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولوېدلې ده، په هماغه کچه برحق دی، لکه هغه ماشوم چې تر هغې لاندې ولاړ دی او دعا یې کړې چې منه دې راولوېږي، چې دی یې وخوري. ..

په تاریخي پېښو کې تش په نوم ستري څېرې، یوازې هغه کسان دي چې ځانونه یې د دغو پېښو اتلان ګڼلي او دوی هغه اتلان دي چې له بل هر چا نه کم دغې پېښې پورې اړه لري.

د هغو هر کړه، چې د دوی په تصور په خپلواکه بڼه تر سره شوي، د تاریخ په بهیر کې خپلواک نه دي بلکې د تاریخ د ټولنیز بهیر اړوند او له ازله یې د هغه تکل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

ناپليون د مې د مياشتې په ۲۹ مه نېټه له دريزدين نه، چې دوې اونۍ يې د درباريانو، خانانو، شهزادګانو، ټولواکانو او آن يو امپراطور په منځ کې هلته تېرې کړې، وخوځېد.

دغه ټولواک، تر دريزدين نه د مخه، هغه شهزادګان، پادشاهان او امپراطور چې ځان يې د ستاينې او پالنې وړ ښودلي وو، ونازول، هغه پادشاهان او شهزادګان چې دا ورتيا يې نه وه ګټلې، وغندل، داترېش ملکې ته يې مرغلرې او الماس (چې په زور يې پادشاهانو نه اخېستي وو) ډالۍ کړل، د فرانس د امپراطور له لور ماری لوييزيې، نه يې غبږ تاو کړه، (د هغه د تاريخ ليکونکي په وينا) همدغه ماری لوييز، د هغه بېلتانه سخته خواشينې کړې وه، ځکه که څه هم بناپارت بله ښځه لرله، خو په پاريس کې پاتې وه او ماری لوييز ځان د هغه مېرمن ګڼله او داسې يې ښودله چې د هغه د جدايې زغم نه لري.

که څه هم ډيپلوماتان لا د سولې ټينګېدو ته کلکه هيله لرله او په خورا مېړانه يې دغه ارمان ته کار کاوه. ددې سره سره ناپليون لا په خپله الکساندر ته ليکونه ليکل او هغه يې، زما ورور ټولواک باله، د زړه له کومې يې هغه ته ډاډ ورکاوه چې د جګړې تکل نه لري او د تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره به هغه ورته ګران او د درناوي وړ وي، خو بیا هم له خپل پوځ سره یو ځای شو او په هر ځای کې به یې له لودیزه، ختیځ ته د پوځونو د چټکې خوځېدا سپارښتنې ورکولې. هغه په خپله صحرایي ګاډۍ کې چې شپږو آسونو ځغلوله سپور و. غلام بچګانو، یاورانو او یوې سترې ډلې چوپړانو بدرګه کاوه او د هغې لارې نه چې د پوزین، تورن او دینیځک نه کورنیګزبیرګ ته رسېدله، مخکې روان و. له دغو ښارونو نه، په هر یوه کې په زرګونو وګړو په زغم او خوښۍ هغه ته هرکلی وایه.

پوځ له لودیزه د ختیځ پلو روان و او هغو شپږو آسونو چې دده ګاډۍ زغلوله، مزل په مزل بدلیدل، دې یې هغه ځای ته رساوه چې تکل یې شوی و. د جون په لسمه دی له خپل پوځ سره یو ځای شو او شپه یې په یوه کور کې چې د یوه پولندي ګراف له خوا ورته برابر شوی و او د ویلوویسکی په جایداونو کې پروت و، تېره کړه. بله ورځ ناپلیون تر خپل پوځه هم مخکې شو، پولندي پوځي دریشي یې واغوسته او په ګاډۍ کې سپور د نی یه مان د سیند غاړو ته د سیمې د کتنې لپاره ووت.

د سیند پر هغې بلې غاړې په پرتې سترې دښته کې، چې د مسکو سپېځلی ښار یې په منځ کې ولاړ و، قزاقي سرتېري ولیدل، دغه ښار چې د لرغونو ساکانو ځمکو ته ورته و، د پراخه هېواد پلازمینې ته پاتې کېده، چې ده ته یې آسکندر مقدوني ور په یاد کړ او د ټولو د تصور بر خلاف یې، د ستراتیژیکو او دیپلوماتیکو خیالاتو برخلاف د پرمختګ فرمان ورکړ او بله ورځ یې پوځیانو له نی یه مان نه اوښتل پیل کړل.

د جون په دولسمه سهار د وخته، له هغې کېږدۍ نه چې د نی یه مان د سیند پر ځوړنده او سر ښکته غاړې ورته درول شوې وه راووت او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوربین یا لرلید کې یې د خپلو هغو سرتېرو ننداره پیل کړه چې د ویکوویسکي له ځنګل نه لکه مست سیند راوتل او د نی یه مان، پر سیند چې پر دریو جوړو شویو بېړنیو پلو، آپلو اوښتل. پوځیان چې سیمه ته د خپل ټولواک له راتګه خبر و، په ځیرو سترګو یې هغه لټاوه او چې هغه یې د غونډۍ پر سر د خپلې کېږدۍ په مخکې، د هغه له ملګرو نه په توپیر لرونکو جامو او ځانګړې خولۍ کې ولید، خپلې خولۍ به یې پورته اچولې او چیغې به یې وهلې:

- تل دې وي ټولواک !

په یوې یوستوی بڼه، لکه بې پایه سیند له هغه ستر ځنګله چې تر هغه وخته پورې یې لکه پټه خزانه داسې پټ ساتلی و، راوتلي او په درې ځانګو کې د پلو له سره آپلو تېریدل.

د ټولو سرتېرو له زلمو نه تر پخو او له پخو نه نیولې تر زړه پورې له هرې خوانه اوریدل کېده:

- دا وار سفربري پیل شوه ! روانېږو !

کله چې یې خپله د چارې تکل کړی دی، هر څه کېږي.. زه به سر ترې نه ځار کړم... خپله دی دی، ښه ورته وګورئ، خپله دی دی ! ژوندی دې وي ټولواک !.. هغه دې هغه آسیایی دښتې.. مګر بده خاوره ده، د خدای په امان المانه ! د مسکو تر ټولو ښکلې ماڼۍ به درته وساتم، د خدای په امان، بریالی اوسئ ! تا ټولواک ولید؟ هورا ! که زه د هند والي شم، تا به د کشمیر وزیر کړم، هغه دی، وګوره ټولواک هغه دی ! تا ته وایم ویني یې؟ ما هغه دوه واره داسې ولید، لکه تا ته چې ګورم. دا د ټیټ ونو مشر (فرانسویانو په خپل منځ کې ناپلیون په دې نامه یاوداوه) ما یو وار کله چې هغه، یوه بوډا ته مډال ورکاوه ولید... هورا، هورا ! ژوندی دې وي ټولواک !

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولو ښرو کې يو ګډه نښه او هغه هم د جګړې د پيل له امله چې له پخوا ورته سترګې په لاره و، راڅرګنده او له هغه چا سره لېوالتيا او له هغه نه د سرځارېدنې شوق او جذبه په هر چا کې ليدل کېده، چې خړې جامې په ځان د غونډۍ پر سر ولاړ و.

د جون په ديارلسمه يې ناپليون ته يو اصيل وړوکی عربی آس راوست، هغه پرې سپور شو او د مستو کنهوونکو چغو او په شراوشور کې، (چې ښکاريده دی دا ټول ځکه زغمي چې نه يې شو کولای د خپلو پوځيانو مينه او ناز، ونه مني) يرغه د نی يه مان، د يوه پله پلو ته لاړ. دغو چغو هرپلو هغه بدرګه کاوه او دده پام يې د جګړېزو تکلونو نه چې له پوځ سره تر يو ځای کېدو نه وروسته، ده د هغه پريکړه کوله، بل پلوه اړاوه. هغه سپور پر يوه پله، چې په موقتي ډول پر جالو دريدلی او پرله پسې خوځېده او رېږديده، د سيند بل پلو واوښت، په چټکۍ او ناڅاپه کين پلو ته وګرځېد او په يرغه توګه د سوی کاونو پلو ته لاړ او د هغه ښکارې سواره ګارډ پوځيانو پسې چې له خوښۍ او جذبې نه الوتل، مخکې روان او ده ته يې په خپله ګڼه ګونه کې د تلو لاره پرانسته، وړاندې لاړ. همدا چې د ويلنا پراخ سيند ته ورسېد، د پولندي اولان نومي غونډ تر څنګ چې د سيند پر غاړه مېشت شوی و، ودريد.

پولنديانو هم د فرانسويانو په شان په ولولو خوشالي کوله، د هورا نارې يې وهلې، ژوندی دې وي، چغې يې وهلې، يو بل يې کېښکودل او خپلې کرښې يې ددې لپاره ماتولې چې هغه ووينې.

ناپليون د سيند ترنندارې وروسته، له آسه راکوز شو او د يوې ونې پر ګنډې چې د ساحل پر غاړه پرته وه کېناست. هغه پرته له هغه چې څه شونډو پرانزي، اشاره يې وکړه او ده ته يې لرليد (دوربين) سره ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ده،دغه دوربین،د هغه چوپړ پرشا چې په مستې لېوالتیا ده ته ورنېږدې شوی و، کېښود او د ویلنا د سیند د بل ساحل په څارنه بوخت شو. تر هغه وروسته یې د نقشې په کتنه چې پر ګنډې غوړول شوې وه، پیل وکړ او بیا یې چې له هغه نه سر پورته کړ، کوم څه یې وویل او دووتنو یاورانو په ځغاسته د پولندي اولانانو(پوځیان) خواته ورمنډه کړه.

له دغو دووتنو نه،اولانو ته د هغه لومړی کس په رسېدو سره، له ټولو کرښونه یو غږ پورته شو چې وې ویل: څه یې وویل؟ څه یې وویل؟

سپارښتنه شوې ده چې ګودر پیدا او بل ساحل ته وروا ړوو، د پولند د اولانانو مشر یوه زړه راښکوونکی بوډا و، چې له ګبڼې نه په قار شو، وبنګېد او وې ویل:

-آیا اجازه شته، سړی خپله له ګودره پرته، له سیند نه واړوي؟

له ورایه څرګندیده چې خورا پریشانه ده، کېدای شي دده غوښتنه ونه منل شي، لکه یو ماشوم چې په زار زار یو هڅه کوي، پر آس سپور شو، ده هم غوښتنه کوله چې ده ته اجازه ورکړل شي د ټولواک په مخکې پر څپو ورودانګي، یاور ورته وویل:

- تصور کوئ چې د ټولواک به دده، دغه زړورتیا خوښه شي؟

همدا چې یاور دا خبره وکړه، زوړ بریتور افسر چې څېره یې له شوقه غوړېدلې او سترګې یې له نیکمرغۍ نه ځلېدلې، خپله توره پورته ووهله او پر خپلو سړیو یې غږ وکړ چې ده پسې ودانګي، خپل آس یې په خپله پونده، پر ډډه وواهه او د رود پلو یې چو کړل. کله چې د رود غاړې ته ورسېد ،اوبو ته ورکوز شو ،داوبو د تل هغې برخې ته، ورغی چې ژورې او مستې څپې یې وې. په سلګونو اولانان هغه پسې ورغلل. اوبه سړې، ژورې او چټکې وې. اولانان یو بل ته لاس تر غاړې شول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو چټکو څپو تر هغو لاندې،آسونه وړل، ځينې آسونه او يو شمېر خلک ډوب شول او پاتې هغو هڅه کوله چې په چټکۍ ځان بل ساحل ته ورسوي. که څه هم ګودر ته نيم ورست لاره پاتې وه، خو بيا يې هم په دې وياړل چې د هغه چا پر وړاندې چې په ساحل کې پر کنده ناست دی او آن دوی ګوري هم نه،دوی له څپو سره غېږې لګوي، وړاندې درومي او يا هم ډوبېږي، کله چې ياور ناپليون ته راستون شو او په يو شېبه کې يې زړه نا زړه وخت پيدا کړ، چې د ناپليون پام هغو پولنديانو ته ور واړوي، چې دده د قدمونو په وړاندې دده په وياړ سرښندنې کوي. دغه خړجامې، کمکی سړی پاڅېد او جنرال يې بيرته، خپلې خواته وروغوښت، د رود پر غاړه يې له هغه سره قدم وهل پيل کړل، هغه ته يې سپارښتنې ورکړې او کله ناکله به يې دده پام ،په نارضا غلچک هغه اولانانو ته چې له څپو سره يې غېږې لګولې، وراړاوه او طبيعت به يې ورخته کړ.

د هغه لپاره دا نوې خبره نه وه، چې په هر ګوټ کې له افريقا نه نيولې د مسکو تر جلګو او شيلو پورې،دده ديدن، په يو ډول پر خلکو داسې اغېز کوي چې عقل يې له سره والوزي او داسې يې سرسامه کوي، چې ځان ترې هېروي.

هغه سپارښتنه وکړه چې دده آس راولي او دی خپلې قوماندانۍ ته لاړ شي.

که څه هم د ډوب شويو مرستې ته،جالۍ ولېږل شوې ،خو تر څلويښت پورې اولانان ډوب شول. د هغو زيات شمېر بېرته د ساحل دې غاړې ته راستانه شول،خو يو څو تنو د ډګروال په مشرۍ، له دېرو ستونزو او هلو ځلو وروسته ځانونه د ساحل هغې غاړې ته ورسول،مګر همدا چې له اوبو نه ووتل، له لمدو کاليو سره چې اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې څڅېدلې او هغه پلو ته يې چې څو شېبې مخکې ناپليون په کې ولاړ و، خو اوس هغه هلته نه ليدل کېده، هورا او شر او شور پيل کړ، بيا هم دوی هغې خوا ته کتل او ځان يې په هغې شېبه کې نيکمرغه ګاڼه.

هغه ماښام ناپليون د هغو دوو فرمانونو تر منځ، چې يو د روسي جعلي پيسو د چټکو رسولو په اړه چې په روسيې کې دې بيا خورې شي او بل د هغه ساکسوني سرتېری په اړه چې له هغه سره د فرانسوي پوځونو د ځايونو په اړه ليک پيدا شوی و، يو بل فرمان هم لاسليک کړی و او هغه پولندي ډګروال ته چې بې له هر ډول اړتياوو يې ځان د سيند څپو ته سپارلی و، د لژيون دونو د نښان (هغه نښان چې دی په کې انځور شوی و) د ښښلو فرمان و.

هر هغه څوک چې وژني عقل ترې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

اوس نو یوه میاشت کېده چې روسي ټولواک، په ویلنا کې ژوند کاوه او په دې موده کې یې، کتنې او تطبیقات کول. د جګړې لپاره چمتوالی چې ټول ورته سترګې په لاره او ټولواک په هغه کې د ګډون لپاره، له پترزبورګه پولند ته راغلی و، هېڅ پته نه لګېده. د جګړې ټولیزه کړنلاره نه یوازې جوړه شوې نه وه، بلکې د وړاندې شویو کړنلارو نه یوه هم غوره شوې نه وه، که څه هم ټولواک له یوې میاشتې راهیسې دلته و، خو تر ټولو نه د غوره کړنلارې غوره کول خورا ګرانه وه. د روسیې درې پوځونو، هر یوه خپل قوماندان لاره، خو د ټولو د لارښوونې ستر قوماندان لا ټاکل شوی نه و او خپله ټولواک هم دغه مشري او دنده نه اخېسته. هر څومره چې په ویلنا کې د ټولواک د پاتې کېدو وخت زیاتېده په هماغه اندازه د هغې جګړې لپاره چې انتظار کېده چمتوالی کېده. له ټولواکه د ټولو چاپېر شویو، ټولې هڅې د دې لپاره وې چې پر هغه وخت ښه تېر شي او په د غو خوښیو کې و کولای شي دغه رارسېدونکې جګړه هېره کړي.

وروسته له هغه چې د پولند د چارواکو او درباریانو له خوا او هم د ټولواک په خپل هستوګنځي کې د سندرو، موسیقي او نڅاوو ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنډارونه جوړ شول. د جون په میاشت کې د پولنډ یو جنرال یاور ته دا خیال پیدا شو چې د ټولواک د پولنډي ځانګړو یارانو له خوا د هغه په ویاړ د نڅا یوه ځانګړې مېلمستیا جوړه کړي. ټولو د دغه خیال خورا تورد هرکلی وکړ. ټولواک هم خپله خوښه څرګنده کړه. جنرال یاور د پیسو راټولولو لپاره یو نوم لیک جوړ کړ. دوی له هغه چا نه چې تر ټولو زیات د ټولواک پر زړه ښه لګېده هیله وکړه، چې کوربه شي. ګراف بینیګسین ته یې چې د ویلنا د ولایت یو ستر ځمکوال وړاندیز وکړ چې دغه جشن دی، دده په کلیواله ماڼۍ کې جوړ شي. د جون دیارلسمه نېټه د دغې مېلمستیا لپاره چې نڅا، سندرې، اور لوبې او د سیند په جالو کې ګرځېدل په کې کېدونکي و، وټاکله شوه. دغه ټول څه، باید ددغه ګراف په زکرات نومې کلیوالي کور کې ترسره شوي وای.

هماغه ورځ چې ناپلیون د نی یه مان له سینده، د اوښتو فرمان ورکړ، دده پوځ د روسي قزاقانو پوځ پر شا وتمباوه، هغه یې د روسیې له پولو واړاوه. الکساندر همدغه شپه د ګراف بینیګسین په کلیواله ماڼۍ کې تېروله او ددې بنډار په خوښیو او مستیو کې یې هر څه هېر کړي و.

له خوښیو او شر او شوره ډک جشن و، په جشن کې مخورو ګډو نکوونکو، ویل چې ډېر داسې کم په یاد لري، چې په یوه بنډار کې دې دومره ښکلې راټولې شوې وي. ګرافینه بېزاوخوفا، د نورو روسي میرمنو په ډله کې چې له پترزبورګه، ټولواک پسې، دلته ویلنا ته راغلې وې، په دې بنډار کې ګډون درلود. هغې په خپلې درنې، روسي نومې ښکلا د پولنډي ښکلاوو بازار مات کړی و. په دې بنډار کې د ټولواک هغې ته پام شو او له هغې سره یې په نڅېدا، هغه ویاړمنه کړه. باریس دروبتځکوی چې خپله ښځه په مسکو کې پرېښې وه لکه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ویل د یو وزری (مجرد ) په توګه په دي بندار کي ګډون درلود ،که څه هم هغه د جنرال یاور نه و ،خو د دي بندار په خرڅ کي یې ښه ونډه پري کړي وه. هغه اوس خورا بډای،د واک لوړپوړو ته رسېدلی او نور د چا ځانګړي ملاتړ پسي نه ګرځېد. هغه د خپلو همزولو په منځ کي تر ټولو غوره دریځ خپل کړی او له ټولو سره یې سیالي کوله.

د شپې دولس بجي وې، خو نڅا دوام درلود. ایلین چي هېڅوک یې له ځانسره د نڅا وړ نه ګڼل،خپله یې باریس ته وړاندیز وکړ، چي له هغې سره د مازورکا نڅا وکړي. هغوی د نڅا لپاره دریمه جوړه وه، چي د نڅا د پیل په هیله څنګ په څنګ ناست و. باریس په خورا زغم،له زربخون کمیس، د پراخي زري اوبدل شوی غاړي نه د هغه د راوتلو بربنډو ځلېدونکو اوږو ننداره کوله. له هغې سره یې د پخوانیو ګډو اندیولانو او آشنایانو په اړه خبري کولي،خو سره له دي هم بې له هغه چي دی خپله پوه شي،یا د بل چا ورته پام شي، یوه شېبه یې هم د ټولواک له څارني نه چي همالته و سترګي نه لري کولي. ټولواک نه نڅېده، هغه د وره مخي ته ولاړ و ،کله به یې یو او کله به یې بل دراوه او په داسي ښکلو او خوږو خبرو به چي یوازي ده کولای شوې، هغه نازول.

د هغه ،د مازورکا د نڅا په پیل کي دي ته پام شو ،چي یاورجنرال بالاشوف د ټولواک یو له نېږدې محرمو کسانو نه، هغه ته ورغی او د شاهانه دود او دربار له ادبه لري، هغه ته ډېر نېږدي ودرید ،ټولواک،له یوې پولنډۍ ښځې سره د زړه خواله کوله او په یوښتنیزه غلچک یې هغه ته(ټولواک ) وکتل. هغه له ورایه په دي پوه شو چي د بالاشوف له نزاکت دا لري کړه، هرومرو کوم مهم دلیل لري. له درناوی سره مل په یوې خوځېدا له پولنډۍ مېرمنې رالرې شو او بالاشوف ته یې مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورواړاوه، همدا چې بالاشوف هغه سره خبرې پيل کړې، د ټولواک پر بشري د حيرت نښې راخورې شوې، بالاشوف يې له متې راونيو او له هغه سره مل د تالار پای ته لاړل. بې له هغه چې دده پام شي مېلمانه له دواړو خوا نه د درې ساژانو (يو ساژان= ۲/۱۲ ) په اندازه هغو ته لاره پرانسته، باريس وليدل چې بالاشوف ته د ټولواک د ورنېږدې کېدو په وخت کې د آراکچيېوف په څېره کې څنګه د ګېنځې نښې راڅرګندې شوې. اراکچيېوف چې ترسترګو لاندې ټولواک څاره، خپله سره پزه سغوله، هغه د مېلمنو له منځه د باندې راووت، داسې برېښېده چې ټولواک دی هم ځانته ور وغواړي. باريس په دې پوه شوی و، چې آراکچيېوف، بالاشوف سره رخه کوي، ځکه هغه خبر چې خورا ډېر مهم دی، له ده پرته د بل چا له لارې، ټولواک ته رسېدلی و.

خو ټولواک او بالاشوف، اراکچيېوف ته له پاملرنې پرته، د وتلو د دروازې له لارې ځراغان شوي باغ ته ور ووتل. آراکچيېوف چې خپله توره، لږ پورته خوځوله له غضبه په ډکو غلچکو، دې خواته، هغې خوا ته کتل او همداسې تر شلو قدمو پورې هغې پسې ورغی.

باريس چې لا د مازورکا نڅا ته دوام ورکاوه، خو يوه شېبه يې دا خيال له خياله نه لرې کېده چې بالاشوف به ټولواک ته څه ډول خبر راوړی وي او دی بايد څنګه تر ټولو نه د مخه له هغه خبر شي.

باريس په داسې يوه شېبه کې چې بله مېرمن يې د نڅا لپاره خوښوله، د ايلين په غوږ کې وويل چې، ګرافينه پوتوڅکايا چې ګواکې، بالکن ته وتلې وه، ځانته خوښه کړې، دالان ته په رسېدو سره، د دروازې خوا ته لاړ او د باغ پلو وخوځېد ،خو وې ليدل چې ټولواک او بالاشوف برنډې ته راوختل، دی يوه شېبه ودريد. ټولواک او بالاشوف د دروازې پلو خوځېدل. باريس داسې ګامونو تند کړل چې ګواکې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وخت په دې نه دی بریالی شوی، له هغه ځایه تېر شي، هغه په دروازې ډېره ولګوله او په درناوي یې سربښکته وا چاوه.

ټولواک د هغه چا غوندې چې ګواکې ښه سپک شوی دی، په ګېڼې دا خبرې کولې:

- د جګړې له اعلانه پرته، د روسیې له پولو راتېر شوي ! تر هغه پورې چې یو وسله وال دښمن د روسیې په خاوره کې پاتې وي، زه روغه ونه منم.

باریس ته داسې وبرېښېده چې ټولواک د دغو خبرو له ویلو خوند اخلي. هغه د خپلو خبرو او خیالاتو له څرګندولو نه خورا راضي خو له دې چې باریس اوریدلي، خورا ناراضي برېښېده.

هغه تندی تریو او زیاته کړه:

- هېڅوک باید ، له هېڅ شي نه خبر نه شي.

باریس په دې پوه شوی و ، چې د دې خبرې موخه دی، دی. ځکه یې سترګې پټې کړې او په کراره یې سر ښکته خوا ته وښورو. ټولواک بېرته تالار ته ننوت او نیم ساعت نور هم د نڅا په بنډار کې پاتې شو.

باریس لومړنی څوک و چې د نی یه مان، له سینده د فرانسوي پوځ له را اوښتو خبر شوی و او د دې خبرتیا له برکته و چې څو تنه مخورو چاروا کو ته وښیي چې دی له ځېنو داسې خبرو نه خبر دی، چې نور یې تصور هم نه شي کولای. ...

د نی یه مان، له سینده د فرانسویانو درا اوښتلو خبره په ځانګړې توګه هم د پام وړ و چې د یوې میاشتې انتظاره وروسته، هغه هم د نڅا د بنډار په وخت کې رارسېدلې و.

الکساندر، د خبر د اوریدو په لومړیو شېبو کې د حیرت او دهٔ ته په سپکاوي شوي حالت کې داسې کلمات پیدا کړي وو ، چې وروسته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پام وړ شوي او دده هم خورا خوښېدل. دغه کلمات په ده ډېره ښه لګېدل.

ټولواک چې کله د شپې په دوو بجو د نڅا له بنډاره کورته ستون شو، يو څوک يې خپل منشي شيتکوف پسې ولېږل او سپارښتنه يې وکړه چې د وسله وال پوځ ټولو قطعاتو ته وليکي او فيلډ مارشال شهزاده سالتيکوف ته فرمان ورکړي. هغه دا غوښتنه هم وکړه چې هرومرو به دده دا خبرې هم په کې ليکي:

- تر هغه پورې چې د فرانسې يو وسله وال سرتېری د روسيې په خاوره کې پاتې وي، دی به روغه ونه مني.

بله ورځ د ناپليون په نامه دا سې ليک وليکل شو:

زما ورور ټولواک ! پرون خبر راورسېد چې زما له خوا ، ټولواک ته د ورکړل شوې ژبې، د وفادارۍ سره سره، بيا هم د هغه پوځونه د روسيې له پلو را اوښتي دی. همدا شېبه له پترزبورګه ما ته خبر راورسېد ،چې ګراف لوريستن د همدې تېرې له کبله ځرګنده کړې ده چې تاسو اعليحضرت له هغې شېبې نه چې ګراف کوراکين بېرته د خپل اګريمان غوښتنه کړې ده، له ما سره ځان ليکل شوی تړونونو ته اړ نه وينئ. هغه دلايل چې د هغه له مخې شهزاده باسانو له خپلو چارو نه د ډډه کولو لپاره وړاندې کړي دي، هېڅکله به زما لپاره د منلو وړنه وي. زه به دا ونه منم چې زما د سفير دغه کړه د روسيې پر خاورې د يرغل لپاره پلمه شي. البته لکه هغه شان چې هغه خپله هم څرګنده کړې ده، هغه هېڅکله ددغه شان کړو د سر ته رسولو اجازه نه لرله او ما له دې پېښې نه د خبريدو سره سم، له هغه نه خپله ناخوښي څرګنده او هغه ته مې سپارښتنه وکړه چې په خپله دنده کې پاتې شي. که ټولواک ددې تکل نه لري چې ددغې راز يوې تېروتنې له کبله دې، د فرانسويانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسانو ويني توپې شي او چمتو دی چې خپل پوځونه، د روسيې له خاورې په شا کړي، زه چمتو يم چې په شويو چارو ستر ګې پټې کړم. په دغه ډول زموږ تر منځ د يوې روغې امکان شته دی او کنه زه به اړ وزم چې پر د هغه يرغل مخنوی وکړم چې بې له دليله پر موږ کېدونکی دی. تاسو اعليحضرت لا دا وخت لرئ چې بشريت د نوې جګړې له بدمرغيو وژغورئ.

الکساندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴

ټولواک الکساندر، د جون په دیارلسمه د شپې په دوو بجو بالاشوف ځانته وروباله، هغه لیک یې ورته ولوست چې د ناپلیون په نامه یې لیکلی و. هغه ته یې سپارښتنه وکړه چې لیک به وړي او خپله به یې د فرانسې ټولواک ته سپاري.

ټولواک د بالاشوف د لېږلو په وخت کې خپله دا خبره یو ځل بیا تکرار کړه چې ویلي یې و، دی به تر هغه وخته پورې روغه ونه مني، چې د دښمن یو وسله وال سرتېری د روسیې په خاورې کې پاتې وي. هغه بیا ټینګار وکړ چې دده دغه خبره به هرو مرو ناپلیون ته ووایي. ټولواک دا خبرې ځکه په لیک کې نه وې لیکلې، چې هغه د خپلې ځانګړتیا له مخې دا احساسوله، په هغه وخت کې چې د روغې لپاره وروستۍ هلې ځلې کېږي، د دغه شان تورو لیکل په لیک کې، غوره نه دي، خو بالاشوف ته یې سپارښتنه وکړه چې هغه به هرومرو ناپلیون ته وایي.

بالاشوف د جون په څلورلسمه شپه له یوه ټرمچي او له دوو تنو قزاقانو سره په سپېده داغ کې ځان د ریکانتي په کلي کې د نی یه مان د رود پرغاړه د فرانسوي پرتو پوځونو لومړیو کرښو ته ورساوه. هغه د فرانسوي سپرو پیره دارانو له خوا دریش کړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرانسوي پوځ سواره بریدګي چې ګلابي ډوله دریشي یې په ځان او لوړه وړینه خولۍ یې پر سر وه، پر هغه یې بیا د درېدو غږ وکړ، خو بالاشوف پرته له هغه چې غږ ته پام وکړي، وړاندې تګ ته دوام ورکړ. بریدګی په قهر شو، هغه ته یې ورمنډه کړې او خپل تېرېې د هغه د آس اوربوز ته وربرابر کړ، توره یې راوویسته او په ښکنځلو، ښکنځلو یې پر روسي جنرال ورچغه کړې:

-کوڼ یې که څنګه چې دریش نه اورې. بالاشوف ځان ورو وپېژاند او بریدګي یو سرتېری د خبر لپاره خپل افسر ته ورولېږه.

فرانسوي بریدګي پرته له هغه چې روسانو ته پام وکړي، خپلو ملګرو سره یې د غونډ په اړه خبرې پیل کړې.

بالاشوف، چې تل یې په لوړو او پرتمینو دریځونو کې کار کړی و، په تېره بیا چې درې ساعته مخکې یې له ټولواک سره خبرې اترې لرلې، په ټولیز ډول ددې چارو له درناوي کولو سره روږدی کړی و، له دې امله هک پک شو چې په خپله خاوره کې له داسې تربګنۍ سره مخامخ او سپکاوی ورته کېږي.

لمر تازه د وریځو له شا نه د راوتو هڅه کوله هوا هم د شبنم له برکته تانده تانده وه. له کلي نه په راوتلې لارې صحرا پلو ته یو رمه روانه وه.

مرغۍ په ترانو ترانو، داسې لکه چې پر ډنډونو حبابونه راخوره وي، همداسې هوا پلو الوتلې.

بالاشوف چې خپلې شاو خوا ته کتل، له کلي نه د افسر راتګ ته سترګې په لاره و. روسي قزاق ترُمچیان او د فرانسوي پوځي سواره سرتېري ټول خاموش پاتې او کله ناکله به یې یو بل ته سره وکتل.

د سواره پوځ فرانسوي ډګروال چې دوو تنو بدرګه کاوه او داسې برېښېده چې ګواکې هماغه شېبه له بړستنې راپاڅېدلی دی، پر یو خړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګي ښکلي ماړه آس سپور له کلي راووت، د افسرانو سرتېرو او د هغو د آسونو له کش او پش نه څرګندېده چې ټول خورا غوره او ځانستاینه کې دي.

دا لا د جګړې د پیل هغه لومړۍ شپې او ورځې وې، چې قطعات لا د روغې د وختونو په شان منظم، په پریټ ډوله جامو کې د پوځي ځانښودنې په بڼه، کړه وړه یې له لېوالتیا ډک او آن کله ناکله له تربګنۍ نه ډک وو.

فرانسوي ډګروال په سختۍ د خپل اربړمي مخه نیوله، خو بې ادبه نه و او داسې برېښېده چې د بالاشوف پر لوړ دریځ یې سر خلاصېده، هغه یې د خپلو سرتېرو له څنګه د لومړۍ کرښې شاته بدرګه کړ او ورته وې ویل چې له ټولواکه سره دده د لیدو هیله به ځکه ژر پوره کړي چې دده په تصور، د ټولواک قوماندانې همدلته نېږدې چېرې پرته ده.

... نورنو لمر راختلی و او پر شنو شنیلیو ځلېده. همدا چې پر غونډۍ له پرتې کافۍ نه واوښتل، وې لیدل چې یو ډله د غونډۍ له لمنې نه د دوی پلو مخ پورته راروانه ده. د دغې ډلې تر مخې یو جګ ونی سړی چې پر تور آس سپور او خورجین یې تر لمر لاندې ځلېدله روان و. د هغه تورې کړۍ کړۍ څڼې د هغه له خټه پر اوږو راخورې وې. په بڼکو ګاڼل شوې خولۍ یې پر سر او سرې جامې یې اغوستې وې. خپلې اوږدې پښې یې د فرانسوي پوځیانو په دود، وړاندې را اچولې وې، دغه سپور چې په تراټ د بالاشوف پلو راغی، د خولۍ خوځېدونکې بڼکې، ګاڼې او وسلې یې د جون د میاشتې تر راڼه لمر لاندې ځلېدل.

بالاشوف ددغه سواره نه چې په بشره کې یې د برې ځانښودنه او غرور څرګند او پر ټټر، مړوند او په غاړه کې یې، توره، کتار او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه او غټ شيان راځړوند وو ، نور نو دوه آسه زيات وا ټن نه درلود چې والنر ، هماغه ډګروال چې دی يې بدرګه کاوه ، په غوږ کې ورته وويل:

- د ناپل شاه !

په رښتيا هم دغه سپور مورا ، و چې اوس يې د ناپل د شاه نوم ګټلی و. که څه هم دا څرګنده وه چې ولې او په کوم دليل هغه د ناپل شاه په نامه نومول شوی و ، خو دی خپله هم په دې باور و چې په رښتيا د ناپل شاه دی او له همدې امله اوس تر هغه وختنه ، چې دغه نوم يې نه درلود ، شاه ډوله او پرتمينه ډوله بڼه يې غوره کړې وه ، هغه په رښتيا دومره پر خپلې واکمنۍ باور درلود ، چې کله يې پرون له ناپل نه د خوځېدو په درشل کې د هغه ښار په کوڅو کې له خپلې ښځې سره چکر واهه ، څو تنو ايتالويانو د هغه په ليدو چغه کړې وو:

- ژوندی دې وي شاه !

هغه له خواشينۍ نه په ډکې موسکا خپلې مېرمنې ته کتلي او ويلي يې و:

- ددغو بدمرغونه ، يو هم نه پوهېږي چې سبا ته له هغوی نه جلا کېږم.

که څه هم هغه پوره ډاډمن و چې د ناپل شاه دی او له دې کبله له هغوی نه جلا کېږي ، پر خپلو خلکو يې زړه خوږېده ، خو په دې وروستيو وختونو کې چې ده ته پوځ ته د ستنېدو سپارښتنه شوې وه ، په تېره بيا په دانترنګ کې له ناپليون سره تر کتنې وروسته ، د هغه په خول ويارمن اوښې يې ( دښځې ورور ) ( مورا په ۱۸۰۰ کال کې د ناپليون له خور سره واده کړی و ) ده ته ويلي و چې:

- ته په خپله خوښه او توان شاه شوی نه يې ، دا زه وم چې له تا نه مې شاه جوړ کړ ، چې زما په شان واکمني وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په ډېرې خوښۍ د خپلې خوښې کار پیل کړ او لکه ښه موړ، خو نه خوږ او نه تنبل آس، چې ځان ګاډۍ پورې تړلی احساس کړي، غاړه وغړوي او په نڅا راشي. هغه به قیمتي جامې واغوستې، په ډول ډول ګاڼو به یې ځان وګاڼه، په خوښۍ به یې پولند ته پر تلونکي واټ، پرته له هغه چې پوه شي چېرې ته او د څه لپاره روان دی، لکه آس په منډه شو.

د روسي جنرال په لیدو یې خپل سر چې کړی کړی ځنې یې له څټه پر اوږو راخورې وې، په شاهي پرتم لوړ کړ او په پوښتنيز غلچک یې فرانسوي ډګروال ته وکتل. فرانسوي ډګروال په خورا درناوي د هغه شاهانه پرتم ته په پام، په ویاړ د بالاشوف (چې نوم یې سم یادولی نه شو) د استازیتوب د غوره والي په اړه حضرت مورا ته یادونه وکړه.

مورا، د خپلو غوځو پریکړو له برکته، پر هغو ستونزو چې ډګروال د هغه آواری نه شو کولای، بریالی شو او وې ویل:

- ها! دو بالماشو!

او په یوې خوځېدا یې چې د شاهانه انداز نښې په کې ښکاره وې، وې ویل:

- ښاغلیه جنراله، له تاسو سره له پېژند ګلوۍ نه خوشاله یم.

خو همدا چې شاه په ځېږه ژبه او لوړ آواز خبرې پیل کړې، شاهانه پرتم یې یو په یو تری تم شو او بې له هغه چې خپله یې پام شي، په ساده او زړه خوږه ژبه وغږېده، په خورا خوا خوږۍ یې د بالاشوف د آس پر غاړه لاس ورواچاوه او وې ویل:

- ښه جنراله! داسې برېښي چې د جګړې زیری خورېږي!

د هغه ژبه او خبرې هغه چا ته پاتې کېدې چې ګواکې افسوس کوي نه شي کولای د دغه حالت په اړه قضاوت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاشوف وویل:

-ښاغلیه اعلیحضرتا ! لکه هغه شان چې ګورئ زما و الاحضرت، د روسانو ټولواک د جګړې غوښتونکی نه دی. ..

که څه هم مورا ،کله چې ښاغلي بالاشوف ته غوږ غوږ و ، په څېره کې يې د حماقت نښې له ورايه څرګندې وې، خو بيا هم شاه و او لکـه هغـه شان چې د شاهي دريځ، غوښتنه کوي،د ناپليون د يوه غوره مـل پـه توګه بايد د الکساندر له استازي سره د سياسي خبرو په اړه خبرې کړې واى. لـه آسـه راکـوز شـو او د بالاشـوف متـه يـې راونيولـه. لـه خپلـو ساتونکو نه چې په درناوي ده ته سترګه په لاره وو ، څو ګامـه لـرې شو ، دا خوا ، هغه خوا په ګرځېدا شو ،هغه په ډېره غوره کې خبرې کولې. هغه يادونـه وکـړه چـې ټولـواک ناپليون د الکسـاندر لـه هغـه ګوابنـه چـې فرانسوي پوځونه، بايد له روسيې نه ووزي خوابدی شوی دی. پـه تېـره بيـا لـه دې کبلـه چـې لـه دغـه ګوابنـه اوس ټـول هېوادونـه خبـر شـوي او د فرانسوي دريځ ته ډېر سپکاوی شوی دی. بالاشـوف وويـل، چـې پـه دې غوښتنه کې هېڅ ډول سپکاوی نـه شـته، ځکـه چې. .. او مـورا يـې خبـره پريکړه او د زړه له کومې، خو په يوې احمقانه موسکا يې وويل:

-نو تاسو د دې پېښې علت ټولواک الکساندر نه بولئ؟

بالاشوف وويل:

هغه په ربښتيا فکر کوي، چې جګړه ناپليون پيل کړې ده.

مورا بيا د هغه خبره پريکړه او وې ويل:

-ډېر ښه جنراله ! زه د زړه له کومې هيله لرم چې ټولواکان سره جوړ شي، او دغه جګړه چې زما لـه ارادې پرتـه پيـل شـوې ده، ژر تـر ژره پـای ته ورسېږي.

د هغـه د غږېـدا ژبـه هغـو چوپړانـو تـه پـاتې کېـده چـې د بـادارانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيالۍ او دښمنۍ سره سره بيا هم غواړي سره دوستان واوسي. هغه خبره په بله واړوله او د مشر والاحضرت شهزاده ځاروويچ د روغتيا پوښتنه يې وکړه او له هغه سره يې په ناپل کې د خپلو خوښيو او ګډو عياشيو د تېرولو يادونه را تازه کړل... بيا ناڅاپه، ګواکې هغه ته بيا د خپل پاچاهتوب دريځ ورياد شوی وي، وويل:

- ښه جنراله نور به مو نه ځنډوم، ستاسو د برياليتوب هيله کوم !

هغه چې د سره بالاپوش د لمنې چورمې او د لوړې خولۍ ښکې يې تر لمر لاندې ځلېدلې، د خپلو هغو چوپړانو خواته ور روان شو، چې ده ته په خورا درناوي سترګه په لاره ولاړ وو.

بالاشوف وړاندې لاړ او په دې هيله لکه هغه شان چې مورات يې تکل کړی و، چې ژر تر ژره يې له ناپليون سره کتنه وشي، خو له ناپليون سره د کتنې هيله ځنډنۍ شوه او د دې کتنې پر ځای، په بل کلي کې د پلي پوځونو د مارشال داوو، د مخکښو سرتېرو هغه د لومړې کرښې د پېرې په نامه تر ډېرو پورې ودراوه، د پلي پوځ قوماندان ياور راوبلل شو او هغه يې په کلي کې مارشال داوو، پورې بدرګه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

مارشال داوو، د ټولواک ناپليون لپاره هغه دريځ لاره، لکه چې آراکچييوف د الکساندر لپاره. د ناپليون آراکچييوف د الکساندر تر هغه نه زړور، خو په ځارنه او ساتنه کې د هغه په کچه بې رحمه او خپل ټولواک ته سربښندنه او تر هغه ځاريدنه يې هغه ته. له نورو سره په همدې بې رحمۍ کې ځرګندوله.

په دولتي جوړښت کې د دغه شان سړيو شته والی ته په هماغه اندازه اړتيا ليدله کېږي، لکه لېوه ته، په طبيعت کې. دغه کسان تل و او هر څومره چې د هغو شتوالی، د ولس مشر په شا او خوا کې بې ځايه وبريښي، بيا هم هغوی شته او هلته پاتې کېږي. د دغه شان سخت زړو، بې رحمو او بې روزنې اراکچييو د شته والی او اړتيا علت چې د بريتورو پوځيانو (په روسيه کې يو ډله لوړ وني بريتور پوځيان و چې د ټولواک په ګارډ کې د ښکلا لپاره روزل کېدل) بريت يې په ګوتو شکول، درباري ځانګړتياوو نه بې برخې و، د ناتوانو اعصابو له امله يې د غم زغم نه لاره، خو بيا يې هم دغه شان بې پايه واک لاره او کولای شول، د الکساندر غوندې زړور، مهربانه او نرم طبيعت ټولواک تر څنګ پاتې شي، هيڅ څوک نه شي ويلي چې هغه څنګه دلته پاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاشوف له مارشال داوو سره، په یوه کلیوالي سرای کې، چې پر یو لوی قوطي ناست و، په لیکنې لګیا و او حسابونه یې کول، مخامخ شو ؛ یاور یې ترڅنګه ولاړ و. دا کار شونی و چې د مارشال داوو، لپاره تر ډېرو نه خورا ښه ځای پیدا شي، خو دی د هغو کسانو له ډلې نه و چې په لوی لاس یې غوښتل دغه شان ناسم ځای او ناسم حالت کې ،ځان ناسمه وبریښوي. دغه د زورولو لېوال، دې هم دې حالت له کبله تل ګېنې اخېستي او بوخت دي، د هغوی د بشرې نښې وایي:

-څنګه کولای شو ،د ژوند د نیکمرغیو په اړه فکر وکړو؟ نه وینئ، چې زه په یوې ناولې کوټه کې پر یوه ناولي قوطی ناست یم او لګیا یم کار کوم؟ د هغو د ژوند تر ټوله غوره خوند په دې کې دی چې کله نیکمرغه خلک ووینې هغوی ته سمدلاسه د خپل بدمرغه او زورونکي ژوند تصویر انځور کړي. کله چې یې بالاشوف داوو ته بدرګه کړ، هغه د همدغه شان یو خوند انځور د بالاشوف مخې ته کېښود. کله چې روسي جنرال دده کوټې ته رارسېدو، هغه لا په خپل کار کې ډوب شو، د خپلو عینکو له شا یې د بالاشوف، د سهار له مستو وړمو او د مورات له مرکې نه تاند او تازه شوي مخ ته وکتل، ونه درید او آن ونه ښورید، لا یې تندی تریو او د ملنډو زهر لړلې موسکا یې پر شونډو راخوره شوه.

خو کله چې یې د خپلو دې کړو غبرګون د بالاشوف په بشره کې ولید، داوو سر راپورته کړ او په سړه ژبه یې وپوښتل:

- څه غواړئ؟

بالاشوف تصور وکړ، چې له ده سره د داوو داسې کړه، کېدای شي له دې کبله وي چې هغه نه پوهېږي، چې دی د ټولواک الکساندر یاور دی او آن د هغه په استازیتوب له ناپلیون سره د خبرو لپاره راغلی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه يې ژر تر ژره خپل ځان او د خپل راتګ په اړه ورته وويل، خو داوو، دده د خبرو تر اوريدو وروسته لا پسې تندی تريو او خبرې ترخې کړې او وې ويل:

- چېرې دی، ستا ليک چېرې دی؟ هغه راکړئ چې ټولواک ته يې ورولېږو.

بالاشوف وويل: ماته سپارښتنه شوی دی چې پيام په خپله ټولواک ته ورکړم.

داوو ځواب ورکړ:

- ستاسې د ټولواک سپارښتنې به ستاسې په پوځ کې ترسره کېږي، دلته به هغه څه کوئ چې تاسو ته يې سپارښتنه کېږي.

او ددې لپاره چې وښيي بالاشوف، اوس څومره دده د بې واکه واک تر اغېز لاندې دی، خپل ياور ته سپارښتنه ورکړه چې نوکريوال پسې ورشي. بالاشوف هغه ليک چې د ټولواک پيام په کې ليکل شوی و، راوويست او د هغه تر مخې يې پر ميز کېښود. (د هغه ميز له هغې ماتې دروازې نه جوړ شوی و چې چپ راسونه يې ځړېدل او پر دوو قوطيو ولاړ و) داوو ليک راواخېست او د هغه سرليک يې ولوست.

بالاشوف وويل:

- تاسو په خپلو کړو کې پوره خپلواک ياستئ چې ماته درناوی کوي يا يې نه کوي، خو يوازې غواړم يادونه وکړم چې زه د ټولواک د حضور د جنرال ياورۍ وياړ لرم.

داوو، هغه ته په چوپه خوله ځير ځير وکتل او د بالاشوف په څېره کې د لږې ګډوډۍ او هيجان، د پيدا شويو نښو نه خوند اخېست.

هغه وويل:

- تاسو ته به هغه درناوی وشئ، چې تاسو يې وړتيا لرئ، ليک يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جيب کې کېښود او لاړ ووت.

یوه دقیقه وروسته د مارشال یاور، ښاغلی دوکامتري راغی او بالاشوف یې هغه ځای ته چې ورته ځانګړی شوی و، بدرګه کړ. بالاشوف په هغه ورځ له مارشال داوو سره په هماغه سرای کې د هماغه ماتې دروازې پر جوړ شوی میز سهارنۍ وخوړله.

داوو، بله ورځ سهار د وخته لاړ، بالاشوف وروغوښت او په ګواښمنه ژبه یې ورته وویل:

- دی، له ده نه هیله کوي چې همدلته پاتې شي، له ښاغلي دیکاستري نه پرته به ،له بل هېڅ چا سره خبرې نه کوئ. ..

بالاشوف تر څلور ورځې زغم، خواشینۍ او پر خپلې ناتوانۍ له پوهېدو وروسته. .. د مارشال له بار او کوچ او فرانسوي سرتېرو سره چې هغه ټولې سیمې یې لاندې کړې وې، تر څو مزله وروسته د ویلنا د هماغه تنګو لارو له لارې نه، چې اوس د فرانسویانو لاس ته ورغلې وې، بېرته له هغه ځایه راووت چې، دی څلور ورځې د مخه له هغې لارې نه ورغلی و.

بله ورځ د ناپلیون ځانګړی یاور، ښاغلی دیتورن، بالاشوف ته راغی او هغه ته یې د ټولواک هغه هیله چې غواړي دی حضور ته ومني، وویله.

تر دې څلور ورځې د مخه، د پرابراژنسکي د غونډ سرتېري ددغه ودانۍ شااو خوا څارنه کوله، خو نن د فرانسوي ځانګړي پوځ سرتېري چې د شنو بخنو دریشو ټټرونه یې پرانستي وو ، هلته ولاړ وو. د هغوی لوړې پوستیني خولۍ چې ښکې په کې تمبل شوې وې، پر سر وې. د سواره پوځ یوې ډلې ،د ټولواک ځانګړي چوپړان او ساتونکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاورانو، اولانان او جنرالان چې ځلېدونکې او غوړې جامې یې اغوستې وې، د ټولواک د آس او د هغه، له یوه غلام سره چې روستان نومېده دده شاوخوا ته ولاړ او د هغه وتلو ته سترګه په لار وو. ناپلیون بالاشوف د ویلنا د ښارګوټي په هغه ودانۍ کې ومانه چې الکساندر دی له هغه نه، ده ته رالېږلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

که څه هم بالاشوف د دربار له پرتم او رسمیاتو سره ښه آشنا او عادت و ،خو د ټولواک ناپلیون د دربار پرتم او قیمتي ښکلا دی حیران کړ.

ګراف تیورین، هغه د انتظار یوې لویې کوټې ته چې ډېر جنرالان، یاوران او پولندي بډای مخور هلته ناپلیون ته سترګه په لاره وو ،بدرګه کړ. بالاشوف له دغو کسانو نه زیاتره هغه د روسیې د ټولواک په دربارکې لیدلي وو. دیوروک، وویل چې ناپلیون به چکر ته ،تر تګه مخکې روسي جنرال ومني.

تر څو دقیقو انتظاره وروسته،د انتظار لویې کوټې ته یو نوکریوال یاور، راننوت، بالاشوف ته یې د درناوي په توګه سر خم کړ او هغه ته یې بلنه ورکړه.

بالاشوف،د انتظار یوې وړې کوټې ته چې دربار ته یې دروازه ورخلاصېده ورننوت. د دربار هماغې کوټې ته چې روسي ټولواک دی، دې استازیتوب ته لېږلی و.

بالاشوف، یو دوې دقیقې انتظار پاتې شو ، د دروازې له شا نه د ټینګو قدمونو غږ واورېدل شو ، په چټکۍ دروازه راخلاصه شوه، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاور چې دروازه پرانسته په ویاړمن ډول په انتظار ودرید ، شا او خوا چوپتیا لاس برې شوه او د دربار له کوټې نه د لا ټینګو او درنو ګامونو غږ واوریدل شو. دا ناپلیون و. هغه همدا شېبه د سورلۍ لپاره د خپلو ځانګړو کالیو له اغوستو نه وزګار شوی و .هغه شنې جامې (دریشی ) او تر هغه لاندې سپین واسکټ چې دده ګرده ګېډه پوښلې وه ،اغوستي وو. سپین تنګ پطلون ډوله پرتوګ چې ثورب ورنو نه یې تر کرتۍ لاندې په هغو کې تنګ برېښېدل، داسې ښکاریده چې لنډې څنې یې همدا اوس رېمنځ شوي وي، خو کوده ویښته یې ښکته د هغه د پراخ تندی په منځې برخه کې راشېوه شوي وو. د هغه سپین او پړسېدلې څټ د دریشۍ د تور بخونې غاړې له چپې خوانه راوتلی و ، له هغه نه د ښې کلونیا بوی راتـه. د هغې لـه ثوربې او لا ځوانې بشرې نه چې د ټولواکۍ پرتم ترې برېښېده ، د ښکلا نښې څرګندې وې.

هغه راووت، چټک روان و ، په هر ګام کې یې سر شاخواته خوځاوه او ټول ځان یې خوځېده. د هغه په ټوله لنډه خو لږ څه ثوربه ونه، پراخوا و ثوربو اوږو ، دده لـه ارادې پرتـه راوتلي ټټر او ګېـډه کې، یو ډول ځانګړې ځانښودنه چې د ځلوېښت کلونو وګړو ځانګړتیا ده، څرګنده وه. له دې ټولو خبرو سره سره داسې برېښېده چې د هغه طبیعت نن خورا جوړ دی. هغه د درناوی په نښه د بالاشوف خمېدو ته سر وښوراوه، د هغه خواته ورغی او د هغو کسانو په شان چې د خپل وخت د هر دقیقې ډېر درناوی کوي، ځان په دې نه عذابوي چې غږېدا تـه مخکې لـه مخکې ځان جوړ کړي او پـه دې ډاډه وي چې هر وخت، چې هر څه ووایي، ویلی یې شي. سمدلاسه په غږېدا راغی:

- سلام جنراله ! ماهغه لیک ولید چې د ټولواک الکساندر نه مو راوړی و ، ډېر خوشاله یم چې تاسو وینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو غټو غټو سترګو يې په ځير د بالاشوف مخ ته وکتل او په هماغه شېبه کې د هغه نه آپلو وړاندې، يو ټکی ته په کتو شو.
داسې برېښېده چې د بالاشوف شخصيت ته هېڅ پاملرنه نه لري، دا ښکاره وه چې د هغه لپاره يوازينۍ څه، چې ارزښت لري، هغه څه دي چې دده په زړه کې تېرېږي، ټول دده په ارادې پورې اړه لري، هغه وويل:
- زه، نه د جګړې غوښتونکی وم او نه يم، خو زه يې دې ته اړ کړم. زه همدا اوس (پر همدا اوس يې ټينګار وکړ) چمتو يم، هرې هغې خبرې ته چې په دې اړه کېږي غوږ شم. هغه په لنډه او په ډاګه د روسي له دولته د خپلې خوابدۍ د علتونو په ويلو پيل وکړ.
بالاشوف د فرانسې د ټولواک له ډاډمنې، آرامې او مينه ناکې ژبې نه په دې پوه شو چې هغه د سولې او روغې هيله لري او چمتو دی چې خبرو ته کيني. کله چې ټولواک ناپليون خپلې خبرې پای ته ورسولې، په پوښتنيز بڼه يې بالاشوف ته سترګې ورواړولې او هغه څه يې چې له پخوا په زړه کې ساتلي و، وويل:
- اعلحضرتا ! معظم ټولواکه زما !...
خو د ناپليون ځير ځير کتو چې مخامخ يې دده سترګو ته کتل، دی لږ وارخطا کړ. ناپليون د بالاشوف دريشي او توره وڅارله او په يوې پټې موسکا يې غوښتل چې هغه ته ووايي چې څو مره ګبنۍ اخېستی يې، لږ آرامه شه ! بالاشوف بېرته زړه آرامه او خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ او وې ويل:
- ټولواک الکساندر د کوراکين له خوا د پاسپورت غوښتنه د جګړې د پيل لپاره پوره دليل نه بولي. د پاسپورت غوښتنه کوراکين په خپله او له ټولواک سره بې له کومې مشورې کړې ده. الکساندر، نه د جګړې تکل لري او نه له انګريزانو سره کوم ځانګړې اړيکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپليون د هغه خبرې پرې کړې:

- لا تر اوسه يې نه لري.. ګواکې ډاربړي د خپلو احساساتو تر اغېز لاندې راشي، تندي يې تريو کړ، سر يې په نرمۍ وښوراوه او بالاشوف ته يې څرګنده کړه چې کولای شي خبرو ته دوام ورکړي. بالاشوف وروسته له هغه چې هغه ټولې ويل شوې سپارښتنې هغه ته وويلې، زياته يې کړه:

- الکساندر د روغې هيله لري. هغه به هغه وخت روغې ته کېني چې، دده دا شرط...

په دې وخت کې د ټولواک الکساندر هغه خبرې ورياد شوې، چې په ليک کې يې ليکلې نه وې، خو په هغو يې ټينګار کړی و، چې هرومرو به هغه فرمان کې راوړئ چې د سالتيکوف په نامه ليکل شوې وې او بالاشوف ته امر شوی و چې هغه به ناپليون ته وايي. بالاشوف هغه خبرې وريادې کړې:

- تر هغه پورې چې يو وسله وال دښمن د روس په خاوره کې پاتې وي.. خو کوم ناڅرګند احساس، د هغه مخه ونيوله. که څه هم هغه د هغو خبرو د څرګندولو هيله لرله، خو نه يې شو کولای هغه ووايي. بالاشوف په چرت کې لاړ، په شک کې شو، خو وې ويل:

- په دې شرط چې فرانسوي پوځونه بېرته د نې يامان له سيند نه واوړي.

ناپليون ددې وروستيو خبرو د ويلو په وخت کې د بالاشوف ګډوډۍ او پرېښانۍ ته پام شو. د هغه مخ وررږېد او د کېڼې پښې ورون يې په منظمه بڼه په خوځېدا شو. پرته له هغه چې له خپل ځايه وښوري، تر پخوا په لوړ آواز او تُندې ژبې يې خبرې پيل کړې. بالاشوف د وروستيو خبرو په وخت کې څو وارې سترګې ښکته واچولې او بې له ارادې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپليون د کيڼي پښې د ورانه خوځېدا ته چې دده د خبرو د لوړېدو سره چټکېده، ځير شو.

ناپليون خبرې پيل کړې:

زه تر الکساندره زيات د روغې جوړې هيله مند يم، خو آيا دا زه نه يم، چې له اتلسو مياشتو راهيسې هڅه کوم، دغه روغه وشي؟ زه اتلس مياشتې کېږي چې څرګندونو ته سترګې په لاره يم.

په دې وخت کې يې وروځې برندې شوې، خپل وړوکی سپين څورب لاس يې په چټکۍ وخوځاوه او وې پوښتل:

- او اوس د روغې د خبرو د پيل لپاره له ما نه څه غواړئ؟

بالاشوف وويل:

- ټولو اکه، د نې يه مان له سينده ستاسو پوځونه بېرته اوښتل.

ناپليون تکرار کړه:

-د نې يه مان له سينده؟

- هغه چې مخامخ د بالاشوف سترګو ته ځير و، تکراره يې کړه:

-ښه، اوس تاسو غواړئ چې د نې يه مان له سينده بېرته راواوړو، يوازې د نې يه مان له سينده اوښتل؟

بالاشوف د تاييد او درناوي په ښښه سر خم کړ.

څلور مياشتې پخوا له ده غوښتل شوي و، چې د يوميراني سيمه پرېږدي او اوس يوازې د نې يه مان له سينده اوښتل دي. ناپليون په چټکۍ راتاو او په کوټه کې په ګرځېدو شو.

- تاسو وايي چې د روغې د جرګې د پيل لپاره د نې يه مان له سينده واوړو، خو دوې مياشتې مخکې پورې په همدې ډول له ما نه د اودپرا د فيسلو له سيندونو نه د بېرته اوښتلو غوښتنه کېده. په دې شرط تاسو له ما سره خبرو ته چمتو ياستئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په چوپه خوله د کوټې له يوه کنجه بل کنج ته راغی او بالا شوف ته مخامخ ودريده. داسې برېښېده چې بشره يې په تېره بدله شوې وي او د کينې پښې ورون يې تر پخوا نه لا په چټکۍ ورپېده. ناپليون چې د خپل کين ورون د غړو په رپېدو او خوځېدا خبر، و، وې ويل:

- زما د کينې پښې خوځېدا د ستر جشن زيری دی.

ناپليون داسې چې ده يې هم انتظار نه درلود، چغه کړل.

د اودر د سيمې پرېښودل او د ويسلا له سينده اوښتل، هغه وړانديز دی، چې تاسې کولای شئ، هغه د عثماني امپراتورۍ شهزاده بادنسکي ته وکړئ، نه ماته! که ما ته پترزبورګ او مسکو هم راوښئ زه به دغه شرط ونه منم، تاسو وايې چې جګړه ما پيل کړه؟ خو لومړي چا پوځ ته پناه وروړه؟ دا ټولواک الکساندر و، نه زه؟ تاسو ما ته هغه وخت د مرکې وړانديز کوئ، چې ما په ميليونونو خرخ کړی دی او تاسو له انګريزانو سره يو ځای شوي ياستئ. هغه هم هغه وخت چې ستاسو حال ډېر خراب او ګډوډ دی. تاسو چې ما ته د روغې او مرکې وړانديز کوئ نو بيا له انګريزانو سره ولې يو ځای کېږئ؟ انګريز تاسو ته څه درکړي دي؟

ناپليون تند تند غږېده، داسې برېښېده چې د هغه تکل دا نه و چې د سولې او روغې ستاينې وکړي، بلکې د هغه يوازينۍ هيله دا وه، چې خپل حقانيت، خپل زور او د الکساندر تېروتنې او ناحقتوب څرګند کړي.

د خبرو په پيل کې د هغه موخه دا وه چې څرګنده کړي، د پوځې لاس بري سره سره دی روغې ته چمتو دی، خو کله چې يې خبرې پيل کړې، څومره چې د هغه خبرې زياتېدې، په هماغه کچه يې نه شو کولای د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ژبې مخه ونیسي. داسې بریښېده چې اوس نو د ټولو خبرو موخه داوه چې د ځان ستاینه او د الکساندر سپکاوی وکړي. هغه څه چې د خبرو په پیل کې یې غوښتل، خو بیا یې هم خپلې خبرې اداره کولای شوې، هغه وپوښتل:

- اوریدلي مې دي چې له ترکانو سره مو روغه کړې ده؟

بالاشوف د (هو) په نښه سر وښوراوه او وې ویل:

- د روغې تړون لاسلیک شوی دی...

خو ناپلیون هغه ته دغږېدا وخت ورنه کړ، داسې ښکاریده، دی خپله غواړي وغږېږي او غږېدا ته یې دوام ورکړ، هغه هم په داسې ټُندې، نا اړونده ژبې او عصبیت چې ځینې نازولي کسان غږېږي.

- پوهېږم چې تاسو له ترکانو سره پرته له هغه چې مولداویا او والاشيي تر لاسه کړئ روغه کړې ده، حال دا چې دغه دوه ولایتونو ما، باید ستاسو ټولواک ته وربښلی وای. لکه هغه شان چې فنلند مې وروباښه، هغه دوام ورکړ:

- هوکې ! ما له ټولواک الکساندر سره ژبه کړې وه او په خپله ژبه ولاړ وم، ملداویا او والاشيي مې هغه ته ورکول، خو اوس به هغه له دغو دوو ښکلو ولایتونو نه بې برخې وي، هغه کولای شول دغه دوه ولایتونه خپلې امپراتورۍ پورې وتړي او د خپلې واکمنۍ لمنه د بوتني له سمندرګی نه د دانیوب تر غاړو پراخه کړي...

هغه د خپلې ژبې ټُوندوالی لا ټُونداوه، هغه چې په کوټه کې ګرځېده راګرځېده، هماغه خبرې یې چې په تیلزیت کې خپله الکساندر ته کړې وې، ټولې اوس بیا بالاشوف ته تکرارولې، هغه وویل:

- ستړې کاترینې به هم له دې نه زیات څه نه وای ګټلي، هغه به له ما سره د دوستۍ له برکتنه دا ټول تر لاسه کړي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څو ځله تکرار کړه:

څه واکمني به وه، څه واکمني ! هوکې څه واکمني !

ودرېد او خپله د سرزرو تنباکمروړه یې له جیبه راوویسته او په ژوره توګه یې هغه بوی کړه.

د الکساندر واکمني به څه پرتمینه شوې وای !

هغه په خواشینۍ سره بالاشوف ته وکتل او همدا چې بالاشوف بیا د څه ویلو تکل وکړ، په چټکۍ یې د هغه خبرې پرې کړې او وې ویل:

هغه به څه غوښتل او لټول، چې زما په دوستۍ کې به یې موندای نه شول؟

ناپلیون، د شک او ګمان په ښه خپلې اوږې کښېکودې او وې ویل:

-خو، نه، نه، هغه زما تر ټولو نه ستر دښمنان پر ځان راټول کړل، هغه هم څه کسان؟ هغه هم لکه شتاینوف، ارمفیلدوف، فینځینګېرد، بینیګسینوف. شتاینوف له خپل وطنه د خیانت په تورشړل شوی دی، آرمفیلدوف یو هوسباز دوکه مار دی، فینیځینګېرد د یو فرانسوي کډوال او بینیګسینوف یو څه تر نورو ښه پوځي (خو بیا هم ناپوهه سړی دی) په ۱۸۰۷ کال کې د هغه هېڅ له لاسه ونه شول او الکساندر ته باید ترخه یادونه وریاد کړي.. هغه دوام ورکړ.. یو ازې باګراتیون د مېړانې او جګړې سړی دی، که څه هم هغه ځیرک نه دی، خو د ښې تجربې خاوند دی، هغه ښه سنجش لري او د غوڅ تکل سړی دی.. یوه اونۍ کېږي چې جګړه پیل شوې ده، خو تاسو آن ددې توان نه لرئ چې د ویلنا ساتنه وکړئ. په آسانۍ مو وکولای شو، چې پوځ مو په دوو برخو جلا کړئ، د پولند نه مو وباسو او د پوځ غړ مو هم پورته نه شو.

بالاشوف په خوراسختۍ، هغه څه یاد ته وسپارل چې ده ته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل او تر هغه نه یې لا په سختۍ کولای شو نور نو د غو خبرو ته غوږ ونیسي، هغه وویل:

- اعلیحضرتا ! زما پوځیان د جګړه له مستۍ نه..

ناپلیون د هغه خبره پرېکړه:

- زه په هر څه پوهېږم ! زه په هر څه خبر یم، زه ستاسو له پوځي ټولیو نه په هماغه شان پوره خبر یم لکه له خپلو نه. ستاسو د پوځ شمېر دوه سوه زرو ته نه رسېږي، خو زما د هغه درې برابر سرتېري دي. تاسو ته قسم خورم او په ډاګه وایم.. او هغه هېر کړي و چې د هغه قسم خوړل هېڅ اعتبار نه لري، قسم خورم چې د ویسلا د سیمې په شا او خوا کې پنځه سوه دیرش زره پوځیان لرم. ترکان هېڅکله ستاسې مرستین کېدای نه شي، هغه مو هېڅ په درد نه خوري. هغوی دا خبره له تاسو سره د روغې د تړون په لاسلیکولو په ډاګه کړه، خو سویدنیان ! د هغو قسمت خدای داسې پیدا کړی دی، چې لېوني ټولواکان ولري، د هغو ټول پاچایان لېونیان وو. برنادت یې پاچا کړ، خو هغه همدا چې پر تخت کېناست لېونی شو. یوازې لېوني سویدنیان کولای شي، له روسانو سره ملګرتوب وکړي. ناپلیون له زهره ډکه وموسېد او بیا یې تنباکمروړه پزه ته ونیوله او بوی یې کړه.

بالاشوف د ناپلیون هرې خبرې ته ځواب لاره، غوښتل یې او کولای شول،

چې څه ورته ووایي خو هر وار یې ناپلیون خبرې پرې کولې. بالاشوف، د ناپلیون ددې دعوا په وړاندې چې سویدنیان لېوني دي، غوښتل ووایي چې سویدن د روسیې په ملګرتیا هغسې و چې پاتې کېږي، چې د هغه ایل کولو خورا ګران دی، خو ناپلیون په خواشینۍ سره ددې لپاره چغه کړل، چې د هغه آواز خاموشه کړي، ناپلیون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عصبانیت هغه حالت درلود چې په هغه کې سړی د دې لپاره باید وغرېږي، وغرېږي او وغرېږي او تر هغه وغرېږي چې ځان لپاره دا ثابته کړي چې دی برحقه دی. بالاشوف ته ګرانه تمامېده، هغه د روسي تولواک استازی و، له دې کبله ډاریده چې دی به په چوپتیا خپل دریځ ته تاوان ورسوي. هغه سخته دا وړتیا احساسوله چې ځواب وو ایي، خو د یوه انسان په توګه یې له دې کبله چې سیال یې بې دلیله دا سې له حاله وتلی دی، ځان په لوی لاس له نانددریو نه ژغوره. هغه په دې پوهېده، هغه څه چې اوس ناپلیون هغه وایي، هېڅ اهمیت نه لري او په دې یې هم باور درلود، چې لکه ناپلیون لږ څه په حال شي له خپلو دغو خبرو نه به خپله شرمېږي. بالاشوف ودرید، سترګې یې ښکته واچولې، د ناپلیون د څوربې پښې خو ځېدو ته یې کتل، خو هڅه یې کوله خپل غلچک له هغه سره مخامخ نه کړي. ناپلیون ویل:

-ښه نو، نو ستاسو ملګري چې هر څوک دي، وي دې، هغه څه معنا لري؟ پولندیان له ما سره دي، شمېر یې اتیا زرو ته رسېږي، دا سې جنګېږي لکه زمریان او کېدای شي شمېر یې دوسووزرو ته هم ورسېږي.

هغه چې دا وویل، کېدای شي دی خپله، خپلې دې خبرې ته حیران شوی وي، دا سې بربښېده چې هغه رښتیا نه دي ویلي، کله چې یې بالاشوف تر دې خبرې نه وروسته چوپه خوله او آرام ولید، واک یې له لاسه ورکړ، په چټکۍ او نابېره شا ته راوګرځېد، مخامخ بالاشوف ته ودرید او تر مخې یې ودرید، خپل سپین لاسونه یې په خورا چټکۍ او قهر خوځول او چغې یې وهلې:

- پوهېږئ! که پروس زما په وړاندې ولمسوي او هغوی راوپاروي، د هغو نقشه به د اروپا له نقشې نه پاکه کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې د ویلو په وخت کې یې رنګ تک سپین الوتی و، پر څېرې یې د قهر کرښې راخورې وې او خپل ښکلی لاس یې پر بل لاس ټکاوه:

- تاسو هم د دونیا او دنې پییر له سیندو نه آپلو شاه ته تمبه کوم، بیا مې تر مخې پوله جوړوم، هغه پوله چې اروپا د هغه د جوړولو ځیرکتیا نه درلوده او جنایت یې وکړ چې هغه پوله ورانه کړي. له تاسو سره باید دغه شان معامله وشي. دا هغه ګټه وه چې زما له لرې کېدو نه مو تر لاسه کړې وه، ده دا خبرې کولې، څو واره په کوټه کې تاو راتاو شو، خپل د سرو زرو تمباکمروړه یې په جیب کې کېښوده، بیا یې هغه راوویسته، څو واريې پزې ته ورنږدې کړه او بیا بالاشوف ته مخامخ ودرید. هغه چوپ شو، په ملنډو د بالاشوف سترګو ته ځیر شو او په کراره آواز یې وویل:

- او تصور یې وکړئ چې ټولواک مو کولای شول څه ښکلې واکمني ولري!

بالاشوف چې ځواب ورکولو ته سخته اړتیا لیدله، وویل چې روسي ټولواک حالاتو ته داسې په خواشینۍ نه ګوري.

ناپلیون چوپ پاتې شو او همداسې په ملنډو بالاشوف ته ځیر و. داسې برېښېده چې اصلاً د بالاشوف خبرې نه اوري. بالاشوف وویل چې په روسیه کې ټول د جګړې د برې هیله لري.

ناپلیون په درناوي سروښوراوه، ګواکې غواړي وواییي:

- پوهېږم! تاسو دنده لرئ او سپارښتنه درته شوې ده چې داسې ووایئ، ولې خپله په دې پوهېږئ په هغه څه باور نه لرئ چې خپله یې وایئ، تاسو زما پر خبرو باور لرئ.

د بالاشوف تر خبرو وروسته ناپلیون بیا خپله تنباکمروړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووښسته، هغه يې بوی کړه او په کومه ننبه يې دوه واره، پښه پر ځمکه وډبوله. د ځمکې د ډبولو سره دروازه راپرانستل شوه او يو ياور په ډېر درناوي د هغه خولۍ او دستکش هغه ته راوړل او يو بل ياور هغه ته د هغه دستمال وروړاندې کړ. ناپليون پرته له هغه چې هغو ته وګوري خولۍ يې واخېسته او بالاشوف ته يې وويل:

- زما له خوا ټولواک الکساندر ته ډاډ ورکړئ، چې د پخوا په شان هغه ته وفاداره يم... هغه ښه پېژنم او د هغه ښېګڼو ته درناوی لرم. نور نو تاسو نه ځنډوم، تاسو به د ټولواک په نامه زما ليک ترلاسه کړئ او ناپليون په چټکۍ د دروازې پلو لاړ. ټول هغو کسانو چې په تالار کې و، وړاندې وځغاستل او په چټکۍ پر زينو ورښوه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

تر ټولو هغو خبرو وروسته چې ناپلیون هغه ته ویلې وې، د دغه غضبناکه حالته، وروسته له هغو ترخو خبرو او سړو نه چې ده ته شوې وې:

- جنراله ! نور نو تاسو نه ځنډوم، د ټولواک په نامه به زما لیک تاسو ته درکړي.

نور نو بالاشوف پوه او په دې ډاډه شو چې ناپلیون نه یوازې د هغه د دیدن لېواله نه دی، بلکې هڅه کوي چې د دښمن دغه خوابدی استازی په تېره بیا دده د غضب او قهر شاهد ، ونه ویني، خو په تعجب او حیرت یې د ټولواک له خوا د دیورک له لاسه هغه بلنلیک تر لاسه کړ چې هماغه ورځ له ټولواک سره ډوډۍ ته وربلل شوي و.

هغې غرمنۍ ته، بس یر ، کولن کور او بیرتیه هم وربلل شوي وو.

ناپلیون په ورین تندي او خوشالۍ د بالاشوف هرکلی وکړ. د هغه په کړو وړو کې نه یوازې د هغه د سهارني غضب نه ډکو خبرو څه شرم او پړتیا نه لیدل کېده، بلکې هڅه یې کوله چې له بالاشوف سره خوا خوږي وښیي. هغه له پخوا نه په دې ډاډمن شوی و چې دی له تیروتنو خالي او هر هغه څه چې کوي د ستاینې وړ دی، ځکه د هغه لپاره ټول هغه څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده کول، نه له دې کبله ښه و چې د ښو او بدو له معيار و سره سم، بلکې له دې کبله چې ده سرته رسول.

تولواک ناپليون له دې کبله په بې ساري توګه خوشاله و چې د ويلنا په ښار کې دده د ګرځېدو په وخت کې خلکو ډله په مينه دده تود هرکلی او بيا بدرګه کړي و. د تولو هغو کوڅو نه چې دی تېريده کړکی يې په قاليلينو ګاڼل شوي وې، بيرقونه په کې رپيدل، دده ځانګړې نښې په کې راځړوندې وې او پولنديې ښځو د ستمال په لاس ده ته لاسونه ښورولي وو.

د غرمنۍ په وخت کې هغه بالاشوف تر خپل څنګه کېناوه، له هغه سره يې نه يوازې په ناز او خواخوږۍ خبرې کولې، بلکې هغه يې ګواکې د خپلو هغو درباريانو له ډلې ګاڼه چې دده کړنلارې يې احساسولې او بايد دده له بريو نه خوشاله وا وسي. د خبرو اترو په لړ کې هغه د مسکو په اړه هم وغږيد او له بالاشوف نه يې د روسيې د پلازمېنې په هکله پوښتنې وکړې، خو نه د يوه ځيرک او پلټونکي سيلاني په توګه چې د کوم ښار د کتنو تکل لري بلکې داسې چې بالاشوف لکه د يو روس په شان بايد په دې وويارې چې دده له هېواد سره داسې لېوالتيا ښودل کېږي. ناپليون وپوښتل:

-په ماسکو کې څومره خلک اوسئ؟ څه شمېره کورونه لرئ؟آيا دا رښتيا دي چې مسکو سپېڅلی ښار ګڼل کېږي؟ په مسکو کې څومره کليساوې شته دي؟

د هغه ځواب په وړاندې چې په مسکو کې له دووسوو زياتې کليساوې دي، هغه وويل:

-ولې دومره بې شمېره کليساوې؟

بالاشوف ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- روسان خورا دیندار خلک دي.

ناپلیون چې د خپلو خبرو د تصدیق په هیله پرله پسې، کولین کور ته ورکتل وویل:

- البته د کلیساوې او صومعو زیاتوالی تل د خلکو د ببرته پاتې والي نښه ده.

بالاشوف په درناوی ځانته اجازه ورکړې وه، د فرانسوي ټولواک دا خبره ونه مني او وې ویل:

- هر هېواد خپل ځانګړی دود د ستور لري.

ناپلیون وویل: خو د اروپا په یوه هېواد کې ده ته ورته څه نه وینو.

بالاشوف وویل:

اعلیحضرتا ! زه ستاسو له حضوره بښنه غواړم، خو له روسیې نه پرته، په هسپانیا کې هم دې ته ورته صومعې او کلیساوې شته دي.

بالاشوف چې دغه ځواب یې په هسپانیا کې یې د فرانسویانو وروستۍ ماتې ته اشاره وه، کله چې یې بیا د الکساندر په دربار کې د هغه کیسه کوله د خورا ستاینو وړ وګڼل شو، خو د ناپلیون په غرمنۍ کې اوس له هغه سره لېوالتیا ونه ښودل شوه او هسې په بې پروایۍ تېر شو. د ښاغلي مارشالانو له بې پروایۍ او نه پوهېدنې نه داسې بربښېده چې هغوی هغې نازکې کنایې ته چې د بالاشوف په وینا کې راغلې وه، پام شوی نه دی او یا پرې پوه شوی نه دي. په بشره کې یې دا له ورایه څرګنده وه چې وایي:

- که په رښتیا دغه شان یو اشاره وه ،موږ پرې پوه شوي نه یو، یا بالکل هسې د نه اوریدو خیال و.

د بالاشوف دا ځواب هسې نااوریدلی پاتې او ناپلیون آن هغه ته پاملرنه هم ونه کړه او په سادګۍ یې له هغه په دې اړه وپوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکو ته رسېدونکې لارې له کومو ښارونو نه تېرېږي. بالاشوف چې دغرمنۍ په ټوله موده کې په ځیرغوږ و ځواب یې ورکړ:

- هماغه شان چې متل دی او وایي، ټولې لارې پر روم ورخېژي، همداسې هم ټولې لارې مسکو ته رسېږي. یعنې ډېرې لارې او د هغو له ډلې نه هغه لاره چې له پالتاوا نه تېرېږي او دا هماغه لاره ده چې دولسم شارل ټاکلې وه.

بالاشوف له خپل دې ځواب نه خوند واخېست او ناڅاپه لږ په قهر هم شو، خو د خپل ځواب وروستې کلمه یې لا نه وه ویلې چې کولن کور، د پترزبورګ نه مسکو ته د تلونکې لارې د خرابۍ په اړه خبرې پیل کړې او خپلې هغه خاطرې یې رایادې کړې چې په پترزبورګ کې پرې تېرې شوې وې.

تر غرمنۍ وروسته د قهوې د څکلو لپاره د ناپلیون کوټې ته راغلل. څلور ورځې مخکې دا کوټه د ټولواک الکساندر د ناستې کوټه وه. ناپلیون کېناست او هممهاله یې د خپلې قهوې پرچینایي پیالې چې پاریس ته نېږدې په سور نومي ښارګوټي کې د چینایانو له خوا جوړه شوې وه، لاس واهه، بالاشوف ته یې په خپل څنګ کې د ناستې بلنه ورکړه.

په انسان کې د ډوډۍ تر خوړلو وروسته یو معلوم روحي حالت پیدا کېږي چې د بل هر عقلي دلیل نه اغېزمن او قوي دی چې بې له ارادې نه هغه دې ته اړ باسي چې له ځانه پوره راضي او خوشاله واوسي او نور ټول هم خپل دوستان وګڼي.

ناپلیون هم له همدې کبله په دغه حالت کې و. هغه ته داسې برېښېده، چې دی له ده نه چاپېر شویو خلکو ته تر لېونتوبه پورې ګران دی. هغه دا باور هم لاره چې تر غرمنۍ وروسته، بالاشوف هم د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری او لېوالو دی. ناپلیون چې خوړه، نرمه او ځیرکه اوله ملنډو سره مل موسکا یې پر شونډو خوره وه، بالاشوف ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

د هغو وینالـه مخې چې ماتـه یې ویلي دي،دا هغـه کوټـه ده،چې ټولواک الکساندر په کې اوسېده، عجیبه ده، همداسې نه ده جنراله؟

هغه دا خبره په داسې یوه ژبه وکړه چې باوريې لاره هغـه د بالاشوف خوښه شي، ځکه هغې دا معنا لرله چې دا پر الکساندر د ناپلیون د بري دلیل دی.

بالاشوف نه شو کولای د هغه ځواب وواییي او پـه پټـه خولـه یې سر وښوراوه. ناپلیون چې هماغه له ډاډ او ملنډو مل موسکا یې پر شونډو خوره وه، زیاته کړه:

-هوکې،ثلـــورورځې دمخه،دلتـــه پـــه هـــم دې کوټـــه کې،وینځینګېرداوشتاین الکساند ر سره غږیدل،خو پـه یوه څه زه نه پوهېږم. هغـه دا چې څنګـه الکسانـدر زما ستر دښمنان پـر ځان راټـول کړي دي. په دې خبره.. زما سر نـه خلاصېږي. هغـه بیـا بالاشوف تـه مـخ وروااړاوه او وې پوښتل:

- خو هغـه دا فکـر نـه دی کـړی، چې زه هـم همداسې کـولای شم؟ او همدې خبرې، ده ته د سهار هماغه له قهره ډک حالت، چې په خیـالو کـې یې لا ژوندی و، ور پـه یاد کړ.

ناپلیون پاڅېد ، له خپلې مخې یې خپله د قهوې پیالـه لـرې کـړه، او وې ویل:

- پرېږده چې هغه پوه شي،چې زه هم همداسې کولای شم،زه به د هغه ټـول خپـل خپلـوان لـه جرمنـي نـه وباسـم،د ورتمبرګ،دبادینسـکي او ویمارسکیان،هوکې دهغه خپلوان،ټول خپلوان بـه وباسـم، پریـږده چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ټولو ته په روسیې کې ځای ورکړي.

بالاشوف سرښکته وا چاوه، دا سې بریښېده چې غواړې کوم شي او یوازې هغه له دې کبله غوږ ونیسي چې نه شي کولای هغه څه ته غوږ نه شي چې ده ته یې وایي.

ناپلیون د غه حالت احساسولای نه شو، هغه له بالاشوف سره نه د دښمن د یو سفیر او استازی په توګه، بلکې د داسې یو چا په توګه چې چور دده نه ځان ځاروي او د خپل پخواني بادار په سپکاوي او بربادۍ خوشاله شي.

- ټولواک الکساندر ولې د پوځ مشري واخېسته؟ دا ولې؟ جګړه زما مسلک دی او د هغه مسلک پاچاهي کول دي، نه د پوځ قوماندانې. ولې هغه داسې یو درووند پیټی جګ کړی دی؟ناپلیون بیا تنباکمروړه راواخېسته، څو ځله پټه خوله په کوټه کې وګرځېد او ناڅاپه بالاشوف ته ورورانډې شو او نرمه موسکایې پرشونډو خوره شوه، په چټکۍ، سادګۍ او په دې ډاډ، چې بالاشوف ته نه ګواښ، بلکې غوره کار کوي، خپل لاس یې د هغه څلویښت کلن روسي جنرال مخ ته ورپورته کړ، هغه یې له غوږ نه راونیو او په داسې حال کې چې موسکا یې یوازې پرشونډو کې پاتې وه، په کراره یې د هغه نیولی غوږ کېښکود. په فرانسوی دربار کې د ټولواک په نازکو لاسونو د غوږ کېښکودل د ناپلیون له خورا وړیامنو مهربانیو نه ګڼل کېدل.

ناپلیون وویل: ښه، دا څنګه او ولې پټه خوله یاستئ او څه نه وایئ، تاسو خو د الکساندر د دربار یو مخور او د هغه پالونکی یاستئ. د هغه ژبه داسې وه، چې د هغه په مخکې له ناپلیونه پرته د بل چا پالولنه، له چا سره لیوالتیا او یا ستایل خورا د ملنډو وړ برېښېدل.

هغه بالاشوف ته د درناوی په نښه سر لږ ښکته کړ او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د جنرال لپاره آسونه چمتو شوي دي؟ زما د آسونو نه يې ورته وركړئ، هغه لرې روان دی.

د بالاشوف په لاس راوړل شوی ليک، د ناپليون له خوا الكساندر ته ورو ستی ليک و. په هغه کې هغه ټولې وينا وې راغلې وې چې ويل شوې وې. او جګړه پيل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

سرداراندرې په مسکو کې له پېير سره تر کتنې وروسته، لکه هغه شان چې ده خپلو خپلوانو ته ویل د ځېنو چارو د سرته رسولو لپاره پترزبورګ ته وخوځېد ، خو په اصل کې هغه غوښتل چې له شهزاده اناتول کوراګین سره چې ده يې لیدل دځان لپاره ډېر وړ بلل،وګوري.

سرداراندرې، چې کله پترزبورګ ته ورسېد ،کوراګین د هغه له راتګ نه مخکې له ښاره وتلی و. پېير خپل اوښي (کوراګین) ته خبر ورکړی و چې سرداراندرې دده په لټه پسې راروان دی. اناتول کوراګین د دفاع وزیر له خوا مقرر او په ملداویا کې سرحدي قطعې ته تللی و. سرداراندرې په پترزبورګ کې خپل پخوانی قوماندان کوتوزوف،چې تل يې له ده سره خواخوږي لرله، ولید. کوتوزوف چې د ملداویا د پوځ قوماندان ټاکل شوی و ، له ده هیله وکړه چې له هغه سره هلته لاړ شي.
سرداراندرې چې د غه ټاکنه تر لاسه کړه، د کوتوزوف سترې قوماندانۍ ته ولېږدید او ترکیه ته لاړ.

سرداراندرې، ځانته دا ښه نه ګڼله چې کوراګین ته لیک ولیکي او هغه ته د دویل بلنه ورکړي. هغه تصور کاوه که د وروستۍ پېښې له امله هغه دویل ته وغواړي، دا به ګرافینې رستوفې ته سپکاوی وي،نو ځکه مخامخ له کوراګین سره د لیدو په لټه و ،چې د هغه په لړ کې د دویل لپاره نوې شخړه او پلمه پیدا کړي. سرداراندرې په ترکیه کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه شو کولای، د روسيې په مېشتو پوځونو کې کوراګين پيدا کړي، ځکه چې ترکيې ته د اندرې تر راتګه وروسته هغه بېرته روسيې ته ستون شوی و. سردار اندرې په نوي هېواد او د ژوند په نويو شرايطو کې ژوند ښه زغمه. د کوژدنۍ تر بې وفايۍ نه وروسته چې څومره ده پر دغې بې وفايۍ سترګې پټولې، په هماغه اندازه دده درد زغم ورته ګرانېده.. څومره به چې د هغه پخواني يادو ته تتبدل، هومره به دده له او سني ژوند سره مينه زياتېده. داسې تصور يې کاوه چې دغه بې پايه او لرې آسماني ګنبد چې پخوا به يې پر سر ولاړ و، ناڅاپه په يوه ټيټ او ټاکلي چت بدل شوی و، چې هغه تر هغه لاندې ځان کېښکودلی احساساوه.

هغه د کوتوزوف په قوماندانۍ کې د جنرال په بست کې په خورا مينې او لېوالتيا کار کاوه. کار ته دده پاملرنې او لېوالتيا کوتوزوف هم حيرانناوه. کوراګين يې په ملداويا کې هم پيدا نه کړ، ځکه هغه ملداويا ته د سردار په رسېدو سره هغه بېرته روسيې ته تللی و. سردار دا هم ښه نه ګڼله چې هغه پسې روسيې ته ستون شي.. هغه دا هيله لرله، چې يو ورځ نه يو ورځ به هغه ويني او دويل ته يې وروبولي. دده تلوسه دداسې يوه چا لورېې ته ورته وه چې له لورېې مرګ ته نېږدې وي، ډوډۍ ويني او په لېوالتيا ځان پرې وانه چوي. د هغه په زړه کې لا د غچ اخېستو او کرکې وينه اېشېده. ...

په ۱۸۱۲ کال کې چې له ناپليون سره د جګړې خبر بخارست ته ورسېد (کوتوزوف له دوو مياشتو راهيسې هلته مېشت او شپه او ورځ يې له خپلې معشوقې سره تېرول ) سردار اندرې، له هغه هيله وکړه چې دی لوديز جبهې ته وګماري. کوتوزوف چې د بالکان په سيمه کې له خپلو کړو نه ستومانه شوی و، ډېر ژر يې سردار اندرې ته چې د هغه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅو او هاند ښه خبر و ، اجازه ورکړه چې هتله وګمارل شي.
سرداراندرې، مخکې تر هغه چې د مې په میاشت کې د دریسا ، په سیمه کې په لودیز پوځ کې مېشت شي، په خپله لاره کې، یو وار لیسه ګورې ته چې د سمولینسک د لارې په درې ورستې کې پرته وه، ورغی. هغه دژوند په تېرو درې کلونو کې ډېرو بدلونونو شاهد و او له لودیزه ختیځ ته په سفر کې یې خورا زیات څیزونه لیدلي او بې ساري احساسات یې په زړه کې رالمسبدلي وو ، خو لیسه ګورې ته په رارسېدو کې یې پام شو ، چې دلته په هماغه اندازه هر څه، تر خورا وړو شیانو پورې په خپل ځای او بې بدلونه پاتې دي. د هغو په ژوند کې هېڅ بدلون نه و راغلی. هغه دې حالت سخت حیران کړی و. کله چې هغه خپل جایداد و ته پر داسې واټ چې دواړو خوا ته یې ونې ولاړې وې، ور روان شو د تیږو نه جوړې دروازې نه ورتېر شو ، داسې یې احساس کړه چې یو کوډ کړل شوي او خوب وړي ښارته ورننوتلی دی. په کور کې هماغه درناوی، هماغه پاکې او سپېڅلوالی، هماغه چوپتیا ، هماغه میزاوڅوکۍ، هماغه دیوالونه، هماغه آوازونه، هماغه بوی، هماغه ویرونکې او خواشینې څېرې، خو لږې زړې شوې، ټول هماغه وو. د شهزادګۍ ماریا ، ټوله هماغه شان ویرونکې ناښکلې، زړه پېغله، په ډار او ابدي ریاضت او په خپلو اندېښنو کې ډوبه وه او د خپل ژوند خورا ښکلي کلونه یې بې ګټې او بې لذته تېرول. بوري ین، هماغه د پخوا په شان مسته، چټه او زړه وړونکې وه. هغې چې د ژوند له هرې شېبې خونداخېست. زړه یې له غوړونکو هیلو ډک واو نازونه یې کول. هغه په دې ډاډه شوې وه چې د اندرې تر سترګو تر پخوا ښه برېښي.
دوسال، هغه روزونکی چې ده له سویس نه د خپل زوی د روزنې لپاره له ځانسره راوستی و ، له روسي چوپړانو سره یې ګډه وډه روسي ویله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه روزونکی، هماغه شان، په هر څه پوه، اندیښمن او مهربانه پاتې و. بوډا سردار هم چې هماغه و، هماغه پاتې و، خو په دې تو پير چې بشره يې له دې کبله بدله شوې وه چې د هغه دلويدلو غاښونو ځايونه د خولې له کنجه ښکاريدل، طبيعت يې د پخوا په شان و، خو يوازې يې کرکه او بدګمانۍ د هغه څه په وړاندې چې په نړۍ کې تېرېدل، زيات شوي وو. ددغو ټولو په مينځ کې يوازې نيکولای جان غوړيده او پرېړيده، مخ يې سور، څنې يې توري او ګونځې ګونځې او د هغه پاسنۍ شونډه د موسېدا او خندا په وخت کې بې له هغه چې دی خپله پوه شي، کټ مټ لکه د هغې د خدای بښلې مور، کمکۍ شهزادګۍ د ښکلې خولې د پاسنۍ شوندې په شان پورته کېده. يوازې دی و چې ددغه کوډو کړل شوي او خوب وړي ښار له قانونه يې سرغړونه کوله. که څه هم د هر چا او هر څه بڼه هماغه د پخوا په شان و، خو ددغو خلکو معنوي کړه وړه له هغه وخته چې سردار اندرې هغوی نه وليدلي، خورا بدل شوي و. د کورنۍ غړي په دوو ډلو ويشل شوي وو، چې په خپل منځ کې يې پرديتوب او دښمني کوله، خو دده تر مخې به يې د خپل ورځني ژوند بهير دده لپاره بدلاوه. مشر بوډا سردار، بوري ين او معمار په يوه ډله کې وو او شهزادګۍ ماريا، دوسال، نيکولای جان، ټولې مينځې او چوپړان په بله ډله کې وو.

په ټوله هغه موده کې چې هغه په ليسه ګورې کې و، د کورنۍ ټولو غړو يو ځای ډوډۍ خوړله، خو د هغو ناآرامي په هر څه کې څرګند و. سردار اندرې هم داسې انګېرله چې په خپل کور کې مېلمه دی او دده تر مخې ټول دده له کبله د ژوند بهير بدلوي. نو ځکه يې خپل شتوالی د ټولو پر اوږو پيټی ګاڼه. سردار اندرې لا لومړي ورځ په غرمنۍ کې دغه حالت بې له ارادې احساس کړ، خو چوپ پاتې شو او بوډا سردار د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دغې غیر طبیعي چوپتیا پوه شو. هغه هم په خوا شیني او کاږه اوربوز چوپ پاتې و او تر غرمنۍ سمدلاسه وروسته پاڅېد او خپلې کوټې ته لاړ. سردار اندرې چې کله ما زدیګر قضا له خپلې کوټې نه، د هغه دیدن ته ورغی او له هغه سره د خبرو د پیل په پلمه د جګړې په اړه وغږید، د ځوان ګراف کامنسکي د پېښې کیسې یې هغه ته وویله، بوډا سردار د هغې خبرې پرې کړې او ناڅاپه یې د شهزادګۍ ماریا په اړه خبرې پیل کړې، هغه یې د هغې د موهوم پالنې، له بوري ین (دده په وینا دده یوازینۍ رښتینې پالونکې او خواخوږې) سره د دښمنۍ له کبله سخته غندله.

بوډا سردار وویل:

- که هغه ناروغه دی، یوازې د شهزادګۍ ماریا له لاسه دی، هغه په لوی لاس دا زوروي او خپه کوي یې، هغه په خپلو بې ځایه نازولو او احمقانه ویناو کمکی نیکولای هم خرابه وي. بوډا سردار په دې ښه پوهېده چې خپله لور زوروي، د هغه ژوند کړکیچنه وي، خو په دې هم پوهېده چې نه شي کولای هغه ونه زوروي، ځکه هغه خپله لور د زوریدو وړ ګڼله. بوډا سردار په زړه کې ویل:

- دا سردار اندرې چې دا ټول په خپلو سترګوویني، ولې د خپلې خور په هکله له ما سره نه غږېږئ ؟ څه فکر کوئ؟ هغه څه وایي چې زه ظالم او زوړ احمق یم، چې له کوم دلیله پرته، خپله لور له ځانه لرې کوم او دا فرانسوي نجلۍ ځانته رانږدې کوم؟ هغه نه پوهېږي، نو ځکه هغې ته باید په ډاګه شي، ورته وویل شي، باید، چې هغه واوري، هغه لږ فکر وکړ او په دې یې پیل وکړ چې ولې نه شي کولای، د خپلې لور موهوم اخلاق وزغمي.

سردار اندرې پرته له هغه چې پلار ته وګوري (دا لومړی ځل و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرداراندرې خپل پلار په ډاګه غنده ) وويل:
- که تاسو له ما غواړې چې په دې اړه وغږېږم، ما نه غوښتل چې په دې هکله څه ووایم، خو اوس چې تاسو له ما پوښتئ، غواړم په ډاګه ددې ټولو په اړه وغږېږم او ووایم:
-که تاسو او د ماشې (شهزادګۍ ماریا ) تر منځ کومه خوابدي یا ګمان شته، زه په هېڅ ډول هغه ګناهکاره نه ګڼم. زه په دې پوهېږم چې تاسو هغې ته څومره ګران او تاسو ته څنګه درناوی لري. که تاسو له ما پوښتئ. ..
(له قهره په ډکه ژبه، په دې وروستیو وختو کې هغه تل په قهریده )
سرداراندرې له قهره په ډکه ژبه دوام ورکړ:
- کولای شم یوازې یو څه ووایم، که ستاسو ترمنځ کومه خوابدي شته، د هغه دلیل دغه سپکه او ناسیاله ښځه ده، دغه بوري ین، چې باید له پیله زما د خور خورلنډه نه وای.
بوډا سردار لومړی په ناخوځېدونکو سترګو زوی ته کتل او د یوې لاسي موسکا له امله یې خوله وازه شوه، داسې وازه چې له ورایه یې د لویدلو غاښونو ځای راښکاره شو، هغه ځایونه، چې سرداراندرې یې لا لیدو سره عادت شوی نه و.
- کومه خورلنډه ګرانه؟ اخ؟ فکر کوم زیات وغږېدلې، پوه شوئ؟
سرداراندرې په سپین سترګۍ او له ملنډو په ډکې موسکا وویل:
- پلارجانه، ما نه غوښتل قضاوت وکړم، خو تاسو په خپله دې کار ته وهڅولم او ما هم درته وویل او تل به یې درته ووایم، چې شهزادګۍ ماریا ګناهکاره نه ده. . . او ګناهکاره دغه فرانسوي ښځه ده.
بوډا سردار په کرار او هغه شان چې سرداراندرې ته وبرېښېده په شرم ډوله آواز وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو، قضاوت دې وکړ، قضاوت !

-خو هغه، ناڅاپه ودانګل او چغه يې کړل:

- ځه ورکېږه ! وځه ورکېږه ! چې ارواح دې هم دلته ونه وينم.

سرداراندرې غوښتل چې هماغه شېبه لاړ شي، خو شهزادګۍ ماريا له هغه هيله وکړه چې يوه ورځ نور هم پاتې شي. سرداراندرې په هغه ورځ له پلار سره چې له خپلې کوټې نه راوت ونه ليدل. ځکه هغه له پېغلې بورې ين او تيغون نه پرته بل څوک ځانته نه ورپرېښودل، خو څو ځله يې وپوښتل آيا زوی يې تللی او کنه؟ بله ورځ سرداراندرې د خپل زوی ديدن ته ورغی. دغه رک روغ او د مور له خوا ګونځ څېې ماشوم دده په ځنګنو کېناست، سرداراندرې هغه ته د شين ږيري مشر، نقل راپيل کړ، خو هغه يې لا پای ته نه و رسولی چې په چرت کې لاړ، هغه په دې وخت کې نه د ماشوم په اړه چې په ځنګنو يې ناست و، بلکې د ځان په اړه يې فکر کاوه. هغه له ځانه پوښتنې کولې، خو په حيرانۍ پوهېده چې د پلار له عصبي کولو پښيمانه نه دی. هغه په دې هم پښيمانه نه و چې د لومړي ځل لپاره له پلار سره تر ناندرۍ وروسته او خپه له کوره ځي، خو تر ټولو نه په زړه پورې لا دا وه چې هغه خپل زوی چې په ځنګانه يې کينولی و، نازوه يې، مګر هغه پخوانۍ مينه او خواخوږي يې نه شو پيدا کوله.

زوی يې ويل: ښه، نو نقل راته کوه....

سرداراندرې د هغه ځواب ونه وايه، هغه يې له ځنګنو نه پاڅاوه او له کوټې نه ووت.

سرداراندرې همدا چې له خپلو ورځنيو چارونه وزګار شو، هغه ته پخواني يادونه ورياد شول، په تېره بيا چې هغه ته د خپل پخواني ژوند بهير، هغه بهير چې دی په کې نيکمرغه و، ورياد شو، د ژوند غمونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه خپل پخواني قوت له هغه چاپیرشول، نو ده له همدې یادونو نه د تېښتېدو په هیله غوښتل چې ژر تر ژره کوم یو کار پیل کړي.

خور یې ترې وپوښتل:

اندرې ! تا، نو په غوڅه پرېکړه کړې ده، چې ځئ ؟

سردار اندرې وویل:

- د خدای شکر دی، چې تلای شم، خو افسوس کوم چې ته نه شې تلای.

شهزادګۍ ماریا وویل:

-ته ولې داسې وایې؟ نه، ته ولې داسې وایې، هغه هم په هغه شېبه کې چې ته دې وحشتناکې جګړې ته روان یې او هغه هم داسې عمر خوړلی دی.

-پیغلې بورې ین وویل چې هغه دې څو ځله پوښتنه کړې ده.

هغه وویل:

او خدایه !اوه زما خدایه !

او بیا یې په قهر چې شهزادګۍ ماریا یې حیرانه کړه وویل:

-کله چې فکر کوئ، څوک، څنګه او کوم سپک خلک کولای شي، د خلکو د بدمرغۍ سبب شي.

او شهزادګۍ ماریا په دې پوه شوه چې د سپکو خلکو نه د هغې د ورور د یادونې موخه، نه یوازې پېغله بورې ین و چې دا یې (شهزادګۍ ماریا ) بدمرغه کړې وه، بلکې هغه سړی هم و چې دده نیکمرغۍ یې هم وژلې وه. ماریا په ناز ورور ته لاس وروړ، او له سترګو یې ځلېدونکې اوښکې را تویدلې، هغه ته په کتوکتو کې وویل:

- اندرې،زه له تا نه یوه هیله لرم،زارۍ درته کوم، زه په تا ښه پوهېږم( شهزادګۍ ماریا سترګې ښکته واچولې) فکر مه کوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک د غم راوړونکي دي، خلک یوازې د خدای د خوښې سرته رسوونکي دي.

هغې د سرداراندرې له سره لږ پورته ځای ته په داسې ډاډمن او عادي غلچک ځیره شوه، لکه چې څوک کوم آشنا تصویر ته ګوري،

- غم د هغه د ارادې زېږنده ده، نه د خلکو د کړو پایله. خلک د هغه د خوښې د سرته رسولو وسیله دي، هغه ملامت نه دی. که تا ته برېښي چې څوک د تا په وړاندې ملامته دي، هغه هېر کړه او وې بښه. موږ د چا د جزا ورکولو حق نه لرو، وبښه او بیا د بښنې په نیکمرغۍ پوه شه.

سرداراندرې وویل:

- ماریا! که زه ښځه وای، ما به دا کار کړای وای، دا د ښځو خواخوږي او زړه سوی دی. خو نارینه نه باید څوک وبښي او نه یې کولای شي.

که څه هم هغه تر دې شېبې پورې د کوراګین په اړه فکر نه کاوه، خو ناڅاپه د هغه په ګوګل کې کرکجنه کرکه راولمسېده او په زړه کې یې وویل:

- که شهزادګۍ ماریا غواړي ما په دې قانع کړي، چې هغه وبښم، ما باید له وخته هغه ته ښودلي وای، چې یو من څو پتیرۍ کېږي. هغه د شهزادګۍ ماریا ځواب ونه وایي او د هغه شېبې له کرکې او قهر نه یې خوند اخېست چې دی به له کوراګین سره مخامخ کېږي، هغه کوراګین چې دی پوهېده چې په پوځ کې دی.

شهزادګۍ ماریا خپل وروړته زارۍ کولې چې یوه ورځ نور هم پاتې شي، هغې ورته ویل که پلار سره له پخلاینې پرته لاړ شي، پلار به زر مات او بدمرغه شي، خو سرداراندرې ځواب ورکړ:

- شاید ډېر ژر به، بېرته له پوځه راستون شي، هرومرو به پلار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک ولیکي او اوس چې څومره دلته زیات پاتې کېږي، په هماغه اندازه به دغه خوا بدی لا زیاتیږي.

هغه له خپلې خور نه د مخه بنې په شېبه کې دا خبرې واورېدې:

- د خدای په امان اندرې ! خو دا په یاد لره چې بدمرغی له خدایه راځي او هېڅکله په دې کې خلک ګناهکاره او ملامت نه دي.

سرداراندرې چې د لیسه ګورې نه پر وتلي واټ روان و ، له ځانسره سره وویل:

- افسوس ! پر هغې افسوس !

بوډا بنه پوهېږي چې ملامته دی، خو نه شي کولای ځان بدل کړي، زما زوی هم رالوېږي، هغه له ژوند نه خوند اخلي، هغه به په دې ژوند کې د ټولو په شان یا غولېږي یا به دی نور غولوي. زه پوځ ته روان یم، ولې؟ زه خپله هم نه پوهېږم او هیله لرم هغه سړی، چې خوار او سپک یې ګڼم پیدا کړم، هغه ته وخت ورکړم چې ما ووژني، په ما ملنډې ووهي او وخاندي. د ژوند شرایط پخوا هم همدغه شان و، خو په دې توپیر چې پخوا هر څه په خپل منځ کې سره غوټه کېدل او اوس سره شلېږي. اوس ټولې او له هر ډول اړیکو نه پرته پېښېږي، په پرله پسې توګه د سرداراندرې تصور ته ورتللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

سردار اندرې د جون د مياشتې په پای کې د سترې قوماندانۍ قرارګاه ته ورسېد. هغه لومړنۍ قطعه چې ټولواک او د هغه ملګرو د هغه ځارنه کوله، د دريسا د رود پرغاړه په يوه ټينګه کلا کې ځای پر ځای شوې وه. دويمه قطعه چې ويل کېده، اړيکې يې د فرانسوي پياوړي پوځ له خوا له لومړې هغې سره پرې کړل شوي و، د شا ته تګ په لړ کې يې هڅه کوله، بيا له هغه سره يو ځای شي. په روسي پوځ کې ټول له ټولو جګړېزو کړو نه ناراضه و، خو بيا هم چا داسې تصور نه شو کولای چې د دښمن له خوا د روسيې د ولاياتو د لاندې کولو ګواښ شته دی او آن د چا په خيال کې هم دا نه ګرځېده چې جګړې دې د پولند لوديزو ولاياتو ته ورخوره شي.

سردار اندرې چې د بارکلي دوتولي، په قوماندانۍ کې ټاکل شوی و، هغه يې د دريسار د سيند پرغاړه وموند. له دې کبله چې د مېشته پوځ په شا وخوا کې هېڅ کلی او لويه آبادي نه وه، يو زيات شمېر جنرالان او درباريان چې له ټولواک سره جبهې ته راغلي وو، په يوه سيمه کې چې لس ورسته له دې ځايه لرې و، د کلي په خورا ښو کورونو يا د رود پر هغه غاړه مېشت شوي وو. په هغه کور چې بارکلي دوتولي، په کې مېشت شوی و، د ټولواک د آستوګنځي نه يې څلور ورسته واټن

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره. هغه د بالکونسکي د ېر سوړ هرکلی وکړ او په خپله جرمنۍ لهجه یې هغه ته وویل چې دی به دده د تاکتیک په اړه له ټولو اک سره وغږېږي، چې ده ته تاکلې دنده وټاکل شي او ده نه یې هیله وکړه چې تر دغې ټاکنې پورې دده په قوماندانۍ کې پاتې شي. اناتول کوراګین چې سرداراندرې د هغه د پیدا کولو هیله لرله، په پوځ کې نه و او پترزبورګ ته تللی و. بالکونسکي ددغه خبر له اوریدو نه خوشاله شو. د لویې جګړې په اړه فکر کولو د هغه ټول خیالونه بوخت کړي وو او په دې خوشاله و چې په دې توګه به یو څه موده له کوراګین نه چې دده ټول خیالونه یې ترې اخیستي و، لرې کېږي. په لومړیو څلورو ورځو کې چې هغه ته هیڅ چیرې اړتیا نه لیدله کېده، بالکونسکي په ټوله قشله کې وګرځېده، د خپلې پوهې له برکته او له خلکو سره د غږېدا له لارې یې هڅه کوله د حالتو پوره او بشپړ معلومات تر لاسه کړي، خو د سرداراندرې لپاره دا خبره چې دا قشله ښه ده او که بده، هماغه شان ناآواره پاتې شوه. د خپلو جګړیزو تجربو نه په دې پوه شوی و چې کله کله د جګړې خورا د ېرې ښې نقشې چې په خورا ځیر جوړې شوې وي، په درد نه خوري. (ده ته دا تجربه د اوسترلیځ په جګړه کې شوې وه). د هغه لپاره ټول دې پورې اړه درلود چې څنګه د دښمن د ناڅاپي برید مخه ونیول شي یعنې هر څه دی پورې اړه لرله چې د جګړه لارښود نه څنګه او د چا له خوا کېږي. . .

هغه وخت چې ټولواک لا په ویلنا کې و، وسله وال پوځ په درې برخو ویشل شوي، وو:

دلومړي پوځ، مشري بارکلي دوتولي کوله، باګراتیون ددویم پوځ قوماندان و او د دریم پوځ لارښوونه تورماسوف، ته سپارل شوې وه. خپله ټولواک له لومړي پوځ سره و، خو نه د قوماندان په توګه. په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمان کې چې په دې اړه ټولواک لیکلی و، راغلی و چې پوځي چارې به دده تر څارنې نه تر قوماندې لاندې سره کېږي. دی به دغه پوځ قوماندان وي، هلته لیکل شوي و، چې دی به له لومړي پوځ سره وي. دغه راز ټولواک داسې قوماندانې چې دده وړتیا ولري هم نه درلوده، بلکې هغه قوماندانې خپل ګارد و. ددې ځانګړي پوځ قوماندانی جنرال شهزاده والکونسکي کوله چې د ټولو یاورانو قوماندان هم و، دغه پوځ، له جنرالانو، پوځي یاورانو، ځانګړو یاورانو، د دیپلماسۍ د چارو له مشاورانو او بې شمېره بهرنیانو نه جوړ و. دغه راز د دفاع پخواني وزیر اراکچییوف، درستیزوال ګراف بینیګسین، والاحضرت شهزاده څیساروویچ، کانستانتینوویچ پاوولویچ، د دفتر مشر ګراف روماینځوف، د پروس پخواني وزیر شتاین، سویدني جنرال آرمفیلد، د جګړې د غوره کړنلارې خاوند پفول، مشاور جنرال پاولوچي، فولځیګین او نور ډېر مخور ددې ډلې غړي وو. که څه هم دغو کسانو هېڅ ډول رسمي دنده نه لرله، خو د خپل ټولنیز دریځ او نامه له کبله د خورا ډېر اغېز خاوندان وو. او د پوځ زیاتره قوماندانان او کله ناکله خو ستر قوماندان په دې نه پوهېده، چې د ساري په توګه بینیګسین یا والاحضرت، یا اراکچییوف، یا شهزاده والکونسکي د کوم دریځ او واک له مخې، له دوی پوښتنې یا سپارښتنې کوي، هغوی په دې نه پوهېدل چې د هغوی سپارښتنې د دوی خپلې ځانګړې دي او یا د دوی دغه سپارښتنه د ټولواک ده، چې دوی یې هغو ته اوروي... خو دا د خبرې ظاهري بڼه وه او د درباریانو له نظره (هر چېرې چې تولواک وي هلته ټول درباریان کېږي) هر څه په ډاګه او څرګند و. ټولواک اعلی قوماندانې نه منله، خو په اصل کې ټولو پوځونو د هغه فرمانونو ته کتل، مل کسانو یې له هغه سره مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، آراکچییوف د نظم ځارونکی او د هغه ځانګړی ساتونکی و. بینیګسین د ویلن د ولایت د والي د دربار کوربه و، دا سې بربښېده چې د ټولواک او د هغه د ملګرو د هرکلي دنده یې لرله، خو هغه په حقیقت کې ځیرک سردار، پرکار پوه او یو خورا ګټور مشاور و او ټولواک هغه تل د دې لپاره چمتو ساتلی و چې د اړتیا په وخت کې یې د بارکلي د وتولي پر ځای وګماري. ستر شهزاده ځکه هلته و چې د هغه په خپله ګټه وه. پخواني وزیر شتاین ځکه هلته و، چې ښه مشاور و او ټولواک د هغه ځانګړو ځانګړتیاو ته درناوی درلود. آرمفیلد له ناپلیون سره د سختې کرکې او په ځان ډاډمن جنرال چې تل یې پر الکساندر اغېز لاره. پاولوچي، هلته ځکه و چې زړور و او په ډاګه یې هر څه ویل. یاور جنرال ځکه هلته و، چې چېرې ټولواک و، هغه تل او هرومرو هلته و او تر ټولو لا غوره پفول ځکه هلته و، چې هغه د ناپلیون په وړاندې د جګړې خریطه او کړنلاره جوړه کړې او پر ټولواک یې دا منلې وه چې دده وړاندیز تر ټولو ګټور منطقي او غوره دی، نو ځکه دی د جګړې لارښوونه کوي. ولځوګین له پفول سره و. هغه د هغه خیالونه او اند ښنې په خورا غوره او سپینه توګه او آن تر پفول نه هم ښه څرګندول. مګر پفول یوازې په کوټو کې دا مهارت درلود او هم یې د نورو په سپکاوي کې خبرې کولای شوې.

دغه کسان، له روسانو تر پردیو پورې چې یاد شول (په تېره بیا پردي او بهرنیان چې دوی ته یې په ناآشنا چاپیریال کې په خورا زړورتیا هر ورځ نوي خیالونه او افکار وړاندې کول) بې شمېره نور کسان هم په پوځ کې و چې تر دوی نه یې کمه غورتیا لرله، خو د جبهو مشري یې کوله.

سرداراندرې د ټولو دغو اند ښنو او عقیدو نه چې په دغو لویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناکراره او غوره ډلو کې یو له بل سره راټول او په سیالۍ کې و، جلا جلا بهیرونه او ډلې پېژندلې.

لومړۍ ډله، د پفول او د هغه د ملګرو ډله وه چې د جګړې د پوهې ډله وه. هغوی په دې باور درلود چې جګړه ځانته قانون لري او دا پوهه خپل نه بدلیدونکي اصول او هغه د پوهې او څرګندونې او دې ته ورته نور قوانین دي. پفول او ډله یې د غوره قوانینو پر بنسټ، خپلې خاورې ته ورړاندې د ننه، د شاتګ غوښتنه کوله او د خپلې جګړېزې پوهنې له مخې یې، له خپلو نظریو نه اوښتل د وحشت، بربریت او جهالت نښې ګڼلې. شهزاده ولځوګین او وینځینګیورد او نور چې په ختمه آلماني وو، له دغې ډلې نه ملاتړ کاوه.

دویمه ډله، د لومړنۍ هغې په وړاندې سیاله ډله وه. لکه تل چې همداسې وي، د یو تند لارې په وړاندې د بل اړخ تندلارې راپیدا کېږي. د دغې ډلې پلویانو ویل چې د پخوا نه د کومې جوړې شوې خریطې او کړنلارې نه پرته، باید له هماغه ویلنا نه پر پولند یو تالانګر یرغل وشي. دوی نه یوازې زړورتیا ستایله، بلکې ناسیونالسته هم وو، نو ځکه دوی په خبرو اترو کې پېیلي (طرفدار) غږیدل. دا ډله روسان وو. باګراتیون او یرمولوف چې تازه یې پېژندګلوي پیدا کوله او ځینې نور د همدې ډلې غړي وو. په هغو شپو ورځو کې د یوې ټوکې آوازه خپره شوې وه چې ویل یې، یرمولوف هسې له ټولو اک نه هیله کړې ده چې هغه ته ویاړ وروبښي او هغه د الماني په نامه وپېژني. د دغې ډلې پلویانو د سوروف یادونې کولې او ویل یې چې په جګړه کې وخت او تفکر باید هېر نه شي، نقشې ونه ګنډو، باید په مېړانه سربښندنه وشي، د دښمن لښکر مات شي، د روسیې خاورې ته یې د راننوتلو مخه ونیول شي او د پوځ مورال خرابه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جګړه او سوله

دربېمه ډله چې ټولو اک له بلې هرې یوې نه پر هغه زیات باور درلود، هغه درباریان وو. دوی د دوو لومړنیو ډلو د نېږدې والي غوښتنه یې کوله. ددې ډلې زیاتره غړي غیرپوځي کسان و، اراکچییوف هم له همدې ډلې نه و. دوی هغه کسانو ته ورته و چې ډېرې عادي خبرې یې کولې، هغه شان خبرې، چې عادي خلک یې کوي، هغه خلک چې عقیده نه لري، خو هیله لري داسې وښیي چې لري یې. هغوی ویل چې بې شکه جګړه هغه هم له دغه شان نابغه لکه بناپارت (هغو بیا هم هغه د بناپارت په نامه یاداوه) سره، د جګړې په پوهنې کې له ژور تفکر، غوره پوهې او ځیرکتیا نه پرته، ناشونې ده. او په دې برخه کې پفول خپله یو نابغه دی. نو له دې سره سره نه شو کولای ونه وایو چې تیوریتیکان زیاتره وخت یو اړخیزه فکر کوي. دهمدې دلیل له مخې باید په پټو سترګو هغو ته کارونه ونه سپارل شي. د هغو مخالفانو ته هم پاملرنه وشي، یعنې د پفول مخالفانو او نورو هغو کسانو ته چې د جګړې لپاره د عملي چارو پیاوړتیا په تېره بیا تجربه لري، غوره ونیول شي. سمه او غوره لاره باید د هغو په منځ کې ولټول شي. ..

د څلورمې ډلې ترټولو غوره استازی ولیعهد والا حضرت څاریوویچ و چې یوه شیبه یې هم نه شو کولای د اوسترلیڅ د جګړې ماته هېره کړي. .. هغه په دې جګړه کې د دښمن پر لښکر داسې ورداننګلي و چې ته به وایې پریټ ته روان دی، هغه غوښتل چې په یوه شبخون دښمن تالان کړي، خو ناڅاپه د جبهې له لومړۍ کرښې راوتلی او په خورا سختۍ یې ځان له هغې بدمرغۍ او د تښتېدلو کسانو له منځه ژوندی راوېستلی و. ددې ډلې غړي په خپلو کړو او عقایدو کې صداقت او رښتینتوب او هم نیمګړتیاوې لرلې. هغوی له ناپلیونه ډاریدل. ناپلیون یې قوي او ځان یې کمزوری ګاڼه. دوی دغه خبره په ډاګه منله. هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل:

- دا جګړه له ویر، غم، رسوایي او تباهۍ نه پرته موږ ته بل څه نه راکوي. ویلنا مو دښمن ته ورپرېښوده، ویتیبسک مو هم پرېښود. دریسار به هم هغو ته ورکړو. یوازینی ښه کار چې موږ اوس کولی شو، هغه د روغې د منلو لاره ده. هغه هم ژر تر ژره او مخکې له هغه چې موږ له پترزبورګ پسې وانخلې. دغه نظر د پوځ په لوړپوړو چارواکو کې خورا ډېر پلویان لرل. په پترزبورګ کې یې هم پلویان کم نه و آن رومیانځوف د دفتر مشر، که څه هم د سیاسي عقایدو له مخې د سولې او روغې غوښتونکی و، خو بیا یې هم د دوی پلوي کوله.

پنځمه ډله د بارکلي دوتولي پلویان وو، هغه او د هغه نظر ته، نه د یو مخور بلکې د دفاع وزیر په توګه په درنه سترګه کتل کېدل. خلکو به ویل:

-هر څنګه چې وي (هغوی به خپلې خبرې داسې پیل کولې) هغه ښه او د ژبې سړی دی. او تر هغه ښه غوره څوک نه لرو. هغه ته رښتینی واک ورکړل شوی دی، ځکه جګړه تر رښتینیتوب او یوې مشرۍ نه پرته نه ګټل کېږي. هغه به وښيئ چې څه واک او مهارت لري لکه هغه شان چې یې په فنلند کې وښودل. هغوی په دې باور درلود، که زما پوځ پیاوړی او منظم دی او دا توان یې لرلی چې له مرګ ژوبلې پرته تر دریسا پورې شاته لاړ شي، دا تهول، د بارکلي دوتولي له برکته دی. که اوس بینیګسین د هغه پر ځای قوماندانۍ ته وګمارل شي له ماتې او تباهۍ نه پرته به بل څه زموږ په برخه نه شي، ځکه بینیګسین خپله ناتوانی لا په ۱۸۰۷ کال کې ښودلې ده.

شپږمه ډله د بینیګسین پلویان وو او دا عقیده یې لرله چې د پنځمې ډلې د نظر برخلاف به یې ویل چې تر بینیګسین نه پیاوړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربه لرونکی بل څوک نه شته. هغه هره چاره هر اړخيزه څېړي. تر هغه بل غوره څوک به څوک پيدا نه کړي. د هغوی د دلايلو له مخې تر دريسا پورې د پوځ شاته راتګ تر ټولو ستره بې ننګي او د شرم وړ ماتې ده چې د پرله پسې تېروتنې پايله وه. هغه به ويل:

- څومره چې دغه تېروتنې زياتېږي، هومره ګټه لري، ځکه له دې لارې لږ تر لږه ژر پوهېږی چې داسې نور نو هر څه ناشوني دي. د دوی د پوځ د مشرۍ لپاره کوم يو سړی لکه بارکلي په کار نه دی، بلکې داسې يو سړی په کار دی لکه بينيګسين، چې لا په ۱۸۰۷ کال کې خپله پياوړتيا وښودله او خپله ناپليون هغه برحقه وګانه د پوځ مشري بايد هغه چا ته ورکړل شي، چې ټول يې په خورا لېوالتيا واک ته غاړه کېږدي او دغه شان سړی يوازې بينيګسين دی.

او ومه ډله هغه کسان و چې تل هر چېرې په تېره بيا د ځوان ټولواک او شهزادګانو په شاوخوا راټول وو. او د ټولواک الکساندر په شاوخوا کې خو داسې پريمانه وو چې مه کوه پوښتنه. هغه جنرالان او ياوران چې نه ټولواک بلکې په خپله له الکساندر سره، د هغه له صداقت او خواخوږۍ سره يې لېونۍ مينه لرله. لکه رستوف چې ۱۸۰۵ کال کې هغه ته د زړه له کومې درناوی کاوه، زړه يې پرې بايللی و، بلکې ټولې انساني ښېګڼې يې د هغه ځانګړې کولې. دغو کسانو که څه هم د ټولواک هغه کميني چې د پوځ د سترې قوماندانۍ له منلو نه يې ډډه کوله، ستايله، خو په کمينۍ کې يې د هغه زياتوالی نه مانه. هغوی يوه هيله لرله او پر هغې ټينګار هم کاوه او هغه دا چې د دوی د زړه خوښې ټولواک پر ځان بې باوري پرېږدي او په ډاګه ووايي چې دی د وسله وال پوځ ستر قوماندان دی. بايد چې ستره قوماندانۍ جوړه او هر چېرې او له هر چا نه چې تجربه او وړتيا لري، مشورې واخلي، خپله د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشري واخلي، چې د نورو د لېوالتيا او لمسون سبب شي.
اتمه ډله خو د شمېر له مخې تر ټولو نه ګڼ شمېره ډله وه، چې په سلو کې ۹۹ يې جوړوله. دوی هغه وګړي و چې نه د جګړې لېواله و او نه يې له روغې سره جوړه وه، نه د يرغل پلويان و او نه د دفاع غوښتونکي. نه يې د دريسا په سيمه کې د پاتې کېدو وړاندېز کاوه، نه د بل کوم ځای. نه يې بارکلي د پوځ د مشري وړ ګاڼه او نه ټولواک، نه پفول او نه بېنيګسين، خو هغوی يوازې د يو څه ډېر هيله مند او هغه خورا د اهميت وړ و، هغه د ځان لپاره ډېره ګټه، خوند او لذت و. د ټولواک په اداره کې د فساد ،شوکو او دوکو داسې له تصور نه لوړې چارې تر سره کېدای چې په بل وخت او ځای کې يې چا تصور هم نه شو کولای. يو چا نه غوښتل خپل ګټور منصب له لاسه ورکړي، نن به د پفول تر څنګ ولاړ و او سبا به يې بيا د هغه د سيالانو خوا نيولې وه، بله سبا به يې بيا ويل چې په دې اړه کوم ځانګړی نظر نه لري،هغه هم له دې کبله چې کوم مسووليت ورو انه وړي او د ټولواک مينه هم تر لاسه کړي. بل به ددې لپاره چې ګټه تر لاسه کړي بيا داسې چغې وهلې، چې ځانته د ټولواک پام ورواوړي. هغه څه به يې ويل چې ټولواک پرون هغه ته اشاره کړې وه. ټېر به يې ډباوه چې د ملت لپاره هرې سر ښندنې ته چمتو دی. درېيم به په شورا کې د سيالانو د ناسولې نه په ګټې اخېستو سره، د خپل خدمت ستاينه کوله او انعام به يې غوښته. هغه هم په داسې وخت کې چې پوهېده که همدا اوس کوم امتياز وغواړي، هرومرو يې ورکوي. څلورم به بيا هڅه کوله چې له ټولواک سره مخامخ شي او ځان له کارونو ستومانه وښيي. پنځم به بيا ددې لپاره چې خپل ارمان تر لاسه کړي، په حق او ناحق هڅه کوله له ټولواک سره په غرمنۍ کې په ټينګار سره د نويو پيدا شويو نظريو حق او ناحق ثابت کړي او ددې کار لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې فکر ډېر قوي دلایل او لږ څه قوي دلایل راوړل.

ددې ډلې غړي ټول د پیسو ،زرو ، منصبونو په لاس ته راوړلو اختـه وو او د ټولواک لطف او مرحمت ته یې سترګې ګنډلې وې. دوی لکه د دربار خیرات خواره، دهغه د خیر وړمې ته کتل او چې پام به یې شو چې د رحمت پله بله خوا اوښتې، دغو خیرات خورو به ټولو په هماغـه شېبه کې بل پلو مخ واړاوه، داسې اوښـتل چې د ټولـواک لپـاره بـه داسې بدلون ګران و. پـه هغـو ګډوډو پـوځـي حـالاتو ، ناڅرګنـدو او کړکیچنو پېښو کې، چې له هر څه نه ګوابښ ورپېښ و ، د دوکو او ځانغوښـتنو پـه اړودوړ کـې او د ټولـواک پـر شـاوخوا د راټولـو شـویو کسـانو د ګټـو ، خیالاتو او احساساتو په ټکر کې چې هر چا یو خیـال او جلا ژبـه لرلـه، دغـې ډلـې لـه خپلو ځانګړو ګټو نه پرتـه د بـل څـه پـه اړه فکـر نـه کـاوه. هغـوی، دغـې بې شمېرې ډلـې هـر چیـرې اوبـه خړولـې او د هـرې چـارې لارې یې بې لارې کولې. هر کله به چې هره نـوې خبـره راپاڅېـده، پرتـه لـه هغه چې دوی پخواني شخړې آوارې کړې وای، دوی به لکه د میاشو یـا مچیـو پـه شـان پـه خـوړېو ، داسې شروشـور جـوړ کـړ چـې پـه خپـل دغـه شروشور کې به یې د رښتینو کسانو د زیار او د کار آوازونـه تـت یـاچور چپ کړل.

کله چې سرداراندرې پوځ ته ورسېد ، ددغو ډلو تر څنګ یوه بله ډلـه هم راپیدا شوه، نهمه ډله، هغې هم خپل غږ راپورته کړ. په دغـه ډلـه کـې زاړه، هوښیار په دولتي چارو کې د تجربې لرونکي او ماهران و. دوی پرتـه لـه هغـه چې د نـورو ډلـو سـیالیو او نانـدریو تـه پـام وکـړي، د هغـو ستونزو او خنډونو د آوارۍ لپـاره هـر هغـه څـه ښـه څېـړل چـې پـه سـتره قوماندانۍ کې تېریدل.

ددې ډلې پلویانو په دې باور لاره چې په پوځ کې د ټولواک او د هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلاکارانو حضور، د اړ دوړ او بې نظمۍ سبب دی. دده حضور په پوځ کې هغه نالیکل شوې مشورې او خبرې دود کړې، چې په دربار کې د هغو اجازه شته، خو په پوځي چارو کې هغه پوځ ته خورا تاوان رسوي. ټولواک باید پاچاهي وکړي، نه د پوځ لارښوونه. ددې شخړې نه د ژغورنې یوازنۍ لاره دا ده چې ټولواک د پوځ نه ارګ ته لاړ شي. د هغه شته والی پوځ ځکه شنډ کړی دی چې یوازې د هغه د ساتنې او پالنې لپاره پنځوس زره سرتېري په کار لګیا دي.

د پوځ خورا ناپوه قوماندان که په خپلو چارواکو آزاد وي، تر هغه قوماندان نه چې د واک او ټولواک تر څارنې لاندې وي، ښه دی.

هغه وخت چې سرداراندرې بې له کومې ګمارل شوې دندې، په دریسار کې وخت تېراوه، د ټولواک یو مشر وزیر شیټکوف او د دغې ډلې یو مشر، ټولواک ته یو لیک ولیکه. دغه لیک بالاشوف او آراکچییوف هم لاسلیک کړی و. هغه په دې لیک کې د هغه اجازې له مخې چې ټولواک ورته ورکړې وه، د چارو د ټولنیز بهیر په اړه خپل اند ځرګند کړی و او په دې پلمه چې د ملت، د هېواد پالنې او په خلکو کې د جګړې د پارونې لپاره، دده حضور ته په پلازمېنې کې اړتیا لیدله کېږي، هغه ته په ډېر درناوي وړاندیز شوی و چې پوځ پرېږدي او پلازمېنې ته لاړ شي.

له هېواد نه د دفاع او د ملي ګټو د ستانې لپاره د خلکو او ملت هڅونه او لمسونه چاره ټولواک ته وسپارل شوه او هم دغه هڅونه وه (څو ځله خو په مسکو کې دغه شان هڅونې او لمسونې د ټولواک په حضور کې تر سره شوې وې) چې د روسیې د بري اصلي علت شو. ټولواک هم د ببرته ستنېدو لپاره دغه وړاندیز ښه پلمه وبلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

ټولواک ته لا لیک سپارل شوی نه و چې بارکلي د غرمنۍ په وخت کې، بالکونسکي ته خبر ورکړ چې ټولواک غواړي، دی، د دې لپاره ووینې چې د ترکیې د حالاتو جاج ترې واخلي،نو له دې کبله دی باید د ماښام په شپږو بجو د بینیګسین قوماندانۍ ته ورشي. په همدې ورځ د ناپلیون د نوې خوځېدا خبر چې کېدای شو، د پوځ لپاره خورا ګواښمن وی، دربار ته رسېدلای و، خو وروسته څرګنده شوه چې دا خبر ناسم دی.

د هماغې ورځې پر سهار ډګروال میشو له ټولواک سره د دریسا په ښارګوټي کې، د سنګرونو او په هغه کې د استحکاماتو د کتلو لپاره تللی و. دغه ډګروال هڅه کړې وه چې دغه استحکامات چې د پفول د وړاندیزونو له مخې جوړ شوي او تاکتیکي شهکارونه ګڼل کېدل او د هغو د جوړونکي د وینا له مخې یې کولای شول د ناپلیون پوځ تالا والا کړي، یوه هسې خبره ګڼله او ویل یې چې دا به په خپله د روسیې د پوځ د ماتې سبب شي.

سرداراندرې د جنرال بینیګسین قوماندانۍ ته چې د سیند پرغاړه په یوه چندان نه لوی کور کې چې پخوا یې کوم خان پورې اړه لرله، ورغی. نه بینیګسین او نه هم ټولواک هلته نه و. د ټولواک یاور

(c) ketabton.com: The Digital Library



چورنيشوف د هغه هرکلی وکړ او ورته وې ويل چې ټولواک، جنرال بينيګسين او مارکي دوپاولو، چې په ګډه د دويم ځل لپاره د دريسا د مورچلونو د کتلو لپاره ځکه لاړل چې د دغو مورچلونو ګټورتوب ورځ په ورځ شکمن کېږي.

چورنيشوف، چې يو فرانسوي رومان يې په لاس کې و، د لومړنې کوټې د کړکۍ څنګ ته ناست و. داسې برېښېده چې دا کوټه پخوا کوم تالار و. په هغه کې يوه پيانو ايښې وه چې پر هغې څه قاليلنې پرتې وې او په يوه کنج کې يې، د جنرال بينيګسين سفري کټ هم ولاړ و. خپله ياور هم همالته و. داسې ښکاريده چې د زيات کار او يا هم له زياتو خوړو نه ستومانه شوی او په خپل غوچ او ټيټ کټ کې ناست او چرت يې واهه. دې تالار دوې دروازې لرلې، يوه دروازه يې مخامخ مېلمستون ته وروتله او بله يې ښي څنګ ته يو دفتر ته ورخلاصېده. د لومړې دروازې له شا نه په الماني ژبه د غږېدو او کله کله هم په فرانسوي ژبې د غږېدا غږ راته. څو تنه چې په دغو کړکيچونو حالاتو کې ټولواک د هغو د نظرياتو د اورېدلو لېواله و، خو نه د جګړېزې جرګه ګۍ په نامه (د ټولواک ناڅرګند حالات خوښېدل) په پخوانی مېلمستون کې راټول شوي وو. دا پوځي جرګه نه وه، دا يو ډول لويه جرګه وه چې په هغه کې ځېنې سپين ږيري او مخور د حالاتو د سپړنې او مشورې لپاره رابلل شوي وو. لويې جرګې ته دورته شورا غږي: سويدني جنرال آرمفيلد، ياورجنرال فالڅوګين، جنرال فينځينګيرود دي، چې ناپليون هغه فراري کډوال بلل، ميشو، چور غير پوځي سړی، ګراف شتاين او په پای کې خپله پفول. لکه هغه شان چې سرداراندرې اوريدلی و د واک اصلي سته بلل کېدل. سرداراندرې وخت پيدا کړی و چې هغه ښه وګوري، ځکه ډېر ژر پفول ده پسې مېلمستون ته راغی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرید او یوه شېبه له چورنیشوف سره وغږېد...

پفول یو ټیټ وني، خورا ډنگر خو غښتلی وو کی و، تانده، خو له قهره ډکه څېره لرله.. بشره یې ډېره گونځې او سترگې یې لویدلې وې. د هغه څنې پر تندي او پر شقیقو په تلوار ړمنځ شوې او پاکې، خو د ښتې هغه یې جرې ورېې وې. په پریشانۍ او خواشینۍ یې دې خوا هاخوا وکتل او کوټې ته راننوت. داسې برېښېده چې هغه په دغې لویې کوټه کې له هر څه نه ډارېږي. په یوې ناڅاپه خوځېدا یې خپله توره لرښاته پورته کړه او په الماني یې له چورنیشوف نه وپوښتل چې ټولواک چېرې دی. داسې برېښېده چې څومره ژر کېږي، سترې مشې خواره مشې پای ته ورسوي، له کوټې نه تېر شي، د نقشې مخې ته هلته چې تر بل هر ځای، نه ځان په کراره احساسوي کیني او خپل کار پیل کړي. په تلوار او د سر په ښوریدو یې، هغه څه ته چې چورنیشوف ورته ویلي و، ځواب ورکړ او ددې خبرې له اورېدو چې ټولواک ددې ترلاښوونې او دده په خوښې جوړ شوي مورچلو نه کتلي، له ملنډو ډکه موسکا وکړه. په داسې ځیږه او ډډه ژبه لکه چې ځانستایونکي او په ځان ډاډمن المانیان غږېږي، له ځانسره وویل:

-حماقت، بلا ورپسې.. اوس به یې گورئ..

سرداراندرې څه وانه وربدل او غوښتل یې وړاندې تېر شي، خو چورنیشوف هغه له پفول سره آشنا کړ، ځکه په دې پوه شو چې هغه له ترکیې راغلی او هلته جگړه په نیکمرغۍ پاتې ته رسېدلې ده. پفول سرداراندرې ته وکتل، خو هغه ته یې داسې کتل، چې گواکې نه ده ته، بلکې د هغه نه شا ته گوري، وې خندل او په الماني ژبې یې وویل:

- دا هم باید همداسې وای، ښه تاکتیکي جگړه به وه.

په سپکاوی یې وخندل او هغې کوټې ته چې د غږېدا غږ ترې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ. پفول چې تل ملنډو او قهریدو ته چمتو والی لاره، نن په ډاګه په قهر بربښېده، ځکه ځېنو ځان ته دا حق ورکړی و، چې دده له حضوره پرته،دده له خوا د جوړشویو مورچلو کتنه او بیا پر هغو قضاوت وکړي. سرداراندرې د اوسترلیخ له جګړې نه د خپلو یادونو په مرسته،له دغه سرې سره د لنډې کتنې په اوږدو کې،دځان لپاره د هغه د شخصیت یو تصور انځور کړ. پفول چې بدلون ته یې هېڅ هیله نه و، یو له هغو کسانو نه و چې په ځان ډاډ منتوب یې د شهادت د عذاب تر کچې رسولی و، هغه کار چې یوازې المانیان هغه شان کولای شي،ځکه یوازې المانیان دي چې په خورا ډاډ پر هغو وچو اند ښنو چې علم یادیږي، ولاړه دي او د هغه له برکته، ځان د بشپړې رښتیا خاوندان ګڼي.

فرانسویان ځان ځکه ډاډمن ګڼي چې هغوی نارینه او ښځې ځان له عقلي او جسمي پلوه په نه لاس ته راوړونکي بڼه، زړه راښکونکي ګڼي،چې د هغه په وړاندې ټېنګېدا ی نه شي. په انګریزانو کې پر ځان ډډاډمنتوب احساس له دې کبله پیاوړی دی چې هغه په نړۍ کې د یوه نیکمرغۍ هېواد هېوادوال دي او هغه هم له دې کبله چې هغوی د انګریز په شان تل په دې پوهېږي، چې باید د یو انګریز په توګه څه وکړي، البته د یو انګریز په شان ډاډمن دي، چې هر څه کوي،هغه غوره دی. ایتالویان له دې کبله په ځان ډاډمن دي چې هغوی په خپلو احساساتو کې ډوب او په دې احساساتو کې هم ځان او هم نور هېروي. روسان له دې کبله په ځان ډاډمن دي چې په هېڅ نه پوهېږي او نه غواړي په څه پوه شي،ځکه هغه په دې ډاډ نه لري چې کله به په کوم شی پوه شي،خو د المانیانو پر ځان ډاډمنتوب ځکه تر ټولو ناوړه،تر ټولو د اند ښنې وړ او تر ټولو کرکجن دی چې هغوی تصور کوي چې رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مونـدلې ده، پوهـه يې پيـدا کړې او يـوازې دوی پـورې اړه لـري او رښتيا ددوی لپاره مطلقه ده. داسې ښکاري چې پفـول هم همدغـه شان يو المـاني ځان ګاڼه. هغـه پوهان و او د هغـه پوهـه د جګړيزې خوځښدا نظريات و چې د ستر فردريک د جګړو د تاريخ له څېړنې نه يې زده کړې وو، نو له دې کبله هر هغه څه سره چې په او سني پوځي تاريخ کې ورسره مخامخېده هغـه تـه بې معنـا، بربري، هسـې ګډوډ او لـه اخ او ډبـه ډک بربښېده. دغه جګړه، نور نو جګړه نه شوه ګڼل کېدای. ، ځکه هغـه دده د نظريـاتو پـه تلـه کې، تلـل(وزن) کېـدای نـه شـوه او پـه علمي څېړنـو کې ورتـه ځـای نـه پيـدا کېـده. پفـول پـه ۱۸۰۷ کـال کـې، د هغـې جګـړې د طراحانوله ډلې نـه يـو تـن و چې پـه يـونين او آورشت کې لـه مـاتې سـره مخامخ شوه، خو د دغې جګـړې د مـاتې سره سره يې پـه خپلـو نظريـاتو کې يو ټکی هم ناسم نه ګاڼه. برعکس، د جګړې د بـايلودو علت هغـه دا ګاڼه چې روسانو دده نظريات په سمه توګه عملي کړي نه دي، لکـه هغـه شان چې دده د الماني ختې ځانګړتيا وه، په ملنډو ملنډو او خوښۍ يې ويل:

- ما خو ويلي و چې هر څه به تالاوالا او خراب شي !

پفول له هغو نظريه جوړونکو نـه و چې خپلـو نظريـو بـه دومـره ورتـه ارزښت لاره چې کله ناکله به يې له ډېر ګرانښته د خپلو نظريـو موخـه هم هېروله. هغه له خپلو نظريو سره د بې ساري مينې له کبله لـه هر ډول کړو سره کرکه لرله او نه يې غوښتل پـر هغـو يـې سر خلاص شي. دی پـه دې لاره کې دومره تند لاری و چې د عملياتو له ماتې او ناکامۍ نـه بـه ځکـه خوشاليده چې هغه د خپلو نظرياتو سموالی او له هغو نه سرغړونه بلله.

هغـه دروانـې جګـړې پـه اړه سـرداراندرې او چورنيشـوف سـره څـو خبـرې وکړې، خو ژبـه يـې هغـه چـا تـه ورتـه وه، چـې ګـواکې مخکـې لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې پوهېږي چې کار وران او دی د هغه له بهير نه ناراضه دی. پر ڼت جړې ګډوډې څڼې او پر شقيقو په چټکۍ ږمنځ شوي وېښته يې په ډاګه دده د دغه نيت څرګندونه کوله.

بلې کوټې ته لاړ او د تګ سره سم له هغه ځايه دده د ډډ او بړبړ غږ، غږ واوريدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

سرداراندرې په کتو کتو کې لا پفول بدرګه کړی نه و چې ګراف بېنيګسين کوټې ته راننوت. بالکونسکي ته يې سر وښوراوه، پرته له هغه چې په کوټه کې تم شي، دفتر ته ورتېر شو. خپل ياور ته يې څه سپارښتني ورکړې. ټولواک هغه پسې را روان و خو بېنيګسين ځکه مخې ته تللی و چې هلته کوم څه چمتو او بيا دده هرکلی ته راووزي. چيرنيشوف او سرداراندرې برنډې ته وروتل. ټولواک ستړی ستومانه له آسه راکوز شو. مارکيز پالوچي، ټولواک ته څه وويل. ټولواک سر کينې خواته واړاوه او په تريو تندي يې پالوچي، ته چې په خپلې خورا ځانګړې لېوالتيا غږېده، غوږ نيولی و. ټولواک په دې هيله چې خبرې پای ته ورسېږي، وړاندې وخوځېد، خو دغه ايتالوي چې خورا ګبنهې اخېستی، احساساتي او په قهر و، له نزاکته لرې، بې له هغه چې خبرې پای ته ورسوي، هغه پسې روان و او ويل يې:

-د هغه چا لپاره چې د دريسا د پوځ وړانديز يې کړی و...

په دې وخت کې چې ټولواک زينو ته رسېدلی و، سرداراندرې ته، چې لومړی يې نه و پېژندلی کتل. پاولوچي، چې نور نو له ګبنهې نه سرسام و، دوام ورکړ:

- د هغه چا لپاره چې ددغه پوځ وړانديز يې کړی و، د ټولواک لپاره به ښه وي چې هغه، هو زما په اند د هغه چا لپاره چې د دريسا د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړانديز يې کړی و ، يا لېونتون او يا هم په دار ځړول غوره کار دی.

خو ټولواک پرته له هغه چې د ايتالوي خبرې تر پايه واوري، يا يې اصلاً هغه نه اورېدې، بالکونسکي وپېژاند او په خورا ورين تندي او مهرباني يې ورته وويل:

- ستا له ليدو خورا خوشاله يم، هلته به لاړ شئ، هلته چې راټول شوي دي او ما ته به سترګه په لاره شئ. ټولواک خپل دفتر ته لاړ. هغه پسې شهزاده پيتر ميخايلوويچ، والکونسکي او بارون شتاين هم ورننوتل او دروازه يې ځان پسې وتړله. سردارانديې د ټولواک د اجازې نه په ګټه اخېستنې له پاولوچي، سره يو ځای، چې د ترکيې له وختونو راهيسې يې پيژاند ، مېلمستون ته چې د شورا غړي هلته راټول و ، ورغلل.

شهزاده پيتر ميخايلوويچ والکونسکي د ټولواک په دربار کې ګواکې د لوی درستيز دنده لرله. والکونسکي له دفتره راووت، مېلمستون ته راغی،د هغه څو نقشې يې په لاس کې وې، هغه يې پر ميز وغوړولې او راټولو شويو کسانو نه يې څو پوښتنې وکړې،دی دې پوښتنو په هکله د هغو د خيال او اند د پوهېدو غوښتونکی و. خبره په دې کې و چې پرون شپه د ناپليون د نوې خوځېدا خبر چې کېدای شو د دوی پوځ ته ګواښمن واوسي، دربار ته رسېدلای و ، که څه هم وروسته ښکاره شوه چې هغه دروغ دی.

تر هر چا د مخه جنرال آرمفلد خبرې پيل او ناڅاپه يې د اوسنۍ ستونزې د آرامۍ لپاره چورنوی دريځ، چې په هېڅ ډول د منلو وړ نه و ( د دغه دريځ د وړاندې کولو موخه دا و چې هغه هم کولای شي په دې اړه خپل دريځ ولري). د هغه د وړانديز له مخې پوځ بايد په هغو لارو کې چې پترزبورګ او مسکو ته غځېدلي دي، لرې، لرې ځای پر ځای شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورپوځونه دي هم له هغو سره يو ځای او هلته دي د دښمن د رارسېدو ځارنه وکړي. .. دا يو له ميليونو ميليونو وړانديزونو او دريځونو نه و چې خپل سموالی يې درلود او د جګړې د بهير له پوهېدو نه وروسته کېدای شوای وڅېړل شي.

يو شمېر کسانو د هغه وړانديز ته څه ګوت نيوکې وکړې او يو شمېر هم د هغه ملاتړ وکړ. ځوان ډګروال تول، په خورا احساساتي توګه د سويدني جنرال وړانديز غانده او د خبرو په لړ کې يې له خپل ځنګيز جيب نه يو له پيل نه تر پايه ليکل شوې کتابچه راووېسته او اجازه يې وغوښته هغه ولولي. تول، يو بل وړانديز چې چور د آرمفلد او د پفول د وړانديزونو سره توپير درلود ، وړاندې کړ. پاولوچي، بيا دغه د تول، وړانديز د نه منلو وړ وګاڼه. هغه يو داسې وړانديز وړاندې کړ چې تصور يې کاوه دغه د مخ ته تګ وړانديز کولای شي موږ له دغه نامعلوم حالات او ابښودل شوي دام نه (د هغه موخه د دام نه د دريسا استحکامات و ) چې په کې راګير يو وژغوري. ددغو خبرو په اوږدو کې پفول او د هغه ژباړونکی ولځوګين (دغه ژباړونکی دده او دربار ترمنځ د اړيکو ساتونکی هم و ) خاموشه وو. هغه (پفول) يوازې له ملنډو او سپکاوي نه په ډکه بڼه پخ وهل، شا اوخوا ته يې سر اړاوه او په دې توګه يې غوښتل وښيي چې هغه به ځان هېڅکله دومره سپک نه کړي چې ددغو چټياتو ځواب ووايي، چې دلته يې اوس اوري، خو کله چې د غونډې مشر، شهزاده والکونسکي له هغه نه د خپل نظر د ويلو غوښتنه وکړه، هغه دومره وويل:

- له ما نه څه پوښتنې کوئ؟ جنرال آرمفلد خورا ښه وړانديز کوي او وايي چې د پوځ شا پرته له هر ډول دفاع نه خالي کړئ، يا ددې ښاغلي ايتالوي د يرغل وړانديز ! خورا لوړ او پرځای دی، يا چور شاتګ، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لوړ وړاندیز دی، له ما نه ولې پوښتئ؟ تاسو خو له مانه په هر څه خپله ښه پوهېږئ، خو کله چې والکونسکي په تریو تندي وویل چې هغه د ټولواک له خوا د هغه د نظر غوښتونکی دی نو پفول پاڅېد او ناڅاپه یې په خورا پیاوړتیا او شور خبرې پیل کړې:

- هر څه یې سره خراب کړل، هر څه یې سره ګډوډ کړل، ټولو دا سې ګڼله چې تر ما ښه او غوره پوهېږي، اوس راغلل او ما نه پوښتي چې څنګه یې راسمه کړو؟ د راسمېدو څه پاتې نه دي.

هغه چې په خپله نرۍ اړ کویزې ګوتې میز ټکاوه، خبرو ته دوام ورکړ:

- ستونزه په څه کې ده؟ د ماشومانو لوبه. هغه نقشې ته ورنږدې شو، خبرې یې لا چټکې شوې، په وچو ګوتو یې نقشه ټکوله او دا یې ثابتوله چې هېڅ څه او کړه نه شي کولای د دیسار د مورچل سموالی له ګوابښ سره مخامخ کړي. په دې جبهه کې هر څه په هر اړخیزه ډول اټکل شوي دي. که دښمن له هغه د راتاویدو تکل وکړ، هغه به خپله تالاوالا شي. پاولوچي، چې په الماني نه پوهېده، له هغه یې په فرانسوي ژبه پوښتنې پیل کړې. ولڅوګین د خپل مشر مرستې ته ځکه ورودانګل چې هغه په فرانسوي نه پوهېده. د پاولوچي، خبرې یې هغه ته وژباړلې. هغه په ژباړه کې وروسته وروسته پاتې کېده، ځکه پفول ژر ژر خبرې کولې او ثابتول یې چې ټول او ټول، نه یوازې هغه څه چې پېښ شوي دي، بلکې هغه څه چې کېدای شي پېښ شي، ټول او ټول دده په وړاندیز اټکل شوي دي او که اوس کومه ستونزه پیدا شوې وي، نو ټوله نیمګړتیا یوازې په دې کې وه چې ټول هغه شان چې باید په بشپړه او ځیر ترسره شوي وای، ترسره شوي نه دي. د هغه له ملنډو نه ډکه موسکا پرشونډو خوره وه، ثابتول یې او په پای کې یې په سپکاوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه رياضي پوه په شان چې له يوې لارې يوه معادله حل او له نورو لارو د هغې له حل نه سترګې پټې کړې، د خپلو دلايلو له ويلو لاس واخيست. ولځوګين د هغه پرځای ودريد او په فرانسوي يې د هغه د خبرو ژباړه پيل کړه، خو کله ناکله به يې هغه ته (پفول ته) مخ وړواړاوه او ورته وبه يې ويل: همدا سې ده جلالتمابه !

پفول د هغه سيال په شان چې کله کله په جګړه کې له خپلو ملګرو نه هم يو ګړز جګوي، له قهره چغه کړل او په الماني يې وويل:

- څرګنده ده چې همدا سې ده، نو دا پوښتنې د څه لپاره؟

پاولوچي، او ميشو، دواړه په ګډه په فرانسوي ژبه، ولځوګين تر بريد لاندې ونيو. آرمفلد په الماني ژبه له پفول سره غږيده. تول او شهزاده والکونسکي هر څه په روسي ژبې ويل. سرداراندرې په پټه خوله هر څه اوريدل او څارل، خو په دې ټولو کې تر هر چا نه زيات پفول، په خپل کرکجن، غوځ او پر ځان ډاډمن دريځ پر سرداراندرې اغېز کاوه. هغه ددغو ټولو راټول شويو کسانو په منځ کې پفول يوازنی ځوک ګاڼه چې د ځان لپاره څه نه غواړي، له چا سره د دښمنۍ په تکل کې نه دی، هغه يو شی غوښتل او هغه دا و چې هغه وړانديز چې دده د کلونو تجربو او رنځ پر بنسټ جوړ شوی دی، سم عملي شي. هغه د خندا وړ و او د خپلو ملنډو له کبله د کرکې وړ برېښېده، خو سره له هغه يې هم خپلو نظرياتو ته د وفادارۍ له امله په انسان کې ځان ته درناوی راپاراوه. ددې ترڅنګ له پفول نه پرته د ټولو ويناوالو، په ويناوو کې، يوه ځانګړتيا، هغه ځانګړتيا چې لا ۱۸۰۵ کال راهيسې دود شوې وه او هغه د ناپليون له جګړيز نبوغ نه د هغو يو لېونی او پټ وحشت و، اوريدله کېده. ټولو د ناپليون له پلوه هر څه شوني ګڼل، له هرې خوا نه يې د هغه د راتګ ګمان کاوه او د هغه له نامه وحشت د دوی هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړانديز برباداوه. يوازې پفول و چې ناپليون يې د نورو هغو کسانو په خبر چې دده له نظر سره تربګنى کوي، تالانګر او بربر ګاڼه. پفول د سرداراندرې په زړه کې نه يوازې درناوى راپاراوه، بلکې پر هغه يې زړه هم خوږېده. له هغې ژبې نه چې درباريان له هغه سره غږېدل، له هغه څه نه چې پاولوچي، په زړورتيا دده په اړه تولواک ته ويلي و او له ټولو نه لابده دا چې د هغه ناهيلۍ نه چې د پفول په خپلو خبرو کې احساسېده، چې دى او نور ټول پوهېږي، چې د هغه د راپرزيدو ورځې رالنډې دي. سره له هغه ډاډه چې ده پر ځان لاره، سره له هغه الماني ځانګړتيا نه چې خبرې يې له ملنډو او سپکاوى نه ډکې وې، سره له هغو ګڼو او رېمنځ شويو څڼو نه چې د هغه پر شقيقو راخورې وې، بشره يې ډېره د زړه خوږى وړ وه. د هغه د خواشينۍ اصلي علت په دې کې و چې ټولې نړۍ ته يې په لوى عملي ډګر کې د خپلې تيورې د آزموينې يوازينى وخت له لاسه ورکاوه، خو بيا هم ده هڅه کوله هغه د قهر او سپکاوى تر پردې لاندې پټه کړي.

خبرې اترې ډېرې اوږدې شوې وې او څومره چې اوږدېدې په هماغه کچه ترخې کېدې، دومره ترخې چې خبرې چغو او ښکنځلو ته رسېدې او ددې امکان چې له هغو نه کومه پايله تر لاسه شي، دم په دم کمېده. سرداراندرې دغه شورماشور، وړانديزونو، پر يو بل سپکاوي او چغو ته غوږ نيولى او حيران پاتې و چې هغوى يو بل ته څه وايي. هغه خيالونه يې پر ذهن راخوره شول چې د خپل پوځي خدمت په موده کې يې تجربه کړي و ،هغه خيالونه چې د هغو له مخې داسې وشي چې هغه جګړيز علم وګڼل شي، نه شته او نه شي کولاى واوسي، نو له دې کبله داسې شي چې هغه جګړيز نبوغ وګڼل شي، هسې بابيزه خبره ده. او دغه خيال دم په دم دده په ذهن کې د يو ډاډګيزه حقيقت په شان ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرګند او ه. په هغې چارې کې علم او تیوري له کومه پیدا کولی شو، چې شرایط او حالات یې ناڅرګند او نه شي کېدای هغه مخکې له مخکې څرګند کړل شي. له دې لا د پام وړ خبره داده چې په هغه کې د جګړه مارو توان خورا ناڅرګند وي. نو بیا دلته څنګه څوک کولای شي د علم او تیوري خبرې وکړو؟ هېڅوک نه شي کولای په دې پوه شي چې زموږ او د دښمن پوځ به سبا ته په څه حال او چېرې وي، هېڅوک نه شو کولای په دې پوه شي، چې د دې یا هغې ډلې ځای به چېرې وي. کله خو کوم ډارن مخکې شي او نارې وهي:

- زموږ اړیکي پرې شوي دي !

او خپله وتښتي. یا برعکس یو خوشاله او زړور سرښندونکی ځوان وړاندې کېږي او چغه کوي:

- هورا !

یو پنځه زریزه ډله، بله هغه دیرش زریزه پیدا کوي، لکه هغه شان چې د شونګرابن په سیمه کې یې پیدا کړه او کله بیا پنځوس زري پوځ د دښمن له اته زریزه پوځه تښتي. لکه هغه شان چې او سترلیځ کې همداسې تېښته وشوه...

آرمفلد، وایي چې زموږ اړیکي له هر چا سره شلیدلي دي، پاولوچي، بیا وایي چې دوی، فرانسوي پوځ له دواړو خواوو نه په لمبو کې رااېسار کړي دي، میشو، بیا په دې باور دی چې د دریسا، مورچلو نه ځکه هېڅ د ګټې وړ نه دي، چې تر شاېې سیند تېرېږي، حال دا چې پفول، بیا همدا سیند د دې مورچلونو د امنیت او استحکام اصلي ښه والی ګڼي. تول، یو وړاندیز لري او آرمفلد بیا بله نقشه. ټول دغه وړاندیزونه هم ښه دي او هم بد. د یوه وړاندیز ښه والی او بدوالی هغه وخت په ډاګه کېږي چې کومه پېښه پېښه شي، نو ولې ټول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړيز نبوغ په هکله خبرې کوي؟
آيا جګړمار نابغه هغه چا ته وايي چې خپل پوځ ته په خپل وخت ډوډۍ ورسوي او يا هغه چا ته چې ښۍ او چپې خوا ته لارښوونه وکړي؟ ځينو کسانو ته نابغه ځکه ويل کيږي، چې هغو ته ستر واک او پرتم وربښل شوی دی او نور دا چې غوړمان او ډارن د واک ستاينه کوي او د واک څښتن ته هغه ستاينې ورپيرزو کوي چې نه يې لري او بيا هغه نابغه ونوموي. برعکس هغه ښه جنرالان چې زه يې پيژنم، خورا احمق او پريشان حاله خلک دي. د هغو تر ټولو نه غوره هغه يې باګراتيون دی چې خپله ناپليون هغه ته درناوی لري، پوهيږي خپله بناپارت. زما ، د هغه په ځان ډاډمنه او ځان خوښوونکې څېره چې د استرليځ په دښته کې ليدلې وه، تر اوسه ښه په ياد ده. يو ښه جنګيالی نه يوازې نويو ځانګړتياوو او نبوغ ته اړتيا نه لري بلکې هغه بايد د انساني غوره ځانګړتياوو لکه مينه، د شعر احساس، تاندوالی، فيلسوفانه شک او ترديد نه هم بايد بې برخې اوسي. هغه بايد ډېر لنډ فکری او پر هغه څه چې دی يې کوي ډېر ډاډمن واوسي، چې دا ټول هغه، خورا اغېزمن دي، (کنه پرته له دې به دی د کارونو د پای ته رسېدلو حوصله ونه لري) يوازې په دغو حالاتو کې کېدای شي، هغه غوره جنګيالی واوسي. خدای دې نه کوي چې دغه شان څوک، په رښتينو انساني ښېګڼو ګاڼل شوی او څوک ورته ګران واوسي، يا يې پر چا زړه خوږ شي او يا خدای مه کړه د ښو او بدو يا عدل او ستم په اړه فکر وکړي. د تعجب وړ نه ده چې د نبوغ غير واقعي تيوري له پخوا ددغه کسانو د خوشالۍ لپاره رامنځ ته کړل شوې ده، ځکه دغه شان کسان د واک اصلي څېرې دي. په جګړه کې بری يا ماته د هغو کار نه دی، بلکې د هغو نوم ورکو کسانو کار دی چې په ټيټو کرښو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت کوي، ډاربړي او چغې وهي: کرښې مو ماتې شوي، تښتئ ! یا هورا ! یوازې په دغو کرښو کې کولای شی پر ځان ډاډمن واوسئ، او کېدای شي ګټور واوسئ.

سرداراندرې ددغو سترو پوځیانو د خبرو اترو په وخت کې، په همدې خیالونو کې ډوب و او هلته را په حال شو چې پاولوچي، ورغږ کړ او دا هغه وخت و چې د جرګې غړي له غونډې نه وروسته سره وتل.

بله ورځ کله چې ټولواک د پریتې ننداره کوله له سرداراندرې نه یې وپوښتل: ستا څه هیله ده چې چېرې خدمت وکړئ؟

هغه ددې پر ځای چې ووایي چې دټولواک په دربار کې د خدمت غوښتنه وکړي، وې ویل چې هیله لري په پوځ کې خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

رستوف (نیکولای) د جګړې تر پیله مخکې له پلار او مور نه یو لیک تر لاسه کړ. په دې لیک کې په لنډه توګه د ناتاشا د ناروغۍ او له سرداراندرې سره د هغه د کوژدنۍ د ختمولو (په دې لیک کې د دې ختمولو علت، د ناتاشې له خوا له دغو اړیکو سره ناهیله څرګنده شوې وه) خبر ورکړ شوی و.. په لیک کې له ده نه یو ځل بیا غوښتنه شوې وه چې له پوځ نه استعفا وکړي او کورته راستون شي.

نیکولای، چې دا لیک تر لاسه کړ، نه یې د رخصتۍ هڅه وکړه او نه یې استعفا وکړه. هغه، خپلې مور او خپل پلار ته په ځواب کې ولیکل چې د ناتاشا په ناروغۍ او له سردار اندرې سره د هغې د اړیکو په شلیدو خورا خواشینی دی او ډېره هڅه به وکړي چې د هغو هغه هیله چې دی له پوځه استعفا وکړی، تر سره شي. هغه سونیا ته جلا لیک ولیکه، هغه لیکلی و:

«د لمانځنې وړ د زړه سرې! له ویاړ پرته، نه شي کولای، کلي ته د ستنېدو تکل وکړي. که د جګړې تر پیله مخکې مې خپله نیکمرغي د وطن له مینې ځار کړې نه وای، اوس به مې نه یوازې ځان د خپلو ملګرو په وړاندې بدمرغه ګاڼه، بلکې د وجدان ناآرامۍ به هم لېونی کړی وای، دا زموږ وروستۍ بېلتون دی. باور وکړه، هغه شېبه چې جګړه پای ته ورسېږي، که زه ژوندی پاتې شم، که زه لا تا ته ګران واوسم، هر څه پرېږدم او په خوښۍ خوښۍ به لکه مرغۍ دا سې ځکه درالوزم چې د تل لپاره تا په خپل اورني ګوګل کېکارږم.»

په رښتیا هم یوازې د جګړې پیل رستوف په پوځ کې ساته ،کلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د هغه د ستنېدو مخنوی کاوه او نه يې پرېښودل چې له سونيا سره د راګرځېدو او واده وعده پرځای کړي. د اترا دنيا د کلي د مني ښکلا، د هغه په شاوخوا کې ښکار، ژمی، د نوي کال اخترونه، د سونيا مينه، د بډايانو له نيکمرغۍ، ارامۍ او خوشالۍ نه د ډک کليوال ژوند يادونه چې ده پخوا هومره خوند نه ترې اخېسته، په زړه ورخوريدل. ده ته ورياديدل او اوس يې هم دی په يادونو کې د ځان خوا ته ورغوښت..
هغه په زړه کې ويل:

- ديوې ښکلې او مهربانې ښځې او ماشومانو تر څنګ ژوند کول، لس دولس تازي سپيان، جايدادونه، ګاونډيان او چېرته په خوښه ويارمنه کار، دا ټول څه ښکلي دي، خو اوس جګړه پيل شوې ده او زه بايد په پوځ کې پاتې شم.

له دې پرته، بله چاره هم نه وه. نيکولای رستوف د خپل طبيعت له مخې هم له دغه شان ژوند نه چې په پوځ کې يې درلود راضي و او وې کولای شول، دغه ژوند د ځان لپاره لا په زړه پورې کړي.

د رخصتيو تر تېريدو وروسته چې راستون شو، ملګرو او انډيوالانو په خوشالۍ د هغه تود هرکلی وکړ. هغه يې کمکۍ روسيې (اوکراين) ته ولېږه او هغه له هغه ځايه بې سارې ښه آسونه چې هم يې دده ملګري خوشاله کړل او هم مشرانو وستايل، راوستل. دده د غيابت په وخت کې هغه ته د تورن يې رتبه ورکړ شوه او کله چې غونډ سفربرۍ ته چمتو شو هغه بيا د خپلو پخوانو سورو مشر وټاکل شو.

د جګړې په پيل کې د هغه غونډ پولند ته ولېږل شو، دندې دوه برابره شوې، غونډ ته نوي افسران او سرتېري راغلل او د اسونو شمېر يې هم زيات شو، خو له ټولو نه غوره دا وه چې د جګړې د پيل خوښي او مستي هم پر پوځيانو راخوره شوه. رستوف سره له هغه چې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېده، اول وي که وروسته، د پوځ پرېښودل یې تر مخه دي، خو په غونډ کې پر خپل ګټور دریځ ښه پوهېده او ځان یې ټول د پوځي خوندونو غېږې ته وسپاره.

پوځونو د بېلابېلو پېچلو دولتي، سیاسي او تاکتیکي دلایلو له مخې، د ویلنا له سیمې په شا شوي وو. د شاتګ هرګام په ستره قوماندانۍ کې د ګټو د کړکیچنو لوبو او د دلایلو له ټکر سره مل و، خو د پاولګراد سواره پوځ ته چې پوره خواره او کالي یې لرل، دغه شاتګ د یوه ساده اوړني خوښ سفر بڼه لرله. پریشاني، خپتیا ن او دوکه ماري یوازې او یوازې په سترې قوماندانۍ کې وو، د پوځ په زړه کې ځوک په دې خیال کې نه و چې دا سفر چېرې او د څه لپاره دی؟ او که شاته تګ کومه خواشیني رامنځ ته کوله، له دې کبله و چې باید پر تمین کور پرېږدي او له نازولې نه جلا شي. که د چا طبیعت په دې خراب شوی وي چې جګړېزې چارې خرابې روانې دي، هغه یې کوله لکه هغه شان چې د زړورو پوځیانو او سردارانو ځانګړتیا ده، طبیعت جوړ او ځان خوشاله وښیي. د جګړې او پرخپلو ځانګړو چارو اخته شي. لومړی هغو په ویلنا کې په خوښې ځای پر ځای و. د پولند له بډایانو او مشرانو سره یې ګوتې خوږې کړې. ټولواک او لوړپوړو قوماندانانو ته سترګې په لاره وو، خو بیا سپارښتنه راورسېده چې د سوینځین پلو ته په شا او هغه خواړه کالي چې نه شي کولای، له ځان سره یو سي، همالته له منځه یوسي. د سوینځین خاطره د سورو پوځیانو لپاره ځکه نه هېریدونکې وه، چې دغه سیمې (د مستۍ د دېرې) په نامه پېژندل شوې وې. دا هغه نوم و چې همدې پوځیانو هغه ته ورکړی و. په سوینځین کې د پوځ له خوا ، له ظلم نه د خلکو چغې اسمانو ته رسېدلې وې، ځکه هغوی د هغه فرمان د سرته رسولو لپاره چې د پوځ خواړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالي باید پوره شي، په ګټې اخېستو سره، د پولندیانو، آسونه، ګاډۍ، فرشونه، کالي او شتمنۍ خپله شتمني ګڼله او پر هغوی یې تالان جوړاوه، خو رستوف ته د سوینڅین سیمه ځکه د تل لپاره په یاد پاتې شوه چې هلته د لومړۍ ورځې په رسېدو سره یې، د سورو مشر بدل کړ او د هغو کسانو مخه یې ونه شوه نیولای، چې پنځه قطۍ (درجنه) شراب یې پټ کړي او تول له نشې نه مست او لېوني وو. د ویلنا نه د شاتګ په وخت کې له سوینڅین نه هم تېر شول او دریسا ته لاړل. هلته هم پاتې نه شول، همداسې یې تګ ته دوام ورکړ او د روسیې پولو ته نېږدې شول.

د جون په دیارلسمه د پاولګراد د سوروغونډ د لومړي ځل لپاره په جګړه کې کېوت.

د جون د دولسمې نېټې په شپې، یوه شپه د جګړې نه مخکې، سخت باد او باران او هوا په بې ساري ډول توفاني وه. د ۱۸۱۲ کال اوړی ټول همداسې له بادوباران او توفانونه ډک اوړی و.

دوسورو سرتېرو د کروندې په یوې ویالې کې، ځانونه پټ کړي وو، هلته د وربشو کودې د آسونو او نوروځاروېو تر پښو لاندې، لاندې شوې وې. بې ساری بادو باران روان وو. رستوف له یو ځوان افسر سره چې ایلین نومېده، دده ملاتړ او ملګرتیا هم ورسره وه تر یوې څپرۍ لاندې چې په منډه یې جوړه کړې وه، پټ شوي وو. د غونډ، یو افسر چې ګڼ بریتونه یې تر غومبورو پورې رسېدلي، سترې قوماندانۍ ته تللی و او د راستنېدو په مهال له تالندې او باران سره مخامخ شوی و، د دوی څپرۍ ته رانوت. هغه وویل:

-ګرافه ! زه له سترې قوماندانۍ نه را روان یم، تاسو د رایوفسکي د سرښندنې کیسې اوریدلې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د سالتانوکا، په سیمه کې یې د پېښ شویو پېښنو کیسې، هغه شان پیل کړه لکه ده چې خپله د هغو په اړه په قوماندانۍ کې اورېدلي و.

رستوف خپل باران وهلي غاړه په اوږو کې خښه کړې وه او پرته له هغه چې هغه ته پام وکړي، خپل پیپ یې ځښاوه او په څنګ کې ناست ځوان افسر ایلین ته یې کتل. دغه افسر یو شپاړلس کلن ځوان و چې نوی غونډ ته راغلی و، هغه نیکولای ته داسې کتل، لکه هغه چې اوه کاله مخکې یې دینیسوف ته کتل. ایلین هڅه کوله په هره چاره کې، د رستوف پېښې وکړي او لکه یوه ښځه په هغه مین شوی و.

د ګڼو بریتو خاوند افسر چې زدرژینسکي، نومېده په خورا خوند او رنګ او ځانښودنې یې ویل چې دغه تنګه، سالتانوکا د روسانو لپاره د لرغوني یونان د فرمو پیل (هغه تنګه دره چې تر وروستي پوځي پورې د هغه د دفاع لپاره ووژل شول) په تنګه بدله شوې وه. جنرال رایوفسکي خپله بې ساري زړورتیا د لرغوني یونان د پهلوانانو په څېر ښودلې وه. زدرژنسکي کیسه کوله چې رایوفسکي څنګه خپل دوه زامن، دښمن د ګوزارونو تر اور لاندې دغې تنګې ته بولي او په ګډه یې پر دښمن یرغل کړی و. رستوف د رایوفسکي د سرښندنو کیسو ته غوږ نیولی و، نه یوازې دا چې د زدرژینسکي د مېړانو په اړه یې څه نه ویل، بلکې د هغه حالت داسې و چې له ټولو هغو خبرو نه چې اوري یې، شرمېږي. رستوف د استرلیځ او د ۱۸۰۷ کال د جګړې د تجربو نه داسې پوهېده چې هغه کسان چې د جګړې په اړه کیسې کوي، تل زیاتې وایي..

د ایلین دې ته پام شوی و، چې د زدرژینسکي خبرې چندان د رستوف نه خوښېږي، وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نور نو زه د دې زغم نه لرم، جورابې، کميس او ټول ځان مې لوند شوی دی، ځم، کېدای شي تر دې نه د پټېدو کوم ښه ځای پيدا کړم. داسې بربښنې چې باران کرار شوی دی. هغه د باندې ووت او زدرژينسکي هغه هم پربښود چې لرې شي.

پنځه دقيقې وروسته ايلين په ختهو کې تر زنګنو ډوب خپلې وړې جونګړې ته راغی او وې ويل:

- هورا ! هورا ! رستوف، درځه ژر به ځو ! پيدا مې کړه، پيدا. همدلته سل دوسوه ګامه وړاندې يو قهوه خانه شته، زموږ هلکانو لا د وخته ځان ورسولی دی. لږ تر لږه ځانونه خو به وچ کړو، وای، ماريا ګنريخونا، هم همالته ده.

ماريا ګنريخونا، د غونډ د ډاکتر ښځه وه. هغه په ختهٔ آلماني ښکلې ښځه وه چې دغه پولندي ډاکتر له هغې سره واده کړی و. ډاکتر يا له دې کبله چې د بې وزلۍ له کبله يې خپلې ښځې ته خرخ نه شو رسولی او يا له دې کبله چې د واده په لومړيو وختونو کې نه شو کولای له هغې نه لرې پاتې شي، هغه يې تل ځانسره ګرځوله او هر چېری به چې غونډ لېږديده، هغه به ورسره وه، خو له خپلې ښځې سره د ډاکتر رخه په ټول غونډ کې په يوه ټوکه بدله شوې وه.

رستوف کوټ په اوږو واچاوه، او لاورشکا ته يې غږ وکړ چې شيان يې ورسره واخلي او له ايلين سره وخوځېد. په تته تياره، ختهو او د باران د اوبو په ډنډونو کې، کاږه واږه خوځېدل، کله نا کله به د تالندې او بربښنا رڼا راخوره شوه، ايلين به غږ وکړ:

- رستوفه چېرې يې؟

او رستوف به چغه کړل:

- دلته، وينئ، څه تالنده او بربښنا لګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

له هغې کافي نه چې د داکتر، ګاډۍ کوټې يې ترمخې ولاړه وه، پنځه تنه افسران ورسره يو ځای شوي وو. ماريا ګنريخوفنا ځوربه، ژيړ ځېې الماني ښځه، ارت کميس يې پرغاړه، خولۍ پر سر، په يوه ګوښه کې پر پراخې څوکۍ ناسته او مېږه يې، هغه ډاکټر، د هغې تر شا ويده و. رستوف او ايلين چې کوټې ته راننوتل، ناستو کسانو په خوښۍ او بې ساري لېوالتيا د هغو تود هرکلی وکړ، رستوف چې موسېده، وويل:

اې، هوکې، ښه مسته ډله مو ده.

- او تاسو چېري خوب وړي وئ؟

- ډېر ښه ! څنګه له هغه نه څاڅکي څڅېږي ! چې زموږ مېلمستون رالوند نه کړي.

څو غږونه يو ځای وا وريدل شول:

- چې د ماريا ګنريخوفنا کميس ورداغ نه کړئ.

رستوف او ايلين تلوار کاوه چې کومه څنډه پيدا کړي او پرته له هغه چې د ماريا ګنريخوفنا ،حيا ته بې حيايي وکړي خپلې لمدې شوې جامې، بدلې کړي. هغوی د پردې شا ته لاړل چې هلته کالي بدل کړي،خو د قهوه خانې په تحويلخانه کې چې ډکه وه،درې افسره پر يوه خالي صندوق ناست او د يوې شمعې رڼا ته يې قطعې کولې. هلته هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش ځای نه و او د غه افسرانو هم په هېڅ ډول د ځای د پرېښودو تکل نه لاره. ماریا ګنریخوفنا هغو ته یوه لمن ورکړه چې هغه د پردې په توګه وکاروي او تر شا یې جامې بدلې کړي. رستوف او ایلین د دغې پردې تر شا د لاوروشکا په مرسته چې له دوی سره یې د هغو کالي راوړي و، خپلې لمدې جامې وویستې او وچې هغه یې واغوستې.

د قهوه خانې په ماته بخارۍ کې یې اور بل کړ. یوه دړه یې پر ځمکه د آس په دو زینونو کېښوده، پر هغې یې د آس ځل آوار کړ، سماوار یې راوړ او چای یې سره دم کړ. نیم بوتل رم نومې شراب یې هم راوړل او له ماریا ګنریخوفنا ،نه یې هیله وکړه چې کوربنه او د میز مشره شي. ټول ترې راټول شول. کوم یو پاک دستمال یې هغې ته ورکړ چې خپل ښکلي لاسونه پرې پاک کړي، یو بل خپل جمپر یې د هغې تر پښو لاندې آوار کړ چې په خاورو نه شي، هغه بل بیا خپل کوټ هغې ته نږدې کړکۍ ته ځړوند کړ چې باد پرې ونه لګېږي او څلورم یې د مېړه له مخه مچان شړل چې راویښ یې نه کړي.

ماریا ګنریخوفنا په خوښۍ او نیکمرغۍ، په احساس وویل: پرېږدئ، هغه د شپې تر شوګېرې او بې خوبۍ نه وروسته، داسې ښه ویده دی، راویښ نه شي.

افسر ځواب ورکړ: نه، نه ماریا ګنریخوفنا ،باید د داکتر خواخوږي وشي، غم یې وخوړل شي، کېدای شي سبا ته زما لاس یا پښه هغه پرې کړي او په دې توګه د هغه زړه پر ما وسوځي.

ګیلاسونه درې دانې وو، او به داسې خړې او ناولې وې چې څوک نه پوهېدل چای ټینګ که نری دی. په سماوار کې هم له شپږو ګیلاسونو زیاتې اوبه نه ځاییدې، خو سره له دې هم د ماریا ګنریخوفنا د پاکو ،څوربو ، لنډو خو څه ناپاکو نوکونو لرونکو لاسونو نه، مشرکشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته په پام سره د ګیلاس ترلاس کولو څه خوند کاوه. په هغه شپه داسې بریښېده چې ټول افسران په ماریا ګنریخوفنا مین دي. آن هغه افسران چې هلته یې پر صندوقونو په تحویلخانه کې قطعې کولې، خپله لوبه پرېښوده، د سماوار خواته راغلل او ځان یې د ټولو بنداړ، طبیعت او مینتوب ته وسپاره او له ماریا ګنریخوفنا سره یې زړه راښکوونکې خواخوږي پیل کړه.

ماریا ګنریخوفنا، چې دغه ښکلې، مست او لېوال ځوانان، دهغو خواخوږي او مهربانۍ ولیدلې، که څه هم د خپل خوبولي مېړه هرې خوځېدا هغه ناآراموله، خو بیا یې هم نه شو کولای، د هغه نیکمرغۍ ځلا او خوښي پټې کړي، چې دې ترلاسه کول.

سره له هغه چې قند پریمانه و، خو د چای کاچوغه یوه وه، هر چا نه شو کولای، په خپل ګیلاس کې کاچوغه وښوروي، نو ځکه کوربنه دې ته اړېده چې په وار سره په ګیلاسونو کې کاچوغه وښوروي، رستوف ته چې د ګیلاس وار ورسېد، په چای کې یې لږ شراب ورګډ کړل او له ماریا ګنریخوفنا، نه یې هیله وکړه چې په هغه کې کاچوغه وښوروي.

هغه ومو سېده، داسې بریښېده چې څه هغه وایي او نه وایي، خو دهغې ویلو د نورو له ویلو او ناویلو نه توپیر لري، د خندا وړ دی او له خپلې اصلي معنا نه کومه بله معنا هم لري، هغې رستوف ته وویل:

- هو کې، ستا چای خو بې قنده دی؟

- هو کې، زما لپاره قند په کار نه دی، زما لپاره چای همدا خوږه وي، چې ته خپلې ګوتې په کې وښوروې.

ماریاګنریخوفنا ته دې خبرې خوند ورکړ او د کاچوغې په لټه شوه، ځکه هغه بل چا اخیستې وه.

رستوف وویل: کاچوغه ته اړتیا نه شته، که ته خپله ګوته په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښوروي، هغه به لا خوږ شي.

ماريا ګنريخوفنا چې له خونده تکه سره شوه وې ويل:

- ډېر سور دی.

ايلين پاڅېد د اوبو سطل يې راواخېست، څوڅاڅکي رم نومي شراب يې په کې واچول، ماريا ګنريخوفنا ته ورستون شو او له هغې نه يې هيله وکړه چې خپله ګوته په کې وښوروي، هغه وويل:

- دا زما ګيلاس دی، که يوازې خپله ګوته په کې وښوروې، زه به هغه ټول وڅکم.

کله چې په سماوار کې اوبه خلاصې شوې چای څکل پای ته ورسېدل، رستوف قطعې راواخېستې او ماريا ګنريخوفنا ته يې وړانديز وکړ چې د پاچا وزير لوبه سره وکړي. هغو پچه واچوله، چې څوک به له ماريا ګنريخوفنا سره لوبه کوي، د رستوف په وړانديز هر هغه څوک چې پاچا کېده، بايد د ماريا ګنريخوفنا لاس ښکل کړي، او هر چا چې بايلوده هغه بايد د داکتر لپاره چې راويښېږي، سماوار را ډک کړي او هغه ولګوي.

ايلين وويل: او که ماريا ګنريخوفنا ملکه شي؟

- هغه اوس هم ملکه ده، او فرمان يې چلېږي.

همدا چې لوبه پيل شوه،د ماريا ګنريخوفنا له شا نه د داکتر جړو څښو سر راپورته کړ. دا سې برېښېده چې هغه له پخوا راويښ شوی او هغه څه چې افسرانو ويلي دي اوريدلي او څرګنده وه چې د هغو په کړو وړو کې يې د خندا ، يا خوښۍ او يا هم د خوند څه نه موندل. تندی يې تريو و ، پرته له هغه چې له چا سره سلام ستړی مشي وکړي، د باندې وتلو اجازه يې هم ځکه وغوښته چې دده د وتلو مخه يې نيولې وه. د هغه د وتلو سره سم، افسرانو په لالوړه او کړس کړس وخندل، خو ماريا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنريخوفنا داسې تکه سره شوه چې نېږدې وه له سترګو يې اوښکې يې راتوېې شي،دې کار هغه د افسرانو تر سترګ،لاپسې ښکلې او زړه راښکوونکې کړه. داکتر چې بېرته راستون شو،ښځې ته يې (نور هغه شان له خوښۍ نه نيکمرغه نه ځلېده، په ډار ډار يې مېړه ته کتل چې څه وايي) وويل چې باران وريدلی او ښه به دا وي چې خپلې څپرې ته لاړ شي، کنه، د هغه ټول شته به تالا والا شي.

رستوف وويل: دا څه وايي ډاکټره ! غواړئ دوه پېره دار به درولېږم.

ايلين زياته کړه: زه خپله به ورته پېره دار شم.

داکتر په تريو تندی له ښځې نه لرې کېناست او وې ويل:

- نه ښاغلو ! تاسو خو ټولو ښه خوبونه کړي دي، زه دوه شپې کېږي چې ويده شوی نه يم.

افسرانو چې کله د داکتر تريو تندی او ښځې ته له قهره ډک غلچک ته کتل، له مخکې نه لاپسې خوشاله او په ټوکو شول، ځينې خو لا د خپلو خنداوو مخنوی نه شو کولای او هڅه يې کوله د خپلې خندا لپاره پلمه ولټوي. کله چې داکتر لاړ، خپله ښځه يې هم له ځانسره بوتله. او په خپله څپری کې ځای پر ځای شول، افسرانو هم هر يو خپل لامده کوټونه په سرواچول او هر يو يوې خواته ولويدل. تر ډېرو پورې هغوی ته خوب ورنغی. کله به سره غږيدل، د داکتر ډار او يا د هغه د ښځې له خوښۍ ډک او ورين تندی به يې سره رايادا وه او کله به يو چا د قهوه خانې تر زينو پورې منډه کړل او په هغه ځای کې له تېريدونکو پېښو نه به يې کوم يو خبر راوړ. رستوف چې سر په کوټ کې ومروړه، غوښتل يې چې ويده شي،خو بيا به د کوم افسر ټوکو د هغه خوب وتښتاوه، خبرې اترې به پيل شوې او يا به د ټولو هسې ماشوم ډوله او له خوښۍ نه د ډکې خندا آواز او کړسهاري خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

د شپې تر دوو بجو نه اوښتې وې، خو هيڅ څوک لا يو څوک ويده شوی نه و. يو بريدګی راغی او ټولو ته يې د اوستروفانی سيمې ته د خوځېدا فرمان راوړ.

افسران هماغه شان په خندا، خوشالۍ خو په تلوار پاڅېدل چې ځان چمتو کړي، هغوی بيا په سماوار کې هماغه مرداري اوبه واچولې او هغه يې ولګاوه، خو رستوف پرته له هغه چې چای ته سترګه په لاره شي، خپلو سورو ته ورغی. سپېدې لګېدلې، باران وريدلی او وريځې په خوريدو وې. هوا تياره او سړه وه، په تېره بيا له هغو لمدو جامو سره. رستوف او ايلين له قهوه خانې نه راووتل. دواړو د سپېدو په تته هوا کې د داکتر د ګاډۍ کوتې خوا ته چې د باران او سپېدو له رڼا نه ځلېدله، په ګړه وکتل. د داکتر پښې د رېښنې پردې لاندې راوتلې وې، د ښځې خولۍ يې پر سپين بالښت له ورايه ښکنده او د ويدو شويو کسانو د سا اېستلو آواز تر غوږه کېده.

رستوف ايلين ته چې له ده سره يو ځای وتلی و، وويل:

- په رښتيا، هغه خورا مهربانه او ښکلې ښځه ده!

ايلين د شپاړلس کلنۍ ځوانۍ په احساساتو ځواب ورکړ:

- څه ښځه ده، څه ښکلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم ساعت وروسته سواره بیا په کرښو کې ولاړ وو. د قوماندې غږ تر غوږه شو:

- سپاره شئ !

سرتېرو پر سر او تېتر صلیبونو وو ښل او آسونه ته یې وروځغاستل. رستوف مخې ته شو او قومانده یې تر لاسه کړه: مارش، مارش

پر لمده ځمکه د آسونو د پښو ټکهاري او په هواکې د تورو شرنګهاري پورته شو. سواره چې کرار کرار یو له بل سره غږېدل په څلور کسیزو کرښو کې ودرېدل او په هغه لارې چې دواړو خوا ته یې چنارونه ولاړ وو، روانو، پلیو او توپونو پسې روان شول.

بادونه، سربخونې کنډک کنډک وریځې، چې د سپېدو له رڼا نه لاپسې سره کېدې، تاوولې او راتاوولې. هوا کرار کرار رڼا کېده. ګونځ شوي وابښه او شینلي چې زیاتره د کلیو په لارو کې، دا خوا هغه خوا پراته وو، د پرونۍ شپې د اورښت نه لامده شوي وو، له ورایه ښکاریدل. د وحشي ونو له باده او بارانه په ډکو ونو بادونو لوبې کولې او رانه رانه څاڅکي ترې څڅېدل. د سرتېرو څېرې دم په دم د لیدو او پېژندو کېدې. رستوف څنګ په څنګ له ایلین سره چې هېڅ نه ترې لرې کېده، په هغه لاره چې د چنارونو د دووکتارونو په منځ کې غځېدلې وه، روان وو.

رستوف د عملیاتو په موده کې ځان ته دا اجازه ورکوله، چې نه د سورلۍ، بلکې پر خپل قزاقي آس سپورشي. هغه چې خپله د آس د سورلۍ لېوال، آس پېژندونکي او ماهر ښکاري و، څو موده پخوا یې، ځانته، یو اصیل سپین یالی، مهربانه، خو د اور په شان الوتونکي (دونسکی = قزاقي) آس اخېستی و. کله به چې دی پر هغه سپور شو، بیا نو څوک پسې رسېدلی نه شو. پر دې آس سورلي د هغه لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندونو کې زنګېدل و. هغه د آس، د شنه سهار او د داکتر د ښځې په خيالو کې ډوب و او د هغه ګوانښ په اړه يې يو وار هم فکر ونه کړ چې ور د مخه و.

پخوا به تر جګړې نه مخکې د رستوف زړه رېږدېده، خو اوس يې هېڅ ډول ويرې زړه ته لاره نه کوله. هغه نه له دې کبله چې اوس له اوره او ګوانښ سره روږدی شوی و (ګوانښ سره څوک هېڅکله نه روږدی کېږي) نه ډارېده، بلکې له دې کبله چې هغه د ګوانښ په وړاندې پر خپل روح لاسبری زده کړی و. هغه له دې سره روږدی شوی و چې کله جګړې ته ځي، له هغه ګوانښ نه پرته چې ده ته تر مخې ده، بل د هر څه په اړه فکر وکړي. د خدمت په لومړيو کلونو کې به چې څومره ده د خپل ډارنتوب له امله ځان ملامتاوه، بيا به يې هم نه شو کولای پر خپلې ويرې بريالی شي. ، خو د کلونو په تېرېدو سره اوس دا کار خپله ترسره کېده. هغه اوس له ايلين سره اوږو په اوږو د چنارونو د کتارونو په منځ کې راوان و، کله ناکله به چې د ونې کومه څانګه په مخه ورغله، پاڼه به يې ترې راوشکوله، کله به يې آس په پښه په ګېډه وواهه، کله به يې په خورا بې غمۍ او آرامۍ پرته له هغه چې شا ته وګوري، خپل څښول شوی پيپ ده پسې راروان سواره ته ورکړ، چې ګواکې چکر ته روان دی. کله به يې چې د ايلين خواشينې او له ډاره ډکې څېرې ته چې له غمه ډېر غړېده، وکتل، زړه به يې سخت پرې وخوږېد. هغه د خپلې تجربې نه د هغه ډار او عذاب او د مرګ د ګوانښ اټکل کاوه، چې دغه ځوان بريدګی ورسره لاس و ګريوان و، خو له هغه سره يې هېڅ ډول مرسته ځکه نه شوه کولای چې د وخت له تېرېدو پرته، دغه درد، بل دارو نه لري.

همدا چې د افق په لمنه کې د شنه آسمان په برخه کې لمر راوځلېده، باد آرام شو. داسې برېښېده چې ويرونکې توفاني تورې شپې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته هغه ددې توان نه لري چې دغه ښکلې او ړنې سهار خرابه کړي. څاڅکي له څاڅکو لا هماغه شان له څانګو را څڅېدل او هر څه آرامه و. لمر ټول راهسک او د افق په لمنه کې رابښکاره شو، د اوږدې نرۍ وريځې لاندې راغی، خو څو شېبې وروسته لمر په لا زړورتيا د وريځو برسر کې غاړه وغړوله او له پخوا نه لا ځلېدونکې وځلېد. هر څه رانه او ځلېدونکې شول. دی همدې رڼا او ځلېدونکې ځلا سره مل، چې هر څه يې رانه کړي و، ګواکې ددې په ځواب کې چېرته وړاندې د توپونو د ډزو غږ واورېدل شو.

رستوف ددې وخت پيدا نه کړ، چې فکر وکړي او د اورځاي په نښه کړي، ځکه د ويتيبسک له سيمې نه د ګراف اوستيرمن تولستوی يو ياور دده خواته په يرغه راروان و او د قوماندان هغه، فرمان چې په هماغه لاره به پر مخ ځي، ده ته وسپاره.

د پلې پوځ څو سپاره خپله چټکي لاپسې زياته کړه، تر ټولو د مخه شول، د غونډۍ پر ټټر ورشېوه شول، هغوی له داسې يوې کنډوالې چې د ژوند نښه يې هم نه لرله وروا وښتل او بيا غونډۍ ته وروختل. آسونه يې له خولو لامده لامده او وګړي يې تک سره شوي وو.

د پوځ د لښکر د قوماندان غږ مخکې چېری واورېدل شو:

- پر کرښې دريش! مخ وړاندې يو قدم!

قوماندان زياته کړه: چپه اوږه وړاندې! يو قدم وړاندې!

سواره د پليو له څنګه تېر شول، چپې خوا ته لاړل او د اولانو شاته چې په لومړې کرښې کې ولاړ و، ودرېدل. د هغو ښې لاس ته د پليو د احتياط څو ډلې ولاړې وې. له هغو بر، پر غونډۍ د افق په لمن کې د سباوون په پاکې هوا کې، د لمر تر رڼو شغلو لاندې زموږ توپونه له ورايه ښکارېدل. وړاندې، د شېلې آپلو د دښمن پوځونه او توپونه ليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل. د درې په منځ کې زموږ د پوځونو کربښې څرګندې او د هغو د ډزو زړه خوښوونکي آوازونه اوريدل کېدل.

رستوف په زړه کې د دغو ډزو له آوازونو نه، داسې وپاريد او د خوښۍ احساس يې وکړ چې کله له خورا خوښۍ ښوونکې موسيقۍ نه، چې ډېره موده يې نه وي اوريدلې، خوند اخلي. ډزو ډوز، تړاق و تړوق، کله ژر او کله په ځنډ او کله هم پرله پسې اوريدل کېدل. کله به ډزې چوربندې شوې او کله به بيا څو پرله پسې داسې چاودنې ترغوږ شوې، چې ګواکې څوک په پټاقيو روان وي. سواره پوځونه د يو ساعت په اوږدو کې ځای پر ځای پاتې شول، توپونو هم په ډزو پيل وکړ. ګراف اوستريمن سره له خپلو چوپړانو د غونډ له قوماندان سره يو څو خبرې وکړې، بيا د سورو له شا تېر شو او د توپخانې پلو ته چې د غونډۍ پر سر ځای پر ځای شوی و... ورو او ښت.

د اوستريمن تر تګه وروسته د اولانانو له خوا د قوماندې غږ واوريدل شو:

- اوربل، پر پوځونو اوربل !

د هغو د مخې پلې ډلې ددې لپاره په دوو برخو وويشل شوې چې سورو ته لاره پرېږدي. اولانان وخوځېدل، د هغو د نيزو څوکې په ځلېدو شوې او په خورا يرغه او په چټکۍ د غونډۍ لمنو ته د فرانسوي سورو خواته ورښوه شول.

همدا چې اولانان، د غونډۍ لمن ته ورسېدل، سورو ته يې قومانده ورکړه چې د توپچي قوتونو نه د ساتنې په خاطر غونډۍ ته ورپورته شي. کله چې سواره د اولانانو په موضع کې ځای پر ځای شول، د دښمن خطا او لرې ويشتونکې ډزې، چې له ډزو يې غوږونه کڼېدل، دده له سره تېرېدې، د توپونه غړمباهاري چې ډېره موده يې نه وه اوريدلې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپک له ترک و تړوک چې تر دغو ډزو مخکې لوړې ورته بریښېدې، زیات د هغه په زړه کې د خوښۍ څپې راخورولې او هغه یې لا پسې پوځي میني ته پاراوه. هغه غاړه لوړه کړه، ټټر یې وو بست او د جګړې ټولې اورنۍ لمنې ته چې دده شاوخوا او تر مخې غوړېدلې وه وکتل، وډرید، د هغه احساس د یرغل کوونکو اولانانو له احساس سره مل و. اولانانو د فرانسوي دراګانانو منځ ته لاره وکړه او هر څه په ګڼ لوګي کې ورک شول. پنځه دقیقې وروسته اولانان، بېرته په هماغه ځای کې چې ولاړ و، راستانه شول، خو نه پوره هغه ځای ته، بلکې لږ چپې خوا ته.

د نارنجي جامو اولانانو په منځ کې چې په سره بخونو آسونو سواره وو او د هغو شا ته د فرانسوي دراګانانو بې پایه ډلې چې شنې دریشي یې اغوستې او پر برګو آسونو سپاره وو، لیدل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

رستوف په خپلو ښکاري او ژر ليدونکو سترګو يو له هغو لومړيو کسانو نه و چې شين جامې دراګونان يې چې روسي اولانان يې پسې اخېستي و، وليدل. ډله ډله اولانان او فرانسوي دراګونان چې پسې روان و يو بل ته نږدې کېدل.

اوس وګړي چې د غونډۍ په لمن کې واړه واړه برېښېدل، په څرګنده ډول ليدل کېدل او ښکاريدل چې لاس او ګريوان و، پر يو بل يې يرغل کاوه، يو له بله مخکې کېدل، خپل لاسونه يا توري يې ښورولې.

رستوف هر هغه څه چې ترمخې يې پېښېدل له ښکار څايه، ښارل. د هغه زړه ورته ويل چې که همدا اوس له خپلو سورو سره پر د غو فرانسوي دراګانانو يرغل وکړي، هغو به ځان ټينګ نه شي کړای، خو که يرغل کېږي بايد سمدلاسه وشي. همدا شېبه او که نه بيا به ناوخته شوې وي. هغه خپل شاو خوا ته وکتل، يو بريدګی يې تر څنګ ولاړ و او کټ مټ يې دده په شان فرانسوي سورو ته چې له ښکته خوا نه رارروان و، کتل.

رستوف وويل: اندرې سيفاستيانيچ، ګورې به يې، موږ به هغوی وځپوو.

بريدګي وويل: ډېره به ښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف تر پایه هغه ته غوږ ونیو ،د آس له ډډه یې ګرز پورته کړ او د نورو سورو تر مخې یې وړاندې ودانګل او قومانده یې لا پوره ورکړې نه وه چې ټولو سورو چې هماغه شان دده احساس یې احساساوه ، لکه بریښنا ده پسې مخ ښکته ور ودانګل. رستوف خپله هم نه پوهېده چې څنګه او د څه لپاره یې داسې وکړل، داسې یې انګېرله چې ښکار ځای کې دی، نه یې په دې اړه فکر کاوه او نه یې دلایل ویل، هغه لیدل چې درګونان رانېږدې او په ګډوډو کرښو کې وړاندې را روان دي. هغه پوهېده چې هغوی به ځان ټینګ نه شي کړای، هغه په دې پوهېده چې دی ټول یوه دقیقه وخت لري او باید هسې یې له لاسه ورنه کړي، شا او خوا یې د ګولیو باران جوړ او د هغو شرنګهاری یې شور او مستي زیاتوله، آس یې هم په لېونۍ مستۍ داسې وړاندې ځغاستل چې هغه یې راټینګولی نه شو. هغه آس یرغه کړ، هه یې کړل، قومانده یې ورکړه او په هماغه شېبه کې یې د شاو خوا د خپلو سورو د آسونو هغه شان غږ اوریده چې د هغو منظمې کرښې خورېږي او په چټکۍ د غونډۍ له لمنې نه د دراګان خوا ته راخېژي، څومره چې د غونډۍ لمنې ته نېږدې کېدل،هومره چټکېدل... دراګانان رانېږدې شوي وو ،هغه څوک چې مخې کې و ، د سورو په کتنه او بېرته په راستنېدو شول او هغه څوک چې تر شا و ، ودریدل. رستوف په هماغه احساس چې په ښکار کې،د لېوه د مخې د بندولو لپاره یې وړاندې دانګل،خپل اصیل دانځ نومي آس یې ددې لپاره یرغه کړ چې د فرانسوي بې نظمه شویو دراګانانو مخه بنده کړي، یو اولان ودرید ، بل هغه په ویاله کې وغځېد چې د آسونو تر پښو لاندې نه شي، یو بې سواره پاتې آس له سورو سره یو ځای شو ، څه کم ټول فرانسوي دراګانان شا ته په تېښته شول. رستوف هغه یو تن چې پر آس سپور و ، په نښه او پسې ور، هه کړل. څه لوړ بوټي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په لاره کې په مخه ورغلل، خو د هغه اصيل آس پرې ورودانګل، د آس تر دې دانګلو وروسته چې نيکولاي ببرته په خپل زين ځان ټينګ کړ، پوه شو چې څو شېبې نور به خپل په نښه شوي آس ته ورسېږي. د دغه فرانسوي له دريشۍ نه داسې ښکاريده چې افسر وي. هغه پر خپل خر آس ورخم شوی و او د توري په ګوانښلو يې هغه چټکۍ ته هڅاوه. څو شېبې وروسته د رستوف د ټټر آس د دغه افسر د آس له ټټر سره ولګېد او نږدې و چې هغه له پښو راوپرزوي. له دې سره همماله پرته له هغه چې رستوف پوه شي ولې يې خپله توره پورته کړې، فرانسوي ته يې ګوزار ورکړ.

همدا چې ده فرانسوي ته ګوزار وکړ، په همدې شېبه کې ناڅاپه د رستوف ټوله لېوالتيا ورکه شوه، فرانسوي ولويد، خو د هغه لويدل هومره نه د توري له ګوزاره بلکې چې د آس له ټکانه او د ځان له ويرې و. رستوف خپل آس راونيو او هڅه يې کوله د خپل دښمن څېرې ته وګوري او پوه شي چې پر چا يې برې موندلی دی. د فرانسوي دراګان افسر يو پښه په رکاب کې بنده وه او بله هغه يې پر ځمکه څښېدله، له وحشته يې سترګې راوتلې وې او د بل ګوزار ويره يې لرله. هغه چې له ويرې په وحشت کې له ښکته پورته رستوف ته ورکتل، رنګ الوتی بشره يې، په ختو ککړه وه، مګر، ژيړې څڼې، ځلېدونکې شنې سترګې، د زنې مالګين غوچوړی، يوه يې هم د دښمنۍ نښه نه لرله او د جګړې او جګړه مارۍ سره يې نه لګېدله. د هغه ساده څېره زياته د کور د سړي ژوند ته ورته وه، مخکې له هغه چې رستوف پريکړه وکړي چې له هغه سره څه وکړي، هغه چغه کړې:- تسليم يم !

هغه تلوار درلود چې څومره ژر کېږي پښه له رکابه راخوشې کړي، خو نه يې شو کولای. شنې رڼې سترګې يې همداسې رستوف ته نيولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې. روسي سواره راورسېدل، د هغه پښنه یې راخوشې کړه او هغه یې بېرته پر خپل زین کېناوه. نور سواره په شاوخوا کې له دراګانانو سره لاس او ګریوان وو. یو تن ټپي و، له مخه یې وینې څڅېدې، خو خپل آس یې نه ورکاوه، بل تن د یوه سواره شاته پر آس ناست و او خپل لاسونه یې د هغه تر له ملا نه کړي کړي وو. درېیم بیا د یوه سواره په مرسته آس ته ورپورته کېده. فرانسوي پلي وړاندې راروان او پر له پسې ډزې یې کولې. روسي سورو خپل اسیران راپورته کول او په تلوار بېرته ستنېدل. رستوف هم له نورو سره مل راستنېده، خو خوا یې خورا شنه وه. د دغه فرانسوي د ټپي کولو او اسیرولو نه وروسته یوه ناڅرګند او زورونکې خواشینی غم چې دی هېڅ نه پرې پوهېده زوراوه.

ګراف اوستریمن تولستوی، راستانه شوي سواره ولیدل او رستوف یې ځان ته وروغوښت، له هغه نه یې مننه وکړه او ورته یې ویل چې دده د غې مېړانې او سرښندنې خبر به ټولواک ته ورسوي او ده ته به د ګیورګي د نښان وړاندیز وکړي. کله چې یې هغه اوستریمن ته سره وروغوښت، هغه ته وریاد شول چې دده دغه یرغل خو د قوماندان له قوماندې پرته شوی دی، نو ځکه یې پوره باور درلود، چې هغه اوستریمن ځکه ورغوښتی، چې دده ددغو پر خپل سرکړو له کبله جزا ورته ورکړي، نو ځکه دغې مننې او د نښان وړاندیز باید دی خوشاله کړای وای، خو دی هماغه ناڅرګند زورونکې درد، هماغه شان زوراوه، کله چې له جنرال نه بېرته راستون شو، په زړه کې یې له ځانسره وویل:-
دا څه مې زړه زوروي؟ ایلین؟ نه هغه خو روغ رمټ دی. کوم بې شرمه کار مې کړی دی؟ نه، نه، کوم بېشرمه کار؟ نه، نه، کوم څه شوي دي. کوم بل شی مې زوروي، کوم د پښېمانی کار؟ یا ددغه فرانسوي افسر له لاسه، د هغه د ځنګلې د ټپي کېدو له امله، ښه مې یادېږي چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مې د ګوزار لاس پورته کړ، لاس مې همدا سې په نیمايي کې پاتې شو.

رستوف وليدل، چې اسیران کومې خوا ته بيايي، هغو پسې يې ورمنډه کړه، خو هغه غوښتل خپل فرانسوي او د هغه د زنې غوچوړي وويني، هغه چې عجيبه غريب دريشي يې اغوستې وه، ديوه سواره سره پر آس ناست او په ناآرامۍ يې خپل شاوخوا ته کتل. د هغه د لاس ټپ هسې ټپ نه و، هغه چې رستوف وليد هغه ته يې يوه لاسي موسکا وکړ او د سلام په نښه يې هغه ته لاس وښوراوه. رستوف هماغه شان نارامه او يو ناڅرګند څه زوراوه.

همدا او بله ورځ د رستوف ملګرو دې ته پام و چې هغه که څه هم خواشينی او غمجن نه دی، خو چوپ، چرتي او خيالونو کې ډوب دی. شرابو ته يې زړه نه کېده او هڅه يې کوله چې يوازې پاتې شي او تل چرتي بريښېده.

رستوف د خپلې دغې سرښندنې او مېړانه په اړه فکر کاوه چې ده ته يې د ګيورګي په نامه ويارمن نښان ور په برخه کړی و. هغه خپلې دغې سرښندنې ته چې دی يې په يو زړور سړی مشهور کړی و، حيران و او په کوم څه شي يې سر نه خلاصېده، له ځانسره يې ويل:

- ښکاري چې هغه تر موږ لازيات ډاريږي ! ښه نو ! دا، همدغه هغه څه دی، چې مېړانه نومېږي؟ خو هغه د زنې له خپل غوچوړی او شنو ځلېدونکو سترګو سره څه ملامت دی؟ څنګه هغه ډار شوی و ! هغه فکر وکړ، چې زه هغه وژنم. زه ولې او په څه هغه ووژنم؟ لاس مې هسې په هوا کې وچ شو ! او ما ته يې د ګيورګي نښان راکړ، نه پوهېږم په هيڅ نه پوهېږم !

نيکولای چې لا په دغو خيالو کې ډوب و او نه يې شو کولای د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه علت پيدا کړي چې دی دا سې په زورونکي ډول زوروي، په خدمت کې هغه نيکمرغه کړی، لکه هغه شان چې زياتره وخت پېښېږي، دده په ګټه يې چورليدل پيل کړي و. د آستروفنسکي تر جګړې وروسته يې رتبه لوړه شوه، هغه ته يې د سورو د کنډک قوماندانی ورکړه او هر کله به چې کوم زړور افسر ته اړتيا پيدا شوه، دده سپارښتنه به کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

ګرافيني رستوفې چې د ناتاشې د ناروغۍ خبر تر لاسه کړ، خپله لا پوره روغه شوې نه وه، له پيتيا او د کورنۍ له نورو ټولو غړو سره مسکو ته راوخوځېده. د خپلې کورنۍ نور غړي يې هم د ماريا ديمتريوفنا له کوره راواخېستل او د مسکو په خپل کور کې مېشت شول.

د ناتاشا ناروغي داسې کلکه ناروغي وه چې د هغې د نيکمرغۍ او د هغې د کورنۍ د نيکمرغۍ په اړه او د ټولو هغو علتونو په اړه چې له کوژدنۍ سره يې ددې د اړيکو شلول وو، چور له ټولو هېر کړي و. هغه داسې کلکه ناروغه وه چې آن په دې اړه فکر کول چې هغه په دې پېښه کې څومره ملامته ده، هم ناروا و او له دې کبله چې هغې نه څه خوړل، نه يې خوب درلود، له ورايه ښکاريده چې خواره شوې، ټوخېږي او لکه څنګه چې ډاکتر ويل له ګوابن سره مخامخ وه. يوازې په دې اړه فکر شوی و چې څنګه له هغې سره مرسته وشي. ډاکټران هر يو جلا جلا هغې ته ورتلل او بيا به ټولو په ګډه د هغې د ناروغۍ په اړه سره غږېدل. په فرانسوي، الماني او لاتيني يې خبرې کولې، يو د بل نظر يې نه مانه، ډول، ډول داروګان يې د هغو ناروغيو لپاره چې دوی پېژندل، ليکل، خو هغه ټول يوه څه زورول او هغه دا چې دوی کېدای شي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـې نـاروغـۍ پـه علـت پـوه نـه شي، چې ناتاشـه پـرې اختـه ده.. ددې نـاروغـۍ دهغـو نـاروغيـو پـه ډلـه کـې نـه راځـي چې پـه کتـابونو کـې يـې علاج راغلی دی.. سونيا او ګراف به څه کولای شو، څنګه به يې کولای شول کيني او ډنګر شوې او خوارې شوې ناتاشې ته وګوري.. ګـراف بـه څنګه د خپلې ګرانې لور ناتاشې دا ناروغي زغملې وای.

مشرې ګرافينې څه کولای شول؟ هغـې نـه شـو کـولای ناتاشـه لـه دې کبلـه ملامتـه کـړي چې ولـې د داکترانـو سپاربښـتنې، ټـولې نـه پرځـای کوي؟هغې لور ته ويل:

- که د داکترانو خبرو ته غوږ نه شي او خپل دارو درمل په خپل وخت ونه خورې، هيڅ کله به جوړه نه شې. ناروغي خو ټوکې نـه دي، خـو تـه نـه پوهېږې چې د بډوډو د يخ وهلو امکان شته؟..

سونيا نـو نـور څه کـولای شـول چې ددې د نـاروغـۍ پـه پيـل کـې يـې درې ورځې جامې له دې کبله نه بدلولې چې تل د داکترانو د سپاربښـتنو پر ځای کولو لپاره چمتـو واوسي؟ آن خپلـه ناتاشا کـه څـه هـم ويـل چې هـيڅ ډول دارو بـه يـې نـاروغي جـوړه نـه شـي کـړای، د ناروغـانو ټـولې خبرې هسې اپلتې ګڼلې، خو کله يې چې ليـدل، ټول ددې لپـاره زورېږي او دې ته وايي چې دا هغـه دارو څنګـه او څـه وخت وخوري، خوشـالـه وه او آن پـه دې هـم خوشـالېده چې دا خپلـه د داکترانـو خبـرې نـه اوري، او داسې ښودله چې خپله ناروغي هسې نه جوړيدونکې نـه ګڼـي او نـور لـه ژونده بېزاره شوې ده.

داکتر هره ورځ د هغې ليدو تـه راتـه، د هغـې د الـوتي رنګ او مـاتې بشرې سره سره يې د هغـې نـبض انـدازه کـاوه، ژبـه يـې ورتـه کتلـه او لـه هغـې سره به يې ټوکې ټکالې کولې، خـو کلـه بـه چې لـه کـوټې نـه ووت، مشره ګرافينه به هم په تلوار پسې ورووته، داکتر به ځان ډډ کـړ، سـر بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وښوراوه، چرتي به شو او ويل به يې، که څه هم ګوابښ پاتې دی، خو بيا هم دی ددغو وروستيو درملو اغېز ته هيله مند دی، بايد صبر وکړو او وګورو، ځکه دا ناروغي زياتره روحي ناروغي ده او...

ګرافينې د سرو زرو سکه، داسې د داکتر لاس کې ورکېښودله چې ګواکې خپل دغه کړه د هغه او ځان نه پټ کړي او بيا به تر خپل دغه کار نه وروسته په آرام زړه بېرته ناروغې ته راستنه شوه.

د ناتاشې د ناروغۍ نښې دا وې چې هغې لږ خوړل، خوب يې لږ و، ټوخېده، او تل مړاوې وه. داکترانو ويل چې ناورغ بايد بې طبيو مرستو پاتې نه شي، نو ځکه يې هغه د ښار په تنګه او ناولې هوا کې ساتله. او له همدې کبله د رستوف کورنۍ د ۱۸۱۲ کال په اوړي کې کلي ته نه لاړل.

د خورا ترخو ګوليو، شربتونو، په بيلابيلو کوتيو کې د پودرونو تر ځنګ، چې د مېرمن شوسن، خوښېدل او ناتاشې ته ورکړل شوي وو، سره له هغه چې ناتاشا د کلي له پاکې او سپېڅلې هوا نه چې دا ورسره عادت وه، بې برخې شوې وه، د ناتاشا عمر او ځوانۍ خپل اغېز وکړ او د داکترانو پر کوډو بريالی شوه. د ناتاشا غمونه او اندېښنې کرار کرار د ژوند دا غبې تر لاندې پټېدل،نور نو بې سارو غمونو دهغې پر زړه منګولې نه ښخولې او دا دردونه په پرون او هېر شويو زمانو بدلېدل او د ناتاشا ځان بېرته تانديده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

ناتاشا که څه هم آرامه وه، خو خوشالي تري کډه شوې وه، هغې نه یوازې ځان له ټولو خوشالیو، د نڅا له بنډارونو، له چکرونو، کنسرتونو، او تیاتر نه بې برخې کړی و، بلکې هېڅ وار یې هم داسې نه و چې وخاندي او په هغه کې غم، د غم او ښکې او زوریدنې ښې ځرګندې نه وې. هغې نور نو سندرې ویلې نه شوې. که به هغې وخندل او یا کله چې به یې په یوازیتوب کې آواز سندریز کړ، د هغې خندا او یا سندریز غږ به په اوښکو کې ډوب شو. د پرېښانۍ اوښکې، د سادګۍ او معصومیت د هغه وخت د یادولو اوښکې چې نه راګرځېدونکی وې، د قهر او خواشینۍ اوښکې، د هغه قهر او خواشینۍ اوښکې چې، د خپلې ښکلې ځوانۍ د بربادولو له امله راتویدې، سندرې او خوشالۍ دې ته پر خپل غم ملنډې بربښېدې. د نازو نخرو په اړه یې یو وار هم فکر نه و کړی، نو ځکه یې د هغه د مخنوي هڅه هم نه کوله. هغې ویل چې هغه اوس ټول نارینو ته په هغه سترګه ګوري، لکه دې چې د خپل پلار، مینځې اناستیسیا ایوانوا، ته کتل. د هغې په وړاندې د هر ډول خوښۍ ټولې لارې تړلې وې. هو کې او له ژوند سره د هغې د ټولو پخوانیو لېوالتیاو نه هم څه پاتې نه و، د هغې د پېغلتوب د بېغمۍ نه چې ژوند ته یې په هیله مندو سترګو کتل، یوه ښه هم نه لیدل کېده.، تر هر څه زیات او په خورا خواشینۍ هغې ته، د مني د فصل بادونه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اترادنیا کې د نیکولای تر ښکلا او د نوي کال جشنونه وریادیدل. هغه چمتو وه، ټول هغه څه ددې بدل کې ورکړي چې د پخوانیو خوږو ورځو نه یو ورځ بیا ددې په برخه شي، خو دا ورځې د تل لپاره تللې وې او بېرته نه راستنېدې. هغې دا احساسوله او دې احساس دا نه دوکه کوله چې هغه آزادۍ، مستۍ او ټولې خوښۍ بیا نه راګرځېدونکې دي، هسې ټوکه نه ده، خو ژوند باید دوام پیدا کړ ی وای.

دهغې اوس هم، د پخوا په شان دا نه خوښېده چې تصور وکړي چې هغه، نه تر ټولو غوره بلکې بده او تر ټولو بده ده، دا لا څه چې هغه په دې پوهېده او له ځانه یې پوښتل:

ښه نور څه؟ خو نور څه نه و.

ژوند له ټولو خوښیو بې برخې او تېریدونکی و. دا سې برېښېده چې ناتاشا هڅه کوله، د چا د اوږو پېټی نه شي، چا ته خنډ نه وي، خو د ځان لپاره یې د هېڅ شي هیله نه لرله. له کمکي ورور نه پرته یې، د کورنۍ له ټولو غړو نه یې ځان لرې کاوه، هغې یوازې له پیتیا سره ځان آرام ګاڼه. هغې هڅه کوله تر نورو نه زیات وخت له دغه ورور سره واوسي، آن تر دې چې کله به هغه له ورور سره و، خندل به یې هم. هغه هېڅ له کوره نه وتله او دهغو کسانو له ډلې نه چې هر څوک ددې دیدن ته راتله، یوازې د پېیر، له دیدن نه خوشالېده.. تر پېیر بیزاو خوفه، له هغې سره څوک، ښه، مهربانه او مینه ناکه او هم مهاله جدي نه وه. ناتاشا پرته له هغه چې دې خبرې ته زیات پام وکړي، دغه مهرباني او خواخوږي احساسوله او د هغه له زړه خوالې نه یې خوند اخېست، خو هغې د هغه له دغې خواخوږۍ نه د مننې تکل نه لاره. هغې ته داسې برېښېده چې د پېیر په کړو وړو کې کوم ځانګړي څه چې د قدردانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وي، نه شته، ځکه هغه له ټولو سره په کړو وړو کې همداسې دی. ناتاشا دا احساسوله چې هغه کله ناکله له دې سره په خبرو کې ځکه چوپېږي چې کومه داسې خبره چې ددې د شرمېدو سبب شي، ددوی په خبرو کې رایاده نه شي، هغه هم په هغه وخت کې چې هغه به دې ته کوم ښه څه کول، چې ناتاشې ته به د ترخو خاطرو د وریادیدو سبب شوی وای. وروسته له هغو خبرونه چې د ناتاشې په پریشانه او غمجنو شېبو کې یې بې ارادې هغې ته ویلي و، که دی آزاده وای، ددې په وړاندې به ځکه په ګونډو شوی وای، چې دی په خپله دځان لپاره د هغې ریبار شي، د واده او مینې غوښتنه وکړي. پییر، نور هېڅکله د ناتاشې په وړاندې د خپل احساس په اړه نه غږیده، ناتاشا په دې باور درلود چې پییر دې ته په هغو ترخو شېبو کې دغه خبرې یوازې له هغې سره د خواخوږۍ له امله کړې وې او هغه خبرې یوازې هسې دهغو په هوا تللیو خبرو په څېر دي، چې ځوک یې د یوه ژړېدونکي ناآرامه ماشوم د آرامۍ لپاره کوي. دې هېڅکله دا تصور هم نه شو کولای چې له پییر سره ددې اړیکي ددې له خوا له هغه سره په مینې بدل شي او په زړه پورې لا دا چې د پییر له خوا ددې سره د مینې څرګندول او یا د ښځې او نارینه ترمنځ په داسې خواخوږۍ او شاعرانه کړو وړو پای ته ورسېږي، چې هغې یې ځو بېلګې پخوا لیدلې وې. ددې دا نه تصور، نه له دې کبله و چې پییر ښځه لرله، بلکې د هغه اخلاقي او روحي حجاب له امله و چې د ناتاشې او پییر ترمنځ ولاړ و. هغه څه چې دې د ځان او کوراګین ترمنځ نه لیده.

د پتروفسکو د روژې (روسان څلوېښت ورځې روژه نیسي) په پای کې د اترادنیا په کلي کې د رستوف د کورنۍ ګاونډۍ، ګرافینا ایوانوفنا بیلوفا، د سپېڅلو زیارتونو د لیدو لپاره مسکو ته راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې له ناتاشې هیله وکړه چې له دې سره زیارتونو ته د دعاګانو لپاره لاړه شي.

سره له هغه چې داکترانو ، هغه منع کړې وه چې له کوره ووزي، خو بیا هم ناتاشا د هغې دغه بلنه په ورین تندي ومنله. ناتاشا په دې ټینګار کاوه چې دعا او لمانځنه باید په غوره توګه، نه هغه شان چې دوی یې په کور کې کوي، تر سره شي. درې واره په کور کې دعا ولوستل شي. نه یوازې دوی ورته غوږ شي، بلکې دعا او لمانځنه باید داسې وي، لکه چې ګرافینه ایوانوفنا یې کوي. ټوله اونۍ هره ورځ درې واره، سهار، غرمه او ماښام کلیسا ته ځي او د سهار، ماسپښین او ماښام په لمانځنه او دعا کې ګډون کوي.

مشره ګرافینه، له مذهبي کړوړ سره د ناتاشې له دغې لېوالتیا نه خورا خوشاله شوه او په زړه کې یې وویل چې د داکترانو د هغو ناکامو هڅو نه وروسته، د دعا له لارې خدای ته پناه وروړل به خورا اغېزمن وي. که څه هم د ډاکترانو له ویرې نه یې دا خبره له هغو پټه کړه، د لور خبره یې ومنله او هغه یې ګرافینا ایوانوفنا بیلوفنا، ته وسپارله. ګرافینا ایوانوفنا به هره شپه درې بجې د شپې راتله او له نیکمرغه به یې لیدله چې هغه ویښه ده. ناتاشا به ډاریده چې خوب یې یو نه سي او د سهارنۍ لمانځنې نه بې برخې نه شي. هغه به مخ او لاس پرې مینځل او له کمینۍ نه به یې خپل خورا زوړ او بدرنګه کمیس واغوست، تر ټولو نه په خورا زاړه شال کې به یې سر ومروړه او پر اوږو به یې هم یو زوړ شال واچاوه. ناتاشا به له تشو کوڅو چې د سپېده داغ پلوشو رڼا کولې تېریده. ناتاشا د ګرافینا ایوانوفنا په سپارښتنې د خپل کور نږدې کلیسا ته نه تله، بلکې هغې کلیسا ته بو ورتله چې د هغې د وینا له مخې یې پاپ خورا پرهیزګار او په دیني چاروکې خورا ټینګ سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. په کلیسا کې به خلک تل کم و. ناتاشا او ګرافینا ایوانوفنا به د سپېڅلې مریمې د شمایل په وړاندې چې د دعا لوستونکو تر شا راځړوند و، په خپل ځای کې دریدل. ناتاشا به چې په هغه شنه سهار کې، د سپېڅلې مریمې سپېڅلې خړ رنګه شمایل ته چې د سپېده داغ پلوشې به له دریځو پرې رالویدې، کتل او د دعا ویونکو سندریزو دعاوو ته به یې غوږ نیو او هڅه یې کوله د هغو د دعاوو په کلمو ځان پوه کړي. کله به چې د دعا په کلمو پوه شوه، ددې ځانګړي احساسات به له دعا سره ګډ شول او کله به یې چې د دعا د کلماتو په معنا سرخلاص نه شو، احساس به یې لا په زړه پورې و، نو ځکه به یې په زړه کې ویل:

- پر ټولو څه د پوهېدنې هیله، د کبرخبره ده او زموږ د ناقص عقل لپاره د هغو پوهېدل ناشوني دي، یوازې پر خدای باید ایمان راوړ او هغه ته تسلیم شو. دا هغه څه و چې په هغو شېبو کې به هغې احساسوله او لوی خدای ته به یې ځان سپاره. هغې به پر ټټر او تندی صلیب وواېست. د شمایلو په وړاندې به یې سرټیټ کړ، کله به چې د کلماتو په معنا او موخه پوه نه شوه، د خوارۍ احساس به یې کاوه، له خدای نه به یې بښنه غوښته، د ټولو ګناهانو، د ټولو په خاطر بښنه. د دعاګانو په منځ کې به دې، تر ټولو نه زیاته د پښېمانۍ او توبې دعاویله. هغه به چې هر شین سهار له کلیسا نه راستنېده، د کارګرو او له هغو کسانو نه پرته چې د کورونو مخې یې پاکولې بل څوک به په لارو کوڅو کې نه وو، د خلکو د کورونو څراغونه به ځکه مړه وو، چې ټول به لا ویده وو، دې به په زړه کې د ځان د سپېڅلتیا نوی او تازه آزماینښت احساساوه، له عیبونو او ګناهانو نه د نوي ژوند لپاره، د ژغورنې احساس داسې احساس چې د پاک او نیکمرغه ژوند احساس و، احساساوه.

اونۍ ټوله په دې شان تېره شوه او دغه احساس ورځ تر ورځې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې کې زیاتېده. له خدای سره د بیا وعدې، د ګرافینا ایوانوفنا په وینا، له پاک پروردګار سره ددې ټینګو اړیکو لپاره ور پرانستنه، د هغې لپاره دومره سپېڅلي او ستر برېښېدل، چې هغه به د دغې نیکمرغۍ له نیکمرغۍ نه تر راتلونکې سپېڅلې یکشنبې (د روسانو د روژې وروستی یکشنبې) پورې ژوندی پاتې نه شي.

خو دغه د نیکمرغۍ ورځ راورسېده. کله چې ناتاشا ددې لپاره په دغې نه هېریدونکې یکشنبې په سپین جالۍ نازک کمیس کې له لمانځنې نه راستنه شوه، هغې تر ځو میاشتو وروسته د زړه په تل کې د آرامۍ احساس وکړ او نور ژوند، د هغې لپاره پر اوږو بار پېټۍ نه و.

ډاکټر چې په هغه ورځ د هغې کتو ته راغی، د هغې تر کتنې نه یې وروسته یې سپارښتنه وکړه، هغه پودر چې دوه اونۍ د مخه ده، هغې ته لیکلی و، یو وار بیا تکرار کړي. هغه چې له خپلو کړو نه خورا ډاډه او راضي برېښېده وویل:

- هرومرو به یې د نسخې له مخې، سهار او ماښام هغې ته ورکوئ، خو تر پخوا لا په زیات پام سره. مشرې ګرافینې چې د سرو زرو سکه دهغه په رغوي کې ورکېښوده، هغه په خورا ځیرکتیا او مهارت یې ځای پر ځای کړه او بیا یې په ټوکیزې ژبې وویل:

- ډېر ژر به بیا په سندرو او نڅاوو راشي. هغه وروستي دارو یې چې ورکړل شوي دي، خورا اغېزمن او ګټور دي. هغه خورا تانده او تازه برېښي.

ګرافینې، د خپلو ګوتو نوکانو ته وکتل (روسان د شوګون په بڼه، له دې کبله نوکانو ته ګوري او بیا لاړې تو کوي چې خدای دې خیر کوي چې نیړ نه شي) لاړې یې تو کړې، او په خورا ښه طبیعت او موسکا مېلمستون ته راستنه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

د جولای د میاشتې په سر کې د جګړې د پیل ګواښمنې آوازې په مسکو کې ورځ تر ورځې زیاتېدې. ولس ته د هېواد د ساتنې د بلنې او له پوځ نه مسکو ته د ټولواک دراستنېدلو په اړه د خلکو په منځ کې خبرې روانې وې. د ملت په نامه جګړې ته د بلنې وینا لا د جولای تر یوولسمې نه وه رسېدلې، نو ځکه د هغې او د جګړې په اړه ډول‌ډول مبالغې خوریدې. ځینو ویل چې ټولواک ځکه له پوځ نه راستون شوی دی چې پوځ له ګواښ سره مخامخ دی. ویل کېدل چې د روسیې د سمولینسک ښار لا د وخته تسلیم شوی دی. آوازې وې چې د ناپلیون د پوځ شمېر یو میلیون تنه دی او ویل کېدل چې یوازې یوه معجزه کولای شي روسیه وژغوري.

د جولای په یوولسمه د شنبې په ورځ وینا راورسېده. خو لا خپره شوې نه وه، پییر چې د رستوفیانو په کور کې مېلمه و، وعده وکړه چې سبا ته د یکشنبې په ورځ، د غرمنۍ لپاره راستون شي، له ګراف راستوپچین نه د ټولواک خپره شوې وینا راواخلي او له ځانسره یې راوړي.

په هغې یکشنبې رستوفیان د رزموفسکي کره لاړل چې د دود سره سم د هغوی په ځانګړې کلیسا کې په ګډه لمانځنه وکړي. د جون د میاشتې یوه معمولي توده ورځ وه. لا د سهار په هماغه لسو بجو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف د کورنۍ غړي د کليسا تر مخې له ګاډۍ نه رابښکته شول، په هغې تودې او سوځوونکې هوا کې او د سوداګرو له شروشوره نه په ډکه کڼه ګوڼه کې د خلکو په نريو او ړنيو او رنګينو جامو کې، د واټونو د ونو په دوړو وهلو پاڼو کې، د يوه پوځي کنډک د سرتېرو موزيک انګازه کوله او د سرتېرو د سپينو پطلونونو په شغهار کې، په پرېټ روان وو، پر واټ د فرش شويو تېږو ترسوځونکي لمر لاندې د ګاډيو او کراچيو د خوځېدا شروشور، په هرڅه هرڅه کې د اوړي سستي او ناتواني نغښتې وه، دغه خوند او ناخوندي په تېره بيا د ښار په هغه لمر او ځلېدونکې توده هوا کې ښه محسوسېده. د رزموفسکي د کورنۍ په کليسا کې د مسکو له پېژندلو شويو مخورو او د رستوف د کورنۍ له آشنايانو نه ډکه وه (سږ کال خورا ډېرې بډايې کورنۍ د کومې پېښې د پېښېدو د ګواښ له امله په مسکو کې پاتې شوې وې) ناتاشا او مور يې چې د ځانګړو جامو يو چوپړ پسې چې د خلکو په کڼه ګوڼه کې يې لاره پرانسته، روان وو، هغوی د ناتاشا په اړه د يو ځوان پټه پټه غږېدا، چې هومره هم کراره نه وه، اوريدله:

- دا هماغه رستوفه ده، په خپله هغه..

- څنګه ډنګره شوې، خو بيا هماغه شان ښکلې...

هغې واوريدل يا يې داسې تصور وکړ چې چا د کوراګين او بالکونسکي نومونه ياد شول، لنډه دا چې هغې ته تل داسې برېښېده، هغې ته تل داسې برېښېده چې کله څوک دې ته ګوري، ټول يوازې په دې اړه فکر کوي چې هغې ته څه ورپېښ شوي دي. ګڼه ګوڼه تل د هغې لپاره روحي عذاب و. ناتاشا چې ځيګري ورېښمين کميس يې اغوستی و او توره چورمه او پټارې يې پرې ګاڼلې وې، د تل په شان داسې د ګڼې ګوڼې په منځ کې په آرامو نخرو روانه وه چې يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې کولای شي هسې روانې شي. هر څومره به یې چې زړه غم لړلی او روح ناآرامه و، په هماغه کچه به یې تګ آرامه او پرتمین بریښېده. هغه پوهېده او تېر وتلې نه وه چې هغه ښکلې ده، خو اوس دې خبرې هغه د پخوا په شان نه یوازې نه خوشالوله، بلکې هغه یې په دې وروستیو وختونو په تېره بیا د ښار د اوړي په دې تودو لمریزو ورځو کې لا پسې زوروله او په عذابوله. هغې ته وریاد یدل چې تېره یکشنبې هم همدلته وه، په زړه کې به یې ویل:

- بیا هم یوه بله یکشنبه! یوه بله اونۍ هم پای ته ورسېده، هماغه ژوند چې مرګ ته ورته دی، هماغه پخوانی حالت چې ژوند په کې خوند او آرامه و! هغې به ویل:

- هو کې، ښکلې یم، ځوانه یم او اوس مهربانه یم، مخکې ساده وم خو اوس مهربانه یم، پوهېږم! او په دې ډول مې د ژوند خورا ښکلي کلونه، هسې تېرېږي او هېڅ چا ته یې ګټه نه رسېږي.

د مور تر څنګه یې ودریده او خپل یوه آشنا ته یې، چې هغوی ته نېږدې ولاړ و، سر وښوراوه، هغې د عادت له مخې د ټولو ښځو جامې ښې څارلې، په زړه کې یې د هغې تر څنګ د ولاړې ښځې په صلیب ایستلو چې د زړه له کومې نه و، نیوکې وکړې، خو بیا په خواشینۍ وریاد شول چې نور بیا ددې پر کړووړو نیوکې او قضاوت کوي، دا هم له نورو نه توپیر نه لري، خو ناڅاپه یې د دعا د غږ په اوریدو د ځان له خوا نورو ته په سپکو کتنو او له دې کبله چې پخوانی سپېڅلوالی یې له زړه وتلی و، وحشت وکړ.

مهربان او زړه راښکونکي غمر خوړلي پاپ په داسې اخلاص او په داسې نرمۍ او پرتم لمانځنه تر سره کوله چې د ټولو لمنځګذارو زړونو ته یې آرامي ښښله. د هغه محراب دروازه چې پاپ په کې ولاړ و، پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه او پردې يې په آرامۍ او کرار کرار رابنکته شوې، د دروازې له شا نه چې د ويل کېدونکې دعا، چې په رازمنه ډول له ويل کېده غږ اوريدل کېده. د ناتاشا لپاره نه پوهېدونکي، اوښکې د هغې د زړه پر سر ولاړې وې، ګوګل يې تنګي کوله، د خوښۍ او عذاب په احساس سره يې خپله ګېډۍ احساسوله، هغې په زړه کې له خدای سره ويل:

- رازده کړه، راوښيه، څه وکړم؟ راوښيه څنګه ژوند وکړم؟ څنګه د تل لپاره ځان د خدای لارې ته سم کړم؟ د تل لپاره !

د پاپ مرستيال د موعظې محراب ته ودريد، په پراخو منګلو يې خپلې لوړې ګڼې ځنې يې د خپل اوږده کميس له غاړې رااوبستې، پر ټټر يې صليب وکېښ، په پرتم او لوړ آواز يې د دعا په ويلو پيل وکړ:

- په سپېڅلو زړونو د لوی خدای لوی دربار ته دعا کوو !

ناتاشا په زړه کې وويل:

- ټول په ګډه په پاکو زړونو له دنيايي ګټو پرته، له ناولتيا او شر نه په پاکو زړونو، په وروګلوۍ يو ځای لاس پورته کوو او دعا کوو.

- خدايه ! زموږ ناولي زړونه په آسماني رڼاوو، روښانه کړې او زموږ د غه خوار روح وژغوره !

ناتاشا په زړه کې ويل:

-د ښاپېرو ملکو او ملکوتي ارواحو عالم ته مې ورلوړ کړه !

کله چې دعا جنګيالانو ته ورسېده، هغې ته نيکولای او دينيسوف ورياد شول، کله چې هغه لامبوزنو پوځيانو او مسافرانو ته لاس پورته کړل، هغې ته سرداراندرې ورپه زړه شو، اندرې ته يې دعاوې وکړې او ځان ته يې له لويه خدايه د هغو بديو له کبله ښښنه وغوښته چې دې د سرداراندرې په حق کې کړې وې. خدای ته يې زارۍ وکړې، چې دا وبښي. کله چې وار هغو کسانو ته ورسېد چې موږ ورته ګران يو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ غړي، مور او پلار او سونیا ته یې دعا وکړې او د لومړي ځل لپاره په دې پوه شوه چې دې د هغو په حق کې بدۍ کړې دي، دا د هغو د حق پوروړیې ده او د خپلې مینې احساس یې د هغو په وړاندې احساس کړ او کله چې یې باید خپلو سیالانو او دښمنانو ته دعا کړې وای، ځان ته یې دښمنان وانګېرل چې هغوی ته دعا وکړي، هغه د خپل پلار پوروړي یا هغه کسان چې په یو ډول نه یو ډول یې ددې له پلار سره کار درلود، د پلار سیالان یې ګڼل، هروار چې به یې خپل دښمنان او هغه کسان چې کرکه یې ورسره لرله وریادول، دې ته به اناتول وریاده. هغه اناتول چې دې ته یې دومره بد مرغي ورپه برخه کړې وه. که څه هم اناتول له هغې سره کرکه نه لرله، خو دې هغه ته په خورا خوښۍ د دښمن په توګه دعا کوله. یوازې د دعا په وخت کې هغې کولی شو، چې سرداراندرې او اناتول په پوره او آرامه توګه وریاد شي، ځکه هغه احساس چې د غو دواړو په دغه وخت کې ددې په ګوګل کې راپارو، د هغه احساس تقوا او سپېڅلتیا په وړاندې له هېڅ سره برابر وه چې د دعا په وخت کې دې ته پیدا کېده. کله چې به یې سلطنتي کورنۍ ته دعا کوله، هغه په ځانګړې توګه تر وختـه زیاتـه خمېده او پر ټټر او تندي به یې صلیب وېست. په زړه کې به ویل چې که په ځینو خبرو نه پوهېږي، هېڅ پروا نه لري هغه د زړه له کومې روحانیونو ته دعا کولې. کله چې دعا پای ته ورسېده، د پاپ مرستیال، هغه پټاره چې د یوه شال په شان یې تر غاړې تاو کړې وه، پر ټټر لکه صلیب داسې راتاو کړ او وې ویل:

- خپل ځان او خپله ټوله هستي، ټول د حضرت مسیح خدای ته بښم!

ناتاشا د زړه له کومې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هر څه له خپله خدايه غواړم، لويه خدايه خپل ځان ستا ارادې ته سپارم، نه څه غواړم، نه د څه هيله لرم، لويه خدايه ! ما ته لارښوونه وکړه، چې څه وکړم، خپله اراده چېرې او په څه کې وکاروم؟ خدايه زما اختيار او واک ستا په لاس کې دی. ما هر څه تا ته سپارلي دي.

هغه په ګوګل کې په نه آرامېدونکې بې صبرۍ غږېدله، پر ځان يې صليب نه وېسته، خپل نري لاسونه يې ځړولي وو، داسې برېښېده چې هغه يو ناڅرګند واک ور واخلي او له ځان نه له خپلو هيلو، له خپلو پښېمانيو، له خپلو عيبونو او خپلو ځانګړتياوو نه وژغوري.

مشرې ګرافينې د دعا په لړ کې څو واره، د خپلې لور څېرې ته چې د ايمان له رڼا او د زړه له خواخوږۍ نه ځلېده وروکتل او له خدايه نه يې شکر وکړ، چې له هغې سره يې مرسته کړې ده.

د دعاکوونکو له ډلې نه يو چوپړ ناڅاپه، د لمانځنې او دعا د مراسمو له دوده پرته هغو مراسمو چې ناتاشا له هغو سره ښه آشنا وه، يوه وړه لنډه څوکۍ، هماغه څوکۍ چې د لمانځنې او مذهبي جشن په وخت کې يې تر پښو لاندې ږدي، وړاندې راوړه او د محراب تر مخې يې پر ځمکه کېښوده، پاپ چې ګلابي بخملي خولۍ يې پر سر وه رااننوت، تر اوږو پورې اوږدې څڼې يې راسمې کړې او په خورا سختۍ يې پر دغې وړې څوکۍ ګونډه ووهله. ټولو د هغه پېښې وکړې، خو په حيرت يې يو بل ته کتل. دغه کار د هغې دعا د ويلو د مراسمو لپاره شوی و، چې هماغه شپه د روحانيونو شورا جوړه او د دښمن له يرغل نه يې د روسيې د ژغورنې هيله کوله.

پاپ په درانه، ځېږ، زړه راښکونکي او څرګند غږ چې د ارتدوکسه کشيشانو ځانګړتيا ده او په حيرانوونکي ډول د روسانو پر زړه اغېز کوي، دعا پيل کړه او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لویه خدایه ! د قدرتونو ربه ! زموږ د ژغورنې خالقه ! نن په خپلې مهربانۍ او بې پایه رحم د خپلې دغې زمانې پرېښانه بندګانو ته، چې موږ یو، نظر وکړه او بندګانو ته د مهربانۍ له مخې زما زارۍ واوره، پر موږ ورحمېږه او موږ ته پناه راکړه. دغه بدمرغه تور دښمن چې ستا پر ځمکه شر خپروي او فساد کوي، نړۍ سوځي، پر موږ رادانګي، دغه یاغیان چې ستا د نعمتونو د لاندې کولو لپاره راپاڅېدلي، ستا سپېڅلی کور، پاکه روسیه دا زموږ د ایمان ځاله ورانوي، د هغه سپېڅلي بریدونه ناولې کوي، ستا د لمانځنې سپېڅلي ځایونه راپرزوي، زیارتونه ته یې بې احترامي کوي، په خپل برکت دا له موږ نه واخله. لویه خدایه ! تر څو به دغو ګنهکارانو ته نیکمرغي ور په برخه کوئ ؟ تر څو به هغو ته د قانون د ماتولو توان ورکوئ؟

پروردګاره ! زموږ غږ او نارې چې له نیاز او اړتیا سره ستا دربار ته وړاندې کوو واوره ! تا ته زارۍ کوو چې زموږ له با تقوا، ستر واکمن همایوني ټولواک الکساندر پاولوویچ نه خپل رحم مه سپموه. هغه ته خپل سپېڅلی قدرت او پیاوړتیا وروبښه. خپله مهرباني، او محبت پر خپلو بندګانو چې موږ یو پیرزو لره او د خپل رحمت سیوری د هغه له سره مه لرې کوه. د هغه پرېکړې مبارکې، متې یې پیاوړې او واک یې په خپل پیاوړي واک سره بریالی کړه، لکه هغه شان دې چې موسی پر عمالیق او جدعون دې پر مدیان او داوو دې پر جالوت بریالي کړي. ..

ای زموږ د پلرونو پروردګاره ! موږ ته رایاد کړه چې خپل د رحمت او نعمتونو بې پایه باران دې له پیل نه په موږ ورولی او تر ابده پورې به یې ور وروې. موږ له خپله درباره مه شړه، موږ په بدمرغیو کې یوازې مه پرېږده ! او په خپل بې پایه رحمت سره موږ بدمرغه ګنهکاران وبښه، زموږ زړونه په خپل ځلېدونکي نور پاک او په موږ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتينولۍ روح راوپاروه او زموږ ايمان پرځان لاپسې ټينګ کړه..

پاکه پروردګاره ! موږ په تا ايمان لرو، هيله مو تاسو ته ده، له خپلو ګناهونو نه موږ شرمېدلي، له خپل رحمته مه بې برخه کوه، لـه موږ نـه د خپلې ياري او ملاتړ نښې ښکندې کړه چې زموږ سيالان او هغه کسان چې زموږ له پاکې وعدې نه سرغړوي، شرمساره او تالاوالا شي.. پاکـه خدايـه ! نن دې خپلـه د رحمت ملکه پـر موږ رانازلـه کړه، لـه موږ نـه د روغتيا نعمت مه سپموه..

په هغه حالت کې چې د ناتاشا روح مننې تـه چمتـو و، دغـې دعـا پـر هغه خورا ښه اغېز وکړ.. هر څه يې د زړه پـه غـوږو اوريـدل، پـه خـورا کمينۍ او د زړه له کومې يې د خداى دربـار تـه لاسونه پورتـه کـول، خو په دې سمه نه پوهېده چې لـه خداى نه يې څه وغوښـتل. هغـې پـه ټـول خلوص په زاريو غوښتل چې روح او روان يې د رحمت پـه رڼـا روڼ او د رښتيا زړې يې په زړه کې زرغون، ايمان يې ټينـګ او ځان يـې پـه مينـه کې ډوب اوسي، خو هغې نه شو کولاى داسې دعـا او ښـېرا وکړي چې په هغه کې د دښمنانو پرزيدل، او تر پښو لاندې کولو کې لـه نـورو سـره يـو ځاى شي، ځکـه څو شـېبې مخکې هغـې لـه خدايـه غوښـتي و، چې شمېر يې زيات شي، چې دا هغوى ته دعا وکړي او وکولاى شي هغـوى ورتـه ګران واوسي.

د تقـوا او پرهيـز ډار، هغـه د ګنـاهـانو لـه جـزا پـه تېـره بيـا د خپلـو ګناهانو له جزا، د هغې په زړه کې ډار پيدا کاوه. له خداى نه يې د ټولـو بندګانو او له هغه ډلې نه د ځان لپاره ښښنه غوښته، هغې هيلـه لرلـه چې پر ټولو خلکو او پـر دې هم د ژونـد آرامـۍ او نيکمرغـۍ پيـرزو شـي او داسې دې ته بربښېده چې خداى يې هيلې او غوښتنې منلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

له هغې ورځې چې پېير د رستوفيانو له کوره راوتلی و، دناتاشا له مننې ډک غلچک ورياديده، په آسمان کې يې هغه ولاړ رڼا ځړونکی لکۍ لرونکی ستوري ته وکتل، داسې يې وانګېرله چې هغه ته څه نوي ورپه برخه شوي دي او نور نو هغه، هغه عذاب او درد نه احساساوه چې د دنيايي چارو په اړه له پوښتنو ده ته پيدا کېده. هغه ويرونکې پوښتنې، ولې؟ چې پخوا د هرې چارې په منځ کې ورته پيدا کېدې، سره له هغه چې نه يې ځواب پيدا کړی او نه يې بلې پوښتنې ته ځای پريښی و، هغه د ناتاشا خيال او تصور و. کله به يې چې چا ته غوږ نيوه يا به يې خپله له چاسره خبرې پيل کړې، يا به د چا د دوه مخۍ او حماقت نه خبر شو، يا به له ده نه کومه ناوړه چاره ترسره شوه، نور يې نو د پخوا په شان او رنه اخېست، وحشت يې نه کاوه او نه به يې ويل:

-دا خلک ولې داسې په تلوار او ګېنۍ کې دي، حال دا چې دا ژوند داسې لنډ او مرموزه دی؟ هغه ته به ناتاشا وريادېده، هغه شان به وريادېده، لکه وروستی ځل يې چې ليدلې وه، ددې لپاره همداسې وه، همدا ياد و، چې د شک لمنه يې له زړه ورټوله، هغه هم نه له دې کبله چې ناتاشې د هغه ټولو پوښتنو ته ځواب وايه، چې دی ورسره مخامخېده، بلکې له دې کبله چې د هغه خيال او تصور د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیالونو څپې او شېبې بدلولې. هغه یې د رڼا او روحي آرامۍ پلو ورباله او په یوه شېبه کې هغې دنیاګۍ ته رساوه چې په هغه کې د ښه او نابنه پوښتنې نه وې. هلته ښکلا وه، مینه وه، هغه څه چې ژوند هغه ته ښېل ارزېدل. که به کله په ورځنی ژوند کې کومې ستړې ناځوانۍ او دغلۍ سره مخامخ شو، له ځانسره به یې ویل:

- څه وکړم چې پلانی د دولت او باچا شتمنۍ غلا کوي، دولت او ټولواک د دې پر ځای چې هغه ته جزا ورکړي، هغه لا پسې پالي، لوېه وي یې، پرېږده، پرېږده کوي دې.

هغه فکر وکړ:

-زما یې پر هغو څه! هغې پرون شپه ما ته وخندل او له ما نه یې هیله وکړه چې د دې کورته راشم، هغه ماته ګرانه ده. داسې ګرانه ده چې هېڅوک به هېڅکله له دې مینې نه خبر نه شي.

پېیر هماغه شان د اعیانو بنداړونو ته تګ راتګ کاوه، ډېر یې څکل، او وخت یې همداسې، په جشنونو او کله کله په غفلتونو کې تېراوه. پر ته له هغه وخته چې ده د رستوف په کورنۍ کې تېراوه، دې ته اړ کړل شوی و چې له مسکوي ژوند سره، د هغو له دود سره، ځان رږدی او له هغو آشنایانو سره تګ راتګ وکړي چې ده په دې ښار کې پیدا کړي وو، خو په دې وروستیو وختونو کې چې د جګړې ګواښمن خبرونه ورځ په ورځ زیاتېدل، له بله پلوه د ناتاشا د روغتیا د ښه کېدو هیله زیاتېده او ده په زړه کې یې د هغې په وړاندې د رحم او زړه خوږي احساس نه راپاروه، خو په دې کې تر هغه نه لا ناڅرګند او کړکیچن خیالونه راپارېدل. هغه داسې انګېرله چې دغه حالت به زیات دوام ونه کړي. هغه رارسېدونکې بدمرغي احساسوله، داسې بدمرغي چې دده د ژوند ټول بهیر به بدل کړي، هرې خوا که یې د دغې بدمرغۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسېدو نښې لټولې. پېير ته يو ماسون له يوحينا نه د هغه فال خبرې په ډاګه کړې، چې د ناپليون په اړه يې راوېستلې وې.

د يوحناد ديارلسم څپرکی، په اتلسمه آيه (شعر) کې راغلی دی:

«دلته حکمت دی، نو که هر څو درک او عقل لري، هغه دې وحشي شمېر وشمېري. ځکه شمېره انسان دی او شمېره يې شپږ سوه شپږ شپېته ده».

پنځم آيه هم په دې اړه داسې ده:

«او هغه ته خوله ورکړل شوه، چې په کبر او کفر وغږېږي او هغه ته يې واک ورکړ چې دوه څلويښت مياشتې کړه وکړي».

که د فرانسوي تورو الفبې ته هم د عبري الفبې په شان، شمېرنه ورکړو (ابجد) نهه لومړي شمېر نه يې يو ګړي او دويمه لسيزه هغه يې په ډول دو ګړي دي:

a b c d e f g h i k l m n o p q r s t u v w x y z

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۲۰ ۳۰ ۴۰ ۵۰ ۶۰ ۷۰ ۸۰ ۹۰ ۱۰۰ ۱۱۰ ۱۲۰ ۱۳۰ ۱۴۰ ۱۵۰ ۱۶۰

که د Empereur Napoleon د کلماتو د حروفو اړوند شمېر وشمېرې، ټول ۶۶۶ کېږي او په دې توګه د ناپليون نوم، هماغه ځناور ثاروی دی چې په يوحنا کې يې اټکل شوی و.

دغه راز که د quarante deux (دوڅلويښت) نه هم شمېرنه وکړو (او دا هغه موده ده چې ځناور ته د کبر د ويلو واک ورکړ شوی دی) بيا هم ۶۶۶ کېږي. پايله يې دا ده چې دا ټول ۱۸۱۲ کېږي او دا هماغه کال دی، چې د ناپليون د بخت ستوری بايد ولوېږي او په دې کال دی ۴۲ کلن کېږي.

دغه اټکل په بې ساري توګه د پېير حيرت راوپاراوه، هغه تل په دې انديښنه کې و چې څه شی به د دې سبب شي چې دغه ځناور يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپليون را وپرزوي. هغه د همدې شمېرونو د الفبې د تورو او د هغه په بيا بيا شمېرنې هڅه کوله، چې خپلو پوښتنو ته ځواب پيدا کړي. د دې ځواب د پيدا کولو لپاره يې د «ټولواک الکساندر» او د «روس ملت» کلمې هم په دې ډول وشمېرلې، د هغو شمېر يې وشمېره، خو هر وار د هغو شمېر يا له ۶۶۶ نه ډېر زيات او يا هم خورا لږ و.. له ناتاشې سره لېوالتيا ،د دجال (ناپليون) پيدا ايښت، د بناپارت د پوځ له خوا د روسيې لاندې کول، د لکۍ لرونکي ستوري پيدا ايښت، د ۶۶۶ شمېر. ... دا ټولې، په ګډه هغه څه وو، چې د وخت په تېريدو سره کرار کرار بايد پاخه شوي واى. داسې پاخه، چې دده په ژوند کې په يوه بدلون او چاودنې بدل شوي واى، چې هغه يې د مسکو له لنډ پارې، کوډ کړل شوي او سپک کړل شوي چاپيريال نه چې ځان يې په هغه کې راګير شوى ګاڼه، ځان يو لوى نيکمرغه او د سترې برى لارې ته برابر کړاى واى.

د تېرې يکشنبې په درشل کې، چې په کليسا کې دعا او لمانځنه تر سره کېده، پېير رستوفيانو ته وعده ورکړه وه ،چې له ګراف راستوپچين، د مسکو له قوماندان نه، د ټولواک هغه وينا راوړي چې د ملت او د نه د مسکويانو لپاره خپره شوې وه، دغه قوماندان دغه وينا پېير ته ورکړه. پېير د دغه ويناوو او سپارښتنو د لوستلو په لړ کې، وليدل، چې هلته د مړو، ټپيانو، ترفيع کړو او نښانونو د ګټونکو نومونه راغلي وو، ده هلته د نيکولاى نوم وليد. نيکولاى د استروفسکي په جګړو کې د مېړانې او سربښندنې په خاطر د ګيورکي ۴ درجه نښان ګټلى و. په همدې پاڼو او فرمانونو کې يې لوستل چې اندرې بالکونسکي د ښکارې غونډ قوماندان ټاکل شوى و. هغه نه شو کولاى د رستوف پر موروپلار او کورنۍ زيرى ونه کړي، چې زوى يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښان اخېستی دی، وینـاوې او د ټولـواک سپارښـتنې یې لـه ځانسـره پربښودې، خو د نیکولای د نښان اخېستو فرمان یې سمدلاسه هغـو تـه ورولېږه...

په نورو ویناو کې،د جګړې هغه آوازې چې جاسوسانو خپرولې هم راغلې وې، هغه دا چې ناپلیون خپلو پوځونو ته وعده ورکړې ده چې تـر مني مخکې د روسیې دواړه پلازمینې لاندې کړي...

پییر له ډېر پخوا نه هیله لرله چې پوځ ته لاړشي، که ده دوه ستونزې نه لرلای، ده به دا کار کړی وای. یوه ستونزه دا چې،هغه د فراماسون لـه ډلې سره ژبه وه. دغې ډلې د ابدي سولې او د جګړې د نـابودۍ خبره کوله او بله د هغو مسکویانو یـاد و چې پـوځي جامې یې اغوستې، د هېواد پالنې خبرې یې کولې،خو پرته له هغه چې پوه وی، بیا شرمېږي، خو پوځ ته دده د تګ اصلي علت دا و چې دده نوم روسي بیزاوخوف د کلمې د شمېرنې شمېر هم د وحشي ځناور د شمېر ۶۶۶ سره برابریده. بلـه دا چې د هغـه ونډه ددغـه سترې چارې یعنې د وحشـي ځنـاور د واک د پای ته رسېدو په چاره کې چې په کبر او کفر غږېږي، له ازله ټاکل شـوې وه، هغه حق نه درلود په خپل سر کوم کـار وکړي. نوځکـه هغـه، هغـه څـه ته سترګې په لاره و، چې باید تر سره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

د رستوف په کورنۍ کې دبلې هرې یکشنبې په شان یو نیم آشنا غرمنۍ کوله.

پېیر، خورا وخته ځکه راغی، چې هغوی یوازې ووینې.

پېیر، سږ کال نور هم خورب شوی و، که د هغه جګه ونه، پراخ ستر تټر، سوروې اوږې او قوت نه وای، چې د هغه د دې سترې خوربۍ پيټۍ یې وړی وای، هرومرو به یې اندام خورا بد بربښېدای. هغه چې پر زینه خوت، تر شونډو لاندې یې کوم څه ویل او بنګېده. ګاډیوان چې نور نو له هغه نه، نه پوښتل چې هغه ته سترګو په لاره شي او کنه؟ ځکه هغه په دې پوهېده چې کله پېیر، د ګراف رستوف کورنۍ ته د غرمنۍ لپاره راځي بیا تر نیمو شپو پورې هرومرو همالته پاتې کېږي. چوپړانو په خورا خوشالۍ د هغه هرکلي ته ورودانګل. چا کوټ ترې اخېست، چالکړه او چاخولۍ. هغه د عادت له مخې خپله لکړه او خولۍ په دالان کې پرېښودل.

د رستوف د کورنۍ له غړونه لومړی څوک چې پېیر یې ولیده، هغه ناتاشا وه. مخکې تر هغه چې دی هغه ووینې، ده لا په دالان کې د کوټ د ابستلو په وخت کې د هغې آواز واورید. هغې په تالار کې سولفژ (د موسیقي آله) غږوله. پېیر په دې پوهېده چې ناتاشا تر ناروغۍ وروسته، بیا سندرې نه وې ویلې، نو ځکه د هغې د آواز په اورېدو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشاله شو او هم يې تعجب وکړ. د تالار دروازه يې په کراره راخلاصه کړه، هغه يې په هماغه ګلابي کميس کې چې په کليسا کې يې اغوستی و، وليده. هغه په تالار کې ګرځېده او آواز يې وايه. کله چې پيير دروازه خلاصه کړه، ناتاشا د هغه خوا ته را روانه وه، خو کله چې هغې ناڅاپه مخ راواړاوه او د هغه ځوربه او حيرت وهلې څېره يې وليدله، تکه سره شوه او په چټکۍ هغه ته ورننېږدې شوه.

هغې وويل:

- غواړم بيا سندرې ويل وآزمايم.

داسې چې ګواکې له هغه نه بښنه غواړي، زياته يې کړه:

- دا هم يو کار دی.

- خورا ښه کار دی.

ناتاشې، په هماغه پخوانۍ لېوالتيا، هغه ته، چې له ډېرې مودې راهيسې نه وه ليدلی، وويل:

- پوهېږئ څنګه، څنګه خوشاله شوم چې ته راغلې. نن ډېره نيکمرغه يم. پوهېږئ ! نيکولای د ګيورکي په نښان وياړمن شوی دی. زه په هغه وياړم.

- هو کې، پوهېږم څنګه نه پوهېږم، خو ما د هغه فرمان تاسو ته راليږلی و.

هغه زياته کړه:

-ښه، نور نو مزاحمت نه درته کوم.

هغه غوښتل چې مېلمستون ته لاړ شي.

ناتاشا هغه ودراوه او وې پوښتل:

- ګرافه ! دا خو به ډېره سادګي نه وي چې زه سندرې وايم؟

تکه سره شوه او په پوښتنيز غلچک يې پيير ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، څه وایئ، ولې ساده ګي وي؟ برعکس.. مګر دا پوښتنه ولې له ما نه کوئ؟

ناتاشا په چټکۍ ځواب ورکړ:

- زه خپله هم نه پوهېږم، خو ما به هیله لرلای هېڅ هغه څه ونه کړم، چې ستاسو نه خوښېږي. زه په هر څه کې په تاسو باور لرم. تاسو نه پوهېږئ چې زه څومره تاسو ته درناوي لرم، تاسو څومره له ما سره مرسته کړې ده.

ناتاشا، ژر ژر غږېده، خو دې ته یې پام نه شو، چې پیېر ددې خبرو په اورېدو څنګه تک سور شو. پوهېږئ په هماغه پانه کې، هماغه د نیکولای د فرمان په پانه کې مې ولیدل، چې هغه، بالکونسکي (هغې په چټکۍ خو بنګن ډول دا کلمه وویله) بیا په روسیه کې دی او پوځ ته تللی دی. په تُنده ژبه او په تلوارغږېده، داسې چې ګواکې ډارېږي، ددې ټولو خبرو د ویلو لپاره یې زور نه شته، هغې وویل:

- تاسو څه فکر کوئ؟ داسې وخت به راشي چې هغه ما وبښي؟ آیا داسې وخت به راشي چې له ما نه کرکه ونه لري؟ تاسو څه فکر کوئ؟ تاسو څه فکر کوئ؟

پیېر وویل:

- زه فکر کوم.. د بښنې وړ څه نه شته، که زه د هغه پر ځای وای..

هغه په یوه شېبه کې د خپل خیال مرغه، هغو وختونو او پلو ته والوزو، چې ددې د آرامۍ او دلاساینې لپاره یې ویلي و:

که زه هغه څه چې یم، نه وای، او د نړۍ تر ټولو ښه سړی او آزاد وای، زه به ستا په وړاندې ګونډه شوی وای، ستا ریباري به مې کړی وای، او له تاسو نه به مې د واده هیله کړې وای.

او هماغه د رحم احساس او د مینې د مهربانې یې په څېره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځلېده او هماغه خبرې يې پرشونډو راخورې شوې، خو ناتاشا وخت ورنه کړ، چې هغه څه ووايي، هغې وې ويل:

- هوکې، تاسو، تاسو، هغې په يو خوند او ذوق د «تاسو» کلمه وويله. او زياته يې کړه:

- تاسو، تاسو بله خبره ده.

دوام يې ورکړ:

- زه تر تاسو پاک زړی، لوړ، مهربانه او ښه سړی په نړۍ کې نه پېژنم او نه شته. که تاسو هغه وخت او اوس نه وای، زه نه پوهېږم، په ما به څه شوي وای، ځکه..

او ناڅاپه يې له سترګو نه اوښکې راشېوه شوې، هغه بېرته ستنه شوه، د موسيقۍ ياددښت راواخېست او سترګو ته يې ونيو، سندرې يې پيل او بيا په تالار کې په ګرځېدا شوه.

په دې وخت کې له مېلمستون نه په منډه منډه پيتيا راووت. پيتيا اوس پنځلس کلن ښکلی او تک سور زلمی و او ناتاشې ته ورته څوربې سرې شونډې لرلې. هغه پوهنتون ته د تګ لپاره چمتوالی کاوه، خو په دې وروستيو وختونو کې يې له خپل اوبولبنسکي نومي انډيوال سره سواره پوځ ته د ورتګ پريکړه کړې وه.

پيتيا، خپل هم نامه ته (پېير ته) د دې لپاره ورمنډه کړل، چې په دې اړه ورسره وغږېږي. هغه له هغه نه وپوښتل چې آيا دی به، دوی په سواره پوځ کې ونيسي.

پېير چې مېلمستون کې روان و، د پيتيا دا خبرې يې وانه اوريدې.

پيتيا، د دې لپاره چې د پېير پام ځانته راواړوي، هغه يې له لستونی نه راونيو او وې ويل:

- ښه زما کار څنګه شو؟ پيتر کيريلوويچ، د خدای لپاره ! زما هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ازې تاسو ته ده.

- هو کې، هو کې، ستا کار ! غواړئ چې سواره پوځ ته لاړ شئ؟ کېږي، درته وايم، وايم نن به درته ووايم.

مشر ګراف راورسېد او وې پوښتل:

- ښه ګرانه ! نو څه دې وکړل؟ څه خبرې؟ وينا دې پيدا کړه؟ زما نازولې ګرافينې خو د رزموفسکي دوی کورته د دعااو لمانځنې لپاره تللې وه، نوې دعاګانې شوي دي، وايي چې خورا ښې دعاګانې وې.

پېير ځواب ورکړ:

- هو کې وينا مې پيدا کړه، را مې وړه، ټولواک سبا ته راځي. د مشرانو جرګه جوړېږي، وايي چې سرتېري ټولوي، له هرو لسو زرو تنو نه لس تنه لېږي، ښاغليه ګرافه ! مبارکی درته وايم.

- هو کې، هو کې ! د خدای شکر دی، مننه، د پوځ په اړه څه اورئ؟

پېير ځواب ورکړ:

- زموږ پوځ بيا په شا راروان دی. وايي د سمولينسک دښار څنډو ته رارسېدلی دی.

مشر ګراف وويل:

خدايه ! خدايه، وينا چېرته ده، تاسو ته وايم وينا؟

-د ټولواک وينا يادوې؟

او د خپلو جيبونو په لټول يې پيل وکړ، خو هغه يې پيدا کولای نه شوه. په داسې حال کې چې خپل جيبونه يې لټول، د راغلې ګرافينې لاس يې ښکل کړل او په خواشينۍ يې دا خوا هغه خوا څارل او داسې ښکاريده، چې د ناتاشا د راتګ لاره څاري. ځکه نور نو نه د هغې آواز راته او نه لا مېلمستون ته راغلې وه.

پېير وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خدای پوهېږي چې وينا مې څه کړه؟
ګرافينې وويل:
- هو کې، تل هر څه ورک کوئ.

ناتاشا پـه نرمۍ، خو ګبڼې اخېستې بڼه راننوتـه، کېناسته او پـه چوپـه خولـه يې ځير ځير پېير تـه کتل. د ناتاشا د راننوتو سره د پېير څېره چې تر اوسه يې هم جيبونه لټول، وغوړېده، څو ځله يې ناتاشې تـه وکتل.

- خدای ښه پوهېږي فکر کوم، ښکاري چې په کور کې مې هېره کړې ده، بايد بېرته لاړ شم..

- ناوخته ده، غرمنۍ ته رارسېدای نه شې.

- اخ، ګاډی هم تللې ده.

خو سونيا چې د کاغذونو لټول يې پيـل کړي و، هغـه پـه دالان کې د پېير په خولۍ کې پيدا کړل. وينا په خورا ځير مروړل شوې او په خولۍ کې اېښودل شوې وه. پېير غوښتل هغـه ولولي، خو مشر ګراف چې غوښتل له هغې لا ښه خوند واخلي، وويل چې لومړی به غرمنۍ وخورو او تر هغه وروسته به بيا دا وينا واورو..

په غرمنۍ کې جامونه پورتـه شول او دا جامونـه تهول، د ګيوركي د ښـان د نـوي ګټـونکي نيکـولای پـه وياړ پورتـه کېـدل. دغـه راز شينشين، د ښار وروستي خبرونه راياد کړل او د ګرجي زاړه شهزاده د ناروغۍ خبره يې وکړه او وې ويل چې ميتيا له مسکو نه لا درکه شوی دی. هغـه دا هـم يـاده کـړه چـې راسـتوپچين، تـه يـې يـو المـاني راوستلی، چې دا جاسوس دی(شينشين، ټينګار کاوه چې دا پـه خپلـه دراستوپچين خبره ده )خو راستوپچين ويلي، چې هغه پرېږدئ چې لاړ شي، ځکه هغه خلکو تـه ويلي چې دا جاسوس نه دی، هسې زوړ عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړلی مرخیړی دی.

ګراف وویل:

- نیول، نیول پیل شوي دي، خدای دې خیر کوي، ما هم ګرافینې ته وویل چې فرانسوي مه غږېږئ، اوس په فرانسوي ژبې دغږېدو وخت نه دی.

شینشین وویل:

- اوریدلي مو دي او کنه؟ شهزاده ګولیڅین ته یې د روسي ژبې ښوونکی ګمارلی دی، روسي زده کوي، په کوڅو کې فرانسوي غږېدل، خورا خطرناکه شوي دي.

بوډا ګراف پیېر ته مخ وروا ړاوه او وې ویل:

- ښه ګرانه پیتر کیریلیېچ ! کله چې عمومي جلب پیل شي، تاسو هم باید ځان ته آس پیدا کړئ.

د دغې غرمنۍ په اوږدو کې، پیېر چپ او په خیالو کې ډوب و او هېڅ یې نه ویل، خو کله یې چې له ګرافه دغه پوښتنه واوریده، ګواکې چې په خبره یې پوه شوی نه وي، رډ رډ یې هغه ته وکتل، هغه وویل:

- هوکې، هوکې جګړه ! نه، نه زه او جګړه، خو عجبه ده، د دنیا چارې هم عجبې دي، هېڅ مې سر نه خلاصېږي، نه پوهېږم. زه د جګړېزو چارو نه خورا لرې پاتې شوی یم، خو نن، سبا څوک د ځان واک لري؟

ګراف تر غرمنۍ وروسته پر خپلې څوکۍ کې ښه ځان جوړ کړ او په خورا زغرده یې له سونیانه، چې ټول پوهېدل چې هغه د لوستنې لویه ماهره ده وغوښتل، چې وینا ولولي.

- د مسکو، زموږ د لرغونې پلازمینې او سېدونکو !

دښمن له خپل لوی لښکر سره، د روسیې پر پولو تېری کړی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غواړي چې زموږ ګرانه مېنه په کنډوالو بدله کړي.
ګراف ستر ګې ترلې وې، غوږ غوږ و او ساړه اسویلي یې وېستل.
ناتاشا نیغه ناسته وه، کله به یې پلار او کله به یې هم پېیر ته کتل.
پېیر د هغې کتل احساسول او هڅه یې کوله، هغې ته ونه ګوري.
ګرافینې د وینا دهرې پارونکې جملې په اورېدو، په قهر او غندنې سر ښوراوه، هغې په ټولو دې جملو او خبرو کې یوه خبره موندله او هغه دا چې هغه ګوابښ، چې د دې زوی ورسره مخامخ دی، داسې ژر پای ته نه رسېږي. شینشین په یوې ملنډیزې موسکا شونډې کېښکودلې وې او داسې برېښېده چې د دې لپاره ځان چمتو کوي چې کومې وړې خبرې یا د سونیا پر لوستلو، یا د ګراف پر څرګندونو او یا هم که کومه پلمه پیدا نه شي، د وینا په کوم یو ټکي وخاندي.
سونیا وروسته له هغه چې د وینا هغه ټکي چې روسیې ته د ګوابښونو او هغه هیلې چې ټولواک له مسکو، په تېره بیا د هغه د اعیانو او مخورو نه خبرې په کې راغلې وې ولوستل، داورېدونکو د زیاتې پاملرنې نه یې آواز په رېږدېدو شو، خ د وینا وروستي ټکي یې داسې یاد کړل:
- موږ به ډېر ژر په خپله، څه په دې پلازمېنه کې او څه د خپلې امپراطورۍ په نورو برخو کې، له ټولو جنګیالو سره د خبرو اترو او جرګو لپاره د خلکو مینځ ته ورشو، او له هغو جنګیالیو یوځای شو، چې همدا اوس د دوکمار او ظالم دښمن په وړاندې ولاړ دي او سرښندنه کوي او یا هغه چې په راتلونکې کې سره راټولېږي او پر دښمن وردانګي،. هوکې د هغو درناوي ته وردرومو. نه یوازې په دې هیله چې ټول په ګډه، د هغې بدمرغۍ مخنوی وکړي چې پر موږ یې د راوستلو لپاره تکل شوی، بلکې بېرته دغه بلا پر هغو وروپرزوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر نړۍ يې د راوستلو تکل کړی دی، دغه جنګيالي بايد اورپا له مرييتوبه وژغوري او د روسيې نوم ستر او وياړمن کړي.

مشر ګراف چې له اوښکو ډکې سترګې پرانستې او په داسې غږ چې ګواکې چا د هغه سپړمو ته د خورا تندی سرکې بوتل پرانستی دی، په ساندو ساندو پرې پرې وويل:

-آفرين، شابس ! زموږ لپاره همدا بس دی چې ټولواک شونډې وښوروي، موږ خپل هر څه ترې ځارو او هېڅ شي نه ترې سپمو.

شينشين د ګراف پر هېواد پالنې د چمتو شوې ټوکې د ويلو لپاره څکه وخت پيدا نه کړ چې ناتاشا له ځايه پاڅېده، د پلار خواته ورغله او هغه يې ښکل کړ او وې ويل:

- دغه ته پلار وايي ! زموږ پلار جان جوړه نه لري. او بيا يې په هماغې پخوانۍ له ناز ډکه ادا او زړه راښکون غلچک پيير ته وروکتل.

شينشين وويل:

- دغه ته هېواد پالنه وايي، وګورئ، هېواد پالنه !

ناتاشا په خواشينۍ ځواب ورکړ:

- د څه شي هېواد پالنه، خبره د هېواد پالنې نه ده.. خو تاسې هم، په هر څه ملنډې وهې، خو اوس د ټوکو او ملنډو وخت نه دی.

ګراف وويل:

- د څه شي ټوکې ! که ټولواک يوه خبره وکړي، موږ ټول خوځېږو ،موږ خو څه.. المانيان نه يو..

پيير وويل:

-ستاسو پام شو ، چې په وينا کې څه راغلي دي؟ دجرګې لپاره څه ويل شوي دي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هر څه چې وي، مور ورته چمتو يو...

په دې وخت کې پيتيا، چې هېڅچا هغه ته پام نه کاوه، راوړاندې شو، په تکه سره بشره، په ډډ او مالګين آواز وويل:

- پلار جانه! اوس نو په ډاډګه او په غوڅه وايم، مور ته مې هم همداسې وايم، پرې مې ږدئ چې پوځ ته لاړ شم، ځکه نور نو نه شم کولای... بس همدا... هوکې همدا وايم...

ګرافينې سترګې آسمان پلو پورته کړئ، له خورا ناهيلۍ يې لاس ونښورول، مېړه ته يې مخ ورواړاوه او وې ويل:

- ورته ګوره، زړه يې تش کړ.

خو ګراف په هماغه شېبه کې پر خپلې ګېډۍ لاس بری او آرام شو، وې ويل:

-دا دی يو بل جنګيالی! ساده ګي پرېږده، ته بايد زده کړې وکړې.

-ساده ګي نه کوم پلار جانه! ته ګوره فديا او بالکونسکي چې تر ما کمکی دی، جګړې ته روان دی. او بيا که ووايو، ددې خبرو وخت تېر شوی دی، تاسو خپله ووايئ، په دې حال کې زده کړې کېږي؟ پيتيا تر دې خبرو وروسته يوه شېبه چپ شو، تک سور واوښت، خولې يې پر بشرې راماتې شوې او زياته يې کړه:

-په هر حال کله چې هېواد ته ګواښ ورپېښ دی، زه نه شم کولی، زده کړې وکړم.

-دا پوره، پوره حماقت دی.

-تاسو په خپله همدا اوس وويل، چې هر څه له هېواد ځارو و.

ګراف چې پرله پسې، خپلې رنګ الوتې او ګېډۍ اخېستې ښځې ته چې خپل کمکي زوی ته چرت وړې وه، کتل، چغه کړل:

-پيتيا تا ته وايم چپ شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه هم وايم، او راځی دا پيوتر کيريليېيچ وپوښتئ. ..
-درته مې ويل، ملنډې مه وايه، سادګي مه کوه، تر او سه يې لا له خولې نه د شودو بوی راځي او دی غواړي جګړې ته لاړ شي. پرېږده، درته ومې ويل چې خوله بنده او چوپ شه !
ګراف وينا پائې، چې ګمان کېده، يو وار بيا يې په خپله کوټه کې په کراره لوستل غوښتل، پورته کړې، د دروازې پلو وخوځېد او وې ويل:
-پيوتر کيريليېيچ درځه چې، سګرت ووهو.
پېير پرېښانه او زړه نازړه و، ددې علت د ناتاشې سترګې وې، چې ده ته يې په غير عادي ملال ملال او خوند خوند ورکتل او په بې ساري توګه يې دی د خپلو غلچکو په غېږه کې نازاوه.
پېير وويل:
- نه، نه، ښکاري زه به کورته لاړ شم. ..
ګراف وويل: څنګه؟ ښکاري چې کورته لاړشئ، تاسو خو ويل چې ماښامنۍ به له موږ سره تېره کړې، دا زما نازولې. .. په مهربانۍ يې ناتاشې ته اشاره وکړه او وې ويل:
- يوازې هغه وخت خوشاله وي، چې ته زموږ په کور کې وې.
پېير په تلوار وويل: ما هېر کړي وو. .. زه بايد هرومرو لاړ شم، يو څه کارونه دي. .. کارونه. ..
ګراف چې له کوټې نه وت، وې ويل: چې داسې ده، تر ليدو پورې !
ناتاشې، چې له بلنې نه په ډک غلچک د پېير سترګو ته کتل وې ويل:
-ولې ځئ؟ ولې داسې ناآرامه ياستئ؟ ولې؟
پېير غوښتل ووايي: له دې چې راته ګرانه يې !
خو پرته له هغه چې څه ووايي، تک سور شو او په سترګو کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکې را پیدا شوې، هغه وویل:

-له دې چې باید تاسو کره لېږ راشم، نه، نه، یوازې له دې کبله چې کار لرم.

ناتاشا په ټینګه وویل: نه، ولې، وو ایه، رښتیا وو ایئ، ولې؟

خو ناڅاپه چوپه شوه، دواړو په ویرې او ګېنې یو بل ته کتل، پییر هڅه کوله وموسېږي، خو وې نه شو کولای، په موسکا کې یې غم نغښتی و. په چوپه خوله یې د هغې لاس ښکل کړ او ووت.

پییر له ځانسره خپله پریکړه وکړه، چې بیا د رستوف کورته لاړ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

وروسته له هغه چې د پيتيا وړانديز په غوځه چا ونه مانه، خپلې کوټې ته لاړ، ځان پسې يې دروازه وتړله، په کوټه کې پټ او په ساندو ساندو يې وژړل، خو کله چې تر دې نه وروسته، هغه په تريو تندی له ژړا نه په سرو سترګو او له خبرو سترې، د چای لپاره راغی، ټولو داسې وښودله چې هغه نه چا ليدلی او نه يې اوريدلی دی.

بله ورځ ټولواک راورسېد ، د رستوف د کورنۍ څو تنو چوپړانو اجازه واخېسته د پاچا د ديدن لپاره ورشي. پر دغه سهار پيتيا ډير وخت په کالو اغستلو ،د ځنو په جوړولو تېر کړ او د کميس غاړه يې لکه د لويانو په شان ولاړه او جګه جوړه کړه. د هينداريې تر مخې ودريد ،په تريو تندي او بړوسې څېرې يې، په هينداره کې وکتل، اوږې يې پورته پورته واچولې او پرته له هغه چې چاته څه ووايي،په پای کې يې خولۍ پرسر کړه او ددې لپاره چې د چا ورته پام نه شي، د ودانۍ د شا د دروازې له لارې د باندې ووت. هغه پريکړه کړې وه، مخامخ هغه ځای ته چې ټولواک مېشت شوی و، ورشي او په خپله په ډاګه د هغه د کوم يوه ياور ته (پيتيا داسې انګېرله چې له ټولواک سره مل څو تنه ملګري وي) ووايي چې دی،ګراف رستوف که څه هم تر اوسه پورې خورا زلمی دی، غواړي وطن ته د خدمت په هيله پوځ ته لاړ شي. دی هغوی ته ووايي چې ځواني او زلميتوب بايد له وطنه،د هغه د ځاريدنې او سربښندنې خنډ نه شي. پيتيا خپل دغه کار ته د چمتو کېدو په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ويلو لپاره خورا ښې کلمې جوړې کړې چې بيا يې ياور ته ووايې. هغه له ځان سره تصور کړی و، چې د ټولواک په وړاندې به دده د خبرو ځکه ښه ملاتړ وشي چې دی يو تنکی زلمی دی. (آن دا تصور يې هم کړی و چې دده زلميتوب به ټول حيران کړي) خو له دې سره سره يې خپل ګريوان، څټ او آن خوځېدا ځکه ښه جوړ کړل، چې وښيي چې دی ښه ځوان دی، خو څومره چې به وړاندې ته او د کرملين خواته تلونکو خلکو ته به يې کتل، مشرانو ته به يې د خپل ورته تګ، کالو او څټو حال هېراوه، کرملين ته چې ورسېد، نور نو په دې غم کې و چې تر پښو لاندې نه شي او په غوڅه يې خپلې څنګلې دې ته اړم کړې، چې د ګڼې ګوڼې مخه ونيسي، په پوځي ډوله او جنګيالي تګ چې د هغه د ټينګ تکل څرګندونه يې کوله، وړاندې روان و. خو د يوې کوڅې په ګرځنې کې هم د خلکو په دا سې يوې ګڼه ګوڼې کې چې دده په ګوګل کې د هېوادپالنې له را الوتلی توفان نه خبر نه و، او دا ګڼه ګوڼه په دې نه پوهېده چې له سپېڅلو هيلو سره د کرملين پلو روان دی. دی، خلکو دا سې د کرملين ديوال ته ور کېښکوده چې دده د ټولو هلو ځلو او غوڅ تکل سره سره يې پريکړه وکړه، غاړه کېږدي او د دې لپاره ودرېږي چې کرملين ته د روانو ګاډيو لپاره چې له چت لرونکو دروازو لاندې يې تېرېدو انګازې خپرولې، لاره پرېږدي. پيټيا د يوې ښځې، د هغې د چوپړانو او سوداګرو او پيره دارو سرتېرو په منځ کې را ايسار شوی و. په ګرځنې کې تر څو شېبو دريدو وروسته، پرته له هغه چې د رسمي ګاډيو تېريدو ته ستر ګه په لاره شي، هڅه وکړه تر ټولو د مخه وخوځېږي، د خپلو څنګلو په خوځېدو يې په ګڼه ګوڼه کې ځان ته د لارې د پيدا کولو تکل وکړ، خو هغه ښځه چې دده ترڅنګه ولاړه وه، تر هر چا نه لومړی د پيټيا له څنګلونه په عذاب شوه او په خواشينۍ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغه کړل:

-څه در شوي زلميه ! څه زورونه وهئ ! ټول ولاړ دي، کومې خواته ځئ؟

چوپړ هم خپلې ځنګلې وخوځولې، ځانته يې د لارې د پيدا کولو هڅه وکړه او وې ويل:

-ټول همدا سې زورونه وهي ! او پيتيا يې په يو وار پورې وهلو د دروازې يو ګوښې پلو، چې يو خوسا بوی ترې راته، ورکېښکود.

پيتيا هغه خولې چې پر مخ يې راروانې وې، په لاس پاکې کړې او د کميس هغه غاړه يې چې په کور کې په خورا زيار د مشرانو په څېر جوړه کړې وه او اوس د خولو له لاسه لمده او ګونځه شوې وه، بيا جوړه کړه.

داسې يې انګېرله چې ښه نه ښکاري او پرېښانه و، که په دې حال ياورانو ته ور نېږدې شي، هغه به څوک ټولو اک ته ورپرې نه ږدي، خو ګڼه ګوڼه داسې بې سارې وه چې هغه نه ځان جوړولي شو او نه کومې بلې خوا ته تلای شو.. همدا چې ګاډی ټولې تېرې شوې، خلک په خوځېدا شول او د ګڼه ګوڼې په څپو کې يې پيتيا هغه لوی ډګر ته يوړ چې له خلکو ډک و، نه يوازې ډګر بلکې د هغه په شا وخوا غونډيو، د کورونو پر بامونو او په ټولو ځايونو کې د خلکو د ګڼې ګوڼې، د غږېدا شروشور او د کليسا زنګونو انګازې کولې او ده په ښه توګه د خلکو له خوښۍ نه ډک غږونه او د زنګونو آوازونه اوريدل. په کومه شېبه کې يې داسې وانګېرله چې مخه يې پرانستل شوې، خو ناڅاپه ټولو خولۍ له سره لرې کړې او وراندې يې ودانګل. پيتيا يې داسې سره رااېسار او کېښکوده، چې ساه يې هم اېستلې نه شوه، خو خلکو چغې وهلې:

-هورا ! هورا ! هورا !

پيتيا د پښو پر منګلو دريده، پورې وهل کېده، کېښکودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده ،خو خپلې شا و خوا ته یې Tولاړو خلکو د ګڼې ګونې له کبله هېڅ څه لیدلای نه شو. په ټولو څېرو کې یوه ګډه نښه او یو احساس، له ټولو اک سره د مینې او لېوالتیا احساس لیدل کېده. یو کسبګره ښځه چې د پیتیا تر څنګ ولاړه وه، ساندې یې وهلې او اوښکې یې له سترګو را څڅېدې، هغې ژړل او په ګوتو اوښکې پاکولې،هغې ویل:

-زموږ پلار ! زموږ ملکه، زموږ بابا !

له هرې خوا نه چغې نارې وې: هورا !

د یوې شېبې لپاره دا د خلکو څپه ځای پر ځای ودریده، خو وروسته بیا یو ځای وړاندې وخوځېدل.

پیتیا ،خپله خپل ځان نه پېژاند ، غاښونه یې سره کېښکودل او سترګې یې لکه د ځناور راووتې، لاسونه او څنګلې یې وهلې او چغې یې پورته وې.

-هورا !

-هغه داسې چغې وهلې، چې ګواکې چمتو و ،په هغه شېبه کې ځان او نور تر هر څه ځار کړي،خو د هغه له څنګ او شاوخوا نه، ده ته ورته نورو وګړو هم له وحشته په ډکو څېرو همداسې چغې او نارې وهلې او ویل یې:

- هورا !

پیتیا له ځان سره ویل:

-دې ته وایي ټولواک ! نه، نه هغه ته ورتګ، وروړاندې کېدل، زما کار نه دی، دغه کار خورا زړورتیا غواړي، پیتیا ددې خبرو سره سره بیا هم هماغه شان په ناهیلۍ وړاندې زور واهه او هڅه یې کوله د خلکو په ګڼه ګونه کې ځان ته د مخ تګ لاره پیدا کړي. تر ده نه وړاندې ډلې،ترشا یې یو ځای تش ولید ،په یوه شېبه کې یې د پراخې ځمکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوروالۍ تر سترګو شو ،خو په دې وخت کې د خلکو څپه وخوځېده او د شا پلو وتمبول شوه. (پولیسو خلک چې ټولو د ټولواک پلو یو بل پورې وهل، شا ته تمبه کړل او ټولواک له خپلې ماڼۍ نه د اوسپینسکي کلیسا ته ورغی). په دې وخت کې ناڅاپه د پیتیا پر ککرې څو سوټې او ګوزارونه ولګېدل او دا سې سرسام شو چې سترګې یې تورې او بېسده شو. کله چې بېرته په سد شو ، یو روحاني سړی یې پر سر ولاړ و ،هغه چې اوږدې خړې کوڅۍ یې له څټه ښکاریدې، اوږد ځانګړی شین بخون کمیس یې پرغاړه، ګمان کېده چې د پاپ مرستیال و. دغه سړي په یوه لاس هغه،ترتخرګ لاندې ونیو او په بل لاس یې د خلکو د پورې وهلو مخه بنده کړه. دغه سړي وویل:

- دا زلمی مو لاندې کړ. دا څه حال دی، ترپښو لاندې شو ، سا به یې وخېژي !..

ټولواک د اوسپینسکي کلیسا ته لاړ، د خلکو ګڼه ګوڼه بېرته لږ آواره غوندې شوه. هغه روحاني سړي، پیتیا چې سخت یې رنګ الوتی او په سختۍ یې سا اېستله، د هغه توپ خواته چې د کرملین ماڼۍ ته نږدې ولاړ و (شاه توپ) یووړ. د یو څو تنو په پیتیا زړه خوږ شو ، خو ناڅاپه د ټولو خلکو پام وروا وښت او د هغه شاوخوا ته لویه ګڼه ګوڼه جوړه شوه. یو څوک چې نږدې ورته ولاړ و ، د هغه لاس راونیو اویو چا یې د کالیو تڼۍ خلاصولې. هغه یې پر توپ کېناوه او د نامعلوم دښمن په نامه یې کوم چا ته چې دغه زلمی یې ترپښو لاندې کړی و ، ښکنځلې پیل کړې.

یو چا ویل:

- هېڅ نه پوهېږئ چې څه کوئ؟ دا خوارکی ماشوم یې لاندې کړی. .. دا څه حال دی، وژل دي. .. ورته ګوره ! رنګ یې سپین تښتېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيتيا ډېر ژر په سد شو، اننګو ته يې وينه راورسېده. دردونه يې کم شول او د دې رنځونو په بدل کې يې د لوی توپ پر سر يې ښه ځای پيدا کړ، هغه ځای چې له هغه نه يې غوښتل ټولواک چې اوس بايد ببرته له کليسا نه راستون شوی و، وګوري. پيتيا نور ټولواک ته د خپل وړانديز د وړاندې کولو حال هېر کړی و، د هغه ټوله نيکمرغي په دې کې و چې لږ تر لږه يو وار ټولواک ووينې...

د اوسپينسکي په کليسا کې د ټولواک د راتګ په وياړ ځانګړې دعا او له ترکانو سره د روغې د تړون له امله د شکر او مننې پر ځای کولو په وخت کې خلک لږ څه، خواره واره شول. د کوآس (د اوربشو او ډوډۍ نه جوړې شوې شربت) او پتېرو خرخوونکي، چې د پيتيا هغه ډېرې خوښېدې، په لوړ اواز د خرڅلاو غږ کاوه او کرار کرار لرې کېدل. يوې ښځې خپل څېرې شوی شال ښوده او ويل يې چې هغه يې خورا په لوړ بيه اخېستی و... بل ويل چې وريښمينې ټوټې خو هسې هم ډېرې ګرانې دي. د پاپ مرستيال، چې پيتيا يې ژغورلی و، د هغه ورځې د لمانځنې په اړه خلکو ته غږېده... او څو ځله يې په خپلو خبرو کې داسې کلمې ادا کړې، چې پيتيا نه پرې پوهېده...

ناڅاپه د رود له غاړې نه د توپ د ډزو آواز واوريدل شو. (دا ډزې له ترکانو سره د روغې په وياړ کېدې) د خلکو څپه په تلوار او ګېنۍ سره د رود د غاړې پلو ور وخوځېده او ټولو دې ته کتل، چې توپونه څنګه ډزې کوي. پيتيا هم هغه خوا د دانګلو تلوسه وکړه، خو د پاپ مرستيال، چې هغه يې تر څارنې لاندې نيولی و، هغه پرې نښود. د توپونو ډزې لا همداسې روانې وې چې افسران، جنرالان او ياوران په چټکۍ له کليسا نه راووتل، تر هغه نه وروسته ځېنې نور کسان، خو نه چندان په چټکۍ هغو پسې راووتل او هغه خلک چې د توپونو د ډزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننداري ته تللي وو ، بېرته راستانه شول. او په پای کې څلور تنه نور کسان، چې دريشي يې اغوستې او پر ټټر يې نښانو او صليبونه ځړوند وو ، له کليسا نه راووتل او بيا يې ناري يې وهلې:

- هورا !هورا !هورا !

پيتيا چې غږ يې ساندو اخېستی و ، له هغو کسانو نه چې دده شاوخوا ته ولاړ وو ، وويل:

- کوم يو دی؟ کوم يو دی؟ خو چا ځکه ځواب نه ورکاوه چې ټول د ټولواک د ليدو په خيال کې ډوب وو. پيتيا چې سترګې يې د خوښۍ له اوښکو ډکې وې،د اوښکو د تتې پردې له شا نه يې يو تن ځانته د ټولواک په ګمان په نښه کړ ، که څه هم هغه ټولواک نه و ،خو خپله ټوله لېوالتيا يې ورو ښکاره کړه او له شوق او لېوالتيا نه يې چغې وهلې:

- هورا !هورا !

هغه داسې چغې وهلې چې نور يې غږ خپل غږ ته ورته نه و ، هورا يې وېستلې او پريکړه وکړه چې بل ورځ به هرومرو پوځ ته ځي.

د خلکو څپې ټولواک پسې منډې وهلې، هغه يې تر ماڼۍ پورې بدرګه کړ او بيا سره خواره واره شول. که څه هم وخت ناوخته و ،خو پيتيا لا ځکه هم نه وه کړې، خولې يې له سروځان نه څڅېدلې، هغه کورته نه لاړ او له هغو خلکو سره که څه هم څه يې خواره واره شوې وي خو د پاتې شويو شمېر هم لا کم نه و ، د ماڼۍ تر مخې، هلته چې ټولواک د غرمنۍ لپاره ننوتلی و ، ودريد او همداسې چې ګواکې کوم څه ته سترګه په لاره وي، د ماڼۍ کړکيو ته کتل...

د غرمنۍ په وخت کې وليبوف،له کړکۍ نه د باندې وکتل او وې ويل:

- خلک لا د دې هيله مند دي چې ستاسو مبارک حضور ووينې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمنۍ پای ته ورسېده او شاه چې يوه پتيره يې په لاس کې وه، خوړه يې او برنډې ته ووت. خلک او د هغو په ډله کې پيتيا د برنډې خواته ورودانګل.

خلکو او له هغو سره پيتيا نارې وهلې:

- زموږ ملکه ! زموږ پلاره ! هورا باباجانه !

او بيا ښځو، څو تنو نارينو چې په زړه نري وو او پيتيا له نيکمرغۍ نه وژړل، د ټولواک په لاس کې د پتيره يوه لويه ټوټه چې ماته شوې وه، د غه پتيره د هغه له لاسه د برنډې په کټارې او له کټارې نه پر ځمکې ولويده. و اسکټ پرغاړه ګاډيوان چې تر نورو نه نېږدې برنډې ته ولاړ و، هغې خواته ورمنډه کړل، ټولواک چې دا حال وليد، هيله يې وکړه چې د پتيرو قاب راوړي او هغه يې له برنډې نه ښکته واچولې، د پيتيا سترګې لکه وينې دا سې سرې شوې وې، که څه هم دې ويرې چې بيا ترپښو لاندې نه شي پسې اخېستی و، خو بيا يې هم پتيرې پسې ورودانګل. هغه خپله نه پوهېده ولې، خو بيا يې هم دا غوره ګڼله چې د ټولواک د لاس پتيره تر لاسه کړي. هغه چې ودانګل، هغه د يوې بوډۍ پښه تر پښو لاندې کړه چې هڅه يې کوله، پتيره تر لاسه کړي. که څه هم ښځه پر ځمکې لويدلې وه، بيا يې هم د پتيرې د لاس ته راوړلو هڅه کوله. پيتيا په زنګانه د هغې لاس پورې واهه، پتيره يې را پورته کړه، او ګواکې له دې ډاريده چې ببرته پاتې نه شي، بيا يې په رمباړو چغې کړل: هورا ! هورا !

ټولواک لاړ او تر دې نه وروسته، د خلکو زياتره شمېر خواره واره شول. له هرې خوا نه د خلکو بېلابېل او په لوړ آواز غږونه اوريدل کېدل:

- ما خو ويل چې بايد صبر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیتیا که څه هم ډېر نیکمرغه و ، خو کورته د تګ او دې خیال چې د هغې ورځې نیکمرغۍ پای ته رسېږي، دده پر زړه د غم څپه راخوروله. نو هماغه و چې د کرملین نه وروسته دی،نه خپل کور بلکې د خپل انډیوال ۱۳ کلن ابولینسکي چې غوښتل یې پوځ ته لاړ شي، ورغی. خو کله چې خپل کورته ورسېد په ډاګه یې وویل که دی څوک پوځ ته پرې نه ږدي، دی به له کوره وتښتي. بله ورځ ګراف ایلیا اندریوویچ سره له هغه چې لا پوځ ته د زوی غوښتنې یې پوره نه وې منلې، په دې لټه کې شو چې پیتیا د پوځ په داسې ځای کې، چې ګواښ یې لږ دی وګماري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲

درېيمه ورځ د مياشتې په **۱۵** مه نېټه د سلابو د سکي ماڼۍ تر مخې بې شمېره ګاډۍ ولاړې وې.

د ماڼۍ صالونونه ټول ډک وو، په لومړي تالار کې په رسميو دريشيو کې اعيان راټول وو، په دويم تالار کې شين جامې رېږور سوداګر چې ټټرونه يې نښانونو ګاڼلي و، د اعيانو او مخورو په تالار کې خوځښت او شروشور ډېر وو. لومړي کچه لوړ چارواکي، د ټولواک ترانځور لاندې، يوه ګرد ميز شاوخوا ته په داسې څوکيو چې لوړې شايې لرلې ناست وو، خو د دغې ډلې زياترو هغو په تالار کې چکر واهه.

ټول اعيان، هماغه کسان چې پيير هره ورځ، يا په کلو کلو بيا هغه ليدلي وو، ټولو رسمي جامې اغوستې وې، ځېنو يې د ايکاترينې د دربار، ځېنو يې د پالاسکي د دربار، يوې ډلې بيا د الکساندر د زمانې او چا هسې درباري کالي اغوستي و. دغو يو ډول رسمي جامو (ټولو رسمي جامې اغوستې وې) ددغو سره ناورته او په عمر کې زيات توپير لرونکو خو ټولو سره آشنا خلکو پرغاړه، هغو ته يو عجيب او پارونکې بڼه وربښله. د عمر خوړولو څېرې تر ټولو نه په زړه پورې وې. يو ړوند، بل بې غاښو، بل بيا تک شين سر، د بل تن بيا تکه ژيړه څېره، هغه د بل بيا پړسېدلې، خو رنګ الوتې بشره، يو نيم يې ډنګر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ يې ګونځې ګونځې وو. د دوی زياتره ناست او چپ وو، يو نيم به ګرځېده راګرځېده او تر ځان نه له ځوانانو سره به غږېدل. دلته هم د ټولو په څېرو کې، لکه هغه شان چې پيتيا له کرملين سره د ولاړو خلکو په څېرو کې ليدلي وو، يو ډول حيرانوونکی تضاد څرګند و. د کومې عمومي رسمي يا عادي پېښې د پېښېدو انتظار يا د باستون د لوبې د پرونۍ بايلودې خبره، يا د آشپز پتروشکا غمونه، يا د زينايېدا د روغتيا خبرې او يا هم...

پيير هم له سهاره، هماغه د سردارۍ جامې چې نور نو ورته تنګې برېښېدې اغوستې وې او دده آزاده خوځېدا يې آزارولې، په هماغه تالار کې ګرځېده راګرځېده. هغه خورا ګېنې او ناآرامۍ پسې اخېستی و... د هغه پام ،ملت ته د بلنې په وينا کې، دې خبرو ډېر وراړولی و، چې په کې ليکل شوې وې:

-ټولواک دده لپاره پلازمېنې ته راځي چې له خلکو سره خبرې اترې وکړي.

د هغه دا خبره ډېره خوښه شوې وه. هغه د يوې سترې پېښې، پېښېدو ته سترګه په لاره و، هغه چې د ملت په نامه د ټولواک وينا ولوستله شوه، شروشور ګډ شو او بيا ټول خواره او ډله ډله شول، هر ډلې په جلا توګه خبرې اترې پيل کړې. پيير، ټول هغه څه چې ويل کېدل، اورېدل. له ورځنيو خبرو چې تېر شو ،دا خبره هم څېړل کېده، چې د ټولواک د راننوتلو په وخت کې د اعيانو مشران چېرې ودرېږي، د هغه په وياړ جوړېد ونکی د نڅا بنډار بايد په کومه نېټه جوړ شي، مېلمانه بايد په څو ډلو وويشل شي يا د مسکو ټول سرداران او مخور په يوه ځای کې ودرېږي او داسې نورې نورې خبرې.. خو کله چې به خبره د جګړې شوه، د هغه څه لپاره چې اعيان او مخور راټول شوي وو، ټول به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو ځرګندونو په ځرګندولو کې حیران پاتې کېدل او یا به یې په خپلو خبرو کې شکمن او نا ټاکل کېدل، نو له دې کبله به دوی زیاتره هیله کوله وئه غږېږي او یوازې غوږ ونیسي.

د منځنـي عمـر یـو سـړي، مېړنی،ښکلی چې د سـمندري پـوځ د متقاعد افسر دریشي یې اغوستې وه، په یوه تالار کې ناست و، غږېده او پر هغه خلک ورټول شوي وو. پېیر همدغې ډلې ته ورننوېږدې او هغوی ته غوږ شو. ایلیا اندریوویچ چې د ایکاترینې د زمانې ځانګړې جامې یې پرغاړه وې ،له ټولو سره آشناو او د خلکو په منځ کې ښکته پورته ګرځېده، خوږه موسکا یې پرشونډو وه، همدې ډلې ته ورننوېږدې شو، همالته ودرید او د خپل عادت له مخې یې په ورین تندي او خوږه خندا د اورېدونکي خبرو ته غوږ ونیو، دمننې په نښه یې سر ښوراوه. د سمندري پوځ متقاعد افسر په زغرده او زړور غږېده، دغه حالت نه یوازې د هغه د اورېدونکو له بشرو نه ځرګند و، بلکې د ځېنو هغو کسانو له حالته چې پېیر په آرامۍ هغو ته کتل او هغوی په کرار یا مخ ترې اړاوه او یا ترې تلل هم له ورایه ښکارېده. پېیر د خلکو په ګڼه ګوڼه کې وړاندې لاړ. په خورا ځیر یې هغه ته غوږ ونیو او پوه شو چې ویناوال د لیبرال په اړه د هغه تصورنه چې ده درلود، بل ډول ربښتینی لیبرال دی،دغه د سمندري پوځ متقاعد افسر په خپل سندریز صاف غږ چې اعیان یې لري، په هغې خوږې غږېدا چې د «ر» توری لږ څه غوړ ادا کوي او ځېنې بیواک غږونه لنډوي غږېده. هغه شان چې دوی په کافي یا هوټل کې سپارښتنه کولې: (چای مې راوړه – پیپ مې ولګوه) او داسې نور. هغه په پیاوړي غږ او سندریزې بڼې چې دده خپل عادت و، غږېده او ویل یې:

- زموږ یې څه چې د سمولینسک خلک ټولواک ته سړي ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر د سمولینسک خلک زموږ برخلیک ته کي که څنګه؟ که د مسکو نجیب اعیان وغواړي، کولای شي خپله سربښند نه په بل ډول ټولواک ته څرګنده کړي. آیا موږ د ۱۸۰۷ کال د جنګیالو ټولول او لېږل هېر کړي دي؟ یوازې کشیش (هغه کشیشان په دې نامه یادیدل چې د سړو په ټولولو او جګړې ته لېږلو کې یې ګډون درلود) غله او تالانګران په دې بهیر کې خپلې مزې او ګټې کوي.

ایلیا اندریوویچ چې خوږه موسکا یې پرشونډو خوره وه، د منني په نښه یې سر ښوراوه.

- اوس نو ستاسو دغو داوطلبو جنګیالو سړو دولت ته څه ګټه رسولې ده؟ هېڅ ! څه ګټه، هغوی یوازې او یوازې زموږ اقتصاد تالا والا کړ. تر هغو نه همدا خپل جلبیان ښه دي. ستاسو دا داوطلب جنګیالي چې بېرته راستنېږي، هغه به نه سرتېري وي او نه رعیت، یاغي باغي به وي او چورو تالان به جوړوي. زموږ اعیان او مخور دې ته چمتو دي، چې تر خپل ټولواک نه ځان ځار کړي. موږ خپله ځو او نوي سرتېرو راجلبوو، په خورا لېوالتیا او مینې یې وویل:

- ټولواک دې موږ ته یوه اشاره وکړئ ،موږ ترې ځارېږو !

ایلیا اندریوویچ په خون، خوندلاړې تر ستونې تېرې کړې، پښیر یې پورې واهه، خو پښیر غوښتل خپله څه ووایي. هغه لږ وړاندې لاړ، مګر لا نه پوهېده چې ولې او له څه نه ځان پیاوړی احساسوي او څه ووایي. همدا چې هغه خوله پرانسته چې څه ووایي، یو سناتور چې یو غاښ یې هم په خوله کې نه و او دده تر څنګ ولاړ و او څېره یې ځیرکه او خواشینې ښکاریده، د پښیر خبرې پرې کړې. داسې برېښېده چې په اداره، خبرو اترو، لارښوونو، سپارښتنو، پوښتنو او ځوابونو کې پوره تجربه لري. هغه چې خوله یې له غاښو تشه وه، په آرام خو اوریدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږېي وويل:
- ښاغلی جنابه ! زه داسې تصور کوم چې او سنيو شرايطو ته په پام، موږ د دې لپاره دلته نه يو راغلي چې د دولت د ګټو په اړه وغږېږو او په دې هکله وغږېږو چې د کوم پوځ جوړول ښه دي، د داوطلبو جنګيالو، که د عادي جلبي سرتېرو ؟ موږ دلته راغلي يو چې ټولواک ويار رابښلی او موږ يې رابللي يو. پريکړه او قضاوت په دې اړه چې د پوځ پياوړتيا له کومې لارې او څنګه وشي، هغه خبره ده چې هغه بايد لوړو چارواکو ته پرېږدو.

پيير، د خپلو تلوسو لپاره د ځرګندولو لاره پيدا کړه او پرسناتور يې چې د اعيانو، ويناوو لپاره يې لاره جوړه کړې وه او غوښتل خپلې تند لارې اند ښښنې پر نورو وروتپي، ورو دانګل، وروړاندې شو او د هغه خبرې يې پرې کړې. پيير خپله هم نه پوهېده چې څه غواړي وو ايي، هغه چې خپلې کتابي روسي سوچه خبرې کله ناکله له فرانسوي سره ګډولې او په خورا شوق يې خبرې پيل کړې:
- جناب عالي به ما وبښي !
(پيير د غه سناتور ښه پېژاند، خو دلته يې ښه وګڼله چې په خورا رسمي بڼه هغه ياد کړي) که څه هم زه د دغه ښاغلي دا خبرې نه منم (لږ وځنډېد، ځکه غوښتل يې وو ايي، تر مانه د مخکې ښاغلي ويناوال) له دغه ښاغلي سره چې د هغه د آشنايۍ ويار نه لرم، موافق نه يم، خو په دې باور يم چې موږ يوازې د خواخوږۍ او د احساساتو د ځرګندولو لپاره دلته نه يو رابلل شوي، بلکې بايد هغه خبرې وڅېړو چې څنګه د خپل هېواد د ژغورنې لپاره د مرستې لارې ولټوو، هغه په لا لېوالتيا دوام ورکړ:
- زه داسې انګېرم چې ټولواک به خپله له دې راضي نه وای چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د رعیت او شتمنیو خاوندان یوازې هغه ته سړي برابر کړو ، هغه ته یې وسپارو ، توپونو ته یې غوښه برابره کړو ، بلکې ده ،موږ مشورې ته راغوښتي یو.

د دغې ډلې ډیرو اوریدونکو چې د سناتور له ملنډو ډکه موسکا ولیدله، د پییر خبرې یې خورا آزادې وګڼلې،کرار کرار خواره شول، خو یوازې ایلیا اندریوویچ د پییر خبرې خوښې کړې، هماغه شان چې د سمندري پوځ د ماښو خبرې یې خوښې شوې وې. د سناتور خبرې یې هم خوښې شوې وې، ځکه هغه د هر ویناوال، د وینا وروستې خبرې د خپل طبیعت سره برابرې ګڼلې.

پییر دوام ورکړ:

- زه په دې باور یم،مخکې له هغه چې ددې خبرو په اړه وغږیږو ، له ټولواک نه هیله وکړو ، په خورا درناوي له ټولواک نه پوښتنه وکړو چې زموږ د پوځ او سنی شمېر او حالت موږ ته ځرګند کړي او بیا هغه وخت.. خو پییر خپلې خبرې ځکه پای ته ونه شوې رسولې، چې ناڅاپه له هرې خوا تر غندنې لاندې راغی. تر ټولو نه زیات پر هغه د هغه پخوانې ملګري، د باستون د لوبو ښه ماهر، ستیپان ستیپانوویچ اپراکاسین، سخت ګوزارونه کول. هغه، تل له هغه سره ښه اړیکي او خواخوږي لرله. په هغه ورځ هغه رسمي دریشي اغوستې وه. هغه د دغې رسمي جامو او که د بل کوم څه له امله، داسې بدل شوی و چې پییر په هغه کې د پخواني ملګرتوب یوه نښه هم پیدا کولای نه شوه. د ستیپان ستیپانوویچ پر څېرې د زړښت ګونځې او د قهر پرده راخوره شوې وه او پر پییر یې همداسې چغې وهلې:

- تر هر څه لومړی ستاسو حضور ته غواړم ځرګنده کړم، موږ دا حق نه لرو چې له ټولواکه پوښتنه وکړو. دویم دا چې که د روس اعیانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخورو دا حق لرلای، ټولواک نه شو کولای مورږ ته ځواب راکړي. پوځ تل په خوځېدا کې دی. د هغه خوځېدا د دښمن، خوځېدا پورې اړه لري، وژل کېږي، ټپي کېږي او نوي قوتونه ورته راځي. ..

یو بل غږ، داسې د ځلو یښتو کالو د یوه منځنۍ ونې سړی، چې پښیر، هغه پخوا هم د جټانو په کور کې لیدلای و، په دې پوهېده چې هغه د پاڼو په لوبه کې خورا سست دی، اوس یې رسمي جامې اغوستې او په ناپېژندونکي بڼه یې کره وړه بدل شوي دي، د پښیر خواته راوړاندې شو، د اپراکسین خبرې یې پرې او په لوړ آواز یې وویل:

- هوکې ! اوس د خبرو اترو وخت نه دی، اوس د کړو وار دی. جګړه روسیې ته راننوتلې ده. زموږ دښمن د روسیې د وژلو په تکل راروان دی، راروان دی چې زموږ د پلرونو ادیروته سپکاوی وکړي، راغلی دی چې زموږ ښځې او ماشومان یرغمل او وتښتوي.

هغه خپل ټټرو ډباوه، د سترګې کاسې یې داسې سرې وې چې تا به ویل له وینو ډکې دي، هغه چغې وهلې:

- موږ به ټول پاځو ! ټول به د پښو پر ځای پر سر وخوځیږو، ټول د ټولواک بابا په خاطر !

یو څو داسې آوازونه چې دغه خبرې یې منلې، له ګڼه ګوڼې نه واوریدل شول:

- موږ روسان یو او خپله وینه، ځان او سر له ایمان، تخت او هېواد نه ځارو. که موږ رښتیا د خپلې مېنې رښتینې بچیان یو، باید اپلتې پربېږدو او ټولې اروپاته وښیو چې روسیه څنګه له روسیې نه ځان ځاروي، پاځېږي او ساتنه یې کوي.

پښیر، غوښتل چې ځواب یې ووایي، خو ونه یې کولای شو یوه کلمه هم ووایي. هغه داسې وانګېرله چې د هغه د وینا غږ، هره غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په کې ونغښتل شي، د دغه اعيان تر لېوالتيا نه ډکو ويناوو نه به سند ريزه او لوړه نه وي.

ايليا اندريوويچ، د دغې ډلې شاته ولاړ و او هماغه شان يې د ويناوال خبرو ته د منني په نښه سر ښوراوه، ځينو خو په خورا زړورتيا د ويناوال پلو ته مخ ورراړاوه او تر هرې خبرې نه وروسته به يې چغې کړې: سمه ده، همداسې ده !

پېير، غوښتل وو ايي چې دی چمتو دی خپله شتمني، خپل ځان او خپل وګړي او هر څه هر څه ځار کړي، خو د دغو مرستو لپاره لومړی بايد پوه شي، حالات څنګه دي، خو هغه چا نه پرېښود وغږيږي. د پې سره هممهاله ډېرو خلکو چغې وهلې او خبرې يې کولې، لکه هغه شان چې ايليا اندريوويچ نه شو کولای ټولو ته سر وښوروي. خلک د دې ډلې خوا ته راټوليدل او بېرته خوريدل، بيا ټوليدل او بيا خوريدل، خو په پای کې د يو ستر شرو شور نه وروسته د خوځېدو په يوې چټکۍ څپې د هغه لوی ميز خواته چې په لوی تالار کې اېښودل شوی و، ورغلل. پېير نه يوازې خپله هغه خبره چې غوښتل يې وکړي، ونه شو کړای، بلکې هر وار به يې چې د خبرو تکل وکړ، په تربګنۍ به يې د هغه خبرې پرې کړې او په کرکه کرکه به يې مخ ترې واړاوه.. تر هغه اعيانه وروسته ډېرو ويناوالو وينا واورولې او ټولو په هماغه ژبې او د هغه په ملاتړ يې خبرې کولې. د هغه زياترو خورا ښې او ځينو خو ډېرې نوې خبرې کولې.

د «روسي ويستنيک» د مجلې مدير ګينکا، (چې ځينو هغه پېژندلی و، ځکه د خلکو له منځه د غږونو انګازه شوه، چې ناري يې وهلې: ليکوال، ها ليکوال !) وويل: د دوزخ ځواب بايد په دوزخ ورکړو او يادونه يې وکړه چې ماشوم د تالندې د برېښنا ليدو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشالېږي او خاندي، خو موږ به د هغه ماشوم په څېر ونه او سو.

د تالار په وروستيو کتارونو کې چا تکرار کړه: سمه ده، سمه ده، تالنده، د تالندې غږ!

د خلکو څپه، لوی ميز ته چې رسمي دريشي کړي سپين ږيري، عمر خوړلي مخور او ياکلن چې څه کم د ټولو پر ټټرونو نښانونه يا صليبونه راځړوند وو، ناست وو. پيير نښږدې ټول يا د هغو په کورونو کې، يا له خپلو نوکرانو ياورانو سره، يا په کلوب کې او يا د باستون په لوبه کې ليدلي او پېژندل. د خلکو څپه نور چور ميز ته ورنښږدې او شروشور همداسې دوام درلود. ويناوال يو په بل او کله هم په ګډه غږېدل. شاته ولاړو ځېنو کسانو به چې کله د ويناوالو غږ وانه وريد او يا به په وه شول، چې خبره سمه ويل شوې نه ده، په تلوار به يې د ويناوال ناويل شوې يا ناسمه خبره تکرار کړه.. پيير سخت په قهر او ګبنې اخېستی و.. هغه که څه هم له خپل خياله منکر نه و، خو په زړه کې يې ځان ګنهکار انګېره، مګر بيا يې هم ځان برحقه ګاڼه. هغه داسې چغه کړه، چې ګواکې غواړي د نورو غږونو او چغو په منځ کې خپل غږ، ترخلکو پورې ورسوي او وې ويل:

- زما موخه يوازې دا وه چې، که موږ په اړتيا و پوه شو، زموږ د شتمنيو او سرځارول به لاګټور وي.

هغه ته نښږدې يوه بوډا هغه ته وکتل، خو سمدلاسه يې هغه بل غږ ته پام وروا ړاوه چې د ميز له بله سره راپورته شو. يو بل چغې وهلې:

- مسکو به تسليم شئ! مسکو به د خپلو ګناهانو کفاره ورکوئ.

بل بيا چغې وهلې:

- هغه د بشر دښمن دی! اجازه راکړئ خبره مې وکړم. هغه لا پسې چغې کړې! ګورئ! او ښاغلو! پښو لاندې مو کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

په دې وخت کې ګراف راستوپچین، چې جنرالي دريشي پر غاړه وه، صليب يې پر ټټر و، پليټونه او ستوري پر اوږو، په برنډ ځير ځير غلچک او په چټکو ګامونو د اعيانو په ډله کې، چې لاره يې ورته پرانسته راننوت.، هغه وويل:

- ټولواک به اوس راورسېږي ! زه همدا اوس د هغه له حضوره راغلم. زه داسې تصور کوم، په هغه حالت کې چې اوس موږ يو، ډېرو خبرو ته اړتيا نه شته.

راستوپچين زياته کړه:

- ټولواک وياړ رابښلی، موږ او سوداګر يې رابللي يو.

هغه چې د سوداګرو دا ټول شوي تالار ته اشاره کوله، وې ويل:

- له هغه پلوه په ميليونو نو پيسې راځي،زموږ دنده دا ده چې سړي او داوطلب ورکړو او سر او مال له هغه نه ونه ژغورو. لږ تر لږه دا هغه څه دي چې موږ يې کولای شو.

خبرې اترې يوازې د هغو بوډاګانو ترمنځ چې د ميز شا وخوا ته ناست وو، پيل شوې، دغه مشورې او خبرې له هغه څه نه چې امکان يې لاره ،په چوپتيا او کرارۍ کې وشوې. دغو مرکو ځکه غمجنه بڼه لرله، چې تر کوم غږ او شور نه وروسته به، کله ناکله کوم بوډا په لړزيدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آوازوويل:

-زه يې منم !

هغه بل به بيا ګواکې د نوښت لپاره غږ وکړ:

-زه هم داسې انګېرمه !او داسې نور نور. ..

منشـي تـه سپارښـتنه شـوې وه. داسـې پريکـړه ليـک وليکـي چـې، مسکويان هم د سمولينسکيانو په څېر له هر زړو تنو نه لس تنه سړي، د هغـو د ټولـو اړ وړتيـا سـره ورکـوي. پـه غونـډه کـې ناسـتو کسـانو د هوساينې لپـاره خپلـې څوکۍ سره وړاندې وروسـته کـړې، پاڅېـدل او ګواکې د شخۍ د وېستلو لپاره پـه تـالار کـې وګرځېـدل، يابـه يـو بـل تـه سره نږدې شول، لاسونه به يې سره کېښنکودل او خبرې به يې سره پيـل کړې.

ناڅا په په تالار کې ددې غږ انګازه خپره شوه:

- ټولواک !ټولواک. او ټول د دروازې خوا ته وخوځېدل.

ټولواک پـه هغـه لويه لاره چې اعيانو او مخورو د خپلو دوو کتارونو په منځ کې ورته پرانسته، تالار ته راننوت.

پـه ټولو څېرو کې د ويرې او هيله مندۍ نښې ښکاره وې. پېـير لـه ټولواکـه پـوره، لـرې ولاړ و او نـه يـې شـو کـولای د هغـه ټـولې خبـرې واورې، خو د هغو لږو خبرو نـه چـې هغـه اوريـدې، دومـره پـوه شو چې ټولواک له هغه ګوابنه چې روسيه ورسره مخامخ ده او لـه هغـو هيلـو نـه چې دی،د مسکو اعيان او مخوريې لري،لرې غږېږي.

يو چا ټولـواک تـه هغـه پريکـړه ليـک واوروه چـې څـو شـېبې مخکـې دغو اعيانو او مخورو ، ليکلی و.

د ټولواک ريږديدونکی غږ پورته شو او وې ويل:

- ښاغلو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شروشور چې په تالار کې خپور شوی و ، بېرته چپ او پېير د ټولواک له خونده ډک ، انساني او اغېزمن غږ په ښه توګه واورید ، چې وویل:

- ما هېڅکله د روس د اعیانو او مخورو پر مېړانه شک نه لاره، خو نن مېړانې ته، ستاسو لېوالتیا تر هغه نه هم زیاته ده چې ما یې هیله لرله. زه د وطن په نامه له تاسو نه مننه کوم. ښاغلو ! د کړو وخت رارسېدلی دی. وخت سره زر دي..

ټولواک چپ شو او خلک، لاپسې د هغه شا وخواته ورنېږدې شول، له هرې خوا نه د شعارونو نارې او غږونه پورته شول.

یو غږ د شا له کتارونونه واورېدل شو:

-هوکې ! تر ټولو ګران څه، د ټولواک خبرې دي.

ایلیا اندریوویچ، هېڅ نه و اورېدلي، خو په خپله ښه په هر څه پوه شوی و.

ټولواک د اعیانو له تالاره د سوداګرو هغه ته ورغی. هغه لس دقیقې هلته پاتې شو. هغه شان چې وروسته څرګنده شوې وه، همدا چې ټولواک له سوداګرو سره خبرې پیل کړې وې، اوښکې یې له سترګو راشېوه شوې او د ژړا په حال کې یې خپله وینا اورولې وه. پېیر ټولواک هغه وخت ولید چې له دوو سوداګرو سره مل له تالاره وت. د هغو یو تن چې څورب، خیټه ور و، پېير پېژانده او بل هغه یې خوار، ډنګر ژیړ مخی او داسې کوسه و، چې ږیره یې یوازې د زنې پر سر وه. هماغه د سوداګرو د جرګې مشر و. دواړو وژړل. د ډنګر په سترګو کې اوښکې ښکارېدې، خو څورب هغه لکه ماشوم داسې ساندې وهلې او همداسې یې ویل:

- ستاسو اعلیحضرت نه مو ، مال او ځان قربان دي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيير په دې شېبه کې له دې احساسه پرته چې چمتو دی، هر هغه څه چې لري، ټول قربان کړي، بل څه نه احساسول. ځان يې د خپلې هغې وينا له کبله چې څو شېبې مخکې يې کړې وه، لږ قانوني رنګ يې لاره ملامت ګاڼه او دې ته سترګه په لاره و چې د هغه کفاره وکړي. پيير چې د ګراف ماموټوف ،له دې پرېکړه چې يو غونډ به ټولواک ته ببښي، خبر شو ، همالته يې راستو پچين ته څرګنده کړه چې هغه زر تنه اربکي، د هغو له ټولو اړتياو او خرڅ سره برابروي.

بوډا ګراف رستوف، نه شو کولای بې له ژړا او ساندو هغه څه خپلې ښځې ته ووايي چې اوريدلي او ليدلي و ، او سمدلاسه يې د خپل زلمي زوی هغه هيله چې پوځ ته ځي ومنله او په خپله لاړ چې هغه په پوځ کې ثبره کړي.

ټولواک بله ورځ له مسکوه لاړ، اعيانو ټبرته رسمي دريشۍ او جامې ووېستې او ببرته په خپلو کورونو ، بنداړونو او کلوبونو کې سره اخته شول او له هغه سره هممهاله يې،خپلو سړو ته د اربکيو د راټولولو او لېږلو سپارښتنه وکړه او خپلو هغو کړو ته هک حيران و چې دوی ترسره کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم کتاب

# دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

ناپليون له دې کبله له روسيې سره جګړه پيل کړه چې هغه نه شو کولای د درزدين سيمې ته له تګه ډډه وکړي. هغه نه شو کولای د هغه وياړه مست نه شي، چې ده ته وربښل شوی دی، هغه نه شو کولای د پولينډ د پوځي دريشۍ له اغوستنې ډډه وکړي او د اوړي سهارنۍ کوډو ته غاړه کېنږدي او هغه نه شو کولای د کوراګين او بالاشوف، په وړاندې خپله کرکه ونه ښيي. ټولواک الکساندر، هېڅ ډول روغې ته ځکه غاړه نه کېښوده چې انګېرله يې ده ته سپکاوی شوی دی. بارکلي ديتولی، هڅه کوله په خورا ښه توګه د پوځ لارښوونه وکړي، خپلې دندې په ښه بڼه ترسره کړي او ځان ته د غوره پوځي قوماندان نوم او وياړنه وګټي. رستوف پر فرانسويانو په يرغل کې ځکه مېړانه ښودله چې نه يې شو کولای په آواره ځمکه او کراره ژوند آس يرغه کړي. په دې توګه په دې جګړه کې ټولو بې شمېره ښکيل کسانو د خپلو ځانګړتياوو، ځانګړو عادتونو، خپلو موخو او شرايطو پر بنسټ خپلې هڅه کولې. هغوی ډاريدل، ځانښودنه او پېژندګلوي يې غوښته، خوښۍ کولې، په قهريدل، قضاوت يې کاوه او تصور يې کاوه چې هغوی په هغه څه پوهېږي، چې بايد پوه شي او په خپله خوښه خپلو اهداف ته ور روان دي، حال دا چې دوی ټول د تاريخ په چوپړ کې بې ارادې وسيلې وې او هغه چارې يې سرته رسولې، چې دوی خپله هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې پوهېدل، خو موږ ته، د اوسنۍ زمانې وګړو ته د پوهېدو وړ ده. دا د ټولو چاروا کو نه بدليدونکې برخليک دی. هر څومره چې هغوی د واک په لوړو کچو کې ولاړ وي. په هماغه اندازه يې آزادي او خپلواکي کمه وي.

اوس، د ۱۸۱۲ کـال چـاروا کي، لا پخـوا لـه خپلـو چـارو نـه او دريځونو لرې شوي، د هغوی د خپلو ځانګړو ګټو آن کومه ښه هم پـاتې نه ده، خو يوازې د هغې زمانې نه را پاتې پايلې زموږ مخې ته پرتې دي.

فرضـا د اروپـا وګـړي بايـد د نـاپليون پـه مشـرۍ د روسـيې زړه تـه ننوتلي وای. هلته مړه شوي وای او خپله يې پر ځان خپلـه بـلا راوسـتې وای، د وګړو بې معنی او زورونکي کړه اوس زموږ لپـاره د دغـې جګـړه د ګډونکوونکو نيت ښه څرګندوی. تقدير ټول دغـه خلـک دې تـه اړول، چې همهاله د خپلو ځانګړو ارمـانونو د لاس تـه راوړلـو تـر څنـګ يـوې ستري پايلې ته د رسېدو لپاره هم هڅې وکړي، هغه پايله چې له هغو يو هـم (نـه نـاپليون او نـه الکسـاندر او نـه بـل هـېڅ يـو، د دغـې جګـړې لـه ګډونکوونکو نه) د هغې نه هېڅ تصور هم نه درلود. نن موږ ته دا ښـه پـه ډاګه شوې ده، چې په ۱۸۱۲ کال کې د فرانسـوي پـوځ د تـالان او بربـادۍ علتونه څه وو. هېڅوک له دې نه انکار نه کوي چې د فرانسـوي پـوځ د نابودۍ علت له يوې خوا خورا ناوخته، هغه هم بې لـه هـر ډول چمتـوالي په ساړه ژمي کې د روسـيې پـه زړه کـې د جګـړې پيـل و او لـه بلې خوا د روسيې ښارونو ته د اور اچولو اغېز او د هغه له کبله د خلکو پـه زړونـو کې د دښمن په وړاندې د کرکې راپاريدل، و. خو هغه وخت نه يوازې چا دا اټکل نه شو کولای (هغه څه چې اوس څرګند دي) په نړۍ کې تر ټولو نه خورا ښه اته سوه زريزه، په غوره او ښو جنګيـالو قومانـدانانو سـمبال پوځ به د روسيې پوځ په وړاندې، هغـه خـوار پـه جګړيزو چـارو کـې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربې، د شمېر له پلوه تر دښمنه دو واره کم او ناپوهه قوماندانو پوځ په وړاندې ماته وخوري او تالا والا به شي. نه یوازې هغه وخت چا دا اټکل نه شو کولای، بلکې د روسانو له خوا ټولې هڅې ددې لپاره وې چې یوازې یو بری او چاره ولري او هغه دا چې څنګه روسیه وژغوري. د فرانسویانو هڅې د هغو د ټولې پوځي تجربې او ګوا کې له خپل پوځي نابغه ناپلیون سره سره، ټولې ددې لپاره وې چې د اوړي تر پایه مسکو ته راورسېږي، یعنې هغه څه وکړي چې د دوی پوځ تالا شي.

په هغو لیکنو کې چې د ۱۸۱۲ کال د تاریخي پېښو په اړه لیکل شوي دي،د فرانسوي لیکوالو دا ډېره خوښېږي چې وواېي، چې ناپلیون څومره دخپلو پوځونو د سیمې له پراخېدو نه ویره لرله، څومره د جګړې لېواله و او څنګه د هغه مارشالانو مشوره ورکوله، چې په سمولینسک کې پاتې شي. او نور دې ته ورته ډېر دلایل راوړي چې ثابته کړي، د جګړې ګواښ له هماغو لومړیو ورځو نه په هر څه لاس بری و. روسي لیکوال دوی نه لا زیات ددې لېواله دي دا وواېي چې د جګړې تګلوره له پیل نه د سکیفسکي، د قبیلو د جګړې په بڼه جوړ شوی و (د روس د دولت د جوړېدو نه د مخه د سکیفسکی قبیلو د اوسنۍ روسیې او اوکراین پر زیاترو سیمو واکمني لرله او واک یې د داړومارو ډلو په شان، د غلچکو بریدونو له لارو ټینګاوه) دا په دې معنا چې دښمن وغولوي او د روسیې زړه ته یې ننباسي او بیا یرغل پرې وکړي. څوک تګلوره د پفول، تګلوره ګڼي، څوک یې په خپله د ټولواک الکساندر نوښت بولي او آن د خپلو نظریاتو د تایید لپاره ځینې سندونه او لیکونه هم وړاندې کوي، چې په هغو کې ددغو شان جګړو د پېښېدو نښه موندی شو.. خو که اوس د تاریخ بهیر بل پلو تللای وای او هغه څه چې پېښ شوي دي، نه وای پېښ شوي، نو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشارې او نښې به هم ټولې له مینځه تللي وای. هغه به هم د هغو زرګونو او میلیونونو اشارو او اټکلونو په څېر چې هغه وخت کېدې، ناسمې راوتلای او هېرې شوې وای. د پېښو د پېښېدو په اړه اټکلونو او اشارې تل دومره زیاتې او ډولا ډول دي چې پایلې ته له پامه پرته چې هر څه وي، داسې کسان پیدا کېږي چې وو ایي، ما لا هماغه وخت ویلي و چې دا به همداسې وي، خو دوی دا هېروي چې د دوی د اټکلونو برخلاف هم بې شمېره اټکلونه وو... خو واقعیتونو ټول د هغه څه برخلاف دي چې روسانو او فرانسویانو د هغو اټکل کاوه، ځکه نه روسانو د ټولې جګړې په اوږدو کې د روسیې زړه ته د دښمن د راوستلو تکل لاره، ځکه هغوی د روسیې خاورې ته د فرانسویانو د راننوتلو له هماغې لومړۍ شېبې نه هڅه کوله د هغو مخه ونیسي او ناپلیون نه یوازې د خپلو پوځونو د سیمو د زیاتوالي نه ویره نه لرله، بلکې د هغه برخلاف یې د خپل پوځ له خوا د هر نوي ګام خاورې د لاندې کولو په ویاړ جشنونه او بنډارونه نیول او له هغو نه خورا خوښېده او دغه راز دا هڅه یې کوله چې د پخوا په شان له جګړو سره لاس او ګریوان نه شي.

د جګړې په پیل کې زموږ پوځ ټوټه ټوټه شوي او زموږ یوازینۍ هیله د هغو ټوټو یووالی و. هغه هم لږ تر لږه ددې لپاره چې په منظمه توګه شاته لاړ شو، خو که موږ غوښتي چې د دښمن پوځ د خپلې خاورې زړه ته راننباسو، نو د پوځ یووالي بې ګټې و. ټولواک هم د پوځ د لمسون او په سرتېرو کې د هېواد د مینې د را ژوندي کولو لپاره جبهې ته راغلی و، نه ددې لپاره چې هغوی شاتمبولو ته وهڅوي. که روسانو د پفول د تکل له مخې، هغه ټول مورچلونه د دریسا پرغاړه جوړه کړل، نه د شاته راتګ لپاره بلکې د شاتګ د درولو لپاره و. ټولواک خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندانان د هر ګام شاته تګ له امله ښکنځل او غندل. د ټولواک په تصور کې خو آن د سمولینسک لاندې کېدل نه ځایېدل، بیا د مسکو سوځېدل خو څه کوې. کله چې پوځ یو والی پیدا کړ ،ټولواک له دې کبلــه چــې سمولینســک ، پرته لــه زوروری جګــړې تسـلیم شــوی دی، سوځېدلی دی، سخته کرکه او نارضایت څرګند کړ.

ټولواک داسې انګېرل، خو د روسیې قوماندانانو او د ټول روسیې ملت، شرم د روسیې زړه ته د پوځ د شاته راتګ له امله له دې هم زیات و....

رښتیا او څرګنده خبره دا ده چې د مسکو پلو ته په خپل پرمختګ کې ناپلیون خورا لوی ګواښ نه لیده، نه ټولواک الکساندر او نه روسي قوماندانانو یوه هم. الکساندر او روسي قوماندانانو هېڅکه دا تکل نه لاره، چې ناپلیون وغولوي او د روسیې زړه ته یې راوهڅوي. د ناپلیون بې لارې کول او روسیې ته د هغه راننوتل، بې له هر ډول تګلارې او تکله ترسره شول (هېڅ چا د دغې پېښې د پېښېدو اټکل نه کاوه ) بلکې دغــه پېښــه، د پېچلو لوبو ، کرکو ، هیلو پــه جګــړه کــې د خلکو د ګډون کولو د ارمانو پایله وه، د هغو خلکو او جنګیالو چې له هر هغه څه نه ناخبره و چې وړاندې به پېښېدل، هغوی یې په هېڅ ډول اټکل نه شو کولای او په دې نه پوهېده چې د روسیې د ژغورنې لاره کومه ده. هر څه تصادفا پېښېدل. د پوځونو ترمنځ اړیکي له هماغه پیله وشلېدلې او موږ په څرګنده له دښمن سره د نښتې او دهغه دیرغل د مخنوي لپاره د خپلو پوځونو د یووالي تکل کې شو ،خو دا چې د ښمن خورا زورور و ،موږ له جګړې مخ واړاوه او په چټکۍ شاته لاړوو او په دې توګه مو د سمیلیسک پلو ته د تګ لاره پرنسته...

... بارکلي دیتولی د روسي پوځ یو قوماندان له دې کبله چې بهرنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په پوځ کې هومره ګران نه دی.. باګراتیون د روس د دویم پوځ قوماندان له هغه نه کرکه لري.. او د هغه له هغو سپارښتنو نه چې پوځونه دې سره یو شي، سرغړو نه کوي، شاته راځي..

تولواک جبهې ته راغلی چې په خپل پوځ کې د هېواد پالنې روحیه راوپاروي... په پای کې هغه په دې پلمه چې د پلازمېنې خلک هېواد پالنې ته وهڅوي له جبهې نه ځي او مسکو ته روانېږي..

روسان د راتلونکې جګړې لپاره په خپلو سیالیو، تکلونو، دوکو او چمتوالي بوخت دي، تر هغو چې هغوی، فرانسویان په هغو ځایو کې چې نشته لټوي، هغوی د نیکیفروفسکي پر قطعې برید کوي، هغه تالان او د سمولینسک دیوالونو ته رارسېږي.

باید د سمولینسک ناڅاپې جګړه و منو، ځکه هغه و منو چې لږ تر لږه د خپلو اړیکو رښتیاوالی ثابت کړو. په دې تو ګه جګړه پېښېږي او په هغې کې له دواړو خوا و نه په زرګونه خلک وژل کېږي او ژوند له لاسه ورکوي. سمولینسک د تولواک او د روس د ټول ملت له ارادې پرته دښمن ته تسلیمېږي، خو د هغه ښار خلک چې پوهېږي د دوی والي دوی غولولي او دوکه کړې یې دي، په خپل لاس ښار ته اور ورته کوي، پر خوار او زار حالت، تش لاس په داسې حال کې چې د خپلې ماتې او ورکو په اړه فکر کوي، له دښمن سره د کرکې احساس سره مل د مسکو پلو راخوځېږي. ناپلیون وړاندې او موږ شاته درومو او هغه څه کېږي، چې ناپلیون باید د بري جنډه رپولې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

سردار نیکولای اندریوویچ د خپـل زوی تـر تګـه، یـوه ورځ وروسـتـه شهزادګۍ ماریا ځانته وروغوښته او هغې ته یې وویل:

- نو څنګه اوس دې زړه تش شو؟ له زوی سره دې واچولوم، خوشاله یئ؟ ښه رضا یئ؟ زړه مې خوږېږي، زوربړم. زه زوړ، ناتوانه او تـا داسې غوښتل. ښه ده، ښه ده، اوس نو خوشالې کوه، خوشالې !

تر دې وروسـتـه د یـوې اونـۍ پـه اوږدو کـې بیـا شـهزادګۍ ماریـا لـه خپل پلار سره ونه لیدل. هغه ناروغه و او لـه خپلـې کـوټې نـه د باندې نـه راوت.

د شهزادګۍ ماریـا پـه حیرانـۍ دې تـه پـام شـو چـې پـه دې مـوده کـې مشر سردار، پېغله بوري ین هم نه ده منلې او یـوازنی چـا چـې کـوټې تـه تګ راتګ ورسره کاوه، هغه تیخون و.

تر یوې اونۍ وروسته سردار بیـا لـه کوټې راووت، او بیـا یـې خپـل پخوانی ژوند پیل او په تېره بیـا د ودانیـو د جوړولـو څارنـه او بـاغوانې یې کوله. له پېغلې بوری ین سره یې ټولې پخوانې اړیکې شلولې وو. لـه شهزادګۍ ماریا سره یې په خبرو کې ژبه سړه او دا ښې په کې څرګندې وې چې ګواکې وایې:

- ګوره وینئ ! تا زما په اړه څه خبرې څه جوړې نه کړې؟ تا مې زوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرداراندرې په اړه څه دروغجنې خبرې ونه کړې، چې ګواکې ما له دې فرانسوي سره ګوتې خوږې کړي دي؟ له هغه سره دې خوابدی کړم، خو اوس ګورئ چې نه مې ته په کار يې نه هغه فرانسوي ګکې.

شهزادګۍ ماريا نيمه ورځ د خپل وراره، له نيکولای،جان سره په کوټه کې تېره وله،د هغه سبقونه يې ځارل، خپله يې هغه ته د روسي ژبې او موسيقۍ زده کړې ورکولې، د هغه له روزونکې دوسال سره به غږېده او نيمه ورځ به يې خپل کتابونه لوستل،وخت به يې له بوډۍ مينځې او له هغو خدايي خدمتګارانو سره چې په پټه به د ودانۍ د شا له خوا نه، ددې ديدن ته راتلل، تېراوه. د جګړې په اړه شهزادګۍ ماريا هماغه شان فکر کاوه، لکه ټولې ښځې يې چې کوي. جګړې ته د خپل تللي ورور له کبله خورا خواشينې وه. هغه له جګړې او د هغې له وحشت نه ډاريده او په دې نه پوهېده او دې ته حيرانه وه چې څنګه خلک په بې رحمۍ د يو بل وژلو ته اړباسي، هغه ددې جګړې په اهميت نه پوهېده او هغه يې د پخوانيو جګړو په څېر يوه جګړه ګڼله. سره له هغه چې دوسال، د هغه هميشنی مرکچي د جګړې په لېوالتيا د جګړې بهير څاره، په خورا شوق يې د هغې په اړه خپل عقايد څرګندول، سره له هغه چې ددوی ديدن ته راتلونکې خدمتګارانو، په خورا وحشت، هر يو جلاجلا،په خپله بڼه د جګړې د آوازو او د پيدا شوي کافر او عيسويت ضد او روسيې ته د هغه د راتګ په هکله د خلکو خبرې او کيسې ورته کولې او سره له دې چې ژولۍ، چې اوس په شهزادګۍ دروبتځکايا بدله شوې وه او بيا يې له دې سره خورلندې پيل کړې وه او دې ته يې له مسکو نه د هېواد پالنې نه ډک ليکونه ليکل، بيا هم دې ته جګړه جګړه وه، هېڅ اهميت يې نه لاره او نه پرې پوهېده.

ژولۍ هغې ته ليکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته ګراني خورلنډې ! زه تاسو ته په روسي ژبه ليک ليکم، ځکه زه ټولو فرانسويانو او په هماغه اندازه د هغو له ژبې نه کرکه لرم. زه هغه نه ويلی او نه يې اوريدلی شم.

موږ مسکويان د خپل ټولواک له مينې نه چې د لمانځنې او بې ساري درناوی وړ دی، د مينې د اور په لمبو کې سوځو.

زما خوار ميړه د يهودانو په مسافرتونو کې د زوريدو او لوږو له زغم نه لېونی او سترې شوی دی. دا لا څه کوي ،هغه خبرونه چې ما ته رارسيږي له دې مې لا زيات په عذاب اخته کوي.

هرومرو به مو د اريوفسکی د ميړانې او سرښندنې په اړه اوريدلي چې له خپلو دوو زامنو نه يې غېږ تاو کړې او ورته ويلی دي:

- له هغو سره به يو ځای مرم او بې پتې به نه منو.. او په رښتيا چې د دښمن قوت دوه برابره شو، خو موږ ورته سست نه شو. دا هم تېريږي خو د جګړې وختونه بايد لکه د جګړې د وختونو په څېر ومنو او تېر يې کړو. شهزادګۍ ايلينا او شهزادګۍ صوفيا، ټوله ورځ راسره ناستې وي. موږ خوارې هغه کونډې يو ،چې ميړونه مو ژوندي، خو موږ کونډې يو، په زغنو اوبدلو لګيا يو او په خوږو خوږو کيسو وختونه تېروو.

يوازې او يوازې زموږ تر څنګ ستاسو ځای تش دی.. او داسې او داسې نور دې ته ورته ليکونه. "

شهزادګۍ ماريا، ځکه د دې جګړې په اهميت نه پوهېده چې بوډا سردار هېڅکله د هغې په اړه نه غږيده، هغه يې نه منله او کری ورځ به يې له دوسال سره چې ميز ته به ناست و، او خدای خبر څه به يې ويل، خنديدل به او ژبه به يې داسې ارامه او ډاډمنه وه چې شهزادګۍ ماريا ته به د خبرو وخت نه پاتې کېده او د جګړې په اړه به يې د پلار جاج نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيست.

د جولای د مياشتې په اوږدو کې بوډا سردار خورا ګرځنده او آن چې تاند و تازه و. د نوي باغ او چوپړانو ته د نوې ودانۍ جوړل يې پيل کړي وو. هغه يوازينی شی چې شهزادګۍ ماريا پرې زوريدله، هغه يې د پلار بې خوبي وه. هغه خپل دا عادت چې د خپل کار کوټه کې ويده کېده، بدل کړی و او هره شپه به يو بل ځای ويده کېده. يوه ورځ به يې سپارښتنه وکړه چې د هغه سفري پالنګ په لويه لاره کې کېږدئ، بله ورځ به د مېلمستون پر لويه لاستي لرونکي اوږدې څوکۍ پاتې شو او کله به د هرکلو په کوټه کې پروت و او پرته له هغه چې جامې وباسي سترګې به يې پټې کړې او د پېغلې بوری ين پر ځای به د هغه پتروشکا نومي چوپړ ،کتابونه ورته لوستل او همالته به هماغسې ويده شو. خو کله کله به يې بيا په خوړنتون کې شپې سبا کولې.

د اګست په لومړۍ نېټې د سردار اندرې دويم ليک راورسېد. په لومړی ليک کې چې د هغه تر تګ نه ژر وروسته رارسېدلی و، په خورا درناوي سردار اندرې له خپل پلار نه له دې کبله بښنه غوښتې وه، چې ځان ته يې اجازه وکړې وه،له پلار سره مخالفت وکړي او له هغه نه يې غوښتنه کړې وه چې په ځان کې د پلار د مهربانۍ احساس راژوندی کړي. بوډا سردار د زوی لومړی ليک ته په خورا مينه ناکه ژبې ځواب ليکلی و او تر همدې ليکه وروسته و چې هغه، فرانسوي پېغله له ځانه لرې کړې وه. دويم ليک سردار اندرې د ويتېبېک له ښارګوټي ليکلی و ،هغه دا ليک، تر هغه وروسته ليکلی و چې د غه ښار فرانسويانو لاندې کړی و او د دغې جګړې په اړه يې په لنډه توګه هلته ليکلي او د هغه نقشه يې هم هلته انځور کړې وه. هغه د جګړې د راتلونکې په اړه هم خپل نظريات ليکلي وو. سردار اندرې په ليک کې پلار ته د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزو په اړه چې د جګړې ډګرته دده د کور د نېږدې والی له امله ده ته وړپېښې وې، هم یادونې کړې وې. ده د جګړېزو عملیاتو د نږدېوالي له امله ډېره خواشیني ښکاره کړې وه او پلار ته یې مشوره ورکړې وه چې مسکو ته لاړ شي.

هغه ورځ د غرمنۍ په وخت کې چې کله دوسال ویلي ویلي و چې: ، د آوازو له مخې فرانسویانو ویتیبسک هم لاندې کړی دی. هغه د خپل زوی سردارانډرې لیک وریاد شو. هغه شهزادګۍ ماریا ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

- نن د سردارانډرې لیک راغلی دی، هغه دې ولوست؟

شهزادګۍ ماریا په ډار وویل:

- نه بابا جانه !

هغې نه شوکولای هغه لیک ولولي، چې هېڅ ښوک یې آن له رارسېدو هم خبر نه و.

سردار له ملنډو نه په ډکې موسکا په هغې موسکا چې اوس د دغې جګړې په اړه د یادونې په وخت کې تل دده پر شونډو راخوریده، وویل:

- هغه د جګړې په اړه، د دغې جګړې په اړه لیکلي دي.

دوسال وویل: باید ډېر په زړه پورې وي، هغه خو خپله په جګړه کې دی.

پېغلې بوری ین وویل: اخ، هوکې، باید خورا په زړه پورې وي.

بوډا سردار مخ پېغلې بوری ین ته ورواړاوه او وې ویل:

- پوهېږئ، د واړه میز پر سر، د اخبارونو تر دوسیې لاندې دي ...

پېغله بوری ین په خوښۍ له خپله ځایه ودانګل.

بوډا سردار تندی تریو او چغه کړل:

- اخ، نه، نه ! میخائیل ایوانوویچ، ته لاړ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میخائیل ایوانوویچ پاڅېداو د هغه دفتر ته ورغی، خو همدا چې هغه ووت، بوډا سردار په خورا ناآرامۍ دې خوا، هغه خوا وکتل، کاغذي دستمال یې وارتېره، خپله لاړ او وې ویل:

- هېڅ څوک، هېڅ نه شي کولای. هر څه یې سره ګډوډ کړل.

دده تر راستنېدو پورې، شهزادګۍ ماریا، دوسال، پېغله بوری ین او آن نیکولای جان په چوپتیا چوپتیا کې یو بل ته سره کتل.

بوډا سردار مخکې او میخائیل ایوانوویچ پسې چې لیک او یوه نقشه یې په لاس کې و، په چټکو چټکو ګامونو راستانه شول. هغه لیک او نقشه یې پر میز، تر خپل څنګ کېښودل او د ډوډۍ تر پایه یې هغه چاته ورنه کړل، چې وې لولي. همدا چې مېلمستون ته لاړل، هغه لیک یې شهزادګۍ ماریا ته ورکړ او د نوې ودانۍ نقشه یې تر مخې وغوړوله، پر نقشې یې سترګې خښې کړې او لور ته یې سپارښتنه وکړه چې لیک په لوړ آواز ولولي. شهزادګۍ ماریا د لیک لوستل پیل او په پوښتنیز غلچک یې پلار ته وکتل.

ده خپله نقشې ته کتل، خو داسې ښکاریده چې په خپلو غمونو کې ډوب وي. دوسال ځانته دا حق ورکړ چې و پوښتي:

- سردار صاحب، تاسو په دې اړه څه فکر کوئ؟

بوډا لکه چې په بې خوندۍ له خوبه راویښ شوی و، پرته له هغه چې د ودانۍ له نقشې نه سترګې بل پلو وغړوي، وویل:

- زه؟ زه؟ ډېر امکان لري، چې د جګړې کرښه دومره موږ ته رانېږدې شي چې...

سردار وویل:

- هه، هو، هه، د جګړې کرښه! ما ویلي او اوس هم وایم، چې د جګړې ډګر په پولند کې و او دښمن به هېڅکله ونه شي کولای، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نی مان له سینده راتېر شي.

دوسال، په حیرانۍ بوډا ته ځکه کتل چې هغه د نی مان نه د نه را اوښتلو خبرې کولې، حال دا چې دښمن لا د وخته د نی پیر، سیند ته رارسېدلی و. خو شهزادګۍ ماریا چې د نی مان ،جغرافیاوي موقعیت کې تېروتلې وه، داسې فکر کاوه چې پلار یې برحقه دی.

سردار چې بربښېده لا د ۱۸۰۷ کال د جګړو په خیالو کې دی او د هغې جګړې یادونه او پېښې ورته نوې بربښېدې، وویل:

- د واورو په ویلیدو سره به تول د پولند په جبو کې ډوب شي، یوازې هغوی دي چې په دې خبره یې سر نه خلاصېږي. که بینیګسین، لا د مخه خوځېدلای او پروس ته ننوتلای وای او سنۍ چارې به په بل ډول وای.

دوسال په ویرې ویرې وویل:

- جنابه سرداره !

په لیک کې د وینیبسک خبرې کېږي او تاسو. . . .

سردار په خواشنۍ وویل: په لیک کې، هو !هو !هو کې په لیک کې.

د هغه بشرې له خواشینۍ نه ګونځې ګونځې او خواشینۍ بڼه یې غوره کړه او چپ شو او بیا یې وویل:

- هو کې، نو فرانسویانو د کوم سیند په څنډو ماته خوړلې ده؟

دوسال سترګې ښکته واچولې او په کراره یې وویل:

- جناب سردار ! په لیک کې هېڅ چېرې د فرانسویانو د ماتې یادونه نه ده شوې.

- آیا هغه نه دي لیکلي چې فرانسویانو ماته خوړلې ده؟ عجیبه ده ! نو ما خو، خپله داسې فکر نه شو کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ټول تر ډېرو پورې چوپ وو.

هغه ناڅاپه سر را پورته کړ، د نوې ودانۍ نقشې ته يې اشاره وکړه او وې ويل:

- ښه، ښه ! ښه ميخائيل ايوانوويچه ! راته ووايه، ته څنګه کولای شې دغه بدل کړئ؟

ميخائيل ايوانوويچ نقشې ته ورنېږدې شو، يو څو شېبې سردار له هغه سره د نقشې په اړه وغږېد، بيا يې برند برند او له قهره په ډک غلچک شهزادګۍ ماريا او دوسال ته وکتل. او خپل دفتر لاړ.

شهزادګۍ ماريا خپل پلار ته د دوسال له حيرت نه ډک او پريشان غلچک وليد، د هغه سکوت ته يې پام شو او خپله هم له دې نه په حيرت کې شوه چې څنګه يې پلار د اندرې ليک په مېلمستون کې د ميز پر سر هېر کړی و، خو هغه نه يوازې د دوسال د پرېښانۍ او سکوت د علت په اړه له هغه سره د خبرو نه ،نه ويريده، بلکې د هغه په اړه فکر کولو نه هم ډاريدله.

ماښام، ميخائيل ايوانوويچ د سردار د سپارښتني له مخې شهزادګۍ ماريا ته راغی او له هغې نه يې په مېلمستون کې د سردار اندرې د هېر شوي ليک غوښتنه وکړه. شهزادګۍ ماريا ليک هغه ته ورکړ.

که څه هم د هغې دا نه خوښېده، هغې ځان ته دا حق ورکړ چې ميخائيل ايوانوويچ نه وپوښتي، پلار يې څه کوئ؟

ميخائيل ايوانوويچ له درناوی نه په ډکې خو له ملنډو مل موسکا سره وويل:

- هسې خوځېږي را خوځېږي، دی د دې نوې ودانۍ له امله ډېر ناارامه دی. يو څه وخت يې کتاب ولوست او اوس... ميخائيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایوانوویچ خپل آواز لږ ټیټ کړ او وې ویل:

- میز ته ناست دی. باید په خپل وصیت لیک لګیا وي (په دې وروستیو وختونو کې له کاغذو سره بوختیا د سردار یوه له خورا غوره بوختیاوو نه وه. هغه کاغذونه چې تر مرګه وروسته ده نه باید پاتې شي، هغه کاغذونه چې ده وصیت لیک نوماوه)

شهزادګۍ ماریا وپوښتل:

-آلپانیچ سمولینسک ته استوئ؟

- البته چې، له ډېرې مودې راهیسې سترګه په لاره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

کله چې میخائیل ایوانوویچ له لیک سره دفتر ته راستون شو، سردار عینکې په سترګو، د عینکو کړۍ پر تندي د شمعې تر رڼا لاندې د میز شا ته ناست و او له کاغذو (هغه کاغذونه چې ده وصیت لیک نومول او باید دده تر مرګه وروسته ټولواک ته لېږل شوي وای) سره اخته و، هغه یې له سترګو لرې نیول او په خورا خوند یې لوستل. کله چې میخائیل ایوانوویچ راننوت، د هغه سترګو د هغو خاطراتو له لوستلو نه وروسته له اوښکو ډکې وې چې ده په ځوانۍ کې لیکلې وې او اوس یې لوستې. هغه د میخائیل ایوانوویچ نه لیک واخیست، هغه یې په جیب کې کېښود، کاغذونه یې یوې خواته کېښودل او الپاتیچ یې چې ډېره موده ورته انتظار پاتې شوی و، ځان ته راوغوښت.

هغه پر یوې پاڼې هغه څه لیکلي و چې سمولینسک کې اړتیا ورته لیدل کېده، هغه په کوټه کې ښکته پورته ګرځېده او هر وار به چې د الپاتیچ له څنګه چې ده ته یې د دروازې تر څنګ انتظار وېست تېرېده، هغه ته یې خپلې سپارښتنې ویلې:

- لومړی پوستي کاغذ، تاته وایم اورې، اته ګېډۍ، د دغې بېلګې له مخې، زرین رنګ، دغه بېلګه یې یوسه، چې کټ مټ هماغه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا شرش، موم، هوکې د کاغذونو د مهرولو لپاره د میخائیل ایوانوویچ د وړاندیز له مخې.

هغه په کوټه کې وګرځېد، خپلو یادښتونو ته یې وکتل او وې ویل:
بیا به د سرتېرو د جلب د غه لیک، والي ته سپارئ..

الپاتیچ ته د سردار سپارښتنو دوه ساعته وخت ونیو، خو بیا هم هغه ته د سردار خبرې پای ته نه وې رسېدلې. هغه کېناست، چرت کې لاړ، سترګې یې سره ورغلې، ویده شو او الپاتیچ وښورید.

- نو، ځه خو ځېږه، خو ځېږه، که څه شی په کار و، در وبه یې لېږم.

الپاتیچ ووت. سردار بېرته خپل میز ته ورغی، خپل میز یې وڅاره، په خپلو کاغذونو یې لاس وواهه، بیا یې د خپل میز جعبه وتړله او د بل میز شا ته کېناست او والي ته یې د لیک لیکل پیل کړل. کله چې یې لیک مهر کړ او پاڅېد، وخت له وخته تېر شوی و. هغه غوښتل ویده شي، خو هغه پوهېده چې خوب نه ورځي او ګډوډ له غمونو ډک خیالونه یې خوب ته نه پرېږدي. هغه تیخون ته ورغږ کړل او له هغه سره ددې لپاره بلې کوټې ته لاړ چې هغه ته ووایي، د هغه کټ چېرې کېږدي. هغه ګرد ګرځېده او کتل یې چې په کوم کنج کې یې کټ کېښودل شي. هره خوا هغه ته، ناوړه برېښېده، خو له ټولو نه ناوړه ځای د هغه د کار په کوټه کې ایښودل شوې لویه څوکۍ وه، چې پخوا دی پرې بیدیده. پر هغې څوکۍ بېدیدل، هغه ته په دې علت خورا وحشتناکه برېښېدل. دی له داسې خیالونو سره لاس او ګریوان شوی و، چې دی یې ډېر زورولی و. په هېڅ څه یې تنده نه ماتېده، خو تر ټولو ښه ځای هغه ته د پیانو تر شا ولاړ څوکۍ ښکاریده. هغه تر اوسه پورې هېڅکله هلته ویده شوی نه و.

تیخون د یو چوپړ په مرسته د هغه کټ راوړ او د هغه په جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګیا شو.

سردار چغې کړل:

- نه، داسې نه، خپله یې یو لږ څه له دیواله نه رادې خواته کړ او بیا یې ببرته څه ورنښږدې کړ.

سردار له ځانسره فکر وکړ: بالاخره مې هر څه بدل او جوړ کړل، اوس کولای شم ویده شم.

ودرید چې تیخون جامې ترې وباسي.

له هغه عذاب نه یې تندی تریو شو، چې له ده نه د جامو وېستلو په وخت کې تیخون پر ده زغملی و، په پای کې هغه جامې ووېستې، په سختۍ په کټ کې پریوت او په شک او ګمان یې خپلو وچو ژیړو پښو ته کتل. هغه په فکر کې نه و تللی، بلکې د هغه کړاو په وړاندې لږ کرار شوی و، چې د غه پېښې څنګه راپورته او په کټ کې وغځوي.

هغه په زړه کې ویل:

-اخ، اخ چې څومره ګرانه ده، اخ، چې اوس ژر، ژر تر ژره دا خواري او عذاب پای ته رسېدلای وای او زه مو په کراره پریښې وای. هغه شونډې کېښکودې او د شلم وار لپاره یې هغه بیا کېښکودې او هڅه یې وکړه چې ویده شي، خو هغه لا سم په کټ کې غځېدلی نه و چې ناڅاپه، تر ده لاندې کټ په یوه ټاکلی ګذار، وړاندې او وروسته په خوځېدا شو، ګواکې دی په سختۍ سا باسي او دانګي. دغه حال هر شپه تکراریده. هغه خپلې پټېدونکې سترګې وغوړولې.

په خوراخواشینۍ یې خدا زده چاته په بنګېدو بنګېدو ښکنځلې کولې او ویل یې:

- ویدیدل ناشوني دی، لعنت دې وي پر دوی ! کومه د پام وړ خبره وه چې مابنام ته مې، کټ ته مې پریښې وه، د قفلونو خبره وه؟ نه، نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قفلونو چاره خو مې وکړه، نه، د مېلمستون. کوم شی خو و؟ شهزادګۍ ماریا وه چې کومه بې ځایه خبره یې وکړه. دو سال هم کومه څه وویل. دا احمق سړی! کوم څه مې په جیب کې کېښودل، پروا نه لري، نه رایادېږي!

- تیشکا ته وواییی، د غرمنۍ په وخت کې مو د څه په اړه خبرې کولې؟

- د سردار په اړه، د مخائیل په اړه....

سردار میز په سوک وواهه او وې ویل:

- چپ شه، چپ شه! هوکې پوه شوم، شهزادګۍ ماریا د سردار اندرې کیسه، هغه ته ولوسته، دوسال د ویتیبسک په اړه څه وویل. اوس به یې ولولم. سپارښتنه یې وکړه چې تیخون دده له جیب نه، لیک ده ته ورکړي، له وړوکي میز سره د لیمو شربت او شمعې دده د کټ خواته راوړي. عینکې یې په سترګو کېښودې او د لیک لوستل یې پیل کړل. هماغه وخت و چې د شپې په چوپتیا کې په داسې حال کې چې د چلچراغونو شنه رڼایي یې پر لاسونو خوریدله، ده لیک ولوست او د لومړي ځل لپاره په یوه شېبه کې د هغه په معنا او ارزښت پوه شو.

فرانسویان په ویتیبسک کې دي، او دا امکان لري چې تر څلورو ګرځنو وروسته سمولینسک ته ورسېږي او یا کېدای شي اوس هلته رسېدلي وي.

- تیشکا! او تیخون له ځایه پاڅېد. سردار چغې کړې:

- نه، نه، نه پوهېږم، دا ناشونې ده؟

لیک یې د شمعې تر ستنې لاندې پټ کړ، سترګې یې پټې کړې، دانیوب یې خیال ته راغی، او د لمر تر شغلو لاندې د هغه له نیبونو ډک ساحل، د روسي پوځ، د هغه ځوان جنرال، چې دی خپله و، هغه ځوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يوه ګونځه يې هم لا پر تندی نه لرله، مهربانه و ،سره ،ځلېدونکې ښېره ،چې د پاتيو مسکين(روسي جنرال )کېږدی ته ورننوزي،هغه ته ټولو اکه،د خول خاوند ه مور،د روس دملت مهربانه انای، تر نظره ورغله، دا سې تر نظره ورغله چې هغه ټيټ وني او ځوربه ده او ژېړ رنګه ښېره يې لرله، له هغې سره يې په خپله لومړې کتنه کې خپله خوږه موسکا ، مينه ناکي او له خوا خوږی نه ډکې خبرې وريادې کړې. او بيا يې هماغه ښېره ،تر تابوت لاندې لويه دړه چې د ګلو په درمندو کې ډوبه وه، وريادة شوه او بيا د تابوت تر ځنګ له زوبوف سره د خول د ګرانې خاوندې د لاس د مچولو د لومړيتوب پر حق، ناندرې ور په ياد شوې. دا ټول او ټول سردار ته وريادېدل او وې ويل:

- ځومره به ښه وه چې هغه وختونه بيا راستانه شوي وای، کاشکې دغه نننی بې ننګه وختونه ژر تر ژره پای ته رسېدلی وای او ای کاشکې بې زه آرام سره پرېښی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

لیسه ګورې، د سردار نیکولای اندریوویچ بالکونسکي ځمکې او باغونه د سمولینسک په شپتیزه ورستي او مسکو ته د تلونکی واټ په دیرش ورستۍ، کې پراته وو.

په هماغه ماښام چې بوډا سردار، الپاتیچ ته خپلې سپارښتنې ورکړې، دوسال، له شهزادګۍ ماریا نه هیله وکړه چې دی د ځېنو خبرو لپاره ومني. هغه په دې کتنه کې هغې ته وویل، له دې چې د مشر سردار روغتیا خورا کړکیچنه ده او دا د ځان د ساتنې او پالنې لپاره، هېڅ نه کوي او د سرداراندرې له لیکه هم څرګندېږي چې په لیسه ګورې کې پاتې کېدل، هم لوی ګواښ دی، نو هغه (دوسال) په خورا درناوي هیله کوي چې شهزادګۍ ماریا دې د والي په نامه یو لیک ولیکي. اوس چې الپاتیچ سمولینسک ته روان دی، هغه ته دې ورکړي، په لیک کې دې هغه ګواښ څرګند کړي، چې د دوی کورنۍ ورسره مخامخ ده. دوسال په خپله دغه لیک کې ولیکل، شهزادګۍ ماریا لاسلیک کړ، الپاتیچ ته یې وسپاره، ورته وویل شول چې هغه والي ته وسپاري او د ګواښ د زیاتېدو په وخت کې ژر تر ژره بېرته راستون شي.

آلپاتیچ چې دغه سپارښتنې او لیک تر لاسه کړ، د سپینو ښو نه جوړه شوې خولۍ (دا د شهزادګۍ ډالۍ وه) پر سر، ارباب ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکړه په لاس د خپلې کورنۍ د غړو په بدرګه کې له کوره ووت، هغه ووت چې په هغه چرمينه ګاډۍ کې چې دوه سره بخون، تور ياله او اوږد لکۍ، آسونه ورته تړلي وو، سپور شي.

د آسونو په غاړه کې زنګونه ځړول شوي وو .زنګونه بيا په کاغذونو کې مروړل شوي، مشر سردار چا ته اجازه نه ورکوله چې په ليسه ګورې کې، د زنګونو غږ پورته شي،خو الپاتيچ په لرو لارو کې د زنګونو شرنګهارې ډېر خوښېده. د الپاتيچ چوپړانو، دولتي استازي، منشي، دوې مينځې توره او سپينه (په روسيه کې تورې مينځې –کور پاکاوه او سپينې خواړه پخول) دوې بوډۍ، قزاق زلمی، ګاډيوان او د دربار نورو وګړو دی بدرګه کاوه.

د هغې لور، په چيټ پوښ بالښتونه، د هغه تر شا او تر پښو لاندې کېښودل. د هغې زړې ښښې،يو دستمال په پټه په ګاډۍ کې ومانډه. يو ګاډيوان هغه ترتخرګ لاندې ونيو او هغه يې په ګاډۍ کې کېناوه.

الپاتيچ بنګېده، په ګاډۍ کې کېناست او د سردار په څېر، ژر ژر وغږيد او وې ويل:

-خدای مودې، ددې ترينډو له دې شرو شور نه ساتي او خدای دې موږ ته ددې ښځو غم نه راښيي.

وروسته له هغه يې د ورو کارونو په اړه، خپلو چوپړانو ته خپلې وروستنی سپارښتنې ورکړې. له خپل تک شين سر نه يې خولۍ پورته کړه ( دده دا کار په هېڅکله د سردار کارونو ته ورته نه دی ) او درې وار يې پر تندې صليب رسم کړ.

د هغه ښځې په لوړ آواز وويل:

- مياکوف الپاتيچ ! که کومه خبره وه... ته او تا خدای راستانه شئ، پر موږ رحم ولرې، د هغې د ښځې دغه زارۍ او هيلې له دې کبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې، چې د دغې جګړې آوازې هر خوا خورې وې او لاپسې خورېدې.

الپاتیچ وخوځېد. دا خوا هغه خوا یې کتل او د شا خواته پرتې دښتې ننداره یې کوله. هغه تر شونډو لاندې وویل:

- ښځې، ښځې، خدای مو دې له ښځې ساتي ! د هغو له غمونو او خیالونو !

د تګ په لاره کې، یو ځای اوربشې مخ په ژېړې وې او چېرې یې لا وړې شنه وو، چېرې لا ځمکه تکه او توره او نوی کرنه په کې بیا پیل شوې وه. الپاتیچ روان و او د فصلونو پر پریمانۍ یې شاباسي وایه. د اوربشو پټیو او په هغه کې ولاړ فصل ته چې ځای ځای په کې لو پیل شوی و، کتل...

وروسته له هغه چې دوه واره یې په لاره کې آسونو ته وابښه ورکړل، د اګست په څلورمه ښارته ورسېد.

الپاتیچ په لاره کې، له پوځي کتارونو او ګاډیو سره مخامخ او یا هم تر هغو نه مخکې کېده. سمولینسک ته په نږدې کېدو سره له لرې لرې د ډزو غږ اورېدل کېده، خو د هغه له اورېدو یې تعجب نه کاوه، له هر څه زیات هغه دې خبرې حیران کړ چې پوځیانو د اوربشو په شنو پټیو کې کېږدۍ درولې وې او سر تېرو دغه اوربشې د وښو په توګه خپلو آسونو لپاره کارولې، که څه هم دغه کار دده د تعجب وړ و، خو د هغه خپلو غمونو او خیالونو هغه بېرته په خپلو څپو کې ډوب او دغه حیرانتیا یې ترې هېره کړه.

دا دده دیرش کاله کېدل، چې د هغه د ژوند هر څه د هغه د ارباب، سردار د هیلو له مخې وو او هغه هېڅکله د هغه له ارادې پرته بل څه نه کول. هر هغه څه چې د هغه د سردار سپارښتنو پورې اړه نه لرله، نه یوازې نه تر سره کېدل، بلکې اصلاً یې دده لپاره شتوالی نه لاره..

(c) ketabton.com: The Digital Library



الپاتیچ، د اګست په څلورمه ماښام سمولینسک ته ورسېد ، د دینیپر د سیند پر هغې غاړه کې د ګینچاسکي په سیمه کې لکه په دې وروستیو دیرشو کالو کې چې د هغه عادت شوی، په هغه مسافرتون کې، چې اوس یې فیراپانتوف، پوري اړه لرله، واړاول. د غه فیراپانتوف، چې پخوا سرایوان و ، دولس کاله د مخه دده په مرسته له سرداره یو ځنګلکوټی واخیست، د الپاتیچ د مهربانیو له برکته یې په هغه کې کار او ژوند پیل او دا دی اوس یې هلته یو کور، مېلمستون او د وړو خرڅولو یو دکان جوړ کړی دی. فیراپانتوف یو څورب، تورڅنی، سور مخی څلویښت کلن کلیوال و چې توري شونډې، پراخه وتلې پزه او همداسې پر تورو وتلو وروځو تندی او وتلې ګېډه لرله.

فیراپانتوف، چې واسکټ او تر هغه لاندې د چیټ کمیس یې اغوستی و ، د خپل دکان مخکې ته ولاړ و ، د الپاتیچ په لیدو د هغه خوا ته راغی او وې ویل:

- یاکوف الپاتیچ ! ټول خلک له ښاره تښتي او ته ښار ته راغلې.

الپاتیچ وویل:

- پوه نه شوم، څنګه له ښاره تښتي !

- زه هم وایم، خلک احمقه دي، ټول له فرانسویانو ډاريږي.

الپاتیچ وویل:

- د ښځو خبرې، د ښځو خبرې، د ښځو خبرې دي.

- زه هم همدا خبره کوم، یاکوف الپاتیچ ! پوځي فرمان رارسېدلی دی چې لاره نه ورکوو ، فرانسوي څوک نه پرېږدي، خلک داسې ګېڼې پسې اخیستي دي چې هر یو د خپلې ګاډۍ لپاره درې روبله غواړي، نه عقیده پاتې ده او نه ایمان.

یاکوف الپاتییچ، بې پروا هغه ته غوږ و. هغه سماوار او آس ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښو غوښتنه وکړه. چای یې وڅښه او څملاست.

تر سهاره پورې دده د مېشت ځای په وړاندې په کوڅه کې پوځونه تېرېدل. الپاتیچ بله ورځ هغه کالي چې له ښاره پرته بل ځای نه اغوستل کېږي، واغوستل او د خپلو کارونو د سرته رسولو لپاره ښارته ووت. لمر له سهاره ځلېده او د سهار له اتو بجو نه ورځ ښه توده وه. الپاتیچ په زړه کې ویل:

- دغه هوا د غنمو لولپاره ښه ورځ ده، خو لا له سهاره د ښار له څنډو نه د ډزو غږ اورېدل کېده.

د سهار له اتو بجو نه د ټوپکو له ډزو سره د توپونو ډزې هم یو ځای شوې. په کوڅو کې د خلکو ګڼه ګوڼه وه، خو دا نه څرګندېده، چې چېرې او کوم پلو تلوار کوي، سرتېري هم ډېر لیدل کېدل. ګاډي هم بې شمېره وې، ښکته پورته روانې وې. سوداګرو او دکانداران د خپلو دکانونو مخې ته ولاړ وو او په کلیساوو کې لمانځې روانې وې. الپاتیچ د خپلو چارو د سرته رسولو لپاره، د مغازو، ادارو، ډاکځې او ولایت خواته ورغی. په بازار، په دکانونو، په ډاکخای او هر هر ځای کې د پوځ او جګړې خبرې وې. د دښمن خبرې، چې پر ښار یې یرغل پیل کړی و. ټولو یو له بله پوښتنې کولې او ټولو هڅه کوله یو بل آرامه کړي.

الپاتیچ د والي د کور مخې ته سخته ګڼه ګوڼه ولیده، قزاقان، کارکوونکي، د والي ګاډیوانان، ساتونکي او نور ټول د هغه سرې او چوپړان. الپاتییچ د کور مخې ته دوه اعیان ولیدل، چې یو ده پېژانده. د هغه دغه پېژند ګلوی سړی د سیمې د پولیسو مشرو، چې خورا غوړ او ډډ ډډ غږېده او ویل یې:

- ګورئ ! دا څه ټوکې نه دي، اوس که یو څوک وای، یوازې وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه او ماشومان يې نه لرلای، يا هسې ګدا ،سوداګر او يا وږی وای، بيا يې هم پروا نه لرله،يو سر يو يې غم،خو هغه څوک چې د کورنۍ غړي يې ديارلس تنه دي، لاس يې هم تش، اوس به څه کوي؟ دا څه چارواکې دي، په خلکو يې څه راوستي دي؟ ټول داړه مار او غله دي، چې دا خو يې په دار ځړولي وای !

بل وويل: څه وايې، نه پوهېږې چې. ...

د پوليس مشر ويل:

- زما يې څه، بلا پسې ! پرېږد ئ چې واورئ ! تر موږه سپي هم ښه دي

د الپاتيچ په ليدو يې زياته کړه: ياکوف الپاتيچ ته دلته څه کوئ؟

الپاتيچ په وياړ سره سر پورته کړ، لاس يې د تل په شان د سردار د نوم د يادولو سره د تخرګ لاندې ونيو او وې ويل:

- د عاليجناب په سپارښتنه والي ته راغلی يم. سردار سپارښتنه کړې ده، اجازه راکړئ چې له حاله خبر شم.

هغه وويل:

- ځه لاړ شه، ځان خبر کړه، دا سې حال يې راوستی چې يوه کراچۍ هم نه پيدا کېږي. هغې خواته يې اشاره وکړه چې د ډزو غږ ترې راته، او وې ويل:

- اورئ، دښمن له ښاره هومره لرې نه دی.

هغه زياته کړه:

- دا سې حال يې راوستی دی، چې ټول به ووژل شي. غله، داړه مار !

دا يې وويل او پر زينو ورښکته شو.

الپاتيچ سر وښوراوه او پر زينو پورته وخوت. د انتظار په کوټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګر، دوکانداران، ښځې او مامورین هر څوک خورا بې شمېره وو. ټول چپ ناست او یو بل ته یې سره کتل. د والي د کوټې دروازه چې راخلاصه شوه، ټول پاڅېدل، او وړاندې ورغلل. له دروازې په تلوار یو مامور راووت، له سوداګرو سره یې څه وویل، یو ځوان مامور چې صلیب یې پرغاړه کې پروت و، ځان پسې دفتر ته وروباله او ببرته د دروازې تر شا پناه شو.

له ورایه برېښېده چې ځان له هغو ټولو غلچکونو نه پناه کوي، چې خلکو هغه ته په ځیر ځیر او پوښتنیز ډول ورلېږل. الپاتیچ دروازې ته ورنېږدې شو. او کله چې دا وار د غه مامور بیا راووت، پاڅېد، خپل لاس یې د خپل ټټر په ترلې تڼۍ کېښود، مخ یې هغه مامور ته ورواړاوه، لیکونه یې هغه ته وروړاندې کړل، په لوړ خو ډډ آواز یې وویل:

- د جنرال آنشوف سردار بالکونسکي (په فرانسوي آنشوف یعنې مشر قوماندان) له خوا، جناب بارون آش ته.

غږ یې داسې پرتم لاره، چې مامور اړ شو هغه ته مخ ورواړاوي او لیکونه یې تري واخېستل. څو دقیقې وروسته، والي الپاتیچ ومانه او په تلوار یې ورته وویل:

- سردار او شهزادګۍ ته ووایې چې زه له هېڅ څه نه خبر نه یم. او ما د لوړو چارواکو د سپارښتنې له مخې دا کار کړی دی، مهرباني وکړئ.

هغه کاغذونه، الپاتیچ ته ورکړل او خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ:

- خو له دې کبله چې د سردار روغتیا ښه نه وه، زما هغه ته مشوره دا ده چې مسکو ته لاړ شي. زه خپله همدا اوس خوځېږم، سردار ته هم ووایئ.. خو والي خپلې خبرې پای ته ونه رسولې. له سر تر پښو په خاورو دوړو یو لړلی افسر راننوت او په فرانسوي ژبې یې والي ته څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل. د والي څېره له ډاره تکه سپينه شوه. سر يې الپاتيچ ته وښوراوه او هغه ته يې اشاره وکړه:

- ځه ! ژر کوه ! او له افسر نه يې پوښتنې پيل کړې. کله چې الپاتيچ د والي له کوټې راووت، د انتظار په کوټه کې د ناستو په تمه کسانو له ويرې او سترېيانو ډکې هيله مندې سترګې ټولې هغه ته وروا وښتې. الپاتيچ پرته له هغه چې څک شي، نور د ډزو غږونو ته چې دم په دم زياتېدل او رانږدې کېدل، غوږ و، په تلوار او ګړنۍ د مېلمستون پلو ته ستون شو. د پوځي اعلاميې هغه پاڼې چې والي الپاتيچ ته ورکړې وې، داسې په کې راغلي و:

- تاسو ته ډاډ درکوم چې د سمولينسک ښار لا هېڅ دول ګواښ سره مخامخ نه دی او دا ګمان هم نه شته چې ښار ته دې ګواښ ورپېښ شي. زه له يوې خوا او شهزاده باګراتيون له بلې خوا د ښار مخې ته سره يو ځای کېږو او دا يو ځای کېدل به د مياشتې په دوه ويشتمه نېټه تر سره کېږي. دغه دوه پوځونه به دد غه ولايتو د اوسېدونکو په ملتيا چې تاسو ته پرېښودل شوي دي، تر هغه وخته به دفاع وکړي چې دښمنان په شا تمبول شوي او مات نه وي او يا زموږ مېړني سرښندونکي تر وروستي هغه پورې ځان قربان کړی نه وي. نو له دې کبله دا خورا پر ځای خبره ده چې د سمولينسک اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ شي او ارام يې کړي، ځکه هغه کسان چې د ځان او دښمن د پوځ تر منځ د دوو پوځونو دغه شان کلک ديوالويني، بايد په بري هم پوره ډاډ ولري.

(پوځي فرمان، د بارکلي دوتولي له خوا نه د سمولينسک والي بارون آش ته –۱۸۱۲ )

خلک پريشانه،او په کوڅو کې لالهانده وو، خپل کېړي، ميزونه، څوکۍ او د کور ټول څه يې په کراچيو بار له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونو نه راوتل او په کوڅو کې وړاندې تلل او ګڼه ګوڼه یې جوړه کړې وه. د فیراپانتوف آستوګنځي په ګاونډ کې څو کراچۍ ولاړې وې او د ښځو غږ ترې راته. عذر زارۍ او زګیروی اوریدل کېدل. یو ډنګر سپی پرله پسې غپیده او د ګاډیو د آسونو مخې ته تاویده راتاویده. الپاتیچ له خپل عادت نه په چټکو ګامونو د مسافر خانې انګړ ته راننوت او مخامخ د آسونو طویلې ته لاړ، ګاډیوان ویده شوی و. هغه یې راویښ کړ، او ورته وې ویل چې آسونه چمتو کړي او خپله د کور دالان ته ورتېر شو. د مسافر خانې د څښتن له کوټې د یو ماشوم د ژړا، د یوې ښځې د ساندو د فیراپونتاف د چغو او غضب نه ډک آواز غوږو ته راتلل. کله چې آلپاتیچ دالان ته راننوت، د آشپز ښځه له ویرې لکه ویریدلې چرګه ښکته پورته منډې وهلې.

- ښځه یې ووهله، داسې په مرګ یې ووهله، داسې یې ووهله او پر ډاګ یې کشوله.

الپاتیچ وپوښتل: ولې؟ د څه لپاره؟

- ښځې یې غوښتل چې له ده سره ګډه لاړه شي. د ښځو کار دی. هغې ټینګار کاوه چې دا هم له ځانسره بوزي، هیله یې کوله چې دا او ماشومان مرګ ته مه سپاره. هغې ویل:

- ټول لاړل، او موږ څه ګناه لرو؟ داسې داسې یې ووهله، داسې چې په ځمکه یې همداسې څښوله.

الپاتیچ، له هغه سره داسې سر وښوراوه، ګواکې ده د هغه خبره تایید کړې وه او خپله یې له دې امله چې نه غوښتل نور، نوڅه واوري. د مسافر خانې د خاوند د کوټې مخامخ کوټې ته چې خپل اخیستل شوی شیان یې هلته ایښي و، ورغی.

په همدې شیبه کې یوه ډنګره، رنګ الوتې ښځه، چې ماشوم یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبږ کې نیولی و، دستمال یې له سره لویدلی، له دروازې را ودانګل، انګړ ته تلونکو زینو پلو یې منډه کړې او چغې یې وهلې، ظالمه، وژونکیه !

فیراپونتاف،د هغې پسې له کوټې راووت، خو همدا چې الپاتییچ یې ولید ،خپل واسکټ یې سم، لاس یې پر څنو تېر، سترې ستومانه برېښېده. هغه پسې کوټې ته ورننوت او وې پوښتل:

- الپاتیچه غواړئ لاړ شئ؟

الپاتییچ، د هغه پوښتنې ته ځواب ورنه کړ، پرته له هغه چې هغه ته وګوري، خپل اخېستل شوی شیان یط راواخېستل او وې پوښتل چې، کرایه یې څومره شوه؟

فیراپونتاف وویل:

- بیا به حساب کوو، څنګه والي ته ورغلئ؟ څه پریکړه وشوه؟

الپاتیچ ځواب ورکړ چې والي د پریکړې په اړه ده ته هېڅ ونه ویل.

فیراپونتاف وویل:

- دا ژوند او کار چې موږ یې لرو، آیا کولای شو لاړ شو؟ کډه کول خو څه ټوکې نه دي؟. تر داراګابوژ پورې اوه روبله کرایه غواړي. دا چور له لارې وتلی، ایمان یې په پیسو بایللی دی ! میلیوانوف، ښه اټکل کړی و، لا د پنجشنبې په ورځ یې خپله د وړوو بوجۍ په اوه روبله پر پوځیانو وپلورله. هغه زیاته کړه:

- ښه نو، ورکه وه یې، یو چای خو به وڅکې؟

تر هغه پورې یې چې آسونه، ګاډیو پورې تړل، الپاتیچ او فیراپانتوف چای سره وڅکه، د غلې دانې په اړه سره وغږېدل او په دې اړه یې غورې وکړئ چې هوا د فصلونو د راټولو لپاره خورا ښه ده.

فیراپانتوف چې درې پیالې چای یې وڅکه، پاڅېد او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډزې څه بندې غوندې شوې، ښايي زموږ پوځ مخې ته لاړ، دوی ويلي دي چې د ښمن به ښار ته نه پرېږدي، هر ومرو به دوی پوهېدلي وي چې دومره زور لري چې دا سې خبرې کوي. ...

الپاتيچ خپله سودا راوا خپسته، هغه ګاډيوان ته يې ورکړه چې کوټې ته راننوت او د مسافر ځای له خاوند سره يې حسابونه خلاص کړل. د خوځېدونکو ګاډيو، د آسونو د سمونو او د هغو د غاړې د زنګونو د آوازونه شرنګهاری د کور د دروازې نه د وتلو يادونه کوله.

له غرمنۍ نه څو ساعته اوښتي و، سيورې د کوڅې تر نيمايي پورې راوړاندې شوي و، خو په پاتې نيمايي کې لا تود لمر ځلېده. الپاتيچ له کړکۍ نه د باندې وکتل او د دروازې پلو ته ولاړ. ناڅاپه لرې بياديو عجيب و غريب غږ، بيا ګړز پورته شو او تر هغه وروسته د ښار په فضا کې د توپ د مرميو د لويدو او د ډز غړمبهاری خپور او هينداري يې وربېږدولې. الپاتيچ کوڅې ته ووت. دوه تنو د پل خوا ته منډې وهلې. پر ښار د اوريدونکو مرميو، د هغو د لګېدو او چاوديدو غږونه له هرې خوا نه اوريدل کېدل، خو د غه غږونه د توپ د هغه غږونه په کچه چې له ښاره د باندې اوريدل کېدل او پر ښار يې مرمۍ راورولې، په هېڅ شمار وې. د دغو ډزو غږ د خلکو پام هومره ځانته نه وراړاوه، څه کم پنځه بجې ناپليون سپارښتنه کړې وه، چې ښار د توپو تر اور لاندې راولي، يو سلو ديرشو توپونو پر ښار ګولۍ ورولې. په لومړی سر کې خلک هک حيران او په دې ډزو يې سر نه خلاصېده.

هغه ګولۍ چې پر ځمکه لګېدې، چاوديدې، په لومړي سر کې د هغو چاودونو د خلکو پاملرنه راپاروله، د فيراپانتوف ښځې چې ژړا او زارۍ يې تر هغه وخته پورې د ننه له کوره اوريدل کېدې، چپه شوه، ماشوم يې په غېږ کې د کور د دروازې پلو لاړه. او په پټه خوله يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ننداره او د هغو غږ ته غوږ وه.

آشپز او دوړوو، پلورونکي کارګر هم د وره پلو ته راغلل. ټولو په خورا خوشالۍ او ځانګړې پاملرنې هڅه کوله د هغو په سر د تېرېدونکو ګولیو ننداره وکړي، خو په دې وخت کې څو تنه چې په خورا مستۍ غږېدل، د کوڅې له یوه ګرځني نه راتاو شول.

یوه وویل:

- دغه ته زور وایي، بام او د کور چت یې تالاوالا کړل.

بل تن بیا غږ وکړ:

-ته ګوره چې ځمکه یې څنګه چول چول کړه.

دریم تن وخندل او وې ویل:

- ډېر ښه وشو، ډېر ښه وشو. ښه ده چې لږ دې شاته ودانګل کنه اوس به دې د غوښو ټوټې له خاورو او ایرو سره یو ځای وې.

خلک ټول په دلته راټول شول. هغو کیسه کوله چې څنګه تر دوی لږ وړاندې یوه ګولۍ په یوه کور کې ولګېده. په دې وخت کې هم ګولۍ پرله پسې د خلکو له پاسه تېرېدلې.. خو یوه هم دوی ته نږدې نه لګېده، الپاتیچ په کراچۍ کې سپور شو. د مسافرځای خاوند د دروازې په خوله کې ولاړ و. پر هغې آشپزې ښځې چې لستوڼي یې بډ وهلي، سره لمن یې اغوستې، خپل برېنډ مړوندونه یې ښورول او د هغې ډلې خواته چې په یوه کنج کې راټول شوي وو، ددې لپاره ور روانه وه چې د هغو خبرو ته غوږ شي، غږ وکړ:

- چېرې ځئ؟ څه دې ورک کړئ؟

هغې وویل: عجیب سړی دی؟

خو همدا چې د خپل بادار غږ یې واورید، ببرته راستنه او خپله بډوهلې لمن یې ښکته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یو دروند غږ خو دا وار دوی ته د پر نېږدې، لکه د یوه مرغه چې ځان ځمکې ته راوارتېږه، له آسمان نه راولوید. په کوڅه کې اور ولګېد. چاودونه وشوه او په کوڅه کې لوګی خپور شو.

د مسافر ځای خاوند ، د آشپزې پلو ورمنډه کړه او چغه یې کړل:

- بې رحمې، ته دلته څه کوئ؟ دا څه و ؟

دې سره همهاله د ښځو د ژړا او شروشور غږ له څو ځایه واوریدل شو ، یو ماشوم په وحشت سره چغې وهلې، خو خلک په چوپه خوله او الوتو رنګونو د هغې آشپزې شاوخوا ته ورټول شول. په دې ګڼه ګونه کې د دغې بدمرغې ښځې آواز تر ټولو نه لوړ و.

- اوی، ګرانو ، زما د زړه سرو ، ځارم شم، قربان مو شم، مه پرېږدئ، مه پرېږدئ چې مړه شم، زما زړه ته ګرانو !

پنځه دقیقې وروسته په کوڅه کې هېڅوک هم پاتې نه شو. آشپزه یې چې ورون یې د بم له ټوټې نه ټپی او مات شوی و ، پخلنځي ته یووړه.

الپاتیچ، ګاډیوان، د فیراپانتواف ښځه او ماشومان سره له څوکېداره پر ځمکې ناست او غوږونه یې ډزو اوریدو ته ځک کړي وو ، د توپونو غړمبهاری، د ګولیو ټک او ټوک، د آشپزې زورونکي زګیروي، چې په نورو آوازونو کې له ورایه څرګند و ، یوه شېبه هم نه آرامېدل. د مسافرځی د خاوند د ښځې ماشوم چې کله به ډېر ناآرامه شو ، په غېږ کې واخېست، هغه به یې ښوراوه او په خوږو خوږو او مهربانو خبرو به یې تسلاوه او کله ناکله به یې له هر هغه چا نه چې له کوڅې نه راته، د خپل مېړه چې په کوڅه کې پاتې و ،جاج اخېست. د وړو پلورونکو کارګر چې څمڅې ته راغی، هغې ته وویل چې بادار له نورو خلکو سره یو ځای د دې لپاره کلیسا ته تللی دی چې د مسیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



معجزه ښودونکی شمايل له سمولينسک نه ولېږدوي.

ماښام د ټوپونو ډزې آرامې شوې. د الپاتيچ کورنۍ له څمڅې نه راووته اوله دروازې سره ودريده. د ماښام پخوانی آسمان چې تک شين و، اوس لوګيو پوښلی و. سپوږمۍ راختلې وه او د دغو لوګيو د پردو په منځ کې يې په زړه پورې ځلا لرله. د توپخانې د ډزو له هغه وحشته وروسته ښار په داسې يوې خاموشۍ کې ډوب شو، چې يوازې د پښو د ښښولو، د چټکو ګامونو د اخېستو، زاريو او زګيرويو، د لرو لرو چغو او نارو او د اورونو د خرپهاري آواز هغه ماتوله. د آشپزې زګيروي اوس آرامه شوي وو. له دوو خوا نه د ټينګو اورونو، د تورو لوګيو کندکونه پورته کېدل او په هوا کې خوريدل. په کوڅو کې سرتېري، نه په منظمو کرښو بلکې د مېږتونو په څېر په ګډه وډه او ګڼه ګوڼه کې په رنګارنګو دريشيو کې له بېلابيلو خوا او تلل راتلل. د دغو سرتېرو څو تنو د الپاتيچ تر مخې، د فيراپونتاف انګړ ته ورمنډې کړې. الپاتيچ د دروازې خوا ته ورغی. د کوم ځپل شوي غونډ سرتېرو چې شا ته تمبول شوي وو، لاره بنده کړې وه.

افسر چې هغه د دروازې په درشل کې وليد، ورته وې ويل:

- ښار ورته تسليموئ، تښتئ، ځئ ووزئ. او افسر پر سرتېرو غږ وکړ:

- زه به تاسو ته وښيم چې د خلکو کورونو ته ننوتل، څه معنا لري؟

الپاتيچ کورته راستون شو او ګاډيوان ته يې وويل چې ګاډی چمتو کړي. تر الپاتيچ او ګاډيوان نه وروسته د فيراپونتاف د کورنۍ ټولې ښځې هم راووتې، ښځې چې تر هغه وخته پورې، د لوګيو او آن د اورونو د شغلو په ليدو چې د تيارو په خوريدو لاپسې ښې څر ګندېدې، ناڅاپه په ژړا او شروشور يې جوړ کړ. دې ته ورته ژړا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساندې د کوځې په بل سر کې چې ګواکې، له دوی سره د سیالۍ لپاره جوړې شوې، هم اوریدل کېدې. الپاتیچ او ګاډیوان چې لاسونه یې رېږدیدل، دآسونو افسارونو جړې او غوټه شوې لړۍ راخلاصولې. کله چې د الپاتیچ ګاډۍ د انګړ له دروازې نه وتله، هغه د فیراپونتاف د دوکان له خلاصې پاتې شوې دروازې نه ولیدل چې څنګه لس دولس تنه سرتېري د غنمو، وړوو او آفتاب پرست له دانو نه بوجۍ ډکوي. له دې سره همهاله فیراپانتوف له کوځې نه راستون شو، د سرتېرو په لیدو یې غوښتل چغه کړي، خو ناڅاپه یې خپلې څڼې په منګلو کې ټینګې او په کړس کړس خندیدل یې پیل کړل. د هغه له خندا سره ساندې ملګرې شوې او وې ویل:

- هلکانو، وړیئ، تالان یې کړئ، دې ارمونو ته هېڅ څه پې نه ږدئ.

هغه خپله د وړو بوجۍ را اخېستې او کوځې ته یې ور ارتېرلې. څو تنه سرتېری چې ډار شوي وو، د باندې وتښتېدل، خو څو تنو نورو خپلې بوجۍ ډکولې. فیراپانتوف چې الپاتیچ ولید، هغه ته یې مخ ورواړاوه او غږ یې پرې وکړ:

- د روسیې حال څرګند شو! روسیه تالا شوه! زه خپله اوس اور ورته ورته کوم، روسیه تباه شوه! او فیراپانتوف کوځې ته منډه کړه. په کوځې کې د سرتېرو پرله پسې بهیر داسې روان و چې الپاتیچ نه شو کولای، آپلو واوړي، هغه دې ته اړو چې ودرېږي او صبر وکړي، د فیراپانتوف ښځه او بچیان هم په ګاډۍ کې ناست او دې ته سترګه په لاره و، چې لاره خلاصه شي.

شپه خوره او د تیارو لمن غوړیدلې وه. ستوري رابر شوي وو او ځوانۍ سپوږمۍ هم کله ناکله د لوګو شا نه، سترګکونه وهل. د الپاتیچ کراچۍ او د فیراپانتوف د ښځې ګاډۍ، چې د سرتېرو د ډلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼه ګوڼه او د نورو ګاډيو او کراچيو په منځ کې نور نو وړاندې رواني وې، دې ته اړوتې چې د دنيپر د سيند د ساحل پرغاړه تم شي. څلور لارې ته نېږدې چې لاره بنده شوې وه او ګاډۍ ټولې ولاړې وې، په يوې کوڅې کې يو يو کور او يوه دوکان اور اخېستی و، خو اور په مړ کېدو و. شغلې کله کراريدې او د تورګڼ لوګي په غېږ کې پناه کېدې او کله به يې ناڅاپه لوړې شغلې پورته او په څلور لارو کې د ولاړو خلکو په څېرو يې له ورايه حيراني راڅرګنده کړه.

الپاتيچ چې د ځنډېدو له امله، له خپلې کراچۍ نه پلی شوی و، يوې تنګې کوڅې ته ورننوت، چې د اور ننداره وکړي. د اور اخېستل شوي کور تر مخې سرتېرو پرله پسې تګ راتګ کاوه، الپاتيچ دوه سرتېري وليدل، چې له هغو سره يو بل سړی چې شين بخون کوټ يې اغوستی و، د اور اخېستي کور نه اور اخېستې دستک راباسي، د لارې آپلو کورته يې وړل او ځېنو نورو بيا هغې خواته وانښه وړل.

الپاتيچ يو ډله خلکو ته چې د اور د شغلو په مخکې ولاړ و، ورنېږدې شو، اور د غنمو د انبار لوړ ديوالونه، ترشغلو لاندې کړل او تر هغو نه لوړ يې لمبې وهلې، او د اور اخېستي چت لرګي د اور له کبله لاندې راولېدل. داسې ښکاريدل چې خلک دې ته سترګې په لاره وو چې چت ټول راولوېږي. الپاتيچ هم همدې ته سترګې په لاره و.

يو آشنا غږ راغي او بوډا ته يې غږ وکړ:

- الپاتيچ !

الپاتيچ چې په هماغه تېه تياره کې د خپل ځوان بادار غږ پېژندلی و، ځواب ورکړ:

- پلار جانه ! ښاغليه، عاليجنابه !

سرداراندرې چې پوځي کوټ يې پرغاړه او پر تور آس سپور و، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو له شانه الپاتیچ ته ځیر ځیر کتل او وې پوښتل:

- ته او دا ځایونه دلته څه کوئ؟

الپاتیچ چې سلګۍ وهلې ځواب ورکړ:

- ستاسو حضور عالیجنابه ! ستاسو حضور.. مګر موږ ماتې خوړلې ده؟ پلار جانه.. !

سرداراندرې بیا وپوښتل:

-ته دلته څه کوئ؟

په دې شېبې کې د اور لمبې لاپسې لوړې او زیاتې شوې او د الپاتیچ د ځوان بادار ستړې او تکه سپینه څېره یې ښه ښکاره او څرګنده کړه. الپاتیچ هغه ته وویل چې څنګه سمولینسک ته استول شوی او په څه سختیو هغه تر دې ځایه راغلی دی.

هغه بیا وپوښتل:

-ستاسو حضور، څه فکر کوي، موږ جګړه بایلودې ده؟

سرداراندرې هغه ته ځواب ورنه کړ. هغه له جیبه د یادښت کتابچه راوویسته، په خپل زنګانه یې کېښوده، یوه پاڼه یې له کتابچې څېرې او په پنسل یې کوم څه لیکل پیل کړل.

هغه خپلې خور ته ولیکل:

- سمولینسک تسلیموي، یوه اونۍ وروسته به لیسه ګورې هم د دښمن لاس ته پرېوزي، سمدلاسه مسکو ته وخوځېږئ، د خوځېدا سره سم یوریبار او سوباژ ته ولېږه، د خپل سفر حال سمدلاسه را ته ولیکه.

کله چې یې لیک ولیکه او الپاتیچ ته یې ورکړ، هغه ته یې دا هم وویل چې څنګه د هغه د پلار سردار، د شهزادګۍ، کمکی سردار، د کمکي سردار ښوونکی، د تګ کړه وړه برابر کړي، څنګه د شویو کارونو په اړه ده ته سمدلاسه خبر ورکړي، خو هغه لا دغه سپارښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای ته نه وې رسولې، چې د سورو پوځونو د قوماندانۍ يو افسر او د هغه څو سر تېرو په خورا تلوار ده ته ځان راورساوه.

افسر په بهرنۍ لهجې، خو سردار اندرې ته آشنا غږ چغه کړې:

- تاسو ډګروال ياستئ؟ د تاسو په مخ کې کورونو ته اور ورته کوي، تاسو ورته ګورئ او هېڅ نه وايې؟ دا څه معنا لري؟ تاسو به د خپلو دې کړو ځواب ووايئ !

دا ببرګ و. ببرګ اوس د لومړي پوځ د کين اړخ، د پلي پوځونو د قوماندان مرستيال و. هغه خپل دا منصب لوړ او خورا غوره ګاڼه، سردار اندرې هغه ته وکتل، هېڅ يې ونه ويل، له الپاتيچ سره يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وې ويل:

- هيله ده هغو ته ووايې چې تر لسمې نېټې پورې ځواب ته سترګې په لاره يم، که تر لسمې پورې ستاسو د خوځېدا ځواب را ونه رسېږي، زه به دې ته اړ وزم چې هر څه پرېږدم او ليسې ګورې ته درشم.

ببرګ، چې سردار اندرې پېژندلی و ، وويل:

- سرداره ! زه دا خبرې ځکه کوم چې تل غواړم سپارښتنې پر ځای کړم، ځکه زه تل هغه په ټينګه سر ته رسوم، هيله لرم تاسو به ما وبښئ. دا ښکاره نه شوه چې هغه څه غوښتل.

د اورونو د شغلو له مينځه يو ګړز راپورته شو. شغلې د يو څو شېبو لپاره آرامې شوې. د لوګو تورې وريځې د چت لاندې راوختېدې، د اور له مينځه بل يو ډارونکی آواز واورېدل شو او يو غټ شی راولويد.

د انبار د چت نه د رالويدلې دويمې غټې ټوټې آواز، واورېدل شو او له انباره د سوځېدلو غنمو د ډوډۍ بوی راته. د خلکو د ګڼه ګوڼې له منځه د شروشور او زګيروي غږ اورېدل کېده. لمبو او د هغو شغلو د آسمان پلو سروبسته او د خلکو حيرانې، ګونځې شوې او ګڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستې ځيرې يې چې د اور ننداره يې کوله له ورايه ځرګندولې. هغه سرې چې شين بخون کوټ يې اغوستى و ، لاسونه پورته ټک وهل او چغه کړل:

- خورا ښه دى، خورا هر څه تالان شول. زلميانو ، هر څه تالان شول. يو څه غړونه پورته شول:

-د غنمو د انبار خاوند دى، په خپله دى دى. سردار اندرې، الپاتيچ ته مخ وروا ړاوه او وې ويل:

- ښه ! ښه ! ټولې خبرې به همدا اسې چې ما درته وويل، همدا اسې به يې ورسوې.

او پرته له هغه چې ببرګ ته چې دده تر څنګه چو په خوله ولاړ و. يوه خبره هم وکړي، وخوځېد ، خپل آس ته يې متروکه ورکړه او په کوڅه کې پناه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

پوځونو ،له سمولینسکه،راوتلو ته دوام ورکړ او دښمن هم هغوی پسې را اخېستي او وړاندې را روان و. هغه غونډ چې د سردار اندرې تر قوماندې و ، د اګست په لسمه په شا تـه راتګ کې، د ونو منځ کې تېریدونکي لارې نه چې لیسې ګورې ته نېږدې تېریده، مخکې روان و. دا دریېمه اونۍ وه چې تودوخې او د اوبو نشتوالي دوام درلود. هره ورځ په آسمان کې کنډک کنډک او څپه څپه وریځې اوښتې را اوښتې او کله ناکله به یې د لمر تبۍ هم پټه کړه، خو د مازدیګر او ماښام تر منځ به بېرته آسمان تک شین شو. او لمر به د افق د سرو لړو تر شا ښکته ولوید. یوازې د شپې به شبنم په هوا کې اټنونه جوړول او ځمکه تـه یې سپېڅلتیا ښښله. ناریبل شوي غنم سوځېدل، وږي یې تویدل،. ډنډرونه یې وچېدل. څارویو ځکه له لوږې رمباړې وهلې، چې هغو په څړ ځایونو او په ځمکو کې نه شو کولای یو ډکی واښه پیدا کړي. هوا ډېره توده او یوازې یوازې به د شپې له پلوه، تر هغه وخته پورې چې شبنم به خور و، په ځنګلونو کې به هوا لږه سړه وه،خو په هغو واټونو کې، په تېره بیا په هغو واټونو کې چې پوځیان به خوځېدل، آن په هغو برخو کې چې له ځنګلونو تېریدل، د کومې ښې هوا پته نه لګېده. شبنم به د سرتېرو له ګامونو نه.. د شګو او خاورو په پورتـه شویو دوړو کې ورکېده. همدا چې سهار وختي به د سرتېرو خوځېدا پیل شوه، د کراچیو او توپخانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاروان څرخونه، تر نیمایي په دوړو کې لړلي او پلي کسان به تر ښنګرو پورې په دغو دوړو او خاورو کې ډوب روان وو. د دغو ریګونو او شګو د دوړو یوه برخه به په پښو او څرخونو او بله برخه یې پورته په هوا کې، له وریځو سره ګډه، پر پوځونو ولاړه او بېرته به د هغو خلکو پر سترګو، څېو، غوږونو، سپوږمو، په تېره بیا ګوګل او زړونو راپرېوته چې په دې لاره روان وو. هرڅومره به چې لمر پورته کېده، د دغو دوړو لوړتیا لا پسې لوړېده او د دغو سوځوونکو دوړو د نازکې پردې له شا نه، کېدای شو په ساده سترګو لمر ولیدل شي، لمر لکه د یوه لوی او ورین توپ په شان برېښېده. هېڅ ډول باد او ورمه نه لګېده او خلکو په دې تنګه هوا کې په منځنۍ کچه سا اېستله. هغوی خولې تړلې او پزه نیولې وړاندې روان وو او هر وخت به چې کلیو ته رسېدل، ټولو به ځان څاګانو ته رساوه. په اوبو به سره ورټول شول او د هرې څاه اوبه به یې تر چیکړو پورې څکلې.

سردارانو رې، د غونډ قوماندان و. د غونډ چارې، د هغه د غړو څارنه پالنه او د فرمانو اخېستل او ورکول د هغه ورځنۍ چارې وې. د سمولینسک د ښار او ر اخېستل او دښمن ته د هغه پرېښودل د سردار په ژوند کې یو ستر او نه هېرېدونکی پړاو و. د دښمن په وړاندې د کرکې نوی احساس دی دې ته اړ کړی و، چې خپل ویاړونه هېر کړي. هغه ټول د غونډ په چارو کې ډوب او د خپلو سرتېرو او افسرو لوی خواخوږی او د هغو پالونکی و. په غونډ کې هغه، ټولو: زموږ سردار، په نامه یاداوه. په هغه ویاړېدل او ورته ګران وو، خو د هغه خواخوږي او مهرباني یوازې دده سرتېرو او افسرانو یعنې تیموخین او نورلاس لاندې وګړو پورې اړه لرله. یعنې په غونډ کې نویو او یا له هغو کسانو سره چې ده یې نه پېژانده، خو کله به یې چې خپل کوم یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادوال، يا د قوماندانيو کوم آشنا وليد ،هماغه شېبه به هر څه بدل شول، تندی به يې تريو او ژبه به يې ترخه شوه. بيا هر هغه څه چې په دې کې به يې تېر وختونه رايادول،له هغه نه يې کرکه لرله. نه له دې کبله يو ازينې هڅه يې دا وه، چې د تېر ژوند په اړو تربګنې و نه کړي او لږ تر لږه د هغې په وړاندې خپل پور په صداقت پرې کړي.

خو رښتيا خبره دا وه چې سرداراندرې ته هر څه په يوې غم لړلې او خواشينې پردې کې نغښتي بربښېدل، په تېره بيا دغه حالت هغه وخت لا پسې غم لړی شو ، چې سمولينسک دښمن ته پرېښودل شو (هغه ښار چې د هغه په اند بايد ساتنه يې شوې وای). وروسته له هغه چې د اګست په شپږمه د هغه ناروغ پلار ، خپله د خوښې ليسه ګورې(هغه سيمه چې په خپلو لاسو يې ودانه کړې وه ) او د هغه ګران اوسېدونکي، تالانګرو ته پرېښودي او د مسکو تښتېدو ته اړ وزي. سرداراندرې د خپل غونډ له برکته کولای شول، نه د دغو شخړو ، نه د ځان ژغورنې لپاره ،بلکې د بل څه په اړه فکر وکړي او دغه څه دده غونډ و. د اګست په لسمه هغه پوځ چې دده غونډ هم په کې و ، ليسه ګورې، ته ورسېد. سرداراندرې دوه ورځې مخکې خبر تر لاسه کړ چې دده پلار ، خور او زوی مسکو ته ورسېدل. که څه هم سرداراندرې په ليسه ګورې کې هېڅ کار نه درلود ، خو د هغې تلوسې او د خپلو غمونو د ټپونو د تبلو لپاره ، بايد هلته ورغلی وای.

هغه سپارښتنه وکړه چې آس ورته زين کړي، چې دی لاړ شي او يو ځل د پلار مېنه وګوري. هغه ځای چې دی هلته پيدا شوی و ، خاپوړې يې په کې کړې وې او هلته يې خپل ماشومتوب تېر کړی و. له چې سپور ،د کلي د چينو نه چېرې چې په لسګونو ښځو په مرکو جرګو کالي مينځل، تېر شو ، هلته يې هېڅوک نه ليدل. هغه دړې چې به تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



له چينو سره وهل شوې وې او د اوبو مخې ته به ولاړې وې او س خلاصې شوې او د اوبو منځ ته تللې او تر نيمايي په اوبو کې ډوبې وې. سرداراندرې د ساتونکو د کوټې خواته ورغی. د تيرو ددروازې په خوله کې هيڅ څوک نه و او دروازه خلاصه وه. د باغ په لارو کې، شنه راپورته کېدونکي وو، آسونه او خوسکي په انګريز نومې پارک کې ګرځيدل. سرداراندرې ګلخونې ته ورننوت، د هغې کړکۍ او ښيښې هم ماتې وې. د ګلخونې د ځېنو ګلدانيو، ګلان وېستل شوي او لاندې پراته وو او ځېنې وچ شوي وو. هغه تراس، نومې باغوان ته ورغږ کړل، خو چا يې ځواب ورنه کړ. له ګلخونې ووت او وړاندې صفې ته ورتېر شو. وې ليدل چې لرګينې ستنې وهل شوي او تراشل شوي دي. او د زيتونو د راشکولو لپاره يې د هغې د ونو څانګې هم راماتې کړې دي. زوړ بزګر (هغه چې سردار اندرې به وړکتوب کې، د دروازې مخکې ليده) پر يوې شنه بخونې اوږدې باغي څوکۍ ناست و. هغه کوڼ و او د سرداراندرې په راتګ خبر نه شو. هغه پر هغې اوږدې لرګينې څوکۍ ناست و، چې د مشر سردار ناسته پرې خوښېده. سرداراندرې د کور خواته ورغی، وې ليدل چې په پخواني باغ کې هم د زيتونو څو ونې وهل شوي دي. يوه برګه آسپه، سره له خپل بيهان سره د سروګلو په منځ کې سرګردانه وه. کور تړلی و، خو د لاندې پوړ يوه کړکۍ خلاصه وه. د يوه چوپړ زوی د سرداراندرې د ديدن لپاره کورته ورمنډې کړل. الپاتيچ خپله کورنۍ کوم امن ځای ته لېږلې وه او خپله يوازې په ليسه ګورې کې پاتې شوی و. هغه په کور کې ناست و او سپېځلی کتاب يې لوست. همدا چې د سردار له راتګ نه خبر شو، عينکې په پوزه پاځېد، په داسې حال کې چې تنۍ يې تړلې، له کوټې ووت، په چټکۍ د سردار خواته ورغی، او پرته له هغه چې څه ووايي د سرداراندرې زنګون يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته مچ کړ.

بیا یې مخ واړاوه، او له خپلې ناتوانۍ نه په شرم شرم کې یې، هغه ته د حال جاج ووایه. هر هغه څه چې قیمتي و او د ارزښت وړ و، باګوچاروو ا ته لېږدول شوي وو. په سلو کې څلورمه برخه غنم هم وړل شوي و. وچ وابښه او پسرلنۍ غلې دانې (الپاتیچ په وینا په هغه کال یې حاصل هم بې ساري و) سرتېرو لا شنه ریبلي او وړي وو. ولسي خلک تالاوالا او دیوالي شوي وو. ځېنې باګوچاروو ا ته کډه شوي او ځېنې هغه هم، خورا لږ شمېر همالته په لیسه ګورې کې پاتې وو.

سردار اندرې، تر پایه د هغه خبرو ته غوږ نه شو او وې ویل:

- څه وخت یې پلار او خور لاړل، او ښکاره خبره ده، چې څه وخت مسکو ته لاړل؟ الپاتیچ تصور کاوه چې د سردار موخه باګوچاروو ا ته د هغو د تګ وخت پوښتی، وویل چې د اګست په اوومه او ببرته یې د جایدادونو، ځمکو او باغونو په اړه خبرې پیل او په دغو چارو کې یې د لارښوونې غوښتنه وکړه. الپاتیچ وپوښتل:

- اجازه راکوئ چې د یادښت په بدل کې سرتېرو ته وابښه ورکړم؟ له موږ سره لا خورا ډېر وابښه پاتې دی.

سردار اندرې، د دغه بوډا تګ شنه سر ته چې د لمر تر شغلو لاندې ځلېده او د هغه د بشرې، حالت ته وکتل او په دې پوه شه، چې بوډا هم د خپلو پوښتو پر بې ځایتوب پوهېږي، خو بیا هم هغه یوازې د خپل غم د سړولو لپاره کوي، په زړه کې یې وویل:

-زه به هغه ته څه ووایم؟

-ښه ده، ښه ده ور یې کړه !

الپاتیچ وویل:

-که تاسو باغ داسې تالاوالا ګڼوئ وینئ، په دې کې موږ ملامت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ، هېڅ چاره نه وه ، پوهېږئ، درې غونډه له دې ځایه تېرېدل او د شپې همدلته تم شول، په تېره بیا درګانان. ما د هغو د قوماندان نوم او رتبه لیکلي، چې ښښنه وغواړي.

سرداراندرې ترې وپوښتل:

-ښه ! اوس ته بیا څه کوئ؟ که دښمن راشي او دا ځای لاندې کړي، بیا څه کوئ؟

الپاتیچ سرداراندرې ته مخ ورواړاوه، هغه ته ځیر شو او په خورا پرتم یې لاسونه د آسمان پلو لوړ کړل او وې ویل:

-زما ساتونکی هغه دی، هر څه چې د هغه اراده یې، هغه به کېږي.

یوه ډله کلیوال او چوپړان چې خولۍ یې له سره پورته کړې وې، په شنیلو کې مخ وړاندې را روان او سرداراندرې ته نږدې کېدل.

سرداراندرې د الپاتیچ خوا ته ورخم شو او وې ویل:

-ښه د خدای په امان ! خپله هم ځه، هر څه چې وړې، وړه یې او نورو خلکو ته هم ووایئ چې ووزي او لاړ شي، یا دې د ریزان ښار ته لاړ شي او یا هم د مسکو څنډو ته. الپاتیچ د سرداراندرې پښه راونیوله او په ژړا شو. سرداراندرې هغه په نرمه پورې واهه، خپل آس یې وخوځاوه او همداسې چټک او یرغه د باغونو پلو ورشېوه شو.

کاڼه بوډا هماغه شان له راغلي غم نه بې خبره، لکه پر ګران مړی ناست مچ، ناست و او مخې ته ولاړه ګُنده (د ونې بېخ) ته یې ګوزارونه ورکول.

دوو نجونو چې لمن یې له ګلخونې نه د راټولو شویو الوچو نه ډکې وې او له هغه ځایه لرې کېدې، له سرداراندرې سره مخامخ شوې. مشره نجلۍ د سرداراندرې په لیدو سخته وډاره شوه، د خپلې کمکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورلنډې لاس يې ونيو او پرته له هغه چې له لمنې نه توېې شوې الوچې راټولې کړې، له هغې سره د چنار د ونې شاته پټه شوه.

سرداراندرې په چټکۍ له دې ډاره، له هغو نه مخ واړاوه چې هغوی پوه نه شي، چې ده هغوی ليدلي دي. دده پر دغو ښو، خو ډار شويو نجونو خورا زړه خوږ شو. هغه له دې ډاريده چې هغو ته ور وګوري، خو هم مهاله يې ډېر زړه کيده چې هغوې ته ور وګوري.

يو نوی خوښونکی او ارامه ونکی احساس پر ده لاس بری شو، يو چور پردی خو په هماغه کچه ده ته د انساني ګټو آشنا احساس، هغه څه چې دغو نجونو کول. دا څرګنده خبره وه، چې دغو نجونو يوه هيله لرله او هغه دا چې دغه شنې آلوچې وخوري او څوک هغوی ونه ويني. سرداراندرې له هغوی سره خوا خوږی و او په دې چاره کې يې د هغو بری يې غوښته. هغه نه شو کولای هغو ته ور ونه ګوري او بيا يې هغو ته وروکتل.

نجونو چې ځان له ګواښ لرې وګاڼه، له خپل ځار ځای نه راووتلې، په نازکو آوازونه يې مرکه پيل، لمنې يې په منګلو کې کلکې، په خورا خوښۍ، لوڅې بربنډې لمر وهلې پښې په شنيليو کې منډه کړل او له هغه ځايه لرې شوې.

سرداراندرې له دې کبله چې، د سرتېرو د تېريدو د لويې لارې له دوړو نه لږ لرې شوی و، ځان آرامه احساساوه، خو کله چې له ليسه ګورې نه لږ لرې شو، بيا يې ځان دغې لارې ته ځکه برابر کړ چې لږ آرامه شي، ځان يې خپل غونډ ته چې په يوه دره کې د يوې چينې خوا ته ديره شوی و، ورساوه.

د ورځې يوه بجه او څو دقيقې وې، دلمر د سرې تبې شغلې له دوړو په نه زغمېدونکي ډول د خلکو پر تندی لګېدې او د هرچا شا يې ان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالیو لاندې سوځوله، دوړې همداسې زیاتې د ولاړو پوځیانو پر مرکو او غړېدا، کېږدی دروله وه، باد نه لګېده. سردار اندرې د اوبو د بند له ځنګه د تېرېدو سره، یو بوی احساس کړ او د ډنډونو سره هوا یې په ځېره ولګېده. زړه یې غوښتل ولامبي، هېڅ پروا یې نه لرله چې اوبه ځنګه ککړې وې. د سیند نه د راجلا کېدونکو اوبو ډنډ ته یې وکتل او هلته یې د لوړو خنداو کړسهاری او د چغو غږ واورېد. د ککړو اوبو او د نهرو شنو اوبو لوړتیا د لامبووهونکو د شمېر د زیاتوالی له کبله لا لوړه شوې وه. د سرتېرو سپینو بربنډو ځانونه، د هغو لمر وهلي لاسونه، مخونه او ځنو نه، چې له دې املة تک سره شوي وو، له ورایه په اوبو کې ښکارېدل.

یو ځوان ژېړ ځنی سرتېری، چې د درېیم ټولي و، سردار اندرې هم هغه پېژانده. هغه چې د ښنګرې نه یې تسمه تړلې وه، پر ټټر یې صلیب وو بست. ددې لپاره چې ښه ودانګي، شاته لاړ، منډه یې کړل او اوبو ته یې ورودانګل. یو بل افسر چې توري، خو تل جړې پریشانه ځنې یې لرلې او تر ملا پورې په اوبو کې ډوب و، خپل ځان یې کوږ وږ کاوه او په خپلو تر مړوندو تورو لاسونه یې پر ځان اوبه شیندلې. ..

افسر تیموخین چې سره پزه یې لرله، د نهر پرغاړه ولاړ و او ځان یې په ځان پاک وچاوه، که څه هم د سردار په لیدو وشرمېده، خو بیا یې هم وکولای شو، هغه ته مخ وروا ړوي او ووایي:

- سخت خوند کوي، حضرت عالي، مهرباني به مو کړې وای.

سردار اندرې تندی ګونځ کړ او وې ویل: ککړې دي.

- سمدلاسه به یې درته پاکې کړو.

او تیموخین چې لا جامې نه وې اغوستې، منډه یې کړل چې نهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک کړي، هغه وویل:
- حضرت سردار غواړي ولامبي.
ځو آوازونه پورته شول:
- کوم؟ زموږ کوم سردار؟
ټولو د بر تلوار او اله ګوله جوړه کړه، چې سردار خپله اړوت په سختۍ هغوی په کرار کړي. هغه دا ښه وګڼله چې همالته په سرای کې پر ځان اوبه واچوي. هغه چې خپلو بربنډو غړو ته وکتل، وربړدید ،خو دغې ربړدیدا ته، نه د سړوله وحشت او کرکې،چې د ناځرګند حالته پر ده راخوره شوې، بلکې د هغو بربنډو ځوانانو له لیدو نه و ، چې په هغو ککړو اوبو کې لمبیدل، هغه په زړه کې وویل:
- د توپونو د خولې غوښې !
د اګست په اوومه نېټه شهزاده باګراتیون له خپل تم ځای، د میخائیلوفسکي له کلي نه چې د سمولینسک پر لاره پروت دی، دا سې لیکلي و:
- ښاغلی عالیجناب ګراف الکسي آراکچییوف !(هغه لیکنونه د اراکچییوف په نامه لیکل،خو په دې پوهېده چې هغه هرومرو ټولواک هم لولي، نو ځکه ده پوره هڅه کوله، چې هغه په خورا ځیر او پوره پاملرنې ولیکي ).
- تصور کوم، چې وزیر به پر سمولینسک د ولکې د درول راپور ورکړی و. د غم او خواشینۍ وړ او پوځ خورا ناهیلی دی چې دغه شان غوره ښار په داسې آسانۍ دښمن ته پرېښودل شوی دی. ما په خپل وار سره هڅه وکړه ، چې هر څنګه کېږي هغه په دې قانع کړم،آن ورته و مې لیکل، مګر هغه هېڅ خبرې او دلیل قانع نه کړ. زه په خپل وجدان قسم خورم چې ناپلیون هېڅکله داسې له ستونزو سره مخامخ شوی نه و او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هغه خپل نیم پوځ هم قربان کړی وای، بیا یې هم نه شو کولای پر سمولینسک دا سې آسانه ولکه ټینګه کړي، زموږ پوځونه دا سې جنګېدل او دا سې جنګېږي، چې هېڅکله دا سې نه و جنګېدلي. ما له پنځلسو زرو سرتېرو سره، ۳۵ ساعته د دښمن د وړاندې تګ مخه ونیوله، او همدا سې مو د هغو مخه نیولې وه او جنګېدو، خو هغه ۱۴ ساعته هم د چا مخه ونه نیوله. دا زموږ د پوځ لپاره د شرم او بې ننګۍ خبره ده. ما ته دا سې بريښي چې هغه هم باید ژوندی پاتې نه شي. که هغه ویلي چې مړګ خورا ډېر و، دروغ وايي، کېدای شي ۴ زره تنه وژل شوي وي، نه زیات، خو که مړګ ژوبله لسو زرو ته هم رسېدلای وای، رسېدلي دې وای، نو څه، جګړه ده، که زیات شوي وای د دښمن مړګ ژوبله به هم بې سارې شوې وای. څه کېده چې یو دوه ورځې نورې یې هم دفاع کړې وای؟ دا په ډاګه خبره وه، چې هغوی به خپله تېښتې ته اړ شوي وای. هغوی نه د څکلو او نه آسونو ته د ورکولو اوبه لرلې. هغه سهار ژبه کړې وه، نه به تسلیمېږي، خو ناڅاپه یې سپارښتنه راورسېده چې په شا کېږي به. په دې حال جګړه نه شي کېدای، که دا سې وي ډېر ژر به دښمن د مسکو په کوڅو کې وګورئ...

دا سې آوازې خپرې شوي دي، چې تاسو د روغې جوړې خبرې کولې، خدای دې نه کوي. تر دومره قربانیو او تر دومره، شرموونکي شاته تګ نه وروسته به روغه ټوله روسیه ستاسو پر وړاندې ودروي او موږ ټول به د پوځي دریشي له اغوستلو نه شرم کوو. او که په بله یې وو ایو چې خبره دا سې شوه، نو باید وجنګېږو او تر هغه وجنګېږو چې روسیه او د هغې خلک د درېدو توان لري.

مشري باید د یوه تن پر غاړه وي، نه د دوو تنو، ستا دا وزیر به کېدای شي وزیر وي، خو هغه ښه قوماندان نه دی، نه یوازې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندان نه دی، بلکه ډارن او بد قوماندان دی. تاسو هغه ته د خپل وطن برخلیک ورسپارلی دی، خو رښتیا خبره دا ده چې زه له غمه لېونی کېږم. تاسو به ما له دغو سپوغو او سپیرو خبرو نه چې لیکم یې وبښې. دا ښکاره خبره ده چې هر هغه څوک چې سوله غواړي او هممهاله وزیر او ستر قوماندان واوسي، هغه ته نه یوازې ټولواک ګران نه دی، بلکې چې موږ ټول به تالاوالا کړي. زه تاسو ته رښتیا رښتیا لیکم. تاسو اربکي چمتو کړئ، ځکه داسې بربښې چې وزیر غواړي خپل مېلمانه په خورا ځیرکتیا ځان پسې، پلازمېنې ته راولي. د هغه یاور جنرال ولځوګین د ټول پوځ بد ایسي او شک پرې لري. خلک وايي چې هغه تر موږه زیات د ناپلیون خواخوږی دی، حال دا چې وزیر د هغه له مشورې پرته، بل هېڅ څه نه کوي. که څه هم زه تر وزیره مشر یم، خو په ټولو کړو وړو کې، د یو سرتېري په شان د هغه خبرې او سپارښتنې اورم. دا خبره خورا زورونکې ده، خو څه وکړم، ما ته مې خپل ټولواک ګران او بله چاره نه لرم. مګر دا د خواشینۍ خبره ده چې زموږ ټولواک دغه شان ویاړمن پوځ، دغه شان یو چا ته سپارلی دی. تاسو یې تصور کولای شی، چې موږ څه شمېر خلک یوازې له ستړیا نه له لاسه ورکړل او تر ۱۵ زرو تنو پورې مو، شا ته تګ ته اړ کړل. که شا ته تګ نه وای، دا یوه خبره به هم نه وه. ستاسو دې په خدای قسم وي، وواییئ، روسیه زموږ مور، زموږ وطن، که ووینئ چې موږ داسې په ډار او بې غیرتۍ، هغه داسې یو شمېر احمقانو او لېونیو ته سپارو او د خپلو وګړو په زړه کې د کرکې زړې کرو، څه به ووايې؟ ولې او له چانه وډارېږو؟ زه ملامت نه یم چې وزیر، ډارن، ساده، وخت له لاسه ورکوونکی او تر ټولو بدې ځانګړتیاوې لري. ټول پوځ ژاړي او هغه ښکنځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

د ژوند د ټولنيز بې شمېره ويش لپاره چې کومې ډلبندۍ په پام کې نيول شوي دي، يوه ډله هغه ده چې منځپانګه يې پياوړي او بله يې هغه ده چې په هغو کې اډانه او بڼه غوره وي. د پترزبورګ په تېره بيا د هغه د اعيانو ژوند کېدای شي، په دويمه ډله کې وشمېرل شي، ځکه د هغو ژوند د کليو، بانډو د ښارونو او آن د مسکو د بنډارونو د ژوند په کچه بدلون او پر مختګ نه لاره.

موږ له ۱۸۰۵ تر ۱۸۱۲ کاله پورې څو ځله له ناپليون سره روغه وکړه او بيا سره ونښتو. اساسي قوانين مو ومنل او بيا مو بېرته لغو کړل. د اناپاولوفنا او د ايلين بنډارونو د يو دوو کالو پخوا په شان هماغه شان چې وو، هماغه دي. په هماغه شان د اناپاولوفنا، په بنډارونو کې د بناپارت له بريو کرکه څرګنديده، د هغه برې او هغه ته د اروپا د شاهانو تسليمي او لاس په نامه دريدل، هغه لويه دوکه بلله کېده چې يوازينۍ موخه يې د هغه وګړو زورول او په قهرول و چې د اناپاولوفنا په مشرۍ يې له دربار سره اړيکي لرل. کټ مټ همدغه شان د ايلين په بنډارونو کې چې رومیانخوف به ځان د هغه وړ او تل به په کې ښوريده، ايلين به يې بې سارې ښکلې او هوښياره ښځه بلله، په ۱۸۱۲ کال کې هم د ۱۸۰۸ کال په شان کټ مټ د ستر ملت، د ستر مشر په اړه غږيدل او له فرانسې سره يې د اړيکو په شلولو خواشيني څرګندوله او له هغې سره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغې هیله لرله.

په دې وروستیو وختونو کې له جبهې نه د ټولواک تر راګرځېدو وروسته په دې دواړه ډلوکې څه ناآرامی پیدا شوې وه او دواړه خواوو یو بل غندل او څه سپکې سپورې یې سره ویلې وې، خو د هغو لارې هماغه چې وې، وې.

د اناپاولوفنې په کړیو کې یوازې تند لارو لیږمینانو لاس بری لاره. دغه راز په هغو کې د هېواد پالنې خیالات خورا پیاوړي، ژور او ویل به یې چې باید فرانسوي تیاتر ته لاړ نه شو، ځکه د یوه تیاتر ساتنه لکه د یوه پوځ د ساتنې په اندازه خرڅ غواړي. دوی د جګړې حال احوال په خورا ځیر څاره او د خپل پوځ په پلوي به یې آوازې خپرولې. د ایلین او رومیانځوف په بنډارونو کې د فرانسوي پوځیانو د تالان او وژنې په اړه هومره خبرې نه کېدې، بلکې د هغه په پلوي، د ناپلیون د سوله ایز دریځ او د سولې لپاره د هغه د هلوځلو په اړه خبرې کېدې. .. د بېلبېن وینا چې د ایلین د کور همیشنۍ مېلمه و (اوس په پترزبورګ کې هر هوښیار او ځیرک سړي د ایلین کور ته د تګ راتګ ویاړ موندلی و ) اوس خورا دود شوې وه. هغه ویلي و:

- اوس نه باروت بلکې د هغه مخترعین به د جګړو لارې ټاکي. په دې ډله کې له ټولواک سره د مسکویانو د لېوالتیا په خبره چې له ټولواک سره ګډه پترزبورګ ته رارسېدلي وو، په خندا، مګر په احتیاط ملنډې وهل کېدې.

د اناپاولوفنا، په ډله کې، برعکس په داسې خوښۍ ددغو چارو هرکلی کېده لکه پلوتارک چې د لرغونو زمانو نه کاوه. شهزاده واسیلي چې په دولتي چارو کې خورا لوړې چارې لرلې، ددغو دوو ډلو د پیوند کړۍ جوړوله. هم د خپلې آشنا اناپاولوفنا کورته ورته او هم د خپلې لور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيپلوماتيک صالون ته. دغو دوو مخالفو بنديارونو ته تګ راتګ به دی کله ناکله زړه نا زړه کړ او په پريکړو کې به تېر وتو، چې چېرې کومه خبره وکړي. هغه د اناپاولوفنا په کور کې هغه ډول خبرې کولې چې بايد د ايلين په کور کې يې کړې وای او يا هم برعکس.

پترزبورګ ته د ټولواک، تررا ستنېدو نه لږ وروسته، شهزاده واسيلي د اناپاولوفنا په بنديار کې د جګړې په اړه د خبرو په لړ کې بارکلي دوتولي، ښه غندل، خو حيران پاتې شوی و، چې د هغه پر ځای ثوک د جګړې ستر قوماندان وټاکل شي. له مېلمنو نه يو تن چې په خورا مخورتوب پېژندل کېده، وويل ده نن د خزانه دارۍ په ودانۍ کې د پترزبورګ د وسله والو اربکيو ټاکل شوی مشر کوتوزوف ليدلی چې د داوطلبو اربکيو د غونډې مشري يې کوله او څرګندونه يې کړې ده، چې هغه د دغې مشرۍ لپاره غوره ځانګړتياوې لري.

اناپاولوفنا، چې يو غمجنه موسکا يې پر شونډو خوره شوه، يادونه وکړه چې: کوتوزوف لا تر اوسه له بدناميو پرته ټولواک ته نور هېڅ کړي نه دي.

شهزاده واسيلي يې خبرې پرې کړې او وې ويل:

- ما د اعيانو په غونډه کې ډېر ټينګار وکړ، خو چا مې خبره وانه اوريده. ما وويل چې د اربکيو د مشر په توګه د هغه ټاکل به د ټولواک خوښ نه شي. هغو زما خبرې وانه اوريدلې.

يوه شېبه حيران پاتې شو، آن هېره يې شوه چې د ايلين په کور کې بايد د مسکويانو پر هېواد پالنې وخاندي او د اناپاولوفنا په هغه بايد برعکس د هغو ستاينه وکړي. هغه زياته کړه:

- ټولې همدا د سيالۍ خبرې، خو دا سيالۍ له چا سره؟ خو په هماغه کې يې خپلې تېروتنې ته پام شو او زياته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-آيا د روسيې تر ټولو مشر او سپين ږيرى جنرال ګراف کوتوزوف ته دا ښايي چې لاړ شي، په خزانه دارۍ کې کيني او هلې ځلې يې هسې هدر لاړې شي؟آيا دا امکان لري هغه څوک د پوځ ستر قوماندان وټاکل شي، چې پر آس هم کښناستی نه شي او د جګړې په جرګه کې يې خوب وړي؟ هغه څوک چې د خورا ناوړه اخلاقي ځانګړتياوو خاوند دی. ښه ده چې په بخارست کې يې ځانته ښه نوم ګټلی دی. زه نه غواړم د هغه د جنرالۍ د ځانګړتياوو په اړه څه ووايم، خو آيا دا ښايي چې زموږ په او سني حالت کې دغه شان عاجز او ړوند بوډا د ټولو پوځونو ستر قوماندان وټاکل شي؟ هوکې چور ړوند؟ ړوند جنرال چا ليدلی؟ هغه هېڅ شی نه ويني. هغه به د پټ پټوني لوبه کوي، ځکه هغه خو څه نه ويني، هېڅ چا له دې خبرې سره مخالفت ونه ښود.

د جولای په څلورويشتمه دا خبرې ټولې رښتيا وې، خو د جولای په ۲۹ کوتوزوف ته د شهزاده د نامه ويار ورو ښبل شو. کوتوزوف ته د شهزاده د نامه ويار ورښښنه، کېدای شوه ددې لپاره و، چې هغه لرې او پوځ ترې بې غمه کړي. که څه هم هغه په خپل نظر ټينګار نه کاوه، خو بيا هم د هغه په اړه د شهزاده واسيلي قضاوت دوام درلوده.

دا ګست په اتمه د فيلد مارشالانو جرګې د سالتيکوف، آراکچييوف، ويازميتينوف، لوپوخين او کوچوبيه په ګډون غونډه وکړه او په هغه کې د جګړې پر بهير خبرې اترې پيل شوې. ددغو خبرواترو او څېړنو پايله دا وه چې د جګړې د ماتې علت په قوماندانۍ کې، دوه واکيز او له کوتوزوف نه د ټولواک خوابدي وه، خو بيا هم تر لنډو څېړنو او خبرو اترو نه وروسته هغو کوتوزوف د پوځ د ستر قوماندان په توګه وټاکه. او په هماغه ورځ کوتوزوف د ټول پوځ د اعلی قوماندان او ټولو هغو سيمو مشر وټاکل شو، چې پوځ هلته مېشت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اګست په نهمه سردار واسیلي، د اناپاولوفنا په کور کې بیا له هغه پېژندل شوي مخور سره مخامخ شو. هغه پېژندل شوي سړي هڅه کوله، څکه اناپاولوفنا خوشاله وساتي چې غوښتل یې د ښځینه ښوونځی مدیر وټاکل شي. شهزاده واسیلي په ورین تندی خوشاله او مست لکه د هغه نیکمرغه په شان چې خدای یې ټولې غوښتنې منلې وي، تالار ته راننوت او وې ویل:

- تاسو خبر شوئ، نوی خبر مو واورید، کوتوزوف فیلد مارشال شو. ټولې سیالۍ پای ته رسېدلي دي. پوهېږی څومره نیکمرغه او خوشاله یم.

هغه په تالار کې ټول ناست کسان په ځیر ځیر وڅارل او وې ویل:

- بالاخره هغه څوک مو چې غوښته پیدا شو. دغه هماغه څوک دی.

هغه پېژندل شوی مخور، سره له هغه چې د نجونو د ښوونځۍ مدیریت ته د رسېدلو لېوالتیا یې لرله، خو ونه یې شو کولای، سردار واسیلي ته د کوتوزوف په اړه د هغه پخوانۍ خبرې وریادې نه کړي. (دغه خبره هم د سردار واسیلي، هم د اناپاولوفنا او هم د کوربنې لپاره چې د کوتوزوف د خبر له اورېدو نه خورا خوشاله و، یو ډول سپکاوی و، خو بیا هم مخور سړي، ونه شو کولای، هغه ونه وایي).

هغه سړي د دې لپاره چې سردار واسیلي ته د هغه خبرې وریادې کړي وي، وویل:

- وایي چې هغه ړوند دی؟

سردار واسیلي په درانه ډډ غږ په تلوار او لاسي توخي، هغه ټوخي چې تل به یې د هغه په مرسته خپل دغه شان ستونزې آوارولې، وویل:

- دا چټیات دي، هغه پوره وینې، باور وکړئ، پوره، هغه تکرار کړه:

- هوکې چټیات دي، هغه پوره وینې، هر څه وینې، باور وکړئ. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چې زما د لا خوشالۍ سبب کېږي، دا ده چې ټولواک هغه د ټول پوځ اعلی قوماندان او د ټولو هغو سیمو چې هلته پوځ مېشت دی، واکمن کړی دی. دا هغه واک دی، چې هېڅکله، هېڅ چا ته او یو قوماندان ته هم ورکړ شوی نه و. هغه خپلې خبرې له بري نه په ډکې یوې موسکا پای ته ورسولې او وې ویل:

- هغه اوس یو مطلق سلطان دی.

اناپاولوفنا وویل:

- د خدای شکر ! د خدای شکر ! خدای دې د هغه ساتندوی واوسي !

پېژندل شوي سړي، چې ښکاریده نوی یې د غو بنډارونو ته تګ راتګ پیل کړی دی او د دغو محافلو له کړوړو سره ناآشنا بربښېده، اناپاولوفنې ته په چوغلۍ چوغلۍ او د دې لپاره چې خپل پخوانی اند هم بدل کړي، وویل:

- سره وایي چې ټولواک زړه نا زړه دغه شان واک کوتوزوف ته سپارلی دی. ځکه وایي کله چې کوتوزوف ته دغه خبر ورکول کېده، چې ټولواک او هېواد، دغه شان ویاړ هغه ته وربښلی دی،د هغه پېغلوټې په شان تک سور شو، چې د ژوکوند کیسه یې اوریدلې وي.

اناپاولوفنې ځواب ورکړ:

- دې خبرې کې به څه زیاتی شوی وي.

سردار واسیلي په چټکۍ او خوند سره د اناپاولوفنا خبره تاییده او وې ویل:

- نه، نه، اوس ټولواک ته تر کوتوزوف نه نېږدې څوک نه شته. د سردار واسیلي په اند، کوتوزوف نه یوازې په خپله بې ساري قوماندان و، بلکې خلکو هم د لمانځنې تر کچې هغه ستایه. هغه زیاته کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا خبره ناشونې ده، هغه ته لا پخوا او تل ډېره پاملرنه لرله.
اناپاولوفنا وويل:
- شکر د خدای دی، زه اوس له خدایه یوازې دا هیله لرم چې کوتوزوف په رښتیا ټول واک تر لاسه کړي او هېڅ چا ته دا حق ورنه کړي چې د هغه د چارو خنډ شي.
سردار واسیلي په هماغه شېبه کې پوه شو، چې د غه هېڅ چا، څوک دی او په بنګهاري یې وویل:
- زه په دې پوره خبر یم، چې کوتوزوف د پوځ مشري په دې شرط منلې ده، چې د ټولواک ولیعهد به په جبهه کې نه پاتېږي. پوهېږئ؟ هغه ټولواک ته څه ویلي دي؟ او د سردار واسیلی هغه خبرې یې تکرار کړې وې، چې کوتوزوف به ګواکې ټولواک ته کړي وې:
- که تېر وتنه وکړئ، زه نه شم کولای هغه ورټم او که ښه کار وکړي، هغه ستایلی او ویاړلی نه شم.
شهزاده کوتوزوف، خورا ځیرک سړی دی، زه هغه له ډېر پخوا نه پېژنم.
هغه پېژندل شوي مخور چې لا د اعیانو په بنډارونو کې له خبرو کولو سره آشنا نه و، وویل:
- ښاغلی مبارک دا شرط هم وړاندې کړی و چې خپله اعلیحضرت ټولواک دې هم باید جبهې ته نه ورځي.
همدا چې د غه خبره یې وکړه، په هماغه شېبه کې سردار واسیلی او اناپاولوفنا له هغه نه مخونه واړاول، په خواشینۍ او ساړه اسویلي یې د هغه سادګۍ ته د حیرانۍ په نښه یو بل ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

هغه وخت چې په پترزبورګ کې دغه پېښې تېرېدې، فرانسويان له سمولينسک راواوښتل او کرار کرار د مسکو خواته رانېږدې کېدل. د ناپليون مورخ، تي ير، د ناپليون د نورو مورخينو په شان چې د خپل اتل د کړو برحق والی هڅه کوي وايي چې د مسکو د ديوالونو زړه راښکون ناپليون بې اختياره د ځان لېواله کړی و. هغه د نورو هغو مورخينو په شان چې د تاريخي پېښو پېښېدل د يو تن د ارادې پايله ګڼي، په خپل دغه قضاوت کې برحقه دی. هغه د روسي مورخينو په شان چې وايي ناپليون د مسکو زړه راښکون ته روسي سردارانو لېواله کړی و، برحقه دی. دلته له هغو قوانينو نه پرته چې ټولې پخوانۍ پېښې د اوسنيو پېښو سريزې بولي، د پديدو د خپل منځي اغېز ونډه چې هر څه سره ګډ وده وي، هم په کار ده. د شطرنج ښه لوبغاړی چې لوبه بايلي، د زړه له کومې ډاډمن دی چې د هغه د لوبې د بايلودو علت هغه تېروتنه ده، چې د لوبې په پيل کې يې کړې ده، خو هغه دا هېره وي، چې د ټولې لوبې په بهير کې د هغه په هر ګام کې دغه شان تېروتنې وې او يوه خوځېدا يې هم بې له تېروتنو نه وه، مګر هغه تېروتنه چې دی هغه ته پام وراړوي، هغه ده، چې سيال يې له هغه نه ګټه اخېستې ده.

خو د جګړې لوبه که څه هم په ځانګړو ښکاره زماني شرايطو کې روانه وي، خو تر دې هغې ځکه خورا پېچلې ده چې په شطرنج کې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه د یوه تن په ارادې، دانې وړاندې وروسته کېږي، خو په جګړه کې بې شمېره ارادې، د ګڼ شمېر ارادو په لاربنوونه سره ټکر کېږي.

ناپلیون، ترسمولینسکه وروسته غوښتل لومړی د دارګابوژ او یازوما د لاندې کولو او بیا په ځاریوا -زایمشه کې له روسي پوځ سره وجنګېږي، خو تقدیر داسې راوسته چې روسان د زیاتو ډولاډولو ټکرونو تراغېز لاندې، د بارادینا تر سیمې پورې چې د مسکو په یو سلو شل روستې کې پراته ونه شو کولای، له ناپلیون سره مخامخ شي. ناپلیون په یازوما کې خپلو پوځونو ته سپاربښتنه او فرمان ورکړ چې مخامخ مسکو لورته لاړ شي.

مسکو، دد غې سترې امپراتورۍ آسیایي پلازمېنه، د الکساندر د خلکو سپېڅلی ښار، مسکو له خپلو بې شمېره کلیساوو سره چیني معابدو ته ورته ښار، دغه مسکو د ناپلیون خیالونه زنګول او هغه یې ناآرمه کړی و. ناپلیون چې پر خپل توربخن سپین یال لرونکي آس سپور و، د ویازما له سیمې نه د ځارو زایمیشو، د واکمنۍ پلو ته روان و. هغه، د هغه بې شمېره ګارډ، ساتونکو، یاورانو او پاڅانو(   )بدرګه کاوه.

د هغه د ګارد قوماندان جنرال بریته، ددې لپاره شاته پاتې شوی و، چې په خپله د هغه روسي اسیر پوښتنه وکړي چې د فرانسوي سورو منګلو ته ورغلی و، د هغه تر پوښتنې وروسته یې له خپل ژباړونکي (لونرم دیده ویل) سره ځان د ناپلیون حضور ته ورساوه او په ورین تندي او خوشاله بشرې د هغه تر څنګ ودرید. ناپلیون وپوښتل:

- ښه، څه خبرې دي؟

د پلاتوف د پوځ یو قزاق وایي چې دده پوځي ډله غواړي، له لوی پوځ سره یو ځای شي. بله خبره دا ده چې ویل کېږي، کوتوزوف د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلی قوماندان ټاکل شوی دی، خورا ځیرک او باتهو سړی دی.

ناپلیون وموسبد او وې ویل چې دغه قزاق ته یو آس ورکړئ او دده حضور ته یې راولي، هغه هیله څرګنده کړه چې خپله دې ورسره وغږېږي. څو تنه یاوران یرغه ولاړل او یو ساعت وروسته لاورشکا، هغه چوپړ چې دینیسوف نیکولای ته پرېښی و، هغه چې د ینشځکوی نومې جمپر یې پرغاړه، د فرانسوي سورو پوځونو پر یو آس سپور، په ورین تندی موسکا پرشونډو، چې په بشره کې یې د مستۍ او نشې نښې څرګندې وې، ناپلیون ته راوستل شو. ناپلیون حکم وکړ چې د هغه تر څنګه روان شي او له هغه نه یې پوښتنې پیل کړې:

- تاسو قزاق یاست؟

- هو کې قزاق یم، جلالتمابه، مهربانه !

تې یر، ددې پېښې په اړه لیکي:

قزاق نه پوهېده، د چا په رکاب کې پر آس سپور دی، ځکه د ناپلیون بشره دومره ساده وه چې د ختیځ تخیل خاوند نه شو کولای، د هغه په دیدن تصور وکړي چې دا یو ټولواک دی. هغه په خورا ساده او خوږه ژبه له دغه قزاق سره د روښتنې جګړې په اړه خبرې کولې.

رښتیا هم لاوروشکا، یوه ورځ د مخه پریمانه شراب څکلي و، سخت نشه شوی و، خپل ارباب یې وږی پرېښی و، بیا یې ښه وهل خوړلي او کلي ته د چرګانو د رانیولو لپاره لېږل شوی و. هلته دده د چرګانو د غلا کولو تکل کړی و او د فرانسویانو لاس ته ورلوېدلی و. لاوروشکا له هغو ځیرکو، چالاکو، دوکمارو چوپړانو نه و چې د ژوند ډېرې خوږې ترخې او کړکیچونه یې لیدلی و. دی د هغو کسانو له ډلې نه و، چې په هره چاره کې ځان دوکماره وي، له ټولو چارو نه خبر وي او د بادار د هرې سپارښتنې سرته رسولو ته چمتو اوسي،... خو کله چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپليون سره مخامخ شو ، هغه يې ډېر ژر او په آسانۍ وپېژاند ، په هېڅ ډول ګبنۍ وانه خېست، هغه پوهېده او هڅه يې کوله چې خپلو نويو بادارانو ته ځان وښيي او دهغو پام ځانته وروا ړوي. هغه په دې ښه پوهېده چې دا خپله ناپليون دی، خو هغه شان چې له رستوف يا دلګۍ مشرنه ډارېده ، له ناپليونه ، ځکه نه ډارېده ، ځکه ده هسې څه نه لرل چې ناپليون به يا دلګي مشره به يې ترې واخلي.

هغه چې هر څه ويل دروغ و ، هغه به چوپړانو ته غوږ نيو او د هغو خبرې به يې بيا بيا کولې، اپلتې به يې ويلې، خو کله چې ناپليون له هغه وپوښتل، روسان څه فکر کوي، چې آيا ناپليون هغوی ماتولي شي او کنه؟ لاوروشکا سترګې ګونجې کړې او په چرت کې لاړ، هغه په دې پوښتنه کې يوه نازکه ځيرکتيا او دوکه وليدله، داسې چل او دوکه، چې د لاوروشکا په څېر خلک يې تل، هر چېرې او هر څه کې لټوي، لږ وځنډيد او وې ويل:

- څه وو ايم، که جګړه پيل شي، دا چټکتيا پورې اړه لري، دا همداسې ده، که سمدلاسه جګړه پيل شي، تاسو يې ګټۍ او که درې ورځې تېرې شي او بيا جګړه پيل شي، نو بيا به کړکيچ رامنځ ته شي.

ليولورګين ديلاديول، وموسېد او دا خبرې يې ناپليون ته داسې وژباړلې:

- که جګړه د درې راتلونکو ورځو په لړ کې پيل شي، هغه به فرانسويان وګټي، خو که تر درې ورځو وروسته پيل شي، نو خدای پوهېږي چې څه به پېښ شي.

که څه هم د ناپليون طبيعت خورا ښه و ، خو ونه موسېد او حکم يې وکړ چې دغه خبرې بيا ورته وژباړي.

د لاوروشکا دې ته پام شو ، خو ددې لپاره چې ناپليون وخندوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې په تګۍ ووا هه چې ګو اکې ناپليون نه پېژني او وې پوښتل، دا څوک دی؟

هغه زياته کړه:

- موږ پوهېږو چې تاسو بناپارت لرئ، هغه ټوله دنيا لاندې او ماته کړه،خو بايد ووايم چې زموږ خبره بله ده. او خپله هم پوه نه شو، چې خبرو يې په پای کې د هېوادپالنې رنګ پيدا کړ. ژباړن د هغه خبرې کټ مټ ناپليون ته وژباړلې. او ناپليون وخندل او دې ځوان قزاق ناپليون دې ته اړ کړ، چې وخاندي.

ناپليون څو ګامه وړاندې لاړ، مخ يې جنرال بيرتيه ،ته وروااړاوه او وې ويل:

- غواړئ چې د دن (ښار) ددغه ځوان بچي هغه احساس ووينې، چې کله پوه شي، له ده سره خپله ټولواک غږېږي، هماغه ټولواک چې د هغه ابدي او تل له بريو سره مل نوم، پر ابدي اهرامونو ليکل شوی دی.

لاوروشکا ته يې وويل چې دی له ناپليون سره غږېږي.

لاوروشکا چې پوه شو، دا کار هغوی ددې لپاره لاسي کړی دی چې دی حيران کړي (او ناپليون تصور کاوه چې هغه يې حيران کړي) د خپلو نويو بادارانو د خوشالۍ لپاره، ناڅاپه وښوده چې حيران او هک پک شوی دی. سترګې يې وغوړولې او څېرې يې هغه بڼه پيدا کړه چې تل به يې دمتروکو وهلو لپاره د وتلو په وخت کې پيدا کوله.

تې ير ليکلي: کله چې د ناپليون ژباړن خبرې پيل کړې، قزاق هک پک شو. نور له خبرو پاتې شو. د تګ وړانديز يې وکړ. سترګې يې د هغه چاله ليدو، نه چې نړۍ لاندې کړې وه او آواز يې د ختيځ له ډاګونو نه لرې، تر ده پورې رارسېدلې او پر دې يې اغېز کړی و ،برندې برندې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور يې له ناڅاپي هيبته خبرې نه شوې کولای او د هغه ټول احساس د سادګۍ په ستاينو او چوپتيا بدل شو. ناپليون هغه ته يوه ډالۍ ورکړه، ازاد يې کړ، داسې يې آزاد کړ، لکه هغه مرغه چې د خپلې لمنې غېږ ته ورالوزي...

ناپليون مخکې روان و. د هغه مسکو په خيالونو کې ډوب و، چې دده ذهن يې لاندې کړی و، خو هغه، لکه هغه مرغه چې د خپلې مينې غېږې ته پربښودل شوی و، د روسي پوځ مخکنيو مورچلونو پلو ته يې ورودانګل. هغه، هغه داستانونه او کيسې جوړولې چې پېښې شوې نه و، هغه يې ددې لپاره جوړول، چې بيا يې خپلو اندېوالانو ته ووايي. هغه د هغو څه نقل نه کاوه چې په رښتيا پېښ شوی و، هغه رښتيا نه و، هغه د ويلو وړ نه بربښېدل. هغه خپلو قزاقانو ته ورغی. هغه د خپل غونډ چې د پلاتونوف د پوځ برخه و، پوښتنه وکړه چې چېرې دی. ما ښام و چې خپل بادار، نيکولای رستوف يې چې د بانکووا په سيمه کې دريدلی و، پيدا کړ. رستوف په هماغه شېبه پر آس سپور شوی و، چې له ايلين سره د هغې سيمې کليو ته د چکر لپاره لاړ شي. رستوف لاوروشکا ته بل آس ورکړ او هغه يې هم له ځانسره بوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

د هغه څه برخلاف چې د شهزادګۍ ماريا ورور، سردار اندري تصور کاوه، دامسکو ته نه وه تللې او له ګوابنه ژغورل شوې نه وه.

له سمولينسکه د الپاتيچ تر راستنېدو وروسته، مشر سردار ګواکې ناڅاپه له خوبه راويښ شوی وي، سپارښتنه وکړه چې له کليو نه اربکي راټول او وسله وركړ شي. هغه ستر قوماندان ته ليک وليکه، هغه ته يې خبر ورکړ، چې ده پرېکړه کړې ده، تر پايه پورې د ليسه ګورې ساتنه او د روس د يوه ويارمن سپين ږيري پوځي قوماندان د اسارت يا وژل کېدو د مخنوي پريکړه يې هغه ته (ستر قوماندان ته) پرې ايښې وه او خپلې کورنۍ ته يې هم سپارښتنه وکړه چې په ليسه ګورې کې به پاتېږي.

که څه هم دی خپله په ليسه ګورې کې پاتې شو، خو سپارښتنه يې وکړه چې شهزادګۍ ماريا، دوسال او کمکی سردار (دده لمسی د اندري زوی) به لومړی باګوچاروا او له هغه ځايه مسکو ته لاړ شي. شهزادګۍ ماريا چې د پلار په تنند او شوګيرو نه ډک طبيعت ښه پوهېده او په دې هم پوهېده چې پلار يې په چارو کې هغه پخوانۍ کراري پرېښې، نه شو کولای هغه يوازې پرېږدي، نو له دې کبله په ژوند کې يې د لومړي ځل لپاره ځان ته اجازه ورکړه او د هغه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارښتنې نه يې غاړه وغړوله.

هغې له تګ نه ډډه وکړه، خو هماغه و چې د پلار د قهر او غضب ترسختو ښکنځلو او سپکو سپورو لاندې راغله. بوډا سردار هغې ته ټولې هغه ناروايې وريادې کړې چې ده خپله پر هغې کړې وې او ورته وې ويل چې شهزادګۍ په خپلو کړو هغه ډېره زوروي او عذابوي. هغې ته يې وويل چې هغې، دی له زوی سره خوابدی کړی دی. دا يې هم ورته وويل چې پر دې شک او ګمان لري او دا چې ده ته يې پرته له رنځ او ستونزو په ژوند کې بل څه نه دي رسولي. هغه يې له خپل دفتر نه ووېسته او ورته يې ويل چې که ځئ که نه ځئ، دا د ده لپاره هېڅ د پام وړ خبره نه ده. هغه دا هم وويل چې بيا يې اصلا نوم ونه واوري او ګواښ وکړ چې هېڅکله بيا ورسره مخامخ نه شي. خو ښه دا و چې ونه يې ويل چې هغه له کوره وشړل شي او په زوره ولېږدول شي. شهزادګۍ ماريا، د دومره ملامتۍ له امله چې پردې راغلې، ډېره ډاريده چې له کوره يې ونه باسي، نو ځکه د دې خبرې په اوريدو چې بيا يې پر مخه ورنه شي، خوشاله شوه. هغه پوهېده چې د غه حال د دې ښودنه کوي چې پلار يې د زړه په تل کې په دې خورا خوشاله دی چې هغه له ده سره پاتې او تللې نه ده.

د نيکولای جان تر تګ نه يوه ورځ وروسته، بوډا سردار خپله پوځي رسمي دريشي واغوسته، ټول مډالونه او نښانونه يې پرې وځړول او ستر قوماندان ته يې د تګ تکل وکړ. ګاډۍ لا د مخه چمتو شوې وه. شهزادګۍ ماريا، کتل چې څنګه يې پلار په پوځي جامو، نښانو او مډالونو کې له کوره، باغ ته ووت او د خپلو وګړو، ساتونکو، بزګرانو او چوپړانو چې ټول يې وسله وال کړي و، پريټ وګوري. شهزادګۍ ماريا په کړکۍ کې ناسته وه او د پلار هغه غږ ته چې له باغ نه يې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټو پلو انګازې کولې غوږ وه. په دې وخت کې ناڅاپه څو تنه له وحشت او ډاره په ډکو څېرو د باغ په لاره کې په منډو رابنکاره شول.

شهزادګۍ ماريا، برنډې ته او له هغه ځايه د ګلو په منځ کې له جوړې شوې لارې نه د باغ لارې ته ورمنډې کړې. ماريا ته مخامخ د اربکيو او د دوی د چوپړانو يوه ګڼ شمېره ډله را روانه وه او د هغو په منځ کې څو تنو، زوړ او ډنګر بوډا چې پوځي دريشي اغوستې، نښانونه او مډالونه پرې تمبلي و، د تخرګ او لاسونو نه نيولی راکشکاږی يې. شهزادګۍ ماريا هغه ته ورمنډه کړې خو د الوچو د ونو د ګڼو څانګو او پاڼو نه د لمر د شغلو په منځ کې يې چې دده پر څېره ځلېدله نه شو کولای د هغه د بشري بدلون وويني. خو هغه يوازيني څه چې دې وليدل هغه دا و چې د هغه په څېرې کې د هغه د پخواني جدي او غوڅ حالت ځای، اطاعت او تسليمۍ نيولی و. د لور په ليدو يې بې ځايه شونډې وښورېدې او په خرهاری شو ،خو د پوهېدو وړ نه و، چې څه يې غوښتل. هغه يې له تخرګ او لاسونو ونيو او راپورته يې کړ، خپلې کوټې ته يې يووړ او پر هغه کټ يې وغځاوه، چې دی په دې وروستيو وختونو کې ډېر ترې ډارېده.

هغه ډاکتر ،چې دده کتنې ته يې راوستی و ،د هغه د مراندو تر کتنې وروسته يې وويل چې د سردار ښي پلو سکته کړې ده.

په ليسه ګورې کې ژوند شېبه په شېبه ګواښمن کېده. له سکتې يوه ورځ وروسته چې سردار يې باګوچاروو ا ته يوړ. داکتر هم ورسره يو ځای و. کله چې هغوی باګوچاروو ا ته راورسېدل، تر هغه د مخه، کمکی شهزاده او د هغه ښوونکی مسکو ته خوځېدلي و.

په هر حال، حال نه ښه او نه خرابيده او بوډا سردار درې اونۍ په داسې حال کې چې شنډ والي له خوځېدا اچولی و، په باچاګوروو ا کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرداراندرې په نوی جوړ شوی کور کې پاتې شو. بوډا سردار بېسده او لکه مړی دا سې پروت و. هغه پرله پسې شونډو لاندې څه غوښتل ویل، کله یې وروځې ښورولې او کله یې شونډې ژولې، خو په دې پوهېدل ګران و چې هغه په دې پوهېږي چې څه کېږي او څوک ورته ولاړ دی، مګر یو څه ښکاره و او هغه دا و چې دی زوریده او څه یې کوله، چې لا هم یو څه ووایي، خو هغه څه وه ؟ هېڅ څوک په دې نه پوهېدل. دا څه و ؟ آیا د هغه ورځني نازونه او پلمې وې؟ آیا ورځنیو خبرو او چارو پورې یې اړه پیدا کوله یا د کورنۍ کومه خبره وه؟ هېڅڅوک نه پوهېدل.

داکتر ویل چې د ناروغ ناارامي او خوځېدا هېڅ معنا نه لري او د هغه د ناروغۍ علت دی، خو شهزادګۍ ماریا فکر کاوه چې (د هغه تر څنګ ددې شته والی هغه تل ناارامه و ) دې ویل، هغه غواړي دې ته څه ووایي. خو دا ښکاره خبره وه چې د هغه ناآرامۍ، روحي او هم روغتیایي علت درلود.

د رغېدو تمه یې نه وه. وړل یې ناشوني و او که دا کار شوی وای او بیا په لاره کې مړ شوی وای، بیا څنګه کېدل؟ کله ناکله به شهزادګۍ ماریا فکر کاوه:

-دا به ښه نه وای چې هر څه پای ته رسېدلي وای، چور پای ته..

هغې شپه او ورځ، له خوب او ارامۍ پرته، د هغه څارنه کوله، ویل یې ګران دي، خو د هغې څارنه ددې په هیله نه وه چې د ښه والي او روغتیا نښه په کې ووینې، بلکې هغې هیله لرله چې په هغه کې د پای نښې ووینې.

که څه هم په شهزادګۍ ماریا کې ددغه احساس راپاریدل ګران و، مګر بله لاره یې نه لرله، نو ځکه یې دا احساس په زړه کې و، خو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې نه شهزادګۍ ماريا ته وحشتناکه دا و چې د پلار د ناروغۍ له پيل نه (لا کېدای شو وواېو تر هغه لاد مخه، آن هغه وخت چې د کومې پېښې سپينېدو ته سترګه په لاره، دواړه يو ازې پاتې شوي وو) د هغې په زړه کې خپلې ځانګړې ويدې شوې هيلې او خيالونه په راوېښېدو شوي وو. هغه هيلې او ارمانونه چې کلونه کلونه ددې په خيال کې هم نه وو. د پلار له ابدې ډاره د آزاد ژوند خيال، آن د مينې‌دو او کورنۍ د جوړونې هيله او نور لکه شيطاني تلوسه ددې په زړه او خيالونو کې ځپې وهلې. هغې به چې څو مره هڅه کوله، په دې اړه فکر ونه کړي، خو بيا هم دې خيالونو نه پرېښوده، چې تر دغې پېښې وروسته به خپل ژوند څنګه جوړوي،خو شهزادګۍ ماريا په دې پوهېدله، چې دا ټولې شيطاني وسوسې دي. هغه په دې پوهېده چې ددې رنځ يوازيني دارو، دعا ده، خدای ته پناه وروړل دي. هغې هڅه کوله دعا وکړي، هغې به لاسونه پورته کول، سپېڅلو شمايلو ته به يې کتل، دعا به يې ويله، خو د زړه له تله به يې دعا کولای نه شوه. هغې داسې انګېرله چې اوس د هغې لپاره بل ژوند پيل کېږي،د ورځني ژوند نوی بهير، د هڅې او هاند ژوند، هغه ژوند چې ددې تر پخواني ژوند نه به چې په معنويت او روحانيت کې را ايساره وه، ډېر توپير لري. له هغې وينا نه چې د هغې هر څه پر دعا ولاړ و، هغې نه دعا کولای شوه او نه يې ژړلای شو. د ورځني ژوند خورا ناوړو شيانو د هغې پر زړه اغېز کړی و، په باګوچاروواکې يې هم ژوند ناشونی او ګواښمن کېده. د فرانسې پوځيانو د رانږدې کېدو خبرونه او آوازې هر پلو خپرې وې. د باګوچاروو‌ا په ۱۵ ورستې کې فرانسوي ډاره مارو د يوه خان کور تالا کړی و.

داکتر ټينګار کاوه چې سردار د جګړې له سيمې بلې خوا ته يوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. د ښار د اعيانو مشر، خپل استازی شهزادګۍ ماريا ته ورواستوه چې هغه دې، خپل پلار ژر تر ژره له دې ځايه بلې خوا ته بوزي. د سيمې د پوليسو مشر چې باګاچاروو ا ته راغلی و، هم په دې خبره ولاړ و او ويل يې چې فرانسوي پوځ د دوی ۴۰ ورستي ته رارسېدلی دی. هغوی په کليو کې د خبرتيا پاڼې خپرولې او شهزادګۍ ماريا ته يې خبر ورکړی و که د مياشتې تر پنځلسمې پورې له هغه ځايه لاړ نه شي او بيا کومه پېښه وشي. دوی به خپله ملامته وي.

بالاخره شهزادګۍ پريکړه وکړه چې د مياشتې په پنځلسمه نېټه وخوځېږي. د هغې، پوره يوه ورځ سفر ته د چمتووالي او د هغو سپارښتنو په اورولو تېره شوه، چې ټول يې اوريدلو ته سترګه په لاره وو. له څلورلسمه، پنځلسم ته ټوله شپه هغې د تل په شان هماغه شان ورځنۍ جامې پرغاړه په هغې کوټې کې چې تر څنګ يې د پلار کوټه وه، تېره کړه، څو واره راويښه او د پلار زګيروی يې واوريده، د پلار د زګيروی تر څنګ د تيخون د ګامونه ښېښهاری او د ډاکټر غږ چې ده پلار يې اړخ په اړخ اړاوه، راته. شهزادګۍ ماريا ويده کېدای نه شوه او څو واره د پلار د کوټې شا ته ورغله او غوږ غوږ شوه. هغې غوښتل چې کوټې ته ورننوزي، خو زړه يې نه شو کولای. که څه هم زوړ سردار غږيدای نه شو، خو شهزادګۍ ماريا په دې پوهېده او ليدل يې چې پلار له دې نه ډېر ناارامه دی چې نور د هغه له کبله ناآرامه وي. د شهزادګۍ دې ته ښه پام کېده، چې د پلار کوټې ته د هغې بې وخته او يا د شپې ورتګ څومره هغه ناآرامه وي.

د هغې هېڅکله پر هغه داسې زړه خوږ شوی نه و، هغه، هغې ته هېڅکله داسې وحشتناکه نه و... لکه د پلار له لاسه وتل. هغې ته له هغه سره خپل ټول ژوند ورياد شو، د هغه هره خبره، د هغه په هره خبره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرو کړوکې يې له ځانسره د هغه خپله مينه موندله. د دغو يادونو په لړ کې به کله ناکله ناڅاپه شيطاني تلوسې راوپارېدې، په هغو کې: هغه تصور چې د هغه له مرګه وروسته به ددې نوی ژوند څنګه شي؟ خپل خوار ژوند. هغې دغه شيطاني خيالونه،له دغو کرکو هغو سره د کرکې په ښودلو له سره وبستل. د سپېدو په لګېدو سردار آرام او شهزادګۍ ويده شوه.

شهزادګۍ هغه ورځ ناوخته راوېښه شوه.. د راوېښېدو سره يې غوږ پر دروازې کېښود ،د هغه د زګيرو او سا وېستلو غږ يې واورېد ،سوړ اسويلی يې ووېست او په زړه کې يې وويل

- حال يې هماغه دی، چې و.

هغه په داسې حال کې چې له ځانه يې کرکه راتله چغې کړې:

- څه دې غوښتل؟ څه ته سترګه په لاره وې؟ تاسو څه ويل؟ څه وشي؟ د هغه مرګ دې غوښته؟

کالي يې واغوستل، ځان يې ومينځ، دعا يې وکړه او برنډې ته ووتله. د برنډې مخې ته يې آسونو او ګاډۍ ولاړې وې. په هغو کې يې يو رنګه کالي بارول. سهار تود ، خو خړ و. شهزادګۍ ماريا په برنډه کې ولاړه وه، هماغه شان له خپلو شيطاني خيالونو سره لاس او ګريوان وه، هغې هڅه کوله ناروغ ته تر تګ نه د مخه، خپل خيالونه او اندېښنې له سره جوړ کړي.

داکتر په زينو کې راښکته ،هغې ته ورنېږدې شو او وې ويل:

- نن لږ ښه دی،زه تا لټوم. له هغه څه نه چې وايي يوه نيمه خبره يې د پوهېدو ده،ذهن يې لږ څه سم دی،ورشه ،تاسو غواړي.

د شهزادګۍ ماريا ،زړه ددې خبر په اورېدو سخت خوږ شو ،د هغې رنګ والوت، نوځکه يې دروازې ته ډډه ولګوله چې ونه لوېږي. هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټول ګوګل او روان يې، په شيطاني ولولو او تلوسو لړ شوى و، د خپل روح له ناولتيا نه په وحشت کې وه، د هغه ليدل، د ريدل او هغه ته کتل، نه يوازې هغې ته په زړه پورې نه و بلکې له هغه نه ډاريده هم.

شهزادګۍ ماريا د پلار کوټې ته ورننوته او د هغه کټ ته ودريده، هغه لوړ پر شا پروت و. د هغه واړه اډوکيز لاسونه چې د مراندو نيلي رنګه غوټو پوښلي وو، پر پټو (څادر) پراته وو. د هغه چپه سترګه مخامخ کوم ځاى ته ځير او ښى هغه يې کږه شوې وه. وروځې او شونډې يې بې له خوځښدا پاتې وې، هغه ټول ډنګر، وړوکى او سخت د رحم وړ و. د هغه بشره تا به ويل چې يا وچه شوې يا ويلې شوې او ډېره وړه شوې وه. شهزادګۍ ماريا ورنږدې شوه او د هغه لاس يې ښکل کړ. پلار د هغې چپې منګولې، د هغې لاس يې داسې کلک کېښکود چې ښکاريده، له ډېره وخته ورته سترګې په لارې پاتې شوى دى. د هغې لاس يې د ځان پلو ورکش کړ. د هغه د شونډو او وروځو ښوريدا د هغه د زړه تنګۍ ښودنه کوله.

هغې په وېرې پلار ته کتل او هڅه يې کوله پوه شي، له دې نه څه غواړي، کله چې هغې ځاى بدل کړ او داسې ودريده چې څېره يې د پلار کينې سترګې ته برابره شوه. د سردار بشره ارامه او د څو شېبو لپاره يې له هغې نه سترګې لرې نه کړې. وروسته يې شونډې او ژبه وښوريدل، يو غږ واوريدل شو او هغه څه وويل، هغه، لور ته په خورا کمينى، زاريو او هيله مندى ځکه کتل، چې ډاريده، کېداى شي، لور يې د دې په خبرو پوه نه شي.

د شهزادګۍ ماريا په ټول قوت هغه ته پام و او ورته کتل يې. شهزادګۍ د ژبې د ښورولو لپاره د هغه د بې ځايه او بې پايه هڅو زغم ونه شو کړاى، سترګې يې ښکته واچولې او هغه ساندې او ژړا يې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ستوني کې را ايسارې کړې وې، راځرګندې او په ژړا شوه. سردار څه وويل او ځو واره يې هغه تکرار کړل، خو شهزادګۍ ماريا نه پوهېده چې هغه څه وايي. هغې هڅه کوله د پلار د خبرو تصور وکړي او په پوښتنيزه توګه يې د هغه خبرې تکرارولې.

هېڅځوک د هغه په خبرو نه پوهېدل. داکتر تصور وکړ، چې دی د هغه په خبرو پوه شوی دی او وې ويل، د هغه خبرې يې تکرار کړې او وې پوښتل:

- شهزادګۍ ډارېږي؟

هغه د (نه) په نښه سر وښوراوه او بيا يې هماغه څه تکرار کړل.

شهزادګۍ د خپل تصور له مخې وويل:

- زړه (روح) زړه زړه دی، خوږېږي؟

د سردار له ګوګله، د هو غږ راپاڅېد. د هغې لاس يې راونيو او د خپل ټټر پر بيلابيلو ځايو يې داسې کېښکود، چې ګواکې غواړي تر ټولو غوره ځای ورته پيدا کړي.

وروسته له هغه چې په دې ډاډه شو، چې دده په خبرو پوهېږي تر پخوا نه ښه او ځرګند غږېده، هغه وويل:

- زما ټول خيالونه د تا په اړه دي، خيالونه...

شهزادګۍ ماريا خپل سر د هغه پر لاسونو ورمښه او هڅه يې کوله خپله ژړا او ساندې پټې کړې.

هغه، د شهزادګۍ په څڼو کې منګولې ښورولې او وې ويل:

- ما ټوله شپه تا پسې نارې وهلې.

شهزادګۍ ماريا په ژړا ژړا وويل:

- کاشکې زه پوهېدای.. زه ډاريدم ستا کوټې ته راشم.

هغه د هغې لاس لاپسې کېښکود او وې ويل: ويده نه وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ماریا وویل:

- نه، ویده نه وم. او د نه، په ننښه یې سر وښوراوه. اوس یې بې ارادې پلار ته ورته غږېده، هر څه یې د هغه په شان داسې په اشارو او ننښو ویل، چې تا به ویل هغه هم په آسانۍ ژبه ښورولی نه شي.

سردار وویل: د زړه سره ! زما روحه !

شهزادګۍ نه شو کولای پوره پوه شي، چې هغه څه وایي، خو د هغه د بشرې او کتو له حالت نه دومره پوه شوه چې د نازولو او ګرانښت کومه خبره کوي، هغه خبرې چې هغه هېڅ کله نه کولې. هغه وویل:

- ولې رانغلئ ؟

شهزادګۍ ماریا وویل:

- او ما یې مرګ غوښت.

- او هغه چپ شو.

د هغه له سترګو اوښکې راشېوه شوې او وې ویل:

- له تا نه مننه ! لورکۍ، ګرانې، زما د زړه سره، له هر څه، له ټولو ټولو له هر څه نه... ما به وبښئ.. مننه، وبښه... مننه ! او همداسې یې له سترګو اوښکې راروانې وې. او ناڅاپه یې وویل:

- اندرې ته ورغږ کړئ.

او ددې هیلي سره هم مهاله یې په بشره کې ماشوم وزمه ناهیلۍ او نه ډاډ راخور شو. داسې بربښېده چې دی خپله پوهېده چې دده دا هیله بې معنا ده. که داسې نه وه، لږ تر لږه شهزادګۍ ماریا یې داسې تصور وکړ، چې همداسې ده.

شهزادګۍ ماریا ځواب ورکړ:

- ما ته یې یو لیک رالېږلی دی.

هغه په حیرانتیا خو ویرې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه خپله چېرته دی؟

- پلار جانه ! هغه په سمولینسک کې دی.

هغه ډېر ځند چپ و. سترګې يې پټې کړې بيا يې د تاييد په نښه ګواکې خپل شک او ګمان ته ځواب ورکاوه. ورته يې ويل: «هغه يې پوه شوی او هر څه ورياد شوي، سر وښوراوه او سترګې يې پرانستې، هغه په ډاګه، خو په کراره وويل:

- روسيه قرباني شوه ! هغه يې سره ووژله !

هغه بيا په ساندو شو او اوښکې يې له سترګو راشېوه شوې.

شهزادګۍ ماريا هم، نورځان ټينګ نه شو کړای، پلار ته يې کتل او په ژړا ژړا يې ژړل.

سردار بيا سترګې پټې کړې. ژړا يې ودريده، په لاس يې د سترګو پلو اشاره وکړه. تيخون پوه شوه او د هغه اوښکې يې پاکې کړې. ...

هغه لور ته وويل:

- خپل سپين کميس واغونده، زما هغه خوښېږي.

شهزادګۍ چې د پلار په خبره پوه شوه، لاپسې ژړا واخېسته، داکتر هغه له څنګلي ونيوله، له کوټې يې د باندې برنډې ته بدرګه کړه، هڅه يې کوله چې آرامه يې کړي او هغه ډاډه او سفر ته چمتو کړي. تر هغه وروسته چې شهزادګۍ ماريا د سردار له کوټې ووتله. هغه بيا د زوی، د جګړې او د ټولواک په اړه څه وويل. له قهره يې وروځې برنډې او تندې تريو کړ، خپل غږ يې چې خرپهاری يې کاوه، لوړ کړ او د هغه پر زړه دويم ګذر راغی او دا وروستی ګذار و. شهزادګۍ ماريا په برنډه کې ودريده، ټکنده غرمه و، لمر او تودخه وو، هغه د پلار له مينې پرته، په بل څه نه پوهېده، نه يې فکر کاوه او نه يې څه احساسول. هغې ته داسې برېښېده چې دې خپله هم دغه شان مينه نه پېژانده. په ژړا ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د باغ پلو ته منډه کړل، له هغې نرۍ لارې نه چې سردارانو ته نوې جوړه کړې او دوا ړو خوا وو ته يې د الوچو ونې کينولې وې، د دروازې پلو ته مخه کړه.

- هوکې، دا زه وم، زه، زه، زه... زه... زه وم. ما د هغه مرګ غوښت. هو کې ما غوښت چې ژر تر ژره هر څه پای ته ورسېږي. ما غوښتل چې زه ارامه شم... اوس به څه کوم؟ اوس چې هغه نه وي، زما آرامه به څه وي؟ له ځانسره په لوړ آواز بنګېده. هغه چټکه چټکه په باغ کې ګرځېد له او په لاسونو يې ټټر ډباوه، هغه ټټر، چې په تلوار او ګېنې ساندې ترې راوتلې. په باغ کې تر هغه پورې ګرځېده او راګرځېده، تر هغه چې ببرته کورته راورسېده. هغې وليدل چې دې ته مخامخ پېغله بورى ين (هغه په باګوچاروواکې پاتې وه او له هغه ځايه يې د تګ تکل نه لاره) يو نا آشنا سړي سره راروانه ده. دا د سيمې د اعيانو د جرګې مشر و چې خپله شهزادګۍ ماريا ته ددې لپاره راغلی و چې هغې ته له دې ځايه د هغې د سمدلاسي تګ اړتيا څرګنده کړي. شهزادګۍ ماريا د هغه خبرې اوريدې، خو په هېڅ څه نه پوهېده. هغه يې کورته بدرګه، چای يې ورته راوړ او له هغه سره کېناسته. بيا يې له هغه نه بښنه وغوښته او د پلار د کوټې خواته ورغله. داکتر په تلوار او خورا خواشينۍ ور وړاندې شو، د هغې مخه يې ونيوله او وې ويل:

- شهزادګۍ، اجازه نه شته، درځئ لاړه شئ !

شهزاده ماريا، ببرته باغ ته ستنه شوه. د غونډۍ په لمن کې د يوې چينې تر څنګ پر شنيلو، په داسې ځای کې کېناسته، چې چا نه ليده. هغه په دې نه پوهېده چې څومره وخت به هلته پاتې شي. د يو چا د پښو د ښځينه ګامونو د منډې غږونو هغه را په حال کړه. پاڅېده او وې ليدل چې دوينا شا، ددې ځانګړې مينځه دا لټوي او د هغې په ليدو ناڅاپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودریده. داسې بریښېده چې د خپلې مېنځې په لیدو هک حیرانه شوې وي.

مېنځې په ژړېدونکي مات غږ وویل:

- شهزادګۍ مهرباني.. سردار !

شهزادګۍ هغې ته وخت ورنه کړ، چې خپله خبره پای ته ورسوي او وې ویل:

- همدا اوس، درغلم. هغې د کور پلو داسې منډه اخېستې وه، چې ګواکې دویناشا یې هېڅ نه یې لیدلې.

د اعیانو د سیمه ایزو جرګې مشر، دروازې ته نېږدې د هغې مخې ته راووت او وې ویل:

- هر څه چې د خدای رضا وي، هغه به کېږي، تاسو باید هر څه چې له خدایه وي د هغو منلو ته چمتو واوسئ.

شهزادګۍ له قهره چېغه کړې:

- پرې مې ږدئ.. دا دروغ دي، اپلتې دي، د نه منلو وړ نه دي.

داکتر غوښتل هغه ودروي، خو هغې هغه پورې واهه، د پلار د کوټې پلو یې ورودانګل او له ځانسره یې وویل:

- دا خلک ولې داسې ګبنهۍ اخېستې او په ډار ما دروي؟ هېڅوک زما په کار نه دي. دوی دلته څه کوي؟ دروازه یې خلاصه کړه او په هغې کوټه کې چې څو شېبې مخکې نیمه تتنه وه، دلمر پیدا شوې ځلېدونکې رڼا د هغې سترګې وبریښولې. هلته څو ښځې او ددې مېنځه ولاړ وو. هغوی ټول له کټه لرې او دې ته یې لاره پرانسته. هغه هماغه شان پر کټ پروت و. هغه، د پلار دڅېرې نه خوځېدا، خو تندوالي وویروله او له دروازې سره نېږدې ودریده.

شهزادګۍ ماریا په زړه کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، هغه مړ نه دی، دا ناشونې ده، مړ نه دی. هغه ته ورنېږدې شوه. په خپلې ويرې لاسبرې شوه او خپلې شونډې يې د هغه پر اننګو ورکېښودې، خو سمدلاسه ترې رالرې شوه. په يوې شېبه کې يې له هغه سره د مينې هغه پياوړی احساس چې لاره، تري تم شو او د هغه ځای، هغه وحشت ونيو چې د خپلو سترګو په وړاندې يې ليدلی و. هغې وويل:

- نه، هغه نور نو نه شته ! هغه نه شته، خو شته، پر هغه ځای چې څو شېبې مخکې و، يو پردی، دښمن، کوم وحشتناک، ډارونکی له ځانه شړونکی راز پروت دی.

پر لاسونه يې مخ پټ کړ او د داکتر پر لاس چې ده ته يې د مرستې لپاره راغځولی و، ورولويده.

د تيخون او داکتر تر مخې، ښځو، هغه څوک چې څو شېبې مخکې بوډا سردار و پريمينځه. د هغه سر يې د دې لپاره په دستمال وتاړه چې خلاصه پاتې شوې خوله يې وچه نه شي او د هغه پښې يې چې سره جلا کېدې په بل دستمال وتړلې. بيا يې هغه ته، د هغه پوځې دريشی ورواغوستنه، نښانونه، مډالونه يې پرې وروټمبل او د هغه وچه وړوکې ځنازه يې پر ميز کېښوده. خدای پوهېږي چې چا او څه وخت دا ټول کارونه وکړل، خو دا ټول تا به ويل، په خپله تر سره شوي دي. د شپې د تابوت تر شا و خوا نه شمعې لګېدې او په سر يې شال وروغړاوه. پر ډاګ يې د هغې ونې پاڼې شيندلې وې چې ښه بوی يې خوراوه. تر وچ او وړوکی شوي سر لاندې يې چاپ شوې دعاوې کېښودې او په يو کنج کې يو پاپ ناست و او سپېڅلی کتاب يې لوست. لکه هغه شان چې آسونه له لويدلي، وژل شوي آسه مخ اړوي، ترهېږي، سره ټولېږي او شنهاری کوي، همدغه شان، د سردار د هرکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوټه کې خلک، خپل او پردي، د اعيانو د سيمه ايزو جرګې مشر، مخور او سپين ږيري، مشران او ښځې ټول په تابوت راټول او له وېرې په ډکو سترګو هک پک پاتې، په ډار ډار يې پر ټټر او تندی صليبونه وېستل او پـه خـورا درنـاوي يې د سـردار وچ شـوي او سـاړه لاسـونه ښکلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

باګوچاروو ا ،تل او مخکې له هغه چې سردار اندرې هلته مېشت شي، د خاوندانو په غیاب کې خارل کېده او ددې سیمې او سېدونکو خلُق خوی د لیسه ګورې له هغې خورا توپیر درلود. د دغې سیمې دخلکو هم خبرو، هم کالو او هم کړو وړو توپیر درلود او هم یې هغه صحرایي ګڼل. هغوی به چې کله لیسه ګورې ته د فصلونو د ټولولو، د غنم لو، د ویالو د پاکولو، د نهرونو جوړولو ته راتلل. مشر سردار به د هغو کاراوزیار او لا زغم خوښېده، خو تندوالی او وحشت یې نه خوښېده.

سردار په باګوچاروو ا کې دخپلې استوګنې په لومړیو ورځو کې،هلته د ښوونځي او روغتون دجوړولو او پر بزګرو د بادار د ګټې او بېګارۍ کمولو له امله، هم ونه شو کولای،د هغوی دغه تندوالی او ځېږوالی بدل کړي،برعکس هغه څه چې مشر سردار د دغو خلکو صحرایي ترهېدل والی ګاڼه، لا زیات شوی و. تل به د هغو ترمنځ ډول ډول او عجیبې و غریبې آوازې خپرېدې، لکه دا چې هغوی کومې نوې عقیدې پورې تړل شوي دي، یا ټول د قزاقانو قام ګڼل شوی یا د ټولواک د کومې ناڅرګندې وینا په اړه او کله لا په ۱۷۹۷ کال کې د اربابانو هغه ژبه چې پاول پتروویچ ته یې ورکړې وه ( ویل یې چې د مرئیبو آزادي، هغه وخت منل شوې وه، خو بادارانو ونه منله ) او یا به یې ویل چې اوه کاله وروسته به پیترفیدرویچ بیا پر تخت کیني او ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرئيي به آزاد کړي او هر څه به آزاده او داسې ساده شي چې مې کوه پوښتنه. د جګړې او بناپارت او پر روسيې د هغه د يرغل آوازې د هغو تر منځ په داسې ناڅرګندو ويناوو لکه د ژوند پای، د دجال پيدا ايښت او پوره آزادي بدلې شوې وې.

د باګوچاروو ا په څنډو کې يو کلی و چې هلته يو شمېر مخور او ځينې هم بډايان مېشت وو. د هغو بډايانو شمېر چې په خپلو جايدادو کې مېشت وو، خورا کم وو، نو له دې کبله د هغو د چوپړانو او په هغو کې په لوست ليک د پوهېدو کسانو شمېر خورا کم و. هغه مرموز او ناڅرګند دودونه چې د روسيې د خلکو په ژوند کې وو او د هغو سرچينې او معنا د اوسنيو وګړو لپاره د پوهېدو وړ نه دي، تر نورو ځايو زيات د دغې سيمې د کليوالو تر منځ دود وو. ددغو خبرو په منځ کې يوه هغه اوازه وه چې شل کاله مخکې ددغو کليوالو په منځ کې پيدا شوې وه او هغه دا چې دوی د يوه تاوده سيند خواته ورکډه کېږي، خو دا څرګنده نه وه چې دغه سيند چېرته دی. د باګوچاروو ا په سلګونو کورنيو يوه ورځ ناڅاپه، خپله ټوله شتمنی او څاروي وپلورل او له خپلو ښځو او ماشومانو سره سهيل لوديز پلو وخوځېدل. دغو کليوالو لکه د مرغانو د کتارونو په څېر هڅه کوله، د سمندرګي په پلو چېرته سهيل لوديز ته، له ښځو او ماشومانو سره، هلته چې دوی يو هم تر اوسه نه و تللي، روان وو. د هغو ځينو، کاروانونه جوړ کړل او يا يو ازې خوځېدلي وو. په هغو کې بيا ځينو ځانونه بېرته واخېستل او يو شمېر يې د جرمو په تورونو سايبريا ته وشړل شول. ډېرو يې د لوږې، تندې او سړو له لاسه په لارو کې ژوند له لاسه ورکړ او چا وکولای شول په خپله خوښه بېرته خپلو کليو کوڅو ته راستانه شي. د خوځېدا او کډو دغه بهير هماغه شان چې په خپل سر او له دليله پرته پيل شوی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه شان په خپل سر او بې دليله ببرته کرار او چپ شو، خو په دغو خلکو کې ټولنيز پټ بهيرونه هماغه شان پاريدل او خوټېدل او دې ته چمتو کېدل چې کوم وخت په نوي پياوړتيا ناڅاپه او عجيب ډول لا په قهرجنه بڼه راڅرګند شي. په ۱۸۱۲ کال کې هر هغه چا چې له دغو خلکو سره نږدې اړيکي او پېژندګلوي لرله، په دې پوهېدل چې دغه پټ خوځون به ژر بيا راښکاره او راولمسېږي.

الپاتيچ چې د مشر سردار تر مرګه ځو موده مخکې، باګوچاروو ا ته راغی، د خلکو دغه خوځون او لېوالتيا يې احساس کړې وه او دليسه ګورې، د کليو او بانډو برخلاف چې له دې ځايه شپېته ورسته لرې پرته وه دلته نه ځوک تښتېدل، نه يې کورونه خرڅول، نه يې شتمنی پرېښوده او هر څه يې دقزاقانو تالان ته سپارل. ويل کېدل چې د باګوچاروو ا دځنډو په دښتو کې، کليوالو، له فرانسويانو سره اړيکي پيدا کړي دي او ځېنې پاڼې د هغو تر منځ ويشل شوې دي او د نورو برخلاف يې خپل کلي نه دي پرېښي. هغه ته دخپلو هغو چوپړانو له خوا چې ده ته وفادار پاتې و، خبر را رسېدلی و، چې د کليوالو له ډلې نه يو ځوک د کارپ په نامه يو چا دهغو په منځ کې يې ښه اغيز درلود، ځو ورځې دمخه يې ديو دولتي کاروان مشري کړې او هغه يې خپل ځای ته رسولی دی، ببرته راستون شوی دی او خبر يې راوړی دی چې قزاقان کلي غلا او تالان کوي، خلک له هغو تښتي، او ددې برخلاف فرانسويان نه ولسي خلک او نه د هغو مالونو، له هېڅ شي سره کار نه لري. هغه په دې هم پوهېده چې د ويسلااوخوا په نامه يوه کليوال له يوه فرانسوي جنراله داسې يوه اعلاميه راوړې چې په هغه کې خلکو او کليوالو ته دا ډاډ ورکول کېده چې هغوی ته به نه يوازې کوم تاوان نه رسېږي، بلکې هر هغه څه چې دوي فرانسويانو ته ورکوي، دوی به د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې تر لاسه کوي. . له ټولو نه د پام وړ لا دا وه چې الپاتیچ پوهېده او خبر شوی و چې په هماغه ورځ چې ده د چوپړانو او ولسي مشرانو ته سپارښتنه کړې وه، د شهزادګۍ د کالیو او کډې د وړلو لپاره ګاډۍ برابرې کړي. دغه کلیوال سره جرګه شوي وو او پرېکړه یې کړې وه چې د هغې کالي ونه لېږدوی او دې ته سترګه په لارې پاتې شي او وګوري چې څه کېږي، خو وخت نه درېده، د سیمه ایزې جرګې مشر، د مشر سردار د مرګ په ورځ، د اګست په پنځلسمه ټینګار کاوه چې سمدلاسه وخوځېږي، ځکه حالات دم په دم ګواښمن کېدل. دغه چارواکي ویل چې که تر شپاړلسمې نېټې وروسته څه پېښ شي، دی به په هغه کې ملامت نه وي، سردار د مرګ د ورځې په ماښام هغه ته لاړ او وې ویل چې سبا به ځنازې ته راشي، خو بله ورځ هغه نه شو کولای راشي، ځکه هغه خبر تر لاسه کړ چې فرانسویان ناڅاپه راوړاندې شوي او هغه یوازې وکړی شول چې کورنۍ او ځینې قیمتي ګاڼې او شتمنۍ ولېږدوي.

څه کم دیرش کاله، د باګوچاروو ا مشري، د درون په نامه یو چا، چې مشر سردار له نازه درون جان باله، کوله.

درون، یو له هغو کلیوالي تکړه مېړنو نه و چې له زلمیتوبه رږېره پرېږدي او آن کله چې له شپیتو اویا کلونه هم واوړي، نه لاس پرې وهي او نه یې کوم ویښته سپینېږي او غاښونه یې بشپړ وي. دغه کسان په شپیته کلنۍ کې د دیرشو کلونو په شان وي.

درون د تودو اوبو د سیند پلو ته، تر هغه عجیب سفر نه وروسته، چې دی هم له کوډو بې برخه پاتې شوی نه و، په باګوچاروو ا کې مشر شوی و او له هغه وخته تر اوسه پورې یې دادی پوره درویشت کاله دغه مشري کړې ده. کلیوال تر بل هر بادار نه، له هغه نه زیات ډاریدل. اربابانو، مشر سردار، د هغه زوی او نورو مشرانو د هغه درناوی کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ټوکو ټوکو یې هغه وزیر باله. درون د خپلې مشرۍ په ټوله موده کې نه یوه ورځ نشه کړې وه، نه ناروغ شوی و، نه د سختو شوګیرو نه وروسته ستومانه ښکاریده، تروروځنیو ګرانو کارونو وروسته هم همداسې و، هغه چې نه په لیک پوهېده او نه لوست، خو د خپلو پریمانه غلو دانو د خرڅلاو په حساب کې یې یو ټکی هم نه ترې زیاتېده، نه کمېده، د باګوچاروو د کروندو، د غنمو یو دانه هم بې ځایه نه تله او د بادارانو په حسابونو کې یې هېڅکله تېروتنه نه کوله.

الپاتیچ چې کله د تالان شوې لیسه ګورې نه، باګوچاروو ته راغی، د مشر سردار تر خښولو یوه ورځ وروسته یې، درون ځانته راوغوښت او هغه ته یې سپارښتنه وکړه چې له باګوچاروو نه مسکو ته د شهزادګۍ او د هغې د شیانو د لېږدولو لپاره دولس آسونه او اتلس ګادۍ چمتو کړي. که څه هم د باګوچاروو سړي مریې نه و، او هر کال یې بادار ته جبري حاصل ورکاوه، خو بیا هم الپاتیچ فکر کاوه چې د دغې سپارښتنې سرته رسول به، کومه ستونزه رامنځ ته نه کړي. ځکه د باګوچاروو کلیوالو تر دوسوو پورې بارورونکي څاروي لري او خوار هم نه وو، خو د هغوی مشر درون چې کله دغه سپارښتنې واوریدې، چپ شو او سترګې یې ښکته واچولې. الپاتیچ هغه کلیوال چې پېژندل، نومونه یې یاد کړل او وې ویل چې ګادۍ یې ترې واخلي.

درون ځواب ورکړ چې ددغو کلیوالو آسونه په کار کې بند دي. الپاتیچ د نورو کلیوالو نوم واخیست، خو درون ځواب ورکړ چې هغه آسونه نه لري. د درون د وینا له مخې د ځینو آسونه یې بېګارۍ ته ګمارلي وو، ځینې آسونه خوار او د کار توان یې نه لاره او ځینې هم وږي وو. هغه وویل چې نه یوازې د بار بلکې د ګادیو لپاره هم نه شي کولای آسونه پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الپاتیچ په ځیر درون ته وکتل او تندی یې تریو کړ، که څه هم درون یو غوره کلیوال بزګر و او د هغو مشر و، الپاتیچ هم شل کاله د سردار د جایدادونو او حسابونو اداره کړې وه او په خپلو چارو کې به بې ساري توګه بریالی و. هغه له خلکو سره د خپل کار له برکت کولای شي، د هغو په نیت او روان ښه پوه شي. هماغه شېبه درون ته په کتلو پوه شو چې د درون ځوابونه، د هغه د زړه خبرې نه دي، بلکې د باګوچاروو او د ټولو کلیوالو د خیال خبرې دي، چې دی یې تر خپل اغېز لاندې راوستی. الپاتیچ په دې هم پوهېده چې اوس کلیوال له درون نه څکه بېزاره شوي دي چې بډای شوی دی. هغه په دې هم ښه پوهېده چې له دې کبله درون باید ددغو دوو ډلو تر منځ زړه نازړه واوسي. الپاتیچ ددغه شک او تردید نښې د هغه په سترګو کې ولیدې، تندی یې تریو کړ او درون ته وروړاندې شو او ورته وې ویل:

- ګوره ! درون جانه ! واوره ! ته ماته اپلتې مه غړوه، د هغه حضور جناب سردار اندرې نیکولایوویچ ته سپارښتنه کړې ده چې ټول کلیوال باید وخوځېږي او پرې نه ږدو چې د دښمن لاس لاندې پاتې شي. د ټولواک فرمان هم همداسې دی. هر هغه څوک چې د ټولواک فرمان نه مني، هغه فرمان ته خیانت کوي، اورئ؟

درون چې سترګې هماغه شان ښکته اچولې وې، وویل:

- اورم !

الپاتیچ چې د درون دغه ځواب خوښ نه شو، سر وښوراوه او وې ویل:

- واک او خوښه ستاسو ده.

الپاتیچ خپل لاس د تخرګ لاندې راووېست او په یوې ګوابښمنې خوځېدا یې خپلو پښو لاندې ځمکه وروښوده او تکرار یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تا ته وایم، درونه ! پرېږده دا کارونه ! زه نه یوازې ستا د زړه بلکې ستا تر پښو لاندې تېریدونکي حال باندې هم ښه پوهېږم.

هغه چې دا خبرې کولې د هغه پښو لاندې ځمکې ته یې کتل.

درون وشرمېد ، په سرګردانو سترګو یې الپاتیچ ته وکتل او بیا یې سترګې ښکته واچولې.

الپاتیچ وویل:

-ته دا دوکې پرېږده، ټولو ته ووایئ چې چمتو شي، کورونه پرېږدئ او د مسکو پلو ته وخوځېږئ. دا هم ورته ووایئ چې سبا ته د شهزادګۍ د کور مخې ته ګاډي چمتو ودروي. او خپله هم نور نو هغو ته ورنه شي، وادې وریدل؟

درون ناڅاپه د هغو پښو ته ورولوید او وې ویل:

-یاکف الپاتیچ ! ما له دندې وشړه، ومې شړه ! دغه کیلیانې واخله او د خدای په خاطر ما له دندې نه وشړه او رخصت مې کړه.

الپاتیچ په غوڅه وویل:

-پرېږده ! او تکرار یې کړه: زه ستا تر پښو لاندې درې آریش (د اندازه کول حجم) دا یې وویل، ځکه پوهېده چې د انګبینو د غومبسو په روزلو ، د کرنې د وخت د الوچو د کینولو او شل کاله له مشر سردار سره د هغه جوړښت له برکته ده د کلیوالو په منځ کې د کوډګر نوم ګټلی و...

درون، له ځمکې راپاڅېد او غوښتل یې څه ووایي، خو الپاتیچ هغه ته وخت ورنه کړ:

-دا څه نخرې دې پیل کړې دي؟ څه فکر کوئ؟ په موږ دې د څه ګمان کړی دی؟

درون وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه له دې خلکو سره څه وکړم؟ ټول له شرابو لېوني دي. هر څه چې وايم څوک يې نه اوري.

الپاتيچ په لنډه ډول و پوښتل: تصور يې مې کاوه، نشه کوي، که څنګه؟

-هو کې الپاتيچ ياکوف! ټول مست دي، تر لېونتوبه پورې. دا دويم خم دی، چې دوی يې څکي.

-ښه ده، ما ته غوږ شه! زه ځم، د پوليسو مشر ته ورځم، ته له هغو سره وغږېږه او هڅه وکړه چې سم شي، خپلې دا ملنډې پرېږدي او ګاډۍ چمتو کړي.

درون ځواب ورکړ:

-اطاعت کوم.

نور نو الپاتيچ ياکوف ټينګار ونه کړ، هغه کلونه کلونه د کليوالو اداره کوله او په دې ښه پوهېده چې د خلکو د ايلولو او اطاعت د پارولو لپاره تر ټولو غوره چاره دا ده چې هغوی په دې پوه نه شي چې د هغوی په ايل کولو کې شک لري.

کله چې له درونه، هغه د اطاعت کوم خبره واوريدله، الپاتيچ نه يوازې په دې شک لاره بلکې په دې يې باور لاره چې د ګاډيو ارابې به د وسلوال زوره پرته ونه خوځېږي.

په رښتيا هم ماښام شو، خو د ګاډيو پته نه وه، کليوال بيا د کلي په ميخانو کې ګڼه ګوڼه جوړه او پرېکړه يې وکړه چې آسونه ځنګل ته خوشې او ګاډۍ بادار ته ورنه کړي. الپاتيچ پرته له هغه چې د دې پېښې په اړه شهزادګۍ ماريا ته څه ووايي، سپارښتنه يې وکړه چې خپل بارونه او پېټۍ چې له ليسه ګورې نه آسونه راوړي و، ښکته، آسونه يې د شهزادګۍ ګاډيو پورې وتړل او خپله پوليسو ته ورغي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

د پلار تر خښېدو وروسته، شهزادګۍ ماریا خپلې کوټې ته لاړه، هغه یې ځان پسې وتړله او هېڅوک یې نه منل. د هغې یوه مینځه راغله او وې ویل چې الپاتیچ راغلی او د خوځېدو سپارښتنه یې کړې ده (دا خبره د الپاتیچ او درون ،تر خبرو اترو نه مخکې شوې وې) شهزادګۍ ماریا چې پر خپل کټ غځېدلې وه، راکښناسته او د هماغه تړلې دروازې له شا نه وویل چې هېڅکله، هېڅ چېرې نه ځي، او هیله لري چې دا په کراره پرېږدي.

د هغې کوټې کړکۍ چې شهزادګۍ ماریا په کې غځېدلې وه، د لوديز پلو پرانستل شوې وه. هغه پر کټ داسې پرته وه چې مخ یې د دیوال خوا ته او د چرمي بالښت تنې یې په ګوتو مښلې او ددې بالښت نه پرته بل څه یې نه لیدل. د هغه ټول خیالونه د مرګ په نه راګرځېدونکې لارې او د خپل تور روح په اړه ،په فکر کولو اخته وو. په هغه خیال چې دا لا تر هغه وخته له هغه نه خبره نه وه. دا یوازې د پلار تر مرګه وروسته پر هغه پوه شوه، زړه یې غوښتل دعا وکړي، خو ونه یې کړای شول. هغې ځکه دعا ونه شوه کړای چې روحي حالت یې دې ته چمتو نه و چې خدای ته پناه یوسي. هغه تر ډېرو پورې همداسې په همدې حال پر کټ کې پاتې شوه.

لمر د کور بلې خوا ته تللی و او د لمر لوید کرښې ورېې پلوشې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصې کړکۍ نه د ننه کوټې ته د چرمي بالښت په یوې برخې، چې دې هغې ته کتل، ځلېدې. د هغې د خیالاتو بهیر ناڅاپه ودرید. هغه بې ارادې پاڅېده، څنې یې سمې کړې، وخوځېده او کړکۍ ته ورنېږدې شوه او پرته له هغه چې دې یې تکل کړی وی، د ماښام سړه وږمه یې ګوګل ته تېره کړه.

هغې له ځانسره وویل:

- هو کې ! اوس دې چې هر څنګه زړه غواړي کولای شئ، کولای شئ د ماښام له پرتم او ښکلاوو نه خوند واخلې. هغه لاړ، اوس بل هېڅوک نه شته چې ستا خنډ شي.

هغې پر څوکۍ ډډه ولګوله، سر یې ښکته ولوید او تندی یې د کړکۍ په تادرۍ کېښود.

کوم چا په خواږه او نرم او له خواخوږۍ نه په ډک آواز د باغ له خوا نه پر هغې غږ وکړ او څنې یې ورته مچ کړې. شهزادګۍ سر ورپورته کړ. هغه پېغله بوري ین وه چې د ماتم په پټارې ګاڼل شوی تورکمیس یې اغوستی و. هغه په ارامۍ شهزادګۍ ماریا ته ورنېږدې شوه، تر یو ژور اسویلي نه وروسته یې هغه ښکل او سمدلاسه په ژړا شوه. شهزادګۍ ماریا هغې ته وکتل، د هغې ټول پخواني کړه وړه، له هغې سره د دې رخه او ترخه یادونه ورياد شول. هغې ته دا هم وریاد شول، چې څنګه یې په دې وروستیو وختونو کې له دې سره د پلار کړه وړه بدل شوي وو او نور یې د پېغلې بوري ین د لیدو زغم نه لاره. هغې د خپلو کړو داسې پایله واخېسته چې دا د خپلې مینځې بوری ین په وړاندې په خپلو کړو وړو کې برحقه نه وه، په زړه کې یې وویل:

- ایا ما چې، ما چې د هغه د مرګ هیله لرله، دا حق لرم چې د کوم چا پر کړو قضاوت وکړم؟..

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر هغې يې زړه خوږ شو ، په خورا خوا خوږۍ او پوښتنيز غلچک يې هغې ته وکتل او لاس يې ور اوږد کړ. پېغله بوري ين، بيا په ژړا شوه، د هغې د لاس ښکلول يې پيل او د هغه غم او مصيبت په اړه يې خبرې کولې چې دی هم ځان په کې ګډ ګاڼه. هغې وويل:

-ددې د زړه يوازينۍ خوا خوږي به دا وي که شهزادګۍ ماريا ته حق ورکړي چې ځان له دې سره په دې غم او ماتم کې ګډه وګڼي. هغې دا هم وويل چې بايد تېرې خوابدۍ، دد غه لوی غم او ماتم په زوريدو او عذاب کې هېر شي. هغه د ټولو په وړاندې ځان پاک ګڼي او سردار له هغې دنيا نه ددې شاهد دی چې دا څومره له دوی سره خوا خوږې او حق پېژندونکې ده.

پېغلې بوري ين تر لږ ځنډه وروسته وويل:

- ستاسو حال دوه اړخيزه ګران او ستونزمن دی. زه پوهېږم چې تاسو نه شو کولای او نه کولي شي د ځان په اړه فکر وکړي، خو زه د هغې مينې له کبله چې له تاسو سره يې لرم، دنده لرم ستاسو په اړه فکر وکړم. .. الپاتيچ دلته تاسو ته راغی؟ هغه د تګ په اړه له تاسو سره وغږېد؟

شهزادګۍ ماريا ځواب ورنه کړ، هغه نه پوهېده چېرته، څوک بايد لاړ شي. ايا دا ددې وخت دی چې د کومې چارې يا سفر په اړه فکر وشي؟ ايا دا خبره زما د پاره بې تفاوته نه ده؟

پېغلې بوري ين وويل:

-ګرانې ماريا !آيا پوهېږئ !ايا پوهېږئ چې زموږ ژوند له ګواښ سره مخامخ دی؟ ايا پوهېږئ چې موږ فرانسويانو محاصره کړي يو؟ او اوس له دې ځايه وتل او خوځېدل ګران دي. که اوس موږ لاړ شو ، کېدای شي اسير شو او خدای پوهېږي. ..

شهزادګۍ ماريا خپلې خورلنډې ته کتل، خو په دې نه پوهېده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه وايي.

-اخ، کاشکې څوک په دې پوهېداى چې تول، تول زما لپاره بې تفاوته دي. زه په هېڅ ډول د دې هيله نه لرم چې له هغه لرې شم... الپاتيچ زما د تګ په اړه کوم څه و ويل... ته خپله ورسره وغږېږه، زه، زه نه د څه هيله لرم او نه څه غواړم...

پېغلې بوري ين وويل:

-زه له هغه سره وغږېدم او هيله لرم چې سبا ته وخوځېږو، خو زه داسې تصور کوم چې ښه به داوي چې اوس خوهمدلته پاتې شو، ګرانې ماريا ! په لاره کې د فرانسوي يا ياغي کليوالو لاس ته لويدل، خورا ګران کار دى. او له خپلې لاسي کڅوړې نه يې د فرانسوي پوځي جنرال رامو، يوه خبرپاڼه (د هغې کاغذ غير روسي او شهزادګۍ ته ډېر د پام وړ و ) راوويسته. او هغې ته يې ورکړه. په دې پاڼه کې د کليو اوسېدونکو ته ويل شوي و، چې خپل کورنو پرې نه ږدي او سپارښتنه شوې وه چې فرانسوي واک به له هغو سره لازمه مرسته او د هغو ساتنه وکړي.

پېغلې بوري ين دوام ورکړ: زه داسې انګېرم، ښه به داوى چې له همدې جنراله د مرستې هيله وشي او زه هيله لرم، چې هغه به تاسو ته د پام وړ درناوى وکړي.

شهزادګۍ ماريا خبره پاڼه ولوسته او پر بشرې يې د غم، او بې له اوښکو د ژړا نښې راڅرګندې شوې او وې ويل:

-دا خبرپاڼه تاسو ته چا رارسولې ده؟

پېغله بورى ين تکه سره شوه او وې ويل:

-کېداى شي له نامه نه مې پوه شوى يې چې زه فرانسوۍ يمه.

شهزادګۍ چې خبرپاڼه يې په لاس کې وه، د کړکۍ له څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاڅېده، په الوتي رنګ له کوټې نه ووته، د سرداراندرې پخوانۍ کوټې ته ورغله او وې ويل:

-آدونياشا ! الپاتيچ يا دردنوشکا يا بل کوم يو ته ووايه چې ما ته راشي، خو چې کله يې د پېغلې بوري ين غږ واورېد، زياته يې کړه:

- خو اماليا کارلونا ته ووايئ چې ما ته رانه شي.

له ځانسره يې وويل:

-ژر تر ژره بايد لاړ شو. ژر تر ژره.

دې وحشتناکو خيالونو چې د فرانسوي پوځيانو منګولو ته ورشي او اسيره شي، سخته زوروله. بايد ژر تر ژره لاړ شو.

دې فکر، که سرداراندرې خبر شي، چې دا د فرانسوي واکمنو لاس ته ورغلې، دې خيال چې د سردار نيکولای اندريوويچ لور، ځې له فرانسوي جنرال ښاغلی رامو، نه مرسته او خواخوږي غواړي، او له فرانسويانو نه د پناه هيله کوي، دا سخته په وحشت کې اچولې وه. ددې حالت انګېرنې نه ورېږديده، تکه سره شوه، د قهر او وياړ داسې يوې څپې چې پخوا يې نه وه ليدلې، پرې راخوره شوه. ټولې سختۍ او تر هغه هم لا بد تره ځان ته سپکاوی، چې هېڅکله يې تصور هم نه کاوه، تر مخې وليدل. له ځانسره يې وويل:

-هغوی، فرانسويان، راځي او په دې کور کې مېشتېږي، فرانسوي جنرال ښاغلی رامو به د سرداراندرې په کوټه کې کيني، د خپلې ساتېرۍ لپاره به د هغه ليکونه او کاغذونه را اخلي او لولي به يې. پېغله بوري ين به د هغې هرکلی کوي او زموږ د باګوچاروو امېنه به هغو ته جلا جلا ښيي. او له ما سره د خواخوږۍ په نامه به کومه کوټګۍ ما ته راکوي، سرتېري به زما د پلار تازه قبر ددې لپاره رالټوي، چې له هغه نه صليب او نښانونه وشکوي، هغوی به ما ته پر روس د خپلو بريو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسې کوي او د دوکمارو په څېربه له ما سره زما په ماتم کې خوا خوږې ښيي.

شهزادګۍ ماريا اوس داسې فکرونه کول چې خپل يې نه و، هغې بې ارادې داسې احساسوله، چې اوس نو دې ته اړه ده چې د پلار او ورور په څېر د چارو په اړه فکر وکړي. اوس به يې، بې ارادې دا فکر هم کاوه چې که هغوی، پلار او ورور يې وای، اوس به يې څه کول او څه به يې ويل، دا هم بايد هماغسې ووايي او هماغسې وکړي. د سرداراندرې کوټې ته ورغله، هڅه يې وکړه، د هغه خيالات په ذهن کې ځای پر ځای او د حالاتو په اړه فکر وکړي.

د ژوند هغه اړتياوې چې نور د پلار له مرګ سره هغې تالا والا ګڼلې، ناڅاپه او يو وار بيا، په نوي او ناپېژندل شوي قوت د شهزادګۍ ماريا تر نظر راڅرګندې او ددې پر زړه لاسبري شوې. ګبنې اخبستې او تکه سره اوښتې په کوټه کې ښکته پورته ګرځېده، کله به يې الپاتيچ، کله به يې معمار ميخائيل ايوانوويچ يا درون ځانته راوبلل. دونياشا، مينځې او نورو نجونو يوې هم نه شو کولای ورته ووايي چې تر کومې کچې پورې د پېغلې بوري ين خبرې سمې دي. الپاتيچ په کور کې نه و، ځکه هغه د سيمې مشرانو ته ورغلی و. معمار ميخائيل ايوانوويچ يې چې رابللی و، په خوبولو سترګو راغی. خو، نه يې څه ويلی شو او نه يې کومه لارښوونه کولای شوه. هغه پوره هماغه شان د منلو له هماغې موسکا سره چې پنځلس کاله ورسره رږدې او پرته له هغه چې خپله عقيده څرګنده کړي د مشر سردار د پوښتنو په وخت کې به يې پر شونډو خوريده، د شهزادګۍ ماريا پوښتنو ته يې هم ځوابونه ويل، خو د هغه له ځوابونو کومه ځانګړې معنا نه تر لاسه کېده. د سردار بوډا او ځانګړی چوپړ تيخون چې هم راغوښتل شوی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ماته او خوبولې خبره چې ټوله بشره يې په نه تسلا کېدونکي او ژور ماتم کې ډوبه وه، د شهزادګۍ ماريا ټولو پوښتنو ته يې يوازې، داسې ځواب وايه: په سترګو ! لـه دې نه، پرتـه يې بـل څـه ځواب نـه درلـوده. يوازې او يوازې يې خپلې باداري شهزادګۍ ماريـا تـه کتـل او د خپلې ژړا مخه يې نيولې نه شوه.

او په پای کې د کليوالو بزګرو مشر درون هم کوټې ته راننوت، د شهزادګۍ ماريا چې په کوټه کې ګرځېده راګرځېده، دهغې په وړاندې تر ملا خم او د دروازې په خولې کې ودريد.

شـهزادګۍ ماريـا درون تـه د يورښـتيني دوست پـه توګـه پېژانـده. داهماغه درونوشکا جان و چې هر کال بل کال به يې د بازار پـه ورځـو، د راستنېدو په وخت کې د ويازمو له لوی بازار نه، دې ته د دې د خوښې د زنجفيلو پتېرې راوړې، په خندا خندا به يې دې ته ورکولې، شهزادګۍ راغله او هغه ته يې وويل:

- درونوشـکا ! اوس نـو، زمـوږ لـه دې بد مرغۍ نـه وروسـته.. هغـې چې خبرې پيل کړې، داسې يې وانګېرله چې نور نه شي کولای، هغو تـه دوام ورکړي.

درونوشکا ژوره ساه ووېستله او وې ويل:

-زموږ ټولو همدغه لاره ده، دواړه يو څو شېبې چپ پاتې شول.

-درونوشکا ! الپاتيچ چېرته تللی دی، زه لـه بـل هېڅچا نـه، نـه شم کولای، وپوښتم، دا رښتيا دي چې ما تـه وايي، چې زه نـه شم کـولای لاړه شم؟

درون وويل:

- ولې نه شې کولای، لاړه شئ، حضرتې شهزادګۍ ! کولای شئ لاړه شئ، خو وايي د دښمن لـه ګوابنـه دا کارنـه شي کېدای، د زړه سره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوابن دی، نه څه کولای شم او نه مې په څه سر خلاصېږي، زه یوازې او یوازې یم، هېڅوک له ما سره نه شته، زه غوارم یا نن شپه او یا سبا سهار د وخته هرومرو لاړ شم.

درون چپ پاتې شو او په ګوابنمن غلچک کې یې تر ستر ګو لاندې هغې ته وکتل او وې ویل:

- آسونه، نه شته، ما دا خبره یاکوف الپاتیچ ته هم کړې ده.

شهزادګۍ وپوښتل: ولې آسونه، نه شته؟

درون وویل:

- دا ټول د خدای اراده ده، خدای موږ ته زموږ د کړو جزا راکوي. یو څو آسونه وو، هغه یې پوځ ته بوتلل، څه په خپله له پښو ولویدل، سږ کال دا کال، کوم ډول بد مرغه کال دی، آن وابښه هم نه شته، چې آسان یې وخوري، نو ځکه، یو څو هغه یې له لوږې نه نور تلای نه شي. کله ناکله خو درې ورځې هم څه پیدا کولای نه شو چې هغوی یې وخوري، کادانو نه تش دي او موږ یې حیران او خوار کړي یو.

شهزادګۍ ماریا په ځیر سره هغه څه، چې دې ته ویل کېدل اوریدل. هغې وپوښتل:

-ښه، کلیوال بزګر خوار شوي دي او د خوړو څه نه لري.

درون وویل:

- هغه له لوږې مري او دوی له هغو نه آسونه او ګاډۍ غواړي.

-نو تا ولې هېڅ نه ویل، ګرانه درونوشکا ! موږ خو دلته یو، مرسته مو ورسره نه شو کولای؟ زما چې هر څه له لاسه وشي، هغه به کوم..

شهزادګۍ ماریا، نه شو کولای دا فکر وکړي چې اوس په دغه وخت کې چې دا په داسې غم او ماتم اخته ده، ځینې کسان بډای او ځینې خوار واوسي، هغې دا تصور نه شو کولای چې بډایان دې، په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کې لاس تر زنې کیني او له خوارانو سره مرسته نه کوي. هغې یوازې اوریدلي و چې ناداران غنم لري او هغه بیا کلیوال بزګروته ورکوي، هغه په دې پوهېده چې نه به د هغه پلار او نه ورور په دې حال کې ددغو خوارو بزګرو کلیوالو د اړتیا په پوره کولو کې، خپله مرسته سپمولې نه وای، خو هغه یوازې له دې ډاریده په هغو خبرو کې تېر وزي، چې ددغو غنمو د ویش په وخت کې یې له دغو وګړو سره کوي. هغه په دې خوشاله وه چې ددې په دې خواشینو او ماتمي ورځو کې دې ته یوه پلمه پیدا شوې چې له هغوی سره د هغو د ستونزو په اړه وغږېږي. هغه چاره چې دا د وجدان له عذابه پرته تر سره کولی شي. په دغې خواخوږۍ کې وکولای شي لږ څه خپل غمونه هېر کړي. هغې له درونوشکای نه د کلیوالو د اړتیا او د بادار د ګوچاروو‌ا په ګدامونو کې د غنمو د اندازې او د هغو د ډولونو په اړه پوښتنې پیل کړې، هغې وپوښتل:

- ګوره، هغه د باداري، زما د ورور غنم خو شته.

درون په غرور وویل:

-د باداری تول غنم پر خپل ځای دي. زموږ سردار خو د هغو د خرڅلاو نه و ویلي؟

-ښه ده، وریې کړه، د هغو له ډلې چې هر څوک هرڅه اړتیا لري، هغوی ته یې ورکړه، زه د ورورله خوا تا ته وایم، چې هغه وویشه.

درون یوازې یو سوړ اسویلی وویست، خو ځواب یې ورنه کړ.

-دغه غنم هغو ته ور وویشه، کاشکې د هغو اړتیاوې پوره کړي، تول ورکړه.. او هغو ته ووایه چې زموږ هر څه د هغو دي. دا هم ورته ووایی چې موږ به له هغو نه خپل هېڅ شی ونه سپمو. همداسې ورته ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې په ځير ځير شهزادګۍ ته وکتل، د هغې د خبرو منځ ته ورننوت او وې ويل:

-زما ادکې ! په خدای قسم درکوم، چې ما له دغه کاره لرې کړئ، دا کلي او قفل واخله او پرې مه ږدئ، چې خپل ژوند وکړم. درويشت کاله مې چوپړ وکړ، هېڅ بد مې نه دي کړي، او س هيله لرم ما له دې جنجاله خلاص کړئ، او چا ته وواېی چې دغه کلي رانه واخلي.

شهزادګۍ ماريا په دې نه پوهېده چې هغه له دې نه څه غواړي او ولې هغه غواړي چې له دې کاره خلاص شي. هغې ځواب ورکړ چې هغه يوه شېبه هم د هغه په وفادارۍ کې شک نه لاره او هغه دده او د کليوالو بزګرو لپاره هر ډول سربښندنې ته چمتو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

تر دغې خبرې يو ساعت وروسته، دونياشا شهزادګۍ ته راغله او ورته وې ويل چې درون او ټول کليوال بزګر ددې په سپارښتنه راغلي، د انبارونو تر مخې ولاړ دي او هيله لري چې له اغلې شهزادګۍ سره وغږېږي.

شهزادګۍ ماريا وويل:

-ما خو هېڅکله هغوی نه و راغوښتي، ما يوازې درونوشکا ته ويلي و چې هغو ته غنم ور وويشي.

دونياشا وويل:

-د خدای لپاره زما شهزادګۍ !ادکې !ورته ووايه چې هغوی له دې ځايه وشړي، چې ته هم په هېڅ ډول ور ونه وزې. دا ټولې دوکې دي. کله چې ياکوف الپاتيچ راشي، بايد لاړ شو، خو قسم درکوم چې تاسو ور ونه وزئ..

شهزادګۍ ماريا په حيرانتيا وپوښتل:

-دوکې، دوکې يې لا څه وي؟ کومې دوکې !

-هو کې، زه خو پوهېږم، يوازې زما خبرې ومنه، د خدای لپاره، د خدای لپاره !لږ تر لږه له مينځو نه پوښتنه وکړئ، وايي چې تاسو سپارښتنه کړې ده چې کلی پرېږدئ، خو هغوی نه غواړي چې خپل شتنه او ژوند پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ماريا وويل:

-ته کوم بل څه وايې، ما هېڅکله چا ته د تګ سپارښتنه نه ده کړې، درونوشکا ته ورغږ کړئ !

درون راغی او د دونياشا خبرې يې تاييد کړې او وې ويل چې کليوال بزګر د شهزادګۍ په سپارښتنې راټول شوي دي.

شهزادګۍ وويل:

-ما خو هېڅکله نه و ويلي چې هغوی دې دلته راشي، داسې برېښي چې تا هغو ته زما خبره بله ډول رسولې ده، ما يوازې دومره ويلي و چې ته هغو ته غنم وويشه.

درون، سوړ اسويلی وکړ، ځواب يې ورنه کړ او وې ويل:

-که تاسو ووايئ، هغوی به له دې ځايه لاړ شي.

شهزادګۍ ماريا وويل:

- نه، نه، زه خپله هغوی ته ورځم.

د دونياشا او مينځې له ټينګار سره سره، شهزادګۍ ماريا برنډې ته ورووتله. درون، دونياشا، مينځه او ميخايل ايوانوويچ هغې پسې روان وو.

شهزادګۍ ماريا فکر کاوه او له ځان سره يې ويل:

-کېدای شي هغوی فکر کوي، زه دوی ته له دې کبله غنم ويشم، چې هغوی دلته پاتې شي او خپله ځم. دوی فرانسويانو ته پرېږدم. زه هغو ته وعده ورکوم چې هغوی ته مياشتنی خرڅ وټاکم او د مسکو په څنډه کې يې مېشت کړم. زه په دې ډاډه يم، که سردار اندرې دلته وای، له دې نه زيات به يې ورسره کړې وای. شهزادګۍ ماريا د غو خيالو کې په زنګېدو زنګېدو د لمر لويد د ماښامنۍ تيارو په منځ کې، هغې ګڼه ګونې ته چې د انبار تر مخې پټې کې ولاړه وه، ورننېږدې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوال بزګر وخوځېدل، سره راټول شول، خولۍ يې له سره پورته کړې، شهزادګۍ په ښکته سر او له واکه وتلو پښو، چې په لمن کې يې نښتلې، هغوی ته ورنږدې شوه. دد غو خلکو ګڼه ګوڼه، زاړه واړه دومره زيات وو، خبرې يې دومره ډول ډول وې، چې مه کوه پوښتنه، ټولو هغې ته داسې کتل، چې شهزادګۍ ماريا نه شو کولای آن د يوه خبره هم سمه وپېژني، خو بايد له ټولو سره هممهاله وغږېږي، نه پوهېده، څه وکړي، نو بيا ورپه ياد شول چې دا د پلار او ورور استازې ده او همدې خبرې دې ته قوت ورکاوه، نو هغې په زړورتيا خبرې پيل کړې او وې ويل:

-زه ډېره خوشاله يم، چې تاسو راغلئ ! سر يې ښکته واچوه او زړه يې رېږدېده. هغې زياته کړه:

-ما ته درونو شکا وويل چې تاسې جګړې تالان او خوار کړي ياستئ. دا زموږ ګډ غم دي، زه به له ستاسو سره په مرستې کې خپل هېڅ څه ونه سپموم، زه خپله ځم، ځکه دلته نور نو ګواښ خورا ډېر شوی دی. دښمن رانږدې شوی دی... نو ځکه زه تاسو ته، هر څه درکوم، زما ملګرو. زه له تاسو هيله کوم چې ټول واخلئ، زموږ ټول غنم، تاسو بايد اړ نه شئ، او که چا تاسو ته ويلي وي چې زه تاسو ته له دې کبله غله دانه درکوم چې دلته پاتې شئ، دا خبره رښتيا نه ده. برخلاف زما هيله دا ده چې تاسو خپل هر څه، شتمنی او څاروي واخلئ او زموږ د مسکو په څنډو کې پرتو جايدادونو ته لاړ شئ. هلته زه تاسو ټولو ته د غنمو رسول په خپله غاړه اخلم او ژبه درکوم چې تاسو يو به هم اړ نه شئ. تاسو ته هلته خواړه او کورونه درکوي. شهزادګۍ ماريا چپه شوه، او د ګڼه ګوڼې نه له سړو اسويلو نه پرته بل غږ پورته نه شو.

بيا يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه دا نه له خپل نامه، بلکې د خپل خدای ښښلي پلار له نامه، چې ستاسو ښه بادار و او زما د ورور او د هغه د زوی اندرې له نامه نه، تاسو سره کوم.

هغه بیا چپ شوه او هیڅ چا د هغې چوپتیا نه ماتوله.

هغې تر خپلې مخې ولاړو څېرو ته په کتو کتو کې وویل:

-زموږ غم یو غم دی، ګډ غم دی، هغه به په ګډه زغمو، زه چې څه لرم، هغه ستاسو دي.

ټولو هغې ته په یو ډول کتل، هغه کتل چې شهزادګۍ ماریا په هغې نه پوهېده، هغه نه پوهېده چې د صداقت او وفادارۍ کتل دي او که د وحشت او ډار؟ هر څه چې و، په ټولو بشرو کې یو ډول برېښېدل.

یو غږ له شا نه وا اورېدل شو:

-ستاسو له مهربانۍ نه ټول مننه کوي، خو زموږ د بادار غنم په کار نه دي.

شهزادګۍ ماریا وپوښتل:

-ولې، ولې مو په کار نه دي؟

هېڅ چا ځواب ورنه کړ او شهزادګۍ ماریا د دغو خلکو ګونې ګونې ته په کتو کتو کې پام شو، دغه سترګې چې دا ورسره غږېدله، ټولې ښکته لوېدلې وې.

هغې بیا وپوښتل:

-تاسو نه پوښتم، ولې، ولې غنم نه غواړئ؟

او بیا چا ځواب ورنه کړ.

شهزادګۍ ماریا له دغې چوپتیا نه، په حیرت او ناآرامه شوه، او هڅه یې کوله د هغو د کوم یوه، له سترګو سره سترګې مخامخ کړي. هغه بوډا ته چې د لرګي پر یوې لکړه یې ډډه لګولې او د دې تر مخ ولاړ و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ور واړاوه او ترې و پوښتل:
-ولې نه غږېږئ؟ آیا تاسو فکر کوئ، چې تاسو څه ته اړتیا نه لرئ.
همدا چې د هغه پام یې ځانته راواړه، زیاته یې کړه:
-تاسو ووایئ هر څه چې غواړئ، هغه به درته وکړو. یو بوډا ګوا کې
چې له دې حاله لا پسې خفه شوی او په قهر شوی وی، سرښکته واچاوه
او وې ویل:
-زه به څه ووایم، هغه ستاسو غنم دي، زموږ یې پرې څه.
د ګڼې ګوڼې له مینځه آوازونه راپورته شول:
-له موږه څه غواړئ؟ ولې خپل هر څه پرېږدو او لاړ شو؟ موږ نه
غواړو، که څه هم پر تاسو مو زړه خوږېږي، خو نه ځو. که غواړئ چې
لاړه شئ، ځئ یوازې لاړه شئ.
او بیا د ټولو پر بشرو هماغه یو رنګه حالت راخور شو، خو دا وار
یو څه څرګند و، چې دا وار یې د هغو په خبرو کې نه پلټنه، نه پوښتنه
او نه حق پېژندنه، بلکې له هغو سره مل قهر را څرګند و.
شهزادګۍ ماریا په خواشینې موسکا وویل:
-دا سې تصور کوم چې زما په خبرو ځوک پوره پوه شوی نه دی، ولې
نه غواړئ لاړ شئ؟ زه تاسو ته ځای او خواړه درکوم، که دلته پاتې شئ،
دښمن راځي او هر څه چې لري، هغه به تالا والا شي. ،خو د هغې غږ د
هغو په شرو شور کې ورک شو.
-موږ نه غواړو، پرېږدئ چې تالان شي، خپل غنم دې، ستا وي،
موږ هغه نه غواړو.
شهزادګۍ ماریا بیا هڅه وکړه، په ګڼه ګوڼه کې د کوم چا سترګو
سره سترګې برابرې کړي، خو یو غلچک هم هغې ته ور وانه وښت.
دا سې بربښېده چې ټولو سترګو د هغې له سترګو نه ځان پناه کاوه. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېرې او وحشت پسې اخېستې او پر زړه يې ګبنې نټوته. نه پوهېده څه وکړي. له هرې خوا نه رنګارنګ آوازونه اورېدل کېدل:

-بيا ورسره ځه، بيا يې مريې شه، کور او ژوند دې پرېږده، آزادي دې تالا والا کړه، ډوډۍ درکوي، ځای درکوي.

شهزادګۍ سر ښکته واچوه، د هغو له ډلې نه راووتله او کورته يې مخه کړه. خپله سپارښتنه يې بيا درون ته وويله چې سبا ته آسونه چمتو واوسي. او بيا خپلې کوټې ته لاړه او په خپلو خيالونو کې له خيالو سره ډوبه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

شهزادګۍ ماريا هغه شپه تر ډېرو پورې د خپلې خلاصې کړکۍ خوا ته کېناسته او د کليو، خوارو بزګرو کليوالو د غږېدا او شروشور راتلونکو آوازو ته غوږ و، خو نور يې د هغو په اړه فکر نه کاوه. داسې يې انګېرله چې څومره د هغو په اړه فکر کوي، په هماغه اندازه دا نه پرې پوهېږي. هغې د يو شي، هغه هم د خپل غم او ماتم په اړه فکر کاوه، هغه او سنی غم چې تر لږ ځنډه وروسته، اوس پخواني شوی دی. هغې نور نو کولای يې شو هغه رایاد کړي، کولای شو، پر هغه غم اوښکې تويې کړي او يا دعا وکړي. د لمر لويد سره، باد هم ويده شوی و، شپه کراره او هوا ښکلې وه. د شپې له پخېدو او نيمايي سره، د کليوالو بزګرو غږونه هم په کرار کرار په کرار شول. کوم چرګ آذان وکړ او دالوچو ددانو له شا نه سپوږمۍ سر راهسک کړ. سپين رنګو شبنم ورونکو لړو فضا ونيوه او د سکوت برېستن پر کليو او د هغې پر کور راخوره شوه.

وروستۍ نېږدې تېرې شوې پېښې يو په بل پسې هغې ته وریادېدې، د پلار ناروغی او د هغه د ژوند وروستۍ شېبې، هغې ته په خوښۍ، خوله خواشينۍ سره په ګډه دغه تصويرونه له سترګو تېرول او په هغو کې يې يوازې د پلار د مرګ تصوير له هغه ځانه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، ځکه داسې يې انګېرله چې آن د ډار په دې خيال او د شپې په دې آرام او رازمن وخت کې هم د هغه د ليدو زغم نه لري. هغې ته ښه ځرګند وريادېدل چې لومړی پلار ځنګه سکته وکړه او هغه يې تر تخرګ لاندې نيولی او له باغ نه يې په کشولو کشولو کورته راوست. هغې ته دا هم وريادېده چې پلار يې هغه وخت هڅه کوله چې څه ووايي، خپلې سپينې وروځې يې سره ګونځې کړې او په ناآرامه او حيا يې هغې ته څه وويل. هغې په زړه کې وويل: آن هماغه ورځ هغه غوښتل ما ته هغه څه ووايي چې ده د مرګ په ورځ ماته وويل. هغه تل د هغه څه په اړه فکر کاوه چې ما ته يې ويل غوښتل. هغې د پلار له سکتې نه مخکې يوه شپه د مخه پر پلار راتلونکې بلا احساس کړې وه او د پلار د خوښې برخلاف چې غوښتل يې دا له ليسه ګورې نه لرې کړي، هغه يې يوازې پرېښښود. هغه شپه ويده نه شوه، نيمه شپه پاڅېده، د پښو د منګولو په سر ښکته لاړه، د هغې ګلخونې شا ته ورننېږدې شوه چې پلار يې هلته ويده و او د هغه غږ ته يې غوږ ونيو. پلار يې په ستړي، ستومانه او مات آواز له تيخون سره خبرې کولې. هغه غوښتل په هغه شپه د زړه خواله وکړي. هغه ولې په هغه شپه زه ورنه غوښتم؟ ولې هغه زه ور ونه غوښتم او د تيخون پر ځای له ما سره ونه غږېد؟ شهزادګۍ ماريا هغه وخت او اوس داسې فکر کاوه، نور نو هغه اوس او هېڅکله نه شي کولای، هغه څه ووايي چې هغه وخت يې په زړه کې و. بيا به هغه وخت هېڅکله راستون نه شي چې په هغه کې، هغه ما ته ټول هغه څه چې هغه يې د ويلو غوښتنه لرله، ووايي. زه خو تيخون نه يمه، ما به اوريدلې وای او پوه شوې به وای، ولې زه هغه وخت کوټې ته ور ننوتلم؟

هغې په زړه کې وويل:

-کېدای شو، هغه په هماغه ورځ غوښتل ما ته هغه څه ووايي چې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرګ په ورځ ما ته وویل. هغه، هغه وخت له تیخون سره په خبرو کې دوه ځله زما نوم یاد کړ. هغه غوښتل ما ووینې او زه د دروازې تر شا ولاړه ومه. د هغه لپاره ګرانه او د خواشینۍ وړ و چې له تیخون سره،له هغه چا سره چې دده په خبرو نه پوهېده، د زړه خواله کوله. ښه مې یادېږي چې هغه له تیخون سره د دلیزا په اړه داسې غږېده چې ګواکې ژوندی وي. هغه هېره کړې وه چې هغه مړه ده. تیخون هغه ته وریاده کړه چې هغه نه شته. او هغه چغه کړل. احمقه ! هغه ته خورا ډېره ګرانه وه. ما د دروازې له شا واورېدل چې کله هغه پر کټ وغځېد ، په زوره زوره یې چغه وهلې: او زما خدایه !

ولې هغه وخت زه کوټې ته ورننوتلم؟ که ورننوتلې وای، څه به شوي وای؟ کېدای شي، هغه وخت به زما په ورتګ هغه کرار شوی وای، او ما ته به یې د زړه خبره کړې وای. شهزادګۍ ماریا په لوړ آواز هغه خوږې خبرې چې د ه د مرګ په ورځ هغې ته کړې وې، تکرار کړې: زما نا.. ز.. ولې.. ! هغې دا خبره تکراره کړه، وې ژړل او په ساندو ساندو یې خپل زړه تش کړ. د هغې تر سترګو د هغه څېره همداسې ګرځېده راګرځېده. نه هغه څېره چې دې د خپل یادښت له لومړۍ شېبې نه په یاد وه، نه هغه څېره چې دې تل له لرې لیدله، بلکې هغه خواره، ډنګره څېره چې د ژوند په وروستۍ ورځې دا د هغه پر خولې ورخمه شوه چې هغه څه واوري، چې هغه غوښتل دې ته یې ووایي، او دا لومړی ځل و چې دې له نېږدې هغه، د هغه له ټولو ګونځو او د زنې لاندې پیدا شویو غوښو سره یې ولید ، هغې بیا د هغه خبره وریاده کړ:

-زما.. نا.. ز.. و.. ولې ! زما.. رو... حه

ناڅاپه یې په زړه کې دا پوښتنه وګرځېده، کله چې هغه دا خبره کوله، څه فکر یې کاوه؟ او اوس څه فکر کوي؟ او ددې پوښتنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب کې يې د هغه، هغه ښېره تر سترګو راڅرګنده شوه چې هغه په تابوت کې و، ژامې يې ترلې وې، بيا يې پر زړه د هغه وخت هغه ويره او ډار ورننوت چې دې هغه مچ کړی و او پوه شوه، هغه څوک چې په تابوت کې دی، هغه نه يوازې ددې پلار نه دی، بلکې له رازونه ډک، له ځانه لرې کوونکی او نا آشنا څوک دی. هغې غوښتل د بل څه په اړه فکر وکړي، هغې غوښتل دعا وکړي، خو نه يې شو کولای. هغې په پرانستو غټو سترګو د سپوږمۍ شغلو او تيارو ته کتل او هره شېبه دې ته سترګې په لاره وه چې د هغه ښېره ووينې او داسې يې احساسوله چې راخوره شوې چوپتيا، کور په منګولو کې نيولی دی او پر هغه لاسبرې ده.

هغې تر شونډو لاندې وويل:

-دونياشا !

او بيا يې په لوړ او رمباړ وزمه آواز چغې کړې:

- دونياشا !

او په دې چغه يې د سکوت کړۍ ماتې او د مينځو د کوټې پلو ته چې چوپړانو او مينځو ددې خواته منډې وهلې، ورودانګل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

د اګست ۱۷ مه نېټه وه چې رستوف، ایلین او د هغو مل چوپړ، د سواره پوځ سرتیری لا روشکا تازه له اسارته راستون شوی و، له خپلې قوماندانۍ د یانکووانه، له سیمې چې د باګوچاروو ا په پنځلس ورستی کې پرته وه، د آسونو په سورولۍ د دې لپاره ووتل چې هغه آس و آزمايي چې ایلین نوی اخېستی و. دوی غوښتل دا پته هم ولګوي چې په شا وخوا کلیو کې واښه پیدا کېږي او کنه؟

په وروستیو درې ورځو کې، باګوچاروو ا، د دوو دښمنو پوځونو ترمنځ راغلې وه، هغه هم داسې چې، د روسي پوځ وروستۍ او د فرانسوي پوځ لومړی کرښې له دغه سیمې نه څه کم په یوې اندازې وې. دواړو پوځونو کولای شول چې په آسانۍ دغې سیمې ته ورننوزي، نو له دې کبله رستوف د یوې پیاوړي ځیرک او د خپل پوځ د سورو په غم کې لېوني قوماندان په توګه، غوښتل له فرانسویانو نه مخکې هلته ورسېږي چې کېدای شي په باګوچاروو ا کې څه واښه او خواړه پاتې وي.

رستوف او ایلین دواړه خورا خوشاله، تاند او تازه وو. د باګوچاروو ا په لاره کې، چې یو آباده، د شهزادګانو داوسېدو ا د بادارانو د کورونو سیمه وه، دواړو هیله لرله چې بې شمېره چوپړان او مېنځې به د ښکلو نجونو په ملګرتیا د دوی هرکلي ته راووزي. په لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې د لاوروشکا نه هيله کوله چې د ناپليون کيسې ورته وکړي، پر هغه ټوکې وکړئ او پرې وخاندي او کله کله به يې د دې لپاره د آس زغلولو لوبه جوړه کړه چې د ايلين آس و آزمايي.

رستوف، نه پوهېده او تصور يې هم نه کاوه چې دغه کلي ته چې دی ورروان دی، هماغه او د هماغه بالکونسکي جايداد دی، چې دده د خور کوژدنی و.

رستوف او ايلين باګو چاروو اته د تلونکي غونډۍ پر سر خپل آسونه د وروستي ځل لپاره يرغه کړل. رستوف له خپل سيال نه مخکې شو او تر هغه نه وړاندې د کلي کوڅو ته ورورسېد.

ايلين چې بشره يې له ځغاستې تکه سره اوښتې وه، وويل:

-تا وګټله !

رستوف پر خپل دون (د روسيې يو ښار دی) نژاده آس، چې له خولو نه لوند خيشت و، لاس تېر کړ او وې ويل:

-هو کې، هر چېرې يې ګټم، هم په دښته کې او هم دلته.

لاوروشکا چې له شا را روان و، وې ويل:

- که ستاسو درناوی نه وای، ما به دده خپل فرانسوي په مرسته، له دوا ړو نه ګټلې وای (هغه خپل آس د فرانسوي په نامه يادا وه)

په کراره د هغو وګړو خواته چې د غنمو د انبارو مخې ته راټول شوي وو، ورنږدې شول.

ځېنو کليوالو له سره خولۍ پورته کړې او ځېنو هماغه شان خولۍ پر سر د رانږدې کېدونکو کسانو څارنه کوله.

دوه بوډا لوړ وني کليوال چې مخونه يې ګونځې ګونځې او ږېرې يې کوسه وې له يوې ميکدې نه راووتل، کاږه واږه او خنديدل، خوځېدل او په داسې حال کې چې يوه نه پوهېدونکې بې وزنه سندره يې ويله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسرانو ته ورنږدې شول.

رستوف په موسېدو موسېدو وویل:

-آفرین، ګورئ وا ښه لرئ؟

ایلین وویل: څنګه ټول یو بل ته ورته دي.

یوه کلیوال چې نیکمرغه موسکا یې پر شونډو خوره وه، دا سندره ویله:

-زما... ښا.. سینه... ام... ام..

یو کلیوال بزګر چې له ډلې رابیل، د رستوف خوا ته ورغی او وې پوښتل:

-تاسو د کوم پوځ یاستئ؟

ایلین په خندا ځواب ورکړ:

-موږ فرانسویان یو.. لاوروشکا ته یې اشاره وکړه او وې ویل:

-دا هم په خپله ناپلیون دی.

کلیوال بیا وپوښتل: ښه نو روسان یاستئ؟

بل کلیوال چې لنډه ونه یې لرله، هغو ته ورنږدې شو او وې ویل:

-شمېر مو زیات دی؟

رستوف ځواب ورکړ:

-خورا زیات، خورا ! اوس تاسو د څه لپاره دلته راټول شوي یاستی، اختر دی، جشن دی، که بل څه خبره؟

یو بزګر چې له هغو نه لرې کېده، وویل:

-نه اختر نه دی، دلته سپین ږیري راټول شوي دي، چې د کلي کار جوړ کړي.

په دې وخت په لاره کې د ارباب له کوره دوې ښځې او یو سړی چې سپینه خولۍ یې پر سر وه، راښکاره شول چې د افسرانو پلو ور روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

ایلین دونیاشا ته چې په ټینګو قدمونو د دوی خواته راروانه وه، اشاره وکړه او وې ویل:

-هغې چې ګلابي کمیس اغوستی دی، زما ده، ورته ګورې به نه.

لاوروشکا ایلین ته سترګه کېښکوده او وې ویل:

-زموږ به شي.

ایلین چې موسېده، وې ویل:

-څه دي، زما ښکلې، څه په کار دي؟

-شهزادګۍ سپارښتنه وکړه چې وپوښتو، تاسو د کوم غونډ او نومونه مو څه دي؟

-دا ګراف رستوف، د سورو پوځونو قوماندان او زه ستاسو خاورې ایلین نومېږم.

یو نشه بزګر چې هماغه نه پوهېدونکې سندره یې ویله.. ز.. ما.. ښه ک.. د زړه له کومې یې خندل، ایلین ته چې یوې نجلۍ ته یې کتل، په کتو و. د الپاتیچ چې له لرې نه خولۍ (روسان کله چې درناوی کوي، خولۍ له سره جګه وي) لا لرې له سره پورته کړې وه او تر دونیاشا وروسته رستوف ته ورنږدې کېده، د درناوي په نښه یې لاس پر ټټر کېښود، په خورا درناوي خو په څه نه پرتمینې ژبې یې، چې هغه هم د رستوف د ځوانۍ له کبله و، وویل:

-ستاسو ښاغلي په اجازه، ځان ته حق ورکوم چې ستاسو د ناآرامۍ سبب شم، زما بادار، د همدې میاشتې په پنځلسمه د نومیالي جنرال سردار نیکولای اندریوویچ بالکونسکي لور دد غو خلکو له لاسه.. او کلیوالو ته یې اشاره وکړه، له سختو ستونزو سره مخامخ شوې ده، تاسو نه د مرستې هیله کېږي، غواړئ چې تاسو ،هغه ووینئ، او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



الپاتیچ له خواشینۍ نه ډکه موسکا وکړه او وې ویل:

-که مهرباني وکړئ یو څو ګامه هغې خواته لاړ شو، ځکه د دغو خلکو په مخ کې« الپاتیچ هغو دوو کلیوالو ته چې د دوی شاوخوا ته لکه مچ د آس په شاوخوا کې ګرځېدل راګرځېدل، اشاره وکړه» او دوام یې ورکړ:

-د دغو خلکو په مخ کې، خبرې کول ګراني دي.

بزګر چې د زړه له کومي خندیدل، ناري یې وهلې:

-آه، الپاتیچ، اها.. اوهوم. یاکف الپاتیچ ډېر غوره.. د خدای لپاره ښښنه غواړو، خورا غوره..

رستوف دغو نشه یانو ته کتل، او خندل یې.

الپاتیچ وویل:

-ځان ته حق ورکوم، تاسو ته عرض کوم، دغه بزګر کلیوال نه غواړي چې زما باداره له دې ځایه ووزي او دوی له ګاډیو نه آسونه خلاصوي، که څه هم لاسهار بارونه او آسونه تړل شوي و، خوشهزادګۍ نه شي کولای وخوځېږي.

رستوف چغه کړل:

- دا امکان نه لري.

الپاتیچ تکرار کړه:

-څه مې چې درته وویل، دا ټول رښتیا دي.

رستوف له خپل آس نه کوز شو او خپل آس یې خپل څاروان ته ورکړ.

هغه له الپاتیچ سره د کور خوا ته لاړ. کورته، تر رسېدو پورې یې له هغه څو پوښتنې وکړې، الپاتیچ د څو تېرو ورځو ټولې پېښې هغه ته وویلې.. او زیاته یې کړه، چې په رښتیا کلیوالو ویلي چې څوک له کلي وتلی نه شي او کنه دوی به آسونه له ګاډیو راخلاص کړي.. شهزادګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید پرې نښودل شي. ..

په هغه شېبه کې چې رستوف، شهزادګۍ ماریا ته د ورتګ لپاره له دالان نه تېریده، د زاریو او عذرونو غږ اوریدل کېده چې ویل یې:

-زما پلار جانه ! مور دې ټول له تانه ځار شو، پاک خدای ته زموږ ژغورنې ته رالېږلی یې.

کله چې رستوف، شهزادګۍ ماریا ته بدرګه کېده، هغه په سالون کې هکه پکه او حیرانه ناسته وه، هغه په دې نه پوهېده چې هغه څوک دی، څه لپاره راغلی او په دې به څه راځي. شهزادګۍ د هغه د روسي بشرې په لیدو، تګ او د غږیدا له لومړیو خبرو نه پوه شوه چې خپل سړی او د دې سیال کېدای شي. په ملال غلچک او ځلندو سترګو یې هغه ته وکتل او په لړزیدلي او ګېنې اخېستي آواز یې له هغه سره خبرې پیل کړې. رستوف سمدلاسه په دغې کتنې کې، څه مینه ناکې شېبې پیدا کړې.

رستوف هغې ته په کتو کتو کې، غوږ هم ورته نیولی و او له ځانسره یې ویل:

-دا بې پناه نجلۍ، د پلار غم وژلې، یوازې، یو شمېر یاغي او ځیږو کلیوالو ته په لاس ورغلې، کوم عجیب و غریب قسمت زه د دې ژغورنې ته را استولی یم. د دې څېره، د هغې ادا څومره مهربانه او حالت یې څومره له خواخوږۍ نه ډک و.

کله چې هغې ویل چې دا پېښه د هغې د پلار تر مرګه یوه ورځ وروسته وه، آواز یې ورېږدید، هغې مخ واړاوه او وروسته تا به ویل له دې نه ډارېږي چې رستوف فکر ونه کړي چې د دې دا خبرې د هغه د خواخوږۍ د راپارولو لپاره دي، هغه ته یې په ډار او پوښتنیزه ادا وکتل. د رستوف په سترګو کې اوښکې راښکاره شوې. د شهزادګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماريا دې خبرې ته پام شو او د هغې له مننې ډکې سترګې د اسې وځلېدې، چې د هغې د بشرې ناښکلاوې يې په د غې ځلا کې ومروړلې.

رستوف پاڅېد او وې ويل:

-آغلې شهزادګۍ ! هيڅ نه پوهېږم په کومې ژبې درته ووايم چې زه له دې نه ځومره نيکمرغه يم چې ناڅاپه قسمت دې خوا ته راوستی يم، غواړم ووايم چې زه ستا هر چوپړ ته چمتو يم. هيله لرم، چې وخوځېږو او زه قسم خورم چې هيڅ څوک به ونه شي کولای ستا د تګ خنډ شي او يا تله اسو سره دښمني وکړي، خو په يو شرط چې اجازه راکړئ چې زه ستا د تګ کاروان بدرګه کړم.

او په هغه درناوي چې د شاهي کورنۍ دود وي، د هغه په وړاندې خم شو او د وره پلو وخوځېد.

داسې برېښېده چې رستوف، په دې درناوي او ادب غوښتل چې که څه هم له شهزادګۍ سره پېژندګلوي ته خورا درناوی کوي، ځان له دې امله نيکمرغه ګڼي، خو نه غواړي د هغې له دې خوارۍ او ناتوانۍ نه ګټه واخلي او له هغې سره ډېر نږدې شي.

شهزادګۍ ماريا هم په دې پوه شوه، د هغه د دې کار قدر يې وکړ او په فرانسوي ژبه يې وويل:

-زه له تاسو نه ډېره ډېره مننه کوم. او هيله لرم چې دا ټولې خبرې هسې يوه تشه تېروتنه او په هغه کې څوک ملامته نه وي.

شهزادګۍ ناڅاپه په ژړا شوه او وې ويل:

-ما به وبښئ !

رستوف تندی تريو کړ، يو ځل بيا د درناوي په نښه تر ملا ټيټ او له کوټې نه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

ایلین چې د رستوف مخ ته کتل، وې وویل:

-نو ځنګه ګرانه؟ نه وروره، هغه زما ګلابي رنګه خورا ښه ښکلې او نوم یې دونیاشا ده.

او وې لیدل چې د هغه د اتل قوماندان، حالت او خیالونه نور دي.

رستوف په قهر ایلین ته وکتل، پرته له هغه چې د هغه ځواب ووایي، په چټکو ګامونو د دروازې پلو روان شو او له ځانسره یې په بنګېدو بنګېدو وویل:

-زه به یې هغو ته وښیېم، زه به یې حق ور کړم، دا غله او دوکمار !

الپاتیچ په پراخو، چټکو خو نرمو ګامونو په سختۍ ځان رستوف ته ورساوه، خو همدا چې ورورسېد، ورته وې ویل:

-د څه پریکړې، اجازه مو ورکړه؟

رستوف ودرید، سوکونه یې غوټه کړل او په ګواښ ګواښ یې الپاتیچ ته ور ودانګل او چغه یې کړل:

-پریکړه؟ کومه پریکړه؟ زړه ګنهګاره ! تا کومې خواته کتل؟ تا ته وایم؟ کلیوال بزګر پاڅون کوي او ته یې اداره کولی نه شئ؟ ته خپله خایین یې. له ټولو به پوستکی وباسم.. هغه ګواکې له دې وېریده چې د قهر لمبې یې سرې نه شي، الپاتیچ یې پرېښود او په چټکو ګامونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې لاړ. الپاتيچ د رستوف له ښکنځلو په خپتيان ستركې پټې کړې، په همغه پراخو چټکو خو نرمو ګامونو رستوف پسې وخوځېد او هغه ته يې له هغو نه د اخېستل شوي غچ جاج اوروه. هغه ويل چې دغه کليوال بزګر سخت لمسېدلي او له وسلوال ملاتړ نه پرته به ښه نه وي، له هغو سره ټکر وشي. بيا يې وويل ښه به دا نه وي چې لومړی وسلوالو سړيو پسې خلک ولېږل شي؟

نيکولای چې له قهره لېونی او د دغه لېونتوب د هېرولو لپاره يې د ځناور په شان رمباړې وهلې او ژوره ژوره سا يې وېستله، هغه ته وويل:

-وسلوال سړي؟ زه خپله وسلوال يم؟ پرته له هغه چې پوه شي چې څه غواړي، په چټکو ګامونو په ټينګ تکل د ګڼه ګوڼې خوا ته ورغی. هر څومره چې هغو ته نږدې کېده، په همغه اندازه الپاتيچ دا سې احساسوله چې د هغه بې تدبيره کړه به، خورا بد پای ته رامنځ ته کړي. کليوالو بزګرو چې دغه شان چټکو، چټکو ټينګو او غوڅو ګامونو او تريو تندی ته کتل، د همدا سې بد پای تصور يې کاوه.

کلي ته د سورو د رسېدو او شهزادګۍ ته د رستوف د ورتګ سره سم، د کليوالو بزګرو په منځ کې اړو دوړ او بې اتفاقي رامنځ ته شوه. .. هغو ځېنو ويل چې دغه نوي رارسېدونکي سړي، روسان دي، او که څوک د شهزادګۍ د تګ مخنوی وکړي، کېدای شي، دوی به په دې خپه شي. درون هم د همدې ډلې په شان فکر کاوه هغه همدا خبره وکړه، خو کارپ او څو تنه کليوال بزګر د پخوانۍ مشرۍ (درون) په وړاندې ودريدل.

کارپ چغه کړل:

-تا خو ټول تالا کړي دي، ته يې څه پروا لرې، خپلې پيسې دې کوته کړې، را وبه يې باسې، لاړ به شې، زموږ که کورونه ورانېږي، ستا پې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه؟

یو بل چغې کړې:

-نظم باید وساتل شي، هېڅوک حق نه لري چې څوک یا کوم شي له کلي وباسي، بله خبره نه شته. همدا پریکړه ده.

یو زوړ خوار بوډا چې ناڅاپه د ننه راداننګلي و، وویل:

-اوس وار د تا د زوی دی، چې بیګار ته لاړ شي، خو ستا په خپل نازولی زړه خوږ شه، او زما په وانکای دې سر وخریه (پوځ ته دې ولېږه) اخ له تا سره خو به ټول تباه شو.

-هو کې ټول به مړه شو.

درون وویل:

-زه خو د کلیوالو روغه غواړم.

-روغه غواړې، له ټنډې ګېډې نه یې ښکاري.

دوو لوړونو مستو نشه نارینو، چې له چا سره یې څه کار نه لاره او خپلې خبرې یې کولې. همدا چې رستوف یې دا ایلین، لاوروشکا او الپاتیچ په ملتیا د خلکو خواته په تګ ولید، کارپ ګوته د خپل ملاوستې لاندې ومنډله او په داسې یوه موسکا چې پرشونډو یې ورکېده وړاندې لاړ. برخلاف درون، د خلکو د وروستیو کرښو پلو ته ورغی او ګڼه ګوڼه لاپسې سره راټول شوه.

رستوف په داسې حال کې چې په چټکو ګامونو ګڼه ګوڼې ته ورننېږدې کېده، چغه کړل:

-اها ! ستاسو مشر څوک دی؟

کارپ وپوښتل:

- مشر مو څه په کار دی؟

خو هغه لا خپله خبره پای ته نه وه رسولې چې له ککرې نه یې خولۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو خوا کږه شوه، او سر یې د څپېړې له زوره بلې خوا ته وچورلیده.

د رستوف ځیر او په تول توان لوړ غږ پورته شو:

-خولۍ مو لرې کړئ! خائینانو! مشر مو چېري دی؟

د هغه آواز د لېونتوب تر کچې بدل شوی و.

له څو ځایونه، داسې غږونه چې د اطاعت او غاړه ایښودلو نښې په کې څرګندې وې، پورته شول:

-مشر غواړي.. درون زاخارویچ چېرې دی؟ درونه! ولې غږ نه کوئ؟

او خولۍ یې له سرونه لرې کړې.

کارپ وویل:

- دلته څوک یاغي شوي نه دي، موږ دلته یوازې نظم ساتو. او همهاله د ګڼه ګوڼې له وروستیو کرښو نه څو غږونه پورته شول:

-هر څه چې مشران وو ایي، دلته مشران ډېر شوي دي.

رستوف، کارپ له ګرېوانه راونیو او له قهره یې نه پوهېدونکې چغې وهلې:

-له ما سره ژبه کوئ؟ پاڅون! تالانګر! خائینان! وتړئ! لاسونه یې سمدلاسه وتړئ!

همداسې یې چغې وهلې:

- وتړئ، خو له لاوروشکا او الپاتیچ نه پرته بل څوک نه و چې د چا لاسونه وتړي.

لاوروشکا د کارپ پلو ورودانګل، هغه یې له لاسونو راونیو او چغه یې کړل:

-غواړئ، لاړ شم او خپل سړي خبر کړم؟

الپاتیچ کلیوالو بزګرو ته مخ وروا ړاوه، د دوو تنو نوم یې واخېست

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورته وې ویل: چې د کارپ لاسونه وتړي، رابلل شوي کسان په داسې حال کې چې سرونه یې ښکته اچولي وو، له ګنې ګوښې نه راووتل او د خپلو ملاوستو په پرانستلو یې پیل وکړ.

رستوف چغه کړل:

-مشر چېرې دی؟

درون، په الوتې بڼې او ګڼې اخېستې ډول له ګڼې ګوښې نه راووت.

رستوف داسې چغې وهلې چې ګواکې دده له سپاربښتنې څوک سر نه غړوي!

-مشر ته یې؟ لاوروشکا وې تړه! په رښتیا هم د هغې له سپاربښتنې چا سر ونه غړاوه. دوه کلیوالو د مشر د لاسونو تړل پیل کړل او مشر هم له هغو سره د مرستې په نښه خپل ملا وستی، خپله خلاص کړ.

رستوف کلیوالو بزګرو ته مخ ورواړاوه او ورته وې ویل:

-ټول غوږ شئ! سمدلاسه به سرونه ښکته اچوئ، له شروشوره پرته به ځئ خپلو کورونو ته چې غږ مو وانه اورم.

له هرې خوا د ځان د ملامتیې غږونه پورته و:

-موږ خو د بدیې تکل نه لاره، هسې له حماقت او سادګۍ نه مو دا کارونه کول.. له اپلتو نه ستړي شوي وو.. او یو بل یې سره ملامتول.

الپاتیچ چې بیا خپل واک لیدلی و، وویل:

- ما خو تاسو ته ویل، ګورئ هلکانو! دا ښه کار نه دی، بیا غږونه پورته شول:

-یاکوف الپاتیچ! زموږ حماقت وو، او هغه سره مل، ګڼه ګوڼه خوره او خپلو کورونو ته لاړل.

دوه لاس تړلي یې د بادار کره بوتلل او دوه مست او نشه کلیوال هغو پسې روان و. ددغو نشیانو نه یو کارپ ته په کتو کې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اخ ! چې همداسې مې درته کتلای !

بل ویل:

- آیا څوک خپل بادار سره داسې کوي، چې تا وکړل؟ تا څه فکر کاوه؟

لومړي وویل:

-احمق دی، په رښتیا چې احمق دی !

دوه ساعته وروسته ټولې ګاډۍ د بادار د کور مخې ته چمتو کتار ولاړې او کلیوالو بزګرو په خورا لېوالتیا د بادارانو شیان راوېستل او په هغو کې یې بارول او تړل یې. درون چې په یوه کوټه کې زنداني، خو د شهزادګۍ ماریا په سپارښتنه بېرته پرېښودل شوی و، د کور دانګړ په یوه کنج کې ولاړ او کلیوالو بزګرو ته یې سپارښتنې کولې، چې څه وکړي او څه ونه کړي.

یو تن چې لوړه ونه او ګرده خندنۍ بشره یې لرله او د یوې مېنځې له لاسه یې د ګاڼو صندوقچه اخېسته، وویل:

-دا ،داسې بې پروا مه ږده، ګوره پیسې پرې تللي. هسې یې ارتیږې یا یې رشمې پورې تړې،هغه خو له کاره لوېږي. زما داسې نه خوښېږي. انسان باید هر کار د زړه له کومې او دود سره سم وکړي. دغه شان یې باید وکړې، داسې یې ږدې، د پاڼو لاندې، وابښه یا پاڼې پرې اچوي، دغسې، اوس سم شو !

یو بل ته چې د سرداراندرې د کتابونو الماری را اخېستې وه، وویل: او، څه کوې؟ داسې یې مه جګوه، درانه دي، خو ګوری هلکانو، عجیبه کتابونه دي. هغه لوړ ونی کلیوال چې ګرده خندنۍ څېره یې لرله، سترګه یې کېښکوده او هغه سیند (قاموس) ته چې د ټولو کتابونو پر سر پروت و، اشاره وکړه او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو کې، بې ځايه يې وخت نه دی تېر کړي. کتابونه يې ليکلي دي.
رستوف د دې هيله نه لرله چې پر شهزادګۍ خپله پېژند ګلوي وروتپي، نو له دې کبله هغه په کلي کې پاتې شو، هغې ته ورنغی او همالته د شهزادګۍ د ګاډيو راتګ ته انتظار پاتې شو. کله چې د هغې مل ګاډي راورسېدلې، رستوف تر هغه ځايه پورې چې د روسي پوځونو تر ولکې لاندې و او تر باګوچاروو ا پورې يې دولس ورستي واټن درلود بدرګه کړې، کله چې هغو د يانکوا سيمې ته ورسېدل، د دغې سيمې د رباط په مېلمستون کې تم شول. همدلته رستوف په خورا درناوي له هغې سره مخه ښه وکړه او د لومړي ځل لپاره يې ځان ته اجازه ورکړه، د هغې لاس ونه ښکل کړي.
د رستوف مخ چې تک سور اوښتی و او د شهزادګۍ ماريا د منندې په بدل کې چې هغه خپل ژغورونکی ګڼلی و (د هغه کړه يې خپله ژغورنه ګڼله) ووېل:
-تاسو ولې داسې خبرې کوئ، که تاسو له هر ساتونکي نه دا هيله کړې وای، هغه به له تاسو سره دا مرسته کړې وای. که يوازې زموږ کليوالو بزګرو په جګړې کې ګډون کړی وای، دښمن به دومره وړاندې زموږ خاورې ته نه وای رانغوتلای.
کله چې يې دا خبره وکړه، خدای زده له څه وشرمېده، هڅه يې وکړه چې خبره په بله واړوي، او زياته يې کړه:
-زه په دې نيکمرغه يم، چې له ستاسو سره مې د پېژندګلوۍ وياړ را په برخه شوه، د خدای په امان شهزادګۍ! ستاسو د نيمکرغۍ او آرامتيا هيله مند يم او د دې هيله لرم، چې بيا په کومه نيکمرغه او خوښه شېبه کې سره وګورو. که غواړئ چې زه له شرمه تک سور نه شم، له تاسو نه هيله کوم، چې د منندې خبرې پرېږدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم شهزادګۍ نور له هغه نه د مننې یوه خبره هم ونه کړه، خو د هغې د ځلېدونکې څېرې حالت ټول او ټول د مننې او درناوی څرګندونه کوله .. شهزادګۍ په دې باور درلود که رستوف نه وای، هغه به یا د یاغي کلیوالو بزګرو او یا د فرانسوي پوځیانو په اخ او ډب کې نابوده شوې وای. رستوف ددې لپاره چې هغه وژغوري، په داګه ځان د وحشتناک ګواښ منګولو ته سپارلی و، دغه راز هغې په دې کې شک نه لاره چې رستوف د داسې عالي روح خاوند و، چې کولای شو د هغې غم او حالت په بشپړه توګه احساس او درک کړي.

کله چې شهزادګۍ د خپل ویر په اړه له رستوف سره خبرې کولې، د هغه په سترګو کې اوښکې راشېوه شوې، دغه له اوښکو ډکې سترګې هغې نه شوې هېرولې.

شهزادګۍ ماریا چې له هغه سره خدای په امانې وکړه، ناڅاپه یې احساس کړه چې سترګې یې له اوښکو راډکې شوې دي او په همدې شېبه کې یو ځل بیا دا زورونکې پوښتنه په خیال ورغله چې آیا په ربښتیا هغه ورته ګران دی؟

سره له هغه چې مسکو ته، په تلونکې لاره، د شهزادګۍ حالت د خوښۍ وړ نه و، خو دونیاشا چې له هغې سره په ګاډۍ کې ناسته وه، څو ځله دې ته پام شو چې کله به یې د غم او کله به یې د خوښۍ موسکا پرشونډو راخوره شوه.

شهزادګۍ ماریا وویل:

-نو څه پروا به یې لرله، که هغه ما ته ګران وای؟

هغه له دې نه ډېره شرمېده چې د لومړي ځل لپاره هغه څوک ورته ګران شوی دی چې په ژوند کې به دا ورته ګرانه نه وي. هغې په دې خیالونو ځان آراموه چې هېڅوک به هېڅکله له دې نه خبر نه شي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وار هغه په چا مینه شوه، بیا به د ژوند تر پایه پر بل چا مینه نه شي، که د غه حال چا ته ونه وایي، دا کومه ګناه نه ده.

شهزادګۍ ماریا په زړه کې ویل:

- ولې هغه په دې وخت کې باګوچاروو اته راغی؟ ولې د هغه خور زما د ورور کوژدنتوب پرېښود؟ دا به هم هماغه شان شي. هغې په دې ټولو پېښو کې د تقدیر لاس لیده.

شهزادګۍ هم پر رستوف خورا په زړه پورې اغېز کړی و. نیکولای به چې هر وار هغه یادوله، پر هغه به د خوښۍ څپې راخورېدې. کله چې د هغه ملګري هغه ته په باګوچاروو اکې له ورپېښ شوې پېښې نه خبر شول، رستوف ته به یې په ټوکه ټوکه ویل چې دی باګوچاروو اته وښو پسې لاړ، خو هلته یې د روسیې تر ټولو بډایه ناوې ور په برخه شوې ده. هغه به په دې ټوکه خپه او په قهر کېده چې وښو پسې لاړ، خو هلته یې د روسیې تر ټولو بډایه ناوې په برخه شوه، او له دې نه هم، هغه زیات په دې په قهرېده چې له مهربانۍ او کمینې او د بې پایه شتمنې له خاوندې شهزادګۍ سره واده کولو خیالونو او هیلې بیا بیا د هغه خیال ته راتلل. خپله نیکولای هم تر شهزادګۍ ماریا د غورې او ښې ناوې هیله نه شوه کولای. له شهزادګۍ سره واده به نه یوازې دده مور مشره ګرافینه نیکمرغه کړې وای، بلکې د پلار اقتصادي ګډې وډې چارې به یې هم ورسمې کړې وای.

نیکولای دا هم احساسوله چې دغه واده به شهزادګۍ ماریا هم نیکمرغه کړي، خو سونیا؟ او هغه ژبه چې هغې ته ورکړ شوې وه؟ یوه له هغه ټوکو او خبرو نه وه چې کله به د رستوف ملګرو او انډیوالانو هغه ته وریادوله، دی به سخت پرې خپه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

کوتوزوف، چې د سترې قوماندانۍ قومانده تر لاسه کړه، هغه ته سرداراندرې وریاد او امر یې ولیکه چې قوماندانۍ ته راشي.

سرداراندرې، په هماغه ورځ او په هماغه وخت چې کله کوتوزوف د څوریوا -زیمش په سیمه کې د لومړي ځل لپاره د خپلو پوځونو پریټ کوت، سترې قوماندانۍ ته ورغی. سرداراندرې، په کلي کې د پاپ د کور مخې ته چې د ستر قوماندان ګاډۍ ولاړه وه، کېناست. د کلي تر شا په ډاګ کې به کله ناکله د پوځي مارش او کله هم د ګڼې ډلې د هورا او ژوندی دې وي، ناري چې د نوي ستر قوماندان په ویاړ ویل کېدې، واوریدل شوې. په همدې انګړ کې د دروازې مخې ته لس ګامه له سرداراندرې، نه لرې، د کوتوزوف دوه ساتونکي، یو یاور او یو چوپړ، د خپل قوماندان له نشته والي او تودې ورځې نه په ګټه اخېستنې، کرار ولاړ و. د سورو پوځونو یو توربخون، لنډ ونې ډګرمن چې بشره یې په ګڼو بریتو او ږیرې پوښلې وه، پر آس سپور و، د دروازې خولې ته ورنېږدې شو، سرداراندرې ته یې وکتل او وې پوښتل:

-آیا د والاحضرت کور همدلته دی؟ ژر به راشي؟

سرداراندرې ځواب ورکړ، دی د والاحضرت د قوماندانۍ د افسرانو له ډلې نه دی او خپله هم نوی دلته راغلی دی. سواره ډګرمن د کوتوزوف یو ساتونکي ته چې ښکلې جامې یې اغوستې وې، مخ ورواړاوه، خو هغه د ساتونکو له ملنډو نه په ډکې ځانګړې ژبې ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ:

-څه شی؟ والاحضرت؟ باید راشي، څه یې کوئ؟

ډګرمن د ساتونکي وینا ته له ملنډو نه په ډک غلچک وکتل، له آسه راکوز شو، آس یې خپل ساتونکی ته وسپاره او په درناوي، بالکونسکي ته ورنږدې شو. بالکونسکي پر ناستې څوکۍ لږ هغې خوا ته شو او هغه ته یې تر خپل څنګه د ناستې ځای ورکړ او ډګرمن یې تر څنګه کېناست.

د سواره پوځ ډګرمن، له سرداراندرې سره خبرې پیل او وې ویل:

- تاسو هم د ستر قوماندان راتګ ته سترګه په لار یاست؟

وایي چې هغه په ورین تندي ټول مني، شکر د خدای دی، مخکې له دې مو ،له هغه کالباسه (وچه غوښه) خواره سره څه حال لرو، بې ځایه نه ده چې یورمولوف، غوښتل الماني شي، اوس کېدای شي روسان هم نظر ورکړي او وغړېږي. خدای خپله ښه پوهېږي چې تر دې د مخه، په ستره قوماندانۍ کې څه تېریدل، ټول شاتګ او شاتګ و، د هغو لوی هنر دا و چې څنګه په جبهو کې شاته تګ وشي. هغه له سرداراندرې نه وپوښتل:

-تاسو خپله په جګړه کې ګډون کړی و؟

سرداراندرې، ځواب ورکړ:

-په جګړه کې مې د ګډون ویاړ درلود ،نه یوازې دا چې په شاتګ کې مې ګډون درلود ، بلکې هر هغه څه چې په ژوند کې تر ټولو نه راته ګران و ، هغه مې هم په دې جګړه کې له لاسه ورکړل، ځمکې، جایدادونه او به او کور خو څه چې پلار مې هم له غمه مړ شو ، زه په سمولینسک کې وم.

ډګرمن د سرداراندرې لاس په خورا مهربانۍ او لېوالتیا کېښکود ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مينه د بالكونسكي څېرې ته ځير شو او وې ويل:

-تاسو سردار بالكونسكي ياست؟ ستاسو له پېژندګلوۍ نه خورا خوشاله يم ! زه ډګرمن دينيسوف يم. په پوځ كې مې اندېوالان د وآسكا په نامه يادوي.

هغه تر يوې شېبې چوپتيا وروسته يې په خواخوږۍ وويل:

-هوكې، ما ستاسو د خورا ستر غم په اړه واوريدل او د زړه له كومې خواشيني څرګندوم. دغه راز د سيكوسكي، د جګړې په هكله مې هم اوريدلي دي. دا ټول سم دي، خو نه د هغو كسانو لپاره چې په ناوړو چارو اخته وي. ښه، ښه نو تاسو سردار بالكونسكي ياستئ؟ سر يې وښوراوه او په يو غم لړلې موسكا يې بيا د هغه لاس كېښكود او زياته يې كړه:

-ډېر ډېر خوشاله يم، ستاسو له پېژندګلوۍ نه خورا ډېر خوشاله يم.

سردار اندرې، دينيسوف د هغې د خور ناتاشا، د ستاينو له مخې، پېژاند. دينيسوف د هغې د خور لومړی غوښتونكی و. دغه يادونه خواږه، خو هممهاله هغه زورونكي او ترخه يادونه چې څو موده د مخه يې دده ذهن په ځان اخته كړی و، خو اوس يې په ګوګل كې ويده و، بېرته راژوندوي كړل. او په دې وروستيو وختونو كې نورو ډېرو پېښو، لكه د روسي پوځونو له خوا د ښمن ته د سمولينسك پرېښودل، د ورانې ويجاړې ليسه ګورې ليدل او د پلار د مرګ خبر هغه داسې مات كړی و، چې نور نو ډېره موده كېدله چې دغه شان يادونه د هغه په ذهن كې نه راوېښېدل او كه راوېښېدل هم، د هغه پر ذهن يې هومره اغېز نه كاوه.. داندرې په ليدو دينيسوف ته هغه خاطرې وريادېدې، چې خورا لرې او د هغه د شاعرانه زمانو وې. هغه خاطرې چې يو ماښام يې د ناتاشا د دغږ په اورېدو داسې ځان هېر كړی و چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلس کلنې نجلۍ نه يې د واده غوښتنه کړې وه، د هغه لرې زمانې خاطرې او له ناتاشې سره يې خپله مينه هېره کړه او سمدلاسه هغو خبرو ته راغی، چې اوس دده خيالونه او فکر پرې اخته و. دا د جگړې خبرې وې. دا د جگړې هغه نقشه وه چې دده د لومړۍ کرښې د خدمت او د پوځونو د شاته تګ په وخت کې جوړه کړې وه. دا نقشه دده بارکلي دوتولي ته ښودلې وه، او اوس يې هيله لرله چې هغه کوتوزوف ته وروښيي. دا نقشه په دې ولاړه وه چې د فرانسويانو د جبهې د پراخوالي له امله، له هغو سره د مخامخ کېدو يا د هغو د مخې نيولو پر ځای به ښه دا وي چې د هغو د پوځ د بيلابيلو ډلو تر منځ بايد اړيکي پرې شي. هغه د خپلې همدې نقشې په اړه سردار اندرې ته خبرې پيل کړې.. هغه د غلچکي ګزارونو (پارتيزني) په جگړې ټينګار کاوه.

-هغوی نه شي کولای ددې پراخې جبهې ساتنه وکړي. دا له توانه لرې خبره ده، زه وعده کوم چې د هغو ټول اړيکي پرې کړم. پنځه سوه تنه راکړئ، يوازې پنځه سوه تنه. زه پوره ډاډ لرم، تالاوالا به يې کړم، هوکې يوه خبره ده او هغه د غلچکي ګوزارونو جگړه ده..

دينيسوف پاڅېد او د لاسونو، سر او ځان په خوځېدا يې خپلې نقشې بالکونسکي ته ښودلې. دوی په خپلو مرکو لګيا ،وو چې.. د پوځيانو مارش او د ترانو غږ، د پريټ د ځای له خوا واوريدل شو.

په دروازه کې ولاړ ځوان غږ وکړ:

- دی خپله دی، را روان دی.

بالکونسکي او دينيسوف پاڅېدل او د دروازې خوا ته چې يو شمېر ساتونکي په يوه کرښه کې هلته په خورا درناوي ولاړ وو، ورنږدې شول. هغوی وليدل چې کوتوزوف پر برګ آس سپور، دا سې آس چې منځنی. ونه يې لرله، را روان دی. يو شمېر زياتو جنرالانو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدرګه کاوه. بارکلي دوتولي له هغه سره ځنګ پر ځنګ روان و. يو ډله افسرانو يې شاو خوا ته منډې وهلې او د ژوندی دې وي، چغې يې وهلې. يو شمېر ياوران د هغه نه مخکې انګړ ته رانښوتل. کوتوزوف په خورا آرامۍ پر خپل آس سپور و، د هغه له درندوالی نه د آس تګ لا پسې کرار شوی و. خپل آس به يې کله په خپله وسپنيزه پونده وواهه، پرله پسې يې د سلام په نښه سر ښوراوه او خپل لاس به يې په سر د سواره پوځ سپينې خولۍ ته ورپورته کاوه، خو همدا چې د ځوانو زړورو، سورو ګريناداړو پوځيانو ګارډ ته ورورسېد، ګارد درناوی وکړ، دی يو شېبه چپ پاتې شو، د قوماندان په څېر ځيرو ږمه غلچک هغو ته ځير شو، ښه يې وکتل او مخ يې هغو ګڼ شمېر جنرالانو او افسرانو ته وروا ړاوه چې دده شاوخوا ته تاو شوي وو، د څېرې حالت يې ناڅاپه بدل او ښکلې شوه، اوږې يې پورته واچولې او په حيرانۍ يې وويل:

-له دغه شان زلميانو سره بيا شاته لاړو او بيا شاته لاړو او شاته لاړو !او تر يوې شېبې چوپتيا نه وروسته يې زياته کړه:

-د خدای په امان جنراله !

خپل آس يې وخوځاوه او د هغې دروازې له ځنګه چې سرداراندرې او دينيسوف ولاړ و، تېر او انګړ ته ورننوت.

د هغه پسې غږونه پورته شول:

- هورا !هورا !هورا !

له هغه وخته چې اندرې، کوتوزوف نه و ليدلی، هغه لا پسې څورب شوی او څه وازدې يې زياتې شوې وې، خو د هغه د سترګو وچې کاسې، د شقيقو حالت، د بشرې هميشنۍ ستوماني، چې سرداراندرې لپاره ښه اشنا وو، هېڅ بدل شوي نه وو. دريشي يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان او يوه نرۍ ښکلې متروکه يې پر اوږې ځړولې وه. څورب او درونډ، سپور، متې متې له خپل ښکلي او زغم لرونکي آس سره انګړ ته رانتوت.

د هغه آرام غږ لرونکی غږ متې اوريدل کېده، په څېره کې يې د هغه چا حالت ښکاره و چې د پرېوت له ستومانه کوونکو تشريفاتو نه وروسته، مخکې له مخکې د هوسايۍ په هيله خوشاله وي. خپله چپه پښه يې له رکابه راووېسته او خپل ټول ځان يې پر زين وچورلوه. له دغه کړاوه د پيدا شوې ستونزې نه يې پر ځنګانه زور واچاوه، پښه يې له زين نه راوا ړوله او په يوه زګيروي يې ځان د قزاقانو او بدرګه کوونکو ياورانو لاسو ته چې دی يې نيولی و، وروسپاره.

ځان يې نيغ کړ، سترګې يې برندې او شا وخوا يې وکتل، سردارانډرې يې وليد، له ورايه ښکاره وه چې هغه يې ونه پېژاند. په درنو درنو ګامونو د زينو خوا ته لاړ، په کراره او آرامه يې شکيلې يې واهه او بيا يې هغه ته وکتل، د سردارانډرې د څېرې ياد، نه سمدلاسه، بلکې څو شېبې وروسته (هغه شان چې د عمر خوړو کسانو له منګ سره برابر وي) دهغه په ذهن کې راژوندی شو، مخ يې وروا ړاوه او په داسې يو غږ چې ستوماني په کې څرګنده وه، هغه ته وويل:

-اها ! دا ته يې؟ سلام سرداره ! سلام ګرانه ! درځه چې ځو !

او په درنو درنو ګامونو پر هغو زينو چې دده تر پښو لاندې يې شغهاري کاوه، مخ پورته لاړ. خپلې تنۍ يې خلاصې کړې او پر هغې څوکۍ ګوتې کېناسته چې پر هغه ايښې وه.

-ښه پلار دې څنګه دی؟

سردارانډرې په لنډه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرون شپه يې د مرګ خبر راورسېد.

کوتوزوف له ډاره په ډکو او سره بېرته شو يو سترګو، سرداراندرې ته وکتل، خولې يې پورته کړه، پر ځان يې صليب وويست او بيا يې وويل:

-خدای دې جنتونه ځای کړي، دا د خدای اراده ده، پر موږ ټولو راتلونکې ده.

هغه په ټول قوت سره يوه ژوره ساه وويسته او چپ شو. هغه ما ته ګران و، ما د هغه درناوی لاره او د زړه له کومې تا ته خواشيني ښکاره کوم. هغه له سرداراندرې نه غېږ تاو کړه، هغه يې په خپلې ښورب ټټر کېښکود او تر ډېرو پورې يې هغه هم داسې کلک غېږ کې نيولی و. کله چې يې هغه پرېښود، سرداراندرې وليدل چې د کوتوزوف له واکه وتلې شونډې رېږدي او سترګې يې له اوښکو ډکې شوې دي، هغه ژوره ساه وويسته، دواړه لاسونه يې پر څوکۍ ددې لپاره تکيه کړل، چې پاڅي.

کوتوزوف وويل:

- ښه ده، درځه درځه چې ځو، بايد خبرې وکړو، خو په دې وخت کې دينيسوف په هماغه زړورتيا چې د دښمن په وړاندې يې لرله، پرته له هغه چې له ستر قوماندان نه حيا وکړي. پرته له هغه چې د زينو په پيل کې ولاړو ياورانو چغو ته پام وکړي او هغه يې وړاندې تګ ته نه پرېښود، په سپين سترګۍ او ټينګو ګامونو، داسې ټينګو چې د وسپنيزو پوندو غږ يې د زينو په سر انګازې جوړې کړې وې، برنډې ته راوخوت. کوتوزوف لاسونه پر څوکۍ کېښودل او په ناخوښۍ يې دينيسوف ته کتل. دينيسوف ځان ورو پېژاند او وې ويل چې د والاحضرت ستر قوماندان لپاره داسې يو خبر لري، چې د هېواد د ژغورنې لپاره خورا مهم دی. کوتوزوف له ستومانۍ نه په ډک غلچک

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته وکتل او په داسې يوې خوځېدا چې د خواشينۍ څرګندونه يې کوله. لاسونه يې له څوکۍ راپورته، سر پر سر يې په ګېډې کېښودل او د دينيسوف خبره يې تکرار کړه:

-د هېواد د ژغونې لپاره؟ ښه وايه، څنګه او څه خبره ده؟

د دينيسوف بشره لکه د يوې پېغلې د بشرې په څېر تکه سره شوه، (پر هغې بريتورې، پخې او تل مستې څېرې، دغه سوروالى خورا عجيبه برېښېده) هغه په ډېرې زړورتيا د سمولينسک او ويازما د ښارونو تر منځ د ځايونو او حالتو په اړه کوتوزوف ته خبرې کولې، دينيسوف په دې سيمو کې ژوند کړی و او له هغو سره يې ښه آشنايي لرله. د هغه نقشې، د هغه د ډاډ او عقيدې له مخې چې هغه درلودې، خورا ښې او پر ځای برېښېدې. کوتوزوف خپلو پښو ته ځير او کله ناکله به يې د ګاونډ د کور انګړ ته داسې وروکتل، چې ګواکې له هغې خوا کومې بدې پېښې ته سترګه په لاره دی. په رښتيا هم هغه وخت چې دينيسوف غږېده، يو څوک چې يو بکس يې تر تخرګ لاندې نيولی و، له هغه ځايه راووت.

کوتوزوف د دينيسوف د خبرو په منځ کې هغه ته وويل:

-څنګه؟ دې کار ته چمتو يې؟

يو جنرال ځواب ورکړ:

-هو کې ! والاحضرته ! چمتو يم ! کوتوزوف سر وښوراوه او په زړه کې يې وويل: څنګه کېدای شي يو تن دغه چاره ترسره کړي او بيا دينيسوف ته غوږ شو.

دينيسوف وويل:

- د رښتيني روس پوځي په څېر قسم خورم چې د ناپليون اړيکي له پوځ سره تالا والا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتوزوف د هغه خبرې پرې کړه او وې پوښتل:
-دغه کیریل اندریوویچ دینیسوف ستاسو څه کېږي؟
-والا حضرته ! هغه زما تره دی.
کوتوزوف په خوښۍ وویل:
-هغه زما ملګری و، ښه دی، ښه دی، ته به همدلته په قوماندانۍ کې پاتې شئ، بیا به سبا ته سره وګورو. هغه د خدای په امانۍ په ښه سر وښوراوه، مخ یې واړاوه او لاس یې هغه کاغذ ته وراوږد کړ چې کانونیڅین راوړی و.
د امنیت د ساتنې جنرال په ناخوښۍ آواز وویل:
-والاحضرت به مهرباني ونه کړي، چې دفتر ته لاړ شي؟ باید هلته نقشې وګوري او ځینې لیکونه لاسلیک کړي. یو یاور راووت او خبر یې ورکړ چې هر څه په کوټه کې چمتو دي. خوداسې برېښېده چې کوتوزوف غوښتل لومړي هر څه خلاص او بیا کوټې ته ورننوزي.
کوتوزوف تندی تریو کړ او وې ویل:
-نه، ګرانه ! چا ته وواېه چې یو میز دلته راوړي، هر څه به دلته وګورم. بیا یې سرداراندرې ته مخ ورواړاوه او زیاته یې کړه. څه چېرې ته لاړ نه شئ ! سرداراندرې همالته په برنډې کې پاتې شو او د امنیت د ساتنې جنرال ته یې غوږ نیولی و.
د امنیت د جنرال د خبرو په وخت کې سرداراندرې څو ځله یو ښځینه غږ او د ورېښمینو کالیو شغهاری د وره له شا نه واورید. څو ځله یې هغې خوا ته وکتل، هلته یې یو څورب، سره سپینه ښکلې ښځه چې ګلابي کمیس او د ورېښمینو ځیګري ټیکری یې پر سر و، ولیده، هغې چې یو قاب په منګلو کې نیولی و، داسې برېښېده چې د دروازې تر شا د کوتوزوف راتګ ته سترګې په لاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتوزوف يو ياور په خورا ټيټ غږ، سرداراندرې ته وويل:
-دا ښځه کشيشه او د کوتوزوف کوربنه ده، هغه غواړي په مالګې او ډوډۍ د والاحضرت هرکلی وکړي. مېړه يې په کليسا کې د صليب په ښورولو او دا په کور کې د مالګې او ډوډۍ په وړاندې کولو د هغه هرکلی کوي. بيا ياور په خندا وويل:
- خورا ښکلې ښځه ده !
کوتوزوف ددې خبرې په اوريدو مخ واړاوه،د جنرال ګزارش ته (چې د هغه اصله موخه د ټولواک زايميشيچ غندنه وه) يې هماغه شان غوږ نيولی و، لکه څو شېبې مخکې يې چې دينيسوف او اوه کاله مخکې يې په آستروليخ کې د جګړې جرګه ګۍ ته غوږ نيولی و. هغه يوازې له دې کبله د ويناوالو ويناو ته غوږ نيوه چې اوريدونکی غوږونه لري، که څه هم په يوه غوږ کې يې سمندري ريښکۍ ايښې وه. خو هغه اړ و چې واوري. دا سې برېښېده چې هر هغه څه چې جنرال وايي نه يوازې د هغه د تعجب وړ نه دی، بلکې دی له پخوا نه په هغو خبر هم دی. هر هغه څه چې دينيسوف ويلي و، ځيرکانه او عاقلانه او هر هغه څه چې جنرال ويلي و تر هغه هم خورا ځيرکانه او خورا عاقلانه و، خو دا له ورايه ښکاريده چې کوتوزوف نه د خبرو منځپانګې او نه د ويناوال ځيرکتيا او پوهې، يوه ته هم پاملرنه نه کوله، هغه دغه دواړو ځانګړتيا غوره نه ګڼلې،ځکه هغه د پېښو د آوارۍ لپاره يو بل څه ته ډېره پاملرنه کوله او هغه، هغه څه دی چې عقل او ځيرکتيا سره يې هېڅ اړه نه لرله. سرداراندرې په خورا پام د ستر قوماندان څېره څارله او هغه يوازيني څه يې چې د هغه په بشره کې ليدل هغه غم او هغه په زړه پورتيا او ځېرکتيا وه چې د دروازې شاته د ولاړې ښځې د کاليو له شغهارې سره يې لرله او دده پاملرنه چې په کړو وړو کې يې له ټولو سره کوله. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ښکاره وه چې کوتوزوف د دينيسوف ځيرکتيا او آن هېواد پالنې ته په بې پروايۍ کتل، خو دا له دې کبله نه وه چې د هغه دغه ځانګړتياوې يې د خپلو کړو په انډول، بې ارزښته ګڼلې (ځکه هغه هېڅکله د خپلې پوهې، ځيرکتيا او هېواد پالنې ښودنه نه کوله) بلکې د هغه دې بې پروايۍ بل دليل درلود. هغه ته دا ټول دده د زيات عمر او د پاخه عمر د تجربو د زياتوالي له کبله و، د خپل جنرال تر خبرو وروسته، د هغه يوازينۍ سپارښتنه د روسي سرتېرو د داړمارۍ په هکله وه. جنرال د خپلو خبرو په پای کې په خپل لاسليک کوتوزوف ته داسې وړانديز کړی و، چې هغو سرتېرو ته جزا ورکړ شي چې د يو سړي لخوا عرض او دعوا پرې شوې وه. دا عرض دده لپاره و، چې د هغه نارسېدلۍ اوربشې روسي پوځيانو ريبلې دي او په دې کار کې روسي پوځيان ملامت دي.

کوتوزوف شونډه په غاښ کړه، سر يې وښوراوه او په دې اړه يې ټولې خبرې واورېدې او وې ويل:

-دا وړانديز دې بخارۍ کې اورته واچاوه، يو وار خو د تل لپاره درته وايم، ښه غوږ شه، دا وروستی ځل دی، بايد تل دغه شان شکايتونه اور ته وارتېرې. د ټولو دغو شان پاڼو ځای اور دی. پرېږده چې څومره غنم او اوربشې ريبي و دې ريبي، لرګي غوځوي،غوځوي دې، سوځي يې، سوځي دې. زه نه غواړم چې هغوی داړې جوړې کړي، خو دا اجازه هم نه ورکوم چې څوک پوځيانو ته جزا ورکړي، جګړه، جګړه ده، چاره څه ده؟ څوک چې اور بلوي، سپخنکې هم الوزي او دلوګي زغم هم بايد ولري.

يو ځل بيا يې خپلې مخې ته، ايښودل شوي کاغذ ته وکتل، سر يې وښوراوه او وې ويل:

-آه !آه !د المانينو ځيرکتيا !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

کوتوزوف چې وروستۍ پاڼه لاسلیک کړه، وې ویل:
-نو، اوس ترې خلاص شو.
په خورا سختۍ پاڅېد، خپله ځوربه سپینه ګونځې ګونځې غاړه یې هسکه کړه، په ورین تندي او خوشاله بڼه د وره پلو ته وخوځېد.
کشیشې ښځې چې څېره یې تکه سره شوې وه، په تلوار قاب رااخېست او د ټول پخواني چمتووالي سره سره یې ونه شو کولای په هماغه شېبه کې چې ستر قوماندان رانوزي، د هغه مخې ته ونیسي، بیا یې هم بې سارې درناوی وکړ او قاب یې د کوتوزوف مخې ته ونیو.
د کوتوزوف باڼه سره ورغلل او په موسکا موسکا یې د هغې ښځې زنې ته لاس وروړ او وې ویل:
-واه واه، څومره ښکلې ده! ګرانې ډېره مننه!
هغه د پطلانه له جیبه، د سرو زرو څو خښتې رااوویستې او د هغې ښځې په قاب کې یې ورکېښودې.
کوتوزوف د هغې کوټې خواته چې ورته جوړه شوې وه، وخوځېد او وې ویل:
- ښه نو، ژوند دې څنګه دی؟
کشیشه ښځه چې خوږې موسکا یې پر سروشو یو اننګو کې غوچولې جوړې کړې وو، ده پسې سمدلاسه راننوته. د کوتوزوف یاور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردارانديرې پسې چې لا په برنډه کې ناست و، راغی او هغه يې سهارني چای ته ورو باله. نيم ساعت وروسته سردارانديرې بيا کوتوزوف ته وروبلل شو. کوتوزوف هماغه شان خلاصې تنۍ پر څوکۍ ډډه لګولې وه، يو فرانسوي کتاب يې په لاس کې و، همدا چې سردارانديرې کوټې ته راننوت، يو چاکو يې دننبې په توګه په کتاب کې کېښود، هغه يې وتاړه او پر ميز يې کېښود. سردارانديرې د کتاب نوم ولوست. هغه د مېرمن ژنليس د (هيلېو شهسواران) نوی رومان و.

کوتوزوف وويل:

-کينه ! دلته کينه ! راځه چې د زړه خواله وکړو. د خواشينۍ وړ ده، ډېره د خواشينۍ وړ ده، خو ته بايد په ياد ولرئ، ګرانه ! داسې يې وګڼه چې زه دې پلار يم، يو بل پلار.

سردارانديرې، په هر هغه څه چې د پلار او د هغه د مرګ په اړه، دد ليسه ګورې او له هغه ځايه د تېريدو په وخت کې د هغه د سيمې په اړه پوهېده، ټول او ټول کوتوزوف ته وويل.

کوتوزوف چې ګواکې د سردارانديرې له خبرو نه د روسيې حالت ځانته څرګند کړی و، له ګڼبې نه په ډک آواز وويل:

-ته ګوره، ښه وګوره ! چې ژوند مو دوی څنګه کړ؟

خبره يې لا پسې وخوځېده او تکه سره شوه.

-وخت، وخت راکړئ، وخت راکړئ !

داسې بربښېده چې نور هغه نه غوښتل، دغو خواشينو خبرو ته دوام ورکړي، نو وې ويل:

-ما ته ددې لپاره راغوښتی يې، چې ماله سره دلته پاتې شې.

سردارانديرې په داسې يوه موسکا چې له کوتوزوف نه يې پټولی نه شوه، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ستاسو والاحضرت له مهربانۍ نه مننه کوم، خو زه په دې ډاریږم چې نور به زه د قوماندانۍ په درد ونه خورم.

کوتوزوف په سترګو کې له هغه وپوښتل.

سرداراندرې ځواب ورکړ:

-خو تر هغه لا غوره دا ده چې ما په غونډ کې، له خدمت سره عادت کړی دی، افسران راته ګران دي، او داسې انګېرم چې زه هم خپلو سرتېرو او افسرانو ته ګران یم. زه به ډېر خواشینی شم که خپل غونډ پرېږدم. که ستاسو د خدمت له ویاړه تېرېږم، علت یې دا دی..

ځیرمنې، مهربانې او هم مهاله له ملنډو سره مل یې موسکا د کوتوزوف څېره روښانه کړه، کوتوزوف د بالکونسکي خبره پرې کړه او وې ویل:

-بښنه غواړم، ته به زما ډېر په کار وای، خو ته برحق یې، برحق یې، د ښو کسانو ځای ستره قوماندانې نه ده. مشاوران تل ډېر دي، خو په پوځ کې د خدمت کسان خورا لږ دي. که دغو ټولو مشاورینو په پوځ کې لکه د تا په شان خدمت کولای، زموږ پوځ به دغه حالت ته نه وای رسېدلای. ما ته خو ته د اوسترلیڅ (پخوانی جبهه) له وختونو یاد یې، ښه مې یاد یږئ، یاد یږئ مې، یاد یږئ مې چې لویدلې جنډه دې پورته کړه او مخکې لاړې.

د کوتوزوف له خوا ددغو یادونو رایادول، د سرداراندرې څېره له خوښۍ نه تکه سره کړه.

کوتوزوف سرداراندرې له لاسه راونیو. خپل غومبوری یې وروړاندې کړ او سرداراندرې بیا ددغه بوډا په سترګو کې اوښکې ولیدې. که څه هم سرداراندرې په دې پوهېده چې کوتوزوف ډېر زړه خوږی او اوښکې یې ژر راتوییږي او دده د پلار د مړینې له امله، له ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ډېره خوا خوږي ښيي، خو بيا هم هغه په دې ډېر خوشاله شو او وياړېده چې د اوسترليخ په جګړه کې دده مېړانه د هغه په ياد ده. کوتوزوف هغه ته وويل:

-ځه !پر خپله لاره ځه، خدای دې مل شه !زه پوهېږم ستا لاره د وياړ او غرور لاره ده. هغه يوه شېبه چپ پاتې شو او زياته يې کړه:

-په بخارست کې چې وم، ځو ځله مې ياد کړې، ته مې يوه ماموريت ته په کار وې. وروسته يې بيا د خبرې د بدلولو لپاره د عثماني امپراتورۍ سره جګړه او د روغې خبره رايادو کړه او وې ويل:

-هغه کسان چې ما ملامتوي کم نه دي، هم مې د جګړې له امله او هم مې د روغې له امله غندي، خو دا دواړه په خپل وخت تر سره شول. هم جګړه او هم روغه. کوتوزوف زياته کړه:

-هغه څوک چې د انتظار هنر لري، هغه ته هر څه په خپل خت رارسېږي. او بيا د مشاورينو خبرو ته چې دده پام يې ډېر ځان ته ورګرځولی و، راستون شو، هغه دوام ورکړ:

-او هلته هم د مشاورينو شمېر تر دې ځايه کم نه و، اوف، اوف، توبه، توبه، ددې مشاورينو له لاسه !توبه !که مې ددغو مشاورينو ټولې خبرې اوريدلې وای، اوس به په ترکيه کې وای. روغه به نه وه او جګړې به دوام درلود. ټول غواړي، چې هر څه په تلوار پای ته ورسوي، خو په تلوار کار ځنډېږي. که کامنسکي مړ شوی نه وای، هغه به دې مشاورينو وژلی وای، هغه ددېرش زريز پوځ په مرسته، پر کلا يرغل کاوه، د کلا نيول ګران کار نه دی، ګران کار د جګړې ګټل دي. او د جګړې د ګټلو لپاره يرغل او غلچکی ګوزار په کار نه دی، د جګړې د ګټلو لپاره زغم او وخت په کار دی. کامنسکي د روشچوک لاندې کولو ته پوځ واستاوه، خو ما يوازې دغه دوه (زغم او وخت) ورولېږل، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامنسکي نه مې زیاتې کلاګانې لاندې کړې او ترکان مې دې ته اړ کړل چې د آس غوښه وخوري. هغه سر وښوراوه، خپل ټټر یې وډباوه او په خورا لېوالتیا یې وویل:

-او فرانسویان به هم د خپلو آسونو د غوښې خوړلو ته اړ کړم، ته ډاډه اوسه او زما په خبرو باور وکړه. او بیا یې سترګې له اوښکو ډکې شوې.

سرداراندرې وویل:

-خو له دښمن سره جګړه هم باید هرومرو وشي.

-باید وشي! که ټول دا غواړي بله چاره نه شته، خو ګرانه! تر دغو دوو سرتېرو زغم او وخت نه، نور زورور سرتېري نه شته. دغه دوه سرتېري له هر کړاو سره سیالي کولی شي، خو دا خبره هېڅ مشاور نه اوري او لویه بدمرغي په همدې کې ده. یو یې غواړي بل یې نه غواړي، سړی څه وکړي؟ هغه داسې غږېده چې ګواکې د ځواب اورېدل غواړي، بیا یې وویل:

-ښه، ته څه په کې وایې؟ او د هغه په سترګو کې د ژورې ځیرکتیا او پوهې ځلا وځلېدله، خو سرداراندرې چې ځواب ورنه کړ، ده وویل:

-اوس به زه درته ووایم چې باید څه وشي، څه وشي او زه څه کوم، که په څه کې دې شک پیدا کړ، ګرانه، هغه مه کوه. لږ شېبه چپ شو او بیا یې په ټینګه، خو جلا جلا تورو وویل:

- مه یې کوه.

هغه سرداراندرې ته وویل:

-خو ګوره! دا په یاد لره، چې زه له تا سره د تا په ویر کې د زړه له کومې ګډ یم، دا په یاد لره، چې ستا لپاره زه نه والاحضرت یم، نه شهزاده، نه سردار، نه د پوځونو ستر قوماندان، زه ستا پلار یم. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه ورځ دې څه اړتیا پیدا شوه، مخامخ به ما ته راځئ، د خدای په امان د زړه سره ! هغه بیا له اندرې نه غېږ تاو کړه، هغه یې کښېکود او ښکل کړ. او سردار اندرې لا له کوټې نه وتلی نه و چې کوتوزوف د زغم یو ژور اسویلی وویست او بیا د مېرمن ژنلیس، د هیلیو شهسواران نومي رومان چې نیمګړی یې پرې ایښی و، را واخیست.

سردار اندرې، خپله هم په دې نه پوهېده چې څنګه او له څه داسې پېښ شول، خو دومره پوهېده، چې له کوتوزوف سره تر دغې کتنې وروسته چې دی خپل غونډ ته راستون شو، د جګړې له بهیر او دا چې واک چا ته سپارل شوی دی، آرامه شو. هر څومره به چې د دغه بوډا د ځانګړو ځانګړتیاو په نشته والي پوهېده او لیدل به یې چې ځیرکتیا (یعنې د پېښو ډلبندي او د هغو پایلې) خپل ځای د چارو کرار په کرار څارلې ته پرېښې دی. دی به لا پسې آرامېده او په دې به ډاډمن کېده چې کارونه او چارې به هماغه شان چې ښایي، تر سره کېږي.

سردار اندرې به فکر کاوه:

د هغه په چارو کې به هېڅ شی دده خپله خوښه نه وي، هغه به هېڅ نوښت ونه کړي او هېڅ تکل به ونه لري، خو د ټولو خبرې اوري، د ټولو خیالونه، خیال ته سپاري، هر څه او هر څوک په خپل ځای برابروي، د هېڅ ګټور خیال مخنوی نه کوي او هېڅ زیانمن خیال ته اجازه نه ورکوي. هغه په دې پوهېږي چې دده تر ارادې یو بل قوي او پیاوړی شی شته او هغه د پېښو نه راګرځېدونکی بهیر دی. هغه کولای شي هغه ووینې، کولای شي د هغو په معنا پوه شي، د پایلو اټکل وکړي، کولای شي په دې پېښو کې له ګډون نه ځان وژغوري، په دې پېښو کې د خپلې ارادې سرته رسول ونه غواړي او هغه بلې خوا ته وګماري. او دا تر ټولو غوره ځانګړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرداراندرې له ځانسره دا هم ویل:

-ولې پر هغه باور کېږئ؟ دا له دې کبله چې هغه روس دی. سره له هغه چې هغه د فرانسوي میرمنې دوژنلیس رومان لولي، فرانسوي متلونه په خبرو کې کاروي، خو بیا هم کله چې وایي: ته ګوره چې زموږ پر پوځ یې څه راوستل، د هغه غږ رېږدي او کله چې ژبه کوي: او فرانسویان به هم د خپلو آسونو د غوښو خوړو ته اړ کړم، سترګې یې له اوښکو راډکې کېږي.

د همدې احساس پر بنسټ څه لږ اوزیات په تته بڼه، د ټولو د احساساتو، د ولسي یووالي او پیرزوینې له مخې، د دربار د مخالفت سره سره، کوتوزوف د ټولو پوځونو د سترقوماندان په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

له مسکوه د ټولواک، تر راستنېدو وروسته، د مسکویانو ژوند خپل پخوانی داسې دود یزې بڼې ته ورستون چې په هغو کې د څو ورځو مخکې هېواد پالنې او لوړ روح د پیدا ېښت تصور هم ګران و. هغو ته دا په رښتیا ګرانه وه دا ومني، چې روسیه په رښتیا له ګواښ سره مخامخ او د انګلیسي کلوپ غړي هم د دې هېواد زامن دي او د هغې(روسیې) په ویاړ هر ډول سرښندنې لپاره چمتو دي. هغه څه چې په مسکو کې د ټولواک د استوګنې په وخت کې د ټولو هېواد پالنه رایادوله، هغه له ټولو نه د سرښندنې (د سړو او پیسو ملاتړ) غوښتنه وه، چې متې د ټولواک د یادولو سره یې رسمي، قانوني او سرته رسېدونکې بڼه پیدا کړه.

مسکو ته د دښمن د لا رانېږدې کېدو له امله، د خلکو روحیه لا پیاوړې نه شوه بلکې برعکس، لکه هغه شان چې د ګواښ لاندې خلکو حالت وي، هغوی لا پسې بې پروا شول. د ګواښ په رانېږدې کېدو، هم مهاله او په یوه کچه دوه غږه په انساني روح کې انګازې کوي. یو غږ، غږ کوي چې باید د ګواښ کچه اټکل شي، وپېژندل شي او له هغه نه د ژغورنې تکل وشي، هغه دویم یې چې تر لومړني هغه لا پسې معقول دی، وایي چې، د ګواښ په اړه فکر کول خورا ګران او عذابوونکی او د ګواښ د رامنځ ته کولو د سببونو او له هغو د ژغورنې د لاروچارو لټول، له انساني توانه لوړه ده، نو ځکه ښه به دا وي چې له دغه عذابه مخ واړول شي او د هغه تر تېرېدو پورې، د کوم ښه او ښکلي څه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپه اړه فکر وشي. انسان په يوازيتوب کې زياتره وخت لومړي غبرګ ته غوږ دی او په ټولنيزو خوځېدا وو کې، دويم هغه غبرګ اوري. د مسکويانو ژوند هم اوس همدا سې و. هېڅکله د هغو ژوند دا سې له خوښيو او مينو ډک نه و، لکه سږ کال چې و.

د راستوپچين، اعلاميې (د هېوادپالنې په اړه ځانګړې پاڼې چې پر سر يې د ښار د ښه خوړنځای او د هغه د خاوند کاريوشکا چيګيرين تصوير خپور شوی و ) او د واسيلي لوديچ پوشکين نظمونه يې لوستل، دغه کاريوشکا چيګيرين د مسکو له کمکيو بډايانو نه و چې په خپله خوښه يې پوځ ته د تګ تکل کړی و، ځان يې په څکلو مست کړی و، خو همدا چې پر مسکو يې د بناپارت د يرغل اوريدلي و، له ډېره قهره لېونی شوی و او فرانسويان يې په دا سې ژبه، په دا سې ښکنځلو کنځل، چې ساري يې نه لاره، هغه له خوړنځی نه د باندې راووتلی او د ګريت، تريو تصوير لاندې چې د پرتم او غرور نښه وه، ولاړ او هلته يې د راټول شويو وګړو لپاره نظمونه لوستل.

د کلوپ غړي د دغې اعلاميې د لوستلو لپاره د کلوپ په يوې کوټې کې راټوليدل او د ځينو دا خوښېدل چې څنګه کاريوشکا، غبرګېده او پر فرانسويانو يې ملنډې وهلې، هغه ويل چې کله فرانسويان روسي کرم وخوري، بادونه پرې کوي، که روسې اش وخوري پړسېږي او روسي سوپ يا شوراو هغوی ټنډ وي. ..

... هغوی ويل چې ټولې دولتي ادارې له مسکوه د باندې لېږدوي او دې خبرې پسې يې د شينشين دا ټوکه زياتوله چې ويلي و:

ددې لپاره چې مسکويان د دولتي ادارو له ستونزو و ژغورل شي، هغوی ټول بايد له ناپليونه مننه وکړي. .. خو ددې خبرو په لړ کې تر ټولو په زړه پورې دا وه چې بيزاو خوف، تکل لري خپله پوځي جامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واغوندي، پر آس سپور شي، تر ټولو مخکې جګړې ته روان شي او د خپل دې کار په بدل کې له چا، کومه پيرزوينه هم ونه غواړي. ژولیه دربتڅکايا، يو ټوکر خپلو ښکلو او له ګناهو نه ډکو منګولو کې مروړلی او ويلي يې و:

-تاسو په هېڅ چا رحم نه کوئ.

ژولي بله ورځ، له مسکوه د وتلو تکل وکړ او په دې ويار يې د خدای په امانۍ لپاره، لويه مېلمستيا جوړه کړه.

هغې ويل:

-بيزاو خوف د خندا وړ دی، خو هغه دومره پاک زړی او دومره مهربانه دی چې پر هغه ملنډې هم خپل خوند لري.

هغه ځوان چې د اربکيو جامې يې اغوستې وې،ژولي هغه د خپل شهسوار ساتونکي په نامه يادوه او بله ورځ له هغه سره د نيژني ښار ته تله،وويل:

-جريمه !ناغه !

د ژولي په بنډارونو کې لکه د مسکو د نورو بنډارونو په شان داسې يو دود و چې يوازې په روسي ژبې به خبرې کېدې او که چا له روسي ژبې پرته په بله ژبه خبرې کولای او يا يې په وينا کې په تېروتنې کومه فرانسوي کلمه راشي، بايد ناغه ورکړي. د دغې ناغې راټولو ته يوه جرګه ګۍ جوړه شوې وه.

د دوی په ډله کې يو ناست روسي مېلمه چې ليکوال و، وويل:

-او يو بله جريمه د فرانسوي ترکيب (خواخوږۍ لرل) د کارونې له امله..

ژولي، پرته له هغه چې د دغه ليکوال خبرو ته پاملرنه وکړي.. په دې وخت کې په ورين تندي پيير ته هرکلی ووايه او د بنډاري ښځو په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په ډېرې سپين سترګۍ زياته کړه:

-همدا اوس مو ستا خبرې کولې، او ويل مو چې ستا غونډه به د مامونتوف تر هغه خورا ښه وي.

پيير چې د کوربنې لاس ښکلول، د هغې تر څنګ کېناست او وې ويل:

-اخ ! زما د غونډه په اړه به خبرې نه کوئ، د هغه په اړه د فکر کولو نه هم بيزاره يم.

ژولي له دوکې او له ملنډو نه په ډک غلچک اربکي ځوان ته وکتل او له پيېره يې وپوښل:

-داسې برېښي چې قوماندانې به يې هم خپله کوي؟

اربکي چې نور نو د پخوا په شان د پيير تر مخې په زړورتيا نه غرېيده، د ژولي موسکا او له ملنډو سره مل غلچک حيران کړی و، نه پوهېده چې څه ووايي، ځکه پيير له خپلې ټولې سادګۍ او بې پروايۍ سره، داسې شخصيت و چې چا نه شو کولای د هغه تر مخې ځانته د ټوکو او ملنډو اجازه ورکړي.

هغه، خپل ځورب او غټ ځان ته يې وکتل، وې خندل او وې ويل:

-په دې غټوالي د فرانسوي ننبه ويشتونکو لپاره، ښه ننښه کېدای شم، له دې نه پرته له دې هم ډارېږم چې پر آس به هم په آسانۍ ورد انګلی نه شم.

ددې او هغه په اړه د خبرو په وخت کې، يو وخت خبرې د رستوف کورنۍ ته ورسېدې، ژولي د هغو په اړه وويل:

-وايي چې کاروبار يې خورا خراب دی، د خپله ګراف هم مزه نه شته، د رزموفسکي کورنۍ غوښتل چې د مسکو په څنډو کې د هغو کور واخلي، خو دا معامله هم همداسې ځنډېږي، ګراف يې بيه لوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو چا وویل:
-نه، نه، داسې برېښي چې نن سبا به دغه معامله جوړه شي، خو په دې ورځو په مسکو کې د څه شي اخېستل، هسې لېونتوب دی.
ژولي وویل:
- ولې؟ تاسو رښتیا فکر کوئ چې مسکو له ګواښ سره مخامخ دی؟
-نو تاسو ولې له مسکو نه وزئ؟
-زه؟ تاسو عجیبې خبرې کوئ !زه ځکه.. زه ځکه ځم او وزم، چې ټول روان دي، زه ژاندارکه یم، نه یو آمازونې سپور.
-ښه، ښه همداسې ده، یو بل زوړ ټوکر هم راته راکړئ.
اربکي خبره بیا د رستوفیانو خواته واړوه او وې ویل:
-که هغوی دغه معامله وکړي، کولای شي خپل پورونه پرې کړي.
ژولي وویل:
-هغه یو زړه پاکی بوډا دی خو مزه یې نه شته.
ژولي له دوکې نه په ډکه موسکا پېیر ته وکتل او وې پوښتل:
-ولې هغه دومره اوږده موده په مسکو کې پاتې شول، هغو خو لا پخوا غوښتل کلي ته لاړ شي، ښکاري ناتاشا هم اوس روغه شوې ده.
پېیروویل:
- هغوی خپل کمکي زوی ته سترګه په لاره دي. هغه د قزاقانو له پوځ سره یو ځای شوی او سپینې کلیسا ته تللی دی. هغه یې اوس زموږ غونډ ته رابدل کړی دی، هره ورځ د هغه راتګ ته سترګه په لاره دي. ګراف لا پخوا غوښتل چې لاړ شي، خو ګرافینې به په هېڅ ډول تر هغه وخته چې زوی یې را نه شي، له مسکو نه ونه وزي.
-ما پرون نه، هماغه بله ورځ د آرفاروف په کور کې هغوی ولیدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا بیا ښکلې او خوشاله بریښېده، یوه ښکلې مینه ناکه سندره یې بلله. په ځېنو خلکو هم ژوند څومره ښه تېرېږي.

پېیر په ناخوښۍ وپوښتل: څه شی تېرېږي؟

ژولي له خندا شنه شوه او وې ویل:

-تاسو پوهېږئ ګرافه! لکه د تاسو په شان مېړنو ځای یوازې د مېرمن سوزا په سندرو کې وي.

پېیر چې تک سور اوښتی و، وپوښتل: کوم مېړني؟ ولې دا سې خبرې کوئ؟

-ښه ده، ګرانه ګرافه! په دې خبره ټول مسکویان پوهېږي، خو په هر حال زه تا ته حیرانه یم.

اربکې وویل:

- جریمه! جریمه!

-ښه ده، دا مه وایه، هغه مه وایه، ډېره د خواشینۍ خبره ده.

پېیر پاڅېد او په خواشینۍ یې وویل:

-ټول مسکویان په څه پوهېږي؟

-ښاغلیه ګرافه! ته خپله ښه پوهېږئ.

پېیر وویل: زه په هېڅ نه پوهېږم.

-زه پوهېږم چې تاسو له ناتالیا سره دوستي لرله او له همدې کبله..

-نه، خو ما ته تل ویرا ګرانه وه، زما مهربانه ویره.

پېیر په هماغه خواشینی غږ دوام ورکړ:

-نه آغلې! ما هېڅکله د پېغلې رستوفې د څارونکي دنده نه لرله، او زه دا یوه میاشت کېږي چې آن د هغو د کور خوا ته هم نه یم ورغلی، خو زه ستاسو په دغه بدنیت نه پوهېږم.

ژولي وموسېده او په خندا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځوک چې ښښنه غواړي، هغه ملامتیږي هم .. هغې خبره بدله کړه او وې ویل: رښتیا خبر یئ؟

هغه خواره شهزادګۍ ماریا پرون ماښام مسکو ته رارسېدلې ده، تاسو اوریدلي، د هغې پلار مړ شوی دی؟

پییر ځواب ورکړ:

- دا څه وایئ؟ نه، چیرې ده؟ زه یې ډېر د لیدلو هیله لرم.

-زه پرون ماښام ورسره وم، هغه نن یا سبا له خپل وراره سره یو ځای د مسکو څنډو ته روانه ده.

پییر وپوښتل:

- ښه، نو هغه څنګه ده؟

-هېڅ، یوازې په ماتم کې ډوبه ده، ګوره ! پوهېږئ هغه چا ژغورلې ده.. دا لوی داستان دی، نیکولای رستوف. هغه یې سره ایساره کړې وه، غوښتل یې چې هغه ووژني، سړیان ټپیان شوي وو، نیکولای د هغې مرستې ته وردانګلي او ژغورلې یې ده.

اربکي وویل:

- ډېر ښه، یو بل داستان، رښتیا، رښتیا دغه ټولیزې ښتې ټول دې ته اړ کړي دي، چې ټولې زړې پېغلې په مېړه شي، لومړی یې کاتیا وه او دا ده دویم یې شهزادګۍ بالکونسکایا !

-تاسو پوهېږئ؟ زه په رښتیا تصور کوم چې شهزادګۍ ماریا، څه لږ لږ په دغه ځوان (نیکولای) مینه شوې وي. (دا وروسته خبره یې په فرانسوي وویله)

اربکي غږ کړل:

-جریمه، جریمه، جریمه

-نو دا به په روسي څنګه وو ایو؟..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

کله چې پيير کور ته راستون شو، هغه ته يې د راستوپچين، د خبرتياوو دوه پاڼې چې په هغه ورځې يې راوړې وې، ورکړې.

دغو خبرتياوو په لومړۍ هغې کې راغلي و چې د ګراف راستوپچين له خوا له مسکوه د وتلو د بنديز آوازې رښتيا نه دي، بلکې برعکس ګراف راستوپچين په دې خوشالېږي چې مېرمنې او د سوداګرو ښځې له مسکو نه ووزي. په خبرتيا کې يادونه شوې وه چې څومره ډار کم وي، په هماغه کچه به آوازې کمې وې، زه په خپل ژوند دا ضمانت کوم چې دجال ته به مسکو ته د ننوتلو اجازه ورنه کړل شي.

دغو خبرو د لومړي ځل لپاره پيير ته دا څرګنده کړه چې فرانسويان به مسکو ته راننوزي، په دويمه خبري پاڼه کې يادونه شوې وه چې زموږ ستره قوماندانۍ په ويازما کې مېشته شوې ده او ګراف ويتګنشتاين، فرانسويانو ته ماته ورکړې ده او دا چې د مسکو زيات او سېدونکي غواړي وسله وال شي، نو ځکه په وسلتونونو کې زيات شمېر تورې، تومانچې او توپک چمتو شوي چې خلک کولای شي، هغه په خورا ارزانه بيه تر لاسه کړي. ددغو خبرتياوو ژبه د هغو پخوانيو د چيګرين د خبرتياو په شان ټوکيزه او له ملنډو ډکه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير ددغو خبرتياوو په اړه فکر کاوه. داسې برېښېده هغه له تالندونه ډک دريځ چې ده يې د زړه له کومې د رارسېدو هيله لرله او هم مهاله يې د هغه په روح کې ډار او وحشت راپاراوه، هو، هغه دريځ رارسېدونکی و.

د سلم وار لپاره يې له ځانه دا پوښتنه وکړه:

-عسکری ته لاړ شم، له پوځ سره يوځای شم او که صبر وکړم؟.

د هغه مخې ته پر ولاړ ميز، پرتې قطعې يې رااخېستې او د فال په ليدو يې پيل وکړ.

هغه چې قطعې ګډولې، لاس کې يې نيولې، پاس يې چت ته کتل، نيت يې کاوه او له ځانسره يې ويل:

-که دا وار همداسې راشي، که راشي، نو څه؟

ده لا خپلو پوښتنو ته ځواب نه و ويلی، که راشي، څه معنا به لري، چې د دروازې له شا نه د مشرې ګرافينې غږ واوريدل شو:

-اجازه ده چې درننوزوو؟

پېير ځان ته وويل:

-که راشي، معنا به يې دا وي چې بايد پوځ ته لاړ شم.

هغه، مشرې ګرافينې ته د ځواب په نښه زياته کړه:

-راځئ! راځئ!

(هغه يوه له خورا مشرو ګرافينو نه وه چې لوړ تټر او د تېرو په څېر بشره يې لرله او لا تر اوسه پورې يې د ګراف په کور کې ژوند کاوه، تر هغې، دروکوچنيو هغو يې واده کړی وه).

په خورا ملامته او له ګښې نه په ډکه ژبه يې وويل:

-وبښئ کاکازويه! وبښئ چې تاسو ته راغلم، بايد يوه پريکړه وکړو، خدای پوهېږي چې څه به پېښېږي! ټول خلک له مسکوه روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ټول یاغي شوي دي، موږ ولې پاتې یو؟

پییر له مشرې ګرافینې سره په خبرو کې له ټوکو نه په ډکه ژبه وویل:

-برعکس د کاکا لورې، هر څه په خیر تېرېږي! په خیر!

ګرافینې په پیغور وویل:

-په خیر، ډېر په خیر! خورا په خیر! نن وارو ارا ایوانو فنا راته وویل چې زموږ پوځونه څنګه له نورو نه تو پیر لري. اوس څرګنده شوه چې ویاړ او مېړانه څه ته وایي! خلک را پاریدلي، چو پړان نور خبره نه اوري، آن زما خپل چوپړ سرغړونه پیل کړې ده او نېږدې ده چې موږ ووهي. په کوڅو کې تګ راتګ ګران شوی دی، او تر ټولو نه لا بده دا چې نن سبا فرانسویان را رسېدونکي دي، نه پوهېږم موږ څه ته سترګه په لاره یو او څه وکړو؟

ګرافینې زیاته کړه:

-د کاکا زویه، زه له تاسو نه یوه هیله لرم، سپارښتنه وکړئ، چې ما پترزبورګ ته ورسوئ. دا دعوا نه لرم چې زه یو څوک یم، خو زه نه شم کولای د بناپارت تر واکمنۍ لاندې ژوند وکړم.

-د کاکا لورې، بس کړئ، بس کړئ، نه پوهېږم دا خبرونه تاسو ته څوک را رسوي؟ هر څه په بل ډول دي، خو..

-زه به ستاسو ناپلیون ته غاړه کینږدم، نور چې هر څه غواړی، غواړی دې، که تاسو نه غواړئ له ما سره دا مرسته وکړئ..

-ولې نه غواړم، سمدلاسه به زه سپارښتنه وکړم..

داسې برېښېده چې د ګرافینې خواشیني له دې کبله وه چې هغه څوک نه لري، چې خپل زړه ورته تش کړي، هغه وبنګېده او بېرته پر څوکۍ کېناسته..

پییر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو ته چا ناسمې خبرې دررسولي دي. په ښار کې کراره کراري او هېڅ ډول ګوانښ نه شته، ما همدا اوس خبرتيا لوستله، او پيېر هغې ته خبرتيا وروښوده او وې ويل:

-ګراف تضمين کوي چې که د ژوند په بيه هم وي، اجازه به ورنه کړي، فرانسويان مسکو ته راننوزي.

ګرافينه په قهر شوه او وې ويل:

-اخ څه وکړم، دا ستاسو ګراف ! هغه دوکه مار او هر څه دده له لاسه دي. ده خپله خلک ياغيتوب ته ولمسول. آيا دا هماغه نه دی، چې په خبرتيا کې يې وليکل، پر هر هغه چا ب چې ګماني شي، له ويښتو به يې راونيسي، پر ځمکه به يې کشکاږي (دا څه حماقت دی) او زندان ته به يې کړي. هر هغه څوک چې دا کار وکړي، هغه به ويارګټي، دا د هغه مينه او هېوادپالنه ده. واروارې ايوانوفنې،وويل چې هغې يو دوه خبرې په فرانسوي کړې وې، نېږدې و چې خلک هغه ووژني. ..

پيېر چې د قطعو پاڼې يې په لاس کې وې، اچول شوې هغه يې راټولې کړې او وې ويل:

-ګوره، داسې نه ده، هر څه ته داسې په سختۍ مه ګورئ !

که څه هم د هغه فال د پوځ تګ ته راووت،خو پيېر پوځ ته لاړ نه شو. هغه له هيلو او ډاره په ډک زړه او هم مهاله د کومې بدې پېښې په تمه، په مسکو کې چې ورځ تر ورځې له خلکو نه تشيده، پاتې شو.

بله ورځ مازديګر ناوخته،مشره ګرافينه پترزبورګ ته لاړه او پيېر ته د هغه د چارو څارونکی راغی او خبر يې ورکړ چې د هغه پوځي غونډ ته د وسلو او مهماتو د اخېستو لپاره دده د يو څه جايدادونو د خرڅولو پرته پيسې پوره کېدای نه شي. د پيېر د اداري چارو مشر دا ګوانښ هم وکړ چې دغه پوځي چارې، د غونډ جوړول او د لښکرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلوال کول به دي ديوالي کړي.

پيير چې په سختۍ کولی شو خپله موسکا پټه کړي، د خپل اداري چارواکي خبرو ته غوږ و او وې ويل:

-ښه ده، بايد همدا سې شي، خرڅ يې کړئ، خپله خبره خو، بېرته اخېستې نه شو.

څومره به چې د پيير چارې، په تېره بيا د هغه مالي چارې خرابېدې، په هماغه اندازه به دی خوشاله برېښېده او په هماغه اندازه دا اټکل کېده هغه بد مرغي چې دی ورته سترګه په لاره دی، رانږدې کېدونکې ده. نور نو د پيير يو خپل يا ملګری په ښار کې پاتې نه و. ژولي لاړه، شهزادګۍ ماريا لاړه، د هغه د آشنايانو له ډلې نه، يوازې رستوفيان په مسکو کې پاتې وو، خو پيير د هغو کور ته نه ورته.

په دغه ورځ پيير د ورنڅوف کلي ته لاړ چې پام بدل کړي او د هغې لويې هوايي پوقانې ننداره وکړي چې ليپخ، د دښمن د وژلو لپاره جوړ او ه. د دغې پوقانې آزمايښتي بېړه سبا هوا ته لېږل کېدله. دغه پوقانه لا جوړه شوې نه وه، خو پيير په دې خبر شوی و، چې هغه د ټولواک په خوښه جوړېږي. ټولواک راستوپچين ته د دغې پوقانې په اړه ليکلي و:

((همدا چې ليپخ چمتو شو، يو ډله ځير او د ډاډ وړ خلک د دغې پوقانې يا بالن د سورلۍ لپاره وټاکۍ. د کوتوزوف د خبرتيا لپاره به هم يو استازی ورولېږئ. ما په دې اړه هغه لا د مخه خبر کړی دی. هيله کوم چې ليپخ ته سپارښتنه وشي چې د هغه ځای په ټاکنه کې خورا ځيرک او محتاط اوسي چې د لومړي ځل لپاره هلته راکوزېږي. نه بايد تېروتنه وشي او د دښمن منګولو ته ونه لوېږي، ده ته ښايي چې خپل بهير او خوځېدا د ستر قوماندان له بهير او خوځېدا سره برابر کړي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورنځوف له کلي نه د راستنېدو په وخت کې، کله چې د بالوتنوی له ډګر نه تېرید ،وې لیدل، چې یوه ډله خلک د پانسۍ د سیمې سره راټول دي. له خپلې ګاډۍ نه کوز شو. ده ولیدل چې فرانسوي آشپز یې د جاسوسۍ په تور په متروکو واهه. وهل هماغه شېبه پای ته رسېدلي و، جلاد ، یو ځورب، پیاوړی سړی چې خرمایي ږیره یې لرله، آسماني جورابې یې په پښو ،شین وآسکت یې په ځان او سخت زګیروي کول، د وهلو له تختې نه راخلاص شوی، یو بل ډنګر او رنګ الوتی جاني هم همالته ولاړ و. له بشرو یې څرګندیدل چې دواړه فرانسویان دي. پېیر په ډارن او رنځېدلي حالت چې د هغه ډنګر او رنځور فرانسوي حالت ته ورته و، په ګڼه ګوڼه کې خلک دا خوا ،هغه خوا پورې وهل، وړاندې لاړ او وې پوښتل:

-څه شوي دي؟ څوک دي؟ ولې؟ خو د ټولو خلکو، مامورینو، سوداګرو، کلیوالو بزګرو یا پوستین پرغاړه ښځو پام داسې د وهلو ځای ته وراوښتی و، چې چا ،د هغه ځواب هم ورنه کړ. هغه ځورب فرانسوي پاڅېد ، تندی یې تریو او اوږې یې ددې لپاره پورته واچولې،چې وښيي په خپل تکل کې ټینګ دی، پرته له هغه چې شاوخوا وګوري، د جامو په اغوستو یې پیل وکړ،خو ناڅاپه یې شونډې وربږدېدې،په ځان خپله په قهر شو ،د هغه ژړا د پخو خوني کسانو ژړا ته ورته وه. ګڼه ګوڼې په زوره زوره چغې وهلې او خبرې یې کولې، خو پېیر ته داسې برېښېده چې خلک په دغو چغو نارو کې، د خپلې خواخوږۍ احساس آرامه وي.

یو تن وویل:

-دا د یو شهزاده آشپز دی.

یو ګونځ مخی منشي چې د پېیر ترڅنګ ولاړ و ،د فرانسوي د ژړا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدو يې وويل:

- ښاغلی (په فرانسوي ژبه ښاغلی) داسې بربښي چې روسي سرکه په فرانسوي خوله کې خورا تروشه ده! غاښونه يې پڅوي.

منشي ددې خبرو تر ويلو وروسته، شاوخوا تـه پـه دې هيلـه وکتـل، چې د خپلې ټوکې د ستاينې هيله يې لرلـه، خو چاوخندل او چا پـه ډار جلاد ته چې له بل فرانسوي نه يې جامې وېستلې، کتل.

پيير پزه سوغ وهله، تندی يې تريو کړ او په چټکۍ راستون او ځان يې خپلې ګاډۍ ته ورساوه، پرله پسې بنګېده او له ځانسره يې څه ويـل. د لارې پـه اوږدو کـې څـو واره وريږديـد او داسـې يـې چغـې کړلـې چـې ګاډيوان اړوت ترې وپوښتي:

-څه مو وفرمايل؟

کله چې ګاډۍ د لوبيانکا ډګر ته ورسېده، پيير پر خپل ګاډيوان غـږ کړ:

-چېرې روان يې؟

ګاډيوان ځواب ورکړ:

-تاسو وويل چې سترقوماندان ته ورشم.

پيير چې هېڅکله يې خپل ګاډيوان نه ښکانځه، چغه کړل:

-احمقـه! خـره! مـا درتـه وويـل چـې کورتـه لاړ شـه. ژر ځـه، د کـور خواته، احمقه!

او له ځانسره يې زياته کړه:

-همدا نن بايد وخوځېږم.

پيير ددغه فرانسوي د وهلو او د هغه د ننداري لپاره د راټولې شوې ګڼه ګوڼې په ليدو په غوځه پرېکړه وکړه چې نور نو په مسکو کې پاتې نه شي، په هماغه ورځ بايد پوځ ته لاړ شي. هغـه داسـې انګېرلـه چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې اړه يې يا خپل ګاډيوان ته ويلي دي او يا به هغه خپله دده په دې پرېکړه پوره پوه شوی وي.

همدا چې پيير خپل کور ته ورسېد، خپله په هر څه پوه او د هرې چارې کوونکي ته، ګاډيوان ته، يوستانوويچ ته، چې ټول مسکو هغه پېژانده سپارښتنه وکړه څنګه چې دی په همدې شپه د موژآسيک سيمې ته روان دی چې له پوځ سره يوځای شي، نو ژر تر ژره دده ښه آسونه هم بايد هلته ولېږل شي، خو يوستانوويچ، هغه ته څرګنده کړه چې دا د يوې ورځې کار نه دی او پيير هم دې ته اړوت چې خپل سفر سبا ته وځنډوي، چې آسونه هم په کراره هلته ورسېږي.

د مياشتې په څلورويشتمه نېټه ،ترخورا بدې هوا نه وروسته، آسمان لږ څه شين او لمر رابښکاره شو. پيير هم تر غرمې وروسته له مسکو نه وخوځېد. د پيريخواشکاو په سيمه کې، چې د شپې پيير هلته د ګاډي آسونه بدلول، خبر شو چې په هغه شپه سخته جګړه پېښه شوې ده. پيير خبر شو چې هغه مابنام سخت اخ و ډب پېښ شوی دی، ده ته وويل شول چې آن دلته د پيريخواشکا په سيمه کې هم د ډزو له زوره او ګړزهاري نه ځمکه ريږديدلې وه، خو د پيير دې پوښتنې ته چې جګړه چا ګټلې ده، هېڅ چا ځواب پيدا نه شو کړای. (دا هماغه د څلورويشتمې نېټې جګړه وه چې په شواردينو کې شوې وه) بل ورځ په سپېدو کې پيير موژآسيک ته ورسېد.

د موژآسيک په کور کې، ټول او هره خوا پوځيان مېشت وو. د کور دد برې مخې ته چې آسوان او ګاډيوانان دده هرکلي ته راوتلي و، ټولې کوټې او دالانونه له افسرانو ډک او د پښو ايښودلو ځای هم نه و.

په موژآسيک او د هغه په شاوخوا سيمو کې يا پوځيانو دمه او يا په خوځېدا کې وو. هرې خوا ته به يې چې کتل، يا قزاقان وو يا پلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېري يا سواره، يا ګاډۍ او کراچۍ يا توپونه او يا نور پوځي مهمات. پېير تلوار کاوه چې ژر تر ژره مخکې شي. څومره به چې له مسکو نه لرې کېده او د پوځيانو په دې سيند کې به د ننه ننوت په هماغه اندازه يې په زړه کې ډار او بې پايه خوشالۍ راپاريدلې. دغه احساس، هغه احساس ته ورته و چې د سلاباد سکي مانۍ ته د ټولواک د راتګ په وخت کې ده ته پيدا شوی و. د يوې پرېکړې د کولو او د يوې قربانۍ او سرښندنې د ورکولو احساس. هغه، هغه ښکلی احساس احساساوه چې ټول هغه څه چې خلکو ته نيکمرغي او آرامي راوړي، يعنې شتمنۍ، جايدادونه او آن خپله ژوند ، داسې يو بې معنا شی دی او څومره ښه ده چې دغه له يو بل څه سره پرتله او له يو څه ځار شي. او دا څه شی دی، چې دا ټول ترې ځار شي؟ پېير نه شو کولای ځانته دغه ځواب پيدا کړي، او هڅه يې هم نه کوله چې دا څرګنده کړي له څه شي او له چا نه دا ټوله ښکلا ځار کړي. هغه په دې خيال کې نه و چې ولې او چا لپاره دا ښښه او سرښندنه کوي، بلکې په خپله سرښندنې، په هغه کې د خوښۍ يو نوی احساس راپاراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

د میاشتې په څلورویشتمه په شوادینسکي کې جګړه وشوه. په پنځه ویشتمه نېټه له یوې خوا ، یو ډز هم ونه شو ،خو په شپږویشتمه د بارادینو جګړه پېښه شوه.

په شواردینو او بارادینو کې د جګړې اوربل څنګه او چا وکړ ؟ولې په بارادینو کې جګړه پېښه شوه؟ دغې جګړې نه فرانسویانو او نه روسانو ،دهیڅ چا لپاره هېڅ ډول ارزښت او معنا نه لرله. د دغې جګړه پایله د روسانو لپاره دا وه او باید همداسې وای چې دوی د مسکو لویدو ته نږدې شول (هغه څه ته چې په ژوند کې تر هر څه زیات ترې ویریدل) او د فرانسوي لپاره د دغې جګړې پایله دا و چې هغوی د خپل ټول پوځ تالاوالا کېدو او تباهۍ ته نږدې شول (او دا هغه څه و چې هغه هم په ژوند کې تر هر څه زیات ترې ویریدل) دا پایله لا د مخکې څرګنده وه، خو ناپلیون بیا هم د یرغل او کوتوزوف هم د هغه په وړاندې د دریدو فرمان ورکړی و.

که د پوځونو قوماندانانو ،د عقل او منطق پر بنسټ ولاړې پرېکړې کړې وای، باید ناپلیون ته څرګنده شوې وای، که له دوه زره ورست واټن نه وروسته، جګړې پیل کړي، هغه به هرومرو دده د پوځ د څلورمې برخې وژنه وي او د کوتوزوف لپاره دا څرګنده شوې وه چې په دې جګړه کې به نه یوازې دی د خپلو پوځونو څلورمه برخه، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکو به هم له لاسه ورکړي. سره له دې هم باتجربه، ځیرک او هوښیار کوتوزوف په جګړه کې ګډون وکړ. ناپلیون هم چې نابغه جګړه مار نومول کېده، هم یرغل پیل کړ او خپل ځلورمه برخه پوځ یې وواژه. .. کولای شو ووایو چې هغه داسې انګېرله چې د ویانا په شان، د مسکو پر لاندې کولو سره به هم جګړه ختمه شي، خو د دې خبرې پر ضد ډېر دلایل شته دي. د ناپلیون د تاریخ ډېر لیکونکي، خپله څرګندوي چې ناپلیون د سمولینسک تر نیولو وروسته تکل درلود چې نور وړاندې لاړ نه شي. هغه د خپل پوځ د تیت و پرک کېدو په ګواښ پوهېده او په دې هم پوهېده چې د مسکو لاندې کول به د جګړې پای نه وي. ځکه هغه لا په سمولینسک کې په دې پوه شو چې روسان خپل ښارونه په کوم حال پرېږدي، هغه په دې هم پوه شو، چې د دې د روغې او خبرو یو وړاندیز هم ځواب و نه موند.

کوتوزوف او ناپلیون د برادینو په جګړه کې، دې په دفاع او هغه په یرغل کې، یوه هم په خوښه او هوښیارتیا عمل نه و، کړی. دواړه بې معنا چارې او بې باکې کړې وه، خو تاریخ لیکونکو وروسته له دغه کاره، متې راونغاړلې او په لسګونه دلایل یې راوړل چې دغه دواړه پوځیان نومیالي، ځنګه ځیرک، هوښیار او بې ساري نابغه دي، او د ا څرګنده کړي چې دغه قوماندانان، تر نورو تاریخي پېښو نه د جبر اسیر او له خپلواکۍ او ارادې نه بې برخې دي.

زموږ نیکونو موږ ته خورا ډېرې حماسي افسانې پرېښې دي، داسې افسانې چې هلته د تاریخ ټوله مېړانه او ویاړ د اتلانو پرغاړه دی. او موږ لا تر اوسه دا زغملی او منلی نه شو چې زموږ په انساني زمانه کې، دغه شان تاریخ بې معنا ښکاري.

د بلې پوښتنې یعنې دا چې د بارادینو تر جګړې نه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شواردينو جګړه څنګه پېښه شوه، هم، ځوابونه خورا بشپړ، خو زموږ په ذهن کې ډېر ناسم ځای پر ځای شوي دي.

ټول مورخين په دې اړه داسې ليکي:

((روسي پوځ له سمولينسکه تر شاتګه وروسته، د ښې جګړې لپاره پرله پسې د خورا ښه مورچل د پيدا کولو په لټه کې و، دوی دغه ځای او مورچل په بارادنيو کې پيدا کړ.

روسانو دغه ځای له مسکوه، سمولينسکه ته د تلونکې لارې په کيڼې خوا کې، څه کم له بارادينوا تر اوتيڅا پورې، په هغه ډګر کې چې وروسته جګړه پېښه شوه، پيدا کړ، هلته يې ځان ټينګ او مورچلونه يې جوړ کړل.

د دغه سنګر او مورچل تر مخې ګواکې د دښمن د کړو او خوځېدا د څارنې لپاره د شواردينو د غونډۍ پر سر سنګرونه او څارځايونه جوړ شول. د مياشتې په څلورويشتمه ګواکې ناپليون د دغه مورچل په لومړيو کرښو يرغل پيل، هغه يې لاندې او په شپږويشتمه نېټه يې د روسيې پر ټول پوځ چې په بارادنيو کې ځای پر ځای شوی و او هلته يې د هغو پر جوړو شويو سنګرونو بريد وکړ)).

دا هغه څه دي چې په تاريخونو کې راغلي او په بشپړه توګه رښتيا نه دي. د غه نه رښتياوالی به هر هغه چاته، په آسانۍ څرګند شي، چې پېښو ته لږ ځير شي.

روسانو د ښو سنګرونو د لاندې کولو خيال نه درلود، بلکې برعکس، هغوی د شاته تګ په وخت کې تر بارادنيو، له لا ښه مورچلو نه تېر شوي او په هغو کې نه و پاتې شوي. ځکه لومړی خو کوتوزوف نه غوښتل داسې دريځ او ځای چې دوی نه دی خوښ کړی، هغه غوره کړي يا دا چې لا تراوسه پورې د ولسي خلکو سرښندنې ته پوره اړتيا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل کېده او بله دا چې لا میلارادوویچ له خپلو اربکیو سره رارسېدلی نه و او دزیاتو نورو نایادو شویو دلایلو له امله. دا ښکاره خبره ده چې د بارادنیو نه مخکې ځایو او مورچلو نه غوره او بارادنیو (هغه ځای چې د جګړې لپاره ټاکل شوی و) نه یوازې تر نورو ځایو غوره نه و بلکې د روسیې په امپراتورۍ کې تر بل هر ځایه چې آن که په پټو سترګو دې غوره کړای وای، څه ښه والی نه درلود.

روسانو نه یوازې د بارادنیو د دښتې د چپ واټ د مخامخ کنج لاړې لاندې (یعنې په هغه ځای کې چې جګړه پېښه شوه) مورچلونه او ځان پیاوړی او ټینګ کړي نه و، بلکې د ۱۸۱۲ کال د اګست د میاشتې تر پنځه ویشتمې پورې یې په دې اړه آن فکر هم نه و کړی چې جګړه به دلته پېښېږي. په دې اړه شواهد کم نه دي:

-نه یوازې د میاشتې په ۲۵ مه نېټه دلته کوم مورچل نه و بلکې د میاشتې په ۲۵ مه ددغو مورچلونو جوړول پیل شوي وو او په ۲۶ مه د هغو جوړېدل پای ته ورسېدل. بل شهادت د شواردینو د مورچلونو حالت و، دا مورچلونه د هغه ځای تر مخې چې هلته جګړه پېښه شوه، بې معنا و. دا څرګنده نه وه چې د غه ځایونه ولې تر نورو هغو نه ډېر تقویه شوي وو؟ ولې د ۲۴ مې نېټې د شپې تر نیمایي پورې د د غه ځای د ساتنې لپاره ټول قوتونه هځول شوي وا و د شپږو زرو تنو په شاوخوا کې د هغې په دفاع کې ووژل شول؟ حال دا چې د دښمن د کړو او خوځېدا د ځارنې لپاره، یوه قزاقي ډله هم بس وه. دریېیم دلیل دا چې جګړه په هغه ځای کې پېښه شوه چې د جګړې لپاره یې اټکل نه و شوی او د شواردینو مورچلونه د جګړې لومړې کرښې نه وې، دا چې بارکلي دیتولي او باګراتیون د اګست په ۲۵ مه نېټه د شواردینو د جګړې کینې خوا، لومړې کرښه ګڼلې وه او آن کوتوزوف چې ترجګړې نه وروسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلواریو ګزارش لیکلی و، د شواردینو کینه خوا یې د جګړې لومړې کرښه ګڼلې وه.

... ناپلیون لکه هغه شان چې په تاریخونو کې راغلي دي، د اګست په **۲۴** مه نېټه د والویوو پلو وخوځېد، خو هغه له او تیځا نه نیولې، بیا تر برادنیو پورې د روسي پوځونو کوم مورچل او سنګر ونه لید. (هغه دغه مورچلونه نه شول لیدلی، ځکه هغه نه و)... ځنګه چې زموږ پوځونو د اګست د **۲۴** مې نېټې پر شپه یا ونه شو کولای یا یې نه غوښتل، لویه جګړه پیل کړي، نو ځکه جګړه د **۲۴** مې نېټې په ورځې پیل شوه. د بارادنیو لومړې او خورا لویه جګړه د اګست په **۲۴** مه نېټه پیل شوه، نو ځکه اوس پوځونو هم په دغې او په هغې جګړه کې چې د اګست په **۲۲** مه وشوه، ماته وخوړله.

کله چې د **۲۵**مې نېټې پر سهار شواردینو دفرانسویانو لاس ته ورغله، د جبهې کین اړخ بې ساتنې پاتې شو او موږ دې ته اړوتو، چې له هغه ځایه شاته راووزو او په تلوار سره مو چې هره ځای کېدل، سنګرونه جوړ کړل، خو د اګست پر **۲۲** مه روسي پوځ نه یوازې ټینګ مورچلونه نه لرل، په ورانو ویجاړو سنګرونو کې جنګېدل، بلکې یوه بله ستونزه هم پر دغو نیمګړتیاوو ورزیاته شوه او هغه دا چې روسي قوماندان، د یوه بل ترخه حقیقت نه (یعنې د کین اړخ د مورچلونو له لاسه ورکولو او کینې خواته د ښي اړخ د قوتونو له لېږدولونه) هم خبر نه و... نو ځکه، د بارادنیو جګړه لکه هغه شان چې د روسي قوماندانانو د تېروتنو او نیمګړتیا د پټولو او د خلکو د ویاړونو د کم ښودلو لپاره انځوریزې، نه وه پېښه شوې، دا جګړه دا سې پېښه شوه چې هلته نه مورچل ټاکل شوی و، نه مورچلونه ټینګ شوي وو، نه له دښمنه د کم شمېر پوځیانو د درلودلو له امله، بلکې د شواردینو د مورچلونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

**جــگړه او سوله**

لاس وتو له امله، په آوارو او نه ساتونکي دښته کې، چې نه يې مورچل درلود او نه يې سنګر، د دښـمن د دوبرابـرو زيـاتو پوځونـو پـه وړانـدې پيېښـه شوه. هغه هم په داسې حال کې چې آن د دې تصور هـم نـه کېـده چې زمونږ پوځ دې وکولای شي لـس سـاعته جګړې تـه دوام ورکـړي، بلکې د دې تصـور چـور بـې معنـا و چـې آن زمـونږ پـوځ وکـولای شـي، پـه درې ساعتو جګړه کې تالا ، مات او ونه تښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

پیېر د پنځه ویشتمې نېټې پر سهار له موژآسیکه وخوځېد. له ښاره پر لوړو غونډیو کږه وږه وتونکې لارې، د غونډۍ پر ښۍ خوا د ولاړې کلیسا نه چې زنګونه یې غږېدل او لمانځنه په کې روانه وه، تېر شو. پیېر له ګاډۍ کوز او پلی وخوځېد. هغه پسې یو ډله پوځي سواره او د هغو مخکې د موزیک یو ډله پر غونډۍ ورکوزیدل. هغوی ته مخامخ یو کتار کراچۍ چې د پرون شپې د جګړې ټپیان یې راوړل، پورته روانه وه. کلیوالو کراچیوانو د متروکو په وهلو او د چغو په شروشور، آسونه د واټ له یوې خوا بلې خواته زغلول. کراچۍ چې په هر یوه کې یې درې یا څلور ټپیان ناست یا پراته وو، پر دغه وران ویجاړ واټ کې، پر پرتو شګو او کاڼو کږې وږې مخ ته روانې وې. ټپیان چې خپل ټپونه د زړو ټوکرو په ټوټو تړلې وې، رنګ الوتي، وچې چاودېدلې شونډې، تریو تندي، چې منګولې او لاسونه یې د کراچیو په لاستیو او څوکیو کې ټینګ کړي وو، د ورانې لارې له امله د ټکانونو نه دا خوا آخوا اوښتل. څه کم ټولو، په خورا ځیر او ماشوم وزمه لېوالتیا د پیېر سپینې خولۍ او شنې واسکټ ډوله کرتۍ ته کتل.

د پیېر ګاډیوان د ټپیو وړونکو کراچیو په کراچیوانو په قهر او غضب چغې وهلې، چې د واټ په یوې خوا کې وخوځېږي. هغه سواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د موزيک ډلـه يې مخکې روانـه وه، د پـيـر ګـاډی تـه راوړانـدې شول، د هغـه مخـه يې بنده کړه. پيـر ودريـد او پـه دغـه واټ کې وهـل شوی سنګر د يوال ته تکيه شو.

لمر د غونډۍ د څوکو د مخنوي له امله، لا نه شو کولای پر واټ چې نری سره ورېمه په کې چلېده، لمن نه شوه غوړولی. د پيير لپاره د اګست د سهار هوا ښکلې او زړه راښکوونکې وه. د کليسا د زنګونو آوازونو پر زړه، خورا خوندور اغېز کاوه. د ټپيانو يوه کراچۍ، د لارې پـه خوا کې د پيير تر څنګ خپله کراچۍ ودروله او دغه څورب په تمبدا تمبدا او تلوار له خپلې کراچۍ نه وچورليد يوه تيره يې د کراچۍ تر وروستې ارابې لاندې کښېنوده، او د خپـل ولاړ آس دځـل او يـال پـه سمولو لګيـا شو.

يو بوډا ټپي سرتېری چې يو لاس يې پرغـاړه کې پـروت و، کراچۍ پسې پلی روان و، جوړ لاس يې په کراچۍ کېښـود، پيير تـه يې وکتـل، وې ويل:

-ګوره ! وطنداره ! موږ همدلته ځملوئ او که مسکو ته ځو؟

پيير داسې په خپلو خيالونو کې ډوب و، چې دغـه پوښتنه يې وانـه وريده، کله به يې هغـو سورو تـه چې اوس د ټپيـانو د کراچيو کتـار تـه ورسېدلي وو، کتل، کله به يې هغې کراچۍ ته کتل چې اوس يې دی تـر څنګه ولاړ، دوه ټپيان په کې ناست او يو په کې ويده و.

په کراچۍ کې له ناستو ټپي سرتېرو نه يو تن، چې پر مخ سخت ټپي و، ککره يـې پـه زړو ټکـرو کـې مروړلـې وه او غومبوري يـې داسې پړسېدلي و چې تا به ويل د ماشوم سر دی، پزه او خولـه يې يوې خواتـه کاږه شوي وو، د کليسا پلو يې کتـل او پرځـان يې صليب وېستـه. هغـه بل ټپی زلمی، نوی سرتېری و چې د وښو پـه څېر ژېړې زرينې څڼې يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرلې. مخ يې وچ کلک او لکه د سپوږمۍ هسې تک سپين و. تا به ويل چې يو څاڅکی وينه يې په ځان کې نه شته. هغه په خوږه موسکا پيير ته کتل. دربيم هغه يې پر مخ پروت او بشره يې نه ليدل کېده. د موزيک سپره ډله، د کراچۍ له څنګه تېريده او دغه سندره يې د نڅا په موسيقۍ کې غږوله:

-اخ، سر يې پرې وښانده، ژوند لا پردي وطن کې دی.

د کليسا د سترو زنګونو وسپينيزو انګازو، په شروشور کې د سندرو آواز بل ډول پړواک لاره او د سندرو انګازې يې په خپلو کې ډوبولې. ..

هغه سرتېری چې د کراچۍ تر څنګ ولاړ و، مخ پيير ته ورواړاوه او په خواشينۍ موسکا يې وويل:

-سرتېري څه کوئ، چې نن کليوال اربکي هم لږ نه وو، نن د هيڅ چا پروا نه کوي، ټول ټولوي او ليږي يې. دوی غواړي ټول ملت پر دښمن تباه کړي. لنډه به يې درته ووايم، د ټول مسکو د خلکو په اندازه سرتېري راټول شوي دي، دوی غواړي په يو وار کار پای ته ورسوي.

که څه هم د سرتېري خبرې ناڅرګندې وې، خو بيا هم،د پيير پر هغو سر خلاص شو او د تاييد په نښه يې سر وښوراوه.

کله چې لاره خلاصه شوه، پيير د غونډۍ تر لمنې پورې پلی لاړ، بيا پر آس سپور شو او لاړ. هغه په ګاډۍ کې وخوځېد، د لارې دوو خوا او ته يې په دې هيله کتل، که کوم آشنا څېره وګوري، خو هغه ته ټول نا آشنا کسان په مخه ورتلل. ټول نا اشنا پوځيان، د بېلابېلو پوځونو، هغه ليدل چې ټول د هغه سپينې خولۍ او شنه کوټ ډوله واسکټ ته په حيرانتيا ګوري، مګر دی څوک نه پېژني. کله چې هغه څلور ورسته وړاندې لاړ، لومړنۍ آشنا څېره يې وليده او هغه ته يې مخ ورواړاوه. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آشنا څېره يو مشر طبيب و چې په يوه ګاډۍ کې ناست او ده ته مخامخ راروان و. همدا چې پېير يې وپېژاند، خپل قزاق ته چې د ګاډيوان پر ځای ناست و، وويل چې کيني.

ډاکتر وپوښتل:

- جنابه ګرافه! ښاغليه! دلته څه کوئ؟

-هو! راغلم چې لږ څه ننداره وکړم.

-هو کې، هوکې، د ننداري لپاره هر څه پيدا کېږي.

پېير له ګاډۍ راکوز او له ډاکتر سره يې د زړه خواله پيل کړ، هغه ډاکتر ته وويل چې غواړي په جګړه کې ګډون وکړي.

ډاکتر، بيزاو خوف ته خوښه ورکړه چې مخامخ بايد عاليجناب والاحضرت ستر قوماندان ته ورشي. هغه خپل ځوان ملګري ته وکتل راوکتل او وې ويل:

-په دې ډاګونو او غرورغو کې ګرځېدل او راګرځېدل او له هر څه بې خبره پاتې کېدل څه ګټه لري؟ والاحضرت سترقوماندان خو تا پېژني، تا به په خورا خواخوږۍ ومني. هوکې پلارجانه! همدا کار وکړه او مخامخ هغه ته ورشه. ډاکتر چې ستړی بربښېده، تلوار هم درلود.

پېير وويل:

-تاسو داسې فکر کوئ، ما لا غوښتل چېله تاسو دا پوښتنه هم وکړم چې زموږ پوځونه چېرې پراته دي؟

ډاکتر وويل:

-پوځونه چېرته دي؟ زه هېڅکله له دې نه خبر نه يم. تاسو تاتارينو ته ورشئ، هلته سنګرونه وهي، هلته، هلته د غونډۍ د پاسه ورشئ. له هغه ځايه هر څه له ورايه ښکاري.

-له هغه ځايه هر څه ليدل کېږي؟ که تاسو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ډاکټر د هغه خبره پرې کړه، کراچۍ ته ورننېږدې شو او وې ویل:

-ما کولای شو تاسو هلته بدرګه کړم، ولې خدای ښه پوهېږي چې (لاس یې په دې ښښه چې په چارو کې ډوب دی، ستوني ته یوړ) همدا اوس باید په منډه قوماندان ته ورشم. ګورئ زموږ کارونه څنګه دي؟ تاسو پوهېږئ ګرافه ! سبا ته جګړه ده، په سلو زرو پوځیانو کې تر سلو زرو هغو پورې یې ټپیان ګڼه. موږ آن د شپږو زرو ټپیانو لپاره نه کراچۍ لرو، نه صحرایي کټونه. نه روغتیا پال او نه ډاکټران. دا رښتیا ده چې لس زره کراچۍ لرو، خو نورې هم په کار دي، اوس دې نو زړه خپل، هر څه چې کوئ، هغه کوه یې.

پېیر دغو خیالونو، چې له دغو زرګونو ژوندیو، روغو، ځوانو او زړو خلکو نه، دهغو خلکو له ډلې نه چې په خوښۍ او حیرانۍ یې دده خولۍ ته کتل، شل زره به یې یا وژل کېږي او یا به ټپیان کېږي (هغه کسان دي چې ده ولیدل) سخت حیران کړی و.

هغه په زړه کې ویل:

کېدای شي دغه کسان سبا ته ومري، نو ولې له مرګه پرته د بل څه په اړه فکر کوي؟ او ناڅاپه یې په خیال کې د موژآسیک په غونډیو کې، له ټپیانو نه د ډکو کراچیو تت یادونه، راژوندي او د کلیسا له خوښۍ نه ډکې انګازې، د لمر ځلېدونکې شغلې او د پوځیانو ترانې او سندرې یې پر زړه ورورېدې.

سواره زلمیان جګړې ته ځي، ټپیان په مخه ورځي، خو یوه شېبه هم د هغه څه په اړه فکر نه کوي، چې دوی ته سترګه په لاره دي، ددغو ټپیانو او مړو تر څنګ تېرېږي، په خندا خندا هغو ته سترګه کېښکاږي، د دوی له ډلې نه شل زره تنه به یا وژل کېږي یا به ټپیان کېږي، خو هغوی په حیرانتیا زما خولۍ ته ګوري، د تعجب ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير په همدې خيالونو کې د تاتارينو لارې ته ځان برابر کړ.

د واټ کينې خوا ته د يوه ارباب د کور مخې ته، زياتې بارورونکې کراچۍ او ګاډۍ ولاړې او بې شمېره ساتونکي او ګمارل شوي کسان راټول شوي وو. والاحضرت ستر قوماندان هم همدلته مېشت و، خو کله چې پېير دلته راورسېد، قوماندان هلته نه و، د هغه د قوماندانۍ هېڅوک هلته نه وو. ټول د لمانځنې لپاره کليسا ته تللي وو. پېير مخ وړاندې، د کورګي پلو وخوځېد. د هغه ګاډۍ پر غونډۍ ورپورته شوه، يو واړه کلي ته ورسېده او د لومړي ځل لپاره يې کليوال اربکي وليدل چې سپين کميسونه يې پرغاړه او پر خوليو يې صليبونه انځور شوي و. هغوی د زړه له کومې، په کړس کړس خنديدل او غړېدل. هغوی په خورا لېوالتيا د شنې پراخې غونډۍ د لارې ښۍ خوا ته په کوم کار اخته وو.

چا په بيلونو غونډۍ کې ځمځې وېستې، چا په کراچيو کې د اېستلو شويو ځايونه خاورې وړې او ځېنې هم هسې ببکاره ولاړ وو او هېڅ څه يې نه کول.

دوه تنه افسران پر غونډۍ ولاړ وو، د هغو لارښوونه او څارنه يې کوله. پېير ته ددغو دووافسرانو په ليدو، چې بربښېده له خپل نوي پوځي دريځ نه خوند اخلي، بيا په موژآسيک کې ټپيان وريادشول. دی، د هغه سرتېري په خبره اوس پوه شو چې هلته يې ويلي و. دوی غواړي چې ټول ملت پر دښمن تالاکړي. ددغو رېږورو کليوالو ننداري چې د جګړې په ډګر کې په کار لګياوو، هغه کليوال، چې زاړه يا تنګ بوټ يې په پښو و، هغه کليوال چې د چا له اورمېږ او غاړې نه خولې روانې وې او يا د چا تنې او يا يې ګريوان شليدلی و، او له څېري ګريوانه يې لمر وهلي وچ اډوکې ښکاريدل، پر پېير تر هغه څه نه چې ده ددغه شان شېبې د پرتم او وياړ په اړه اوريدلي و، زيات اغېز وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

پيير له ګاډۍ راکوز شو او د هغو اربکيانو له څنګه چې په کار لګيا و، تېر او هغې غونډۍ ته وروخوت چې د ډاکټر په وينا د جګړې ډګر ترې ليدل کېده.

د سهار يوولس بجې وې، لمر پيير، کينې خوا ته لږ کوز ځلېده او د سهار په ښکلې او سپېڅلې هوا کې د صحرا لمن چې د پراخې منظرې په څېر د دوی په وړاندې بند بند غوړېدلې وه، روښانوله.

د سمولينسک لويې لارې د دغه صحرا په زړه کې لاره وهله، د هغې کينې خوا ته تاويده، بيا پورته تلله او د بارادنيو له کلي نه چې سپينه کليسا يې لرله او د دغې غونډۍ له لمنې نه يې پنځه سوه ګامه واټن درلود، تېريده.

د کلي لاندې لار، له يوه پله تېريده او د زياتو لوړو ژورو نه وروسته، همداسې پورته او پورته تله او د والويوو کلي ته چې شپږ ورسته لرې ليدله کېده او ناپليون اوس همالته مېشت و، رسېده او په هغه ځنګله کې چې د افق لمن يې ژېړوله، ورکېده. دا ځنګل د چنارونو او نښترو ځنګل و. د لارې په ښۍ خوا کې لرې لرې تر لمر لاندې د کولوځکا د کليسا زنګونه او صليب په ځلا ځلېده. ددغه شنه ډاګ پر ټوله پراخه غېږه کې، د ځنګل او واټ ښي او کينې خوا او ته د خپلو او پردو سرتېرو د بل شويو اورونو د لوګيو او ناڅرګندې تيارې توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وريځ ليدله کېده. ښی خوا ته د کالوچا او د مسکو د سيند په بهير کې، ډېرو غونډيو او شيلو دغه دښته نا آواره کړې وه، خو د بژروبووا او زاخارينو کلي د دغو غونډيو په مينځ کې له لرې ليدل کېدل. د دغې دښتې کينه خوا صافه او د غنمو کروندې د دغې دښتې لمن پوښوله او د سميونوفسکايا له سوځېدلي کلي نه، لا تر اوسه هم لوګي پورته کېدل. هر هغه څه چې پيير ليدل، که ښی خوا ته که کينې خوا ته، ناڅرګنده وه، که هغه د دښتې ښی خوا ته و که کينې خوا ته، له هغه څه سره چې ده يې تصور کاوه، اړخ نه لګاوه. هېڅ ځای د جګړې کوم ډګر چې ده يې د ليدو هيله لرله، نه ليدل کېده. هرې خوا ته ډاګونه، ځنګلونه، په ځنګلونو کې ميدانونه، نغرې، د نغريو نه پورته کېدونکي لوګي، پوځونه، کلي، غونډۍ، نرۍ نرۍ وياله او کږې وږې لارې. هر څومره به چې پيير هڅه کوله، کتل يې کتل يې، خو په دغه ژوندۍ دښته کې يې نه شو کولای، د جګړې د مورچلونو او ډګر نښې پيدا کړي او آن هغه نه شو کولای خپل پوځونه د دښمن له هغو توپير کړي.

هغه په زړه کې وويل:

- بايد له خبرو او پوه کسانو نه وپوښتم.

په دې هيله يې له يو افسر نه چې په ځير يې دده څورب ځان، لوړې ونې او غير پوځي جامو ته کتل، مخ وروااړاوه او وې پوښتل:

-که اجازه راکړئ وپوښتم، دغه مخامخ کلی څه نومېږئ؟

افسر له خپل ملګري نه وپوښتل:

-څه نومېده؟ باردنيو؟ که څه نومېده؟

بل افسر د خپل ملګري، خبره ورسمه کړه او وې ويل: نه باردينو، بارادنيو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سې ښکاريده چې افسر له دغو خبرو اترو خوند اخلي، هغه پيير ته ورنبږدې شو.

پيير وپوښتل:

-هغه زموږ دي؟

افسر ځواب ورکړ:

-هوکې ! خو هغه وړاندې فرانسويان دي، هلته وړاندې ګوره ! ښکاري، هغه دي.

پيير وپوښتل:

-چېرې؟ چېرې؟

افسر هغه لوګي چې د سيند کينې خوا نه پورته و، د لاس په غځولو وښودل او وې ويل:

-هغه ده، چې لږ ځير شئ، وينې يې.

هغه زړورتيا، لېوالتيا او جديت چې پيير، په هغه ورځ د ډېرو په څېره کې ليدلی و، د دغه افسر په بشره کې يې هم وليد.

پيير د غونډۍ کينې خوا ته چې هلته سرتېري راکوته شوي و، اشاره وکړه او وې پوښتل:

-ښه دا خوا فرانسويان دي او هغه؟

-دا زموږ دي.

-ښه ! ښه ! دا خو موږ يو او هلته؟

پيير د غونډۍ بلې، لرې خوا ته چې لويه ونه په کې ولاړه وه اشاره وکړه. د دې غونډۍ په لمنې کې يو کلی ليدل کېده، او له کلي نه د بل شويو اورونو لوګي پورته روان وو، هغه بيا اشاره وکړه.

افسر وپوښتل:

-دا بيا هغه دي (دا د شواردين مورچلونه دي) پرون دا کلی زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولکه کې و او اوس د هغو جنډه پرې ولاړه ده.

-ښه، ښه، زموږ موضع چېرې ده؟

افسر له خونده ډکه په یوې موسکا وویل:

-زموږ موضع؟ دا هغه څه دي، چې یو ازې زه کولی شم، تاسو ته په ډاګه ووایم، ځکه ما په خپل لاس څه کم ټول دا مورچلونه جوړ کړي دي، هغوده، هغه وینئ زموږ د پوځونو زړه، په بارادنیو کې (هغه، د دوی مخې ته هغه کلی چې سپینه کلیسا په کې ولاړه وه، وروښوده) هغه دی، هغه هم د کالوچا د سیند ګودر، هغه وینئ، پر هغه ځای کې چې لا یو کتار ربېل شوي واښه پراته دي، وینئ؟ هلته نېږدې یو پل دی. دا زموږ د پوځ زړه دی. اوس پوه شوې چې زموږ د پوځ ښي کرښه چېرې ده (په چټکۍ یې خپل لاس یوې لرې شیلې پلو وراوږد کړ او خپلې ښي خوا ته یې اشاره وکړه) او وې ویل:

-هلته د مسکو سیند دی، او هلته موږ درې ډېر قوي مورچلونه جوړ کړي دي، خو چپه کرښه، (په دې شېبه کې افسر ځنډنی شو).. پوهېږئ ددې خبرې یادونه ګرانه ده.. پرون مو کینه کرښه، هغه وینئ، هلته وه. په شواردینو کې، وینئ! هلته چې د ښېړۍ ونه ولاړه ده. او اوس موږ شاته تللي یو، هلته کینې خواته. اوس هلته، هاغلته، وینئ هغه کلی او لوګي، وینئ! دغه سیمه سیمیونوفسکه نومېږي، هو، هغه (هغه د رایوفسکي غونډۍ ته اشاره وکړه) هغه دلته رارسېږي. خو د جګړې د پېښېدو امکان هلته خورا لږ دی. افسر زیاته کړه:

-هغه خپل پوځیان هلته ځکه لېږلي دي، چې موږ تېر باسي، هغه هرومرو د مسکو له ښي خوا نه راتاوېږي، خو په هر حال، جګړه چې هر ځای پېښه شي، سبا به مرګ ژوبله خورا زیاته وي.

یو بوډا بریدګی چې د خپل قوماندان د خبرو په وخت کې رانېږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی او په دې هیله چپ ولاړ، خبرو ته غوږ و، چې د قوماندان خبرې پای ته ورسېږي، خو په پای کې یې زړه تنګ شو، د هغه خبرې یې پرې کړې او په خورا ناراحته ژبه یې وویل:

-د مورچلونو لپاره باید د ښاخونو او لښتو پسې لاړ شو.

افسر ګواکې لږ څه و شرمېد او ګواکې پوه شو په دې اړه باید فکر وشي چې سبا ته به مرګ ژوبله خورا لوړه وي، خو په دې اړه باید په ډاګه یادونه ونه شي، هغه په تلوار وویل:

-ښه، ښه ده، درېیم ټولی بېرته ورپسې ولېږئ.

او مخ یې د پېیر خوا ته وروااړاوه او وې پوښتل:

-او تاسو څوک یاستئ؟ ډاکټر یاست؟

پېیر ځواب ورکړ:

-نه، نه، زه هسې !

او همداسې، د غونډۍ لمن ته ورشېوه او بیا د اربکیو له څنګ تېر شو.

افسر هغه پسې جوخت پر غونډۍ راشېوه شو او د اربکیو له څنګه د تېرېدو په وخت کې سپړمې ټینګې کړې او وې ویل:

-لعنت دې وي پر تاسو، اخ !اخ !

ناڅاپه له هرې خوا ،د افسرانو، اربکیانو او سرتېرو غږ او شروشور پورته شو، ټول مخ وړاندې وخوځېدل او نارې یې وهلې:

-هغه دي !رایې وړل !هغه دي، اوس رانږدې کېږي...

بوډا او کلیسایي وګړي و چې د بارادنیو نه راپورته کېدل.

تر ټولو نه د مخې، پلي سرتېري، لوڅ سر، ټوپک مخ ښکته، په خورا منظم ډول، په دوړنه لار او خاورو کې مخ وړاندې را روان وو. د سرتېرو شا ته، د کلیسایي نعتونو غږ اوریدل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلوڅي سرتېري او کليوال اربکيـان تـر پـېيـره، ځـان مخکـې کـړ او د دغـې کليسايي ډلې هر کلي ته يې ورود انګل.

يو تن چغې کړل:

-اد که يې راوړې ده !(کليسـايي شـمايلونه او انځورونـه) د قيامت شفاعت کوونکي، اينورسکي هغه يې راوړي..

هغه بل يې خبره ورسمه کړه:

-نه، د سمولينسک سپېڅلې مور يې راوړې..

د کلي اربکيـو او هغـو چې د توپخـانې پـه شـاوخوا کې کـار کـاوه، ټولو، بېلونه وارتيېل او د کليسايي ډلې هر کلي ته يې ورود انګل.

د پلي ټـولي پسـې، لـه دوړو خـاورو نـه پـه ډکـه لاره، کشيشـان، يـو ډنګـر خـوار سـپين ږيـرى چې يـوه ځـانګړې خـولۍ يـې پـر سـر وه، لـه سـندرغاړو سـره تـر ټولـو د مخـه راروان وو. تـر هغـو وروسـته يـو ډلـه سرتېرو او افسرانو يو ستر توربخن شمايل چې پـه سـپين چوکـاټ کې ايښـودل شـوى و، وړ. دا هماغـه شـمايل وو چـې لـه سمولينسـک نـه رالېږدول شوى و او لـه هماغـه وختـه تـر اوسـه پـورې تـل لـه پـوځ سره و. يوې ډلې سر لوڅو پوځيانو د دغه شمايل تر مخې تر شا او دواړو څنګو ته، منډې وهلې، د هغه په وړاندې پـه ګونډو کېـدل، خمېدل او سرونه يې پر ځمکه وهل.. يـو شـمېر ډېر پېژنـدل شـوي افسـران.. د کشيشـانو پسې.. ولاړ وو.

.. پېير چې د دغـو کليوالـو پـه منـځ کې ولاړ و، د مخـورو کسـانو لـه ډلې نه خپل څو تنه ياران، انډيوالان وپېژندل، خو هغـو تـه يـې نـه کتـل. د هغه ټول پام د سرتېرو افسرانو او ناپېژندل شوي کسانو جدي څېـرو تـه وراړول شوى و، چې ټول هم مهالـه او پـه لېوالتيـا شـمايل تـه ورکتـل. د کشيش مرستيالانو په خورا ستومانۍ دعـا(شـل واره دعـا تکـرارولـه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل کړه:

-د عیسی سپېڅلې مورې ! خپل بندګان دې له بدمرغۍ نه وژغوره ! پر موږ رحم وکړه.

کشیش له خپلې خوا ورغږ کړل:

-موږ ټول ستا دربار ته پناه دروړو ځکه ته زموږ یوازینۍ ملاتړ او لارښوونکې یې !

پر ټولو بشرو بیا هماغه د پرتم او لوړتیا حالت چې د موژآسیک د غونډۍ په لمنه کې ده لیدلی و، را خپور شو. هغه ځلا بیا د ډېرو په مخونو کې لیدل کېده، ډېر سرونه د عذر په نښه ښکته کېدل، څنې لا پسې ریږدېدې او جړېدې. د عذروزاریو غږ او پر تندي او ټټر د صلیبونو انګازې لا پسې زیاتېدې.

د شمایل شاو خوا ته راټول شوي خلک ناڅاپه تیت و پرک شول او پېږیې سره پورې واهه. یو څوک چې په تلوار را روان و او شمایل ته ورنږدې کېده او د ټولو له خوا هغه ته د لارې له پرانستلو دا ښکارېده چې خورا مخور سړی دی.

دا سړی کوتوزوف و چې د جګړې سنګرونه یې کتلي او تاتارینوو ته د راستنېدو په لاره، دلته راغلی و. ده غوښتل په دغې لمانځنه کې ګډون وکړي. پېیر په هماغه لومړي شېبه کې کوتوزوف، د هغه د بشرې د ځانګړتیاوو نه چې له نورو یې توپیر لاره وپېژاند. هغه چې اوږده دریشي اغوستې، په څورب پیاوړي ځان، خمې ملا، لوڅې ککرې، وتلو سپینو سترګو، پړسېدلې بشرې او درنو ګامونو، د شمایل شاو خوا ته راټولې شوې ګڼه ګوڼې منځ ته ورګډ او د کشیش شاته ودرید. هغه د دود له مخې پر ځان صلیب وویست، ملا یې خمه، لاس یې ځمکه پورې ورساوه، ژورې ساه یې ووېسته او خپل سپین سر یې ښکته

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچاوه. د کوتوزوف پسې بینیګسین او د هغه ملګري ولاړ وو. که څه هم د کوتوزوف راتګ د ټولو جګ پوړو چارواکو پام ځان ته ورواړاوه، خو اربکیو او سرتېرو پرته له هغه چې هغه ته پام وکړي، خپلې لمانځنې ته دوام ورکړ.

کله چې لمانځنه او دعا پای ته ورسېده، کوتوزوف شمایل ته ورنېږدې شو، په ګونډو کېناست، په خاورو ولوید او تر ډېرو پورې یې له ډېر دروندوالي او ضعیفوالي ،نه شو کولای پاڅېږي. د هغه سپین سر له ډېره زوره رېږدېده. په پای کې هغه پاڅېد ، او په ماشوم وزمه سادګۍ یې خپلې شونډې شمایل ته ورنېږدې، بیا خم او ګوتې یې ځمکې ته وررسولې. جنرالانو هم د هغه پېښې کولې، بیا نورو افسرانو او بیا هغو پسې اله ګوله اخېستي سرتېري او اربکي چې یو بل یې سره پورې وهل او ګبنهې اخېستي وو، د شمایل په شاو خوا کې پر ځمکې لویدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲

په ګڼه ګونه کې راایسار شوی پېير، چې هرې خوا ته پورې وهل کېده، خپل شاو خوا ته کتل.

د چا غږ يې واوريده چې ناري يې کړې:

-پيټر کيريلوويچ ! تاسو دلته څه کوئ؟

پېير سر وروا ړاوه.

باريس دروبتڅکوی، چې خپل په خاورو ککړ شوی زنګون يې پاکاوه (دا سې برېښېده چې هغه هم د شمايل په وړاندې ګونډه شوی وي) په موسکا موسکا پېير ته ورنږدې کېده. باريس ښکلې جامې، چې په پوځي نښانونه ګاڼل شوې وې، اغوستې وې.

هغه اوږده پوځي دريشي اغوستې وه او د کوتوزوف په شان يې خپله متروکه پرغاړه کې ځړولې وه.

په دې لړ کې کوتوزوف يوه کلي ته رسېدلی و او هلته د لومړي کور سيوري ته پر يوه څوکۍ چې يو قزاق په منډه ورته راوړې او بل قزاق قالينه پرې غوړولې وه، ناست و. د هغه د پام وړ بې شمېره چوپړان شاو خوا پرې راټول شوي وو.

شمايل چې ګڼه ګوڼې بدرګه کاوه، مخ وړاندې وخوځول شو. پېير ديرش ګامه لرې له کوتوزوفه ولاړ او له باريس سره يې د زړه خواله کوله.

پېير په جګړه کې د تکل او د جګړې د لومړيو کړښو د کتنې په اړه خپل نيت باريس ته څرګند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باريس وويل:
- پوهېږې څه وکړئ؟ زه به تاسو په جبهه وګرځوم، خو تر بل هر ځايه ښه، ته کولای شئ هر څه له دغه ځايه، چېرې چې ګراف بينيګسين و، ښه ووينئ. زه هم له هغه سره خدمت کوم. زه هغه ته دا وو ايم. که غواړئ مورچلونه وګورئ. څه چې له هغه سره ولاړ شو، موږ د کرښې کينه خوا ګورو بيا به راستانه شو او زه له تا نه هيله کوم چې د شپې به هم له ما سره پاتې شئ. کېداى شي مېلمستيا جوړه کړو. هو رښتيا ! تاسو خو له ديميتري سرګيوويچ سره پېژند ګلوى لرئ؟ هغه، هلته مېشت دى. هغه په غونډيو کې د رېيم کور ته اشاره وکړه.
پيېر وويل:
-ما غوښتل چې ښي کرښه وګورم، وايي چې ښه کلک مورچلونه لري. ما هيله لرله چې د مسکو د سيند له لارې ټول سنګرونه وګورم.
-ولې، دا کار وروسته کولای شئ، خو مهمه يې کينه کرښه ده.
پيېر وپوښتل:
- دا د سردار بالکونسکي قطعه چېرته ده؟ هغه راته ښودلاى نه شئ.
-اندرې نيکولايوويچ يادوئ؟ موږ يې له څنګه تېرېږو، زه تاسو هغه ته وررولم.
پيېر بيا وپوښتل:
- ښه، د کينې کرښې په اړه راته ووايئ.
باريس لکه کوم راز چې سپړي، آواز ټيټ کړ او وې ويل:
-که رښتيا تاسو ته ووايم، خبره دې زما او ستاسو تر منځ وي، خداى خپله پوهېږي، چې زموږ کينه کرښه په حال ده. ګراف بينيګسين بل وړانديز درلود. هغه چور بل وړانديز درلود او هغه ويل چې بايد هغه غونډۍ پياوړې شي. باريس اوږې پورته واچولې او دوام يې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خو والاحضرت ونه منله او یا هم چا څه ورته ویلي، له دې خبرې نه یې اړولی دی. ځکه چې..

هغه خپله خبره ونه شوه کړای، ځکه په دې وخت کې د کوتوزوف یاور قیصروف پېپر ته راغی.

باریس د ملګرتیا یوه موسکا وکړه او قیصروف ته یې وویل:

-آه، پایسي سرګیېچ ! ما ښاغلي ګراف ته د کرښې او سنګرونو په اړه خبرې کولې. د حیرانتیا خبره ده چې څنګه او په څه ځیرکتیا والاحضرت د فرانسویانو د تکل او خیال پوره تصور کړی و.

قیصروف وپوښتل:

-تاسو د کینۍ کرښې په اړه غږېږئ؟

-هو کې، هو کې، کټ مټ د کینې کرښې په اړه، زما او تاسو کینه کرښه اوس خورا پیاوړې ده.

که څه هم کوتوزوف د خپلې قوماندانۍ نه زیات کسان شړلي وو، خو بیا هم باریس په دې بریالی شوی و چې په ستره قوماندانۍ کې پاتې شي. هغه ګراف بېنیګسین په دفتر کې ځان ته کار پیدا کړی و.

ګراف بېنیګسین د ټولو هغو نورو کسانو په څېر چې باریس له هغو سره کار کړی و، ځوان سردار دروبتځکوی یو ښه او پیاوړی افسر ګاڼه.

په ستره قوماندانۍ کې دوې، خو خورا توپیر لرونکې ډلې وې. یوه د کوتوزوف د سترقوماندان ډله او بله هغه د بېنیګسین ډله چې د قوماندانۍ مشر و. باریس د همدې دویمې ډلې غړی و. هېڅ چا د هغه په شان نه شو کولای کوتوزوف ته د مرییتوب درناوي سره سره، ټولو ته دا څرګنده کړي چې د ستر قوماندان، د زاړه بوډا مزه نه شته او د چارو ټول واک له بېنیګسین سره دی. نور نو د جګړې ټاکونکې شېبې رارسېدلې وې. دغې جګړې یا باید ناپلیون وهلی او واک یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېنيګسين ته لېږدولای وای او یا که کوتوزوف جګړه هم ګټلې وای، باید ټولو داسې فکر کړای وای چې دا برې، د بېنيګسين د پوهې له برکته دی، خو په هر حال، د سبا ورځې پېښو هر څه ټاکل، باید لويې جايزې، لوړې رتبې او نوي خلک رامخ ته کړي. له همدې کبله د دغې ورځې د رارسېدو په هیله پیاوړی، خو ګڼې اخېستل شوی برېښېده.

تر قیصروف نه وروسته، د پېير نور آشنايان هم راغلل. هغه نه شو کولای د مسکو په اړه د هغو ټولو پوښتنو ته چې په بې شمېره توګه يې له ده نه کولای، ځواب وواييي او يا هغه څه ته چې هغوی يې ده ته وايي ورته غوږ شي. په ټولو بشرو لېوالتيا او هم مهاله ګڼې او ډار خپور و، خو پېير ته داسې برېښېده چې د ځېنو وګړو پر بشره خوره ګڼې زياتره د هغو د ځانګړو برياوو له کبله دی. د هغه له خياله دا خبره هم نه لرې کېده چې ده د نورو پر بشرو ليدله. د دغو څېرو حالت د ځانګړو غوښتنو له امله نه، بلکې د مرګ او ژوند او ټوليزو پوښتنو لپاره د ځواب د پیدا کولو له امله وي. کوتوزوف د ګڼه ګوڼې په منځ کې، د پېير غټ ځان او لوړ ونه وليدله او وې ويل، چې:

-ما ته يې راوغواړئ.

د کوتوزوف ياور د والاحضرت ستر قوماندان غوښتنه پېير ته ورسوله. پېير د کوتوزوف پلو ته چې پر اوږده څوکۍ ناست و، وروخوځېد، خو تر ده مخکې يو اربکی سرتېری کوتوزوف ته ورننېږدې شو. دا اربکی دولوخوف و.

پېير وپوښتل:

- دا دلته څه کوي؟

هغه يې ځواب ورکړ:

-دا ځيرک دوکمار هر چېرې، منډې وهي. هغه نه رتبه اخېستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وه او اوس غواړي هغه بېرته واخلي. پوهېږئ، خدا چې څه تکل لري، څه لارې يې جوړې کړي او د شپې په تياره کې يې آن د دښمن د کرښو تر شا ځان رسولی و، پر هغه دې آفرين وي.

پيېر له سره خولۍ پورته کړه او په خورا درناوي د کوتوزوف په وړاندې خم شو.

دولوخوف وويل:

-ما داسې پريکړه وکړه، که زه تاسو والاحضرت ته خپل عرض وکړم، يا به ما وشړئ، يا به راته وواييئ چې په خبرو کې مې څه نوی وړانديز نه شته، خو په هر حال، زه څه له لاسه نه ورکوم..

-ښه، ښه.

-خو که زه برحقه يم، خپلې خاورې او هېواد ته به خدمت وکړم، داسې خدمت چې تر هغه نه ځان ځارولو ته هم چمتو يم.

-ښه، ښه..

-نو اوس که د والاحضرت داسې څوک په کار وي، چې له مرګه هم ويره نه لري، نو ښه به دا وي چې ما درياد کړئ.. کېدای شي زه ستاسو والاحضرت په کار شم..

کوتوزوف چې په موسکا او تنګو سترګو پيېر ته کتل، بيا وويل:

-ښه،.. ښه، ډېر ښه..

په دې وخت کې باريس له خپل درباري خواخوږۍ سره، د پيېر په څنګ کې د ستر قوماندان تر خوا، په داسې خورا نرمه ژبه چې ګوا کې خبره يې نيمايي کړې وي، پيېر ته وويل:

-دا اربکيان يادوم، سر له همدا اوس يې تک سپين کميسونه اغوستي، هغوی مخکې له مخکې ځانونه مرګ ته چمتو کړي دي، آفرين څه مېړني کارونه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



باریس دا خبره پېیرته کوله، خو موخه یې دا وه چې هغه والاحضرت ستر قوماندان هم واوري. هغه پوهېده چې کوتوزوف دغو شان خبرو ته پاملرنه کوي او په رښتیا هم والاحضرت باریس ته مخ ورواړاوه او وې پوښتل:

-تا د اربکیو په اړه څه وویل؟

-د والاحضرت حضور ! هغو ځان چمتو کړی دی چې سبا ته ومري، نو له نن یې سپین کالي اغوستي دي.

کوتوزوف وویل:

-آه څه افسانوي ملت دی، ساري نه لري.

کوتوزوف سترګې پټې کړې، سر یې وښوراوه، ساه یې وویسته او وویل:

-څه بې ساری ملت دی. هغه پېیر ته وویل:

-ښه، غواړئ باروت بوی کړئ؟ هو کې، ښه بوی دی، ویاړ لرم چې ستاسو د ښځې له لېوالو نه یو لېواله یم، څنګه ده هغه ؟ زما دا ځایګوټی ستاسو په چوپړ کې دی.

دا یې وویل او لکه څنګه چې تل پوخ عمرو ته ورپېښېږي. سرسام یې،دا سې یې دې خوا هغې خوا ته کتل، چې ګواکې هېر کړی یې و، چې څه یې غوښتل ووایي یا یې وکړي.

داسې برېښېده هغه ته وریاد شول چې څه یې لټول، هغه د خپل یاور ورور اندرې سرګېیوویچ قیصروف، ځان ته راوباله او وې ویل:

-څنګه، څنګه، څنګه، هغه د مارینا شعرونه څنګه وو؟ شعرونه څنګه وو؟ هغه د ګیراکوف په اړه څه لیکلي و؟ ته به په پوځ کې ښوونکی شئ. ..

داسې تصور کېده چې کوتوزوف د زړه له کومې د خندا تکل لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر هغه يې ټينګار وکړ او وې ويل:

-وايه ! شعرونه وايه !

قيصروف شعرونه لوستل او کوتوزوف شعرونو ته غوږ، او سر يې ښوراوه.

کله چې پيېر له کوتوزوف نه راجلا شو، دولوخوف هغه ته ورنږدې شو، د هغه لاس يې راونيو او پرته له هغه چې د پردو خلکو خيال وساتي، په ځانګړي او پرتمين غږ يې ورته وويل:

-ښاغليه ګرافه !د زړه له کومې خوشاله يم چې تاسو مې دلته وليدلئ. د هغې ورځې په درشل کې چې خداى پوهېږي زموږ کوم يو به تقدير ژوندى پرېږدي، خوشاله يم، بخت ياري راسره وکړه، له تاسو نه د هغو تېروتنو له امله ښښنه غواړم چې زموږ تر منځ پېښې شوې وې. له تاسو نه مې غوښتل چې له ما نه خوابدى ونه اوسئ او هيله لرم چې ما وبښئ.

پيېر موسېده، دولوخوف ته يې کتل، خو نه پوهېده چې هغه ته څه ووايي. دولوخوف چې سترګې يې له اوښکو راډکې شوې وې، له پيېر نه غېږ تاو کړ او هغه يې ښکل کړ.

باريس خپل قوماندان ته کوم څه وويل، ګراف بينيګسين پيېر ته مخ ورواړاوه، هغه ته يې وړانديز وکړ چې د جبهې د لومړيو کرښو د کتنې لپاره ،له دوى سره لاړ شي او وې ويل:

-دا به ستاسو لپاره ډېره په زړه پورې وي.

پيېر ځواب ورکړ:

- هو کې، ډېره به په زړه پورې وي.

کوتوزوف نيم ساعت وروسته د تاتارينو پلو وخوځېد. بينيګسين له خپلو چوپړانو سره چې پيېر هم،له هغو سره و، د جبهې کتنې ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

بینیګسـین لـه غونـډۍ نـه راښـوه او د لـویې لارې نـه، هغـه پلـه تـه ورورسېد چې د هماغې غونډۍ له سره یو تن افسر پېیر ته ورښودلی او دغه ځای یې د روسي پوځونو زړه ګڼلی و، د دغه مرکز څنګ ته نېـږدې، د سیند په خوا کې د نویو رېبل شویو وښو یو کتار، چې بوی یې په هوا کې خپور و، د ځمکې پر مخ لیدل کېده. له پله نه واوښـتل او د بارادنیو کلي ته ورسېدل او له هغه ځایه کیڼې خواته تـاو شـول، بیـا د بې شمېره سـرتېرو او توپونـو لـه منځـه پـر هغـې لـوړې غونـډۍ وروختـل چـې اربکیانو هلته مورچلونه جوړول. دا هغه مورچلونه و چې لا تر اوسه یـې نوم نه درلود، خو وروسته هغو د رایوفسکي د مورچلونو نوم وګاټه.

پېیـر دغـو مورچلـو تـه ځـانګړې پاملرنـه ونـه کـړه، هغـه پـه دې نـه پوهېده چې دغه ځای به د هغه لپاره د بارادنیو د ډګر تر ټولو نه، نه هېریـدونکی ځـای کېـږي. بیـا هغـوی لـه یـوې شـیلې نـه تېـر شـول او سیمیونوفسکایا سیمې ته چې سرتېرو د هغو له کورونو او انبارونو نه وروستي لرګي او دستکونه راوېستل او وړل یې ورسېدل او تـر هغـه وروسته یې ډېرې لوړې ژورې ووهلې، د کروندو لـه منځـه تېرشول .. او په پای کې نیمه جوړ شویو سنګرونو ته ورسېدل.

بینیګسین، د مورچلونو پر سر ودرید او د شواردینو مورچلونـو تـه چې پرون له موږ سره او اوس څو سـواره هلتـه ګرځېدل، کتـل. افسـرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې دا د ناپلیون او یا میورات، پوځیان دي. ټولو په کرکې او ځیر هلته کتل، پیېر هم هغو سورو ته کتل او هڅه یې کوله، پوه شي، د هغو سورو نه، چې متې لیدل کېدل، کوم یو ناپلیون دی، خو په پای کې سواره له غونډۍ نه ور شېوه او له سترګو پناه شول.

بینیګسین، له هغه جنرال سره چې ده ته ورنېږدې شو، خبرې یې پیل او زموږ د سرتېرو په اړه یې هغه ته معلومات ورکول. پیېر، په خورا ځیر د بینیګسین خبرو ته غوږ و او څومره یې چې کولای شول، هڅه کوله، دې خبرې ته پام وکړي چې د پېښېدونکې جګړې پر ماهیت ځان پوه کړي. خو هغه دا ډېره کمه احساسوله چې د هغه ذهني توان د دغو خبرو له پوهېدو نه عاجز دی. د بینیګسین همدا چې پام شو چې پیېر د هغه خبرو ته غوږ نیولی دی، لږ ځنډنی شو، هغه ته یې مخ ورواړاوه او ناڅاپه یې وویل:

-دا اسې فکر کوم، چې ستاسو لپاره به په زړه پورې نه وي.

پیېر چې له خبرو نه یې د نه صداقت غږ راته، وویل:

-اخ! برعکس، ډېرې په زړه پورې دي.

... هغوی لا پسې وړاندې لاړل.. په ځنګله کې، تر دوو ورستو مزله وروسته، هغې دښتې ته ورسېدل چې د توچکوف قطعه په کې ولاړه وه. دغو پوځیانو د جبهې د کینې خوا د ښارنې او ساتنې دنده لرله.

دلته، د کینې کرښې په وروستې برخه کې، بینیګسین ډېر خو په خورا لېوالتیا وغږېدا او پیېر ته دا اسې وبرېښېده چې له پوځي پلو یې سرتېرو ته خورا اغېزمنې سپارښتنې وکړې. د توچکوف د سرتېرو مخې ته، یوه غونډۍ پرته وه، دغه غونډۍ پوځونو لاندې کړې نه وه، بینیګسین دغه کار تېروتنه بلله او په لوړ آواز یې د هغه غندنه کوله چې ولې، هغه غونډۍ لاندې شوې نه ده، چې د عملیاتو پر سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسبری ده. هغه د دې غونډ نه نیول او د هغې په لمنه کې یې د سرتېرو مېشتول، لېونتوب ګاڼه، څو تنو جنرالانو هم همدا سې فکر کاوه، د هغو یو تن لا په خورا ځیرۀ ژبه ویل چې په دې کار سره مورۍ په لوی لاس سرتېري وژلو ته برابروو. بېنیګسین په خپل مسوولیت سپارښتنه وکړه چې پوځیان د غه غونډۍ لاندې کړي.

پیېر د جبهې په کیڼې کربښې کې، د د غو چارو په لیدو، د جګړېزو چارو په اړه په خپلې پوهې لاشکمن شو. د بېنیګسین او د هغو جنرالانو د خبرو په اورېدو چې د غونډۍ په لمن کې یې د پوځیانو مېشتېدل حماقت ګاڼه، پوه شو، چې دی هم د د غه نظر پلوي کوي. کله چې په د غې خبرې پوره پوه شو، هک حیران و چې څنګه چا او ولې، د غه شان لویه تېروتنه کړې ده.

پیېر، په دې نه پوهېده چې د غه سرتېري د بېنیګسین د تصور برخلاف نه د د غې غونډۍ د ساتنې، بلکې د هغې غونډۍ تر شا د دې لپاره پټ ساتل شوي وو چې د دښمن د رارسېدو او نېږدې کېدو په وخت کې پر هغو ناڅاپي شبخون ووهي. بېنیګسین په دې نه پوهېده او پرته له هغه چې ستر قوماندان د خپل دې کار نه خبر کړي، پوځ یې د خپل ځانګړي نظر له مخې پر غونډۍ ځای پر ځای کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴

سردار اندرې د اګست د میاشتې پر پنځه ویشتمه ورځ په ماښام د کېنارکووا د کلي، په یوه کنډواله شوي سرای کې، په خپل جوړ شوي مورچل کې غځېدلی او پر خپلې ځنګلې یې ډډه لګولې وه. هغه د سرای د دیوال له سوري نه د دیوال څنګ ته د هغو ولاړو دیرش کلونو چنارونو کتار ته کتل، چې د لاندنۍ برخې څانګې یې وهل شوې وې، په پراخو کروندو کې د ربېل شویو اوربشو پرتو کودو او هغو ونو ته چې له منځه یې د سرتېرو له خوا د پخولو لپاره د بل شویو اورونو لوګی پورته کېده.

هر څو مره به چې ژوند ورته تریخ او د ټولو لپاره ځان ورته بې ګټې ښکاریده، خو بیا هم د اوو کالو پخوا په څېر، د اوسترلیڅ د جګړې د وخت په شان به یې زړه په ولولو اوله احساسه ډک و.

د سبا ورځې د جګړې د اوربل فرمان یې ترلاسه کړی او خپلو پوځیانو ته یې په دې اړه لازمي سپارښتنې ورکړې وې. هغه نور نو هېڅ کار نه درلود، خو ډېرو ساده خیالونو، روښانه فکرونو او له هغه سره هم مهاله وحشتناکو یادونو هغه په کرار نه پرېښود. هغه په دې پوهېده چې د سبا ورځې جګړه به تر ټولو هغو جګړو نه چې لا تر اوسه ده ګډون په کې کړی دی، زوروره او وحشتناکه وي او د لومړي ځل لپاره و چې د مرګ اند ېښنې دی پسې اخېستی و. د غې اند ېښنې، پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هر ډول اړيکو ، دا خيال چې دغه مرګ به نه يوازې پر نورو څه اغېز ولري، بلکې دده د خپل ځان په وړاندې چې له ده سره به څه پېښېږي، د هغه روح به څنګه کېږي، ژوند به يې څه رنګه وي، په خورا يقيني،خو په ساده ډول دده په ذهن کې خپې وهلې.. ناڅاپه يې.. ټول ژوند لکه يوه کوډېزه شمعه تر پامه ورغلی و او تر ډېرو پورې يې د دغې شمعې رڼا ته د خيالي هينداري له شا نه کتلي و،،، خو اوس يې د ژوند دغه تصاوير له جادويي هينداري پرته ،د ورځې تر رڼايي لاندې ليدل. هغو ته يې کتل.. هغه يې د مرګ د اند ېښنو په رڼا کې څارل او ويل به يې:

-هغه دی، هغه خيال او ذهن ته نه راتلونکي دروغجن تصاوير، هغه تصاوير چې زما زړه يې لمساوه، په ځان يې مينوولم، زه يې زوروولم. دا هغه تصاوير و چې ښکلي او له رازونو ډک وو. د ويار، ټولنيز دريځ، لوی نوم، له ښځې سره مينه، هېواد، خاوره، څومره ما ته دا تصويرونه ستر او نه هېريدونکي برېښېدل. څومره ماته ګران او پرتمين وو، او ددغه سهار، ددغه سپين سهار په سړه ورېمه کې چې زه يې پر ځان راخوريدلي احساسوم، اوس څومره بې رنګه او بې خونده دي.

د ژوند درې سترو غمونو چې په ځانګړي توګه يې دده پر ژوند اغېز کړی و، دده پام ځانته وروا ړاوه.

-له ښځې سره مينه، د پلار مرګ او پر روسيې د فرانسويانو يرغل او د هغې نيمايي لاندې کول. مينه ! دغه نجلۍ چې ما ته د رازمينې جذبې سرچينه برېښېده، څنګه راته ګرانه وه ! ما د مينې په هکله شاعرانه تکلونه کړي و، له هغې سره د نيکمرغۍ تکلونه. هغه په ترخه او لوړ آواز وويل:

-مينه !آه مهربان ماشومه ! څنګه ما په داسې يوې رښتيني مينې باور درلود، چې زما د يو کال مودې په نشتوالي کې ما ته وفاداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شي ! ما تصور کاوه چې زما په نه شتوالي کې به هغه د ښکلې سپينې کوترې په شان د بېلتون سندرې وغږوي، خو هر څه ډېر ساده وو... هر څه وحشتناکه ساده او کرکجن وو.

پلار مې په ليسه ګورې کې آبادي کوله او فکر يې کاوه چې دا دده هېواد، دده جايدادونه، دده ځمکې، دده مريي، کليوال بزګر دي، خو ناپليون راغی، څوک د هغه شتوالی نه ويني، هر څه لکه د يوې ښکې په شان تالاوالا شول. د هغې ليسه ګوره او ټول ژوند په دې توپان کې لکه د يوې ښکې په شان ټوټې ټوټې او تالا والا شول. شهزادګۍ ماريا وايي چې دا د لوی خدای اراده ده چې موږ آزمايي، خو دا آزموينه د څه او چا لپاره ؟ چې هغه نور نه شته او هېڅکله به بيا نه وي. نو دا ازمايښت د چا په کار دی؟ د وطن؟ د مسکو خو ولويد... سبا به ما ووژني، هغه هم نه يو فرانسوي، بلکې کوم خپل، لکه هغه شان چې پرون يو سرتېری زموږ له غوږ سره توپک تش کړ. فرانسويان به راشي، له پښو او سر نه به مې ونيسي، کومې کندې ته به مې ورواچوي، چې زما ډ ډوز بوی يې سپوږمو ته ورنه شي. د ژوند شرايط بدلېږي او د ژوند نوي شرايط به د نورو لپاره همداسې دوديزه او ورځنی شي، لکه اوسني، زه به نور نو له هغو نه خبر نه شم او خپله به هم نه يم. هغه د ن چنارونو د ونو کتارونو، د هغو سپينو ژيړو نا خوځېدونکو تاجونو او د هغود پوټکي سپينوالي ته، چې د لمرتر شغلو لاندې ځلېدل، کتل او له ځان سره يې وويل:

-مرګ، سبا ته به ما ووژني، زه به نور نه يم.. دا ټول شيان به وي او زه به نه يم. په څرګنده يې دا ژوند له خپل ژونده پرته تصور کړ. دا د چنار ونې، د هغو دروند سيوري، دا کنډک کنډک سپينې وريځې او دا د سرتېرو د نغريو لوګي، دا ټول د هغه پر شاوخوا کې،دا ټول شيان ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحشتناکه او ګواښمن وبرېښېدل. سړه لړې يې پر ځان راخوره شوه، په چټکۍ پاڅېد، له انباره ووت او په ګرځېدو شو. د انبار له شا د غږيدا آوازونه راتلل، سرداراندرې غږ وکړ:

-څوک دي؟

تيموخين د دولو خوف د ډلې تورن، اوس د افسرانو د کموالي له امله د کنډک قوماندان شوی و، په حيا او ډار راننوت او د کنډک محاسب او ياور هم ورپسې ورننوتل.

سرداراندرې په چټکۍ پاڅېد، او هغه څه يې چې افسرانو د دندې له مخې ده ته وويل، واوريدل. ده هغو ته سپارښتنې وکړې، له هغو سره په خدای په امانۍ کې و، چې د باندې د يو آشنا غږ انګازه واوريدل شوه ،د يو چا غږ چې له کوم شي سره ټکر شوی و، پورته شو !آخ، بلا دې درپسې وي.

سرداراندرې، له انباره د باندې وکتل او وې ليدل چې ده ته پيير راروان دی او پښه يې په څه شي کې بنده او نېږدې و چې ولوېږي. سرداراندرې ته د خپلو آشنايانو په تېره بيا د پيير ليدل ځکه خورا ګران تمامېدل چې هغه ته يې ټولې هغه بدې خاطرې وريادولې، چې ده ته د مسکو په وروستی سفر کې ورپېښې شوې وې. هغه وويل:

-ښه داسې ! دلته څه کوئ؟ قسمت خپل کار کوي؟ هېڅ مې دې د ليدو انتظار نه درلود.

کله چې يې دا خبرې کولې، د هغه له سترګو او بشرې نه، نه يوازې بې پروايي بلکې کرکه وريدله. پيير، سمدلاسه په دې خبره پوه شو. پيير به چې هر کله د سرداراندرې د يدن ته راته، طبيعت به يې ښه او مينه ناک و ،خو کله چې يې اوس د سرداراندرې څېرې ته وکتل، د هغه خوښۍ او لېوالتيا په خواشينۍ بدل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير وويل:

-زه راغلم.. پوهېږئ.. راغلم.. ما ته په زړه پورې ده.

پېير، هغه ورځ، څو ځله، دغه خبره، چې ده ته په زړه پورې ده، تکراره کړه. ما غوښتل چې د جګړې ننداره وکړم.

سرداراندرې له پيغوره په ډکه ژبه وويل:

-ښه ! ښه ! رښتيا د ماسون ورونه د دې جګړې په اړه څه وايي؟ څنګه د هغې مخه ونيسي؟ او بيا يې لږ په ځيږه ژبه وويل:

-ښه د مسکو راته ووايه؟ زما خپل خپلوان څنګه وو؟ په پای کې مسکو ته راغلل؟

-هو کې، راغلل ! ژولیا دروبتخکايا ما ته وويل چې راغلل. زه د هغو ديدن ته ورغلم، خو ومې نه شو ليدلای، ځکه هغوی، بېرته له مسکو د باندې کلي ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۵

افسرانو غوښتل لاړ شي، خو سرداراندرې نه غوښتل چې له خپل ملګري سره یوازې پاتې شي، هغوی ته یې بلنه ورکړه چې کیني او چای وڅښي.

څو څوکۍ او چای یې راوړل. افسرانو په خورا تعجب د پیېر څورب او غټ ځان ته کتل، د مسکو او زموږ د پوځونو د ځایونو په اړه یې چې ده خپله لیدلي وو، د هغو کیسو ته غوږ غوږ وو. سرداراندرې چپ و او بشره یې داسې له خواشینۍ ډکه وه چې پیېر د هغه پر ځای، د کنډک بل مهربان قوماندان، تیموخین ته مخ وروااړاوه او له هغه سره یې خبرې کولې.

سرداراندرې زیاته کړه:

-څنګه د پوځونو ټول مورچلونه دې وکتل؟

پیېر وویل:

- هو کې! خو باید وګورئ چې څنګه؟ د یو غیر پوځي په توګه نه شم کولای وواېم چې هر څه مې وکتل، خو بیا هم د پوځونو په ټولیز موقعیت او ځای پوه شم.

سرداراندرې وویل:

-خو په هرحال، تر بل هر چا نه ته ښه پوهېږې.

پیېر د عینکو له شا نه سرداراندرې ته کتل او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-آه ! اوس تاسو دا راته ووایئ چې د کوتوزوف د ټاکنې په اړه څه وایي؟

سردار اندرې وویل:

-زه په دې ټاکنه ډېر خوشاله شوی یم، خو تر دې زیات څه ویلی نه شم.

-ښه ورکه وه یې، ته دا راته ووایه چې ستا نظر د بارکلي دیتولي په اړه څه دی؟ خدای خبر په مسکو کې یې د هغه په اړه څه ویل. تاسو د هغه په اړه څه قضاوت کوئ؟

سردار اندرې افسرانو ته اشاره وکړه او وې ویل:

- له هغو نه وپوښته !

پیېر په مهربانه او له درناوی نه ډکې موسکا چې له تیموخین سره یې د خبرو په وخت کې بې ارادې پرشوندو وه، هغه ته وکتل.

تیموخین په درناوي او په داسې حال کې چې د خپل غونډ قوماندان ته یې کتل، وویل:

-که اجازه راکوئ چې ووایم، پر موږ توره شپه وه، خو د والاحضرت په ټاکنې سره شپه سبا شوه.

پیېر وپوښتل:

-څنګه، څنګه داسې؟

-څه درته ووایم، لومړی خو دا د لرګیو او ښو خبره درته ووایم، موږ چې کله د سوینځیان له سیمې شاتګ راپیل کړ، هیڅچا دا زړه نه شو کولای آن د ځنګل ونو یا وچو ښو ته وګوري. مخ یې سردار ته ورواړاوه او وې ویل:

- ښه کله چې پوځ شا ته درومي، ددغو شیانو ګټه هغو (دښمن) ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې سردار ته مخ وروااړاوه او وې پوښتل:

-داسې نه ده عالیجنابه؟ موږ هېڅ نه شو کولای، زموږ په غونډ کې یې دوه تنه په همدې ډول جرمونو محکمې ته ولېږل، خو اوس چې والاحضرت وتاکل شو دا کارونه خورا آسانه شول. رښا راخوره شوه. ..

-ښه ولې یې په دې کارو بندیز لګولی و؟

تیموخین ډېر وشرمېد ، دې خواته، هغې خواته یې وکتل. نه پوهېده چې څنګه ددې پوښتنې ځواب وواېي. پېیر له سرداراندرې نه همدا پوښتنه وکړه:

سرداراندرې په خواشینۍ او ملنډو وویل:

-ددې لپاره چې تالان شوې او ورانې شوې ځمکې دښمن ته پرې نه ږدو. دا ډېره جدي خبره ده، باید اجازه ورنه کړو ، چې وطن تالان او پوځیان غلاوو ته وهڅوو. .. د جګړې ګټل هېڅکله، نه مورچل او نه دریځ، نه د وسلو کیفیت او آن نه د سرتېرو د شمېر پورې، هېڅ شي پورې اړه نه لري. ..

-نو څه پورې اړه لرئ؟

-هغه احساس پورې چې زما او د بل هر یو سرتېري (تیموخین ته اشاره وکړه ) په زړه کې رالمسېږي.

سرداراندرې، تیموخین ته چې خپل قوماندان ته یې له حیرته او وحشته په ډکو سترګو کتل ځیرو ، وروکتل. د پخوانۍ آرامۍ او چوپتیا پر ځای، اوس ګېنهۍ اخېستی او ناآرامه و. داسې برېښېده چې هغه نه شو کولای هغه څه ناڅاپه چې خیال ته ورځي، ونه وایي:

-جګړه هغه څوک ګټي چې د هغې د ګټلو ټینګه پریکړه یې کړې وي. ولې موږ د اوسترلیځ په څنډو کې جګړه بایلوده؟ موږ چې مرګ ژوبله مو تر فرانسویانو زیاته نه وه، خو ډېر ژر او پخوا مو ځان ته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موږ په جګړه کې ماته خوړلې ده، نو ځکه موبايلوده. او موږ ځانته ځکه دا سې وويل چې هلته د سربښندنې لپاره ځانته څه نه و غوره کړي، موږ غوره ګڼلي وو چې ژر تر ژره د جګړې له ډګره ووځو. موږ ځانته وويل:

-جګړه مو بايلوده، بايد وتښتوو !او موږ وتښتېدو. که په هغه ورځ مو تر ماښامه د تېښتې او ماتې خبره نه وای کړې، خدای خبر دی چې څه به پېښ شوي وای، خو که سبا موږ دغه خبره ونه کړو، او تر يوې شېبې چوپتيا نه وروسته يې وويل:

- ته وايې زموږ د لومړې کرښې کينه خوا ضعيفه او ښی هغه يې پراخه او اوږده ده. دا هسې ملنډې دي، تشې خبرې دي، سبا موږ له څه سره مخامخ کېږو ؟ څه مو په انتظار دي؟ سل ميليونه ډولاډول تصادفونه چې په يوه شېبه کې هلته پېښېږي. په دې پورې اړه پيدا کوي، چې هغوی وتښتي يا د تښتې خيال ورشي، يا زموږ سرتېري دي چې د تېښتې خيال ورته پيدا شي. يا د هغوی يا د دوی څوک ووژل شي، خو هغه څه چې اوس تېرېږي، دا ټول يوه لوبه ده. رښتيانی خبره داده، له هغو کسانو سره چې ته د جبهې د لومړيو کرښو د کتنې لپاره لاړې، نه يوازې د جګړې ټوليز بهير ته ګټه نه شي رسولی، بلکې هغه ته خنډ هم پېښوي. هغوی يوازې د خپلو کوچنيو ګټو په خيال کې دي.

پېير په کرکجنه ژبه وويل:

-په دغه شان شېبو کې؟

سرداراندرې تکرار کړه:

-هو کې په دغه شان شېبو کې، د هغوی لپاره دغه يوازينۍ شېبې دي چې د خپل سيال، تر پښو لاندې نقب ووهي او خپله ديو بل نښان يا صليب يا کوم بل وياړ تر لاسه کړي. زه تصور کوم سبا ته به هم چارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې وي:

سل زره روسي او سل زره فرانسوي پوځيان به سره لوېږي، دا يو حقيقت دی، چې دوه سوه زره سرتېري به سره وهي. هر هغه څوک چې بې ډاره او په زړورتيا سربښندنه او جګړه کوي، هغه به بری ګټي. غواړې درته وايم، څه به پېښ نه شي. څومره به هغوی پورته اوبه خړې نه کړي، سبا ته مونږ جګړه ګټو. سبا ته چې هر څه کېږي او هر څه پېښېږي، مونږ جګړه ګټو.

تيموخين وويل:

-دغه ده ستا حضور والاحضرت ! دغه رښتيا او حقيقت دی. اوس به په ځان ډارېږو ! زما د کنډک سرتېري، باور کوي او کنه، هغوی خپل شراب هم ونه څکل. هغوی وايي چې اوس ددې خبرو وخت نه دی، او ټول چپ شول.

افسران پاڅېدل، سردار اندرې له انباره له هغو سره ووت او د کنډک ياور ته يې وروستې سپارښتنې ورکړې. کله چې افسران لاړل، پېير، سردار اندرې ته ورنېږدې شو، همدا چې غوښتل يې سردار اندرې ته څه ووايي، د انبار خواته په لاره کې يې د درې آسونو د پښو غږ واورېد. سردار اندرې هغې خواته وکتل، ولځوګين، کلاوزويخ يې چې يو قزاق يې ملګرتيا کوله وپېژندل. هغه رانېږدې او غږېدا ته يې دوام ورکړ. سردار اندرې او پېير بې له ارادې د هغو خبرې چې په الماني غږېدل، واورېدې، يو تن وويل:

-د جګړې ډګر بايد لاپسې پراخ شي، په دې اړه چې څومره وغږېږو، لږ مو ويلي دي.

بل غږ ځواب ورکړ:

-همداسې ده ! اصلي موخه د دښمن ضعيفول دي، نو ځکه د ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو وژلو ته هم باید پام ونه شي.

لومړي غږ د هغه خبره تصدیق کړه:

-هوکې ! همدا سې ده !

همدا چې سواره تېر شول، سردار اندرې له قهره ډکه په ملنډیزه موسکا ،د هغو خبرې تکرار کړې:

-هوکې !د جګړې ډګر باید پراخ شي. هو !زما لپاره د جګړې ډګر لیسه ګورې دی او هلته ما ته له پلاره، زویه او خوره پرته بل څوک پاتې نه دي،خو دغه ښاغلی دغو کارو ته هېڅ پام نه کوي، هماغه شان چې ما تا ته وویل:

-سبا ته به دا پردي نه وي، چې زموږ د بری خنډ کېږي، دغه دوی دي، چې د چارو د کړکیچنوالي لپاره، څومره یې چې له لاسه کېږي، هڅه کوي، ځکه د دوی الماني تفکر یوازې هغو دلایلو پسې ګرځي، چې هسې دلایل دي. د هغوی زړونو له هغه څه نه تش دي، چې زموږ زړونه یې غواړي او دا هغه څه دي چې د تیموخین، په زړه کې څپې وهي. هغوی، ټوله اروپا په خورا درناوي هغه ته وسپارله او اوس راغلي موږ ته هېوادپالنه رازده کوي. څه بې ساري استادان !

د هغه غږ بیا له قهره تېره شوی و.

پېیر وویل:

-نو تاسو فکر کوئ چې موږ د سبا په جګړه کې بری ګټو ؟

سردار اندرې په خورا پریشانۍ وویل:

-هو !هو !خو که پرېکړې ما پورې اړه درلودای، ما به اسیران نه نیول. اسیر یعنې څوک؟دا د غیرتیانو خبرې دي.

فرانسویانو زموږ کور تالان کړ او اوس به مسکو تالان کړي، ما ته یې سپکاوی وکړ، پر ما یې تېری وکړ او تر دې وروسته هم چې هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېږه وغواړي، کولای شي. هغه زما دښمن دی او زما له نظره هغوی جانیان دي. تیموخین او نور ټول هم همدا سې فکر کوي. هغوی باید اعدام شي. که هغوی زما دښمنان دي، هغوی زما دوستان کېدای نه شي او هغه خبرې چې هغو یې په تیلیزیت کې کړې وې، هسې تشې اپلتې دي.

پیېر، چې سترګې یې له حیرانتیا ځلېدلې، سرداراندرې ته کتل او وې ویل:

-هو !هو !زه په پوره توګه ستا خبرې منم.

هغه څه چې د موژاسیک په غونډۍ کې ټوله ورځ دی پریشانه کړی و، اوس ټول ورته په ډاګه شوي و، هغه اوس د دغې جګړې په اهمیت او په ټولیزه توګه د سبا ورځې د نښتې په ځانګړتیا ښه پوهېده. د هغو څېرو ځیرېوالی او په سلو ژبو غږېدونکې له معنا نه ډک حالت چې لکه برېښنا دده له سترګو تېر شوي و، اوس ورته روښانېده. دده اوس د جذبې او فزیکپوهانو په وینا نغښتې هېواد پالنې په معنا چې د ټولو خلکو په زړونو کې راخوټېدله، پوره سرخلاصېده او په دې پوهېده چې ولې په داسې ورین تندي، زغم او آرامۍ بې پروایي ته ورته دی، مرګ ته ځان چمتو کوي.

سرداراندرې دوام ورکړ:

- باید څوک اسیر نه کړو. د اسیرانو نیول د جګړې ځانګړتیا بدلوي او د هغې وحشت راکموي. د اسیرانو په نیولو موږ جګړه په لوبه بدلوو، د رحم او ښښنې په یوه لوبه او داسې نور او همدا رحم دی چې کار خرابوي. زموږ د مهربانۍ او رحم دغه احساس د یوې ښځې د مهربانۍ او رحم هغه احساس ته ورته دی، چې د یوه خوسکي په وژلو یې هم زړه خوږېږي. هغه داسې مهربانې او خواخوږې وي چې د وینو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدو زغم نه لري، خو د همدې خوسکي غوښه بيا له مرچو او مالګې سره په مزه مزه خوري. او موږ د جګړې او جګړه مارو د حق، د ښښنې او سخاوت، د ريبارانو د ساتنې او له بدمرغيو سره د مرستې لپاره هڅوي. دا ټولې اپلتې دي. ما په ۱۸۰۵ کال کې دا ټول حقوق، ښښنې او مرستې ليدلي، موږ يې غولولو او موږ هغوی غولول. د ولسي خلکو کورونه غلا او تالانه وي، جعلي پيسې خپروي او له ټولو نه لا لويه بدمرغي دا ده چې زموږ ماشومان وژني، زما پلار وژني او بيا د حقوقو خبرې کوي، د جګړې د حقوقو او پر دښمن د رحم او مهربانۍ. نه،اسيران بايد ونه نيول شي. بايد ووژل شي او خپله د مرګ هرکلی وکړي. په هرچا چې زما غوندې حال راغلی وای، هماغه شان به زوريدلی و لکه زه چې زوريدلی يم. ..

سردار اندرې، چې فکر يې کاوه، نور يې ددې پروا نه لرله چې فرانسويان به پر مسکو ولکه کوي او که به يې نه کوي. ناڅاپه چپ شو ،يوه درانه غم يې ستونی کېښکود. په همدې چوپتيا کې څو واره دا خوا هغه خوا لاړ، خو د هغه تبجنې سترګې ځلېدلې، کله چې يې په خبرو پيل وکړ، شونډو يې ربړديدې:

-که ستر دروغجن په جګړه کې نه وای، موږ به يوازې هغه وخت او هغه هم د يو څه لپاره جګړې ته تللو چې لکه دنن په شان يې د ځاريدنې ارزښت لرلای. نور به نو نه له دې کبله چې پاول ايوانوويچ، له ميخائيل ايوانوويچه خپه شوی، جګړه به پېښېدله، که هغه وخت جګړه داسې جګړه وي، لکه اوسنۍ هغه، بيا به د جګړه مارو سرښندنه هم بې ساري وای. هغه به بيا دغه وستافالڅيان، ګيسنڅيان او المانيان چې اوس ناپليون پسې روان دی، روسيې ته نه وای راغلي. موږ به هم اتريش او پروس ته نه تلو او په هغې جګړې کې به مو سرښندنې نه کولې چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم د چا او د څه لپاره دی. جګړه خوا خوږي او مهرباني نه ده، داد ژوند تر ټولو بدمخې او بده چاره ده، باید په دې پوه او له هغې سره لوبه ونه کړو. باید ددې اړتیا باید په تریخ حقیقت په ټینګه او په زغرده پوه شو. ټوله خبره په همدې کې ده، چې دروغ باید له رښتیا نه جلا کړو، په جګړه کې باید داسې واوسي لکه په جګړې کې، نه داسې، لکه په لوبه کې چې وي، حال دا چې اوس جګړه د بیکاره او بې عقلو کسانو په کار بدله شوې ده. پوځیان د ټولنې تر ټولو لوړه او ویاړمنه پاړکه ده. جګړه څه شی ده؟ په جګړیزو چارو کې د بري لپاره څه ته اړتیا شته؟ او د پوځي ټولنې اخلاق څنګه دي؟ د جګړې موخه، انسان وژنه او وسله یې جاسوسي، خیانت او خیانت ته لمسول، د خلکو بدمرغه کول او په هغو تالان ګډول دي، د سرتېرو د مړولو لپاره د هغو د شتمنیو غلا کول، دروغ ویل، او دوکه کول. په دوکې او دروغو د پوځي ځیرکتیا نوم ایښودل دي. د پوځیانو اخلاق یعنې د آزادۍ وژل. دې ته وایي پوځي نظم. ځان پالنه، ناپوهي، بیکاري، ظلم، بداخلاقي، نشه، دې ته وایي پوځي اخلاق، خو سره له هغه هم پوځیان د ټولنې تر ټولو غوره او لوړه طبقه ده، له چینه پرته ټول شاهان پوځي جامې اغوندي او هر هغه څوک چې تر ټولو زیات خلک ووژني، هغه تر ټولو زیاتې ډالۍ او جوایز تر لاسه کوي. سبا ته هم د یو بل د وژنې تکل سره سره کوي، د یو بل د وژلو او نابودولو سیالۍ جوړېږي او په سلګونه زره خلک یا له ژونده او یا هم له روغتیا نه بې برخې کوي. او بیا د مننې او لمانځنې مراسم جوړوي، چې خدای دوی ته د زیاتو وګړو د وژلو قوت ورکړی دی. (دوی د وژلو شویو شمېر په لاسي لاپسې زیاته وي). د بري جنډې او چغې پورته کوي، ویاړ غواړي او په دې توګه هر څومره چې یې زیاتې وژنې کړې وي، په هماغه کچه خپل خدمت او ویاړنه زیاته ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرداراندرې له رنځه په نرۍ خو قهرجنه چغه وویل:
-ځنګه لوی خدای له هغه ځایه دوی ته راګوري، او د هغوی خبرې اوري. آه !د زړه سره ! پـه دې وروسـتیو وختونـو کـې ژونـد ډېـر راتـه زورونکـی شـوی دی. زه ویـنم چـې کـرار کـرار پـه ډېـرو شـیانو پـوهېږم. انسان باید د خیر او شر د پېژندنې او پوهې ونې ته ورنږدې نه شي او میوه و نه ځکي. هغه زیاته کړه:
-ښه، ډېر ښه، وخت هم ډېر پاتې نه دی. تا ته هم خوب درځي، زه هم باید ویده شم.
ناڅاپه یې وویل:
- ځه، د ګورکې ښارګوټې ته لاړ ه
پېیر په ډار خو له خواخوږۍ نه په ډکو سترګو هغه ته کتل او ځواب یې ورکړ:
-آه، نه !
سرداراندرې بیا وویل:
-ځه، ځه لاړشه، تر جګړې مخکې باید خوب پوره شي.
هغه په چټکۍ پېیر ته ورنږدې شو ، له هغه یې غېږ تاو او ښکل یې کړ او چغه یې کړل:
-د خدای په امان، درځه، خو ځېږه ! هېڅ نه پوهېږم چې بیا بـه سره وګورو او کنه !
په چټکۍ راستون شو او انبار ته ننوت.
هوا تکه تیاره وه او پېیر نـه شو کولای د سرداراندرې د مخ حالـت ووینې، چې هغه خواشینی، قهرجنه او که خوښ او تاند و.
پېیر یو څو موده هک حیران او چپ ودرید او فکر یې کاوه چې هغـه پسې ببرته او که کورته لاړ شي، خو په پای کې یې ځانته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه، نه هغه ما ته اړتیا نه لري او زه پوهېږم چې دا زموږ وروستۍ دیدن و، هغه یو لوړ ژوراسویلی وویست او د ګوکي سیمې ته خپل کورته لاړ.

سرداراندرې، چې انبارته راستون شو، په خپل کټ کې پریوت، خو خوب چېرته و.

هغه سترګې وتړلې، یو خیال په بل بدلیده، خو ده ته خوب نه ورته. په دغو خیالونو کې یوه هغه، دی ډېر په ځان اخته کړ. هغه ته په پترزبورګ کې، خپل یو ماښام داسې وریاد شو لکه پرون. دا هغه ماښام و چې د ناتاشا بشره له خوښۍ او لېوالتیا نه لکه اور داسې ځلېدله او ده ته یې نقل کاوه چې څنګه تېر اوړی دا د مرخېړیو د ټولولو لپاره یوه لوی ځنګله ته تللې او هلته ورکه شوې وه. هغې په ګډوډو خبرو کې، د ځنګل چوپتیا، خپلو احساساتو او له هغه بوډا سره چې د شاتو مچۍ یې ساتلې وې، خپلې خبرې اترې انځورلې. هغې په هره شېبه کې خپلې خبرې پرې کولې او ویل به یې:

-نه، نه شم کولای، زه نه پوهېږم چې تا ته یې سم نقل وکړم. نه شم کولای، ټول هغه څه کټ مټ درته ووایم، لکه څنګه چې و، نه نه ته نه پوهېږئ!

سره له هغه چې سرداراندرې هغه آراموله چې دی پوهېږي، په ټولو هغو خبرو چې هغه یې وایي، پوهېږي، خو بیا هم ناتاشا له خپلې وینا نه ناراضې وه. هغې غوښتل د خپل ګوګل د هغې ورځې شاعرانه احساسات څرګند کړي، خو هغې نه شو کولای:

- ته نه پوهېږئ. هغه بوډا څه ښکلی و او هغه ځنګل څه تت او تیاره.. د هغه داسې مهربانه.. نه، نه زه نه شم کولای درته وې وایم.

هغه لا پسې سره کېده او لا پسې ګېنګۍ اخېسته. سرداراندرې اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسېږده، هماغه موسکا چې په هماغه ورځ د ناتاشې د نقل کولو په ورځ، د هغې سترګو ته په کتو کتو کې دده پرشونډو راخوره شوې وه، بیا راخوره وه،له ځانسره یې وویل:

-زه د هغې په خبرو پوهېږم، نه یوازې پوهېږم، بلکې هغه احساس چې د هغې ګوګل یې لمساوه، پر هغه صداقت او د هغې د روح پرربنستینتوب او سادګۍ چې په هغې کې نغښتي و، هغه مې هم احساسول او پرې پوهېږم. دا هغه څه و چې ددې روح او ځان یې سره نښلول. دا هغه روح و چې زه پرې مین وم او راته ګران و، څه بې ساري او څه د زړه کومي او لېونۍ مينه، څنګه نیکمرغی وم. او ناڅاپه وریاد شول چې دغه مینه څنګه پای ته ورسېږده. هغه،اناتول کوراګین، دغو احساساتو ،هو، له دغو احساساتو او خیالونو نه یوه ته هم اړتیا نه لرله، هغه دغه شیان نه لیدل او نه پرې پوهېږده، هغه په ناتاشا کې یوازې یوه تانده ښکلې پېغلوټې لیدله، چې آن له هغې سره خپل قسمت یو کړي او زه؟

... او هغه لا تر او سه ژوندی او خوشاله ګرځي.

سرداراندرې، داسې چې ګواکې چا اور پرې ورا یښی وي،په چټکۍ پاڅېد او دانبارتر مخې بیا په ګرځېدو راګرځېدو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۶

د اګست په ۲۵ مه نېټه د بارادنيو تر جګړې د مخه، مسيو دوبوسيت، د ټولواک د دربار د تشريفاتو مشر او ډګروال فابوير، لومړی له پاريس او دويم هغه له مادريده له ټولواک ناپليون سره د کتنې لپاره والويوا، ته راورسېدل.

دوبوسيت، جامې بدلې او درباري کالي يې واغوستل، بيا يې سپارښتنه وکړه، هغه غوټه چې ده له پاريس نه ځانسره ټولواک ناپليون ته رواړې ده، ده مخکې له مخکې د ټولواک کېږدۍ ته وروړي او خپله د کېږدۍ لومړۍ برخې ته ورننوت. هلته يې د ناپليون له ياورانو سره چې په ده راټول شول، خبرې يې پيل کړې او خپلې غوټې په خلاصولو شو.

فابوير، لاکېږدۍ ته ترننوتلو د مخه، له هغو جنرالانو سره چې پېژندګلوي درلوده، خبرې اترې پيل کړې. که څه هم ټولواک لا د ځان په جوړېدو و او کالي يې اغوستل، خو لا د خپل خوب په کوټې کې و. کله به يې پزه ګروله او کله به يې ستونی خلاصوه، وبه چورليد، را وبه چورليد، او د چوپړ برس ته د برابرۍ لپاره به يې کله خوربه ملا او کله هم غوړ ټټر هغه ته وربرابر کړ. يو بل ځانګړی چوپړ چې د ادکلن(کلونيا ) د بوتل پر خولې ګوته ورايښې او د هغه په نازک بدن يې عطر ورشيندل، داسې يې ښودله چې ګواکې يوازې دی، دی چې پر کوم ځای او څومره عطر پر هغه وروشيندي. د ناپليون لنډې څڼې لمدې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پر تندي راپرتې وې.

د هغه بشره که څه هم پړسېدلې او ژېړه وه، خو د نيکمرغۍ او خوښۍ نښې ترې وريدې. ځان يې رابرابروه، ستوني يې خلاص، آواز يې ډډ او خپل چوپړ ته چې په ده يې برس واهه وويل:

-ټينګ، لږ نور ټينګ.

هغه ياور چې دده کېږدۍ ته راغلی او د پروني شپې د جګړې په لړ کې يې د نيول شويو اسيرانو خبر ورکاوه، دخوب د کوټې تر مخې په دې هيله ولاړ و چې د ننوتلو اجازه واخلي.

ناپليون تندی تريو کړ، تر سترګو لاندې يې خپل ياور ته وکتل، د هغه خبره يې تکرار کړه او وې ويل:

-اسيران مه ساتئ، هغوی مو دې ته اړوي چې ويې وژنو. واه د روس د پوځ په حال ! او خپله ملا يې خمه او ځوربې اوږې يې د چوپړ تر برس لاندې وربرابرې کړې او غږ يې پرې وکړ:

-ټينګ، ټينګ، لا ټينګ !

بيا يې وويل:

-بس دی، نور بس دی ! په سر يې ياور ته اشاره وکړه او وې ويل:

-ښاغليو دوبوسيت او فابوير ته ووايئ چې راشي.

ياور ځواب ورکړ:

- ښه دی ټولواک !

او د خوب د کوټې له دروازې ووت.

دوو چوپړانو اعليحضرت ټولواک ته دريشي ورواغوسته او ټولواک د ګارد آبي رنګه دريشي پرغاړه په چټکو ګامونو د هرکلو کوټې ته ورووت.

ښاغلي دبوسو، هغه سوغاتونه چې د ملکې له خوا راوړي و، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلوار د ټولواک د راوتلو د ځای پر مخامخ مېز کېښودل، خو ناپلیون په دومره چټکۍ کالي اغوستي او داسې ژر راوتلی و چې دوبوسو، وخت نه و پیدا کړی، کارونه داسې جوړ کړي چې د ناپلیون لپاره نوی والی ولري. ..

ناپلیون .. د خپلې څېرې جدیتوب څه نرم کړ او وې ویل:

- ښه په پاریس کې څه حال و؟

دوبوسیت، باید هغه شان چې ښایي ځواب ورکړ:

-معظم ټولواک ! پاریس بې له تا نه په غم کې ډوب دی.

که څه هم ناپلیون په دې پوهېده چې دوبوسیت، به دغه ډول یو ځواب ورکوي او هغه هم د ښه تفکر په وخت کې په دې پوهېده چې دغه شان ځوابونه ناسم دي، خو بیا هم د دوبوسیت له ژبې نه ددغه شان خبرو په اورېدو خوشاله، له هغه سره یې خواخوږي وښوده او وې ویل:

-ډېر خواشینی یم، چې تاسو مې تر دې ځایه ځان پسې راوستئ.

-اعلیحضرتا ! ما له دغې ورځې پرته، د بل څه انتظار نه درلود چې تاسو د مسکو په دروازو کې وګورم.

ناپلیون وموسېد او په پریشانۍ یې سر پورته کړ او ښۍ خوا ته یې وکتل. یو یاور په نرمو او خښېدونکو ګامونو راوړاندې شو او هغه ته یې یوه زرینه تنباکمروړه ورکړه، ناپلیون هغه واخېسته.

تنباکمروړه یې پزې ته ونیوه او وې ویل:

-تاسو خو په عذاب نه شوئ، سفر مو خوښېږي، درې ورځې وروسته به، مسکو وګورئ. زه پوهېږم تاسو ددې هیله نه لرله چې دغه آسیایي پلازمینه وګورئ، خوندور سفر به وي. ..

د ناپلیون پام شو چې ټول درباریان د پردې لاندې پټ شوي شي ته ګوري، وې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا څه شی دی؟
دوبوسیت، له درباري دود سره سم، پرته له هغه چې ټولواک ته شا وروا ړوي، دوه ګامه شاته ولاړ او د پردې د لوړولو په ترڅ کې یې وویل:
-د اعلیحضرت ټولواک حضور ته د ملکې ډالۍ !
دا د ناپلیون د هغه ماشوم روڼ او ښکلی، تصویرو، چې د اتریش د امپراتور له لور نه پیدا شوی، هغه د ژوار، نومي نقاش له خوا انځور او خدا زده ولې د روم د پاچا په نامه یادیده، ښکلی ماشوم و چې ګڼې کړی کړی، ځنې یې درلودې، د هغه غلچک او کتل د مور په غېږ کې د مسیح کتو ته پاتې کېدل..
ناپلیون په یوې ښکلې شاهانه خوځېدا، تصویر ته اشاره وکړه او وې ویل:
-د روم باچا، خورا ښکلی دی. د ایتالویانو د ښکلا یز مهارت په ډول یې خپله څېره بدله کړه، په مینه مینه تابلو ته ورنږدې شو او داسې یې وښودله، چې ګواکې په فکرونو کې ډوب دی. هغه داسې احساس کړه، هر هغه څه چې دی وو ایي یا یې وکړي، هغه خپله تاریخ دی. هغه ته داسې وبرېښېده چې تر ټولو ښه کار چې دی کولای شي، خپل پرتم، واک او ځانغوښتنې ته په پام سره، چې د هغه زوی به د هغه له برکته، له نړۍ سره د (بیلبو )لوبه وکړي، هغه ددې لپاره چې ددغه پرتم، واک او ځانغښتې برخلاف، باید بل څه په ځان کې څرګند کړي او ځان د نړۍ تر ټولو ساده او مهربان پلار وښیي. سترګې یې له اوښکو راډکې شوې، تصویر ته وروړاندې شو، څوکۍ ته یې وکتل (سمدلاسه یې څوکۍ د هغه مخې ته کېښوده ) هغه پر څوکۍ مخامخ تصویر ته کېناست. د هغه یو اشاره ددې لپاره بس و چې ټول په پښو پاڅي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووزي او دغه ستر انسان له خپلو احساساتو سره یو ازې پرېږدي.

ښه ډېره موده چې هغه د تصویر په وړاندې پاتې شو، پرته له هغه چې خپله پوه شي، پر هغه د رڼا پرتې شغلو ته یې ګوتې وروړې، بیا پاڅېد، دوبوسیت او د څارنې ساتونکي یې راوغوښتل او سپارښتنه وکړه چې دغه تصویر ددې لپاره د باندې وباسي، چې د کېږدۍ د باندې شاوخوا راټول شوي کسان د روم باچا د تصویر له نیکمرغه کتنې او د خپل ګران ټولواک او لارښود د زوی او راتلونکي واکمن له لیدو نه بې برخه نه شي.

له هغه شان چې ده هیله لرله، په هغه موده کې چې ده له خپل دولتي مشاور دوبوسیت، سره سهارنۍ خوړله (هغه ویاړ چې د دوبوسیت په برخه شوی و) د کېږدۍ په وړاندې د افسرانو او د زاړه ګارډ د سرتېرو د منډو او شروشور یوه هنګامه چې د تصویر د لیدو هڅه یې کوله، پورته شوه.

له هغه سره هم مهاله له لېوالتیا نه ډکې چغې اوریدلې کېدې:

-ژوندی دې وي ټولواک ! ژوندی دې وي د روم باچا ! ژوندی دې وي ټولواک !

تر سهارنۍ نه وروسته، ناپلیون د دوبوسیت، تر مخې خپل منشي ته وویل چې د پوځ په نامه دده فرمان ولیکي:

خپل فرمان یې یو ځل بیا له تېروتنو پرته او ښه لیکل شوې ښه ولوست او وې ویل:

- هوکې ! لنډ او هر اړخیز !

په فرمان کې راغلي و:

-جګړه مارو نومیالو ! داده هغه جګړه چې موږ دومره ورته سترګه په لاره وو، ددې جګړې بری تاسو پورې اړه لري. بری زموږ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرومرو دی. هغې ته موږ زیاته اړتیا لرو. بری به موږ ته هر څه راکړي. د ژمي لپاره تاوده او آرام کورونه او بېرته خپلې مېنې ته راستنېدل. هغه شان چې په اوسترلیځ، فریدلاند، ویبتکس او سمولینسک کې وجنګېدئ، دلته هم وجنګېږئ. وجنګېږئ چې راتلونکي په خورا غرور او مېړانه ستاسو د سربښندنې یادونه وکړي. هغوی چې ستاسو د هر یو په اړه غږېږي، وایي به چې ده، د مسکو په لویه جګړه کې ګډون کړی و.

ناپلیون د خپل فرمان وروستې خبره بیا وویله: هو، د مسکو په جګړې کې !

اوښاغلي دوبوسیت ته یې، چې د سفر خورا لېواله و، بلنه ورکړه چې له هغه سره په ګرځېدا کې ملګرتیا وکړي. بیا له کېږدۍ نه ووت او د زین شویو آسونو خواته وروخوځېد.

دوبوسیت له ټولواک سره د ګرځېدو لپاره، له هغه مننه وکړه او وې ویل:

-ستاسو اعلیحضرت حضور پر ما خورا مهربان یاستئ.

هغه له آسه هم ډاریده، خوب هم ورته، او سورلۍ یې هم زده نه وه.

خو ناپلیون د سفر د غه لېواله ته سروښوراوه او دوبوسیت، اړو چې باید له هغه سره تللی وای. کله چې ناپلیون له کېږدۍ نه ووت، د کېږدۍ تر مخې دده د زوی د تصویر په وړاندې د ګارډ د راټول شویو پوځیانو چغو او نارو لاپسې قوت واخیست، خو د ناپلیون تندی تریو شو، په یوه شاهانه خوځېدا یې تصویر ته اشاره وکړه او وې ویل:

-یوسئ، له دې ځایه یې یوسئ ! لا تر اوسه پورې وخت دی چې هغه د جګړې ډګر ووینې.

دوبوسیت، سترګې وتړلې او سر یې ټیټ کړ او دا ددې ښنبه وه چې تر کومې اندازې پورې د ټولواک خبرې احساسوي او پرې پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۷

لکه هغه شان چې د هغه تاریخ لیکونکي وايي، ناپلیون د اګست په **۲۵** مه نېټه له سهاره تر ماښامه پورې پر خپل آس تېره کړه.

هغه، ځایونه او سیمې کتلې او ځارلې، پر هغو سپارښتنو چې د هغه مارشالانو ورته وړاندې کول، خبرې اترې کولې او خپلو جنرالانو ته یې خپل ځانګړي وړاندیزونه سپارل:

-د اګست په **۲۴** مه نېټه، د شواردینو د مورچلونو تر نیولو وروسته، د روس د پوځ لومړۍ کرښې د کالوچا، د سیند د غاړو په اوږدو کې ماتې او یوه برخه، یعنې کینه خوا یې شاته اوښتې وه. په دغې برخه کې نه کوم سنګر او نه کوم ځارځای و. سیند هم د دښمن د پوځونو د یرغل په وړاندې کوم خنډ جوړولای نه شو او یوازې همدا برخه وه چې مخې ته یې پراخه ډاګونه پراته وو. هر ځارونکی او لیدونکی، پوځي یا غیر پوځي په لومړۍ کتنې او لیدنې کې په دې پوهېده چې د فرانسویانو یرغل به له همدې ځایه پیل کېږي. داسې بربښېده چې د دې خبرې په اړه فکر کول په کار نه دي او د ټولواک او مارشالانو لپاره دا د پریشانۍ او زیات غم خبره نه وه. هغوی په دې اړه نه ځانګړې پلټنې ته اړتیا لرله او نه ځیرکتیا ته، په تېره بیا چې اوس دغه پیاوړتیا د نبوغ نوم ګټلی و او ټولو هڅه کوله هغه د ناپلیون حق وګڼي، خو هغو تاریخ لیکونکو چې وروسته دغه پېښې لیکلي، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راز د ناپليون مل کسانو او يا خپله ده، په دې اړه بل نظر درلود.
ناپليون، پر دغه ډاګونو وګرځېد، په خورا ځير يې ټول ځايونه وکتل، خپله يې له خپل ځان سره د ځېنو ځايونو د خوښېدو او يا نه خوښېدو له امله سر ښوراوه، پرته له هغه چې په دغه اړه خپل ژور خيالات چې دده د پريکړو بنسټ يې جوړاوه، خپل مل کسانو يا جنرالانو ته وواييي، ددغو څېړنو وروستې پايله يې د فرمانونو په بڼه هغو ته اوروله. د داوو (چې په ګير څوک اکمولسکي پېژندل شوی و) ددغه وړانديز چې له کينې خوا بايد د روسي پوځ نه راتاو شو، په اوريدو وويل چې دغه کار بايد ونه شي، خو په دې اړه يې چې ولې ونه شي، هېڅ نه ويل. د جنرال کمپان دغه وړانديز يې چې د هغه له مخې بايد په فليشی يرغل او خپل پوځونه د ځنګل له لارې قومانده کړي، ومانه. که څه هم مارشال نې، چې په ګير څوک الخنګينسکی مشهور شوی و او زړه يې وکړی شو وواييي چې په ځنګله کې پرمختګ کېدای شي، د پوځ د تباهۍ سبب شي، له دغه وړانديز سره يې په ډاګه مخالف کړی و.
د شواردينو د شاوخوا د سيمو تر کتنې وروسته يو څه وخت چپ پاتې شو، په خيالو کې ډوب شو او د توپونو د ډزو لپاره دوه هغه ځايونه چې سبا ته بايد د روسيې مورچلونو، تر اور لاندې نيولو لپاره جوړ شي او د هغه تر څنګ هغه ځايونه چې صحرايي توپونه په کې ځای پر ځای شي، په نښه کړي.
وروسته له هغه چې يې دغه او نورې څه سپارښتنې وکړې، بېرته خپلې قومانداني ته راستون او هلته يې د دغې جګړې د نظم کړنلاره د ليکلو لپاره خپل منشي ته واوروله.
دغه کړنلاره چې فرانسوي او ځېنو نورو درناوی وړ تاريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکونکو په خورا درنښت د هغه یادونه کړې، داسې وه:

هغه دوه مورچله چې د شپې له خوا د ګیرځوک اکمولسکی له خوا په لاندې شوي دښته کې جوړ شوي وو، له سهاره دد ښمن پر هغو دوو مورچلونو برید پیل کړ، چې مخامخ ورته پراته وو.

له دې سره هم مهاله د لومړۍ توپخانې قوماندان جنرال پیرینتي، له کمپان دیرشو توپونو او د بېسې او فریان له وسایلو سره، یعني په ټولیزه توګه دوه شپېته عرادې(په هغو کې خلورویشت د ګارد توپونه،د برش د کمپان د پوځ زغروال، او اته د بېسې او فریان د پوځ زغروالو ) وړاندې ځي او د دښمن مورچلونه او توپخانه تر اور لاندې نیسي.

جنرال سوربیه باید دې ته چمتو وي چې د لومړنۍ قوماندنې په اوریدو، خپل ټول مهمات د دښمن د مورچلونه پلو ورولېږي.

شهزاده پنیتوفسکي د همدغو ډزو په لړ کې د ځنګله له لورې، باید کلي ته لاړ او د دښمن پر مورچلونو راتاوشي.

جنرال کمپان باید په ځنګل کې وړاندې لاړ شي، چې لومړي سنګرونه لاندې کړي. په دې توګه جګړه پیل او وروستې قومانده به دناپلیون له خوا په خپله د دښمن د عملیاتو په لیدو ورکول کېږي.

د ښي خوا د توپخانې د ډزو په پیل سره پر کینې خوا باید ډزې پیل شي. د موران د پوځونو وسلوال او د ولیعهد لښکر د ښي اړخ د اوربل په لیدو، باید په چټکۍ برید پیل کړي. د ولیعهد لښکر به کلی (بارادنیو ) لاندې کوي او د هغه د درې پلونونه،تر اوښتونه وروسته به، د جنرال موران او جنرال ژی رار،له پوځونو سره چې دده تر قوماندې لاندې دي،د دښمن پر مورچلونو یرغل کوي. وړاندې به ځي او هلته به له نورو پوځونو سره یوځای پاتې کېږي.

دغه ټولې یادونې به په خورا ځیر تر سره کېږي او د هغه تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید پوره احتیاط پوځونه هم چمتو وساتل شي.
موژآسیک ته نېږدې
د ټولواک اردو د ۱۸۱۲ کال د سپتمبر ۶ مه

که ځان ته اجازه ورکړو او د ناپلیون دغه کرنلاره د هغه د نبوغ په وړاندې د هر ډول مذهبي ویرې نه لرې، وڅېړو. په ډاګه به ثرګنده شي، خورا ناڅرګنده او پېچلې ده. هغې څلور خبرې او څلور سپارښتنې لرلې، خو له هغو نه یوه هم عملي کېدای نه شو او عملي هم نه شو.

په دې کرنلاره کې راغلي وو چې:

-لومړی باید هغه ځایونه چې ناپلیون په نښه کړي، تر برید لاندې راشي. ..

دویم، جنرال پنیتوفسکي باید د ځنګله له لارې د کلي پلو وخوځېږي. ..

دریېم دا چې جنرال کمپان له ځنګله نه تر تېرېدو وروسته باید کلی اشغال کړي. ..

او څلورم دا چې: د ولیعهد لښکر به کلی (بارادنیو) لاندې کوي او درې پلونو ته به اوړي. ..

دغه کرنلارې لکه د هغه د نورو سپارښتنو او غوښتنو په شان عملي نه شوې او عملي کېدای هم نه شوې. له بارادنیو نه تر تېرېدو وروسته، ولیعهد د کالوچا په سیمه کې په شا وتمبول شو او نور وړاندې تلای نه شو. د موران او فریان لښکرې، نه یوازې کوم مورچلونه لاندې نه شو کړای، بلکې شا تګ ته اړ وتل او د هغو خپل مورچلونو روسانو ولکه کړل (دا هغه څه و چې ناپلیون په هېڅ ډول نه شو کولای د هغو اټکل وکړي او تصوریې هم نه کاوه). .. په کرنلاره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم راغلي و چې تر دغو سپارښتنو وروسته، نوري قوماندې به ناپليون په خپله د دښمن د عملياتو په ليدو او د هغو د بهير د پرمختګ له مخې ورکوي،خو دا کار هم ځکه ناشوني و چې د دغو جګړېزو پېښو د پېښېدو په تړوله موده کې ناپليون دومره لرې و، چې له هغو نه دده خبريدل خورا ګران و(دا هغه څه و چې وروسته څرګنده شوه) او هغه فرمانونه چې ده په دې اړه ورکول، هم له پېښو نه د ناخبرتيا په حال کې ورکول کېدل، نو ځکه د هغه عملي کېدل ،خورا ګرانه خبره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۸

ډېر تاريخ ليکونکي داسې وايي چې د بارادنيو جګړه ناپليون ځکه ونه ګټله چې هغه، د هغې په ترڅ کې والګي نيولی و، که هغه والګي نه وای نيولای، تر جګړې مخکې او د هغه په لړ کې به د هغه فرمانونو د لا لوړ نبوغ نه سرچينه اخېستې وای، روسيه به نابوده او د نړۍ نقشه او څېره به بدله شوې وای.

د هغو مورخينو لپاره چې وايي روسيه د يوه سړي، ستر پتر، په خوښه او تکل جوړه شوې، فرانسه د يو تن ناپليون، په امپراتورۍ بدله شوې او د فرانسې پوځونه د يو تن په قوماندې روسيې ته راغلل او جګړه يې پيل کړه او روسيه ځکه ستر او بريالۍ شوه چې ناپليون د اګست په ۲۲ مه نېټه په سخت والګي اخته شوی و، دا د هغو لپاره د منلو وړ ده.

که د بارادنيو د جګړې پيل يا نه پيل، د ناپليون ارادې پورې اړه لرلای، که ددې يا هغه فرمان ورکول د هغه په خوښه يا نه خوښه کېدای، نو په دې توګه دا په ډاګه ده چې د ناپليون والګی د روسيې ژغورونکی وګڼل شي، خو له دې کبله چې د اګست په ۲۴ مه د هغه له يو چوپړ هېر شوي و، چې هغه ته تودې او نه لمدېدونکې موزې ورکړي، بايد دغه چوپړ د روسيې اصلي ژغورونکی وګڼو... له بله پلوه که دغه دلايل چې روسيه يوازې د يوه تن (ستر پتر) په اراده جوړه شوې امپراتوري ده، د فرانسې د امپراتورۍ جوړېدل او پر روسيې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد د پوځ یرغل،د یوه تن ناپلیون په خوښه او اراده تر سره شوې ده، هغه دلایل دي چې یوازې ناسم او له عقله لرې، بلکې له انساني طبیعت سره هم اړخ نه لګوي،خو د دغې پوښتنې چې د تاریخي پېښو دلایل دا دي چې د نړۍ د چارو بهیر له مخکې د لوی خدای په اراده ټاکل شوی او د ټولو هغو انسانانو د ارادې محصول ذی،چې په دغه بهیر کې یې ګډون کړی دی او ددغه شان کسانو لکه د ناپلیون د ارادې اغېز رښتینی نه برېښي...

د بارادنیو په جګړه کې ناپلیون نه څوک وویشتل او نه یې څوک ووژل، دا کارونه ټول سرتېرو تر سره کړل او دا هغه څوک نه و چې خلک یې ووژل.

فرانسوي سرتېرو د بارادنیو په جګړه کې روسي سرتېري نه له دې کبله چې ناپلیون فرمان ورکړی ووژل، بلکې هغوی له دې کبله روسي سرتېري ووژل چې هغوی هیله لرله هغه ووژني. د فرانسې ټول پوځیان،فرانسویان،ایتالویان،المانیان،هنګریان،ټول او ټول وږي، بې جامو او له جګړو ستړي وو ، دوی،د هغه پوځ په وړاندې چې مسکو ته یې ددوی د تګ لاره تړلې وه،ځان داسې انګېره چې ګواکې د بوتل سر خلاص شوی او باید می یې هرومرو وڅکل شي، که هغه وخت ناپلیون هغوی له جګړې نه منع کړي وای، هغوی به هغه وژلی وای او خپله به یې د روسانو وژلو ته وردانګلي وای، ځکه هغو دا کار خپله دنده ګڼله... هغوی نارې وهلې: ژوندی دې وي ټولواک ! د هرې اپلتې په اوریدو سره یې بیا هم همداسې نارې وهلې او چغې یې آسمانو ته رسېدلې. هغوی له دې نه پرته چې چغې ووهي: ژوندی دې وي ټولواک ! او ځان د مسکو تر لاندې کولو وروسته ښه خوړو او کالو ته ورسوي بله لاره نه درلوده. نو ځکه دوی د ځان په شان نور انسانان یوازې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې ناپلیون یې غوښتونکی و ،نه وژل. په دې جګړه کې دا ناپلیون نه و ، چې د جګړې لارښوونه کوي، ځکه د هغه یو فرمان هم عملي نه شو .. که څه هم دې جګړې ته جوړه شوې کړنلاره، په هېڅ ډول تر نورو هغو کړنلارو نه چې پخوا له دې د نورو جګړو لپاره جوړې شوې وې، خرابه نه وه بلکې تر هغو ښه هم وه او د جګړې په موده کې ورکړل شوي فرمانونه هم تر پخوانو هغو خرابه نه وه، خو د بارادنیو د جګړې فرمان له دې کبله دې ته،ورته پخوانیو فرمانونونه توپیر درلود ،چې د بارادنیو جګړه، لومړې جګړه وه چې په هغه کې ناپلیون ماته کړې وه. ټولې ښه او غوره بې ساري کړنلارې او فرمانونه، چې کله بری رانه وړي، تل ناوړه او احمقانه برېښي او دهغو پوځي کارپوهانو له خوا غندل کېږي، چې جګړه ونه شي ګټلی او برعکس که څومره ناوړه او بیکاره کړنلاره او فرمان جګړه وګټي، هغه خورا ښه د پام وړ او غوره ګڼي او خورا ښه پوهان د هغو د ښېګڼو او غوره ځانګړتیاو د اثباتولو لپاره کتابونه پرې لیکي.

هغه کړنلاره چې (وای روتر) د اوسترلیځ د جګړې لپاره جوړه کړې وه، د پوځي کړنلارو په تاریخ کې غوره او بېلګییزه وه، خو هغه یې د زیاتې پاملرنې، بشپړتیا او هر اړخیزتوب له امله سره وغندله. ناپلیون د بارادنیو په جګړه کې د واک د ستر استازي په توګه په هماغه شان غوره او تر پخوا هغه ښه او لا ښه تر سره کړه، آن د جګړې د بهیر لپاره یې کوم ناوړه څه هم ونه کړل. هر غوره وړاندیز یې ومانه، هغه کومه تېروتنه ونه کړه، خپله یې هم متناقض نظریات او څرګندونې نه لرلې، نه ډار شوی و او نه د جګړې له ډګره وتښتېد ، په جګړه کې د خپلې پوهې او تجربې په مرسته یې، په کراره او عزت خپله جګړیزه مشري او غوره دنده په پوره ایمانداری تر سره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۹

کله چې ناپلیون د جګړې د کرښو، تر دویمې هر اړخیزې کتنې وروسته راستون شو، وې ویل:

-د شطرنج دانې اېښودل شوې او ټولې شوې دي. لوبه به سباته پیل شي.

هغه هیله وکړه چې تو دې جامې ورکړي او دوبوسیت، یې هم ځانته راوغوښت، له هغه سره یې د پاریس په اړه خبرې اترې پیل کړې او د هغو بدلونونو په هکله یې د هغه نظر وغوښت چې د ملکې په کور کې د راوستلو هیله لرله. د تشریفاتو رئیس د ټولو اک د حافظې قدرت ځکه حیران کړی و، چې د ژوند ورځني خورا واړه شیان او د هغوی ځای او بدلول یې هم په یاد و.

له ډېرو وړو او بې معنا شیانو سره یې لېوالتیا ښودله، له سفر سره د دوبوسیت، پر بې پایه مینې ټوکې کولې او د هغه ډاکتر په څېر چې ښه په ځان ډاډمن او په خپل کار ښه پوهېږي، بې پروا غړېږي، خپله چپنه اغوندي او د ناروغ پر سر درېږي او وایي:

-هر څه زما په واک او ذهن کې دي، ما ته هر څه څرګند دي، هر وخت چې وړ وي، پیل کوم او له بل هر چا نه ښه پرې پوهېږم. او س کولی شم ټوکې هم وکړم، څومره چې په کراره کراره زیاته ټوکې کوم، په هماغه اندازه باید تاسو ډاډمن، آرام واوسئ او زما نبوغ مو حیران کړي.

د خپل دویم جام تر څکلو وروسته، ناپلیون لاړ چې دده تر نظره سبا ته د مهم کار د سرته رسولو نه مخکې باید ویده شي. هغه د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکي کار له امله دومره سودايي و چې خوب يې ترينه تښتولی و. سره له هغه چې د شپې د لمدبل له مخې د هغه والګی لا زيات شو ، د شپې تر نيمايي وروسته په دړې بجو له خپلې کېږدۍ نه،بلې لويې کېږدۍ ته ورووت. او وې پوښتل:

-روسان شته که لاړل؟

هغه ته يې ځواب ورکړ چې د دښمن ډزې له هماغه ځايه روانې دي. او د ښه ده، په نښه يې سر وښوراوه.

د څارنې ياور کېږدۍ ته ورننوت.

ناپليون له هغه نه وپوښتل:

-ښه راپه ! ته څه فکر کوئ، زمونږ ننني کارونه به ښه وي؟

راپه ځواب ورکړ:

-بېشکه چې به ښه وي، معظم ټولواکه !

ناپليون هغه ته وکتل.

راپ وويل:

-ستاسو به په يادوي معظم ټولواک چې په سمولينسک کې مو ماته وياړ راوباښه او راته ومو ويل چې بوتل خلاص شوی دی او بايد وڅکل شي. ناپليون وروځې ګونځې او تندی تريو کړ، سر يې په منګلو کې کېښود ، تر يو مودې پورې چپ شو او بيا يې وپوښتل.

-دې خوار پوځ له سمولينسکه،تردې ځايه پورې ډېره مرګ ژوبله ليدلې ده،وګوره ! ما تل ويلې دي راپه ! بخت دوکه ماره کمچنۍ غوندې ده او اوس دغه حال خپله احساسوم. رښتيا پوځ خو لا تر اوسه بشپړ دی؟

راپ ځواب ورکړ:

-هو کې معظم ټولواکه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپلیون یو تابلیت راواخیست، هغه یې په خوله کې کېښود. او خپل ساعت ته یې وکتل. خوب نه ورته او سهار هم لا لرې و. دا سې فرمان نه و چې د وخت د تېرولو لپاره ولیکل شي، ځکه ټول فرمانونه ورکړ شوي و او اوس یې د عملي کېدو وخت و.

ناپلیون په ټینګه او ځېږه وپوښتل:

-پوځ ته ډوډۍ او وریځې ورکړل شوي دی؟

-هو کې، ټولو اکه !

-وریځې څنګه !

راپ ځواب ورکړ چې د وریځو په اړه یې هغه د ټولواک سپارښتنې ټولو ته رسولي دي، خو ناپلیون د نه رضایت په نښه سر وښوراوه، ګواکې هغه په دې باور نه لاره چې د هغه سپارښتنې دې تر سره شوي وي. چوپړ جام په لاس راننوت. ناپلیون ورته وویل چې راپ ته هم یو جام ورکړئ، کرار چپه خوله کېناست او په خوند خوند یې غړپ غړپ خپل جام څکه.

هغه خپل ګیلاس بوی کړ او وې ویل:

- زه خو نه په مزه پوهېږم او نه په بوی. نور نو ،له دې والګی نه ستومانه شوی یم، ټول د ډاکتر خبرې کوي او د یوې والګې دارو نه شي کولی !کورودیزار، دغه تابلیتونه راکړل، خو د ناروغۍ علاج هسې تشه خبره ده.

زمور خان د ژوند لپاره د یوه ماشین په څېر دی، هغه د همدې لپاره جوړه شوی دی. هغه باید په خپل حال پرېږدو. هغه باید خپله د خپل ځان ساتنه او پالنه وکړي. هغه تر هغه نه چې مور دارو پرې کوو ، کله چې یوازې وي، زیات کار کوي، زمور خان لکه ساعت دا سې دی چې باید هماغه خپل ټاکلی وخت ووهي. ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې برېښېده چې ګواکې لاره یې پیدا کړې وه، دا هغه څه و چې ناپلیون له هغه سره خورا لېوالتیا لرله، هغه بیا ناڅاپه یوه پوښتنه او تعریف رامنځ ته کړ او وې پوښتل:

-راپه ! تاسو پوهېږئ چې د جګړې هنر څه شی دی؟

او خپله یې ځواب ورکړ:

-د جګړې هنر هغه دی چې په ټاکلې شېبه کې تر دښمن نه پیاوړی او قوي واوسي.

او راپه، ځواب ورنه کړ.

ناپلیون وویل:

-سبا به موږ له کوتوزوف سره مخامخ کېږو، ګورو به چې څه کېږي، یادېږي مو، هغه پر براونا، کې قوماندانې کوله، خو د درې اونیو په اوږدو کې یو وار هم نه پر آس سپور شو او نه یې د جبهې کرښې وکتلې، ګورو به چې څه کېږي؟

هغه ساعت ته وکتل، د شپې څلور بجې شوې وې، خو خوب نه ورته او جام یې ټول څکلی و. کوم کار یې نه درلود چې وې کړي. پاڅېد، ښکته پورته وګرځېد، یو تود کوټګی یې واغوست، خولۍ یې پر سر کړه او له کېږدۍ نه د باندې ووت. هوا تیاره او لړې خورې وې. لړې له آسمان نه په سختۍ راشېوه وې. د فرانسوي پوځیانو د قطعاتو مخې ته بل شویو اورونو شغلې نه لرلې، خو هلته لرې لرې د روسي پوځونو، د بل شویو اورونو شغلې د لوګو په منځ کې ځلېدلې. چوپه چوپتیا خوره وه، خو د فرانسوي آسونو د سمونو تکهاري او ښنهاري وو، چې مورچلونو ته خوځېدلي وو، هغه له ورایه اورېدل کېدل.

ناپلیون د کېږدۍ تر مخې ګرځېده راګرځېده، د اور شغلو ته یې کتل، د سرتېرو ګامونو او د آسونو د سمونو غږ ته غوږ و، کله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږدې، مخې ته د ولاړ ساتونکی له مخې چې د ښکوخولۍ یې پر سر و، تېرېده، هغه د ټولواک په لیدو په وچه تېږه بدل شوی و، د هغه مخې ته ودرید او پـه هماغـه پـوځي قهرجن، خو هم مهالـه لـه خوا خوږۍ سره مـل، غـږ چې تـل بـه سـرتېرو سره پـه دې ژبـه غږیـده لـه سـاتونکي نـه وپوښتل:

-ته له څه وخت راهیسې خدمت کوې؟ همدا چې ځواب یې واورید، وې ویل:

-ښه! پخوانی یې، په غونډ کې یې تاسو ته وریځې درکړې؟

-هو! ټولواک، رایې کړې.

ناپلیون سر وښوراوه او له هغه نه لرې شو.

د سهار پنځه نیمې بجې وې چې ناپلیون سپور شو او د شواردینو کلي ته لاړ.

هوا مخ په رڼیدو وه، آسمـان کـه څـه هم تـک شـین و، خـو یـوازې یـو کنډک وریځ په ختیځ کې ولاړې وې. پرېښودل شوی نغري د سبایي پـه رڼایي کې کرار کرار په سړو کېدو و.

ښي اړخ ته د توپ یو درووند غږ انګازې جوړې کړې، پـه آسمان کـې یې کرښه جوړه او بېرته چوپتیا خوره شوه. یو څو دقیقې وروسته دویم او بیـا دریـیم غـږ واوریـدل شـو. فضـا ولړزیـده او بیـا څلـورم او پـنځم ډزونه، نږدې او نږدې چپرتـه ښـۍ خـوا تـه یې پـه پـرتم انګـازې جوړولې.

لا د لومړیو ډزو غږونه و ورک شـوی، چې نـورې ډزې او نـورې نـورې یو په بل پسې پرله پسې پیل شوې.

ناپلیون له مل چوپړانو سره د شواردینو د کلي مورچلونو تـه ورغـی او هلته له آسه کوز شو، لوبه پیل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۰

پيير چې له سرداراندرې نه ګوركي ته راستون شو ، خپل څاروان تـه يـې سپارښـتنه وکـړه چـې سبا سـهار د وختـه آسـونه چمتـو او دی هـم د وخته راويښ کړي. او سمدلاسه د باريس له خوا بـه هغـه کنـج کـې ويـده شو چې دده لپاره يې جلا کړی و.

کله چې پيير بله ورځ سهار پوره راويښ شو ، هېڅوک د باريس پـه جونګړو کې نه و ، د وړې جونګړې هينداري لړزيـدې او دده څـاروان ده ته ولاړ او ښوراوه يې.

داسې ښکاريده چې څاروان د هغه له راويښـېدو نـاهيلی شـوی دی، پرته له هغه چې پيير ته وګوري، هغه يې لـه اوږې نيـولی، پـه ښـوريدو ، ښوريدو کې يې ويل:

-تاسو حضور، ستاسو حضور، ستاسو حضور ! د ډزو غږ اورئ. ..

پيير چې نور پوره راويښ شوی و ، وويل:

-څه وايې، پيل شوه !

د جونګړې مخې ته ناست ساتونکي وايي، ستاسو حضور لکـه چـې اورئ، ډزې پيـل شـوې. ټـول ښـاغلي تللـي او پـه خپلـه والاحضـرت هـم پخوا له همدې ځايه تېر شو.

پيير، پـه تلـوار جـامې واغوسـتې او د جـونګړې مخـې برنـدې تـه وروووت. د بانـدې هـوا صـافه، تـازه شـبنم پـروت، طبيعـت او آسـمان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښی نښې ورولې. لمر چې همدا شېبه د وریځو له پردې نه ځان راژغورلی و، خپلې نیمایي شغلې یې کړی کړی د وریځو له کړی نه راځلولې، د کوڅې د بل پلو بامونو له شانه، په لاروکې پر پرتو خاورو د پراته شبنم، پر کورونو او د هغو پر کړکیو او د پېیر پر آسونو چې د هغه جونګړې ته نېږدې ولاړ و، د رڼا شغلې شیندلې، د باندې د توپونو غړمبهار، دم په دم ښه اوریدل کېده، یو یاور له خپل قزاق ملګري سره په کوڅه کې روان و.

یاور چغې کړل:

-ښاغلی ګرافه ناوخته شوې ده، ناوخته شوې !

پېیر، خپل ساروان ته وویل چې آس یې ورپسې ورولي، خپله لاړ او پر هغې غونډۍ وروخوت چې پرون یې له هغې نه د جګړې د ډګر ننداره کوله. پر دغې غونډۍ خورا ګڼ شمېر پوځیان راټول شوي وو، د قوماندانۍ د افسرانو د غږېدا غږ، چې په فرانسوي ژبه غږېدل، اوریدل کېده. د کوتوزوف سپین سر چې سپینه سره پټاره لرونکې خولۍ یې پر سره وه او سپین ځټ یې د اوږو په منځ کې ډوب و، له ورایه ښکاریده. د کوتوزوف لرلید (دوربین) په لاس کې و او تر غونډۍ لاندې لویه لاره یې څارله.

پېیر، پله په پله پر غونډۍ وروخوت. هغه د سترګو په وړاندې منظر ته وکتل او دی د هغه له پرتم هک پک پاتې شو. هماغه پرونۍ دښته او ډاګ و او ښکلا یې دده زړه وړی و، خو اوس ټوله دښته له سرتېرو ډکه او د توپونو له ډزو نه راولاړ شوی کنډک کنډک لوګي هغه پوښلې وه. د لمر زرینې وړانګې چې د هغه د شا له کینې خوا راپورته کېدې، لکه زرینې ګلابي رنګه نیزې له اوږدو سیوریو سره غبرګې غځولې او د سهار په سپېځلې هوا کې یې د دښتې پر لمنه د رڼا لړې خپرولې.. هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې لرې زرين فصلونه او يو نيم خال، شنه هغه له ورايه ځلېدل. وړاندې، مخکې، ښي او کيڼې خوا ته دښته کې، د سرتېرو ګڼه ګوڼه وه. دا او نور ټول هر څه دا سې د ژوند له خونده لېواله وه چې پېير د دغه شان يو پرتمين حال هيله نه لرله، خو له هر څه زيات هغه د جګړې ډګر او د هغې دواړه خواته د بارادنيو کلي او د کالوچا، ډېر زيات حيران کړی و.

د کالوچ، پر سر، په بارادنيو کې د هغه په دواړو خواوو کې په تېره بيا د هغه کيڼ څنګ ته د ککړ ساحل په خوا کې ولاړې لړې چې د راڼه لمر په راڅلېدو او خوريدو، دغو لړو لمن ټولوله.. د توپونو لوګي به د لړو سره ګډ شو،د لوګي او لړو په دغه سيند کې به د لمر سهارنيو شغلو کله د اوبو پر څېر، کله د شبنم پر بستر، کله د بارادنيو او د سيند پر سواحلو د خپرو سرتېرو د سر نيزو پر څوکو، د ځلاوو رڼا خوروله. د دغو لړو په منځ کې به کله سپينه کليسا، يو نيم ځای به د بارادنيو د کلي،ديو نيم کور بامونه او يا د توپونو له شنوبخونو صندوقونو سره دولاړو سرتېرو ډلې ليدل کېدې. دا هر څه په ښوريدا او په خوځېدا ښکاريدل. ځکه چې د لوګي او لړو څپې په دغې ټوله بې پايه سيمه کې په کراره روانې وې..

که څه هم عجيبه بربښېده،خو د دغه منظر ښکلا د توپونو همدغه لوګي او د هغو د ډزو غرمبهاری وو.

ناڅاپه ګړز شو او له هغه سره هم مهاله، يو ګرد، پنډ، سپين خړ رنګه لوګی پورته او بيا ګړز !

ګړز، ګړز ! بيا دوه کنډکه لوګي په هوا کې راښکاره شول، په هوا کې سره مخامخ، وړاندې لاړل او ګړز ګړز ! او غړمبهاری، هغه څه رښتيا کول چې سترګو ليدل.

کيڼې خوا ته د کروندې او بوټو پر سر، همدا سې پرله پسې د لوګيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنډکونه راښکاره او لرې لرې چېرې روان وو. او هلته په ځنګلونو کې د توپکو نريو نريو لوګيو ټوټو، د ګرديدو او وړاندې تګ وخت نه شو پيدا کولای، خو د هغه نري نري غړونو خپل آوازونه تر غوږونو پورې رسول..

پيير غوښتل همالته، د همدې لوګو، د همدې سرنيزو په ځلا او شروشور کې او د همدې خوځېدا او منډو په منځ کې پاتې شي. هغه کوتوزوف او له هغه سره مل چوپړانو ته ددې لپاره وروکتل چې له هغو سره له پيښو نه د اخېستل شوي احساس آزموينه وکړي. ټولو کتې مټې لکه دده په شان، يا ده ته داسې وبرېښېدل، په هماغه شان لکه دده احساس مخ وړاندې کتل، مخامخ د جګړې ډګر ته. د هغو ټولو په بشرو کې هماغه پټه او ناڅرګندونده تودوه لېوالتيا راڅلېدله چې ده پرون شپه احساس کړې وه او د سرداراندرې سره تر غږېدا وروسته د هغه په رښتينتوب پوه شوی و.

کوتوزوف، چې هماغه شان ډګر ته کتل او پرته له هغه چې له هغه ځايه بلې خوا ته وګوري، هغه جنرال ته چې تر څنګه يې ولاړ و، وويل:

-درځه !درځه ګرانه !خدای دې مل شه.

جنرال د قوماندې په اوريدو، له غونډۍ نه شېوه شوې لارې پلو وخوځېد او د قوماندانۍ د يو افسر ددې پوښتنې په ځواب کې چې چېرې ځي، په خواشينۍ او قهر ځواب ورکړ:

-د سيند آپلو !

پيير چې په خيالو کې زنګيده، د جنرال پسې وخوځېد او په زړه کې وويل:

- او زه؟ زه څه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال پر هغه آس سپور شو، چې قزاق ورکړ. پېير هم د خپل ځاروان پلو چې د آس جلو يې نيولې و، ورغی. له هغه نه يې وپوښتل چې کوم آس تر نورو آرامه دی. هغه پر آس سپور شو، د خپل آس يال يې راونيو، د آس پر ګېډه يې د خپلو پرانستو څنګنو او وسپنيزو پوندو نه احساس کړه، چې عينکې يې له سترګو لوېږي، خو نه يې شو کولای، د آس له يال نه لاس راپورته کړي، هماغسې يې جنرال پسې آس يرغه کړ او پر غونډۍ د قوماندانۍ د ولاړو افسرانو خندا يې راولمسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۱

هغه جنرال پسې چې پېير له غونډۍ نه راښکوه شوی و، د غونډۍ په لمن کې په خورا چټکۍ کینې خوا ته تاو شوی او پېير هغه ورک کړی او خپله د پلیو سرتېرو کرښو ته چې د هغه مخې ته ور روان و، ورګډ شو.

هغه هڅه کوله چې د هغو له ډلې ځان وباسي، کله به ښۍ او کله به کینې خوا ته تاوراتاو شو، خو هرې خوا ته ګڼ شمېر سرتېري ولاړ وو... د هغو پر څېرو یو ډول خواشینۍ راخوره وه. هغوی ټول په ناڅرګندو، خو مهمو کارونو لګیاوو. ټولو په ناراضي، خو پوښتنیزه غلچک دغه ثورب سواره ته چې سپینه خولۍ یې پر سر وه او هېڅ څرګنده نه و چې ولې او د څه لپاره پر آس سپور و، د دوی کرښو ته ورننوتلی دی، کتل. یو تن چغه کړې:

-دا ولې د کنډک په منځ کې سپور ګرځي؟

-بل تن د توپک په قنداق د هغه آس پورې واهه، پېير ځان پر زین برابر کړ او په خورا ستونزو یې متې ځان ټینګ کړ، د سرتېرو له منځه ووت او ځان یې آزاد او پراخ ډګر ته وو بست.

د هغه مخې ته یو پل ورغی، پله ته نېږدې نور سرتېري ولاړ وو او ډزې یې کولې، پېير هغو ته ورنېږدې شو. هغه پرته له هغه چې خپله پوه شوی وي، له هغه پله نه چې په کالوچا، کې د بارادنیو او ګورکی تر منځ پروت و ورنېږدې شوی و. دا فرانسویان و چې د جګړې په لومړیو شېبو کې یې د بارادنیو د لاندې کولو وروسته، ډزې کولې. پېير تر خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې او د هغه دواړو خواووته سرتېري ليدل چې په ريبل شويو پرتو وښو چې ده پرون ليدلی و، د ډېرو سختو لوګو په منځ کې هلې ځلې کوي. سره له هغه چې د هغه شاوخوا او په سرپورې بې ساري ډېرې رواني وې، په هېڅ ډول يې دا فکر نه شو کولای چې هغه د جګړې په ډګر کې دی.

هغه نه ډېرې اورېدې او نه يې هغه مرمۍ او ګولۍ ليدلې چې له هرې خوا او دده له سره تېرېدې. . دښمن هم چې د رود آپلو او تر ډېرې پورې يې وژل شوي کسان چې په بې شمېره توګه دده شاوخوا پراته وو، نه ليدل. د هغه داسې يوه موسکا وه چې له شونډو يې نه ورکېده، خپل شاوخواته يې کتل، يو تن بيا پر ده ورچغه کړل:

-دا د څه لپاره، لومړۍ کرښې ته راغلي دي؟

پر هغه يې غږ وکړ:

-زغله، ښۍ خواته زغله کينې خواته !

پيير کينې خواته تاو شو او بې خبره له ياور جنرال دايوسکی سره چې پخوا يې هم پېژانده، ټکر شو. دغه ياور په کرکه هغه ته وکتل او د خپل طبيعت له مخې يې غوښتل لکه د بل هر چا په شان پر هغه هم وربرګ شي، خو هغه يې وپېژاند، سر يې وښوراوه او وې ويل:

-تاسو دلته څه کوئ؟ او سمدلاسه په منډه له هغه ځايه لاړ.

پيير چې پوه شو، دا په رښتيا هم دده ځای نه دی، هلته کوم کار نه لري، له دې وېرې چې د چا د کارو خنډ نه شي، هماغسې يې دغه ياور پسې ور هه کړل.

هغه ته يې ځان ورورساوه او ترې وې پوښتل:

-دا څه خبره ده؟ اجازه لرم چې له تاسو سره لاړ شم؟

ياور ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کولای شئ، همدا شېبه کولای شئ ! او د هغه ثورب جنرال خوا ته يې چې هلته د وښو په منځ کې ولاړ، ورود انګل، يو څه شی يې هغه ته ورکړل او تر هغه وروسته يې پېير ته مخ ورواړاوه او په موسکا موسکا يې هغه ته وويل:

-ګرافه ! تاسو څنګه دلته راغلی یاست؟ همدا سې، د ننداري لپاره که څنګه؟

پېير وويل:

-هو، هو ! خو ياور د خپل آس مخ ترې واړاوه او په خپله مخه وخوځېد ، هغه ورته وويل:

-د خدای شکر دی، دلته کراري ده. خو د کينې خوا په کرښه کې، د باګراتيون په قطعه کې قيامت دی، خدای دې ترې ساته !

پېير وپوښتل: دا څه وايي؟ خدای مه کړه، دا چېرې؟

ياور وويل:

-له ما سره راځه، د غونډۍ سرته لاړ شه، د موږ له ځايه ،هو زموږ له مورچله هر څه ښه ليدل کېږي، څه کوئ؟ راځئ او کنه؟

پېير خپل شا وخوا ته ددې لپاره وکتل چې وګوري څاروان يې چېرې دی، او ځواب يې ورکړ:

-ښه، درځم درسره.

او په همدې وخت کې يې د لومړي ځل لپاره ټپيان وليدل چې ګوډ و مات روان دي او يا يو نيم چې د تګ نه دي، په بسترو کې وړل کېږي. په هماغه شنيليو کې چې پرون شپه له هغو تېر شوی و او د هغو ريبل شويو وښو د کودو کتارونه په ځمکه ليدل کېدل، چې خوندور عطرجن بوی ترې لګيده، پر ځمکه د پرتو وښو پر همدغو عطرجنو ريبل شويو وښو پر کودو يو وژل شوی سرتېری غځېدلی پروت و. سر يې کوږ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدلې خولۍ تر څنګه معلومېده. پېير غوښتل و پوښتي چې هغه ولې نه راپورته کوي، خو کله چې يې د ياور بر ګو ستر ګو ته چې هماغه خوا ته ځير و، وکتل. چپ پاتې شو.

پېير چې ونه شو کولای خپل څاروان پيدا کړي، له ياور سره د تنګې درې د لوړو، ژورو تر شا، د رايوسکی د غونډۍ پلو روان شو. د پېير آس د ياور د هغه نه ښېرته پاتې کېده او په هر ګام کې رېږديده.

ياور و پوښتل:

-داسې برېښي چې تاسو له سورلۍ سره روږدي نه ياستئ ګرافه !

پېير و پوښتل:

- نه، نه، هېڅ خبره نه شته ! خو تر لږې حيرانتيا نه وروسته يې وويل:

-خو ددې آس مزه نه شته، سم نه زغلي.

ياور وويل:

-هو کې، هغه ټپي شوی دی. د مخې ښۍ پښې زنګون يې لګېدلی، کېدای شي مرمۍ پرې لګيدلې وي، مبارکي درته وايم، ګرافه ! دا په لمبو د مبارکۍ اودس دی.

د لوګو په منځ کې د شپږم پوځ د موضع په اوږدو کې، د يوه ننبه ويشتونکی پسې چې پرله پسې ډزې يې کولې وړاندې لاړل او يوه واړه ځنګله ته ورسېدل. په ځنګله کې هوا سړه، آرامه او د مني بوی يې درلود. پېير او ياور له آسونه راکوز او پلي د غونډۍ پلو وخوځېدل.

ياور چې غونډۍ ته نږدې کېده، و پوښتل: جنرال دلته دی؟

هغه ته يې ښۍ خوا وښودله او وې ويل:

- دغې خواته لاړ، تر اوسه پورې همدلته و.

ياور پېير ته داسې وکتل، چې ګواکې نه پوهېده اوس له هغه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وکړي.

پيير وويل:

-هو، تاسو مه نا آرامه کېږئ، زه ځم، غونډې ته ورخېږم ! اجازه ده؟

-ځه، لاړ شه، له هغه ځايه هر څه ښه ښکاري او هلته ګواښ هم کم دی، زه هم درپسې درځم.

پيير د مورچل پلو ته وروخوت او ياور مخ ته لاړ. هغوی بيا سره ونه ليدل، خو وروسته بيا پيير خبر شو د دغه ياور لاس د هغه ورځ په ډزو کې پرې شوی و.

هغې غونډې ته چې په هغه ورځ پيير ورختلی و، هغه پېژندل شوی ځای و چې (وروسته روسانو هغه د اوربل مورچل او يا د رايوسکي د مورچل په نامه يادوه او فرانسويانو هغه د ستر يا مرکزي مورچل په نامه پېژانده) شاو خوا يې په لسګونو زره وژل شوي خلک پراته وو او فرانسويانو هغه د جګړې تر ټولو اغېزمن او غوره مورچل ګاڼه.

د دغه غونډې پر سر درې خوا وته مورچلونه، کيندل شوي وو او د دغو درې مورچلونو په اوږدو کې لس عرادې توپونه ځښ شوي وو، چې د هغو مخې ته ولاړو د يوالونو له سيوريو نه يې ډزې کولې..

پيير چې د غونډې سرته وروخوت، د يوه هغه سنګر په پای کې چې توپونه په کې ځای پر ځای شوي وو، کېناست او په موسکا موسکا، له ځان او جهانه ناخبره يې شاو خوا ته کتل. کله ناکله به هماغه موسکا پرشونډو له خپل ځايه پاڅېد او هڅه يې کوله د هغو سرتېرو خنډ نه شي، چې توپونه يې وړاندې وروسته کول، په هغو کې يې ګولۍ کېښودې او په تلوار تلوار به يې د باورتو کڅوړې ښکته پورته زغلولې او دده له څنګه به تېريدل. دغو توپونو پرله پسې ډزې کولې، داسې غرمباری او شراوشور چې غوږونه يې کڼول او د هغو لوګي ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضا تیاره کړې وه.

برعکس پلي سرتېري چې د مورچلونو د ساتنې دنده یې لرله او ښکاره وه چې له ډاره ناآرامه او ګبنې اخېستي دي د مورچلونو د چارو د سرته رسولو، د چوپړانو په منځ کې چې تل په خپلو چارو لګیا او تل په خپلو مورچلونو کې را ایسار شوي او له نورو جلاوو، یو ډول ګډه ولوله لیدل کېده، داسې یوه ولوله لکه چې د یوې کورنۍ ټول غړي سره نږدې کوي.

د پېیر، راتګ هغه هم په ولسي جامو او سپینه خولۍ پر سر په لومړي سر کې په سر تېري بده اغېزه وکړه، د هغه له څنګه به چې تېرېدل هک حیران او آن په ډار به یې هغه ته کتل. د توپ قوماندان چې یو اوږد لینګی لوړ ونی احمق وزمی افسرو، په دې پلمه چې د وروستي توپ حال ګوري، د پېیر پلو ته ورغی او په ځیر ځیر یې ورته کتل.

یو ځوان ګرد مخی افسر چې لا تنکی ماشوم بربښېده او داسې ښکارېده چې نوی حربي ښوونځي نه فارغ شوی وي او د هغو دوو توپونو په ساتنه پالنه کې یې خورا هڅه کوله چې ده ته سپارل شوي وو، په زغرده پېیر ته وویل:

-اجازه راکړئ تاسو ته ووایم، چې دا لاره پرېږدئ، دلته مه درېږئ، دلته اجازه نه شته.

سرتېرو به په شک او ګمان پېیر ته کتل او سرو نه به یې ښورول، خو کله چې ټول په دې پوه شول چې دغه سپین خولی سړی کوم ناوړه کار نه کوي، بلکې په مینه پر خاورو پلترۍ وهي. په درناوي ټولو ته موسېږي، د دښمن تر ډزولاندې داسې ګرځي ګرځي، لکه په باغ کې چې روان وي، د هغوی کرکه او حیرانتیا کرار کرار د هغه په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د هغو په منځ کې له ګرځېدونکو سپیانو چرګانو او وزو سره په خواخوږۍ او ټوکو بدل شول. د غو سرتېرو سمدلاسه هغه د کورنۍ د غړي په توګه و مانه، هغه یې خپل وګاڼه، هغه ته یې د زموږ ارباب نوم ورکړ، په خپل منځ کې به پر هغه غږېدل او خندیدل. یوه ګولۍ راغله او له پېیره دوه ګامه لرې ولګېده او وچاودیده. هغه، هغه خاورې چې د دغې ګولۍ چاودنۍ دده پر جامو ورشیندلې وې، له جامو پاکې کړې، وې خندل او شاوخوا یې وکتل.

یو سور مخی پنډ سرتېرې چې ټینګ او تک سپین غاښونه یې له ورایه ځرګند وو، وویل:

-ځنګه اربابه ! ته په رښتیا نه ډارېږې؟

پېیر وپوښتل:

- ته ډارېږې، که ځنګه؟

سرتېرې ځواب ورکړ: ځنګه ونه ډار شم؟ ګولۍ ده، ړنده ده، رحم نه لري، یو وار سړی ټوټې ټوټې کوي، که په چا ولګېږي، نور نو ژوند نه پاتېږي، آیا کېدای شي ونه ډار شو؟

یو څو تنه سرتېري د پېیر له شاوخوا نه راټاو شول، هغوی داسې نه انګېرله چې ګواکې دی دې هم د نورو په شان وغږېږي او له دې چې دوی په دې پوه شوي وو له خپلې دې خبرتیا نه خوشاله و، د هغوی نه یو تن وویل:

- دا عسکري خو زموږ کار دی، دی خو ارباب دی، خو عجب ارباب !

ځوان افسر د پېیر شاوخوا ته پر راټول شویو سرتېرو غږ وکړ او قوماندہ یې ورکړه:

-خپلو ځایونه ته ! له ورایه ځرګنده وه، چې دا لومړی یا دویم وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې ورسپارل شوې چارې ترسره کو ،نو له همدې کبله هر څه يې په خورا ځير او په خپل وخت کول، له دود سره سم يې سرتېرو ته سپارښتنې او مشرانو ته ګزارش ورکاوه.

د توپونو د ډزو غړمبهارې او د توپکو د ډزو آوازونه، په ټوله دښته په تېره بيا د هغې په کين اړخ کې، چېرې چې د باګراتيون قطعه مېشت او په سنګرونو کې يې سرښندنه کوله، لاپسې زيات تېدل، خو چېرې چې پېير ولاړ و ، د ګڼ ټينګ لوګي له کبله څه کم هېڅ نه ليدل کېدل. د غه راز د پېير ټول خيال د توپچي د سنګرونو د چوپړانو د ورې ډلې، يو والي ته چې له نورو نه جلا د يوې کورنۍ د غړو په شان برېښېدل، اختنه و ، هغه لومړنۍ لېوالتيا او خوند چې د پوره ناخبرۍ له امله د جګړې د ډګر د لومړي وار له ليدنې او د هغه له ډزونه هغه ته پيدا شوې و ، اوس په شنيلوکې د وژلو شويو سرتېرو مړو په ليدو، ځای بل احساس ته پرېښی و ، اوس له مورچلونو نه د راابستل شويو خاورو پر سرناست او خپل شاوخوا کې يې د سرتېرو څېرو ته کتل.

څه کم لسو بجو پورې يې شل تنه وژل شوي يا دغونډۍ پر سر ټپيان د توپچي له مورچله لرې يووړل. دوه توپونه هم له منځه تللي وو، له هر ځايه زيات پر توپونو زياتې ګولۍ وريدې. د مورچل سرتېري ګواکې دا ډزې او غړمبهارۍ نه اوريد ، ځکه د هغو د خندا ، ټوکو ټکالو او مستۍ دغږيدا شور له هر پلوه اوريدل کېده.

يوه سرتېري، يوې ګولۍ ته چې په غړمبهارې راروانه و ، اشاره کوله او نارې وهلې:

- ګولۍ !

بل سرتېري چې ليدل، ګولۍ د دوی له سره تېرېږي او د مدافع سرتېرو منځ ته لوېږي، په کړس کړس خندل او نارې يې وهلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دې خوا ته نه راځي، پلیو ته ور روانه ده، پلیو ته !

بل سرتېري ولیدل چې یو اربکي د را روانې ګولۍ له امله سر ټیټوي، او کیني، وې خندل او وې ویل:

-څنګه !ورسره آشنايي که څنګه؟

څو تنه نور سرتېري دیوال ته نېږدې راټول شوي او د هغه څه ننداري یې کولې چې د دوی تر مخې تېرېږي.

هغو له دیوال نه لرې مخامخ اشارې کولې او ویل یې:

-وینئ، کرښه یې ماته شوې، شاته تللي.

یو زوړ بریدګي په دوی غږ وکړاو وې ویل:

- خپل کار ته ګورئ، هغوی څه کوئ، شاته لاړل، نو لاړل، ستاسو یې څه، شا کې به کار لري. هغه یو سرتېری له اوږې راټینګ کړ، هغه یې په زنګانه پورې واهه او نور سرتېري له خندا نه شنه شول.

قوماندان له کومې خوا راغږ کړل:

-پنځم توپ راکش کړئ !

د توپ د راکش کوونکي غبرګ مست غږ واوریدل شو او ټولو په ګډه توپ را پر ځای کړ.

سورمخي ټوکمار چې له خندا نه یې غاښونه له ورایه بربښېدل وویل:

-نېږدې وه چې د هغه له سره ولوېږي !او په ښکنځلو یې هغې ګولۍ ته چې د توپ څرخ او د یوه سرتېري پښه یې الوزولې و، ښکنځلې کولې:

- نو، ګېدړانو !وویشتل !

یو بل، دغو کلیوالو اربکیانو ته چې زړه نازړه راغلي و چې خپل ټپیان پورته کړي، په خندا خندا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ای دوکه ماره !دوکه ماره !

سرتېرو چې ولیدل، اربکیان د هغه چا په پورته کولو کې چې ښه یې الوتې زړه نا زړه دی، ورچغې کړې او وې ویل:

-څه ته ګورئ !زموږ ورغستلي خوند نه درکوي، که څنګه؟..

پېير لیدل چې د هرې ګولۍ تر لګېدو او د هر سرتېری د وژل کېدو نه وروسته، ټولیزه لېوالتیا لا پسې زیاتېږي.

د سرتېرو په ګوګل کې پټ اورونه، شغلو کېدو ته نږدې وو، داسې لکه د تورو ګڼو وریځو د زړه په تل کې د برېښنا په شان..

پېير هغه څه ته چې دده تر مخې د جګړې په ډګر کې تېریدل نه کتل او لېوالتیا یې هم نه درلوده چې په هغه خبر شي، د هغه ټوله پاملرنه د سرتېرو په ګوګل کې راپسخېدونکي اور ته چې دم په دم را په بلیدو و، وه.(هغه دا احساسوله). داسې برېښېده چې دده په ګوګل کې هم دا اور رابلیدونکی دی..نور نو پېير ته چا نه کتل، یو دوه ځله چا پر هغه چغې کړې چې د لارې خنډ نه شي..سرتېرو ګولۍ او مهمات وړل راوړل تلل راتلل. په توپونو کې یې ګولۍ اېښودې، خپلې چارې یې د زړه له کومې او کله ناکله په ځانښودنې تر سره کولې. د هغو تګ راتګ نڅا ته ورته وو او داسې برېښېده چې ګواکې په فنرونو روان وو.

دغه له تندره نه ډکه وریځ رانږدې شوې وه او هغه اور و چې پېير یې د لګېدو په تمه و، په ځلېدونکو شغلو، د ټولو پر څېرو رڼا خپره کړه. هغه د توپچي د قوماندان تر څنګ ولاړ و. په دې وخت کې یو ځوان افسر په سلامۍ راوړاندې شو او وې ویل:

-ویاړمن یم، تاسو ته خبر درکړم ښاغلیه ډګروال چې د توپ اته ګولۍ پاتې دي، ډزو ته دوام ورکړو که څنګه؟

مشر افسر پرته له هغه چې سترګې له هغه دیواله چې ده په ځیر ځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته کتل، راوړاوې چغه کړل:

-ډزې !ډزې !

ناڅاپه کوم څه پېښ شول، ځوان افسر اخ کړل او لکه مرغه چې په هوا کې په غشی لګېدلی وي، تاوراتاو شو او پر ځمکه کېناست. هر څه د پېير تر سترګو عجيب، تياره او تت شول. ګولۍ يو په بل پسې راوريدلې او په سرتېرو او د هغو په مخ کې په ولاړو ديوالونو او توپونو لګېدلې. پېير، چې تر دې پورې د دغو غړمبهارو او ډزو آوازونو ته پام نه کاوه، اوس يې پرته له هغه نه بل څه نه اوريدل. د مورچل له ښۍ خوا سرتېرو د هورا ناري وهلې، منډې منډې وې او پېير داسې انګېرله، چې سرتېري نه مخکې بلکې شاته زغلي.

ګولۍ مخامخ هغلته، د ديوال پر څوکې د پېير مخې ته ولګېده او په ده يې خاورې ايرې راوشيندلې. د بربښنا د چټکۍ په شان يې يو تياره پر سترګو راخوره شوه... يو بريدګی قوماندان ته په منډه ورغی (او د هغه چوپړ په څېر، په داسې ژبه يې کوربه ته خبر ورکاه چې دده د خوښې شراب پای ته رسېدلي دي) په وير او زګيروی يې وويل:

-ګولۍ خلاصې شوې.

مشر افسر د پېير پلو راتاو شو او چغه يې کړل:

- دا داړه ماران څه کوي؟

د هغه بشره تکه سره اوښتې، خوله خوله و او برندې سترګې يې ځلېدلې. د هغه سترګو او غلچک غوښتل چې د پېير له سترګو سره مخامخ نه شي.

پر سرتېري يې ورچغه کړل:

-منډه کړه، منډه کړه، وسلتون ته ورشه !د ګوليو صندوقونه راوړه.

پېير وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه ځم.

افسر پرته له هغه چې هغه ته څه وو ایي په چټکو او لوړو ګامونو بلې خوا ته لاړ او چغه یې کړل:

-هغه سرتېرى چې ورته ويل شوي و د ګولۍ صندوقونه راوړي، د پېير سره ټکر شو او وې ويل:

-اخ، باداره، دلته څه کوئ؟ دلته خو د تا ځاى نه دى.

سرتېرى دا وويل او د غونډۍ نه ښکته شېوه شو.

پېير سرتېري پسې رامنډه کړه او له هغه ځايه چې ځوان افسر ناست و لږ ورتاو شو، يو، دوه، درې ګولۍ يې له سره تېره شوې، د هغه تر مخې شاوخوا او شاته ولګېدې، د غونډۍ لمنې ته ورورسېد. کله چې د مهماتو شنه صندوق ته وررسېده، پام يې شو او وې ويل:

-زه چېرى روان يم؟

هغه ځاى پر ځاى ودريد او نه يې شو کولاى ځانته ځواب ورکړي، مخې ته لاړشي او که شاته وګرځي. خو ناڅاپه يو ګرز او د ځمکې درنې ريږديدا هغه شاته وغورځاوه او پر ځمکه ولګېده،خو په همدې شيبه کې د يو ستر اور ځلا، د هغه سترګې وبرېښولې او د يوې چاودنې داسې درانه کنګه ونکى غږ په فضا کې وچورليد، چې غوږونه يې کڼول. پېير چې را په حال شو، پر ځمکه ناست او په لاسونه يې تکيه کړې وه، د مهماتو هغه صندوقونه يې چې تر مخې ايښي وو، نښنه يې هم نه وه پاتې،يوازې د شنو او راخېستو تختو زړې ټوټې پر شنيلو، خورې ورې پرتې وې او لوګى ترې پورته کېده او يو آس چې د بار څه برخې يې ترې ځړيدې، ځان پسې کشکوه او په ځغاسته زغليده. يو بل آس لکه د پېير په شان په ځمکه لګېدلى پروت او زړه زورونکى زګيروى يې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۲

پییر، چې له ډاره ځان هېر کړی و، پاڅېد او له ځانه شاخوا ته د توپ مورچل ته چې هلته، یوازینۍ پناه ځای و، ورمنډه کړل.

پییر، چې کله مورچل ته ورننوت، پوه شو چې نور نو له هغه ځایه ډزې نه کېږي او هلته یې یوازې څو تنه ولیدل چې په کوم څه اخته دي. پییر، ددې لپاره وخت پیدا نه کړ، چې پوه شي د غه خلک څوک دي، هغه د مورچل ډګروال قوماندان ولید چې دیوال ته مخامخ پروت او شا یې ده ته ده، داسې چې ګواکې د غونډۍ په لمن کې څه ته ګوري او یو سرتېری یې لیده چې څو تنو له څنګلو نیولی، او دی له هغو نه د ژغورنې هڅه کوي، هغه سرتېری چغې وهلې:

-ورونو !

او کوم نور ډېر عجیب شیان یې ولیدل.

خو دی لا په دې پوه شوی نه و چې ډګروال وژل شوی دی او هغه سرتېری چې چغې وهلې، ورونو ! د هغه اسیر شوي د سترګو تر مخې یې د بل د اوږو په منځ کې نیزه ورومنډل شوه، خو لا سنګر ته پوره ننوتلی نه و چې یو ډنګر وچ ژیړ بشرې سړی یې ولید چې له څېرې نه یې خولې راروانې وې، شنه دریشي یې پرغاړه او توره یې په لاس، دده خواته راروان او چغې یې وهلې، پرته له هغه چې یو بل سم ووینې، یو او بل پلو ته یې سره ودانګل. پییر، چې هغه ته ورنږدې شو، پر خپل سر یې له هغه سره د ټکر د مخنوي لپاره خپل لاسونه وروغځول، د ځان او د هغه تر منځ یې خنډ کړل او هغه سړی یې (چې فرانسوي افسر و ) راونیو. یو لاس یې پر اوږې او بل یې د ستوني پر بیخ ورکېښود، له هغه سره غېږ په غېږ شو، افسر هم خپله توره وارتېږله او پییر یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګريوانه راونيو.

يو څو شېبې هغو دواړو ، له ډاره په ډکو سترګو د يو بل نا آشنا څېرو ته کتل، دواړه حيران و چې څه کوي او څه بايد وکړي او هر يو له ځانسره ويل:

-زه د هغه اسير يم او که دی زما اسير دی؟ خو فرانسوي افسر څکه زيات ګمان کاوه چې اسير شوی دی، چې د پيير له وحشته ډک زورور لاس پر هغه لاسبری دی او پرله پسې يې د هغه ستونی پسې کېښکود. فرانسوي افسر غوښتل چې څه ووايي، خو ناڅاپه د دوی له سره د يوې تېريدونکې ګولۍ غږ دواړه له ډاره ورېږدول. فرانسوي افسر په داسې يو چټکۍ ولويد چې پيير فکر وکړ د هغه اورمېږ مات او سر يې له ځانه جلا شوی دی.

پيير سر خم کړ او د هغه ګريوان يې پرېښود ، پرته له هغه چې فکر وکړي چې څوک د چا اسير دی. فرانسوي د مورچل پلو منډه کړې او پيير د غونډۍ د لمنې پلو راښوه شو. په منډو منډو کې يې په وژل شويو او ټپيانو کې پښې بنديدې او داسې يې انګېرله چې پراته کسان يې له پښو رانيسي، خو پيير لا د غونډۍ لمنې ته رسېدلی نه و چې تصور يې وکړ، د روسي سرتېرو يوه ډله چې مخامخ ده ته په ځغاسته ده، په چغو نارو منډې راوهي، په شروشور اله ګوله او مستۍ کې يو بل کېښکاږي، يو له بله غبرګ چاپېروي، يو بل ته پښې ږدي، لوېږي، پاڅېږي او لکه يو نه ايساريدونکی توفان د مورچلونو پلو وردرومي. (دا هماغه يرغل و چې يورمولوف ځان پسې ليکلی دی او دعوا لري چې يوازې د ده د مېړانې او زړورتيا له برکته و چې دغه يرغل ته لاره آواره شوه. ويل کېږي چې په همدې يرغل کې و چې د ګيورکي صليب چې ده په جيب کې درلود ، د غونډۍ د لاس ته راوړلو په وياړ ګټلی و )

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه فرانسويانو چې غونډۍ يې لاندې کړې وه، په تښتېدو شول، زموږ پوځيان د هورا ،هورا په چغو چغو هغوی د اسې پسې واخېستل چې د هغو درول او نيول هم خورا ګران کار و.

له مورچلونو نه يې ټيپيان راښکته کړل چې د هغو په منځ کې يو فرانسوي جنرال هم و او فرانسويان ترې راتاو شوي و.

ډېر اسيران پيير هغه پېژندل او ډېر هغه يې نه پېژندل، که روسان و او که فرانسويان، بشرې يې خورا رنځېدلې او کږېدلې برېښېدې، ټولو هڅه کوله ځان له مورچلونو نه لرې کړي، ځېنې په خپلو پښو روان و، ځېنې په ځمکه رغړېدل او ځېنې يې پر کراچيو اچولې وو. پيير غونډۍ ته وروخوت او له يو ساعت نه زيات هلته پاتې شو ، خو له هغې ډلې نه يې چې د يوې کورنۍ غړي ګڼل کېدل او ده يې هم خپل غړی ګاڼه، هېڅوک پيدا نه کړل. ډېر داسې مړي (وژل شوي) يې وليدل چې ده هغه پېژندل، خو يو څو تنه هغه يې ونه پېژندل. يو ځوان افسر چې د ديوال بيخ ته د وينو په ډنډ کې کړوپ ناست و ،سورمخي سرتېري، که څه هم لا ښوريده ،خو چا راجګ نه کړ.

پيير مخ ښکته منډه کړه، له خو ځانسره يې ويل:

-نه، نور نو هغوی له دې لاس اخلي، نور به دوی له هغه څه نه چې کړي دي، په وحشت کې شي. او په لالهانده توګه هغو ګڼو کراچيو پسې چې د جګړې له ډګره وتلې، لاړ.

لمر، چې لوګي يې پر مخ پرده غوړولې وه، لا لوړ ولاړ او مخې ته وړاندې په تېره بيا کينې خوا ته سيمونوسکايا ته نېږدې په لوګيو کې يو څه ايشيدل، د توپونو او ټوپکو ډزې نه يوازې کرارې شوې نه وې، بلکې په وار وار لا پسې زياتې شوې وې، داسې بې کچې چې تا به ويل کوم ناهيله مند انسان په خپل وروستي قوت سره چغې او رمباړې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۳

د بارادنیو د جګړې اصلي عملیات د زرو سـاژینو (۲/۱۳ کیلـومتره) په اوږدو کې د بارادنیو او د بـاګراتیون د پوځونو تـر منځ پـه واټـن کې پېښـه شـوه، لـه دغـه ډګـره بهـر، د ماسپښـین پـه وخت، یـو خـوا روسـي پوځونه او د اووارو، سوروځان وښود او له هغې بلې خوا ،لـه اوتیځیـه نه آپلو، د پنیتوفسکي او توچکوف پوځونه سره ولویـدل،خو دا د هغـه ځه په کچه چې د جګړې د ډګر په منځنۍ برخه کې تېریـدل، دوه واړه او کمزوره عملیات وو. تر ټولو سخت عملیـات د بـارادنیو او د بـاګراتیون د مورچلونو تـر منـځ، ځنګلـه تـه نېـږدې، پـه پراخـه فضـا کې چې دواړو خوا ته پرانستې وه، په خورا ساده او له دوکو او چل ول نه لرې، روان و.

جګړه د دواړو خواوو نه په ډزو چې په سلګونو توپونو په کې ګډون درلود، پیل شوه.

وروسته له هغه چې لوګی پر ټولې دښتې وغوړید، د فرانسویانو لـه خوا د دیسي او کمپان دوې قطعې له ښي پلـوه ،د بـاګراتیون پلـو، او د کینـې خـوا د ولیعهـد غونـډ د بـارادنیو پـه لـور د لوګیـو پـه غبـږ کـې وړاندې وررروان شول.

د شواردینو له سنګرونو نـه چې نـاپلیون هلتـه ولاړ و، د بـاګراتیون مورچلونه یو ورسته او د بارادنیو هغه دوه ورسته (ښي پلـو) لـرې لیـدل کېدل، نو له دې کبله یې هغه ځه چې د جګړې د ډګر په منځنۍ برخه کې تېریدل نه شو لیدلای. په تېره بیا چې لوګی او لړو ټوله دښته پوښلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوسه د پوځ سرتېري چې د باګراتيون د هغو خوا ته ورروان و، تر هغه وخته پورې ليدل کېدای شو چې د دوی او مورچلونو تر منځ شيلې ته ورکوز شوي نه وو. همدا چې دوی شيلې ته ورکوز شول، د توپونو او توپکو لوګي دومره ګڼ شوي وو چې د غونډۍ آپلو ته يې د هغو ورختل چور له سترګو پناه کړي و. کله ناکله به توري نښې هرومرو د سرتېرو سيوري، او کله ناکله به هم د سرنيزو د سرونو ځلاوې د لوګو په منځ کې وليدل شوې، خو له شواردينو نه، نه شو کېدای په دې پوه شي چې آيا دغه کسان خوځېږي، ولاړ دي، فرانسوي دي او که روسان. ختلی لمر، د هغه شغلې او ځلا مخامخ د ناپليون پر مخ ورځلېده. هغه چې لاس يې سايوان کړی و، په ځير يې د باګراتيون د پوځ ځارنه کوله. لوګی د دغه پوځ په وړاندې پرده شوی و، کله به داسې وبرېښېده چې لوګی خوځېږي او کله به ښکاره شوه چې پوځ روان دی. او کله به هم د توپونو د ډزو د غړمبهاري په منځ کې د خلکو چغې واوريدل شوې، خو دا نه پوهېدونکې وه چې دوی هلته څه کوي. ناپليون د غونډۍ پر سر ولاړ و او په لرليد (دوربين) کې يې کتل. د لرليد په وړه کړۍ کې يې لوګی ليده او د لوګي په منځ کې يې کله خپل او کله هم روسي پوځيان تر سترګو کېدل، خو کله به يې که لرليد له سترګو لرې کړ، په دې به نه پوهېده چې په لرليد کې ليدلی څه، چېرې و.

هغه له غونډۍ راکوز شو، کله به شا، کله به مخې ته وخوځېد، کله به ودريد، د ډزو غږ ته به غوږ شو او د جګړې د ډګر خوا ته به يې وکتل. نه يوازې له هغه ځايه ښکته چې دی پرې ولاړ و، نه يوازې پر هغه غونډۍ چې اوس دده څو تنه جنرالان پرې ولاړ وو، بلکې په خپله د نيزوالو سرتېرو په سنګرونو کې چې اوس روسي يا فرانسوي پوځيان وژل شوي يا ټپي يا ژوندي، يا له ډاره، له عقله وتلي سرتېري په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټول شوي وو، نه پوهېدل کېدل چې په دې ځای کې اوس هلته څه تېرېږي او څه کېږي.

د څو ساعتونو په اوږدو کې په دې ځای کې د توپونو او توپکو د نه آرامه کېدونکو ډزو په منځ کې کله روسان او کله هم فرانسویان، کله پلي او کله سواره، پر غونډۍ راښکاره کېدل، لویدل به، پر یو بل به یې ډزې کولې، سره نښتل به او نه پوهېدل به چې څه غواړي او څه کوي، چغې به یې وهلې او بېرته به ستنېدل.

د ناپلیون له خوا د جګړې ډګر ته لېږل شوي یاوران او هغه ریباران چې ده خپلو مارشالانو او قوماندانانو ته ورلېږلي وو، راستنېدل او د جګړې د حال او جاج خبرونه یې ورته رارسول، خو دغه خبرونه تول دروغ او ناسم وو، ځکه د جګړې په اور کې څوک په بشپړه توګه نه شي کولای وو ایي چې په دې شېبه کې اوس څه، چېرې تېرېږي. او هم له دې کبله چې دغه یاوران او ریباران د جګړې تر خونړیو کرښو پورې نه تلل او هغه خبرونه یې چې ناپلیون ته راوړل،نه د دوی خپل د سترګو لیدلی حال بلکې له بل چا به یې په بل ځای کې اوریدلي و. بله خبره دا وه چې د جګړې له ډګره تر ناپلیون پورې دوه درې ورسته لاره به چې کله دغه استازو وهله، جګړې به د خپل زور له کبله بله بڼه او تګ لاره پیدا کولو، او ده ته رارسېدلی خبر به نور نو سم نه و. د ساري په توګه، هغه یاور چې له ولیعهده دا خبر راوړی و چې بارادنیو لاندې شوې ده، د کالوچا پر سر ولاړ و پلیو فرانسویانو نیولې ده او له ناپلیونه یې پوښتنه کوله، چې آیا دی قوماندې ورکوي چې له پله نه وا اوړي او کنه؟ ناپلیون فرمان ورکوي چې له پله واوړي، هلته مېشت او دده بل فرمان ته سترګې په لاره پاتې شي، خو نه یوازې هغه وخت چې ناپلیون دغه فرمان ورکړ، بلکې آن هغه وخت چې د دغه خبر یاور ناپلیون ته ورروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، دغه پل روسي پوځيانو بېرته له فرانسويانو نه نيولى او لا د وخته يې هغه ته اور ورته کړى و. دا د دغې جګړې د هغو لومړيو يرغلونو نه و چې پېير هم ګډون پـه کې کـړى و. يـاورانو او ريبـارانو د نيزوالـو پوځونود مورچلونو نه په خورا ډار او وحشت ناپليون ته راغلل او خبر يې راوړ چې د فرانسويانو يرغل په شا تمبول شوى، کمپان ټپي شوى او داوو ، وژل شوى دى، حال دا چې هماغـه وخت د نيزوالـو مورچل، نورو پوځيانو نيولى و او په هماغه شېبه کې چې ناپليون تـه ويـل کېده چې داوو وژل شوى، هغه ژوندى او ډېر کم ټپي شوى و. ددغو ناسمو خبرونو له امله و چې ناپليون بـه دداسې چارو پـه اړه فرمانونـه ورکـول چې يا له دغه فرمانه مخکې تر سره شوې وې او يا د سرته رسېدو وړ نه وه او يا خو نه سر ته رسېدونکې پاتې کېده. هغه فرانسوي مارشالان او جنرالان چې د جګړې ډګر ته نېږدې،خو هغـو هم لکـه د نـاپليون پـه څېر خپله پـه جګړې کې ګډون نه درلود او يـوازې بـه يې کلـه ناکلـه تـر اور لاندې هلته ورغلل، پرته له هغه چې د ناپليون خوښه او مشوره تـر لاسـه کـوي خپلـه بـه يې ځينې فرمانونـه ورکـول چې څوک او کـوم پلـو ډزې وکړي، سپاره پوځونه چېرته لاړشي او پلي هغه څه وکړي. نو آن د هغـو فرمانو نه کټ مټ لکه د ناپليون د فرمانونو په څېر هغـه هم پـه ناسم او بې پايه توګه ترسره کېدل او زياتره وخت خو به د هغه فرمان د غوښتنو برخلاف کړه کېدل. د سرتېرو زياترې برخې چې د پرمختـګ سپارښـتنه ورته شوې وه، بېرته راتښتېدل او هغو تـه چې د دريدو حکم يې شوى و ، د دوى له هيلې نه لرې د روسي پوځيانو په ليدو به يا شا تـه تلل، يا بـه يې پـه خپـل سـر يرغـل پيـل کـړ. او يـا بـه سـورو پوځـو د روسـي تښتېدونکو سرتېرو په ليدو په خپل سر هغو پسې منډې وهلې. .. هغـو قوماندانانو چې په جګړه کې و ،هم دغه شان ټولې پرېکړې، په خپل سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خپله خوښې کولې. هغوی نه یوازې له ناپلیون نه بلکې له نی، داوو یا مورا ،نه هم پونښتنه نه کوله. هغوی نور نو د خپل سرچارو او پریکړو نه، نه ډاریدل. ځکه په جګړه کې پریکړه د انسان له ټولو نه ګران ځیز یعني ژوند پورې اړه لري. کله داسې بریښې چې ژغورنه په تېښته کې ده او یا مخې ته تګ کې، نو ځکه سرتېرو د جګړې په خونړو شېبو کې د وخت او خپلې خوښې له مخې پریکړه کوله،خو رښتیا خبره دا و چې دا شا یا مخې ته خوځېدا ،د سرتېرو حال ته څه ګټه نه رسوله، د هغو پېټی یې نه سپکاوه او د هغو حالت پلې نه شو بدلولای. پر یو بل د سورو یا پلیو یرغل هومره مرګ ژوبله او ژوند ته ګواښ نه پېښاوه ،د مرګ ژوبلې او ټپي کېدو ګواښ، له توپونو او توپکو وو ، د هغو له ګولیو او مرمیو نه، چې له هرې خوا نه په هوا کې چورلیدې.

همدا چې سرتېري به له هغه ځایه چې ګولۍ او مرمۍ وریدلې ځان ووېسته، د قوماندانانو د قوماندې غږ به هغو پسې انګازې جوړولې، او د نظم او ګواښ تر سخت اغېز لاندې به یې په منډه،تر اورلاندې سیمې ته راستانه کړل،خو هغو به بېرته د مرګ د ګواښ له امله د قوماندان ګواښ هېر او د ټولو او ډلیزو کړو تر اغېز لاندې به یې خپله پریکړه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۴

د ناپليون جنرالان، داوو، نی او ميورات چې جګړې ته نږدې وو او کله ناکله به هغې ته ورګډيدل، څو واريې د جګړې سيمې ته لويې منظمې قطعې ور استولې وې، خو د هغه څه برخلاف چې پخوا به په ټولو جګړو کې پېښېدل، دښمن د تېښتې پر ځای دا وار له وحشت او ډاره په ډک حالت، په ډله ايزه توګه خپل پوځيان بېرته تېښتې ته هڅول. هغوی به بيا راټلل او منظم کېدل به، خو وار تر وار به يې شمېر په کمېدو و، غرمې ته نږدې ميورات خپل استازی ناپليون ته ورولېږه او د مرستندوی پوځ هيله وکړه.

ناپليون د غونډۍ په لمن کې ناست و او جام په لاس ،(پونس) يې څکل چې د ميورات استازی ورته راورسېد او په ډاډ يې ووي، که ټولواک دوی ته يوه بله مرستندويه قطعه ورکړي، نو دوی به وکولای شي په ډاډ روس پوځ مات کړي.

ناپليون په حيرت د ميورات ځوان او ښکلي استازي ته چې د ميورات په شان يې تورې اوږدې کړۍ کړۍ څڼې لرلې وکتل او داسې چې ګواکې د هغه په خبره پوه شوی نه وي، په ځيرې ژبه د هغه خبره تکرار کړه:

-مرستندويه قطعه ! ناپليون له ځانسره فکر وکړ او وې ويل:

-کوم مرستندوی پوځونه؟ څنګه هغوی مرستندوی قوتونه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال دا چې نيم پوځ له دوی سره دی او د دوی په وړاندې يوازې د دښمن يوه خواره ضعيفه او بې مورچله خوا ولاړه ده، هغه په خورا ترخه ژبه دغه استازي ته وويل: د ناپل شاه ته ووايه چې لا غرمه شوی نه ده او زه لا په ښه توګه د شطرنج د تختې پر مخ، دانې ښې ليدلای نه شم. مارش، درځه !

ښکلي، تنکي، ځوان استازي چې لا لاس له خولې نه کوز کړی نه و، يوه سوړ ژور اسويلی يې ووېست او بيا يې هغې خوا ته ورودانګل چې خلک وژل کېدل. ناپليون پاڅېد او ځانته يې د کولينکور او بيرتيه په نامه افسران وروغوښتل او له هغو سره يې د هغه څه په اړه د زړه خواله پيل کړه چې جګړې پورې يې اړه نه لرله. د هغو خبرو په نيمايي کې چې د ناپليون ټول پام يې ځانته وروا ړولی و، بيرتيه وليدل چې يو سپور جنرال له خپلو ياورانو سره په خولو کې خيشت، په ځغاسته د غونډۍ پلو ورنږدې کېږي. دا سړی جنرال بيليار و. هغه له آسه راکوز، په چټکو ګامونو ټولواک ته ورنږدې شو او په خورا زړورتيا او لوړ آواز يې د مرستندوی پوځونو اړتيا ثابتوله. هغه په خپل شرف قسم وخوړ که ټولواک دوی ته يوه بله قطعه ورکړي، روسي پوځ به تالا والا کړي. ناپليون اوږې پورته واچولې او پرته له هغه چې څه ووايي، خپلې ګرځېدا ته يې دوام ورکړ. بيليار په لوړ آواز او لېوالتيا هغو جنرالانو ته غږېده چې ترې تاو شوي وو.

ناپليون بېرته، رارسېدلی جنرال ته راستون شو او وې ويل:

-بليياره ! تاسو يې ډېره توده خورئ ! د جګړې په لمبو کې سړی په آسانۍ تېر وزي، ځه لاړ شه، هر څه ښه وګوره او بيا بېرته ما ته راشه !

بليار، لا له سترګو پناه شوی نه و چې د جګړې د يوې بلې خوا، يو بل نوی استازی دوی ته راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپلیون په داسې یوه ژبه چې له ستونزو په تنګ شوی وي، وویل:

-نور څه شوي دي؟

استازی پیل وکړ:

-ټولواک، شهزاده..

ناپلیون په داسې یوې خوځېدا چې قهر ترې ځرګندیده وویل:

-مرستندوی پوځ غواړئ؟

استازی د هو په نښه سرښکته خواته وښوراوه او د حالاتو په اړه یې خبرې پیل کړې، خو ټولواک مخ ترې واړاوه، څو ګامه لرې شو ،ودرید او بیا یې هغه ته مخ راواړاوه، بیرتیه، یې ځانته وروباله. خپل لاسونه یې له خواری، نه وښورول او وې ویل:

-باید له احتیاطو نه یو څه مرسته وروليږو ! بیا یې بیرتیه ته(وروسته بیا ناپلیون ویل دا هغه هیلی، و چې ما باز ترې جوړ کړ) مخ وروا‌ړاوه او له هغه نه یې وپوښتل:

-څه فکر کوئ، کوم قوتونه وروليږو؟

بیرتیه ،چې له ټولو قوتونو، کنډکونو او نورو ټولو نه ښه خبرتیا لرله، وویل:

-معظم ټولواک د کلاپارید، فرقه وروليږئ.

ناپلیون د تایید په نښه سر وښوراوه.

استازي د کلاپارید فرقې پلو ته ورغی، دغه فرقه څو دقیقې وروسته د غونډۍ شا ته ولاړه وه، ناپلیون چپه خوله ولاړ او د فرقې د خوځېدو بهیر ته یې کتل،خو ناڅاپه یې مخ بیرتیه ،ته وروا‌ړاوه او وې وویل:

-نه، د کلاپارید ، فرقه ورلیږلی نه شم، د فریان فرقه وروليږئ.

که څه هم د کلاپارید د فرقې پر ځای د فریان د فرقې لیږل، کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې ګټه نه لرله او آن په ډاګه یې دا تاوان لاره چې د کلاپارېد د فرقې د ببرته درولو او د نوې فرقې د خوځېدو ،د پوځیانو په لېږلو کې څه ځنډ راوست،خو بیا هم د ټولواک فرمان کټ مټ ترسره شو. ناپلیون دا نه لیدل چې د خپل پوځ په وړاندې اوس د داکتر دنده لري او په خپلو دغو درملو د هغو روغتیا ته تاوان رسوي،خوبیا هم هغه په خپلې دغې دندې ښه پوهېده او هغه یې غندله.

د فریان، فرقه هم د نورو هغو په شان د جګړې د ډګر په تورو لوګو کې ورننوته او هلته د لوګو په غبږ کې ورکه شوه. له هر پلو په منډه منډه د استازو رارسېدل دوام درلود ،تا به ویل چې ګواکې دوی په ګډه سره پریکړه کړې وه. ټولو یوه خبره کوله او هغه د نویو مرستندویو قوتونو غوښتل و. هغوی ټولو په یوه ژبه ویل چې له روسي پوځونه پر خپل ځای، ځای پر ځای ولاړ دي او پر دوی یې د لمبو باران جوړ کړی دی. داسې اور چې د هغه له تودوخې نه فرانسوي پوځ ویلي کېږي.

ناپلیون پر یوې ټیټې څوکۍ کېناست او په چرتونو کې ډوب و.

لا له سهاره وږی پاتې شوی ښاغلی دوبوسیت، هماغه څوک چې د ټولواک په وینا د سفر ښه لېواله و ، ټولواک ته راغی، زړه نازړه یې زړه وکړ او په خورا درناوي یې ټولواک ته د سهارنۍ د خوړلو وړاندیز وکړ او وې ویل:

-زه هیله لرم اوس ددې وخت رارسېدلی دی چې ستاسو حضور ته د بري مبارکي ووایم.

ناپلیون په پټه خوله، د نه په نښه سر وښوراوه، ښاغلی دوبوسیت په دې ګمان چې د سر ښورول د بري د مبارکۍ نښه ده، نه د سهارنۍ د نه خوړلو ، په خورا درناوی یې د ټوکې په بڼه وویل:

-کله که څوک غواړي سهارنۍ وکړي، په نړۍ کې داسې دلیل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته چې د هغه د دغې چارې خنډ شي.

ناپليون په ترېو تندى ناڅاپه وويل:

- ځه ورکېږه ! او مخ يې ترې واړاوه.

د ښاغلي دوبوسيت، پر غم لړلې څېرې، ساده خو هم مهالـه د خواشينۍ او پښېمانۍ موسکا راخوره شوه او په داسې خوځېدا چې ګواکې د اوبو پر سر روان وي، د نورو جنرالانو پلو ورغی.

ناپليون د هغه جوار ګر په څېر احساس درلوده چې تل نيکمرغه ګټل لري، تل يې خپلې ناشمېره پيسې په بې پروايۍ پر ميز ارتيږلې، هغه يې ګټلې، خو هغه کله چې په دې تصور بيا هر څه سنجوي، د لوبې ټولې لارې چارې په پام کې لري، داسې انګېري چې هر څومره زيات په دې اړه فکر کوي، په هماغه کچه د هغه بايلود ل هرومرو کېږي.

هماغه پوځ و، هماغه جنرالان وو، جګړې ته چمتووالی هماغه شان و، د جګړې تګلاره په هماغه ځيرکتيا شوې وه، هغه هماغه ډول هر اړخيزه او لنډه وه، دی هم هماغه و چې و، هغه په دې پوهېده، هغه پوهېده چې دده تجربې او پوهه تر پخوا زيات شوي دي، آن دښمن هماغه دښمن و، هماغه د اوسترليڅ او فريدلاند په څنډو کې دښمن، خو دده پر توان چې فرمانونه يې ورکول، څه کوډې شوي دي .

پخوا به تر دوو، درې فرمانونو او تر دوه درې خبرو نه وروسته مارشالان او د هغو ياوران په خورا خواشينۍ او نيکمرغه څېرو په توپکو او ځغاسته شول، د برېو مبارکۍ به يې ويلې او د سر او مال د نيولو زيري به يې کول او ويل به يې:

-سرتېري مو اسير کړي، د دښمن بې شمېره جنډې او علمونه يې نيولي او د هغو توپونو او ګاډۍ يې تر لاسه کړي دي. ميورات به اجازه غوښتله چې د دښمن د پوځي کتارونو او مهماتو د نيولو لپاره سواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځونه ولېږي.. هر چېرې حال همدغه حال و، خو اوس څه شوي او پر پوځ څه بلا رالويدلې ده؟

که څه هم هغه ته د نيزوال پوځ د ماتې او دده د پوځ له خوا د لاندې کولو خبر را رسېدلی و، خو ناپليون ليدل چې د جګړې حالت پخوانی نه و، هغه وليدل، هغه احساس چې ده احساساوه، دده شاوخوا ټولو نورو هغو کسانو چې په جګړې کې يې تجربه لرله هم احساسوه. ټولې څېرې خواشينې او ټولو سترګو هڅه کولو چې يوله بل سره مخامخ نه شي. يوازې دوبوسيت، په دې نه پوهېده چې څه تېرېږي، ناپليون په جګړه کې د خپلو تجربو له مخې په دې پوهېده چې تر اتو ساعته جګړې وروسته، له ټولو هڅو سره سره د يرغليز پوځ نه بری څه معنا لري، هغه په دې پوهېده چې دغه حال څه کم د ماتې معنا لري، هغه په دې هم پوهېده چې په دې کړکيچن بې انډوله حالت کې يو کمکی تصادف هم کولای شي، دی او دده پوځ نابود کړي.

کله به چې هغه د روسيې دغه عجيبه جګړه له پيل نه تر دې ساعته پورې په خيال کې راڅرګنده کړه، ليدل به يې چې په دې جګړه کې آن يوه نښته هم دوی نه ده ګټلې، دوی،د دوو مياشتو په هلوځلو کې آن يوه جنډه يا کوم توپ هم غنيمت کړی نه دی، يا يې يو تن اسير نيولی نه دی، خو کله به يې چې خپل شاوخوا کسانو ته کتل د هغوی پټ غم به يې ليده، د روسي پوځ په اړه به يې د هغو خبرونه اوريدل، نو له دې ټولو نه به يې داسې ويره په زړه ورننوته لکه چا ته چې په خوب کې په زړه ورننوزي او هغه غمرلې خيالونه به يې پر ذهن ورخوريدل، چې کېدای شي دده د تباهۍ سبب شي. دده په خيال کې ګرځېدل چې روسان کېدای شي، د پوځ له کيڼې خوا يرغل وکړي، کېدای شي دده د پوځ پر منځنۍ برخه يا زړه وروخېژي او يا په بوې مرمۍ دی خپله نښه او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژني. د دې ټولو پېښو امکان و. هغه په پخوانيو جګړو کې يو ازې د هغو اټکلونو په اړه فکر کاوه چې د برې زيری به يې راوړ، خو اوس ډېرې بې شمېرې ناوړې پېښې خيال ته ورتلې او دی د هغو هر يوې پېښېدو ته سترګه په لاره و، هو کې، هغه د هغه چا احساس لاره چې خوب ويني، کوم جاني غواړي هغه ووژني او ده په ټول توان هڅه کړې ده، په خپل سوک هغه ته داسې ګوزار ورکړي چې ډاډه وي، هغه به له منځه يوسي، خو دی احساسوي چې لاس يې نرم او ناتوانه شوی و لکه يو زوړ ټوکر چې د لاندې لوېږي، ځان بيچاره احساسوي او د حتمي مرګ ويره پرده لاسبره کېږي.

دغه خبر چې روسان د فرانسوي پوځ پر کينې خوا بريد کوي، همدغه وحشت د ناپليون په زړه کې راولمساوه، د غونډۍ په لمن کې پر څوکۍ چپ ناست و. سر يې ښکته اچولی و او څنګلې يې پر زنګنو اېښې وې. جنرال بيرتيه، هغه ته راغی او هغه ته يې وړاندېز وکړ، چې ټولو اک خپله د جګړې لومړۍ کرښې ته لاړ شي او د جګړې جاج خپله واخلي.

ناپليون وويل:

-څه شی؟ څه مو وويل؟ ښه ده، ښه ده، وواېئ چې آس مې راولي.

پر آس سپور شو او د سميونوفسکايا خوا ته لاړ.

ناپليون هغې سيمې ته ورغی چې د باروتو لوګی له هغه ځايه کډه بارو له او په ټولو ځايو کې آسونه، يا يو نيم سړي يا هم ډله ډله په وينو کې لت پت پراته وو. دغه شان وحشتناک منظر او په لنډ تنګ ځای کې دومره زيات وژل شوي کسان، نه ناپليون کله ليدلي و او نه يې کوم يو جنرال.. ناپليون د سميونوفسکايا پر لوړو ورپورته شو او له هغه ځايه يې د لوګو د لړو تر شاو د سرتېرو داسې کتارونه ليدل چې دريشۍ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته نا آشنا وې، دا روسي پوځيان وو.

د روسي سرتېرو منظم کتار د سيميونوفسکايا د لوړو آپلو ولاړوو، د هغو د توپونو غړمبهاري نه کراريده او له هغو نه پورته کېدونکو لوګيو هغه ټول کتارونه پټول، هغه څه چې ناپليون ليدل، نور نو جګړه نه وه، پرله پسې انسان وژنه وه چې نه يې روسانو ته ګټه لرله او نه يې فرانسويان خپل ارمان ته نږدې کول. ناپليون خپل آس ودراوه او بيا په هغو خيالونو کې ډوب شو چې جنرال بيرتيه، له هغه راوبستلی و. هغه نه شو کولای هغه جګړه ودروي چې دده تر مخې دده شاوخوا ته روانه وه، ده يې لاربښوونه کوله، ده پورې يې اړه لرله، دا لومړی ځل و چې دغه جګړه د ناکامۍ له امله دده تر پامه بېهوده او وحشتناکه وبرېښېده.

يوتن جنرال چې هغه ته نږدې شوی و، دا زړه يې وکړ چې هغه ته وواېي هغه پخوانۍ زړه فرقه، جګړې ته ورمخ ته کړئ. مارشال، نی او بيرتيه چې د ناپليون تر څنګ ولاړ وو، يو بل ته وکتل، او د هغه جنرال پر بې معنا وړانديز يې له سپکاوي نه ډکه يوه خندا وکړه. ناپليون سر ښکته واچاوه، يوه شېبه چپ پاتې شو، او بيا يې وويل:

-د فرانسې د پولو نه درې زره او دوه سوه ورستې لرې، نه شم کولای خپل پخوانۍ زړه فرقه تباه کړم.

هغه د خپل آس مخه راواړوله او بېرته شواردينو پلو ته ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۵

کوتوزوف، خپل سپین سر ښکته اچولی او په درانه او څورب ځان پر هغې اوږدې څوکۍ چې قالینه پرې پرته وه او د هغې ورځې پرسهار یې پېبیر هلته لیدلی و ،ناست و. هغه هېڅ ډول سپارښتنې نه کولې او یوازې یې هغه وړاندیزونه چې ورته کېدل، یا منل او یا یې نه منل.

د بیلابیلو وړاندیزونو په ځواب کې چې ده ته کېدل، ویل به یې:

-هو ، هو ، همدا اسې وکړئ !خپله به یې دې یا هغه چوپړ ته ویل:

-هوکې د زړه سره لاړ شه، پام کوه !بیا به یې ویل:

-نه، دا مه کوه، ښه به دا وي چې صبر وکړو !

هغو خبرونو ته به یې په خورا ځیرتیا غوږ نیو چې دلته ویل کېدل او هر کله به چې له ده نه،د څه غوښتنه کېده ده به سپارښتنې کولې،خود خبرونو د اوریدو په لړ کې به دا سې برېښېده چې د دغو خبرونو کلماتو او جملو ته چې ده ته ویل کېږي، پام نه کوي، ډېرو نورو شیانو لکه دوینا وال د څېرې یا د وینا حالت او ډول دده پاملرنه ځانته وراړوه.

د پوځي اوږد ژوند له تجربو نه دی پوهېده او د پاخه عمر د عقل په مرسته ده کولای شول دا درک کړي چې د سلګونو زرو هغو وګړو مشري او لارښوونه چې د جګړې په ډګر کې له مرګ سره جنګېږي، باید یو تن ونه کړي، هغه په دې پوهېده چې د جګړې بهیر او برخلیک،نه د ستر قوماندان پریکړو او سپارښتنو ،نه د پوځیانو د ځای پر ځای کېدو د ځای، نه د توپونو شمېر، یا د مرګ ژوبلې کچې پورې،یوڅه پورې، هم اړه نه لري،بلکې د جګړې بهیر هغه نه لیدونکی او نه لاس ته راوړونکی قوت تاکي چې د وګړو روحیه نومېږي. هغه همدا قوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاره، پسې کتل يې او تر هغه ځايه پورې چې دده په واک کې و، د هغه لارښوونه يې کوله.

د کوتوزوف، د بشري ټولېز حالت آرامه، ځېرکه او د هڅې هاند څرګندونه کوله چې په سختۍ يې د هغه د پاخه عمر او درانه ځان نه په پيدا شوي ستومانۍ لاسبرى کاوه.

د سهار پر يوولسو بجو يې هغه زيرى راوړ چې د نيزوالو پوځونو هغه سنګرونه چې فرانسويانو نيولي و، بېرته روسي پوځونو لاندې کړې دي، خو د هغو قوماندان شهزاده باګراتيون ټپي شوى دى، کوتوزوف سوړ اسويلى وويست او سر يې وښوراوه.

خپل يوه ياور ته يې وويل:

-ځه لاړشه، پيوتر ايوانوويچ (باګراتيون) ته ورشه، ځان ښه پوه کړه چې هغه څنګه دى، تر هغه وروسته يې مخ شهزاده ويرتمبرګسک، ته چې دده تر شا ولاړ و، ورواړاوه او ورته وې ويل:

-والاحضرت ! دا به ښه نه وي که تاسو د لومړۍ فرقې قوماندانې وکړئ؟

د شهزاده تر خوځېدا نه ډېر ژر وروسته د هغه استازى، سيميونوفسکايا ته راغى او وې ويل چې شهزاده د مرستندويو قوتونو غوښتنه کوي.

کوتوزوف تندى تريو کړ او دوختورف، ته يې فرمان ورکړ چې د لومړۍ فرقې قومانده واخلي او شهزاده ته يې خبر ورکړ چې په دغه شان مهمو شېبو کې به ښه دا وي چې دى يوازې پرې نه ږدي او بېرته دده څنګ ته ورستون شي. کله چې يې د فرانسوي جنرال ميورات د اسيرولو خبر ورته راوړ، د سترې قوماندانۍ افسرانو هغه ته مبارکي وويله، دى ومو سېد او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-صبر وکړئ ښاغلو ! جګړه ګټل شوې ده او د میورات اسیریدل، کوم غوره او لویه پیښه نه ده، ښه به دا وي چې له وخته مخکې خوشالي ونه کړو ،خو له دې سره سره یې خپل یاور وګماره چې لاړ شي او په ټولو مورچلونو کې مېشتو پوځیانو ته دغه خبر ورورسوي.

کله چې له کینې خوا شیربینین، په چټکۍ راغی او د فرانسویانو له خوا یې د مورچلونو او سیمیونوفسکایا د لاندې کولو خبر راوړ، کوتوزوف د جګړې د ډګر له شروشوره او د شیربینین د بشرې له حالت نه دا اټکل کړی و چې ښه خبریې نه دی راوړی. هغه له ځایه پاڅېد او د پښو د شخۍ د اېستلو په پلمه لږ وړاندې لاړ، شیربینین، یې له څنګلې ونیو، هغه یې لږ څنګ ته کړ او یرمولوف ته یې وویل:

-لاړ شه د زړه سره، وګوره څه کولی شو او کنه؟

کوتوزوف،د ګورکي په ښارګوټي، د روسي پوځ په زړه کې و، زموږ د پوځ پر کینو کرښو دناپلیون یرغل، څو واره په شا تمبول شوي و. په منځنۍ برخه کې فرانسویانو ونه شو کولای، له بارادنیو نه وړاندې د کینې خوا په پای کې د اوراروف سواره پوځ وکولای شو، فرانسویان پسې واخلي.

تر دوبجو نه وروسته، د فرانسوي پوځ یرغلونه بند شول. کوتوزوف د ټولو هغو کسانو چې له جبهې نه راستنېدل او دغه راز دهغو کسانو په څېرو کې چې دده په شاوخوا کې وو، یو ډول ګېنې او تلوار لیده، دی د هغه ورځې له بري نه خورا خوشاله و ،خو ددغه بوډا ځانی توان نور نو پای ته رسېدلی و، څو واریې سرښکته راولوید، تا به ویل چې خوب وړی دی. هغه ته یې غرمنۍ راوړه.

جنرال یاور ولځوګین، هماغه جنرال چې د سرداراندرې له څنګه د تېریدو په وخت کې یې په الماني ویلي و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-جګړه باید آوار ډګر ته وبستل شي، هماغه چې باګراتیون د هغه له لیدو کرکه لرله، هماغه جنرال د غرمنۍ په وخت کې کوتوزوف ته راغی. ولځوګین، له بارکلي نه راغلی و. له دویتو بارکلی نه. او د جګړې د کینې کربنو په اړه یې ګزارش راوړی و. منطقي بارکلي دویتولي، چې هر څه د عقل په تله تلل، د ډلو ډلو تښتېدونکو او ټپي سرتېرو د پوځ تر شا اله ګولې په لیدو او دجګړې د ټولو شرایطو په پام کې نیولو سره دې پایلې ته رسېدلی و چې جګړه روسانو بایللې ده، نو ځکه یې خپل ګران یاور، ستر قوماندان ته ورلېږلی و، چې دغه خبر هغه ته ورسوي. کوتوزوف چې په سختۍ الول شوی چرګ ژووه، له خوښۍ نه په ډکو سترګو ولځوګین ته کتل. ولځوګین په احتیاط پښې خښولې او په داسې یوې موسکا چې د سپکاوی نښې په کې څرګندې وې، وړاندې ورغی او په نرمۍ یې د درناوي په نښه لاس خولۍ ته ورپورته کړ.

ولځوګین،له والاحضرت ستر قوماندان سره په یو ډول بې پروایۍ مخامخ شو او غوښتل یې داسې څرګنده کړي،دغه جنرال چې زده کړې یې کړي او په جګړیزو پوهې کې د نظر خاوند دی، روسانو آزاده پرېښې دی چې دغه زوړ بې ګټې او ناتوان بوډا ته د یو لاربښود بت په توګه، د لمانځنې ترکچې درناوی وکړي. دی خپل هم پوهېده چې له چا سره مخامخ دی، هغه له ځانسره ویل:

-دغه بوډا (المانیانو په خپل منځ کې کوتوزوف داسې یاداوه) دغه ښاغلی بوډا ځانته ښه ژوند جوړ کړی دی.

د کوتوزوف مخې ته ایښی قاب ته یې وکتل او د جبهې د کین اړخ د حالاتو (هغه شان چې بارکلي سپارښتنه کړې وه) په اړه یې خبرې پیل کړې. کوتوزوف ته هغه شان چې ده انګېرله، دغه عمر خوړلي قوماندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته:

-زما ټولې کربښې دښمن لاندې کړئ او د هغو شاته وهل ناشونی دي، ځکه موږ نور نو پوره سرتېري نه لرو، پوځیان تښتې او د هغو د تښتې د مخنوي ورتیا نه لرو. کوتوزوف له ژولو پاتې شو، داسې حیران شو چې ګواکې په دې نه دی پوه شوی چې هغه ته څه ویل شوي هغه ولځوګین ته هک حیران کتل، ولځوګین چې د بوډا حیرت ته وکتل، وموسېد او وې ویل:

-ما ځانته دا حق نه شو ورکولی، هغه څه له تاسو والاحضرته پټ کړم، چې په خپلو سترګو مې لیدلي دي. زموږ د سرتېرو کربښې چور ماتې شوي دي..

کوتوزوف تندی تریو کړ، په چټکۍ پاڅېد، د ولځوګین خواته ورغی او چغه یې کړل:

-تاسو ولیدل؟ تاسو خپله ولیدل؟ د ګوابښ په ښه یې خپل رېږدیدونکی لاس د هغه پلو ورپورته کړ، په چغو چغو یې وویل:

-څنګه؟ تاسو څنګه؟ دا زړه کولای شی ما ته داسې خبره وکړئ؟ تاسو په هېڅ شی نه پوهېږئ، ځه، وزه! زما له خوا جنرال بارکلي ته ووایه چې ستا ټول معلومات ناسم دي او تر تاسو نه ستر قوماندان د جګړې له بهیر نه ښه خبر دی.

ولځوګین غوښتل چې د هغه برخلاف څه ووایي، خو کوتوزوف د هغه خبره پرې کړه او وې ویل:

-دښمن په کیڼې خوا کې شاته تمبول شوی او ښۍ خوا کې یې ما ته خوړلې ده. تاسو ښاغلی! که سم لیدلای نه شئ، باید ځانته اجازه ورنه کړئ، هغه څه ووایئ چې نه پرې پوهېږئ. هغه په خورا ترخې ژبې دوام ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-لاړ شئ او جنرال برکلي ته ورشئ او پر دښمن د سبا د يرغل فرمان ورته ووايئ.

ټول هک پک او د بوډا ، ستر قوماندان له ژورې ستمهارې نه پرته، بل غږ نه اوريدل کېده. کوتوزوف چې پر ځان يې صليب انځوراوه دوام ورکړ:

-د جګړې په ټولو کرښو کې دښمن په شا تمبول شوی دی، زه له دې کبله د لوی خدای او بيا د خپل پوځ من منت باره يم. دښمن ماته خوړلې ده او سبا به يې د روسيې له سپېڅلې ځمکې نه باسو. او ناڅاپه يې ساندو ستونی ونيو او په سترګو کې يې اوښکې راشېوه شوې. ولڅوګين اوږې پورته واچولې، خولې يې کږه او په پټه خوله د هغه بوډا ځانستاينې او غرور ته هک حيران او ځان يې له هغه نه يو پلو کړ.

کوتوزوف، په دې وخت کې ښکلي تور څټي جنرال ته چې د غونډۍ له خوا راروان و، اشاره وکړه او وې ويل:

-هغه دی، هغه دی، زما اتل !

دغه سړی جنرال رايوفسکي و چې ټوله ورځ يې د بارادنيو د جګړې په ډګر کې تېره کړې وه.

رايوفسکي خبر راوړی و چې د دوی پوځيان په خپلو ځايو او په مورچلو کې په ټينګه ولاړ دي او نور نو فرانسويان له يرغله پاتې دي.

کوتوزوف د هغه خبرې واورېدې او په فرانسوي ژبه يې وپوښتل:

-نو تاسو د ځينو نورو په شان داسې فکر نه کوی، چې موږ بايد شاته لاړ شو؟

رايوفسکي ځواب ورکړ:

-نه، والاحضرته ! په هغو چارو کې چې لاپای ته نه دي رسېدلي، بری د هغه چا په برخه وي چې ټينګار کوي او زما په اند....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کوتوزوف د هغې خبرې پرې کړې، خپل یاور ته یې ورغږ کړ:

-قیصروف !راشه او کینه !د سبا ورځې فرمان ولیکه !او بل یاور ته یې وویل:

-او ته لاړ شه، ټولو جبهاتو او کربنو ته خبر ورکړه چې سبا ته یرغل کوو. د کوتوزوف او رایوفسکي خبرو لا دوام درلود او فرمان لا پوره لیکل شوی نه و چې ولځوګین بېرته له بارکلي نه راستون شو او وې ویل چې بارکلي دویتولي هیله لري چې د سبا د یرغل فرمان په لیکلي بڼه تر لاسه کړي، خو کوتوزوف پرته له هغه چې ولځوګین وګوري سپارښتنه وکړه چې پخواني ستر قوماندان په رښتیا له ځان نه د مسوولیت د پېټي د لرې کولو لپاره له هغه غوښتنه کوله، نو فرمان دې ولیکل شي. هغه ناڅرګند او مرموز اړیکي چې په ټول پوځ کې یې یو ګډوالی او خواخوږي رامنځ ته کړي وو او د سرتېرو د روحیې نوم یې ګټلی و د جګړې زړه بلل کېده. د جګړې په اړه د کوتوزوف خبرې یو ورځ وروسته په خورا لنډه موده کې په ټول پوځ کې انګازې جوړې کړې وې. هغه څه چې د کوتوزوف د خبرو په نامه د پوځ وروستیو کړیو ته ورسېدلي وې، په هېڅ ډول د هغه د فرمان وینا او ته ورته نه وې، آن د هغو خبرو معنا یې هم نه لرله چې کوتوزوف ویلي او اوس سرتېرو یو بل ته اورول، خو سره له دې هم د هغه موخه، د هر سرتېری او پوځي زړه ته ځکه ځان ورساوه چې هر څه کوتوزوف ویلی، هغه نه د دلایلو بلکې له هغه احساسه سرچینه اخېسته چې د سترقوماندان له زړه نه راپاڅېدلي و، هغه احساس چې دده او د روسي د هروګړي په زړه کې و.

هغه سرتېري او پوځیان چې لا تر اوسه په شک او تردید کې و، له پوځي مشرانو نه، پر دښمن د سبا ورځې د یرغل د خبرتیا د رښتیاوالي په اورېدو، خوشاله او لا پسې زړور شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۶

د سردار اندرې، غونډ، په هغو احتیاطي غونډونو کې و چې د شپې تر دوو بجو پورې د سیمینوفسکایا تر شا وزګاره د دښمن د توپونو تر سختو ګوزارونو لاندې انتظار ولاړ و. د غه غونډ چې په دوو بجو لا جګړې ته ورګډ شوی نه و او له دوو سوو نه زیات وژلي یې لرل، د مختګ امر تر لاسه کړ. د اوربشو تر پښو لاندې شویو کروندو او د سیمیونوفسکایا او د مورچلونو د غونډۍ ترمنځ یې چې په دې ورځ په زرګونو کسان هلته وژل شوي وو او اوس هلته د دښمن په سلګونه اور وروونکي توپونه ځای پر ځای شوي و، سنګر ونیو.

پرته له هغه چې غونډ له دغه ځایه وخوځېږي یا یو ډز وشي، دریمه برخه سرې یې دلته ووژل شول. هلته وړاندې په تېره بیا ښۍ خوا ته چې نه خوریدونکی لوګی ولاړ و، د توپونو غړمبهاري همداسې روان و او د لوګي له رازه ډکې پردې له منځه تر مخې ټول منظر یې له سترګو پناه کړی و. له توپونو ګولۍ په چټکۍ او له شر او شوره ډک غړونه او لاسي بمونه، دې پلو راالوتل. کله به تا ویل لس پنځلس دقیقې دمه ورکوي، دغه ګولۍ او ګوزارونه خطا وتل او کله به یې د څو دقیقو په اوږدو کې څو تنه د غونډ پر سرسرې له پښو وغورځول او مړي او ټپیان به د جګړې له ډګره راټول شول. له هر نوي ګوزار سره د هغه چا لپاره چې په تصادفي توګه، ژوندي پاتې وو، د ژوندي پاتې کېدو هیله کمېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کمېده..

په هر حال د غونډ د ټولو پوځيانو طبيعت يو ډول وو. ټول خلک په يو ډول چپ او په يو ډول خواشيني وو. کله ناکله به د کتارونو تر منځ د غرېدا غږ اوريدل کېده، خو د غرېدا دغه شروشور به هر وار د ګولۍ تر لګېدو وروسته په دې غږ چې کراچۍ راوړئ ! چپ شو. بل ځل يوه ناڅاپه ګولۍ يو سپي ته ننېږدې ولګېده، وچاودېده، سپي خپله لکۍ تر ګيډې لاندې ورټوله کړه ،په وحشت او زګيروي ډوله غپا يوې خوا ته وتښتېد. پر ټول غونډ د خندا او دکړسهاري ځپه خوره شوه،خو د ټوکو او خندا دغه شان شېبې زياتې نه اورېدېدې، ځکه دوی ټول داده، اته ساعته کېدل چې بې خوړو او اوبو د مرګ ترنه بشپړيدونکي ډار لاندې ولاړ وو او د هغو لــه ورېې او ډاره ســپينې تښتــتېدلې ځېــرې لاپســې سپينېدلې او ګونځېدلې.

سرداراندرې، هم د خپل غونډ د نورو وګړو په ځېر خواشيني او رنګ الوتی، لاس ترشا سر ښکته د اوربشو د کروندې تر څنګ په شنيليو کې ښکته پورته ګرځېده. نه يې د سرته رسولو او نه يې د سپارښتنې لپاره څه درلودل. هر څه په خپل سر تر سره کېدل. وژل شوي يې وړل، ټپيان يې وېستل او کرښې بيا سمېدلې او ډکېدلې. هغه سرتېري چې له کوم کېله له خپل ځای لرې کېدل، ډېر ژر به بېرته په خپل ځای ولاړ وو. په لومړيو وختونو کې سرداراندرې خپله دنده ګڼله چې په سرتېرو کې مېړانه راولمسوي او خپله د هغو لپاره بېلګه واوسي، له دې کبله به د هغو په کتارو کې ګرځېده راګرځېده، خو وروسته دی په دې ډاډه شو ، دې ته اړتيا نه شته چې هغو ته مېړانه وروښودل شي. د هغه ټوله روحي پياوړتيا لکه د بل هر يو سرتېرې د روحي پياوړتيا په شان، د دوی له ارادې پرته، پر دې ولاړه وه چې د خپل وحشتناک حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لیدو نه سترګې پټې کړای شي. د هېڅ شي په اړه یې فکر نه کاوه، ستومانه غوږونه به یې هماغه آوازونو ته، هماغه شان چې و، غوږ غوږ کړل. هغه یې کوله د ګولیو غږ د توپونو له آوازونو توپیر کړي. کله به یې د لومړي غونډ خورا زیاتو آشنا څېرو ته وکتل او انتظار به پاتې شو. هغه د ګولۍ غږ ته، چې د لوګیو تر شا له کوم لري ځایه را روانه وه، غوږ نیو او له ځانسره یې وویل:

-هغه ده، هغه بیا زموږ پلو را روانه ده. دا وار زموږ لپاره ده،،، یوه بله، بله ! دا وار بې ځایه نه لګېږي. ودرید، لږ شېبه یې د خپلو سرتېرو کرښو ته وکتل، له موږه واوښته، خو دا بله خطا کېږي نه... او بیا په ګرځېدو شو، هغه هغه کوله چټک او لوړ ګامونه او چت کړي، چې په شپاړلسو ګامونو کې د دوو پوځونو جلا کېدونکې پولې ته ور ورسېږي.

ګړز او ګړوز !

تر ده نه پنځه ګامه وړاندې ګولۍ ولګېده، خاورې یې وشیندلې او همالته ورکه شوه. سرړلې یې پر شا راخوره شوه، بیا یې د سرتېرو کرښو ته وکتل، دا ښکاره وه چې مرګ ژوبله ډېره شوې وه.، په دویم کنډک کې اله ګوله پیل شوې وه.

سرداراندرې چغه کړل:

-ښاغلیه یاوره ! سپارښتنه وکړئ چې سره ټول نه شي !

یاور د دغې سپارښتنې د سرته رسولو وروسته بېرته سرداراندرې ته راستون شو او له بلې خوا د سواره کنډک قوماندان چې پر آس سپور و راورسېد.

د یو سرتېری له ډاره ډکه چغه پورته شوه:

- پام کوه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګولۍ په غړمبهاري لکه الوتونکې مرغۍ چې ناڅاپه پرځمکه ولوېږي، له سرداراندرې نه دوه ګامه وړاندې، د سواره کنډک د قوماندان څنګ ته بې له کومې درنې چاودنې پر ځمکه ولګېده. آس تر ټولو د مخه، پرته له هغه چې پروا یې وکړي چې د ډار ښکارول ښه دي او که بد، په لوړه وشنېده، پښې یې لوړې کړې، او څه پاتې نه و چې جګړن وغورځوي او یوې خوا ته وتښتېد.

د یاور چغه پورته شوه: ځان واچوه !

او خپله پرځمکه وغځېد، سرداراندرې په شک او ګمان کې ولاړ و، ګولۍ د سرداراندرې او پر ځمکه غځېدلي یاور او د کولبه شوي پټي او شنیلیو تر منځ لکه څرخېدونکې لاټو د لوګو په لړه کې پر ځمکې ولګېده.

سرداراندرې له رخې نه په ډک غلچک، چې دده لپاره یې ساري نه لاره، شنیلیو بوټو او څرخېدونکي لوګي ته چې لکه تور توپ داسې بربېښېده وکتل او له ځانسره یې ویل:

-رښتیا مرګ راغی که څنګه؟ زه نه شم کولای، زه نه غواړم ومرم. ما ته ژوند ګران دی، ما ته دغه شنیلیې ګران دي، دغه ځمکه او دغه هوا. .. هغه په دغو خیالو کې ډوب و او دا یې هم نه هېرولـه چې ټول هغه ته ګوري.

هغه یاور ته وویل:

-شرم دی ښاغلیه افسره.

هغه دا وویل ولې ونه یې ویل چې له څه شي یا له چا شرم.

هم مهاله د څو چاودنو، د ګولیو د لګېدو، د هیندارو د ماتېدو شرنګهارې او د خفه کوونکي دود لړې پورته شوې. سرداراندرې یوې خوا ته ولوید، لاس یې پورته کړ او پر ټټر په ځمکه ولګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو تنو افسرانو هغه ته ورمنډه کړې، د هغه ښۍ خواته پر شنيليو د وينو لوی څاڅکي ليدل کېدل. راغوښتل شوي اربکيان له کراچيو او بسترو سره د افسرانو تر شا ولاړ وو. سرداراندرې چې پر ټټر پروت و، مخ يې په شنو شوی و، په سختۍ يې سا وېسته او خرهاری يې کاوه.

-نو څه ته ګورئ راوړاندې شئ !

کليوال اربکيان راوړاندې شول. سرداراندرې چا له لاسه، چا له پښو او چا له تخرګه راونيو او راپورته يې کړ، خو هغه سخت زګيروی کاوه. کليوالو يو بل ته وکتل او هغه يې بېرته پر ځمکه کېښود.

کوم چا غږ کړل:

- درپورته يې کړئ، پر کراچۍ يې کېږدئ، چاره څه ده؟

هغه يې بېرته راپورته کړ او پر بستره يې واچاوه، افسرانو په خپل منځ کې سره ويل:

-لويه خدايه ! لويه خدايه ! دا لا څه وشول؟ ګيډه يې، خلاص دی ! اخ اخ خدايه ! يو ياور وويل: ګولۍ زما د غوږ له څنګه تېره شوه.

کليوالو اربکيانو بستره راپورته او اوږو ته يې کړه او په چټکۍ په شنيليو کې پر هغې جوړه شوې لاره چې راغلي وو، بېرته، د صحرايي روغتياوو مرستنځای خواته وخوځېدل.

يو تن افسر د هغو اربکي کليوالو نه، ديوه تن اوږه راټينګه کړه چې په خورا چټکۍ او بې احتياطۍ روان وو، او ورته وې ويل:

-پام کوه ! ګامونه څه کاږه واږه ږدې، سم ځه، چې ونه غورځې.

هغه چې تر ټولو مخکې روان و، خپل اندېوال ته يې وويل:

-رښتيا وايي پام کوه، وا دې وريدل، څه يې وويل.

او هغه چې وروستی روان و، خپل ګامونه يې له مخکې هغه سره برابر کړل او په خندا خندا يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هوکې، رښتیا هم، همداسې ښه ده.

تیموخین چې په منډه یې ځان راورسوه، هغه بسترې ته چې اندرې په کې پروت و وکتل او په لړزیدلي آواز یې وویل:

-عالیجناب سرداره !

سردار اندرې سترګې پرانستې، له هغه بسترې نه چې دی پرې اچول شوی و او سریې ښکته لویدلی و، هغه چا ته چې غږ یې پرې کړی و، وکتل او بېرته یې سترګې وتړلې.

کلیوالو اربکیو سردار اندرې هغه ځنګل ته چې ځومرستندویه کراچۍ په کې ولاړې او د روغتیایي مرستو مرکز ترې جوړ شوی و، ورساوه. د روغتیا مرستو مرکز، هغه درې وړې کېږدۍ وې، چې د ځنګله په یوه کنج کې د بلوطو لرګیو په مرسته دریدلې وې. د کېږدیو پردې پورته شوې وې. څو ګاډۍ او آسونه هم هلته ولاړ وو. د آسونو توبرۍ پرغاړه او وربشې یې خوړې. مرغۍ، تر توبرو لاندې د شنیدل شویو اوربشو په ټولولو لګیا وې. کارغان چې د وینو بوی دې خواته راهڅولي وو په خورا بې صبرۍ له دې ونې نه هغې ته او له هغې نه ،هغې بلې ته الوتل. تر شلو زیات په وینو لړلي ټپیان چې رنګارنګه جامې یې اغوستې وې، د دغو کېږدیو شاوخواته، ځوک پراته، ځوک ناست او ځوک ولاړ وو. بستر کشوونکي سرتېري د ټپیانو شاوخوا ته په خورا غم لړلو څېرو، مګر پوره پاملرنه ولاړ وو. د نظم څارونکو افسرانو هڅه کوله چې هغه خپلو چارو ته ولېږي، خو هغوی هومره د دوی خبرو او سپارښتنو ته پام نه کاوه. هغوی په خپلو بسترو ډډې لګولې وې او په خورا ځیر یې هغه څه ته کتل چې د دوی په شاوخوا کې تېریدل. ګواکې دوی هڅه کوله د دغه منظر په معنا ځان پوه کړي، خو داسې بریښېده چې د هغو سر نه پرې خلاصېږي. له کېږدیو، کله له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرکې نه ډکې چغې او کله هم د عذرو زارۍ زګیروي اوریدل کېدل. کله ناکله به کوم روغتیا پال له کېږدۍ نه د باندې او بو پسې راووت او پر هغه چا به یې ورچغه کړې چې باید او به یې راوړې وای. ټپیان له کېږدیو نه د باندې په زګیرو زګیرو خپل وار ته سترګه په لاره وو، چا ژړل، چا زارۍ او چا چغې وهلې. چا ښکنځلې کولې او چا هم ودکا غوښته. چا هم چټیات ویل، ځینې هم هسې سرګردانه وو. سرداراندرې یې د غونډ د قوماندان په توګه د هغو ټپیانو له منځه چې لا تر اوسه یې ټپونه تړل شوي نه وو، راتېر کړ، د یوې کېږدۍ مخې ته یې ورساوه او هلته سپاریښتنې ته سترګې په لاره شول. سرداراندرې سترګې پرانستې، خو تر ډېرې پورې په دې نه پوهېده چې شاوخوا یې څه تېرېږي. شنیلې، کولبه شوي پټي، لکه ځرخېدونکي لاټو د لوګیو تور توپ او له ژوند سره بې پایه لېونۍ مینه، ټول او ټول وریاد شول. تر ده دوه ګامه لرې، ښکلی، لوړ، تور ځني افسر چې سریې په ټوکر تړلی و، ونې ته ډډه لګولې وه او د لوړې غږېدا له امله یې د خلکو پام ځانته وراړاوه، هغه سر تر پښو د مرمیو له لاسه ټپي ټپي و. له هغه نه زیات شمېر ټپیان او بستره وړونکي راټول شوي وو او د هغه خبرې یې په خورا تلوسې اورېدې.

د هغه تورې ځلېدونکې سترګې له شوقه لاپسې ځلېدلې، شاو خوا ته یې کتل او چغې یې وهلې:

-کله چې موږ د هغو مخه ونیوله، هر څه یې پرېښودل او وتښتېدل، او هغوی مې پسې واخېستل، که احتیاطي قوتونه په خپل وخت رارسېدلي وای، هوکې وروڼو ! د هغو تخم به مو تباه کړی وای. که رښتیا راباندې وایي وروڼو...

سرداراندرې هم د کیسه کوونکي شاوخوا ته د نورو ولاړو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څېر، په ځلېدونکو سترګو هغو ته ورکتل، خبرو ته يې غوږ غوږ، د آرامۍ او خوند احساس يې کاوه او له ځانسره يې ويل:

-آيا نوره نو بې تفاوته نه ده؟ هلته به څه وي او دلته څه و؟ ولې زه داسې له مرګه ويريدلم؟ په دې ژوند کې کوم څه و چې زه نه پرې پوهېدم او نه پرې پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۷

یو ډاکتر چې په وینو لړلې چپن او ښکلو په وینو ککړ لاسونه، چې په یوه لاس کې یې د لوېي او وړې ګوتو په منځ کې سګرټ نیولی و (ددې لپاره چې په وینو نه شي) له کېږدۍ نه راووت. ډاکتر سر پورته کړ او له ټپیانو نه آ پلو لږ لور یې وکتل. داسې بربښېده چې غواړي لږ استراحت وکړي. یو څو موده یې خپلې ښۍ او کینې خواته وکتل، یو سوړ اسویلی یې وویست او سر یې ښکته واچاوه.

د یوه روغتیا پال د پوښتنې په ځواب کې یې څه وویل، بیا یې سردار اندرې ته اشاره وکړه او وې ویل:

-همدااوس ! او سپارښتنه یې وکړه چې کېږدۍ ته یې راوړئ.

د انتظار ولاړو ناروغانو په منځ کې یو شروشور پاڅېد او د هغو یو تن وویل:

-داسې ښکاري چې په هغه دنیا کې هم باداران دي.

سردار اندرې یې پر هغه میز چې هماغه شېبه وزګار شوی و او یوه روغتیا پال له هغه نه څه لرې کول، څملاوه. سردار اندرې نه شو کولای پر هغه پوه شي او په ځانګړي توګه پر هغه څه یې سر خلاص شي، چې په کېږدۍ کې و. له هرې خوا زګیروي او ریدل کېدل،خو د هغه د ورانه په لوړه برخه، په ګېډه او په ملا کې یې بې ساري دردونو پام په ځان اخته کاوه. ټول هغه څه چې هغه شاوخوا کې لیدل، هغه ته، د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيال کې د يوه بربنډ په وينو لړلي انسان دځان په شان برېښېده چې، تر ټيټې کېږدۍ لاندې ټوله فضا يې ډکوله، دا هماغه اندامونه وو چې څو اونۍ د مخه يې د اګست د مياشتې په همدا سې يوې تودې ورځې کې د سمولينسک په لارو کې يوه ګډه چينه ډکوله. هو کې، دا هماغه بدن و، هماغه د توپ د خولې غوښه، چې لا هماغه وخت يې دده په زړه کې ويره او وحشت راويښ کړی و، نن يې بيا په هغه کې دغه احساس راپارولی و.

په کېږدۍ کې درې ميزونه وو، له هغو نه پر دوو نورو، نور ټپيان پراته وو او پر درېيم هغه يې سرداراندرې څملاوه. د يو څو دقيقو لپاره يې هغه يوازې پرېښود، هغه په دې وخت کې بې ارادې ليدل چې پر هغو دوو نور ميزونو څه کېږي. د هغه ميز پر سر چې ده ته نږدې و، يو تاتاري ناست و. له هغې دريشي نه چې د هغه تر څنګ پرميز پرته وه، ښکاريده چې قزاق دی. څلور سرتېرو هغه نيولی و او يو عينکي ډاکتر د هغه له قوي او څوربې ملا نه څه پرې کول.

تاتاري سړي لکه دخنځير په شان رمباړې وهلې: اخ، اخ، اخ ! ناڅاپه يې خپله توره او غټ غومبورې بشره له هغه لنډې سر پورته پزې سره لوړه کړه، خوله يې پرانستله، سپين غاښونه يې ښکاره شول، پاڅېد، تاوراتاو شو، دا سې چغې او رمباړې يې وهلې، چې غوږونه يې کڼول. .. هغه عينکي ډاکتر چې له تاتاري سړي نه وزګار شو، د هغه کوټ يې پرې وروا چوه، په دا سې حال کې چې لاسونه يې پاکول، سرداراندرې ته ورنږدې شو، د هغه بشرې ته يې وکتل او سمدلاسه يې بېرته مخ واړاوه، په روغتيا پالو يې ورچغه کړل او وې ويل:

-څه ته ګورئ، کالي ترې وباسئ !

کله چې روغتيا پال په چټکۍ د هغه تنې خلاصولې او کميس يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وو بست سردار اندرې ته ،دهغه د خورا وړکتوب او ماشومتوب خاطرې وریادې شوې. داکتر پر هغه ورخم شو، د هغه پر تپ یې لاس ورکېښود، یو ژوراسویلی یې وو بست او بیا یې چا ته اشاره وکړه، د ګېډې مرګني درد سردار اندرې بیسده کړ. کله چې را په حال شو، پوه شو چې د هغه له ورانه نه یې مات شوي اډوکي راوېستلي دي. د هغه تپ یې ورګنډلی او وینې یې ورپاکې کړې وې. پر مخې یې اوبه ورشیندلې وې. همدا چې سردار اندرې سترګې پرانستې، داکتر پرې ورټیټ شو، چپه خوله یې د هغه شونډې ښکل کړې او په چټکۍ ترې لرې شو.

سردار اندرې، تردغه شان زوریدنې وروسته ځان داسې ښه احساساوه چې ډېره موده یې دغه شان احساس نه و لیدلی. د ژوند خورا ښې شېبې په تېره بیا د هغه د هماغه لرې ماشومتوب نه، چې کله به مینځې له ده نه جامې وېستلې، هغه به یې په واړه کټ کې څملاوه، هغه به یې په للو للو ویده کاوه... دا ټول او ټول دده په خیال کې نه د پخوانې او تېر ژوند بلکې د اوسني ژوند په څېر انځوریدل. د هغه ټپي پر شاو خوا چې سره یې سردار اندرې ته آشنا بربښېده، داکتران راټول شوي وو، د هغه پالنه یې کوله، رالوړاویې اوخواخوږي ورسره کوله.

د هغه د ژړا او زاریو غږ اوریدل کېده: هـ هـ هـ هغه روحیات بایللي او د هغه دژړا او زګیرویو غږ پورته و او ویل یې:

-وای وای، ما ته یې راوښیئ.

سردار اندرې،ددغه زورونکې ژړا او زاریو په اوریدو نبږدې و چې خپله په ژړا شي. آیا دا حال له دې کبله و چې هغه بې ویاړه مرګ ورپه برخه کېده؟آیا دا له دې کبله و چې هغه له ژوند بېلیده؟ یا د ماشومتوب، هغه یادونه چې ده راستنولی نه شو؟ یا له دې کبله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د نورو په زوریدو ، زوریده؟ او یا له دې کبله چې دده تر څنګ د دغه سړي زګیروی دده زړه سوری کاوه؟ هر څه چې و ،و ،خو هغه غوښتل په ماشوم وزمه سادګۍ، مهربانۍ او خواخوږۍ د زړه له کومي وژاړي.

هغه ټپي سړي ،خپله پرې شوې پښه چې لا په وینو ککړه موزه کې وه ، هغه ته وروښوده. دغه ناروغ لکه ښځې داسې هې هې ژړل او ساندې یې وهلې. داکټر چې د هغه مخې ته ولاړ و او د هغه څېره یې پناه کوله ولاړ او لرې شو. سردار اندرې د هغه په لیدو وویل:

-لو یه خدایه ! دا څه وینم؟ هغه دلته څه کوئ؟

دغه بدمرغه، ژړیدونکی او بیچاره انسان چې همدا اوس یې پښه ترې پریکړه.. ده وپېژاند. هغه اناتولي کوراګین و. د کوراګین ملا ته یې لاسونه تکیه کړي وو ، هغه ته یې په ګیلاس کې اوبه ورکولې. هو د هغه ریږدیدونکو ،خو پړسېدلو شونډو نه شو کولي د ګیلاس څنډه خولې ته کړي. د هغه زګیروي او ساندې سختۍ زورونکې وې.

سردار په چرت کې لاړ او لا تر اوسه هم په هغه څه چې دده تر مخې تېریده نه پوهېده ، وې ویل:

-هو ، دا هغه دی، دا سړی له ما سره څه نږدې او دردونکي اړیکي نیږدې کوي. دا څه دي چې دغه سړی زما له ماشومتوب او زما له ژوند سره نږدې کوي؟

سردار اندرې له ځان نه دا پوښتنې کولې،خو هغه ته یې ځواب پیدا کولای نه شو. ناڅاپه سردار اندرې ته نوې او دده له انتظار لرې سپېڅلې د مینې او صفا د نړۍ او ماشومتوب خاطره وریاده شوه. هغه ته ناتاشا هغه شان وریاده شوه چې ده د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۰ کال ،د نڅا په یوه بنډار کې لیدلې وه، نرۍ غاړه ، ښکلي تاند لاسونه، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوالتيا مسته، ويريدلې خو نيکمرغه بشره، هو همدا اسې همدا حال له پخوانه لا ژوره، لا ژوندۍ او هڅوونکې مينه د هغې په وړاندې دده په ګوګل کې راويښه کړه. اوس ده ته هغه څه وریاد شول، چې دی يې دغه سړي سره نېږدې کاوه، د هغې پردې له شا نه چې اوښکو دده په پړسېدلو سترګو کې راځړولې وه، په تتته تتته دده هغه ته کتل. سرداراندرې ته هر څه ورپه ياد شول. ټول هغه څه چې دغه دوه کسان يې سره نېږدې کول. له دغه سړي سره يې د زړه خوا خوږي او له مينې ډکه لېوالتيا او نيکمرغي په زړه کې راولمسېدل.

سرداراندرې، نور نو ونه شوه زغملای، هغه وژړل. هغه په مينه مينه او د زړه له کومې د ټولو او ځان په حال د هغو او پر خپل بې لاريو او تېروتنو ژړل.

ترحم، له ورونو سره مينه، له هغو سره چې موږ ورته ګران يو، له هغو سره چې له موږه کرکه کوي، له دښمن سره مينه، هو کې، مينه، هغه مينه چې خدای موږ ته په دې دنيا کې د هغه لارښوونه کوله. هماغه مينه چې شهزادګۍ ماريا زه په هغې روزلم. هغه مينه چې زه نه پرې پوهېدم. اوس پوه شوم چې ولې ما نه شو کولای له ژونده لاس واخلم. دا دی هغه څه چې په ما کې پاتې دي. که زه ژوندی پاتې وای، ما به هغه ته پنا ور وړې وای، خو نو اوس وخت له وختـه تېر دی. پوهېږم زه په دې پوهېږم چې ناوخته شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۸

د جګـړې د ډګـر وحشـتناک منظـر لـه مـړو او ټپيـانو نـه ډک لـه سرسامتيا سره مل د شلو پېژندل شويو جنرالانو تپي او وژل کېدو خبر او د خپل پخواني قوي مټ په ناتوانۍ پوهېدل، په هغه ناپليون کې چې تل يې د مړو او ټپيانو له ليدو خوند اخېست،او په هغو کې (هسې چې ده فکر کاوه) ده خپله روحي پياوړتيا موندله،يو نا آشنا احساس راژوندی کړی و پـه هغه ورځ د جګړې د ډګر وحشتناک او ډارونکی منظر د هغـه پـر هغـه واک لاسبری شوی و چې ده د خپلې پياوړتيا او لوړتيـا نښـه ګڼله. هغـه پـه چټکـۍ د جګړې لـه ډګـره لـرې د شـواردينو غونـډۍ تـه ورسـتون شـو. بشـره يـې تکـه ژيـړه، پړسـېدلې، ځړېـدلې، سترګې يې تتې او پزه يې سره شوې وه، آواز يـې ځير،جړ او پـر خپلې اوږدې څوکې کېناست او پرته له هغه چې وغواړي، پـه داسې حـال کـې چې سريې ځوړند و، د ټوپونو او ټوپکو غړمبهاري او آوازونو تـه غـوږ شو. هغه په خورا زورونکې خواشينۍ د دغې جګړې د پـای تـه رسـېدو پـه تمـه و چـې دی پـه کـې را ايسـار شوی و او د هغـې مخـه يـې نـه شـوه نيولې. د هغه ځانګړی انساني احساس د يوې لنډې شېبې لپاره د هغه د ژوند پر هغه لاسي او ناځرګند تصوير لاسبری شو چې هغه ډېره موده د هغه په خدمت کې و. هغه د زورېدنې کړېدنې او مرګ هغه پېښې د زړه له کومې احساس کړ چې د جګړې په ډګر کې يې ليدلې و. د سرسامتوب او د سينې درد ، هغه ته ور په ياد کړل چې مرګ او دغه زوريدنه لـه ده نـه هم لرې نه دي. په هغه شېبه کې ده ،نه مسکو غوښت نـه بری او نـه ويـاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(نور نو د هغه څه ویاړ په کار و ) هغه یوازینی شی چې ده اوس غوښت، استراحت، آرامي او آزادي وو ، خو کله چې دی د سیمیونوفسکایا په غونډیو کې و ، د توپونو د قوماندان هغه وړاندیز یې ومانه چې د غو لوړو ته دې څو توپونه ددې لپاره ولېږدول شي چې د کنیازکوا ، په څنډو کې پر روسي قواوو ګوزارونو لا پسې زیات شي. ناپلیون نه یوازې دغه وړاندیز ومانه، بلکې سپارښتنه یې وکړه چې د هغو اغېزو خبرونه ده ته رواړي چې دغه ګوزارونه یې کوي.

یو یاور راغی او وې ویل چې دوسوه توپونه د روسانو په وړاندې جګړې ته ورلېږل شوي، خو بیا هم روسان په ټینګه د خپلو پولو او مورچلونو ساتنه کوي، دغه یاور زیاته کړه:

-زموږ توپونو مخامخ د هغو په کرښو ډزې کوي، پر هغو لګېږي، هغو ته مرګ ژوبله رسوي، خو هغوی هماغه شان د خپلو ځایونو ساتنه کوي، ناپلیون په ډډ غږ وویل:-نور غواړي، ورزیاته یې کړئ. یاور چې د ټولواک خبره سمه نه اوریدلې، وویل:

-معظم ټولواک څه وفرمایل؟

ناپلیون چې تندی یې تریو کړی و په ډډ آواز یې وویل: -نور غواړي، ورې کړئ.

که څه هم د ناپلیون له دې سپارښتنې نه پرته هم هغه څه تر سره کېدل چې ده یې غوښتنه کوله، خو بیا هم ده دغه سپارښتنه ځکه وکړه چې فکر یې کاوه له ده نه د دغه فرمان غوښتنه کېږي او بیاد خپلې ځان غوښتنې هغې خیالي موهومي نړۍ ته راستون شو او بیا یې (هغه آس چې په کوم څرخېدونکي ځای کې ګرد چاپېر ګرځي، لکه په درمندو کې چې ګرد ګرځي او فکر کوي چې د ځان لپاره څه کوي او آزاد دی ) لکه مطیع بنده هغه بې رحمه غمرلې،غیر انساني او زورونکي کار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې برخليک ورپه برخه کړی و ، دوام ورکړ.

يوازې په دې ساعت او په دې ورځ نه و چې د دغه سړي د وجدان رڼا ، چې د دغې جګړې تر ټولو نه زيات پيټی تر نورو نه زيات دده پر اوږو بار دی، تته شوه ، بلکې د ژوند تر پايه پورې يې ونه شو کولای، نه د رحم، نه د رښتيا او نه د خپلو کړو په معنا پوه شي ،ځکه د هغه کړه دومره له رښتيا او ښو سره په ضد کې او د هر انساني تکل برخلاف و چې هغه وکولای شي، د هغه په معنا پوه شي. هغه نه شو کولای په خپلو کړو ځکه سترګې پټې کړي چې نيمې نړۍ د هغو ستاينه کوله ،نو له دې کبله دی اړ و چې له رښتينتوب، حقيقت او ښکلا نه مخ واړوي.

يوازې نن نه و چې د جګړې د ډګر د کتنې په لړ کې او په هغه ډګر کې يې د پرتو وژل شويو او ټپيانو (هغه تصور کاوه چې دده په فرمان وژل شوي دي ) شمېر ددې لپاره کاوه ،چې څو روسي وژل شويو مړي د يوه فرانسوي ارزښت لري. هغه ځان په دې غولاوه او دا يې د خوښۍ سبب هم کېده چې د يو فرانسوي مړی تر څنګ پنځه روسان کېږدي.

يوازې هغه ورځ نه و چې هغه فرانسې ته ليکل:

تر جګړې وروسته ډګر ځکه خورا پرتمين و چې په هغه کې پنځوس زره جنازې پرتې وې، بلکې هغه د سنت هلن په وچه کې په کرارۍ، آرامۍ او يوازيتوب کې هم ويل چې تکل لري، خپل وزګاره وختونو د هغو سترو چارو پلټنې او شننې ته وروښيي چې ده خپله ترسره کړي دي، هغه په دې اړه ليکل:

د روسيې جګړه بايد د نوې زمانې تر ټولو ستره او نه هېريدونکې جګړه وای، دا جګړه د رښتينو ګټو لپاره د عقل جګړه وه ، د آرامۍ او د ټولو د ژغورنې جګړه او هغه د سولې او ساتنې جګړه وه.

دده يو ستر ارمان، د تصادفونو د پای او د آرامۍ د پيل جګړه وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نويو چارو او نوښتونو د لارو چارو لپاره د ښه نيت جګړه وه. د اروپايي نظام جوړښت او د هغه عملي کېدل به پيل شوی وای.

د دغو اصولو په رڼا کې د لاس ته راغلي رضايت له برکته به هر چېرې آرامي او سوله خوره وای، ما به هم ځانته يوه جرګه ګۍ جوړه کړې وای او خپله سپېڅلي ټلواله به مې لرلای. زما اند ښښنې وې چې را نه غلا شوي دي. مورږ به د سترو هېوادنو د ټلوالې په دغې جرګه کې خپلې ګټې، د خپلې کورنۍ د چارو په څېر څېرلای او له ملتونو سره به مو اړيکي لکه د بادار او منشي اړيکي وای.

اروپا به ډېر ژر په رښتيا د يوه ملت په څېر وای او هر چا به کولای شول هر چېرې سفر وکړي او هر ځای به ځان لکه په خپل وطن کې وانګېري.

ما به هيله کړې وای چې ټولو، په ټولو سيندونو کې د بېړۍ د چلولو حق لرلای، ټول سمندرونه د ټولو وای. او دايمي لوی پوځونه د شاهانو د ګاردونو په کچه کم شمېره شوی وای او نور...

کله چې فرانسې ته خپلې مېنې ته، سترې، پياوړې، ښکلې، آرامې او ويارمنې خاورې ته ستون شوی وای، د هغې بريدونه به مې ټاکلي او نه بدليدونکي ګڼلي وای. راتلونکې جګړې به يوازې د ساتنې او دفاع لپاره وای او هر ډول نوې پراخ پالنه او د نورو پر خاورو يرغل به ضد ملي ګڼل شوی وای. خپل زوی به مې د ټولواک چوپړ ته ګمارلی وای. زما مطلقه واک به پای ته رسېدلای وای او مشروطه ټولواکي به پيل شوې وای... پاريس به د ټولې نړۍ پلازمېنه وای او له فرانسويانو سره به ټولو قامونو او مليتونو رخه کولای.

بيا به زمورږ ټول وخت او زما د ژوند وروستۍ ورځې د ملکې په مرسته، زما د زوی د شاهانه روزنې په چوپړ کې ددې لپاره وای، چې لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لږه د کليوالي کورنۍ په شان په خپلو آسونو، د هېواد په ټولو سيمو کې ګرځېدای، د خلکو شکايتونه به مې اوريدلای، د ظلم مخه به مې نيولای، هر چېرې به مې ودانۍ کولې او خيريه کارونه به مې سرته رسولای.

له هغو څلور سوه زره تنو نه چې د ويسلا له سيند نه واوښتل، نيمايي اتريشي پروسي، ساکساني، پولندي، باويري... اسپانوي، ايتالوي او يا ناپلي و. د پوځ دريېمه برخه هالندي، بلژيکي او د راين او پيه موتي د غاړو سويسي، ژينوي، ، ،رومي... او نور وو. په دې پوځ کې فرانسوي ژبې ،په سختۍ يو سلو څلويښت زرو پورې رسېدل. پر روسيې يرغل فرانسوي پوځ ته څه کم د پنځوس زرو په مرګ تمام شو، روسي پوځ او له ويلنا نه مسکو پلو ته شا تګ او نورو بېلابېلو جګړو کې د فرانسويانو د مرګ ژوبلې په کچه څلور برابره زيات پوځيان له لاسه ورکړل. د مسکو سوځېدل روسي پوځ ته د سلو زرو کسانو په مرګ تمام شو او له لوږې او سړو نه هم په ځنګلونو کې مړه شول. په پای کې روسي پوځ له مسکو نه د اودر پلو ته د خوځېدو په وخت کې، د سختيو سړو او لوږو له امله بې مرګ ژوبلې پاتې نه شو، د روسي پوځ چې په ويلنا کې يې شمېر پنځوس زرو تنو ته رسېده، کله چې کاليش ته ورسېد له هغو نه اتلس زره پاتې وو.

بناپارت داسې تصور کاوه چې په روسيه کې جګړه دده په ارادې پيل شوې وه، خو دغه وحشت دده روح نه آزاراوه، هغه په زړورتيا د دغې جګړه مسووليت ځکه پرغاړه واخېست چې د هغه ناقص عقل داسې انګېرله چې په هغې کې د سلګونو وژل شويو کسانو په منځ کې د فرانسوي وژل شويو کسانو شمېر تر ليسنيانو او باواريانو نه کم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۹

په لسګونو زره تنه وژل شوي کسان په بېلابېلو بڼو او په ډولا ډولو دريشيو کې د جګړې په ډګر ښاغلي داوويوف پورې اړوندو ځمکو ، غونډو او شنيليو کې پراته وو. بزګرو او مالدارانو پر هماغه ځمکو د بارادنيو ، ګورکي، شواردينو او سيميونوفسکايا په کليو کې په سلګونه کلونه کرکېله او مالداري کړې وه او فصلونه يې په کې کرل رېبل.

د يوه د سياتين (۱. ۹ هکتاره ) په واټن شنو کې ټوله ځمکه په وينو لړل شوې وه. ټپي او نه ټپي سرتېري ډله ډله وحشته په ويريدلو ځېرو ، ګوډمات، په تګ او منډه يا په ځنښېدو له يوې خوا موژاسيک او له بلې خوا والويف ته ستنېدل. نورې ستړې ستومانې او وږې ډلې، د قومانداناتو په امر وړاندې رواني وې، دربيمه برخه پوځ پرخپل ځای پاتې او ډزو ته يې دوام ورکاوه.

په ټول هغه ډګر کې چې څو ساعته وړاندې د سهارني ژيړ لمر تر شغلو لاندې د نيزو څوکې ځلېدلې او د توپو د ډزو لوګي ولاړ و او هره خوا خوښۍ خپرې وې، اوس د لوګو تور څادر غوړېدلی او دوينو خوسا بوی ترې راته.

باراني وريځې راغوړېدلې او نری نری باران پيل شوی و ، دغه اوربښت، پر وژل شويو ، پر ټپيانو ، پر ډار شويو ، پرستومانه شويو او شک لرونکو وريده ، تا به ويل دغه باران ګواکې وايي:

-بس دی، بس دی، اې خلکو بس دی،نور نو وژل پرېږدئ، لږ په حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



شئ. تاسو څه کوئ.

دې او هغې خوا عذاب ليدلو، ورو سترو ستومانو وګړو ته يو ډول شک پيدا شو او فکر به يې کاوه چې آيا دا ښايي چې نور هم پر يو بل ډزې وکړي.

په ټولو څېرو کې دغه شک څرګند و او په هر زړه کې دې پوښتنې آواز پورته کاوه چې زه ولې او د چا لپاره څوک ووژنم او ولې ووژل شم؟

تر مازديګره پورې دغه شان خيالونو د هر چا په خيال او ګوګل کې ځای ونيو، هغو به ويل:

-ولې؟ زه ولې او د چا لپاره څوک ووژنم او ولې ووژل شم؟ هر څوک چې غواړي چې څوک ووژني، وژني دې. هر څوک چې هر څه غواړي، کوي دې، خو زه يې نور نه کوم. دغو خيالو هره شېبه دوی ټول دې ته هڅول چې له هغه څه په وحشت کې شي چې تر اوسه پورې يې کړي دي، دا ټول پربېږدي او هرې خوا ته چې کولای شي وتښتي.

که څه هم ټول خلک د جګړې په پای کې د خپلو کړو په ټول وحشت پوه شوي وو، که څه هم هغوی په دې خوشاله و چې کولای يې شول د وژلو له وحشت نه لاس واخلي، خو لا تر اوسه هم يوه ناپېژندل شوی او مرموز قوت د هغو لارښوونه کوله، که څه هم د توپچيانو له دريو نه دوه برخې لګېدلي وو، خو بيا هم په خولو لامده خيشته، سر تر پښو په وينو ککړ، له پښو لويدلي ستړي ستومانو، په ټول قوت مهمات راوړل، ګولۍ يې په توپونو کې کېښودې او دواړو خواوو په شيطاني چټکتيا او خورا بې رحمۍ د پخوا په شان پر يو بل ډزې روانې کړې وې. انسانان په وينو کې لمبېدل او هغه وحشتناکه کار چې نه د انسانانو په خوښې او ارادې بلکې د هغه چا په غوښتنه چې د انسانانو او د نړۍ لارښوونه يې کوله، تر سره کېده او دوام درلود. که چا د روسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردو د کرښو ترشا الهګوله او خورو ورو پوځیانو ته کتلي وای، ویل به یې چې که فرانسویان خپلې هلې ځلې او قوت لږ زیات کړي، نو د روسي پوځ نښه به هم نوره پاتې نه شي.

خو نه فرانسویانو خپلې هلې ځلې او قوت لږ زیات کړ او نه روسانو.

روسانو له دغه شان قوته ځکه کار وانه خېست چې دا دوی نه وو چې پر فرانسویانو یې یرغل کړی و. د جګړې په پیل کې هغوی یوازې مسکو ته په تلونکو لارو کې ددې لپاره ولاړ و چې دغه ښار ته د فرانسویانو د تګ لار بنده کړي. دوی د جګړې په پای کې هم کټ مټ په هماغه حالت ،چې ولاړ وو ، خپلې دریدا ته دوام ورکړ. آن که روسانو دغه تکل هم لرلای، چې فرانسوي پوځ په شا وتمبوي او مات یې کړي، هغوی به په خپل ټول او وروستي توان سره هم دا نه شو کولای، ځکه چې د روسي پوځ ټول قطعات مات شوي، مرګ ژوبله یې لیدلې او یوه داسې قطعه هم نه وه چې روغه رمټه وای او د جګړې تاوان یې نه وای لیدلای. روسان که څه هم ځای پر ځای ولاړ وو ، خو بیا هم هغوی خپل نیمایي پوځیان له لاسه ورکړي وو.

خو فرانسویانو چې د تېرو پنځلسو کالو د بریاوو یادونه ورسره وو ، د ناپلیون په نه ماتېدونکي دریځ یې باور درلود ، په دې پوهېدل چې د جګړې ډګر پریوې برخې یې ولکه درلوده، په دې چې دوی د خپل پوځ لا څلورمه برخه پوځیان له لاسه ورکړي نه و او په دې هیله چې دوی لا شل زره داسې احتیاطي پوځیان لري، چې هېڅ کارول شوي نه دي په آسانۍ کولای شو ، دغه شان یو زیاتي خوځون پیل کړي.

په روسانو د فرانسویانو د یرغل موخه او هدف دا و چې باید روسان مسکو ته د تلونکو مورچلونو نه چې لا هماغه شان په کې ولاړ و وباسي، دوی باید دغه شان خوځون ځکه کړی وای چې دوی خپلې دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخې ته نه وو رسېدلي او د دوی دومره مرګ ژوبله هسې خړو اوبو وړې وه، خو فرانسویانو دغه وروستې هڅه ونه کړه. ځینې تاریخ لیکونکي په دې باور دي، چې د دغې جګړې د ګټلو لپاره دا هم بس و، چې ناپلیون خپل شل زریزه د ګارد پخوانۍ قطعه جګړې ته ولېږي. کله چې وایو څه به شوي وای که ناپلیون خپل ګارد لېږلی وای، په هر حال دا معنا لري چې وو ایو څه به شوي وای، که منی، پسرلی شوی وای. دا کارناشونی و. ناپلیون خپل ګارد ځکه جګړې ته ونه لېږه. چې نه یې غوښتل، بلکې دا کار یې ځکه ونه شو کړای چې ناشونې وه. د فرانسوي پوځ ټول جنرالان او سرتېري په دې پوهېدل چې دا کار ناشونی دی، ځکه د فرانسوي پوځ تښتېدل او خرابه روحیه د دې کار اجازه نه ورکوله. نه یوازې ناپلیون ته هغه خوب وریادوه چې د وژنې ګوزار ته اوچت شوی وحشتناک لاس، په ناتوانۍ ببرته رالوېږي بلکې ټول جنرالان، په جګړه کې ورګډو او نه ورګډو سرتېرو، له ټولو پخوانیو تجربو نه چې په جګړو کې یې (چې تر دې نه په لس وار کم قوت یې ټول تښتول) لرلې، ټولو له دښمن نه د ویرې یو ډول داسې احساس درلود چې دښمن د خپل پوځ د نیمايي وګړو د وژلو کېدو سره سره بیا هم د جګړې په پای کې د هغې د پیل په شان پر خپل ځای او دریځ کلک او ګواښمن پاتې دی.

د فرانسوي یرغل کوونکي پوځ روحیه خورا ضعیفه شوې وه. روسي پوځ د بارادنیو په ډاګونو کې بری ګټلی، خو دا بری هغه بری نه و چې غنیمت اخیستل شوې جنډه چې بیرق نومول کېږي په نیزې یا لکړې پورته کوله، یا د هغې پراخې ځمکې د لاس ته راوړلو له امله چې پوځ پرې ولاړو یا ولاړ دی، وټاکل شي، بلکې دا بری روحي او رواني بری و. دا هغه ډول بری و چې پوځ د دښمن د روحیې په لوړوالی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې روحيې په ناتوانۍ باور پيدا کوي. فرانسوي يرغلګر پوځ لکه ترهېدلي ځناور چې د بريد په وخت کې تېښي شوی وي، خپله رارسېدونکي تباهي ليدله، خو نه يې شو کولای ودرېږي، لکه هغه شان چې روسي پوځ سره له بې ساري مرګ ژوبلې د هغو له مخې لرې شي. فرانسوي پوځ تر دې خوځون نه لا وروسته هم کولای شو مسکو پورې ورسېږي. خو هلته د روسي پوځ د نوې پياوړتيا نه پرته هم، په مرګ محکوم و. هغه بايد ځکه تباه کېدلی چې د بارادنيو په جګړه کې د ټپي کېدو له امله د مرګنيو ټپونو نه وينې بهېدلې.

د بارادنيو د جګړې پايله او اغېز نه يوازې له مسکو نه د ناپليون د بې علتې تېښتې مخامخ پايله وه بلکې د سمولينسک د پخوانۍ لارې نه شا ته تګ او ببرته ستنېدل، د پنځه سوه زريزه يرغليز پوځ ماته او د ناپليوني فرانسې تباهي هغه څه و چې د لومړي ځل لپاره فرانسويانو له روحي پلوه د دښمن د پياوړې لاس د ګوزار نه احساس کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیم کتاب

# درېیمه برخه

۱۸۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

د انساني عقل لپاره د خوځون مطلق پرله پسې والی نه پوهېدونکی دی.

د انسان لپاره د هر خوځون قانون، یوازې هغه وخت د پوهېدو وړ دی، چې ذهن وکولای شي دغه پرله پسې خوځون پر هر هغه چې دی یې غواړي وتلي او وڅېړي، خو د خوځون دغه په خپل سراو تصادفي ویش او د هغه ارزونه، پرله پسې د انساني ذهن د بې لاریتوب بنسټیزې سرچینې دي.

که څه هم د لرغونو صوفیانو (په روسي متن کې صوفي راغلی دی) ویونکو دا خبره چې دعوا لري، د باد په څېر الوتونکی اخیلوس چې تر کیشپ (سنګ پشت) نه لس برابر چټک خوځېږي، هېڅکله به کیشپ پسې ونه رسېږي، ځکه تر هغه پورې چې آخیلوس د ځان او کیشپ تر منځ واټن وهي، کیشپ بیا ددغه واټن یو په لسمه برخه وړاندې تللی وي او چې آخیلوس بیا دغه واټن ووهي، کیشپ بیا هم ددغه واټن یو په سلم لاره وهلي وي او آخیلوس به هېڅکله سنګ پشت ته ورونه رسېږي.. دغه معما به هېڅکله حل نه شي، دغه هم چې اخیلوس به هېڅکله کیشپ ته ورونه رسېږي په دې کې ده، چې د آخیلوس او کیشپ د خوځون د کچې د اندازې لپاره د خپلې خوښې تلې چې دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل په خوځون کې دي کارول شوي دي.

د هغو تلو (ترازو) ټاکنه چې پرله پسې وړېږي او وړېږي، موږ یو ازې حل ته ورنږدې کوي، خو هېڅکله هغه پوره حل کولای نه شو، د مسالې حل یو ازې هغه وخت کېدای شي چې د سنجش خورا کوچنۍ اندازه د اندازه کولو لپاره وټاکو.. د ریاضیاتو په نویو سنجشونو کې چې د سنجولو د خورا کوچنیو معیارونو له مخې اندازې کېږي، د خورا پیچلي خوځون مسایل چې پخوا نه حل کېدونکي بلل کېدل، حل کېږي..

د ریاضي نوې څانګه چې پخوانیو خلکو له هغه سره پېژند ګلوي نه لرله، د اندازه کولو د خوراکوچنیو هنري معیارونو او نورو پېچلو مسالو په مرسته د خوځون مطلق پرله پسې والی راڅېړي او هغه تېروتنه چې بشري ذهن د خوځون مطلق پرله پسې والی په جلا جلا معیارونو څېړي نه تکراروي.

د تاریخ د خوځون د قوانینو په څېړنه کې هم کټ مټ همدغه تېروتنه تکرارېږي، د تاریخ تګلوری او د بشریت خوځون چې د بې شمېره وګړو د پریکړو محصول دی، په بشپړه توګه پرله پسې دی. ددغه خوځون د قوانینو پېژندنه د تاریخ موخه ده. خو بشري ذهن د تاریخ د پرله پسې خوځون د قوانینو د پېژندنې، یعنې د ټولو انسانانو د ټولو پریکړو لپاره د خپلې خوښې د سنجولو معیار ټاکي. د تاریخ پېژندونکو لومړنۍ کړنلاره دا وه چې د خپلې خوښې یو لړ پرله پسې پېښې خوښوي او هغه له نورو پېښو نه جلا څېړي، خو دوی له دې نه ناخبره وي چې هېڅ پېښه نه شته چې مطلق پیل ولري، ځکه هره پېښه په پرله پسې او نه جلا کېدونکې بڼه له بلې هغې نه رازېږي. هغه دویم کار چې تاریخپوهان کوي دا دی چې د یو چا، ټولواک یا پوځي سردار کړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت او خلکو د ارادې نښه ګڼي، حال دا چې د خلکو يا ملت د آزادې ارادې کړه او پريکړه، هېڅکله د يو تاريخي شخصيت په پريکړو کې نه ځرګند ېږي. ..

د نولسمې پېړۍ په لومړيو پنځلسو کالو کې په بې سارې بڼه د ميليونونو وګړو خوځون پيل شو. خلک خپل دوديز ورځني کارونه پرېږدي او په تلوار د اروپا له يوې څنډې نه بلې او له بلې نه بلې ته درومي، تالانونه کوي، او يو بل وژني. څوک پر بری وياړي او څوک ناهيله کېږي او د ژوند بڼه د څو کلونو په موده کې چور بدلېږي. د غه خپله د تاريخ د چټک خوځون نښه ده چې په پيل کې خورا زيات او وروسته په کرار ېږي. انساني عقل پوښتي:

د دغه خوځون علتونه څه وو او د کومو قوانينو پر بنسټ رامنځ ته شول؟

تاريخ ليکونکي د دې پوښتنو په ځواب کې د هغو څو لسګونو خلکو خبرې او چارې چې د پاريس په کومه ودانۍ کې راټول شوي، موږ ته رايادوي او د هغو خبرو او کړو ته د انقلاب نوم ورکوي. بيا د ناپليون او د هغو د څو تنو پلويانو د ژوند ببلابيل اړخونه او کړه وړه راسپړي او د هغو پر هغه اغېز چې کوم تن يې پر نور درلو ،د خبرې کوي او پايله دا سې راسپړي:

دا دې هغه څه چې له هغه نه دغه غورځنګ رامنځ ته شوی او دا دي د هغه قوانين.

خو انساني تفکر نه يوازې په دغو ډول سپړنو باور نه لري، بلکې په ډاګه وايي چې دا ډول سپړنې سمې نه دي، ځکه خورا وړې پېښې د خورا لويو چارو سرچينه ګڼل کېږي.

د خلکو ګډې ارادې انقلاب او ناپليون رامنځ ته کړل. او يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغې ګډې ارادې هغه وزغمل او بيا يې نابود کړل.

تاريخ وايي:

هر وار چې يو بری او فتح وه، يو فاتح هم و او هر وار چې کوم انقلاب کېده لوی خلک هم رامنځ ته کېدل.

انساني ذهن ځواب ورکوي:

رښتيا هم هر وار چې فاتحان راپيدا شوي دي، جګړه هم پېښه شوې ده، خو دا ثابتولی نه شي چې دغه فاتحان د جګړې عاملين وو او يا د جګړې قوانين د يو تن په ځانګړو چارواکي پيدا کړې. هر وار چې زه خپل ساعت ته ګورم او وينم چې د ساعت ستنې لس بجې ښيي، زه اورم چې د ګاونډې کليسا زنګونه خلکو ته د لمانځنې بلنه ورکوي، خو له دې کبله چې هر وار د ساعت ستنې لس بجې ښيي په کليسا کې لمانځنه پيل کېږي، زه حق نه لرم ووايم چې زما په ساعت کې د ستنو لس بجې ښودل، د کليسا د زنګونو د شرنګهاری علت دی..

کليوال بزګر په دې باور دي چې د پسرلي په وروستيو ورځو کې د سړې ورږمې لګېدلې، د څېرې د ونو د غوټيو ګل کېدل. په رښتيا هم هر کال د پسرلي په وروستيو وختونو کې چې کله د څېړې د ونو غوټۍ کېدو لامل دی، سړه ورږمه لګېږي. که څه هم د پسرلي په وروستيو وختونو کې د څېړې غوټيو د ګل کېدو په وخت کې د سړې ورږمې د لګېدو په علت نه پوهېږم، خو نه شم کولای د کليوالو دا خبره هم ومنم چې د پسرلي په وروستيو وختونو کې د سړې ورږمې لګېدل د څېړې د غوټيو غوړېدل وګڼم، دا ځکه چې د ورږمې لګېدل د غوټيو له اغېز نه وتلې خبره ده.. ددغو علتونو د پوهېدنې لپاره بايد زه چور خپل نظر او د څېړنې ډول بدل کړم، او د... زنګونو د شرنګهار او باد قوانينتو ته ځير شم. د تاريخ په اړه هم همداسې ده او په دې برخه کې هڅې هم شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

پر تاريخ د څارونكو قوانينو د پېژندنې لپاره موږ بايد چور خپل نظر بدل كړو، پادشاهان، جنرالان او وزيران په كراره پرېږدو او يو رنګه، بې ساري واړه عوامل چې د پرګنو لارښوونه كوي، وڅېړو، هېڅوك نه شي كولای دا ووايي چې انسان تر كومې اندازې كولای شي له دغې لارې د تاريخ په قوانينو پوه شي، خو دا ښكاره ده چې پر دغو قوانينو پوهېدنه، له دې لارې پرته ناشونې ده او دا هم څرګنده ده چې په دې لارو كې، لا د انساني تفكر د هغو ميليون ميليون هڅو نه چې تاريخ ليكونكو د پادشاهانو، پوځي سردارانو او وزيرانو د چارو په ستاينو او د هغو د چارو او اندېښنو په سپړنه كې يې كړي دي، لا يوه هم كارولې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

هغه پوځي قوتونو چې په دولسو اروپايي ژبو خبرې کولې، پر روسيې يرغل راوکړ، روسي پوځ او خلک شاتګ او تښتې ته اړوتل او هغوی د روسيې له پولونه نيولې، تر سمولينسکه، له سمولينسکه تر بارادنيو پورې له دغو پوځونو سره له نښتې مخ اړاوه. دفرانسوي پوځ د يرغل قوت لاپسې زياتېده او د مسکو يعنې د خپلې موخې په لور يې تلوار کاوه. ددغه يرغلګر پوځ قوت لکه د رالويدونکي جسم د قوت په شان څومره چې ځمکې ته رانږدې کېږي، لا درنېږي، خپل هدف ته په نږدې کېدو لا پسې زياتېده. د قحطي وهلي هېواد په زرګونه ورسته لاره ووهل شوه ،دهغه له کرکه ډک وګړي شاته پاتې شوه،او څو ورست لاره لا هدف ته پاتې نه ده. دا د ناپليون د پوځ د هرسرتېرې احساس دی او هغه پرمختګ او لاندې کول چې په کومې چټکۍ شوي و، په خپل سر روان و. د روسيې په پوځ کې د پرمختګ په انډول چې څومره شاته تمبول کېږي، په هماغه کچه د دښمن په وړاندې کرکه زياتېږي. څومره چې شاته تلل په هماغه اندازه دوی لا ځيرکه کېدل. د بارادنيو په څنډو کې نښتې پيل کېږي. بل هېڅ يو پوځ له نښتې سره سم داسې نه تالا والا کېږي لکه روسي پوځ، چې د نښتې سره سم سمدلاسه شاتګ ته اړه کېږي، داسې لکه يوه پوقانه چې له بلې هغه سره د لګېدو سره سمدلاسه چټکتيا زياتوي او له خپلې بې ارادې چټکتيا نه شاته لوېږي. ..

روسي پوځ د مسکو تر سلو شل ورسته پورې په شا ځي. فرانسويان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر مسکوه رارسېږي او هلته درېږي. تر دغه پنځه ورسته د پنځو او نيو په اوږدو کې يوه نښته هم نه کېږي. فرانسوي پوځ وړاندې نه راځي. د هغه ځناور په څېر چې مرګني ټپي شوی وي، له ټپو يې وينې څڅېږي، خپل ټپونه څټي، فرانسوي پوځ هم پنځه اونۍ په مسکو کې ولاړ پاتېږي. هېڅ تکل او کړه نه لري او ناڅاپه له هر نوي لامله پرته، بېرته زغلي او تښتي. فرانسوي پوځ د کالوژسکايا لارې ته ورداننګي (ځکه تر بري نه وروسته ،مالاياروسلاوسکايا ، کې د جګړې ډګر د دوی تر ولکې لاندې پاتېږي) او پرته له هغه چې په يوې نښتې کې هم ونښلي، په زياتېدونکې چټکتيا تر سمولينسکه او بيا له سمولينسکه تر ويلنا او له هغه ځايه تر برزينا پورې او بيا شاته تښتي.

د اګست د ۲۶ مې ورځې په ماښام کوتوزوف او د روس ټول پوځ په دې ډاډه کېږي چې جګړه ګټل شوې ده. کوتوزوف ټولواک ته په همدې توګه وليکل. کوتوزوف امر وکړ چې ټول د دښمن د بشپړې ماتې لپاره يوې جګړې ته چمتو شي، خو نه له دې کبله چې دی څوک وغولوي، بلکې دی د جګړې د نورو ټولو ګډونکوونکو په شان پوهېده چې دښمن مات شوی، خو هغه بايد په بشپړه توګه مات شي.

نو د هغې ورځې په ماښام او بله ورځ يو په بل پسې د زياتې مرګ ژوبلې خبرونه رارسېدل. نيم پوځ نابود شوی او د نوې جګړې دوام دانساني قوت له مخې ناشونی و.

څنګه دې خبرې امکان لاره چې د اطلاعاتو د نه لرلو، د ټپيانو د نه راټولولو، د وسلو او مهماتو د نه برابرولو، د وژلو شويو د شمېر د نه معلومولو او د وژلو شويو قوماندانانو پر ځای د نويو هغو له ټاکنو نه پرته او مخکې له هغه چې سرتېري ماړه، ويده او هوسا شي، بيا د اوربل فرمان ورکړ شي؟ خو ددې پر ځای، د بلې ورځې پر سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسوي پوځونو په هماغه پخوانی قوت او چټکتیا... په خپل سر پر روسي پوځ ورودانګل. کوتوزوف هم غوښتل بله ورځ یرغل وکړي او نور ټول پوځ هم همداسې غوښتل، خو د یرغل لپاره یوازې هیله او غوښتنه پوره نه دي، بلکې د یرغل لپاره باید امکانات چمتوشي، خو دغه امکانات نه و. پوځ په داسې حال و چې باید یو مزل شاته تللی وای، بیا بل سهار هم کټ مټ د همداسې یو بل مزل، شاته تګه پرته نه کېده او بل وار بیا دربیم مزل ته شاته تګ. په پای کې د سپتمبر په لومړۍ ورځې، چې کله پوځ مسکو ته ورسېد ، سره له هغه چې د ټولو په زړه کې لېوالتیا او د سربښندنې مینه هڅېدله، یو نه ایلیدونکی قوت، پوځ شاته، د مسکو بلې خواته تګ ته اړ کړ. او پوځ یو بل مزل چې وروستی مزل و ، شاته لاړ او مسکو یې دښمن ته پرېښود.

دهغو کسانو لپاره چې د عادت له مخې ګمان کوي، قوماندان د نښتو او په ټولیزه توګه د جګړې نقشه، هماغه زموږ د هر یو په شان طرحه کوي، یعنې په خپل دفتر کې د نقشې په وړاندې کیني، خریطې جوړوي، چې څنګه او چېرې به دا یا هغه برید کوي او یا څنګه به دا یا هغه جګړه پیل کېږي. او دا پوښتنې کوي چې ولې کوتوزوف د شاتګ وخت داسې یا هسې ونه ټاکه؟ یا ولې هغه د فیلي له سیمې مخکې دریځ او سنګر، ونه نیو؟ یا ولې هغه د مسکو د پرېښودو نه سمدلاسه وروسته د کالوژسکایا لارې ته ورودانګل، او نورې نورې پوښتنې، هغه کسان چې په دغه راز فکر کولو عادت شوي دي، دا هېروي او یا په دې نه پوهېږي چې قوماندان یا ستر قوماندان په څه جبري شرایطو کې دندې ترسره کوي، د قوماندانانو کار او پریکړې د هغه څه سره هېڅ ورته نه دي، چې موږ یې فکر کوو او یا په خپلو کوټو کې ناست یو او په هغه یا دغه ډګر کې ددې یا هغه شمېر پوځیانو په ګډون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاکلي، وخت کې د جګړې تصویر باسو. هېڅ کله، هېڅ ستر قوماندان د جګړې په پیل کې په هغه حالت کې نه وي، چې موږ ولسي خلک یې تصور کوو، هغه تل د یو شمېر پرله پسې وده په حال پېښو په منځ کې راګیر وي، چې آن یوه شېبه هم نه شي کولای د پېښو اهمیت او ارزښت وموندلی شي او هغو ته ځیر شي. پېښې په نامحسوسه بڼه، شېبه په شېبه راڅرګندېږي او اهمیت پیدا کوي. او ستر قوماندان د دغې پرله پسې ودې په هرې یوې شېبه کې د کړکیچونو جړولو، دوکو، خیالونو، ناوړه اړیکو تراغېزو لاندې، وړاندیزونو، لارښوونو، ګواښونو او د سیمو ناپېژندنې په منځ کې راګیر وي او تل دې ته اړ وي چې بې شمېره متضادو او یو له بل سره بې اړوندو بې شمېره پوښتنو ته، بې شمېره ځوابونه ووایي.

پوهان او پوځي څېړونکي په خورا زغرده وایي چې کوتوزوف باید ډېر پخوا پوځ د کالوژسکایا د لارې پلو ته خوځولای وای، او ویل کېږي چې آن چا داسې وړاندیز هم ورته کړی و، خو قوماندان په تېره بیا په سختو شېبو کې نه یوه، بلکې هم مهاله لسګونې طرحې لري، دغه طرحې چې ټولې یو له بله توپیر هم لري، قوماندان، د دغو طرحو هر یوه د تاکتیکي او ستراتیژیکي څېړنو په رڼا کې سنجوي او د ستر قوماندان دنده داده چې د دغو طرحونه یوه وټاکي، خو هغه دا کار نه شي کولای. وخت او پېښې د چا انتظار نه کوي، د ساري په توګه هغه ته وړاندیز کوي چې د میاشتې په اته ویشتمه نېټه د کالوژسکایا د واټ پلو خوځېږي، خو په دې وخت کې د میلارادوویچ له خوا ناڅاپه او په چټکۍ یو استازی راځي او پوښتنه کوي چې آیا سمدلاسه پر فرانسویانو ورودانګي او یا شاته لاړ شي؟ هغه باید په همدې شېبه کې پریکړه وکړي او ځواب ووایي. که د شاتګ قومانده ورکړي، له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټه به لري شي، چې دوی يې د ورنېږدې کېدو وړاندېز کړی و ، بيا سر ياور پوښتنه کوي خو اړه او کالي چېرې يو سي؟ او بل ډاګي استازی د ټولواک يو ليک راوړي او په هغه کې د مسکو په نه تسليمېدو ټينګار کوي، او د صحرايي روغتون مشر بيا پوښتي چې ټپيان چېرې ولېږدوي؟ له بله پلوه د هغه سيال د کالوژسکايا د لارې په اړه نوي وړانديز کوي چې په دې اړه د لومړي هغه سره چور توپير لري. د ستر قوماندان ستوماني او ستړيا داسې ده چې خوب او آرامۍ ته اړتيا لري. په دې وخت کې يو زوړ او د درناوی وړ جنرال راځي وايي چې د هغه حق خوړل شوی، هغه نښان او سوغات يې چې بايد اخيستی وای، چا نه دي ورکړي.. هغه افسر چې د سيمې ښار ته لېږل شوی و ، راځي او د هغه څه برخلاف خبر ونه راوړي، چې همدې ښارنې ته پخواني ګمارل شوی افسر راوړي وو..

او داسې کسان هم شته چې عادت شوي، د ستر قوماندان د کار په دغو شرايطو يا نه پوهېږي او يا هغه هېروي. د ساري په توګه هغوی د فيلي په سيمه کې د پوځ حال څېړي او تصور کوي چې ستر قوماندان د سپتمبر په لومړی نېټه کولای شو په لوی لاس او آزاده توګه د مسکو د ساتنې يا تسليمي په اړه پريکړه وکړي، حال دا چې کله روسي پوځ د مسکو په پنځه ورستۍ کې و ، اصلا دغه شان پوښتنه چا يادوله هم نه. نو ويل کېږي چې دغه پريکړه څه وخت شوې ده؟ دا دريسا په څنډو کې، هم د سمولينسک په شاوخوا کې او له ټولو نه د پام وړ د اګست په ۲۴ مه نېټه په شواردينو کې او د اګست په ۲۶ مه نېټه په بارادنيو کې، او د بارادنيو نه د فيلي پلو ته د شاتګ په هره ورځ هر ساعت او هره دقيقه کې شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

روسي پوځونو د بارادنيو تر پرېښودو وروسته په فيلي کې ودرېدل. يورمولوف چې د ځايونو او سيمې د کتنې او څارنې لپاره تللی و، راستون شو. فيلډ مارشال ته ورغی او وې ويل:

-په دې موضع او ځای کې جنګېدل ناشوني دي.

کوتوزوف، په خورا تعجب هغه ته وکتل او له هغه يې وغوښتل چې خپله خبره تکرار کړي. کله چې هغه خپله خبره وکړه، کوتوزوف هغه ته لاس وروړاندې کړ او وې ويل:

-لاس دې راکړه !

د هغه لاس يې داسې واړاوه چې نبض يې وګوري او ورته وې ويل:

-ته خو جوړ يې ګرانه ! پام دې ده، چې څه وايې ؟

کوتوزوف،د پاکلونايا له غونډۍ سره د دارګاميليوفسکي له تم ځايه شپږ ورسته لرې،له خپلې ګاډۍ نه کوز او د واټ څنګ ته پر يوې اوږدې څوکۍ کېناست. د جنرالانو يوه لويه بې شمېره ډله يې شاوخواته راټول شول. ګراف راستوپچين له مسکوه راورسېد او له دوی سره يو ځای شو. د مشرانو ټوله دغه غوره ټولنه چې په څو ډلو ويشل شوې وه، په خپل منځ کې د دغې پوځي موضع د ګټې او تاوان، د پوځونو د درېځ او موقعيت، د يادو شويو وړانديزونو، د مسکو د حالاتو او په ټولې ډول د جګړې په اړه غږېدل. که څه هم ټول په دې پوهېدل چې په پوځي شورا کې د ګډون لپاره رابلل شوي نه دي، که څه هم غونډه يې د شورا په نامه نه يادېده،خو په حقيقت کې د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولیدل پوځي شورا ته ورته و. ټولې خبرې اترې د عمومي حالاتو په اړه وې. که چا د خپل ژوند یا کومه بله ځانګړې خبره کوله، هغه به یې په پټه پټه او په کراره کوله او سمدلاسه به بېرته ټولیزو خبرو اترو ته راستنېدل. ددغو ټولو خلکو په منځ کې نه کومه ټوکه، نه خندا او نه آن کومه موسکا لیدله کېدای شوه. داسې برېښېده چې ټول هڅه کوي، له حالاتو سره سم ځان برابر کړي. ټولو ډلو د غږېدا او خبرو اترو په لړ کې هڅه کوله، ځان ستر قوماندان ته نږدې وساتي. (هغه اوږده خوکۍ چې دی پرې ناست و، ددغو ډلو په منځنۍ برخه کې اېښودل شوې وه).
دوی داسې غږېدل چې هغه کولای شول، د دوی خبرې واوري. ستر قوماندان د هغوی خبرې اورېدې، که څه هم کله به یې د هغه څه په اړه چې دده په شاوخوا کې غږېدل، پوښتنې کولې، خو خپله به یې په هغو کې نه ګډون کاوه او نه یې خپل نظر په کې څرګنداوه. کله به یې چې ډېر وخت د یوې ډلې خبرې واورېدې، په ناخوښۍ به یې له هغې نه داسې مخ واړاوه چې ګواکې هغوی اصلا د هغه څه په اړه چې دی یې غوښتونکی دی، نه غږېږي. که کوم چا به، د غوره شوي دریځ او موضع په اړه، هغه هم نه ددغه دریځ د پوځي ځانګړتیاوو، بلکې د هغه چا فکري توانایي ته ګوته نیوله، چې دغه دریځ یې غوره او ټاکلی دی. بلې ډلې هڅه کوله دا په ډاګه کړي چې تېروتنه لا د مخه شوې ده، ځکه د جګړې د پیل پریکړه باید درې ورځې د مخه شوې وای.. په بله ډله کې ګراف راستوپچین په دې اړه غږېده چې دی چمتو دی د مسکو له اربکیانو سره د پلازمینې د ساتنې لپاره ددغه ښار په کوڅو کې ځان ځار کړي، خو دی به خپله هغه خوابدي هېره نه کړي چې دده د نه خبرتیا له امله ده ته پیدا شوې وه او زیاته یې کړه، که دی په هر څه پوره خبر وای، نن به حالات بل ډول وای.. یوې بلې ډلې هسې اپلتې غږولې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتوزوف پر څېرې دم په دم د خواشینۍ او پریشانۍ نښې زیاتېدې، له دغو ټولو خبرو اترو نه یو څه کوتوزوف ته څرګندېدل:

د مسکو ساتنه په هېڅ ډول امکان نه لري. ..

افسران څه چې آن سرتېرو هم په دې اړه خبرې کولې او د پوځ دریځ یې خورا ژوبل او خراب او داسې ګاڼه چې د دفاع کولو نه دی، نو له همدې کبله دوی نه شي کولای هغه ځای کې وجنګېږي چې هلته ماته هرومرو ګڼي. که څه هم چې بینیګسین پر دغه نظر ټینګار کاوه او نورو هم لا په دې اړه خبرې کولې، خو دې خبرې په اصل کې هېڅ معنا نه لرله، دا یوازې د خبرو اترو لپاره یوه پلمه او د لوبې دوکې لپاره یوه وسیله وه. او کوتوزوف په دې ښه پوهېده.

بینیګسین د دې دریځ په غوره کېدو، په ټینګه د خپلې روسي هېواد پالنې یادونه کوله (دا هغه څه و چې نه یې شو کولای د کوتوزوف تندی تریو نه کړي) او له مسکوه یې د دفاع په دریځ سخت ټینګار کاوه. کوتوزوف ته لکه د لمر په شان د بینیګسین نظر څرګند او په دې پوهېده چې که دا جګړه بایلودل شي، د ماتې ګناه به د کوتوزوف پر غاړه وراچوي. ځکه چې پوځ یې پر ته له هغه چې کومه ښته کړې وي، د وربیووې (مرغیو غرونو) پورې رسولې دی. او که جګړه وګټل شي ټول ویاړ به یې ځکه دده وي چې خریطه دده وه او که چور دده وړاندیز منل شوای نه وای، د مسکو د تسلیمۍ د دوکې له پړې به یې ځان خلاص کړی و، خو بوډا قوماندان اوس د یوې دوکې خیال هم نه ساته، هغه د یوې وحشتناکې پوښتنې په اړه فکر کاوه او د دغې پوښتنې ځواب دده له هېڅ چا نه اوریده، د هغه لپاره اوس دې پوښتنې ځواب نه شو پیدا کولی چې:

- آیا دا زه وم چې پرې مې ښودل، ناپلیون تر مسکو پورې راشي؟ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت مې دا کار وکړ؟ پرون شپه مې چې پلاتونوف ته د شاتګ قوماندې ورکړه؟ یا درې ورځې مخکې چې یوه شپه ویده شوم او قوماندې مې بینیګسین ته وسپارله؟ او یا لا له هغه نه مخکې؟ نو څه وخت؟ څه وخت دغه وحشتناک کار شوی دی؟ په هر حال مسکو باید پرېښودل شي، پوځ باید شاته لاړ شي او دا قوماندې باید ورکړل شي، د دغه شان قوماندې ورکول او له ستري قوماندانۍ نه لاس اخېستل هغه ته یو شان وبرېښېدل. د دې ترڅنګ هغه د واک لېواله او له هغه سره روږدی شوی و. (هغه درناوی چې په ترکیه کې شهزاده پرازروفسکي چې ده خدمت ورسره کاوه، کېده، دده رخه راپاروله) هغه په دې ډاډمن و چې د روسیې د ژغورنې برخلیک ځکه دده په نامه لیکل شوی دی چې دی ستري قوماندانۍ ته د ټولواک د خوښې برخلاف، ولس ګمارلی دی. هغه په دې ډاډمن و چې دی دی، چې په او سنیو سختو شرایطو کې کولای شي د پوځ د مشر په توګه پاتې شي، هغه په دې ډاډه و چې هغه په نړۍ کې یو له هغو یوازینو کسانو نه دی چې توان لري، نه ماتېدونکی ناپلیون خپل دښمن وګڼي، نو له دې کبله د هغو قوماندو له خیاله به په ویره کې شو چې ده باید ورکړې وای.

نو باید کومه پریکړه شوې وای، باید هغه خبرې اترې چې دده په شاوخوا کې روانې وې او کرار کرار یې د واده د جرګو مرکو بڼه غوره کوله، پای ته رسېدلې وای.

هغه مشر جنرالان ځانته وروبلل، له خپلې اوږدۍ څوکۍ نه پاڅېد او د فیلي خواته چې ګاډۍ یې هلته ولاړه وه ورغی او وې ویل:

-دا زما ککره بڼه ده او که خرابه ده، هر څه چې ده، ده. په بل هېڅ چا باور نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

د ورځې په دوو بجو د کليوال اندرې سوآستيانوف په کور کې چې د کلي تر ټولو لوی او غوره کور و، جرګه راټوله شوې وه.

بزګر کليوال، ښځې او ماشومان د ساده کليوالو بزګرو لويه کورنۍ، په لوګي وهلې توره کوټه کې، له دالانه آپلو راغونډ وو. يوازې د اندرې شپږ کلنه لمسۍ، کمکۍ مالاشا، چې والاحضرت (کوتوزوف) پر هغې لاس تېر کړی و او د چای څکلو په وخت کې يې يوه ټوټه قند ورکړی و، د لويې کوټې د بخارۍ ښۍ خواته ناستې پاتې وه. کمکۍ مالاشا، دبخارۍ له څنګه، په حيا خو خوشالۍ د هغو جنرالانو دريشيو، نښانونو او صليبونو ته کتل، چې يو په بل پسې کوټې ته راننول او د کوټې په کنج کې د سپېڅلي شمايل تر لاندې پر ولاړې اوږدې څوکۍ کېناستل. مشر بابا (مالاشا په زړه کې کوتوزوف په دې نامه ياداوه) له نورو نه جلا، د بخارۍ شاته، په يوه تياره کنج کې پر يوې ټيټې څوکۍ ناست و. پرله پسې يې غاړې تازه کولې او د خپلې دريشۍ غاړه يې سره له هغه چې تنې يې خلاصې وې، او ګواکې غاړه يې تخنوله، پرله پسې لاپسې خلاصوله. رارسېدونکي کسان يو په بل پسې فيلډ مارشال ته ورنږدې کېدل. کوتوزوف به د يونيم تن لاس کېښکوده او يونيم تن ته يې يوازې سر ښوراوه. دده ياور قيصروف غوښتل د کوتوزوف تر مخې د کړکۍ پرده لرې کړي، خو کوتوزوف په خواشينۍ دهغه خواته لاس وښوراوه او قيصروف پوه شو، چې والاحضرت نه غواړي چې څوک يې څېره ووينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نښتر دلرګي نه د جوړ شوي ميز شا او خواته، چې خريطې، نقشې، پنسلونه او کاغذونه پرې پراته وو، دومره خلک راټول شوي وو، چې ګمارل شوي لاړل او نورې څوکۍ يې راوړې او ميز ته يې کېښودې. پر دغو اوږدو څوکيو د راغلو کسانو نه، يورمولوف، قيصروف او تول کېناستل. بارکلي دوتولي، چې رنګ يې الوتی، ناروغو ته ورته، سپين تندی، چې د شنه سر له امله ډېر اوږد برېښېده، او د ګيورګي نښان يې په غاړه کې پروت و، تر شمايل لاندې د غونډې تر ټولو نه په بر سر کې ناست و. دا دويمه ورځ و چې تبې په عذاب کړی و او د هغه له بد مرغۍ نه همدا اوس ريږديدا پسې اخېستی و او ځان يې سخت خوړېده. اوواروف، يې تر څنګه ناست و. د تل په شان په چندان نه لوړ آواز يې (د ټولو په شان) په داسې حال کې چې لاسونه يې يو ډول ښورول، له هغه سره غږېده. ګردی دختوروف چې لنډ ونې او ثورب و، وروځې پورته وړې، لاسونه يې پر ګېډه ايښي وو او په خورا پام يې غوږ نيولی و. بلې خواته يې ګراف آسترمان تولستوی ناست و، خپل ځيږسر يې چې غبرګې ځيرکې سترګې يې ځلېدلې، په لاس تکيه کړی او په خپلو خيالونو کې ډوب و. رايوفسکي، چې د عادت له مخې يې خپلې ځړوندې څڼې تر غوږو تاوولې په تلوار سره کله کوتوزوف او کله ناکله د کوټې دروازې ته کتل. د کونوفينځينه، زغرده، ښکلې او مهربانه څېره تانده ځلېدله او ځيرکه موسکا يې پر شونډو خوره وه، سترګې يې د مالاشا له سترګو سره ولګېدې، هغې ته يې سترګه کېښکودې او هغه يې په خندا کړه، ټول بينيګسين ته چې د جبهې د کتلو په پلمه يې خپله خوړه غرمنۍ پای ته رسوله، سترګه په لاره وو. له څلورو نه تر شپږو بجو پورې د هغه د راتګ په هيله غونډه پيل نه شوه او په هسې خبرو چې جګړې پورې يې هېڅ اړه نه لرله، وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر شو.

همدا چې بيني‌ګسين کوټې ته راننوت، کوتوزوف له ناست کنج نه راووت او ميز ته په دې اندازه ورنږدې شو چې دده پر مخ، پر ميز د لګېدلو شمعونو رڼا نه لګېده. بيني‌ګسين جرګه په دې پوښتنې پيل کړه:

-آيا د روسيې سپېڅلې پخوانۍ پلازمېنه بې جګړې تسليم شي او يا له هغې نه دفاع وشي؟ پر ټولو يوه اوږده او درنه چوپتيا خوره شوه، پر ټولو څېرو خواشيني راپريوته او په دې چوپتيا کې د کوتوزوف د خريدو او ټوخېدو کرار جړ او خواشيني غږ اوريدل کېده. ټولو سترګو هغه ته کتل. مالاشا هم بابا ته ځير وه. هغه تر ټولو نه هغه ته نږدې ناسته او وې ليدل چې څنګه يې مخ ګونځې ګونځې او تکل يې کړی و چې وژاړي، خو ناڅاپه يې په خورا قهر په دې تمه چې د هغه دوکه والی راڅرګند کړي، د بيني‌ګسين خبره تکرار کړه:

-د روسيې سپېڅلې او لرغونې پلازمېنه! جلالتمابه اجازه راکړئ درته ووايم چې د يوه روسي لپاره دا پوښتنه چور بې معنا ده. (خپل درووند ځان يې لږ راوړاندې کړ). دا پوښتنه بايد داسې ونه شي او دا پوښتنه بې معنا پوښتنه ده. هغه پوښتنه چې تاسو ما د هغې په اړه خبرو ته دلته رابللي ياستئ، هغه د جګړې خبره ده. پوښتنه يا خبره داسې ده: روسيه يوازې د هغې پوځ ژغورلی شي، ښه به دا وي چې جګړه پيل شي؟آيا دا به مو په ګټه وي چې ګوابښ ومنو، پوځ او مسکو له لاسه ورکړو او يا مسکو بې له جګړې پرته تسليم کړو؟ هو، د دغې پوښتنې په اړه مې غوښتل ستاسو نظر واورم. (او هغه بېرته په خپله څوکۍ کې شاته تکيه وکړه)

خبرې اترې تودې شوې. بيني‌ګسين لا لوبه بايللې نه وه ګڼلې. که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د فيلي له سيمې نه د باندې يې د دفاعي جګړې د ناشوني والي په اړه، د بارکلي او ځېنو نورو نظر ومانه، هغه د روسي هېواد پالنې او د مسکو په مينه کې تر لېونتوبه ډوبتيا په ښودنې، دا وړاند يز وکړ چې د شپې له خوا نه پوځونه د جبهې له ښي خوا نه کينې خواته ولېږدوي او سباته د فرانسوي کرښو په کينې خوا يرغل وکړي. دلته نظرونو، خورا تو پير درلود، څوک ددې نظر په پلوي او څوک هم له هغه سره په مخالفت کې ودريدل. يورمولوف، دوختورف او رايوفسکي د بينيګسين ملاتړ وکړ. د مسکو د تسليمۍ نه مخکې، د سرښندنې د احساس يا د ځېنو ځانګړو خبرو له مخې ددغو جنرالانو په دې سر نه خلاصېده چې دغه جرګه ددې واک نه لري، چې د روانې جګړې بهير بدل کړای شي او په دې نه پوهېدل چې مسکو لا وخته تسليم شوی دی. نور جنرالان په دې پوهېدل او د مسکو په اړه له خبرو نه په ډډه کولو سره يې غوښتل په دې اړه پريکړه وشي. چې پوځونه تر شاتګ نه وروسته څه وکړي. مالاشا چې دا ټول يې تر مخې تېريدل، دې جرګې او د هغو مرکو او خبرو ته په بله ستر ګه کتل. هغې داسې تصور کاوه چې ټوله خبره د لوی بابا (کوتوزوف) او د اوږد لمنې (دې په زړه کې يې بينيګسين په دې نامه نومولی و) بينيګسين تر منځ روانه ده. هغې ليدل چې خبرو د ناندريو بڼه پيدا کړې او دې په زړه کې د بابا ملاتړ کاوه. د خبرو اترو په منځ کې يې د بابا يو ځير خو له ملنډو سره مل غلچک ته پام شو، چې بينيګسين ته ګوري او تر هغه نه وروسته يې پام او په دې خوشاله هم شوه چې بابا اوږدلمني ته څه وويل، د بابا تردې خبرې وروسته، بينيګسين تک سور شو، پاڅېد او دې خوا هغې خوا په ګرځېدو شو. هغې خبرې چې په بينيګسين دومره اغېز کړی و، د کوتوزوف هغه يادونې وې چې د بينيګسين د هغه وړاند يز په اړه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته کړې وې، چې ده ویلي و:

-د شپې له خوا به د جبهې د ښي خوا پوځونه کیڼې خوا ته ولېږدول شي او سبا به بیا د فرانسویانو د جبهې په ښي خوا یرغل وشي.

کوتوزوف وویل:

-زه نه شم کولای د ګراف وراندیز ومنم. دښمن ته نېږدې د پوځونو ځای پر ځای کول، تل ګوابښمن کار او د جګړو تاریخ ددې خبرې خورا ښه شاهد دی. د ساري په توګه.. (کوتوزوف ګوا کې چې په فکر کې ډوب او د خپلو خبرو د تایید د لټولو لپاره په ساده غلچک بینیګسین ته وکتل) هو کې ! د ساري په توګه دا به ښه بېلګه وي چې د فریدلاند جګړې ته وګورو. زه داسې تصور کوم چې د ګراف به ښه په یاد وي چې په دغې جګړې کې زموږ د ماتې یوازینی علت دا و چې زموږ پوځونه دښمن ته خورا نېږدې پراته او خپل دریځ یې بدل کړی و. تر دې وروسته یوه چوپتیا چې ټولو ته خورا اوږده وبرېښېده، راخوره شوه.

خبرې اترې بیا پیل شوې، خو لېوالتیا یې ځکه نه درلوده، چې ټولو داسې احساسوله چې نور نو د غږېدو لپاره څه پاتې نه دي.

ددغو پرله پسې چوپتیاوو نه د یوې په اوږدو کې، کوتوزوف یو ژور سوړ اسویلی وویست، داسې برېښېده چې هغه غواړي څه ووایي، ټولو هغه ته وروکتل، هغه وویل: ښاغلو !

-لاس چې مات شي غاړې ته راځي، اوس د هر شي تاوان باید زه ورکړم.

هغه په کراره پاڅېد، د میز خوا ته ورغی او وې ویل:

-ښاغلو ! ما ستاسو خبرې واورېدې، کېدای شي ستاسو ځېنې له ما سره دا ومني چې (لږ ځنډ نی شو او بیا یې وویل) د هغه واک له مخې چې ټولواک او ولس راکړی د شاتګ قومانده ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتوزوف تر دغې خبرې وروسته، جنرالان په داسې، رسمي، چوپې چوپیا او احتیاط خواره واره شول، لکه په ادیرې کې چې د مړې تر خښېدو وروسته خلک خورېږي.

ځینې جنرالان په ټیټ او داسې ژبه له هغه سره غږېدل چې له همیشني حالت نه یې زیات توپیر لاره.

مالاشا (له پخوا نه ورته سترګه په لاره وه، چې ماښامنۍ وخوري) چې پښې یې په تبۍ تبلې او شا یې دیوال ته لګولې وه، له تبۍ نه راکوزه شوه د جنرالانو له منځه راتېره او په تلوار له دروازې نه ووته، له هغه وروسته چې جنرالان ووتل، کوتوزوف تر ډېرې پورې هلته پاتې شو، څنګلې یې پر مېز لګولې وې او په پرله پسې ډول په خیال کې له هماغې وحشتناکې پوښتنې سره لاس و ګریوان و: څه وخت؟ څه وخت د مسکو تسلیمېدو ته اړ شوو؟ هغه څنګه پرېښودل شو؟ په هغه کې د چا ګناه وه؟ په تلوار یې خپل شنایدر، نومي یاور ته چې د شپې ناوخته ده ته راننوتلی و، وویل:

-ما ددې هیله نه لرله، نه ما ددې هیله نه لرله ! ما اصلا په دې اړه فکر هم نه کاوه.

شنایدر ده ته وویل: والاحضرت، تاسو باید استراحت وکړئ.

پرته له هغه چې د هغه ځواب ورکړي، مېز یې په پړسېدلي سوک ووا هه او چغه یې کړل:

-نه، نه، د آسونو غوښه به یې خوا ره شي، لکه هماغه شان چې ترکان یې خوړو ته اړ وتل، هو کې، دوی به یې هم وخوري، ای کاشکې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

هماغه وخت، د مسکو د پرېښودو او هغه ته د اور د ورته کېدو سره هممهاله چې له جګړې پرته د پوځ شاته تګ لا ډېر ګوابښمن و، راستوپچین چې زموږ په اند د دې ټولو پېښو لارښوونکی ګڼل کېده، چور نور څه کول.

د مسکو پرېښودل او هغه ته اور ورته کول، همداسې ضروري و لکه د بارادنیو تر جګړې وروسته پرته له جګړې نه پوځ ته د شاتګ قومانده ورکول.

هر روسي د منطقي دلیل له مخې، بلکې د هغه احساس له مخې چې موږ هر یو یې لرو، زموږ پلرونو درلود، کېدای شول دا احساس او اټکل کړی وای، چې څه کېدونکي دي.

له هماغه سمیلینسکه رانیولې، د روسیې د خاورې په ټولو ښارونو او کلیو کې د راستوپچین له ګډون او د هغه له خپرونه پرته، هماغه څه پېښ شول چې په مسکو کې پېښ شول. خلک بې پروا دښمن ته سترګې په لاره وو، نه یاغي شول، نه چا څوک وداړل، په کراره یې د خپل قسمت انتظار درلود او داسې یې انګېرله چې په خورا سختو شېبو کې به هغه څه پیدا کړي چې باید وې کړي. او همدا چې دښمن رارسېده، بډایانو به چې څه درلودل، هغه یې پرېښودل، او تلل، بې وزلي او خواران پاتې کېدل او هغه څه چې به پاتې و، هغو ته یې اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته کاوه او نابودول يې.
دغه انګېرنه، چې دا به داسې کېږي او تل به همداسې کېږي، د روسي انسان په ختېځ کې نغښتې ده او وروسته له دې به هم نغښتې وي. او دغه احساس او له هغه نه لا غوره دا چې دغه اټکل چې مسکو به دښمن ته تسليمېږي، د مسکو د روسي ټولنې په زړونو کې لا په ۱۸۱۲ کال کې څرګند و، هغه کسان چې د جولای او د اګست په پای کې له مسکوه وتل پيل کړل. دا وښودله چې هغوی دې ورځې ته سترګې په لاره وو. هغو دا وښودله چې هغوی هر څه کولای شول، څه له ځانسره واخلي، څه يې چې غوښتل، هغه يې واخېستل، مسکو يې پرېښود، خپل کورونه او نيمايي شتمني يې پرېښوده، هغوی په ځان کې د نغښتې هېوادپالنې له مخې داسې وکړل. هغو دا کار نه د هېواد د ژغورنې، د ځان او ماشومانو د قربانولو او ځېنو نورو د لوړو چغو سورو په بڼه، بلکې بې له چغو او نارو او په ساده توګه دا څرګنده کړه، نو له همدې کبله دهغو کړو ښه پايله لرله. هغوی ته ويل کېدل:
-له ګواښه ځان ژغورل او تښتېدل شرم دی، يوازې ډارن له مسکوه تښتي، راستوپچين به په خپلو خبري پاڼو کې هغو ته ويل چې له مسکوه وتل، رسوايي او بې ننګي ده. هغوی ته له مسکوه وتل او تېښته ننګ و، شرم و، هغوی نه غوښتل د ډارن او بې ننګه نوم وګټي، خو بيا هم هغوی وتښتېدل، له مسکوه ووتل، ځکه هغوی پوهېدل، چې بايد همداسې وشي. ولې هغوی لاړل؟ نه شو کولای تصور وکړو چې د راستوپچين او ناپليون له خوا په لاندې شويو سيموکې د پيدا شوي وحشت بيان وکولای شي، د اوسيدونکو په زړه کې د تېښتې ويره راوسپړي. هغوی تښتېدل او له هر چا نه د مخه، عمرخوړلي او د لوړو زده کړو خاوندان وتښتېدل او لاړل. دوی ښه پوهېدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسویانو، ویانا او برلین وران کړي نه دي، هغه سم پاتې دي، هغوی پوهېدل چې د ناپلیون له خوا د دغو ښارونو دلاندې کولو په وخت کې خلکو له ښکلو فرانسویانو سره چې د روسانو په تېره بیا د هغو د ښځو خوښېدل، وخت په خوښۍ او کرارۍ تېر کړی و. هغوی تلل، هغوی له دې کبله تلل چې د روسي وګړو لپاره دا مهمه نه وه چې د فرانسوي پوځ تر واک لاندې په مسکو کې ژوند ښه تېرېږي او که بد؟ هغه تلل او تښتېدل، ځکه تر فرانسوي واک لاندې ژوند د هغو لپاره د زغم وړ نه و. دغه ژوند تر بل هر څه نه دوی ته سپک بریښېده، هغوی د بارادنیو تر جګړې مخکې تښتېدلي او تر دغې جګړې وروسته، سره له هغه چې د مسکو مشر قوماندان هغوی له مسکوه دفاع ته راهڅول، لا زیات او په تلوار تلل او تښتېدل. د مسکو ستر قوماندان ویلي و چې دی تکل لري په ایفیرسکایا (خورا د قدر وړ شمایل) شمایل لوړ او ورپوي او د هغه تر سیورې لاندې به د دښمن جګړې ته ورځي. هغه ویلي و چې بالونونه به هوا ته الوزوي او فرانسویان به نابود وي، مسکویانو د راستوپچین هغو خبري پانو ته چې دغه راز ملنډې یې خپرولې، پاملرنه نه کوله او تښتېدل. هغوی پوهېدل چې جګړه او ساتنه د پوځ کار دی، پوځ باید وجنګېږي او هلته چې پوځ نه شي جنګېدلی، دوی به له خپلو ښځینه او چوپړانو سره پاڅېږي، د مسکو درې غونډیو ته به وخېژي او د ناپلیون په وړاندې به ودرېږي. هغوی پوهېدل چې باید وتښتي، سره له هغه چې د خپلو شتمنیو په پرېښودو او د هغو پر تالان والان کېدو یې سخت زړه خوږیده. هغوی تښتېدل او په دې اړه یې فکر نه کاوه چې د هغوی د لوړو معناوو شاهانه، پرتمینه، لویه، بډایه پلازمېنه په اور کې ایره کېږي (ځکه دغه لوی ښار چې له لرګیو جوړ شوی او اوسېدونکي یې هغه پرېږدي، خود به

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوځي) هغه وتښتېدل، هغوی لاړل، هر يو په خپل سر لاړل، خو يوازې همدغه لېږديدل، کوچيدل ستره پېښه وه چې ترابده پورې به د روسي ملت د وياړ شمله شي. هغه بډايه مېرمن چې لا د جون په مياشت کې پاځېده، له خپلو تورو مرييانو او چوپړانو سره يې مسکو پرېښود او د خپلو جايدادونو په تکل د سراتوف د ولايت په لور وخوځېدله، همدا پټ احساس يې په زړه کې نغښتی و چې د ناپليون واک ته به غاړه نه ږدي، خو له دې ډاريده چې دراستوپچين په سپارښتنه د هغه تګ ته خنډ پېښ نه شي، په خورا سادګۍ او رښتينتوب يې په هغه لوړه چاره کې ګډون وکړ چې روسيه يې وژغورله، خو ګراف راستوپچين چې له يو پلوه مسکوه تېښبه بې ننګي بلله له بله پلوه يې خپلې دولتي څانګې له مسکوه لېږدولې، هغه، هغه وسلې چې له کاره لويدلې وې، نشيانو او لوچکانو ته ويشلې، کله به يې خپله شمايل لوړول او ډلې به يې جوړولې او بيا يې خپله د پاپ اګوستين له خوا له ښاره د شمايلو او د هغه د سپېڅلو شيانو د لېږدولو مخنوی کاوه، کله به يې په ملنډو ويل چې مسکو ته اور ورته کوي او خندل به يې چې خپل کور يې خپله سوځولی دی، بيا يې په يوه پاڼه کې ليکل چې دده روزنتون ته فرانسويانو اور ورته کړی دی.. کله به يې مسکويانو ته حکم وکړ چې، که په هر چا د جاسوس ګمان وشي، هغه دې ونسي او ده ته دې وسپاري او کله به يې ددغه شان چارو سرته رسوونکي په خپلو کړو ملامتول. کله به يې ټول فرانسويان له مسکوه شړل او کله به يې بيا مېرمن اوبرشالمي، ته چې د فرانسويانو مرکز يې په مسکو کې جوړ کړی و، اجازه ورکوله په دې ښار کې پاتې شي. يا به يې په زغرده سپارښتنه وکړه چې د پوستې د ادارې سپين ږيری مشر کلوچاروف چې د درناوی وړ بوډا و، پرته له هغه چې ګناه يې معلومه وي، ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له ښار يې وشړي، کله به يې د ښار خلک د ښار درې غونډيو (يو ځای نوم دی) ته له ناپليون سره د جګړې لپاره وروبلل او کله به يې بيا کوم ځوان فرانسوي يوازې پرېښود. هغه به ووژل شو او دی به د کور د شا دروازې له لارې وتښتېد ،کله به يې ويل چې د مسکو تر سقوط وروسته به ژوندی پاتې نه شي او کله به يې د فرانسوي شعرونو په کتابګوټي کې په دې جګړه کې د خپل ګډون په اړه شعرونه ليکل. دغه سړی،د دغه شان پېښو په اغېز او اهميت نه پوهېده، هغه غوښتل يوازې داسې يو څه وکړي چې دده له خوا شوی وي،دی په کې ځرګند شي او دی په کې د پام وړ وي. هغه غوښتل داسې يوه چاره تره سره کړي چې هېوادپالنه او اتلواله وګڼل شي اولکه د ماشومانو په څېر ديوې سترې هېوادپالنې او اتلوالۍ لپاره، لکه له خلکو نه د مسکو تشيدو ته خوښې وکړي،وخاندي او د هغه د سوځېدو اور ته وګدېږي. هغه هڅه کوله په خپلو وړو لاسونو د ولس د هغه سيلاو مخه ونيسي، لږ. يې وځنډوي، هغه سيلاو چې دی يې هم لکه نيزه ولی له ځانسره وړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

ایلین ،له درباریانو سره مل،له ویلنا نه پترزبورګ ته راستنه شوه،خو دحال مزه یې نه وه.

هغه، په پترزبورګ کې د یوه داسې لوړ پوړي چارواکي تر ځانګړې ملاتړ او پاملرنې لاندې وه چې په دولت کې یې خورا لوړ دریځ درلود. هغې په ویلنا کې له یوه بهرنی شهزاده سره هم پېژندګلوی پیدا کړې او ډېر سره خواږه شوي وو. کله چې ایلین پترزبورګ ته راستنه شوه،شهزاده او دغه بډای مخور دواړه په پترزبورګ کې وو ، دواړو له هغې سره د دوستۍ خبرې کولې، ایلین ته په ژوند کې د لومړي ځل لپاره داسې ستونزه چې دې ته یې نوی والی لاره راپیدا شوه، دې غوښتل له دواړو سره خپلې نږدې اړیکې وساتي او یو هم له ځانه خفه نه کړي.

دغه شان ستونزه چې بلې هرې ښځې ته ګرانه بریښېده،یو ځل هم ګرافینه بیزاوخوفا (ایلین) پریشانه نه کړه، هغې هسې د خورا ځیرکې او هوښیارې ښځې نوم، نه و ګټلی. که هغې غوښتای هر څه پټ کړي او په دوکو دوکو له دغه کړکیچن دریځه ځان وژغوري او ځان ملامت وګڼي، هر څه به خراب شوي وای، خو ایلین ددې برخلاف، لکه د رښتینی لوړ انسان په توګه چې هر څه کولای شي، ځان په بشپړه توګه یو په یو هغه رښتینتوب ته چې دې باور پرې لاره وسپاره او ټوله ګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په نورو ورواچوله.

لومړۍ ځل چې ځوان شهزاده، زړه وکړ او هغه ته يې د هغې د کړو لـه امله د ملامتۍ په نښه څه وويـل، هغې خپل ښکلی سر راوچت او نـيم پلو يې هغه ته وروکتل او په زغرده يې وويل:

-دا هم د نارينو بې رحمه ځانغوښتنه ده، البتـه مـا هـم تـر دې نـه ښـه هيله نه لرله. ښځه له تاسو نه ځان ځاروي، زوروړي او دا يـې هـم پالنـه او آفرين، تاسو والاحضرت ته وايم ! تاسو څنګه ځان تـه دا حق ورکـوئ، چې نور زما د دوستۍ او پېژندګلوئ په اړه وپوښتئ ؟ دا سړی پر ما تـر پلار ره هم زيات حق لري.

بهرني شهزاده غوښتل څه ووايي، خو ايلين د هغه خبره پـرې کـړه او وې ويل:

-نو ،ښه ده، کېدای شي. زمـا پـه وړانـدې د هغـه احساسات د پـلار احساساتو تـه ورتـه نـه دي، خـو دا ددې دليـل نـه دی چـې زه د خپـل کـور دروازه د هغـه پـه وړانـدې وتـړم، زه نارينـه نـه يـم چـې د ښـو ځـواب پـه ناشکرۍ ادا کړم. خپـل لاس يـې پـر خپـل ښـکلي او وتلـي ټټـر کېښـود ، سترګې يې آسمان پلو ته وغړولې او زياته يې کړه:

-تاسو والاحضرت بايـد پـوه شئ، چې زه د خپلو ژورو احساساتو حساب يوازې خدای او خپل وجدان ته ورکوم.

-نه، نه د خدای لپاره، زما خبرو ته لږ غوږ شئ.

-ښه ده، له ما سره واده وکړئ، ستاسو مينځه به شم.

-آغلې ! دا خو ناشونې خبره ده.

ايلين په ژړا شوه او وې ويل:

-تاسو ځانتـه دا حق نـه ورکـوئ چې مـا سـره د واده کولـو تـر کچـې راټيټ شئ، تاسو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده هڅه کوله هغه آرامه کړي، ایلین چې او ښکې یې راتوییدې (هغې ګواکې ځان هېر کړی و ) ویل چې هېڅ څوک نه شي کولای د هغې د مېړه کولو خنډ شي، ځکه د څو وار واده کولو ډېرې بېلګې شته (که څه هم په هغه وخت کې د څو ښځو درلودل، خورا کم و، خو هغې د ناپلیون او څو نورو لوړ پوړو چارواکو نوم واخېست) هغې زیاته کړه، چې هغې هېڅکله داسې رښتیني مېړه نه درلود او دا تل د نارینو قرباني شوې ده.

بهرني شهزاده چې تسلیمۍ ته چمتو و، وویل:

-خو قوانین څنګه کېږي، مذهب..

ایلین ځواب ورکړ:

-قوانین، مذهب.. که قوانین او مذهب ونه شو کولای دا ستونزې حل کړي، نو د څه لپاره دي.

ځوان شهزاده هک حیران و چې څنګه یې دغه ساده دلیل ته، تر هغه وخته پورې پام شوی نه و، نو له دې کبله په دې اړه د مشورې لپاره یوې روحاني ټولنې ته چې ده له هغې سره نېږدې اړیکې لرل، ورغی.

تر دغې پېښې څو ورځې وروسته په یوې هغې پرتمینې مېلمستیا کې چې ایلین د کامنې په وچه کې په خپل یوه کلیواله باغچه کې جوړه کړې وه، هغې ته یو سړی چې لنډ روحاني کمیس اغوستی و، سره ورو پېژاند. هغه ښاغلی، ژوبر نومېده. ښاغلی دوژبر ژوزوییت په عمر پوخ او څنې یې سپینې وې.. توري ځلېدونکې سترګې درلودې او د هر چا پر زړه یې سخت اغېز کاوه.

هغه د څراغونو تر ځلېدونکې رڼا او د موسیقۍ په شروشور کې تر ډېرې مودې پورې په باغ کې له ایلین سره د زړه خواله وکړه. دوی له خدای او مسیح او مریم سره د لېوالتیا او هغو لذتونو په اړه چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغې دنیا کې د مومنانو په برخه کېږي، وغږېدل او د هغه یوازیني رښتینتوب په اړه یې چې د کاتولیک په دین کې دی، خبرې وکړې. دغو خبرو په ایلین خورا بې ساري اغېز وکړ او څو واره د دواړو په سترګو کې اوښکې راڅرګندې او آوازونه یې ورېږدېدل. نڅا دوام درلود او یو ځوان راغی ایلین ته یې د نڅا بلنه ورکړه او له دغه روحاني او د وجدان له وېښوونکی سره یې د هغې خبرې وشلولې. خو بله ورځ ماښام دغه ښاغلی ژوبر یوازې د ایلین کورته راغی او دغه راتګ یې وروسته په وار وار تکرار شو. دغه روحاني مشر یوه ورځ، ایلین یوې کاتولیکې کلیسا ته بوتله، ګرافینه یې د لمانځنې ځای ته بدرګه کړه، هغه د لمانځنې ځای کې په ګونډو شوه. زړه راښکوونکی بوډا فرانسوي،د هغې پر سر لاس،ورکېښکود ،ایلین خپله وروسته ویل:

-دې په ګوګل کې داسې یوه خوږه پسرلنی ورمه احساس کړه چې د هغې د زړه تر تله پورې یې لاره وموندده او هغې ته یې وښوده چې دا د خیر او ثواب ننبه ده. بیا وروسته یو اوږد کشیش چې اوږد کمیس اغوستی و، راغی، ایلین هغه ته په خپلو ټولو ګناهونو اعتراف وکړ او ټول ګناهو نه یې وبښل شول.

ټول هغه څه چې په دې اوږده موده کې د هغې په شاوخوا کې تېرېدل، هغه پام چې دې یوه او ځیرکو خلکو دې ته کاوه او په دې خوږو ژبو او بې ساري ادا تر سره کېدل او هغه معصومانه سپېڅلتیا چې دې خپله شاوخوا کې احساسوله (په ټوله دې موده کې د هغې په سپینو پتارو سپین کمیس پرغاړه و ) خورا خوند یې ترې اخېسته. خو دغه خوندونه هغه څه نه و چې له خپلې موخې ددې پام بلې خوا ته واړوي. لکه هغه شان چې تل څرګنده ده، د چالاکۍ په چارو کې، احمق، تل یوه او ځیرک خلک غولوي. ایلین چې پوه شوه چې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو خبرو او زړه راښکوونکو چارو موخه دا ده چې له دې نه کاتولیکي ټولنو ته مرسته تر لاسه کړي (هغوی په دې اړه څه یادونې کړې وې) خو هغې مخکې له هغه چې مرسته وکړي، په دې ټینګار کاوه چې داسې دلایل دې پیدا شي، چې دا وکولای شي، له میړه طلاق تر لاسه کړي. (پخوا په روسیه کې طلاق اخیستل خورا ګران کار و ). هغې له روحاني سره په خپلې یوې مرکې کې ټینګار وکړ چې دوی، به دې پوښتنې ته ځواب ووایي چې نکاح تر کومې اندازې میړه پر دې واکمنه وي.

هغوی ماښام مهال په میلمستون کې کړکۍ ته ناست وو، تیاره په خوریدو وه، له کړکۍ نه د ګلو بوی راته. ایلین سپین نازک کمیس اغوستی و او تر هغه لاندې د هغې سپینې اوږې او ټټر له ورایه ښکاریدل. روحاني چې ډېر ځلیدونکي غومبوري یې د ښه خوړو نښه وه، ږیره یې ښه رخییلې، غاښونه یې ښکلي، خوله او شونډې یې زړه راښکوونکي و، خپل سپین لاسونه یې په زنګونو ایښي وو، ایلین ته نږدې ناست و. په داسې حال کې چې خوږه موسکا یې پر شونډو خوره وه، په مینه ناک غلچک یې کله کله هغې ته کتل او د هغې موضوع په اړه یې خپل نظر څرګندو، چې دوی خبرې پرې کولې. ایلین چې نازکه موسکا یې پرشونډو نښېدله، د هغه خورو پرانستو کړۍ کړۍ راځړیدلو څڼو، څوربو غومبورو او ښې خرییلې ږیرې مخ ته کتل او هره شیبه یېددې هیله لرله چې خبرې بل پلو واړوي، خو کشیش چې په څرګنده د خپلې مرکچۍ له خبرو او ښکلا نه خوند اخیست، په دې هڅه کې و چې خبرې په استادي مهارت هغه شان چې دده هیله ده پای ته ورسوي. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

ایلین پوهېده چې له روحاني پلوه کار خورا ساده او آسانه دی، خو روحاني مشرانو په داسې ډول کړکیچن او ستونزمن کړی دی، چې غیر روحاني ټولنې او ولسي مشران د هغې په اړه څه فکر کاوه.

ددې خبرو پایله ته په پام کې ایلین پریکړه وکړه، لومړی ددې کار د منني لپاره ټولنیز افکار چمتو کړي، هغه د مخور بډای چارواکي رخه راپاروله او هغه ته یې هماغه څه وویل، چې دې، خپل لومړي سیال بهرني شهزاده ته ویلي و. هغې دا خبره داسې یاده کړه چې که هر څوک غواړي، ددې شتمنی وګټي یوازینی لاره یې دا ده چې له دې سره واده وکړي. بوډا مخور چارواک بډای هم د بهرني شهزاده په څېر ددې خبرې چې له داسې ښځې سره، چې مېړه یې جوړ او ژوندی دی، واده وکړي، لومړی له حیرته هک پک شو، خو د ایلین ډاډ چې دا هم کولای شي، د یوې پېغلې په څېر واده وکړي، پرده هم هغه شان اغېز وکړ لکه پر شهزاده یې چې کړی و. که ایلین په خپلو کړو کې کوم د پام وړ شرم او پټ پټوني کړای وای، ټولې چارې به یې هسې هدر تللې وای، خو خبره نه په شرم کې وه نه په ټګۍ او دوکو کې. او د ایلین په چارو کې نه یوازې د شرم او حیا نښې نه لیدل کېدل، بلکې په خورا ساد ګۍ او بې پروایۍ یې خپلو ټولو دوستانو او آشنایانو ته (د پترزبورګ ټول مخور) ویل چې شهزاده او بوډا مخور چارواکي دې ته ریباران

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورلېږلي او غواړي له دې سره واده وکړي. هغې دا هم ویلي و چې دغه دواړه دې ته ګران دي او نه غواړي چې یو هم له ځانه خپه کړي.

په پترزبورګ کې د ایلین په اړه آوازې خورا په چټکۍ او په لنډه موده خپرې شوې، خو دا آوازې په دې اړه نه وې چې ایلین له خپل مېړه نه جلا کېږي (که دا آوازه خوره شوې وای، دا به ډېرو ناقانونه ګڼلی وای او دا به یې ملامته کړې وای) خو آوازې دا وې چې بدمرغه زړه راښکوونکې ایلین هکه حیرانه ده او دا پریکړه نه شي کولای چې د خپلو ریبارانو نه، له کوم یو سره واده وکړي. نور نو خبره په دې کې نه وه چې دا کار څومره کېدونکی دی او کنه؟ بلکې خبره په دې کې ده، چې ددغو کوم یو ددې په ګټه دی او دربار هغه ته څنګه ګوري؟ څوک په دې اړه نه غږېدل، چې مېړه ښځه د واده اجازه لري او کنه؟ ښه دی او که بد؟..

یوازې ماریا دیمیتریوفنا اخروسیموو ا، وه چې سږ کال اوړی، د خپل زوی ددیدن لپاره پترزبورګ ته راغلې وه، هغې زړه وکړ چې په ډاګه د ټولنیز نظر پر ضد ودرېږي، د نڅا په یوه بنډار کې هغه له ایلین سره مخامخ شوه، هغه یې ځای پر ځای ودروله او همدا چې ټول چپ شول، په قهر سره یې وویل:

-ستا مېړه ژوندی دی او تا د بل واده تکل کړی دی. دا سې تصور کوې چې نوښت دې کړی دی؟ تاسو نه یخوا هم دا کارونه شوي دي، دا نوښت تر تا نه مخکې شوی دی. په هرحال.. داکار کوي.

ماریا دیمتریوفنا دا وویل او په خپل ځانګړې ګواښمنې خوځېدا یې، خپل لستوني پورته وهل، برند برند یې شاوخوا ته وکتل او د بل تالار خوا ته لاړه..

سردار واسیلي چې په دې وروستیو وختو کې هر څه ویل هغه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېرول او په دې ډول يې هره خبره سل وار تکراروله، هر وار به يې چې خپله لور (ايلين) ليدله، هغه به يې ګوښه کړه، لاس به يې راونيو، ښکته به يې کېښکود او ويل به يې:

-ايلين، غواړم له تاسره وغږېږم او څه درته ووايم. ستا د ځينو پريکړو په اړه خبرې مې اوريدلې دي، هو کې ګرانې ! ته پوهېږې زما زړه له پلارنۍ مينه ډک دی. پوهېږم چې تا په ژوند کې ډېر زغم لرلای دی، خو پوهېږې د زړه سره ! ته په ژوند کې يوازې د زړه آواز ته غوږ اوسه، دا هغه څه دی، چې زه يې تا ته ويلی شم.

هغه د تل په شان د خپل يوازيتوب ګبنه پټه کړه، خپل غومبوري يې د لور په غومبوري ورکېښکود او لاړ.

بيلبين چې لا تر اوسه هم د خورا ځيرک او هوښيار سړي نوم ساتلی و، له پخوا نه د ايلين نېږدې او بېغرضه ملګری و، داسې يو ملګری چې ښکلې مخورې ښځې يې لرې او د هغو اړيکې هېڅکله له ملګرتوبه، مينتوب ته نه لوړېږي. بيلبين يوه ورځ په يوې کوچنۍ ډله او دوستانه فضا کې خپلې دغې ښکلې ملګرې ايلين ته د دغو پېښو په اړه خپل نظر څرګند کړ. ايلين خپل سپين او په ډېرو ښکلو ګوتو ګاڼل شوی لاس، د هغه د جمپر په لستوڼي ورکېښود او وې ويل:

-بيلبين (هغې خپل دغه شان ملګري لکه بيلبين تل د هغو د کورني نوم په نامه نومول) ګوره ! راته ووايه، تا به دې خور ته څه ويلي وای، زه څه وکړم؟ په دغو دوو کې کوم يو ؟

بيلبين تندی ورين او موسکا يې پرشونډو خپره کړه، په چرت کې لاړ او بيا يې وويل:

-تاسو ما په دې پوښتنو مه سرسامه کوئ، تاسو پوهېږئ، زه د يوه رښتيني دوست په توګه تاسو ته وايم، مخکې له هغه چې تاسو له ما نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوښتئ ،ما ستاسو ددې ستونزې په اړه ډېر فکر کړی دی، ګوره !که تاسو له دغه ځوان شهزاده سره واده وکړئ (هغه چې دا خبره کوله، یوه ګوته یې قات کړه ) له هغه بل سره د واده کولو بخت د تل لپاره له لاسه ورکوي او دا خبره به د دربار خوابدي هم راوپاروي، دلته یو ډول خپلوي هم شته، او که له دغه بوډا بډای مخور سره واده وکړی، د هغه د ژوند وروستې ورځې به نیکمرغه شي، خو بیا به دغه ځوان شهزاده د بډای سړي له کونډې سره واده کول ځانته سپکاوی ګڼي.

ددغو خبرو په اورېدو دایلین څېره وغوړېده او بیا یې خپل لاس، د بیلبین پر لستوڼي ورکېښود او وې ویل:

-دې ته رښتینی دوست وایي. خو ګورئ !ما ته هم دا ګران دی او هم هغه بل، او نه غواړم چې یو هم خپه کړم. او چمتو یم چې خپل ژوند د دواړو له نیکمرغۍ نه ځار کړم..

بیلبین په زړه کې وویل:

-آفرین دې په دې ښځه وي !دغه ته زغردې او په ډاګ خبرې وایي ! هغه غواړي هم مهاله د ټولو درې واړو ښځه واوسي.

هغه چې د خپل ښه نامه له برکته، له دې نه وېرېده چې په داسې ساده پوښتنو به یې ځوک وغندي، وپوښتل:

-دا راته ووایه چې مېړه دې په دې اړه څه وایي؟ هغه دا به ومني او کنه؟

ایلین چې ښکاره نه وه، ولې په دې ډاډه وه چې مېړه (پېیر) ته هم ګرانه ده، ځواب ورکړ:

-اخ !څه ووایم، هغه ته خو زه داسې ګرانه یم چې هر څه زه غواړم هغه یې مني.

د بیلبین څېره بیا وغوړېده او دا ددې نښه وه چې غواړي په ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وواییي او وې پوښتل:

-آن طلاق به هم ومني؟

ایلین کړس کړس وخندل.

د هغو کسانو په ډله کې چې کولی شي په دې اړه څه وواییي او دغه واده په روا والي(قانوني والي) کې یې شک درلود، یوه هم شهزادګۍ کوراګین، د ایلین مور وه. هغې نه یوازې تل د لور له کړو په عذاب وه، بلکې له خپلې لور سره یې رخه هم کوله. او اوس چې د هغې رخه د دې زړه ته دغه شان یوه نېږدې ستونزمنه خبره وه، چېه پاتې کېدای نه شوه، هغې له روسي کشیش سره په دې اړه مشوره وکړه او وې پوښتل چې دا څنګه شونې ده، چې له ژوندي مېړه نه دې څوک طلاق واخېستلی شي او له بل سره دې واده وشي، کشیش هغې ته وویل چې دا خبره هېڅ امکان نه لري او روا، نه ده. کشیش د خپلې خبرې د ښه تایید لپاره د انجیل هغه څو ټکي وښودل چې دده په ګمان، له ژوندي مېړه نه جلا کېدل او له بل سره واده کول یې چور ناروا ګڼل. د کشیش دې خبرې، شهزادګۍ کوراګینا ډېره خوشاله کړه.

شهزادګۍ د کشیش له دغو دلایلونه په ملاتړ، څکه سهار د وخته د خپلې لور کوټې ورغله، چې وکولی شي، هغه یوازې وګوري.

ایلین چې د خپلې مور خبرې واورېدې او له خپل تکل سره یې د هغې مخالف نظر واورید، له ملنډو ډکه موسکا یې پرشونډو خوره شوه.

مشرې شهزادګۍ وویل: ګوره دلته په زغرده او په لنډه ویل شوي دي چې هر هغه څوک چې مېړوښې ښځې سره واده وکړي..

ایلین په غړېدا کې له روسي ژبې نه فرانسوي ته څکه واوښته چې هغې ته روسي ژبه د خپلو خیالونو د څرګندولو لپاره، بشپړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښېده، نو په فرانسوي ژبه يې وويل:

-اخ ادکې ! اپلتې مه غږوه ! تاسو په هېڅ شی نه پوهېږئ،زه په دې حالت کې خپلې دندې لرم.

-نو زما ګرانې !..

-آه مورجانې ! ته ولې په دې نه پوهېږې، چې د سپېڅلی واک خاوندان کشيشان حق لري د هر ناروا کار اجازه..

او په دې وخت کې له ايلين سره او سېدونکې ښځه کوټې ته راننوته او هغې دې ته خبر ورکړ چې والاحضرت په صالون کې دې ته سترګې په لاره او ددې د ليدو هيله لري.

-نه، نه هغه ته ووايه، چې زه نه غواړم هغه ووينم. زه د هغه له لاسه ډېره په عذاب شوې يم، ځکه هغه په خپله خبره ونه درېد.

په دې وخت کې يو ژيړځنی، چې اوږد مخ او پزه يې لاره، راننوت او وې ويل:

-ګرافينې ! داسې ګناه نه شته چې د ښښنې وړ نه وي.

مشره ګرافينه د درناوی په نښه پاڅېده او ببرته کېناسته،راغلی ځوان هغې ته هېڅ پاملرنه ونه کړه. شهزادګۍ لور ته سر وښوراوه او د دروازې پلو وخوځېدله. د والاحضرت په ليدلو يې ټول باور او عقيدې ريږدلې او پرزېدلې وې. مشره ګرافينه چې کله په خپله ګاډۍ کې کېناسته وې ويل:

-هوکې، هغه برحقه ده ! خو موږ ولې په خپله نه راستنېدونکې ځوانۍ کې په دې نه پوهېدو ؟

د اګست د مياشتې په پيل کې چې په پوره توګه د ايلين چارې ثرګندې شوې، هغې خپل مېړه ته (چې تصور يې کاوه ډېره هغه ته ګرانه ده) وليکل چې پريکړه يې کړې ده، له ن. ن. سره واده وکړي. هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم ویلي و چې هغه یوازینی رښتینی مذهب کاتولیک منلی دی. او هغه ته یې دا خبر لیکلی و چې غواړي له ده نه جلا شي او دا هیله لري چې د طلاق لپاره د ټولو لازمو آسنادو په راټولولو کې له دې سره مرسته وکړي، دې (ایلین) د لیک په پای کې مېړه (پېیر) ته لیکلي و:

په پای کې له خدایه هیله کوم چې تاسو د خپل سپېڅلي دربار په پناه کې له هر ډول غم او درد نه په امان وساتي.

ستاسو دوست

ایلین

دا لیک د پېیر کورته هغه وخت وروړل شو چې دی د بارادنیو د جګړې په ډګر کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

پېير، د بارادنيو د جګړې په وروستيو وختونو کې د دويم ځل لپاره د رايوفسکي له مورچله وتښتېد. هغه له يوه ډله سرتېرو سره يو ځای د غونډيو له لمن نه د کنيازووا پلو ته ور روان شو. د مرستو يوې ځانګې ته ورورسېد او هلته يې وينې وليدې، د سلګونو ټپيانو چغې او زګيروي يې واوريدل، په چټکۍ وړاندې لاړ او د سرتېرو په ډله کې يې ځان ورک کړ.

يوازينی څه چې اوس پېير په ټول قوت او د زړه له کومي غوښتل، دا و چې څومره ژر کېږي، له هغه وحشتناک حالت نه راووزي چې په هغه ورځ دی په کې راګير و. هغه هيله لرله چې هر څنګه کېږي هغه خپل ورځني ژوند ته راستون او په خپله کوټه کې، په خپل کټ او بستر کې په کراره او آرام ويده شي. هغه احساسوله چې يوازې په دوديز ورځني ژوند کې کولای شي، پر ځان، پر خپل روان او ټول هغه څه پوه شي چې ده په هغه ورځ وليدل او ويې زغمل، خو د ژوند هغه دوديز حالت نه چېرې و او نه پيدا کېده.

که څه هم په دې لارو کې چې دی روان و، نه ډزې وې او نه ګولۍ، نه چاودنې او نه د هغو شروشور خو هرې خوا ته هغه څه ليدل کېدل لکه د جګړې په ډګر کې چې ليدل کېږي، هماغه له رنځه او درده زوربېدلې څېرې، له تعجبه ډکه بې دردي، هماغه هر چېرې توپې شوې وينې، هماغه د سرتېرو شلېدلي پراته کوټونه، آن کله ناکله هماغه شان په زړه کې بېره اچوونکي ډزې او ددې تر څنګ دوړې، درنه او ولاړ ساه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګوونکې هوا.

پيير چې درې ورسته د موژايسک په ښارګوټي کې وړاندې لاړ، د واټ څنګ ته کېناست.

د تيارو لمن خوره او د توپونو ډزې ويدې شوې. پيير څنګله ولګوله، وغځېد او تر ډېرې پورې همدا سې پروت او هغه تيارو ته ځير و چې په تتـه تيـاره کې دده لـه څنګـه تېريـدې. پرلـه پسـې يـې دا سـې انګېرله چې مرګنۍ ګولۍ يې پر سر راورېږي. هغه به وريږدېد او ټکان به يې وخوړ. د هغه هېڅ په ياد نه و چې څومره وخت هلته پاتې شو. شپه چـې نيمـايي شـوه ،درې سـرتېرې چـې وچـې لښـتې يـې ځـان پسـې راکشولې، راغلل او ده ته نږدې يې اور ولګاوه.

سرتېرو به کله ناکله پيير ته مخ وروا ړاوه او خپل اور کې بـه يـې اور لړونی وواهه. ديګ يې پر اور کېښود. په هغه کې يې وچه ډوډۍ وره کړه او لږ د لم وازده يې هم ورواچوله. د خوړو ښه او زړه راښکوونکی بوی له لوګي سره يو ځای شو. پيير سر را هسک کړ او سوړ اسويلی يې وويست. سرتېرو (هغوی درې تنو ) پرته له هغه چې پيير ته پام وکړي، خپله ډوډۍ خوړه او خبرې يې کولې.

له سرتېرو نه يو تن ناڅاپه پيير ته مخ وروا ړاوه او وې پوښتل: ته، د کومې ډلې نه يې؟ پيير فکر وکړ چې له دې پوښتنې نه د سرتېرو موخه دا ده چې ډوډۍ غواړې او کنه؟ که غواړې يې،وو ايه ته ښه سړی يې او يا څوک يې؟

پيير وويل: زه، زه،

هغه دا سې انګېرلـه چې خپل دريځ ددې لپاره ټيټ وښيي، چې سرتېرو ته ورنږدې او هغو ته د پام وړ و اوسي. هغه وويل:

-که رښتيا غواړئ، زه يو اربکي افسر يم، خو زما پوځي ډله دلته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته، زه په جګړه کې وم او خپل کسان مې ورک کړل.

يوه سرتېري وويل:

- ګوره !ته خو !

بل سرتېري سر وښوراوه.

لومړي سرتېري پېير ته وويل: که زموږ آش خورې، مهرباني وکړه، هغه خپله لرګينه کاچوغه وڅټله او هغه ته يې ورکړه.

پېير، نغري ته نږدې کېناست او د آش په خوړو شو. دغه خواړه ده ته په ټول عمر کې د خوړو شويو خوړو په منځ کې تر ټولو خواږه خواړه و. په هغه وخت کې چې دی پر ديګ ورخم و، په اشتهايي آش خوړ، کاچوغه يې ډکوله او پرله پسې خولې ته رسوله، د هغه څېره د اور د شغلو په رڼا کې ښه څرګنده وه، سرتېرو په چوپه خوله هغه ته کتل.

له هغو نه بيا يو تن وپوښتل:-ته وو ايه، ته چېرې روان يې؟

-زه موژايسک ته ځم.

-ښه، ښه ته ارباب يې؟

-هو کې !

-نوم دې څه دی؟

-پيوتر کيريلوويچ

-ښه پيوتر کيريلوويچ !درځئ چې ځو، موږ به تا موژايسک ته ورورسوو.

په تپه تياره کې سرتېري له پېير سره مل د موژايسک پلو وخوځېدل. سپېدې او چرګ بانګ و چې هغوی موژايسک ته ورسېدل. پر هغو لارو چې ښار پروت و، ورختل. پېير له سرتېرو سره ګډ روان و او چور يې هېره شوې وه چې دده انګړ ډوله مېلمستون د دغو لوړو په لمنه کې دی او دوی له هغه ځايه تېر شوی دی. د هغه چرت داسې خرابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، که دده چوپړ چې دده په لته پسې ښار ته تللی او اوس بېرته انګرېزوله مېلمستون ته راستنېده ، د غونډۍ په نیمايي کې ده ته پر مخ نه وای ورغلی، دده به نه و په یاد شوی، چې چېرې روان دی. دی به همداسې وړاندې تللی وای. د هغه چوپړ، پېير د هغه له ځانګړې سپينې خولۍ نه چې تل به يې پر سر وه، د شپې په تیاره کې وپېژاند. او غږ يې پرې وکړ:

-والاحضرته ! موږ نو ناهيله شوي وو، تاسو ولې پلي روان یاستئ؟ چېرې ځئ مهرباني وکړئ !

پېير وويل: اخ، رښتيا هم، چېرې روان یم؟

سرتېري ودريدل.

له هغو نه یو تن وويل: -نو څنګه؟ تاسو خپل سړي پيدا کړل؟

د یو بل سرتېرې غږ پورته شو:

-د خدای په امان پيوتر کيريلېوويچ ! په مخه ښه پيوتر کيريلوويچ !

پېير وويل: د خدای په امان. او له خپل چوپړ سره د کور پلو وخوځېد.

پېير لاس جيب ته کړ او ځانسره يې وويل: يو څه بايد هغو ته ورکړم، خو کوم غږ، غږ پرې وکړ:-نه، مې يې ورکوئ !

په دغه انګړ ډوله مېلمستون کې ځای پاتې نه و ، ټولې کوټې ډکې وې. پېير انګړ ته ننوت، خپلې ګاډۍ ته وخوت او وغځېد. سر يې ومروړه او ويده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

پېير سر پر بالښت ايښی و، په ويده کېدو و چې ناڅاپه يې د ټوپونو د ډزو غړمبهاری، بوم، ډز، ډوز، د ټپيانو د زګيرو نه ډکې زارۍ او چغې د لګېدو نه مخکې د ګولۍ وحشتناکو آوازونو يې په غوږو کې شرنګهاری جوړ کړ، د باروتو او وينو بوی يې تر سپږمو شو، په زړه يې د مرګ وحشت او ګېنې ورننوته او د مرګ ويرې وويراوه. سر يې له مروړل شوي کوټ نه راووېست او غاړه يې هسکه کړه. د مېلمستون ډوله کور په انګړ کې آرامه آرامي وه. يوازې د مېلمستون د دروازې ساتونکی ګرځېده راګرځېده او په خټه کې د هغو د ګامونو آواز او د لوېې دروازې له ساتونکو سره د غږېدا غږ راته. په ګراچ کې چې د پېير سر پورې دده ګاډۍ ولاړه وه، د کوترو په جاله کې، دده د سر پورته کېدو سره کوترې وډارې شوې. په ټپه تياره کې يې وزرونه وپړکول. په ټول انګړ کې د تازه ريبل شويو وښو بوی، چې د سوله ايز وخت زيری يې درلود او د پېير ډېر خوښېده، ولاړ و. د دوو تر ځنګ ولاړو انبارونو، تر منځ، له ستورو ډک شين آسمان ځلېده.

پېير په زړه کې وويل: د خدای شکر دی، چې دا هر څه پای ته ورسېدل او بېرته يې سر په کوټ کې ومروړه. بيا په زړه کې وويل:

-دا ډار څومره وحشتناکه دی او څومره شرم دی، چې زه وډار شوم. او هغوی.. هغوی تر پايه ټينګ ودريدل، آرام ودريدل.

له هغوی نه د پېير موخه سرتېري وو. هغه سرتېري چې په مورچلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ولاړ وو او هغه سرتېري چې ده ته یې ډوډۍ ورکړه او هغه سرتېری چې د شمایلو په وړاندې ګونډه او د خدای دربار ته یې دعا کوله. هغوی، هغه عجیب کسان چې تر هغې ورځې پورې ده نه وو لیدلي، ده نه پېژندل، هغوی، په ډاګه او برالا دده په خیال کې د نورو نه توپیر پیدا کړ.

پېیر چې بیا د ویدو کېدو هڅه کوله، په زړه کې یې ویل:

-څومره ښه دی چې سړی سرتېری وي. ساده سرتېری. د زړه له کومې د هغو دنیا ته ورننوتل او هغه څه چې دوی یې دا سې زړور کړي دي، په ځان کې روزل او نغښتل ! خو دا څنګه کېږي چې، دا شیطاني ناولتوب، اوپر انساني اوږو دا اضافي پېټی له ځانه لرې کړای شو؟ یو وخت و چې ما کولای شول، د دوی په شان وا وسم. کولای مې شول، هغه شان چې مې کولای شول، د پلار له کوره وتښتم. آن له دولوخوف سره تر دوئیل نه وروسته کېدای شي چې ما جبرا پوځ ته ولېږي. هغه ته د هغه ورځ غرمنۍ ورياده شوه چې په هغې کې یې دولوخوف ته د دوئیل بلنه ورکړه او هم یې په تاوژک کې له خپل روحاني مشر سره کتنه لکه برېښنا دا سې په خیال کې وروځلېدله. د لوژ پرتمینه غرمنۍ وریاده شوه. دغه غرمنۍ په انګریزي کلوب کې جوړه، هغه ده، یو څوک آشنا نېږدې ګران سړی د میز سرته ناست دی. هوکې دا ، دی دی. دا روحاني مشر دی. پېیر له ځانسره وویل: ګوره ! هغه مړ شوی نه و، هوکې مړ شو، خو زه خبر نه وم چې هغه ژوندی دی. او زه څومره غمجن وم چې هغه مړ شو او اوس څومره خوشاله یم چې هغه بېرته ژوندی شوی دی ! د میز یوې خوا ته اناتول، دولوخوف، نیفیڅکي او دینیسوف او څو تنه نور ناست وو او ددغه ډلې خلک پېیر ته په خوب کې هماغه شان څرګنده ښکاریده لکه هغه بله ډله چې ده (هغوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومول. دغه خلک اناتول، دولوخوف، لوړ لوړ غږېدل، سندرې يې ويلې، خو د روحاني مشر غږ تر هغو نه هم لوړ و. پرله پسې غږېده او د هغه د غږ انګازې هماغه هيبت او غړمبهارې درلود، لکه د جګړې په ډګر کې د توپونو اواز، خو د روحاني آواز له دې ځانګړتياوو سره سره، خوږ او آراموونکی و، پيير په دې نه پوهېده چې روحاني مشر څه وايي، خو په دې پوهېده (ځکه د هغه خبرې هم په خوب کې خورا څرګندې وې) ځکه هغه دنيکۍ په اړه او په دې اړه چې کېدای شي د هغوی په شان شي، غږېده.. که څه هم هغوی مهربانه وو، خو پيير ته يې نه کتل، هغوی پيير نه پېژانده. پيير غوښتل د هغو پام ځانته راواړوي،له هغوی سره وغږېږي، غواړي ودرېږي، خو په همدې شېبه کې يې پښې لوڅېږي او يخېږي.

وشرمېد او په رښتيا يې پښې ځکه لوڅې شوې وې، چې کوټ ترې ښوييدلی و او ده بېرته په لاس راپټې کړې. په يوه شېبه کې پيير کوټ راسم کړ. سترګې يې وغړولې، هماغه انبار، هماغه په انبار کې ولاړې ستنې، او هماغه انګړ يې وليدل، خو اوس هر څه په تورتم کې ډوب نه و، لږه رڼا شوې وه، او پر هر څه شبنم او لړې ليدل کېدل او د يخنۍ احساس کېده.

پيير فکر وکړ: سپېدې شوې دي ! خو پروانه لري، زه بايد د روحاني مشر خبرې تر پايه واورم، بيا يې سر په کوټ کې ومروړه، خو نه هغه غرمنۍ او نه روحاني مشر يو هم نه و، يوازې خيالونه پاتې وو، هغه خيالونه چې په څرګنده ويل شوي، هغه خيالونو چې چا ويل او يا په خپله پيير په خپل ذهن کې تصورول.

پيير، وروسته دغه خيالونه وريادول، که څه هم دغه خيالونه دده د هغې ورځې د سترګو ليدلی حال، خبرې وې، خو دی په دې ډاډه و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته، دا دده له خیاله بهر چا ویلي دي. هغه داسې انګېرله چې هغه هېڅ کله دا توان نه درلود چې په ذهن کې د دغه شان خیالونو تصور او داسې یې څرګنده بیان کړای شي.

دغه غږ هغه ته ویل:

-جګړه د خدای د قانون په وړاندې، د انساني آزادۍ د تسلیمي تر ټولو خورا ګرانه بڼه ده. ساده ګي د خدای اطاعت دی، له هغه تېښته نه شته، او هغوی ساده دي. هغوی غږېږي نه، هغوی کړه کوي. ویل شوې خبره سپین زر دي. او ناویل شوي وینا سره زر. تر هغه پورې چې انسان ډارېږي پر هېڅ څه لاسبری کېدای نه شي او هغه څوک چې نه ډارېږي هر څه د هغه دي. که زوریدل، نه وای، انسان به نه خپلې پولې، نه به یې خپل ځان، یو هم نه پېژاند. تر ټولو نه ګرانه خبره (هغه لا په خوب کې لیدل یا اوریدل) داده چې وکولای شو د ټولو اند ښنو معنوي یووالی په روح کې ونغاړو. پېیر په روحي تلوسې یې تکرار کړه: د ټولو شیانو یووالی، نه، یووالی نه، اند ښنې نه شو کولای سره یو ځای او یو کړو، هغه باید سره پیوند کړو. هوکې، باید پیوند شي، هوکې باید پیوند شي، باید پیوند شي ! پېیر هغه داسې انګېرله، چې یوازې په دغو، کټ مټ په دغو کلمو او تورو، یوازې او یوازې په دغو کلماتو، هغه څه چې دی یې ویل غواړي، انځوریدای شي. او هغه زوریدنه چې دی یې زغمي، پای ته نه رسېږي. هغه زیاته کړه:

-هوکې اند ښنې باید سره پیوند شي، نور نو باید پیوند شي.

یو غیبي اواز تکراروله:

-نباغلی والاحضرت ! باید پیوند شي ! نور نو باید پیوند شي ! والاحضرت ! باید پیوند شي ! نور نو ددې وخت راغلی چې سره وتړل شي.. والاحضرت.. باید وتړل شي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د پېير د ځاروان غږ و چې هغه يې کوله، پېير راويښ کړي. لمر مخامخ د پېير په مخ ورلګېده. هغه ناولي او له دوړو خاورو ډک مېلمستون ته وکتل. د مېلمستون د انګړ د ځاه په شاوخوا کې سرتېرو ډنګرو آسونو ته اوبه ورکولې. او ګاډی د مېلمستون له دروازې وتلې، پېير په کړکۍ کې ددې ټولو ترليدلو ،مخ واړاوه، سترګې يې وتړلې، په تلوار يې د ګاډي پر څوکۍ کې بيا ځان وارتېره او وې ويل:

-نه، نه زه دا نه غواړم، زه نه غواړم دا ووينم او نه غواړم پرې پوه شم. زه غواړم په هغه څه پوه شم، چې په خوب کې راته څرګند شوی دی. که يوه شېبه نور نه وای راويښ شوی، په ټولو به پوه شوی وای، اوس نو څه وکړم؟ پېير په وحشت دا احساسوله، هغه څه چې ده په خوب کې ليدلي او دی پرې پوه شوی ټول رژيدلي او پرزيدلي دي.

ځاروان او څوکېدار پېير ته ويل چې يو افسر راغلی او خبر يې راوړی دی، چې فرانسويان موژايسک ته نږدې کېږي او روسان شاتګ ته اړ شوي دي. پېير پاڅېد او سپارښتنه يې وکړه، ځان جوړ، آسونه چمتو او ده پسې راشي او خپله پلی د ښار پلو وخوځېد.

پوځ له ښاره په وتو و او د لس زرو په شاوخوا کې ټپيان يې په ښار کې پرېښودل، دغه ټپيان په انګړو کې، د کورونو په کړکيو کې او ډلو ډلو په کوڅو کې ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه. په کوڅه کې د هغه ګاډي تر څنګ چې بايد ټپيان يې وړي وای، چغې، ښکنځلې او د وهلو ټکولو غږ اوريدل کېده. پېير ده پسې خپله رارسېدونکې ګاډي خپل ټپي شوي آشنا جنرال ته ورکړه او دی هم له هغه سره په ګډه مسکو ته لاړ، هغه د لارې په اوږدو کې د خپل اوښي او د سرداراندرې له مرګه خبر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

پییر د اګست په ۳۰ مه نېټه مسکو ته راستون شو. د مسکو رسېدونکي تم ځای ته نېږدې، د راستوپچین یاور دی ولید.

یاور وویل:

-مور هره خوا تاسو لټوو، ګراف غواړي هرومرو له تاسو سره وګوري. ښه به دا وي چې همدا اوس هغه ته ورشئ، ځکه هغه هیله لري،له تاسو سره د یو مهم کار په اړه وغږېږي.

پییر پرته له هغه چې خپل کور ته لاړ شي، یوه ګاډۍ یې ونیوله او مخامخ د مشر قوماندان کورته ورغي.

ګراف راستوپچین د همدې ورځې پر سهار د سکولنیکي په سیمه کې له خپل کلیوال کور نه ښار ته راغلی و. د مشر قوماندان کور له هغو بې شمېره مامورینو نه چې د سپارښتنو او آوامرو داخېستو لپاره راغلي وو، ډک و. هغو د انتظار په خونه او دهلیز کې راټول شوي وو. وآسیلچیکوف او ګراف پلاتوف لا د مخه له مشر قوماندان سره کتلي و او هغه ته یې ویلي و چې د مسکو ساتنه ناشونې ده او هغه به تسلیم شي. که څه هم دغه خبرونه له ولس نه پټ ساتل کېدل،خو د بېلابېلو ادارو چارواکي او مامورین هم د ګراف راستوپچین په څېر پوهېدل چې مسکو به د دښمن لاس ته لوېږي. هغوی ټول راغلي وو چې له خپلو دندو استعفا وکړي او له مشر قوماندان نه وپوښتي چې د هغوی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک لاندې ادارو سره څه وکړي.

کله چې پېير د ګراف د هرکلي کوټې ته ورننوت په دې وخت کې له پوځه راغلی استازی له هغه ځایه راووت.

دغه استازي، د هغو پوښتنو په ځواب کې چې له هغه نه کېدې، په خورا ناهیلۍ لاسونه وښورول او له تالاره ووت.

پېير د انتظار په کوټه کې پاتې شو، په ستومانه او ستړو سترګو یې په هغه ځای کې ناستو بېلابېلو کسانو، زړو، ځوانانو، پوځیانو ولسي او نورو خلکو ته کتل. د ټولو په څېرو کې د ناآرامۍ او ناخوښۍ نښې څرګندې وې. پېير د مامورینو یوې ډلې ته چې یو تن یې په کې پېژانده ورنږدې شو. هغوی،له پېير سره تر ستړي مشي وروسته خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړ.

-هماغه شان یې چې لېږلي دي، هماغه شان دې راستانه کړي. څه ټکه خو نه رالوېږي، خو خبره په دې کې دی چې اوس هېڅوک د هېڅ شي ځواب نه وايي.

یو بل تن،هغې چاپ شوې پاڼې ته چې په لاس کې یې وه، اشاره کوله او ویل یې:

-ګورئ ! دلته لیکل شوي دي کنه؟

هغه لومړي تن وویل:

-دا بیا بله خبره ده، دوی اړ دي چې دا د خلکو لپاره ولیکي.

پېير وپوښتل: دا څه شی دي؟

-نوې اعلامیه ده.

پېير هغه راواخېسته او په لوستو یې پیل وکړ:

« ددې لپاره چې والاحضرت دې خواته له راتلونکو پوځونو سره ژر تر ژره یوځای شي، له موژایسک نه اوښتی او په یوه ټینګ او ډاډمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې یې مورچل نیولی دی، په داسې ځای کې چې دښمن پر هغه ناڅاپي برید ونه شي کولای. هغه ته له دې ځایه اته څلوېښت عرادې توپونه او څه نور مهمات ورلېږل شوي دي. والاحضرت وایي چې د وینې تر وروستي څاڅکي پورې د مسکو ساتنه کوي او آن چمتو دی چې کوڅه په کوڅه وجنګېږي. ورونو ! تاسو دې ته هم پام کوئ چې دولتي اداري تړل شوي دي، موږ باید هغه منظمې کړو، ډاډمنو ځایونه ته یې واستوو او یا به ظالمانو او شر اندازو سره ګورو، خو ددې لپاره چې خبرې دې ته ورسېږي، زه ښاري او کلیوالو زړو او ځوانانو ته اړتیا لرم. ددې لپاره به مو دوه ورځې مخکې خبر کړم، خو اوس دې تـه اړتیا نه شته، نو ځکه څه نه وایم. تبرونه راواخلئ، نېزې هم بدې نه دي، خو شاخې تر ټولو بیا ښې دي. یو فرانسوي خو د جودرو تر یوې بوجۍ درونـد نـه دی. سبا تـر غرمنۍ وروسته یو(ا فیرسکانومی) شمایل را اخلم او د ټپیانو د دیدن لپاره د ایکاترین روغتون ته ورځم. هلته به اوبه مبارکې کړو او هغوی به ژر روغ شي. زه اوس روغ یم، زما سترګې خوږېدې اوس مې دواړه سترګې ویني.»

پېیر وویل: خو ما ته پوځیانو ویلي و چې په ښار کې جګړه ناشونې ده او مورچلونه هم..

هغه لومړني چاروا کي وویل:

-موږ هم په همدې اړه غږېدلو.

پېیر وویل: دا بیا څه معنا لري چې لیکلي یې دي، زما سترګې خوږېدې او اوس دواړه ویني.

یاور په موسکا وویل: د ګراف پر سترګو بخار راختلی دی، کله چې ما هغه ته وویل خلک راغلي چې تا وګوري، هغه خورا نا آرامه شو. او ناڅاپه یې هماغه موسکا پرشونډو خپله پېیر ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ربښتیا ښاغلی ګراف موږ اوریدلي چې تاسو هم له کورنیو ستونزو سره لاس ګریوان یاست؟ داسې ویل کېږي چې ستاسو مېرمن ګرافینه ...

پېیر بې پروا وویل: ما خو څه نه دي اوریدلي، ښه وایه، تاسو څه اوریدلي دي.

یاور چې هماغه موسکا یې پر شونډو خوره وه، وویل:

-نه، نه، پوهېږئ ! خلک هسې آوازې هم خپروي، خو زه وایم ما هسې اوریدلي دي.

-وایه څه دې اوریدلي؟

یاور بیا په هماغې موسکا وویل: هوکې، داسې ویل کېږي، چې ګرافینه ستاسو میرمن تکل کړی دی، بهر ته لاړه شي، کېدای شي، دا هسې آوازه وي..

پېیر په ګېنې خپلې شاوخوا ته وکتل او وې ویل:

-کېدای شي ! هغه، هغه لنډ ونې زاړه سړي ته چې پاکې جامې یې اغوستې، تکه سره بشره یې لرله، لوړه رېږه، او ګڼ بانه یې لکه واوره تک سپین و، اشاره وکړه و پوښتل:

-دا بوډا څوک دی؟

-دا یو سوداګر دی، هوتلي، هغه ویریشیاګین نومېږي. تاسو به د هغې خبرپانې کیسه اوریدلې وي؟

پېیر د بوډا آرامې، ټینګې څېرې ته وکتل او په داسې حال کې چې په هغې کې یې د خیانت نښې لیدې وویل:

-ښه ویریشیاګین همدا دی !

یاور وویل: نه دا خپله هغه نه دی، دا یې پلار دی، دا هماغه څوک دی چې خبرپانه یې لیکلې ده، هغه ځوان دی، هغه نیول شوی دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاري چې تور يې درووند دی.

يو بوډا چې يو ستورى يې پر ټټر ځړيده او يو بل په ختمه الماني مامور، چې صليب يې په غاړه کې پروت و ، له دغې ډلې سره يو ځاى شول.

ياور کيسه کوله: ګورئ ! دا جړه کيسه ده، دا خبر پاڼه دوه مياشتې مخکې راپيدا شوه دا پاڼه چا ګراف ته راوړه او هغه سپارښتنه وکړه چې دا دې وڅيړل شي. هماغه و چې ګاوريل ايوانوويچ د څېړنې لپاره وګمارل شو ، تر هغه پورې دغه خبرپاڼه د درې شپېتو تنو لاس په لاس ګرځېدلې وه. ګاوريل ايوانوويچ يو ته ورځي او پوښتنه ترې کوي: دا پاڼه مو له کومه کړه؟ هغه ورته وايي: پلانې راکړه. بيا هغه پلانې ته ورځي او ورنه پوښتي چې دا پاڼه تاسو له چا نه اخېستې ده؟ همداسې خوله په خوله، تر هغه چې خبره او وار ويريشياګين ته رسېږي. دلته ياور وخندل او وې ويل: پوهېږئ، يو چا چې ښوونځی هم پاى ته نه دی رسولی، يو سوداګر ګوتی، له هغه نه پوښتي: تاسو دا خبر پاڼه له کومه کړه؟ خو غوره خبره دا وه چې موږ پوهېدو چې هغه خبرپاڼه يې له چا اخېستې وه، هغه د پستې له مديره پرته له بل چا نه اخېستی نه شوه. خو هغو، په خپل منځ کې جوړه کړې وه، نو ځکه وايي:

-له هېڅ چا مې نه ده اخېستې، ما خپله ليکلې ده. که هر څومره يې وپوښتو، هر څومره يې وګواښوه، هغه په خپلې خبرې ټينګار کاوه او ويل يې:

- خپله مې ليکلې ده. خبره يې په همدې ډول ګراف ته سره ورسوله. ګراف هغه وروغوښت. دا پاڼه تا له کومه ځايه راوړې ده؟

-خپله مې ليکلې ده.

د ياور پرشونډو له غروره ډکه د خوښۍ موسکا خوره شوه او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل:

-ګوره ته خو ګراف پېژنې، هغه خورا په قهر شو او وې ويل:

-دا سپين سترګی ګوره، دروغ او ټينګار د څه لپاره !

پېير وويل:

-ښه ښه پوه شوم !ګراف غوښتل چې هغه د کلوچارف په لاس ورکړي او د هغه نوم ياد کړي.

ياور په ډار سره وويل: نه، هېڅکله نه !د کلوچارف له توره پرته،نور تورونه هم ډېر وو، دې تورونو ته هېڅ اړتيا نه وه. هغه لا پخوا شړل شوی و. خو خبره په دې کې وه چې ګراف سخت په قهر شوی و او وې ويل:

-تا څنګه کولی شول هغه وليکي !هغه له ميز نه، د هامبورګ ورځپاڼه راواخېسته، او وې ويل: وګوره !دلته خپره شوې ده. تا هغه ليکلې نه ده، تا هغه ژباړلې ده، هغه هم ناسمه ژباړه، ځکه ته احمق خو په فرانسوي هم نه پوهېږې. تاسو څه فکر کوئ ؟

هغه ځواب ورکړ: نه، هېڅکله نه، ما هېڅ کومه ورځپاڼه لوستې نه ده، دا پاڼه ما خپله ليکلې ده.

-ښه چې داسې ده، ته خايين يې، تا محکمې ته سپارو چې ځړوند دې کړي. ګوره !وو ايه خبر پاڼه دې له چا اخېستې ده؟ خو ځوان ويل:

-ما هېڅ کومه ورځپاڼه ليدلې نه ده، ما هغه خپله ليکلې ده. څېړنه او پلټنه ځای پر ځای ولاړه او تر دې نه مخکې لاړه نه. ګراف د هغه پلار راوغوښت، خو هېڅ ګټه يې ونه کړه. محکمې ته يې سپاره، تورن يې کړ او شاقه کار ته يې ولېږه. اوس يې پلار راغلی او د هغه د ښښنې شفاعت کوي. خو لچک ځوان، هسې يو باغي ياغي د سوداګر زوی، د نجونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غوړو جامو لېوال اوس داسې کبرجن شوی چې له شيطان نه ځان زيات ګڼي. ګورئ ! داسې زلمی دی ! پلار يې د کامن پله ته نېږدې يوه کافي لري، په دې کافي کې يې د حضرت مسيح يو شمايل.. ځړولی دی چې په يو لاس کې يې يوه سپېڅلې لکړه او په بل لاس کې نړۍ نيولې ده. هغه دغه انځور کورته وړی دی، څو ورځې يې هلته ساتلی دی او يو احمق انځورګر يې پيدا کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

د دغې نوې کیسې په منځ کې و چې پییر یې مشر قوماندان ته وروغوښت. پییر د ګراف راستوپچین دفتر ته ورننوت. راستوپچین د پییر ورننوتلو سره په داسې حال کې چې سترګې او تندی یې مښل، سترګې برندې او تندی یې تریو کړ. لنډ ونې سړي چې هغه ته څه ویل د پییر د ننوتلو سره سم چپ شو.

همدا چې هغه لنډ ونی سړی ووت، راستوپچین وویل:

-سلام علیکم ستر جنګیاله ! ستاسو د سترو سربښندنو په اړه مې اوریدلي دي، خو اوس نه ددې په اړه ،خبره دې زما او ستا ترمنځ یې ګرانه.

ګراف راستوپچین وپوښتل:

- دا راته ووایه چې ته ماسون (یو مذهبي ډله ) یې؟

د راستوپچین خبرې له داسې یوې ملنډې نه ډکې وې، چې تا به ویل ماسون والی کومه ګناه ده او دی غواړي، هغه وبښي. ګراف راستوپچین وویل:

-ما ته په پوره توګه څرګنده ده، ګرانه ! چې ماسون تر ماسونه پورې دی، زه هیله لرم تاسو له هغو ماسونانونه، نه یاستی،چې د بشر د ژغورنې په نامه غواړي روسیه ووژني.

پییر ځواب ورکړ: هو زه ماسون یم.

-دغه ده، ګورې ګرانه ! تاسو به هرومرو خبر یاستي چې ښاغلي سپرانسکي،ماګنبڅکي هغه ځای ته چې لېږل شوي وای، ولېږل شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز ښاغلي کلوچاروف سره هم همداسې وشول او له نورو هغو کسانو سره چې د سليمان د معبد د جوړولو ترنامه لاندې يې هڅه کوله د خپل هېواد معبد وران کړي. تاسو بايد پوه شوي واى چې له هغوى سره د دغه راز کړو لپاره کلک دلايل و، که دد ې ځاى د پست مدير ناوړه ګواښمن سړى نه واى، ما هسې بې دليله تبعيد ولې نه شو. اوس دا هم راته ځرګنده ده چې تا له ښاره د هغه د لېږدلو لپاره خپله ګاډى هم هغه ته ورلېږلې او د هغه ځينې کاغدونه دې هم د ساتنې لپاره له هغه اخيستي دي. تاسو ما ته ګران ياست، زه نه غواړم تا ته کومه ستونزه پيدا کړم، زه تر تاسو دوه برابره مشر يم او تاسو ته د پلار په څېر لارښوونه کوم چې له دغه راز خلکو سره خپلې اړيکي بند کړئ او خپله هم ژر تر ژره له دې ځايه لاړ شي.

پيير وپوښتل: ښه ښاغليه ګرافه، د کلوچاروف ګناه څه ده؟

راستوپچين چغه کړل:

-د هغه په ګناه زه پوهېږم، دا ستاسو په صلاحيت کې نه دى، چې په دې اړه له مانه پوښتنې وکړئ.

پيير پرته له هغه چې راستوپچين ته وګوري، وويل:

- که هغه مو د ناپليون د خبر پاڼو، په خپرولو تورن کړى دى، ښه ده، نو دوى څنګه دا ثابتولى شي؟

راستوپچين له پخوانه لا په لوړ آواز، د پيير خبرې پرې کړې او وې ويل:

-دا همداسې ده، هغه لا په قهرجن آواز چې د سپکاوى ښنې يې يادولې، وويل:

-ويريشيا ګين خائين دى او وطن پلورونکى دى او په حق سر يې خپله جزا ليدلې ده. خو ته ما دلته ددې لپاره نه يې راغوښتلى چې زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونو په اړه وغږېږو ، بلکې د دې لپاره مې راغوښتلې یې چې تا ته مشوره درکړم او یا سپارښتنه درته وکړم چې ته دې له دغو شان کسانو لکه کلوچاروف سره خپل اړیکي وشلوې او بیا ژر تر ژره له دې ځایه لاړ شې. د هر چا په سر کې چې داسې لېونتوب وي، زه به یې ترې خلاص کړم،خو ناڅاپه یې دې ته پام شو چې بېزاو خوف سره له هغه چې هېڅ ګناه یې نه ده کړې، غږېږي او پر هغه چغې وهي. په مینه یې د هغه لاس راونیو او وې ویل:

- موږ د یوې سترې بدمرغۍ په درشل کې یو ،زه د ټولو هغو کسانو د نازولو او پاللو وخت نه لرم چې زما دیدن ته راځي، ما به وبښې، اوس ستاسو خوښه چې هر څه کوئ ګرانه ! تاسو اوس څه کوئ؟ زما موخه داده چې تاسو خپله څه کوئ؟ تاسو خپله؟

پېیر پرته له هغه چې سر پورته او د بشرې حالت بدل کړي، وویل:

-هېڅ، هېڅ څه نه کوم.

ګراف تندی تریو کړ او وې ویل:

-د یو دوست مشوره واوره، ځنډېږه مه، ژر تر ژره له دې ځایه ځان باسه، څه ثومره ژر چې کولای شئ، له مسکوه ووزه، روغ او نیکمرغه به هغه څوک وي چې خبره اوري او غوږ ورته نیسي، د خدای په امان ګرانه ! کله چې پېیر له کوټې نه وت، هغه له دروازې نه ورپسې غږ کړ:

-هو ، رښتیا له یاده مې ووتل، له تاسو نه وپوښتم، دا رښتیا ده چې ګرافینه (د هغه مېرمن –ایلین ) د مسیحي کاتولیک کشیشانو منګلو ته ورلویدلې ده؟

پېیر هېڅ ونه ویل،تندی یې تریو او خوا یې داسې شنه شوه چې هېڅکله هغه چا په دې ډول نه و لیدلی او همداسې لاړ او ووت.

کله چې کورته راورسېد ،هوا تیاره شوې وه. په هغه ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګارنګ کسان د ده د يدن ته راغلي وو. د کميټې سکرتر، د هغه د کندک ډګروال، د اداري مشر، دوه چوپړان او يو څو تنه ګدايان. هغو ټولو هر يو خپله هيله لرله او داسې غوښتنې يې کولې چې د هغو د ستونزو لپاره پيير بايد پريکړه کړې وای، پيير په دې خبرو هېڅ نه پوهېده، پروايې نه لرله او پوښتنو ته يې يوازې د دې لپاره ځوابونه ورکول چې د هغو له غمه ځان وژغوري، خو وروسته له هغه چې پيير، د هغو ارباب يوازې پاتې شو، هغه د خپلې ښځې ليک پرانست او هغه يې ولوست.

هغوی – په مورچلونو کې سرتېري، سردار اندرې ووژل شو... بوډا...
سادګي د خدای تابعيت دی، بايد وزورېږو... ټولې معناوې بايد سره پيوند شي... ښځه غواړي مېړه وکړي... بايد هېر کړو او پوه شو...
هغه د کټ پلو ته ورغی. پرته له هغه چې کالي وباسي، ځان يې پر کټ ورواچاوه او سمدلاسه خوب يوړ.

کله چې بل ورځ سهار راويښ شو، د هغه د چوپړانو مشر راغی او ده ته يې خبر ورکړ چې د ګراف راستوپچين نه يو مشر پوليس راغلی او غواړي پوه شي آيا ګراف بېزاوخوف له مسکو نه وتلی دی او کنه؟

تر لسو پورې بېلابېل کسان چې د پيير ديدن ته راغلي وو، د هرکلو په تالار کې هغه ته سترګه په لاره وو. پيير په تلوار کالي بدل کړل او د دې پر ځای چې هغو ته ورشي، د ودانۍ د شا د لارې له زينو ښکته شو او له دروازې ووت.

له هغه ورځې، بيا د مسکو د تالان او ورانولو تر پايه پورې، د بېزاوخوف د کورنۍ له غړو نه يو هم، سره له ټولو هڅو او لټولو نه، هېڅ چا نور هغه ونه ليد او په دې نه پوهېدل چې هغه چېرې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

د رستوف کورنۍ د سپتمبر تر لومړۍ نېټې يعنې پر مسکو د دښمن د يرغل تر درشله پورې په دې ښار کې پاتې شوه.

وروسته له هغه چې پيتيا د قزاقانو په ابالنسکي نومې غونډ کې دنده واخېسته او بيا (د بيلايا ځرکوف) کليسا ته چې هلته د غه غونډ په کې جوړيده دده تګ، د کرافينې په زړه کې تلوسه راوپاروله. دې خيال چې د هغه دواړه زامن، جګړې ته تللي، دواړه دده له پامه لرې شوي، نن يا سبا کېداى شي يو يا دواړه يو ځاى ددې د يوې خورلنډې د درې زامنو په شان ووژل شي، دا ډېره زوروله او سر کال په اوړي کې دا د لومړي ځل لپاره و چې دې تصور د هغه خيالونه په خورا عذابوونکې ډول په ځان اخته کړي وو. دې غوښتل او هڅه يې کوله نيکولاى له جګړې راوغواړي، دې هيله لرله چې خپله پيتيا ته ورشي او هغه يو ښه ځاى لکه پترزبورګ ته واستوي، خو نه دا کار وشو او نه هغه.. هېڅ معلوم نه و چې نيکولاى چېرى دى اوتر خپل وروستي ليکه چې په هغه کې يې له شهزادګۍ ماريا سره د خپلې کتنې يادونه کړې وه، هېڅ حال معلوم نه و.

مشرې کرافينې هېڅ خوب نه درلود او که به ويده شوه خوب به يې ليده، چې دواړه زامن يې وژل شوي دي. ګراف تر ډېرو مشورو او خبرواترو نه وروسته په پاى کې د ګرافينې د کرارولو لپاره لاره پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه. هغه پیتیا د ابالنسکي له غونډه د پېیر بېزاو خوف غونډ تـه چې د مسکو په ښنډو کې مېشت و رابدل کړ. که څه هم پیتیا بیا هم په پوځ کې پاتې کېده، خو د خدمت د ځای په دغه بدلون کې، ګرافینه ځکه لږ آرامه شوه چې لږ تر لږه د هغـه یو زوی دې تـه نېږدې او ددې تر څارنې لاندې وي. او هیله یې لرله داسې یو چاره وکړي چې پیتیا داسې په یوه ځای کې وګماري چې نور لـه هغې لرې نه شي. او هغـه پـه داسې یوه قطعې کې وساتي چې هغه هېڅکله په جګړه کې ګډون ونه کړي. تر هغـه پورې چې نیکولای تر ګواښ لاندې و، ګرافینې داسې انګېرلـه چې د هغه مشر زوی دې ته د هغې تر نورو ټولو اولادونو ګران دی. دې بـه لـه دې امله ځان ډېر ملامتـاوه، خو کلـه چې بـه پیتیا وریـاد شو، د هغـې کمکی زوی، هغه شیطان پیتیا چې سبقونه یې نه ویل، په کور کې یې هر څه ماتول، ټول یې له ځانه ستومانه کړي وو، هغـه پیتیا چې توري سترګې، خندنی څېره او لوړه پزه یې درلوده او پـر اننګو یې سوروالی ناست و، ددغو پخو، بې رحمو او قهرجنو خلکو لاس تـه ورلویدلی و، هېڅ څرګنده نـه وه چې د څه لپاره جنګېږي، خو بیا هم لـه هغـه خوند اخلي، هو کې هغې ته خپل پیتیا وریاد شو، نو داسې به یې انګېرله چې هغه تر ټولو اولادونو نه زیات ورته ګران دی. هر څومره به چې مسکو تـه د پیتیـا د راستنېدو مـوده لنډیـده، پـه هماغـه انـدازه بـه د ګرافینـې نـاآرامی لا زیاتېـده او زیاتېـده. هغـې داسـې تصـور کـاوه چـې دغـه نیکمرغه ورځ به هېڅکله راونه رسېږي. هغه نه یوازې د سونیا بلکې د ګرانې ناتاشې او آن د خپل مېړه تر مخې به بې صبري او نـاآرامي کولـه. هغې به په زړه کې ویل:

-دا ټول څه کومه، زما له پیتیا پرته بل یو هم په کار نه دی.

د اګست په وروستیو ورځو کې د نیکولای بل لیک راورسېد. هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لیک له ورونږ نه رالیږلی و. هلته یې دی، د آسونو پلورلو پسې استولی و. دغه لیک ګرافینه آرامه نه کړه. وروسته له هغه چې پوه شوه چې یو زوی یې له ګوابښ نه لرې شوی دی، د بل زوی، پیتیا د ژوند په اړه یې زوریدنه لاپسې زیاته شوه.

سره له هغه چې لا د اګست په شلمه د رستوف ټول نږدې خپل خپلوان او پېژندګلوي له مسکو نه وتلي وو، سره له هغه چې ټولو پر مشرې ګرافینې ټینګار کاوه چې څومره ژر کېدای شي دوی هم له مسکو نه ووزي، خو هغې تر هغه پورې چې دد ې د ژوند پانګه، د هغې کمکی زوی پیتیا له مسکوه را ونه رسېږي، اصلاً له مسکوه د وتلو په اړه د چا خبره هم نه اوریده. د اګست په ۲۸ مه نېټه پیتیا مسکو ته راورسېد. د مور له خواخوږۍ، ناز او اند بېښنې نه ډک هرکلی، د ځوان شپاړلس کلن افسر خوښ نه شو. که څه هم مور خپل دغه تکل چې زوی، نور له ځانه، نه لرې کوي، له هغه نه پټ ساته، خو پیتیا د مور په دغه خیال پوه شو او د مورني احساس او غریزې له مخې په دې پوهېده چې د مور نازول او پالل به دی له کاروباسي او نور به یې هم نازولی کړي. (دده په وینا ) دده د مېړنتوب اور به آرامه کړي. هغه مسکو ته د راتګ په وخت کې له مور سره خورا سوړ تګ راتګ کاوه او له هغې سره د مخامخ کتنې نه یې ډډه کوله. او تل یې له خپل خور، له ناتاشا سره چې پر ده ډېره مهربانه وه او د ورور ګلوی مینه یې ورسره کوله، خپل وخت تېراوه.

ګراف د خپل همیشني دریځ له مخې د اګست تر ۲۸ مې پورې له مسکوه د وتلو لپاره هېڅ ډول چمتووالی نه درلود ، خو د اګست په ۳۰ مه د ریزان له ولایت او د مسکو له څنډو نه د دوی لېږدولو ته ګاډۍ راورسېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اګست له ۲۸ مه تر ۳۰ مې پورې ټول مسکو په شروشور او خوځښت کې و. د ګاډیو کتارونو هر ورځ د بارادنیو د جګړې په زرګونو ټپیان، د دراګامیلووا له دروازې نه مسکو ته راوړل، په ښار کې دې خوا هغې خوا رسول. د مسکو په زرګونو او سپږو نکي او د هغو کډې یې د ښار د نورو دروازو له لارې له ښاره ووېستل. د راستوپچین د خبر پاڼو سره سره، یا له هغو پرته، یا دهغو د اغېز له مخې ډولاډول ضدو نقیض او عجیبې غریبې آوازې به په ښار کې خورېدې. یوه، به ویل چې څوک له ښاره وتلو ته نه پرېږدي، بل به برعکس ویل چې ټول شمایل یې د ښار له کلیساوو نه راټول او ټول خلک په زوره له ښاره باسي. چا به ویل چې د بارادنیو تر جګړې وروسته روسي پوځ د پخوا په شان جګړې ته دوام ورکړي او فرانسویانو ماته کړې ده، کوم تن به بیا د هغه ضد خبره کوله او ویل به یې چې روسي پوځ تالا شوی دی. بل به ویل چې د مسکو اربکیان، له روحانیونو تر مخې شوي دي او ځان درې غونډیو ته رسوي، چا بیا په پټه پټه ویل چې کشیش اګوستین ته له مسکو نه د وتلو اجازه نه ده ورکړ شوې، د وطن خایینان نیول شوي کلیوالو پاڅون کړی او هغو کسانو چې کډه کړې ده، په کورونو یې تالان ګډ کړی دی، داسې او داسې نورې آوازې، خو دا ټولې آوازې وې، په اصل کې ټول هغه چې کډه شوي وو او هغه څوک چې پاتې شوي وو (او هغه جرګه چې په هغه کې د مسکو د تسلیمي پریکړه کېده، لا په فیلي کې جوړه شوې نه وه) ټولو داسې احساسوله (او خپل احساس یې پټاوه) چې مسکو به هرومرو تسلیمېږي. هر څوک باید ژر تر ژره وتښتي او خپلې شتمنۍ خوندي ځای ته ورسوي. خلکو داسې ګڼله چې او سني هر څه باید راوپرزېږي او د هغه پر ځای بل دولت جوړ شي، خو د سپتمبر تر لومړۍ نېټې پورې هېڅ شی بدل شوی نه و، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان چې يو جاني د پانسۍ رسۍ ته بدرګه کېږي او هغه په دې پوهېږي چې اوس بايد هر څه بدل او دی اعدام شي، خو بيا هم شاوخوا ګوري او خپله کړه خولۍ راجوړولي، د غه شان مسکو هم سره له هغه چې انګېرل کېده، ژر به سقوط وکړي او ټول هغه اړيکي چې خلکو د هغو له مخې ژوند کاوه او ورسره روږدي و، وشلېږي خو بيا يې هم بې ارادې خپل ورځني ژوند ته دوام ورکاوه.

د مسکو تر سقوطه د درې ورځو په اوږدو کې د رستوف د کورنۍ ټول غړي هر يو د خپل ژوند په بېلابېلو غمونو کې ډوب وو، ګراف اليا اندريوويچ د کورنۍ مشر پرله پسې د ښار بېلابېلو سيمو ته تګ راتګ کاوه، هلته به يې رنګارنګ آوازې اورېدې، بېرته به کورته راستنېده او په تلوار سره به يې له ښاره وتلو ته د چمتووالی سپارښتنې کولې.

ګرافينه د کالو او د کېړو د ټولولو څارنه کوله، له ټولو نه خپه و او پرله پسې پيتيا پسې، چې له هغې نه تښتېده، دې خواته او هغې خواته تلله راتلله. ناتاشې سره به يې ځکه رخه کوله چې پيتيا به ټول وخت له هغې سره و. يوازې سونيا وه چې په رښتيا يې کارونه کول، کالې يې ټولول، خو هغه هم په دې وروستيو وختو کې ټول وخت ځکه خواشينې وه. چې د نيکولای هغه ليک يې ددې په مخ کې لوستې و، چې په هغه کې له شهزادګۍ ماريا سره د هغه د کتنې يادونه شوې وه. ګرافينه، د ليک تر لوستلو ډېره خوشاله شوې وه او ويل يې و چې د نيکولای او شهزادګۍ په دغه کتنه کې د خدای ارادهويني.

ګرافينې ويلي و:

- زه هېڅکله په دې نه وم خوشاله چې سردار اندرې بالکونسکي (د ماريا ورور) له ناتاشې سره کوژده وکړه، تل مې داهيله لرله، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکولای له شهزادګۍ ماریا سره واده وکړي.
سونیا داسې احساسوله چې د ګرافینې دا خبره رښتیا هم ده، ځکه د رستوف د کورنۍ د دیوالي کېدو د مخنوي یوازینۍ لاره دا وه چې نیکولای له یوې بډايې نجلۍ سره واده وکړي، له شهزادګۍ ماریا پرته، بله ښه ناوې نه پیدا کېده، خو د سونیا لپاره دا ستره بدمرغي وه، دغې خواشینۍ او د غم له لوی پېټي سره سره بیا هم هغې په ځان کې دا توان پیدا کړ چې د چوپړانو لارښوونه وکړي، د پړو او پېټيو په تړلو او راټولولو کې ونډه واخلي، نو ځکه ټوله ورځ همداسې اخته وه. ګراف او ګرافینې به چې کله غوښتل کومه سپارښتنه او غوښتنه وکړي، هغې ته به یې ورغږ کړ. پیټیا او ناتاشا نه یوازې له خپلې مور او پلار سره مرسته نه کوله، بلکې په خپلو نازونو او کړو وړو به د نورو خنډ کېدل. ټوله ورځ د هغو د خندا کړسهاری شروشور او خپل منځ کې د هغو د ناندریو غږ او چغې پورته وې. خوشاله به وو، خندل به یې، خو دې خندا کوم ځانګړې علت نه درلود.. پیټیا وروسته له هغه چې پوځ ته تللی و، نور نو هغه وړوکی هلک نه و (لکه هغه شان ټولو ورته ویل) بلکې پوه تکړه او زړور زلمی و. هغه له دې کبله خوشاله و چې له (بیلې څرکوې) له سیمې نه چې هلته نن سبا جګړه پیل کېده، مسکو ته را بدل شوی دی، خو دا ځای هم ژر د جګړې ډګر کېدونکی و، خو دی له ټولو نه زیات په دې خوشاله و چې ناتاشا هغه څوک چې ددې ساعت به ورسره ښه تېروه خوشاله و. ځکه ناتاشا له دې امله خوشاله وه چې تر اوږدو غمونو وروسته اوس، بې غمه شوې وه، او داسې څه نه و، چې هغه ته څه غم ورپه یاد کړي او خوا یې شنه کړي. د هغې روغتیا هم ښه شوې وه، ددې تر څنګ هغه په دې خوشاله وه چې یو څوک یې تر څنګ و چې ددې ستاینه یې کوله.. پیټیا سر تر پایه ددې په ستاینو لګیا و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیتیا د خوشالۍ بل غوره علت دا و چې جګړه د مسکو دروازو ته رارسېدلې وه، ډېر ژر دد غو دروازو تر شا ډزې پیل کېدونکې او د خلکو تر منځ به وسلې ویشل کېدونکې وې، خلک تښتېدل، کومې خواته تلل او کوم عجیب غیر معمول څه پېښېدل. دا ټول د هر چا په تېره د ځوانانو لپاره یو عجیب څه بریښېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

د اګست په يو د برشمه د سه شنبې په ورځ، د رستوف په کور کې هر ځـه لانـدې بانـدې او ګـډوډ وو. ټـولې دروازې پرانېسـتې، ځوکۍ او ميزونه يې راټول کړي او يا يې د باندې رابستلي وو او يا يې همالتـه ځای پر ځای کړي وو. هينداري او تابلو ګانې يې له ديوالونو نه ښکته کړې وې. هرې خواته صندوقونه ايښي و او دې خوا هغې خوا واښـه ،د پوښولو کاغذونـه او رسۍ پرتې وې. هغـو کليوالـو او چوپړانو چې دا ټول شيان او کپړې ځای پر ځای کول، په درنو درنو قدمونو پـه لـرګين غولي، دې خوا هغې خواتـه تلل راتلل. د کـور پـه انګړ کې بې شمېره کليـوالي ګـاډۍ او کراچـۍ چې ځينـي يـې بارشـوې او ځېنـې لا تشـې ولاړې وې.

د کـور او انګړ فضـا د هغـو چوپړانـو او کليوالـو لـه غږيـدا ، نـارو او شروشور نه چې له خپلو ګاډيو او کراچيو سره له کلي نه راغلي وو ، ډکه وه. هغوی يو بل ته نارې وهلې او پر يو بل به يې غږ کاوه. دا ښکاره نـه وه چې ګراف لا سهار د وخته چېرې تللی و. ګرافينه چې له شروشور نـه يـې سر په درد شوی و او په لامده شوي دستمال يې تړلی و ، پـه واړه تـالار کې ويده وه. پيتيا پـه کور کې نه و او هغه د خپل هغه ملګري کورته چې دواړو غوښتل د اربکي پوځ نـه ځـان رسمي پـوځ تـه بـدل کـړي، تللی و. سونيا پـه تالار کې وه، د چينـو او کرېسـتالـو د کپـړو د تـړلـو شـويـو پيـټـو ساتنه يې کوله. ناتاشا پـه خپله کوټه کې چې تـالان شـوې هغـې تـه پـاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدله، د خپلو کميسونو او د غاړې د دستمالونو په منځ کې ناسته وه.
.. هغې خپل ځېنې کالي چوپړانو ته وروبښل، خو کله چې خبره دې ته ورسېده چې يو څه بايد ټول کړي، هغه ښه او بد جلا کړي، حوصله يې په تنګه شوه او دونياشا ته يې وويل:

-ته، ګراني دونياشا، ته به يې راته ټول کړې، هـ؟

همدا چې دونياشا ژبه وکړه چې په مينه به دا کار ورته وکړي، ناتاشا پر غولي کېناسته او د نځا هغه پخوانی کميس يې را واخېست او په خيالونو کې ډوب شوه.. بيا بېرته له ځايه پاڅېده، له کړکۍ نه يې د باندې وکتل. په کوټه کې، له ټېپيانو نه ډکه يوه کراچۍ ولاړه وه.

مينځې، چوپړان، آشـــپزان، ګاډيوانان، تحويلداران، دګاډيوانانو ملګري د آشپزانو شاګردان، ټول او ټول د دروازې خواته ولاړ او ټپيانو ته يې کتل.

ناتاشې سپين دستمال پر سر واچاوه، دد ستمال دوه څوکې يې په لاس ټينګې ونيولې او لاړه کوڅې ته ووتله.

بوډۍ ماوراکوزمينيشنا، پخوانۍ تحويلداره د دروازې په شا و خوا کې له ګڼه ګونې راجلا او هغې ګاډۍ ته چې په پړو ترل شوې او کېږدۍ ډوله وه، ورنږدې شوه. هغې په ګاډۍ کې له ځوان پراته افسر سره چې رنګ يې الوتی و، خبرې پيل کړې. ناتاشا څو ګامه وړاندې لاړه په داسې حال کې چې خپل د سر دستمال يې، هماغه شان په دواړو لاسونو کلک نيولی و، په حيا ودريده او د ځوان افسر هغو خبرو ته يې غوږ ونيو چې هغې زړې کلي دارې ته يې کولې.

ماورا کوزمينيشنا وويل:

-ښه، ته نو په مسکو کې هېڅوک نه لرئ؟ ښه به داوي چې په کوم کور کې آرام وکړئ، بلکه بل ځای نه وي، له موږ سره واوسه، زموږ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادارن هسې هم روان دي.

افسر په خورا ناتوانه غږ وويل:

-نه پوهېږم ما به څوک پرېږدي او کنه؟ دغه زموږ قوماندان دی، له هغه نه وپوښتئ. هغه يو څورب جګړن ته چې په کوڅې کې د ولاړو کراچيو له کتاره راستنېده اشاره وکړه.

ناتاشې چې له وحشته يې سترګې وتلې وې. د ټپي افسر مخ ته يې کتل، په هماغه شېبه کې د جګړن خواته ورغله او وې ويل:

-کولی شي دغه ټپيان زموږ په کور کې پاتې شي؟

افسر چې موسېده، لاس يې خولۍ ته ورپورته کړ. سترګې يې له خندا نه تنګې شوې او وې پوښتل:

-دا پېغله څه هيله لري؟

ناتاشا خپله پوښتنه په آرامۍ تکرار کړه، که څه هم د سر دستمال يې په دواړو لاسونو کلک نيولی و، څېره يې داسې ځيره وه چې د جګړن له شونډو موسکا ورکه شوه، په فکرکې لاړ، ګواکې په دې اړه يې فکر کاوه چې آيا دا کار شونی دی او کنه. هغه وويل:

-آه، هوکې، څه وايي، هو، اجازه ده.

ناتاشا په کراره سروښوراوه،په چټکۍ د ماوراکوزمينيشنې خواته چې د افسر تر څنګ ولاړه او په خواخوږۍ يې هغه ته کتل، ورغله. هغې په کرار او نرۍ آواز د ماوراکوزمينيشنې په غوږ کې وويل:

-کېدای شي، اجازه ده، هغه وويل اجازه ده.

په ګاډۍ کې پروت افسر د رستوف دوی انګړ ته ورننوت. او له ټپيانو نه ډکې په لسګونو ګاډۍ او کراچۍ د خلکو په غوښتنه، د پاورسکايا کوڅې (هلته د رستوف کورو) پلو ته ور روانې او د کلا د دروازې خواته ورنېږدې شوې. د ناتاشا دغه غير معمول کړه خوښېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له دغو ناپېژندلو شويو وګړو سره اړيکو خوند ورکاوه. هغې هڅه کوله چې د ماوراکوزمينيشنې په مرسته، لا زيات شمېر تېپيان د خپل کور انګړ ته بدرګه کړي.

ماوراکوزمينيشنا وويل:

-هر څه چې وي، ښه به دا وي چې پلار دې خبر کړې.

-نه، نه هېڅ پروا نه لري ! مورې کولي شو يوه ورځ په مېلمستون کې تېره کړو. کولي شو، خپل نيمايي کور هغو ته ورکړو.

-دا ته څه وايې؟لږ فکر وکړه ! که دې خواته، هلته د چوپړانو په کوټو کې يا د مينځو په کوټو کې. هر چېرې چې ځای ورکوې، بايد له پلاره اجازه واخلې.

-ښه ده، اجازه به واخلم.

ناتاشا په چټکۍ خو د پنجو پر سر، د هغه تالار له لارې چې دروازه يې نيمه خلاصه او د سرکې اوکوفمان د څاڅکو بوی ترې راته، تالار ته ورننوتله او وې پوښتل:

-مورجانې ته ويده يې؟

ګرافينه چې هماغه شېبه يې سترګې پټې شوې وې، راويښه او وې ويل:

-څه بد خوب.

ناتاشا د هغې مخې ته ګونډه ووهله، مخ يې د هغې مخ ته ورنږدې کړ، پرله پسې، پرته له هغه چې ساه بدله کړي، وې ويل:

-مورې ګرانې ! وبښې چې راويښه مې کړې، ډېره بښنه غواړم، ډېره ملامته يم، بيا به دا کار نه کوم. زه ماوراکوزمينيشنې راولېږلم. پوهېږې ټپيان يې راوستلي دي، ټپي افسران، اجازه راکوې؟ هغوی هېڅ ځای نه لري، پوهېږم چې اجازه ورکوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرافینې وویل: کوم افسران؟ چا راوستي يې؟ زه خو په دې هېڅ نه پوهېږم !

ناتاشا وموسېده او ګرافینې هم وخندل.

-پوهېدم چې هغوی پرېږدئ، زه به همدا اسې ورته ووایم. ناتاشا خپله مور ښکل کړه، پاڅېده او په منډه د دروازې پلو لاړه. په تالار کې له خپل پلار سره چې د بدو پېښو خبرونه يې درلودل، مخامخ شوه. ګراف په خورا تريو تندي او قهر او بې له ارادې وویل:

-مورږ ډېر ځنډيدلي يو ، دلته هسې تر اوسه پورې پاتې يو ، کلوپ تړل شوی او پوليس وزي.

ناتاشې هغې ته وویل:

-پلار جانه ! پروا خو نه لري چې ما ټپي افسران کورته راوستل؟

ګراف په خواشينۍ هغې ته وویل:

- نه، نه هېڅ پروا نه لري، خو اوس د دې وخت نه دی، تر دې نه لا مهم کارونه تر مخې دي. هيله ده چې ته دغه کارونه پرېږدې او بارونو په تړلو او بارولو کې مرسته وکړې، ځکه ژر تر ژره بايد له دې ځايه لاړ شو ، لاړ شو، لاړ شو. هغه چوپړانو او د کور ساتونکو ته هم دغه سپارښتنه وکړه. پيټيا چې غرمنۍ ته راستون شوی و ، هم نوي خبرونه درلودل.

هغه ويل چې خلک کرملين ته تللي او وسلې يې اخېستې دي. که څه هم راستوپچين په خپلو خبرپاڼو کې ويلي دي چې خلکو ته به دوه ورځې مخکې خبر ورکوي، خو له همدې اوس يې سپارښتنه کړې ده چې خلک دې سره له وسلو دښار درې ګونو غونډيو ته لاړ شي. ځکه ويل کېږي چې هلته به سخته جګړه پېښه شي.

ګرافينې په حيرانتيا او وحشت د خپل زوی څېرې ته چې په خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوالتيا يې خبرې کولې او د خبرو په وخت کې لاپسې ځلېدله، کتل. هغې انګېرله او غوښتل يې له زويه هيله وکړي چې دې جګړې ته لاړ نه شي، (هغه پوهېده چې زوی يې په دې جګړه کې د ګډون له شوق په جامو کې نه ځايېږي) هغه د مېړنتوب، ويار، خاورې او داسې نورو په اړه خبرې پيل کړې. لنډه دا چې هغه پوهېده چې هغه اوس دې ته د سيالۍ، تربورګلوۍ او هسې د نارينوب، بې ګټې او بې معنا خبرې چې ځواب هم نه لري، وايي. ګرافينې هڅه کوله، داسې يو کار وکړي چې مخکې تر بل هر کاره دوی له دې ځايه لاړ شي او پيتيا د خپل ساتونکي په نامه له ځانسره بوزي. هغې پيتيا ته هېڅ ونه ويل او تر غرمنۍ نه وروسته يې ګراف يوې خواته کړ، په ژړا او عذروزاريو يې له هغه هيله وکړه چې که کېدای شي بايد همدا نن شپه هغه له دې ځايه بوزي. ګرافينې چې تر هغه پورې د ګوابښ په وړاندې بې اعتنا وه، په ښځينه دوکې چې د مينې زيږنده وه، وې ويل:

-که هغوی نن شپه لاړ نه شي، دا به له ډاره ومري. هغې ټګي نه کوله، هغه په رښتيا اوس له هر څه ډاريده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

مېرمن شوس چې د خپلې لور د يدن ته تللې وه، همدا چې کور ته راستنه شوه، د ميانسکايا په کوڅه کې، د چيني خرڅولو د مغازې تر مخې د ليدلې پېښې په اړه خبرويې ،ګرافينه لا په وحشت کې واچوله. هغې نه شو کولای کورته د راستنېدو په وخت کې د چيني خرڅولو د مغازې په وړاندې د نشيانو د مستۍ او ګنه ګونې له امله، ځان کورته ورسوي، هغې کورته د رسېدو لپاره، يوه ګاډۍ کرايه کړې وه، او د کوڅو، وړو کوڅو او نا آشنا کوڅو له لارو يې ځان کورته رسولی و. ګاډيوان هغه ته کيسې کولې، چې څنګه وګړو د څکلو ګيلاسونه او خمونه ماتول او سپارښتنه ورته شوې وه چې پاڅون وکړي.

تر غرمنۍ نه وروسته، د رستوف د کورنۍ ټولو غړو په خورا تلوار او چټکۍ د کالو او کپړو په ټولو او د سفر د چمتووالی لپاره، منډې وهلې. بوډا ګراف چې تر غرمنۍ وروسته ښه په ولولو راغلی و، کله به انګړ ته ووت او کله به بېرته راغی. هسې به يې نارې سورې وهلې او هغه چوپړان به چې د دروازې خواته تلل لا چټکۍ ته هڅول. پيتيا په انګړ کې ولاړ و او چوپړانو ته به يې سپارښتنې کولې. سونيا نه پوهېده چې د ګراف له ډېرو سپارښتنو سره څه وکړي، ډېره ستړې ستومانه برېښېده. د کور چوپړانو نارې سورې جوړې کړې وې، يو له بل سره په ناندرۍ وو، شروشور يې کاوه او په ټولو کوټو او انګړ کې يې منډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلې...

هر څومره چې ټولو چوپړانو هڅه کوله، خو د شپې تر ناوخته پورې د کالیو ټولیدل او په ګاډیو کې د هغو ځای پر ځای کېدل خلاص نه شول. ګراف هم ویده شوه، ګراف هم خوځېدل سبا ته وځنډول او خپله هم کټ ته لاړ.

سونیا او ناتاشا پرته له هغه چې جامې بدلې کړي، په کوچني تالار کې ویدې شوې.

په هغه شپه یې بل ټپي د پاورسکایا له کوڅې نه چېرته وړ او ماورا کوزمینیشنا چې د دروازې په خولې کې ولاړه وه، هغه یې له ځانسره رستوفیانو ته راوست. دغه ټپي د ماوراکوزمینیشنا په خیال، خورا مخور سړی و. هغه یې په داسې یوې ګاډۍ کې چې بنه پوښل شوې وه، وړ. هغه څوک چې د ګاډیوان تر څنګ ناست و، یو خورا د درناوي وړ چوپړ و. یو ډاکټر او دوه سرتېري هم د ګاډۍ د شا په څوکۍ کې ناست وو.

ماورا کوزمینیشنا بوډا سړي ته مخ وروااړاوه او وې ویل:

-راځئ، راځئ، زموږ باداران هسې هم روان دي. کور تش دی، مهرباني وکړئ، هیله کوم راځئ.

بوډا یو سوړ اسویلی وکړ او وې ویل:

-هوکې، څه ووایم. رسولی یې نه شو، زموږ تر کوره په مسکو کې لاره لرې ده، هېڅ څوک هلته ژوند نه کوي.

ماورا کوزمینیشنا وویل:

-راځئ، راځئ، له موږ سره راشئ، زموږ د بادارانو هر څه پریمانه دي.

هغې زیاته کړه: حال یې ډېر خرابه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډیوان لاس وښوراوه او وې ویل:

- د رسولو هیله یې نه شته، ښه به دا وي چې ډاکټر وپوښتي.

ګاډیوان له ګاډي نه راکوز شو، کراچۍ ته ورننوتی او څه یې وویل:

ډاکټر وویل: ډېر ښه..

ګاډیوان بیا د کراچۍ خواته ورغی، د هغې منځ ته یې وروکتل. سر یې وښوراوه او کراچیوان ته یې وویل چې انګړ ته راننوزي او خپله د ماورا کوزمینیشنا تر څنګ ودریده.

ماورا کوزمینیشنا وویل:

-یا حضرت مسیح مرسته راسره وکړي.

هغې هیله وکړه چې ټپي کورته ولېږدوی او وې ویل:

-بادار ان به هېڅ ونه وایي.

خو له زینو نه د ټپي پورته کول، څه آسانه کار نه و، نو ځکه دې ته اړ شول چې هغه د څنګ کوټې ته چې پخوا هلته مېرمن شونس اوسېده ورسوي. دا ټپي سردار اندرې بالکونکسي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

په مسکو کې د اوسېدو وروستۍ ورځ راورسېده. د مني صافه او له خوښۍ نه ډکه هوا وه، د یکشنبې ورځ وه. د هرې یکشنبې په څېر د کلیسا زنګونو خلک لمانځنې ته وربلل. داسې بربښېده چې ګواکې لا تر اوسه پورې هم په دې نه پوهېدل چې پر مسکو څه راتلونکي دي.

یوازې دوه ځانګړتیاوې وې چې د مسکو د حالت ښه ځرګندونه یې کوله. د کوڅې او بازار یعنې د بې وزلو خلکو حالت او بل د خوړولو او کالو لوړه بیه.

د فابریکو کارګران، چوپړان او هسې کلیوال بزګر. د بې شمېره ډلو په شان چې د ښوونځو زده کوونکي د دیني علومو د مدرسو طلاب او آن مخور خلک هم ورسره مل شوي وو، د مسکو د درې ګونو غونډیو پلو روان وو. هلته یو څه موده ودریدل، خو دا چې د راستوپچین پته ونه لګېده، په دې ډاډه شول چې مسکو به تسلیم شي. هغوی بېرته مسکو ته راستانه او د ښار په هوټلونو او سماوارونو کې خواره شول. د مسکو دغه حالت په دې ورځ په قیمتونو هم خپل اغېز کړی و. د وسلو، زرو، ګاډیو او آسونو قیمتونه آسمان ته رسېدلي و او د پیسو، ښاري اړتیاوو او نورو شیانو قیمت سخت لویدلی و. د ساري په توګه د غرمې په شاوخوا کې د قیمتي توکرو بیه له نیمایي راولویده او د ګاډیو او آسونو بیه ډېره لوړ او آن پنځه سوه روبله ته لوړه شوه، حال داچې میز، څوکۍ، هینداري او نور د ښکلا وسپنیز یا برنجي شیان آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړیا ورکول کېدل.

د رستوف په پخواني او پرتمین کور کې د ژوند کچه هومره د پام وړ نه و. د خلکو پـه اړه دغـه حالـت داسې څرګند شو، چې د رستوف د کورنۍ د بې شمېره چوپړانو لـه ډلې نـه هم درې تنه پـه دې شپې ورک شول. یا لاړل، خو هېڅ شی نه غلا شوي او نه ورک شوي و او د شیانو د بیې په اړه خبرې داسې وې چې هغه دیرش ګاډۍ او کراچۍ چې لـه کلي نه راغلې وې، خورا د سترو شتمنو کسانو کېږي بلل کېده. ډېرو خلکو د هغو د لرلو ارمان لاره، ډېرو د رستوف پر کورنۍ رخه کوله او د هر څه په بدل کې یې ښې بیې ورتـه وړاندې کـولې. دغـه راز د پرون شپې او د سپتمبر د لومړۍ نېټې د سهار راهیسې چې کله ټپیان د رستوف او د هغه په ګاونډیو کورونو کې مېشت شول. هر یوه دا هیله لرلـه چې کوم یوه ګاډۍ ده ته ورکړل شي، چې ځان له مسکوه د باندې چېرې ورسوي. هر چوپړ تـه چې بـه دغـه وړانـدیز کېـده، کـه څه هم پـر ټپي بـه یې زړه خوږېده، خو دهغه خبره او هیله به یې ځکه نه منله چې خپل بادار تـه یې آن ددغـه شـان وړانـدیز د ویلـو زړه هـم نـه شـو کـولای. کـه څه هـم ددغـو ټپیانو حال خوار د زړه سوی و، خو دا ښکاره خبره وه که یوه کراچۍ یا ګاډۍ یې کوم یوه ته ورکړې وای، باید نورنو دویم، درېیم او بیا ټولو ته ګاډۍ ورکړل شوې وای... خو دغه دیرش ګاډۍ د ټولو ټپیـانو د وړلـو لپـاره پـوره نـه وې. لـه بلـه پلـوه دا هغـه ورځ نـه وه چې د ځان او خپلې کورنۍ بدمرغۍ ورځې ته ونه کتل شي، چوپړانو هم د خپلو بادارانو په اړه دغه شان فکر کاوه.

د سپتمبر پـه لـومړۍ ګـراف ایلیـا انـدریوویچ د راویښېدو سره سم ځکه په خورا کراره د خوب کوټې نه ووت چې مېتې د سهار پلو تـه ویـده شوې ګرافینه له خوبه راویښه نه کړي، دهغـه سـپین وریښـمین د خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیس پرغاړه برنډې ته ووت. بار شوې کراچۍ په انګړ کې او سورلو ته سترګه په لارې ګاډۍ یې د برنډې مخې ته ولاړې وې. یو چوپړ تر زینو لاندې ولاړ له بوډا ګاډیوان او رنګ الوتي افسر سره چې لاس ترلی و، غږېدل.

چوپړ د خپل بادار ګراف په لیدو، هغه ته زغرده اشاره وکړه چې له دې ځایه لرې شي.

ګراف په خپل تک شین سر لاس تېر کړ، په خورا لېوالتیا یې ګاډیوان او افسر ته وکتل، هغوی ته یې سر وښوراوه (ګراف د نویو څېرو په لیدو خوشالیده) او وې ویل:

-ښه واسیلیچه ! څنګه؟ هر څه چمتو دي؟

-هو کې، جلالتمابه ! تاسو امر وکړئ، همدا اوس آسونه ترل کېږي.

-ښه ده، ډېره ښه ده ! همدا چې ګرافینه راوېښه شي، توکل په خدای، بیا نو خوځېږو ! هغه افسر ته مخ وروا ړاوه.

-ښه ښاغلو ! تاسو زما کور ته راغلي یاستئ؟

افسر ور وړاندې شو، په رنګ بایللې څېرې کې یې ناڅاپه وینه وځلېده او وې ویل:

-جلالتماب ګراف ! که مهرباني وکړئ او اجازه راکړئ.. په خپله یوه ګاډۍ کې ځای راکړئ. د خدای لپاره ! دلته زه هېڅ شی له ځانسره نه لرم. هر ځای چې وي، آن که د بارونو پر سر، بل هر ځای..

هغه لا خپله خبره پای ته نه وه رسولې، چې ګاډیوان هم همدغه شان غوښتنه ترینه وکړه.

ګراف ګبنړی پسې واخېست او په تلوار یې وویل:

-هو، هو، ولې نه.. زه به په دې کار ډېر ډېر خوشاله شم. واسیلیچه ته وګوره، جوړه یې کړه، یوه یا دوې کراچۍ به له مالونو نه تشې کړې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو.. تشې يې کړه.. ښه نو، څنګه يې کوئ؟

ګراف په يو ناڅرګنده ډول دغه سپارښتنه وکړه، خو افسر په هماغه شېبه کې د تودې مننې په توګه دغه خبره پسې ټينګه کړه. ګراف خپلې شاوخوا ته وکتل او په هره خوا کې يې ټپي افسران، د هغو اردليان (چوپړان) وليدل. په انګړ کې، د دروازې په خوله کې، د ګاونډۍ ودانۍ د کړکيو مخې ته، هرې خوا ته به يې چې کتل، دغه شان کسان ټول د ګراف او برنډې پلو ته ور روان و.

چوپړ ګراف ته وويل:

-جلالتمابه! د دالان د تابلو ګانو په اړه څه سپارښتنه کوئ؟

ګراف هغه له ځانسره کورته را دننه کړ، خپله سپارښتنه يې هغه ته تکرار کړه او وې ويل:

- هغه ټپيان چې له دوی سره د تګ غوښتونکي دي، بايد دلته پاتې نه شي. ګراف خپل غبرګ راټيټ او ګواکې کوم پټ څه ويل غواړي، ډاريده چې آواز يې څوک وانه اوري، وويل:

-کېدای شي څه صندوقونه يا شيان له کومې ګاډۍ راکوز کړئ؟

نهې بجې وې چې ګرافينه راويښه شوه او ماترينه تيموفييونووا چې پخوا يې د دې اشپزه وه، اوس يې د دې د پټې خبرلوڅې دنده هم پيدا کړې وه، خپلې باداري ته خبر ورکړ چې ماريا کارلونا، سخته خوابدې شوې ده او وايي چې د نجونو اوړني کالي بايد دلته پاتې نه شي. د ګرافينې تر پوښتنو او پلټنو وروسته څرګنده شوه چې مېرمن شوس، له دې کبله خوابدې ده چې د هغې صندوق يې له کراچۍ نه راښکته کړی دی، نورو کراچيو نه هم پنډونه راښکته کوي او هغو ټپيانو ته ځای پيدا کوي، چې ګراف د زړه خوږې له مخې له ځانسره د هغو د اخېستلو سپارښتنه کړې ده. ګرافينې وويل چې ژر تر ژره ګراف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورغږ کړئ. هغې خپل خاوند ته وویل:

-ښه ګرانه ملګریه ! دا څه پېښه ده، ما واوریدل چې بیا بارونه راښکته کېږي؟

-ګرانې ما غوښتل تا ته ووایم.. زما ګرانې ګرافینې جانې ! یو تن افسر راغی او له ما یې هیله وکړه چې یو څو ارابې کراچۍ د ټپیانو د وړلو لپاره جلا کړم. ګوره ! ګرانې دا شیان، شیان دي، خو هغه ژوندي کسان، ټپیان څنګه دلته پریږدو، لږ فکر وکړه. رښتیا خبره خو دا وه چې خپل انګړ ته مو ږ هغوی خپله رابللي دي، د هغوی په منځ کې افسران هم شته.. پوهېږې ګرانې ! ښه به دا وي چې هغوی سپاره کړو، موږ سره لاړ شي، څه ته تلواره کوو؟ ګراف دا خبرې په ویره او حیا کولې، داسې ډار او حیا چې دی به کله د پیسو په اړه غږیده، دی هم همداسې کېده. ګرافینې د مېړه له دغه حالت او ژبې سره چې دده د ماشومانو د ژوند د خرابیدو سبب کېده ښه آشنا وه. ګرافینې له دې سره عادت کړی و چې تر دغه شان حالت وروسته به یا کوم ننداړتون جوړیده یا به د کومې نوې باغچګۍ خبرې وې یا به د کومې نڅا او موسیقۍ او یا د کوم لوی بنډار مېلمستیا وه. نو ځکه یې دا خپله دنده ګڼله چې د ګراف د دغه شان کړو په وړاندې ودرېږي.

هغې خپله آرامه ښه غوره کړه او په ژړغوني اواز یې وویل:

-ګوره ګرافه ! تا زموږ ژوند دې ته راورسوه چې اوس زموږ کور څوک په یوه ټنګه هم نه اخلي او دغه څو کالي او شیان هم چې زموږ ماشومانو ته پاتې دي، ته داړه مارانو ته پرېږدې. ته خپله وایې چې په دې کور کې د سلو زرو په شاوخوا کې کالي او کېړې شته دي. ګوره ګرانه ! زه دا ستا خبرې نه منم او نه منم، نور نو خپله پوهېږې، د ټپیانو ساتنه د دولت کار دی، چارواکې پوهېږي چې له هغو سره څه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته وګوره، زموږ مخامخ کورته، د لاپوخين، کورته وګوره، لا درې ورځې د مخه يې چې هر څه درلودل، بار يې کړل او لاړل. ښه ګوره چې خلک څه کوي او موږ څه کوو؟ نور خلک څه کوي او موږ لکه باڅاري او داسې يو او خدای خبر په څه لګيا يو... هيله کوم که په ما رحم نه کوې لږ خو په ماشومانو رحم وکړه.

ګراف لاسونه وښورل، پرته له هغه چې څه ووايي له کوټې نه ووت.

ناتاشا چې پلار پسې د مور کوټې ته راننوتلې وه، پلار پسې يې غږ کړ:

-پلار جانه ! دا څه خبره ده؟

پلار په ترخه ژبه ځواب ورکړ:

-هېڅ خبره نه شته، ستا يې څه؟

ناتاشا وويل: نه، ما هر څه واوريدل، ولې مور نه غواړي؟

ګراف چغه کړل: تا پورې څه اړه لري؟

ناتاشا د کړکۍ خواته لاړه، په خيالو کې ډوبه شوه، د باندې يې کتل او غږ يې کړ:

-پلار جانه ! بيرګ زموږ کره راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶

د رستوفيانو زوم بيرګ اوس ډګروال شوی و، هغه د ولاديمير او انا ښښانونه ګټلي او د پوځ د درستيزوال د مرستيال آرام دريځ او د دويم پوځ د مشرۍ دنده يې لرله. هغه د سپتمبر په لومړۍ نېټه له پوځ نه مسکو ته راغلی و.

ده په دې ښار کې کوم ځانګړی کار نه درلود، خو خپله يې دې ته پام شوی و چې ټول له پوځ نه رخصت اخلي، مسکو ته ځي او هلته کوم څه شی کوي. هغه هم د ځښنو کورنيو چارو لپاره مسکو ته تللی و. هغه په خپلې ښکلې پاکې ګاډۍ کې چې د شهزادګانو د آسونو په څېر دوو يرغه آسونه کشوله، راغلي و. هغه په انګړ کې دريدلو کراچيو او ګاډيو ته په ځير ځير وکتل. پورته خواته پر زينو د ختلو په وخت کې يې يو سپين دستمال له جيبه راوويسته او د دستمال ځنډه يې غوټه کړه.

بيرګ په نرمو چټکو ګامونو له دالانه تالار ته راننوت، له ګراف سره يې ستړي مشي وکړه، هغه سره يې ښکل کړل، د ناتاشا او سونيا لاسونه يې مچ کړل او د ګرافينې د روغتيا جاج يې واخيست.

ګراف وويل:

-کومه روغتيا؟ ښه به دا وي چې راته ووايي، پوځ څه حال لري؟ پوځ شاته راځي، که به جګړې ته دوام ورکړي؟

بيرګ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پلار جانه ! یوازې لوی خدای پوهېږي، چې زموږ د وطن برخلیک وټاکي. پوځ د اتلوالۍ په اور کې سوځي او مشران ګواکې اوس په خورا لېوالتیا جرګې کوي. دا چې راتلونکې کې به څه کېږي نه پوهېږم، خو غواړم تاسو ته ووایم پلار جانه ! د روسي پوځ د دغه شان کلیوالي مېړنتوب او لېوالتیا روح، هغه مېړنتوب او لوړ روح چې هغوی د اګست په ۲۶ مه نېټه ښودلی دی، هغه رښتني سرښندنه او مېړانه ده چې له پخوا راهیسې روسي مېړني او زړورو سرتیرو ښودله، هغه سرښندنه او مېړانه ده چې په هېڅ ډول تورو او کلمو کې انځوریدای نه شي. غواړم تاسو ته ووایم پلار جانه ! خپل ټټر یې وډباوه، هغه ټټر باید د(( روسي زړور پوځ )) د کلمې د ویلو په وخت کې ډبولی وای،.. ناتاشا په خورا ځیر هغه ته کتل. هغه، د هغې همدې کتلو نا آرامه کاوه، خو دا ښکاره نه وه چې په دې کتلو کې هغې له ده نه د کومې پوښتنې ځواب غوښت.

بیرګ به کله ناکله ناتاشې ته داسې وروکتل چې ګواکې غواړي هغه لږ نرمه او د ځان خواخوږې کړي. دی چې د هغې له تندو او پرله پسې کتو نه موسېده او وې ویل:

-هغه مېړانه او سرښندنه چې روسي پوځیانو ښودلې، په آسانۍ انځوریدای نه شي، هغه د روسي پوځیانو دغه کړه، هغه شان چې ښایي ښه وستایل. هغه ګراف ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

-روسیه په مسکو کې نه ده، هغه د هغې د زامنو په زړه کې نغښتې ده، داسې نه ده پلار جانه !

په دې وخت کې ګرافینه چې خورا ستړې او ستومانه بریښېده، له کمکي تالاره راووته، بیرګ په چټکۍ له ځایه پاڅېد، د هغې لاسونه یې ښکل کړل، د هغه د روغتیا او حال پوښتنه یې وکړه. له هغې سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا خـوږې ځرګنـده، سـر يـې ورتـه وښـوراوه او پـه ځنـګ کـې يـې ودريده، هغه وويل:

-هـوکې ! ادې جـانې ! غـوارم د زړه خبـره درتـه ووايـم، د هـر روس لپـاره، خـورا کـرکيچن او لـه غمـه ډک وختونـه دي، تاسـو ولـې داسـې ناکراره ياستئ؟ تر اوسه لا وخت ډېر دی، لاړ به شئ.

ګرافينې خپل مېړه ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

-زه نه پوهېږم دا خلک څه کوي؟ ما ته يې همدا اوس سره وويل چې هېڅ شی چمتو نه دی. ګوره ! يو ځوک بايد پر هغو څارنه وکړي..

ګراف غوښتل څه ووايي، خو داسې برېښېده چې خوله يې پټه کړه. هغه له خپلې ځوکۍ پاڅېد او د دروازې پلو لاړ.

بيرګ په دې وخت کې خپل دستمال، ددې لپاره چې خپله پـزه پـرې پاکه کړي له جيبه راوويست. د دستمال غـوټې تـه يـې وکتـل، پـه چرت کې لاړ، په خواشينۍ او چرت چرت کې يې سر وښوراوه. هغه وويل:

-پلار جانه ! زه له تاسو نه يوه لويه هيله لرم.

ګراف ودريد او وې پوښتل: څه... پو..؟

بيرګ وخندل او وې ويل:

-همدا اوس د يوسوپوف د کور له مخې تېريدم، د هغه د چارو مشـر زما آشنا دی، هغه له کوره رامنډه کړل. او وې ويل:

-تاسو کوم شی نه اخلئ؟

زه د ننه ورغلم، هسې د زړه تلوسه مې وه، هلتـه مې يـوه د کـالو او د سـينګار المـارۍ وليـده، هغـه شـان چې د ويروچکـا (ويـره جـانې) هغـه خوښېږي. (په هغه شېبه کې چې د دغې المـارۍ پـه اړه غږيده، ژبه يـې لا خوږه کـړه) نـه پـوهېږې ځـومره ښـکلې وه، څـه ښـې دړې يـې درلـودې، انګريزي قفلونه، پوهېږئ ! له ډېرې مودې راهيسې ويروچکا داسې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي پسې ګرځېده، زړه مې غواړي چې دغه ورنه واخلم. دا به هغې ته یوه ناڅاپي ډالۍ وي. یو نابېره زیری، ماولیدل په انګړ کې مو کلیوال بزګر خورا ډېر دي، یو تن به له ما سره ملګری کړې، مهرباني وکړئ، ورته ووایئ چې راسره لاړ شي، زه به یو څه مزد هم ورکړم او... ګراف تندی تریو کړ او ژور ژور وټوخېد او وې ویل:

-ګرافینې ته ووایئ، زه د دې چارو واک نه لرم.

بیرګ وویل: که څه ستونزه پیدا کوي، پروا نه لري، زه یوازې د ویروچکا لپاره دا غواړم.

بوډا ګراف چغه کړل: ووزئ، ټولو پسې مو بلا، بلا درپسې، بلا درپسې، بلا درپسې. سرسام مو کړم. دا یې وویل او له کوټې نه ووت.

ګرافینه په ژړا شوه.

بیرګ وویل: هو کې ادکې، ډېره سختې ورځې دي.

ناتاشا له پلار سره غبرګه ووته. هغه هم سخته پریشانه وه، هغه له خپل پلار سره ووته، بیا بېرته راستنه شوه او بیا ښکته لاړه.

پیتیا په برنډې کې ولاړ او هغو کسانو ته یې وسلې وېشلې چې له مسکوه وتل. په کالو، جامو او کپړو ډکې بارګاډۍ او کراچۍ هماغه شان په انګړ کې ولاړې وې. له دوو ګاډیو نه پړي خلاص شوي و او یو افسر چې ګاډیوان یې له تخرګه نیولی و، د دغو ګاډیو نه یوې ته وروخوت.

پیتیا له ناتاشې نه وپوښتل: ته پوهېږې څه خبره ده؟

ناتاشا پوه شوه چې له دې پوښتنې نه د پیتیا مقصد د مور او پلار ناندرۍ او خوابدي ده، نو ځکه یې هېڅ ځواب ورنه کړ.

پیتیا وویل: او که له دې کبله په قهر شوه، چې پلار غوښتل ټولې ګاډۍ ټپیانو ته ورکړي. واسیلیچ راته وویل زما په اند...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا له قهره تکه سره شوه، ناڅاپه یې مخ ورور ته وروا ړاوه او په داسې غږ لکه چغې چې وهي، وویل:

- زه فکر کوم، زه فکر کوم، دغه شان رذالت او دغه شان سپکاوی... زه نه پوهېږم! مورې خو څه المانیان نه یو؟

ستونی یې له سلګیو نه ریږدیده، هغه ډاریده چې کېدای شي ډار او قهر یې هسې تش تېر شي، بېرته ستنه شوه او مخ پورته پر زینو یې منډه کړه. بیرګ د ګرافینې څنګ ته ناست و او د یوه خپل په توګه یې په درناوی له هغه سره خواخوږي کوله او آراموله یې. ګراف چې پیپ یې په لاس کې و، په کوټه کې ګرځېده، په دې وخت کې ناتاشا له قهره تکه سره اوښتې، کوټې ته راننوته. په چټکو ګامونو د مور خواته ورغله، په لوړه یې چغه کړل:

-دا رذالت او سپکاوی دی، دا امکان نه لري چې چا دغه شان سپارښتنه کړې وای.

بیرګ او ګرافینې په وحشت او حیرانتیا هغې ته کتل. ګراف د کړکۍ تر څنګ ولاړ او غوږ یې نیولی و.

هغې چغې وهلې: مورجانې! دا ناشونې خبره ده، ته یو وار انګړ ته وګوره، هغه دلته پرېږدي.

-دا په تا څه شوي دي؟ هغه یعنې څوک؟ ته څه غواړې؟

-ټپیان یعنې څوک؟ مورجانې! داسې مه کوئ! دا ستاسو کړو ښو خلکو ته ورته نه دی. ته ګرانې مورې! ما به وبښئ دا کارونه چې تاسې کوئ، د نه منلو دی، مورجانې! ته دا راته ووایه چې دغه شیان چې مورې بار کړي او وړو یې. دا زموږ څه په کار دي؟ ته یو وار انګړ ته وګوره، مورجانې! دا امکان نه لري چې دلته یې پرېږدو.

ګراف مخ کړکۍ ته ولاړ و، پرته له هغه چې مخ راواړوي، د ناتاشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو ته غوږ و، ناڅاپه يې پزه و سوغوله او سر يې کړکۍ ته ورنږدې کړ.

ګرافينې لورته وکتل، د هغې خبرې ته چې د مور له لاسه شرمېدلې بربښېده، له قهره تکه سره شوې وه، په دې پوه شوه چې ولې يې مېړه دې ته نه ګوري. هغې په پريشانۍ او خوارۍ خپل شاوخوا ته وکتل. پر ته له هغه چې د هغو خبرو ته پوره غاړه کېږدي، وويل:

-ښه ده، ښه ده، هر څه چې کوئ، کوې يې، آيا زه د چا د کړو خندې شوى يم؟

-مورجانې !ګرانې !ماوبښه !

ګرافينې لور پورې وهله، ګراف ته ورنږدې شوه، د ملامتۍ په نښه يې سرښکته واچاوه، او وې ويل:

-ګرانه !خپله هر کار چې کوې، کوه يې. زه خو ګوره په دې خبرو نه پوهېږم. ګراف چې له خوښۍ نه اوښکې نه شوې ټينګولې، د خپلې ښځې شرمېدله څېره چې دده پر ټټر يې ور اېښې وه، کېښکوده او وې ويل:

-اوس هګۍ چرګوړوته زده کړې ورزده کوي. (کشران مشرانو ته لار ښيي)

ناتاشا وپوښتل:

-پلارجانه !مورجانې !اجازه راکوئ چې دا ټولې چارې زه وکړم؟

-اجازه ده؟ بې غمه اوسئ زه هغه شيان اخلم چې ډېر ه اړتيا ورته لرو.

ګراف د سر په ښورولو، هغې ته هو کړل او ناتاشا په هماغې چټکۍ چې کله يې د ماشومتوب په لوبو کې منډې وهلې، له تالاره واوښته.. او له زينو نه انګړ ته ورښکته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپړان د ناتاشا شاوخواته ورټول شول، خو هغوی چې تر هغو په خپله د ګراف نه وانه وریدل چې ټپیانو ته کراچۍ پرېږدئ او صندوقونو تحویلخانو ته یوسئ. د ناتاشا سپارښتنو ته په شک کتل.

د کور ټولو غړو ددې لپاره چې تر اوسه پورې یې د ټپیانو پوره غم نه دی خوړلی، په خورا لېوالتیا په دې کار لګیا شول. ټپیان له هرې خوا، په څښېدو، پاڅېدو او لویدو له کوټو نه راوتل او په الوتو بڼو او هیله د کراچیو خواته ورتلل. دغه خبر چې د رستوف په کور کې د ټپیانو د لېږدولو لپاره کراچۍ او ګاډۍ ولاړې دي، ګاونډو کورونو ته ورسېد او ټپیانو له هرې خوانه هغه پلو مخه کړه. د هغو ډېرو نه غوښتل چې له کراچیو نه بارونه راښکته شي، بلکې یوازې دوی ته اجازه ورکړل شي چې که کېږي د کالیو پر سر هم کیني، خو د کالیو راښکته کول پیل شوي و او مخه یې چا نه شوه نیولې. ..

ګرافینې وویل:

-هغه کراچۍ چې زما کالي په کې بار دي هغه هم واخلئ، دونیا شان دې له ما سره کیني.

د ګرافینې د کالیو صندوقونه یې راښکته کړل او لاړل، له ګاونډو کورونو نه یې څو تنه ټپیان راوستل او په هغې کې یې ځای پر ځای کړل. د کورنۍ غړي او ټول چوپړان په لېوالتیا او مینه لګیا وو. ناتاشا په داسې خوښۍ او مینې سره چې له ډېره وخته یې داسې لېوالتیا نه درلوده، بیا هلې ځلې کولې. چوپړانو چې د یو کراچۍ شاته په یوې نرۍ څوکۍ ایښې یو صندوق ایښی و، پوښتل یې هغه چېرته کېږدي؟ کاشکې یې یوه کراچۍ ورته پرېښې وای.

ناتاشا وپوښتل:

-په دې صندوق کې څه شی دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د ګراف کتابونه دي.

-پربېږدئ، واسیلیچ به یې پورته کړي.

کراچۍ له خلکو ډکې شوې وې، هېڅوک نه پوهېدل چې پیوتر کیریلېوویچ چېرې کېني.

ناتاشا وویل:

-د ګاډیوان تر څنګ! پیتیا داسې نه ده؟ ته د ګاډیوان تر څنګه کېنې!

سونیا هم هلې ځلې کولې او لګیا و، خو د هغې د هلو ځلو هدف د ناتاشا برخلاف بل هدف و. هغې هیله لرله هغه شیان چې پاتې کېږي راټول کړي او د ګرافینې د سپارښتنې له مخې ټول پاتې شوي شیان یې لیکل، هغه یې حسابول او هڅه یې کوله، څومره چې کېږي، په هماغه اندازه زیات شیان له ځانسره واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

یوه بجه او څو دقیقې وې چې د رستوف د کورنۍ څلور بار ګاډۍ د دروازې خواته ولاړې وې، له ټپیانو نه ډکې ګاډۍ او کراچۍ یو په بل پسې له انګړ نه وتلې.

هغه ګاډۍ چې سردار اندرې په کې اچول شوی و او د برنډې تر مخې تېریده، د سونیا پام هغه وخت ځانته ورواړاوه چې دې په هغې ښکلې او پرتمینې ګاډۍ کې د ګرافینې د ناستې ځای جوړاوه.

سونیا سر له ګاډۍ نه وویست او وې پوښتل:

-دا د چا ګاډۍ ده؟

یو چوپړ ځواب ورکړ: څنګه یې نه پېژنې؟ د سردار ګاډۍ ده. هغه ټپي شوی دی. پرون شپه له موږ سره و او اوس هم له موږ سره روان دی.

-کوم سردار؟ نوم یې څه دی؟

یوې مینځې سوړ آسویلی وویست او ځواب یې ورکړ:

-زما او ستا پخوانی زوم، سردار بالکونسکي.

سونیا له ګاډۍ نه ودانګل او د ګرافینې خواته یې ورمنډه کړل. ګرافینې د سفر جامې اغوستې وې، شال یې په اوږو او خولۍ یې پر سر وه، ستړې ستومانه په تالار کې ګرځېده راګرځېده. دې ته سترګه په لاره وه چې د کورنۍ ټول غړي سره راټول شي، دروازې وتړي، کېني (روسان هر سفر نه مخکې یو وار کېني) د سفر دعا وکړي، ناتاشا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه کې نه وه. ..

سونیا وویل: آغلې ګرافینې ! سردار اندرې دلته دی، ټپي شوی دی، د مرګ په حال دی، هغه له مور سره روان دی.

د ګرافینې سترګې له وحشته ووتې، د سونیا لاس یې راونیو او شاوخوا یې وکتل. هغې وویل:

-ناتاشا؟

د ګرافینې او سونیا لپاره دې خبر یو ډول اغېز درلود. هغو ناتاشا ښه پېژندله او له دې نه ویریدل که هغه دا خبر واوري څه به وشي. هغوی په دې حیرت کې پر هغه چا چې ورته ګران و، د خواخوږۍ احساس هېر کړ.

سونیا وویل:

-ناتاشا لا تر اوسه خبره نه ده، خو سردار اندرې له مور سره روان دی.

-تا وویل چې مرګنی حال لري؟

سونیا د هو په نښه سر وښوراوه.

ګرافینې له سونیا نه غېږ تاو کړه، وې ژړل او وې ویل:

-د خدای حکمت زمونږ لپاره د پوهېدو وړ نه دی.

هغې احساس کړه، هر هغه څه چې اوس تر سره کېږي، په هغه کې د خدای نغښتې اراده، کرار کرار رابرالا کېږي.

ناتاشا په لېوالتیا او شوق په منډه کوټې ته راننوته او وې ویل:

- مورې ! هر څه چمتو دي، خو تاسې ولې؟

ګرافینې وویل:

- هېڅ، هېڅ چې چمتو دی، درځئ چې ځو، هغې سر پر خپلې لاسي کڅوړې ددې لپاره ورکېښود چې خپله تښتبدلې بشره پټه کړي، سونیا له ناتاشې نه غېږ تاو او ښکل یې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا په پوښتنيز غلچک هغې ته وکتل او وې پوښتل:

-څه درشوي؟ څه پېښ شوي دي؟

-نه، نه هېڅ څه نه دي پېښ شوي.

ځيرکې ناتاشې وپوښتل:

-ما ته کوم بد څه پېښ شوی دی که څنګه؟ راته ووايه څه شوي دي؟

سونيا سوړ اسويلی وويست او ځواب يې ورنه کړ. ګراف، پيتيا، مېرمن شوس، مارواکوزمينيشنا او واسيليچ تالار ته راننوتل. دروازې قفل شوې، ټول چپ کېناستل او پرته له هغه چې يو بل ته وګوري، يو څو شېبې چوپه چوپتيا خوره شوه.

ګراف تر ټولو نه د مخه پاځېد، د شمايل په وړاندې ودريد او پر ټټر او تندی يې صليب وويست. نورو ټولو هم دا کار وکړ. تر هغه وروسته ګراف تر ماوراکوزمينيشنا او واسيليچ نه،له هر يو نه جلا جلا غېږ تاو کړه، هغوی په مسکو کې پاتېدونکي وو، هغه يې ښکل کړل او ددې په لړ کې چې د هغوی لاسونه يې کېښکودل، پر اوږو يې مچول، په کرار کرار يې هغوی پر اوږو ډبول او د هغو د آرامۍ لپاره يې د خواخوږۍ څه داسې خبرې ورته کولې چې د پوهېدو وړ نه وې. ګرافينه د لمانځنې کوټې ته ورننوتله. سونيا هغې پسې ورغله، وې ليدل چې هغه د لمانځنې په کوټه کې د بيلابيلو شمايلو په وړاندې چې پر ديوالونو ځړېدلي پاتې وو، ګونډه وهي (هغوی يوازې هغه شمايل چې خورا قيمتي و او يا هم د نيکه او غور نيکه نه ورته پاتې وو،له ځان سره اخېستی و).

هغو، چوپړانو چې له پيتيا نه توري او چړې تر لاسه کړې وې په برنډې او انګړ کې ولاړ وو. هغوی پايڅې په موزو کې منډلې او ملايې تړلې وې. ټول روان وو او له هغو کسانو سره چې پاتې کېدل، مخه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله..

ګرافینې وویل:

-هېڅ وخت مو کار زده نه شو. ولې ته نه پوهېږې چې زه دا سې کېناسئ نه شم؟ دونیاشا، غانښونه کېښکودل او د ملامتۍ نښې یې په بشره کې څرګندې وې. ځواب یې ونه ویل او په چټکۍ ګاډۍ ته وروختله او په هغې کې یې هغه ځای چې ګرافینه باید په کې کیني هغه شان جوړ کړ چې هغې یې غوښتنه کوله.

ګراف سرښوراوه او ویل یې:

-آه، عجیب خلک دي.

زوړ ګاډیوان ایفیم، یوازینی څوک و چې ګرافینې پر هغه د خپلې ګاډیوانۍ باور کاوه، پر خپل لوړ ځای ناست و. او هغه څه ته چې دده تر شا تېریدل، آن ورکتل هم نه. په ګاډیوانۍ کې تر دیرش کاله تجربې نه وروسته هغه په دې پوهېده ډېر ژر پر هغه د وروستي ځل لپاره (د خدای په امان) غږ ونه شي. او که دا غږ هم وشي بیا به هغه ودرول شي، بیا به یې څوک هېر شویو شیانو پسې ولېږي، بیا به هغه ته یو دوه واره د (صبر وکړه) غږ نه کېږي او بیا به یې څوک هېر شویو شیانو پسې ولېږي، تر دې نه وروسته به متې ګرافینه له ګاډۍ نه سر وباسي، هغو ته به له خدای نه د پناه غوښتنه او دا سپارښتنه وکړي چې په سختیو ،لوړو او ژورو کې احتیاط وکړي، نو له دې کبله دی تر خپلو آسونو نه هم (په تېره بیا د کین سره بخوند هغه نه چې شهباز نومېده چې سم شخوند یې واهه) زیات ځیرک و.. بالاخره ټول ځای پر ځای شول.. یو څوک یې بیا هېر شوی صندوقچې پسې ولېږل. ګرافینې سر راهسک او وروستې سپارښتنه یې وکړه، هغه وخت و چې بوډا ایفیم خولۍ له سره پورته کړه، پرځان یې صلیب وویسته، دهغه شاګرد او نور ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کار وکړ.

ایفیم خولۍ بېرته پر سر کېښوده او وې ویل:

-د خدای په امان !.. د ګاډیو کتار وتړل شو او کتار پورته خوا ته وخوځېد. کله چې هغوی د کور له مخې کلیسا نه تېرېدل، په ګاډیو او کراچیو کې ناستو ټولو کسانو په ځان صلیبونه وویستل. هغه چوپړان چې په مسکو کې پاتې کېدل، د ګاډیو دواړو خواو ته روان وو او مسافر یې بدرګه کول.

ډېره کمه داسې پېښېده چې ناتاشا داسې د خوښۍ احساس وکړي لکه د هغې ورځې په شان چې په ګاډۍ کې د ګرافینې تر څنګ ناسته وه. هغې د مسکو د کورونو دیوالونو ته چې کرار کرار ددې تر مخې تېریدل، کتل. کله ناکله به یې د ګاډۍ له کړکۍ نه سر وویست، تر دوی شاته او تر دوی مخې ته له ټپیانو نه ډکو کراچیو اوږده کتار ته به یې وکتل، څه کم تر ټولو نه د مخه د سرداراندرې ګاډۍ چې چور له هر پلو تړل شوي او دریچې یې هم پورې شوې وې او پردې یې ښکته وې، روانه وه. ناتاشا نه پوهېده چې په هغې ګاډۍ کې څوک سپاره دي. هغې به چې هروار د کتار د اوږدوالي اندازه معلومولـه، همدا ګاډۍ به یې لټوله، هغه یوازې په دې پوهېده چې هغه لومړنۍ ګاډۍ ده.

د کودرین په ډګر کې د نیکیتسکایا، پرسنیا او پادنووینسکي له کوڅو نه هم د دوی ګاډیو ته ورته ګاډۍ د دوی له کتار سره یوځای شوې. ګاډۍ داسې ډېرې شوې چې د سادوویا په واټ کې نور نو ګاډۍ او کراچۍ په دوو کتارونو کې روانې وې.

کله چې کتار د سوخاروف له برجه راتاوېده، ناتاشا په خورا لېوالتیا او ځیرکو سترګو ټولو خلکو سورو او پلیو ته کتل، خو ناڅاپه یې په حیرانتیا چغې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-وای مورجانې ! سونیا ! وګورئ، هغه دی، په خپله هغه.

-څوک؟ څوک دی؟

ناتاشا چې د ګاډۍ له ورې کړکۍ نه سر ایستلی و، هغه لوړ ونی او شډل سړي ته چې ګاډیوانانو ته ورته کالي یې اغوستي، خو کره وره یې بادارانو ته ورته و، کتل. هغه له یوه زړه مخې بوډا سره چې کوسه ږیره یې او وریښمینې جامې یې اغوستې وې، د سوخاروف د برج لاندې د دوی خواته را روان وو.

ناتاشا چغه کړه:

-بیزاوخوف دی (پېیر) په خدای قسم دی چې بیزاوخوف دی. هغه د ګاډیوانانو په جامو کې دی. دا هلک، له هغه سره دا بوډا څوک دی،له هغه سره؟ تاسو او خدای ورته وګورئ.

-نه، دا امکان نه لري، دا بیزاوخوف نه دی، دا کره وره یې هغه ته ورته نه دي.

ناتاشا چغه کړې: مورې ! مورجانې ! زما دې په خپل سر قسم وي، که به دروغ وایم، خپله دی دی. زه تاسو ته ډاډ درکوم چې هغه دی. او پر ګادیوان یې غږ وکړ:

-ودرېږه ! ودرېږه !

خو ګادیوان ځکه درید ای نه شو چې د میشانسکایا له کوڅې نه د ګاډیو بل کتار د دوی خواته را راون و او د رستوفیانو پر ګاډیوانانو یې چغې وهلې چې خوځېږه ! لاره مه بندوه.

په رښتیا هم د رستوف د کورنۍ غړي که څه هم اوس لرې وړاندې تللي وو، ټولو، پېیر یا هغه ته، خوراورته سړی چې د ګاډیوانانو جامې اغوستې وې، ولید. دهغه بشره ځیږه او سر یې ښکته اچولای و. هغه چې چوپړانو ته ورته و، په واټ کې د ټیټ وني او کوسه سړي تر څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان و. د بوډا هغه سر ته چې د ګاډۍ له کړکۍ نه راوتلی و، پام شو، په درناوي یې پییر په ځنګه وواهه، څه یې هغه ته وویل او ګاډۍ یې هغه ته وروښوده. پییر داسې په خپلو خیالونو کې ډوب و چې تر ډېرې پورې د هغه په خبره پوه نه شو، خو په پای کې چې کله هغه پوه شو، هغې خوا ته چې بوډا ورښودلی و وکتل، ناتاشا یې وپېژندله، د لیدنې لومړنی اغېز یې احساس کړ او د ګاډۍ پلو خواته ورغی. هغه لس ګام لا نه و تللي چې کوم شی وریاد شول او ودرید. له ګاډۍ نه د ناتاشا راوتلې بشرې، په مینې، خواخوږۍ چې له ملنډو سره مل وه وځلېدله. خپل لاس یې د هغه خوا ته وروغځاوه او چغه یې کړل:

-پیتر کیریلېوویچ! راځه کنه، ولې نه راځې؟ موږ تاسو وپېژندلئ! دا عجیبه ده! دا څه حال دی؟ دا څه شی مو اغوستي دي؟

پییر په تګ تګ کې د ګاډۍ نه راوتلې لاس راونیو (ځکه چې ګاډۍ همداسې روانه وه) او هغه یې بې ارادې ښکل کړ.

ګرافینې په مینه ناک خو حیرانې غږ وپوښتل:

-څه درشوي دي، ګرافه!

پییر وویل: څه شوي دي؟ څه شوي؟ ما نه پوښتنې مه کوئ. او ناتاشې ته چې ځلېدونکې زړه راښکونکې ښکلا او سترګو یې (هغه پرته له هغه چې هغې ته وګوري) دی یې لېونی کړی و، وکتل.

هغې وپوښتل: څه کوئ؟ تاسو په مسکو کې پاتې کېږئ که څنګه؟

پییر هېڅ ونه ویل، خو یوه شېبه وروسته یې په پوښتنیزه بڼه ځواب ورکړ:

-په مسکو کې؟ هو کې په مسکو کې، د خدای په امان!

ناتاشې وویل:

-اخ، که زه نارینه وای، زه به هرومرو له تا سره پاتې شوې وای. اخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخ چې څومره به ښه وای ! ناتاشې زیاته کړه:

-مورجانې ! اجازه راکړئ چې زه هم پاتې شم.

پېیر پـه حیرت ناتاشې تـه کتـل او غوښـتل یې چې څه وو ایي خو ګرافینې د هغه خبره پریکړه او وې ویل:

-مور. اوریدلي چې تاسو په جګړه کې وي؟

پېیر ځواب ورکړ: هو ومه، سبا تـه بیا جګړه پیـل کېږي او... خو ناتاشې د هغه په خبرو کې ورولویده: ښاغلیه ګرافه ! څه درشوي دي؟ ته هېڅ آن ځانته ورته نه یې...

هغه وویل: اخ ! مه پوښتئ، ما مه پوښتئ، زه خپله هم پـه هېڅ نـه پوهېږم. سباته... هوکې... نه، نه ! د خدای پـه امان... د خدای پـه امان، څه بده زمانه ده.

هغه له ګاډي نه لرې او بېرته یې د پلیو لار ته ځان ورساوه.

ناتاشې تر ډېرې پورې خپل سر د ګاډي له دریڅې راوېستلی و او خپله مینه ناکه لـه خوښـۍ او خواخوږۍ نه ډکه موسکا یې د هغـه پلـو ورخوروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

پیېر له خپل کوره تر تري تم کېدو نه وروسته، دا دویم ورځ و چې د خدای ښېنلي بیزاو خوف په تش شوي کور کې اوسېده. دا هر څه داسې پېښ شوي و.

پیېر، مسکو تـه تـر راستنېدو او لـه راستوپچین سره تـر کتنـې وروسته بـل ورځ سهار وختـي چې کلـه لـه خوبـه راویښ شـو، تـر ډېرو پورې په دې سر نـه خلاصېده چې دی چېرې دی او لـه هغـه نـه دوی څه غوښتل.

کله چې ده، د هغـو خلکـو دنومونـو پـه منځ کې چې لـه ده سره يې د لیدو هیله لرله، دهغـه یـو فرانسوي نوم ولیـد چې ده تـه يې د ګرافینـې ایلین وآسیلوفنا ( دده ښځه ) لیک راوړی دی، هسې یـوه پریشـاني او ناهیلي پرې راخوره شوه، چې کلـه ناکلـه يې دی لـه پښـو اچـاوه. ناڅاپـه يې داسې وانګېرلـه چې نـور نـو هر څـه پـای تـه رسېدلي دي، هر څه پرزیدلي دي، هر څه تـالا والا شـوي دي. نور نو نـه حق معنـا لـري او نـه ګناه، په راتلونکې کې به هم هېڅ حق او ناحق نه وي او لـه دې کړکیچ نـه وتل به خورا ګرانه خبره وي. یـوه روسي موسکا يې پـر شـونډو راخوره شوه، ترشونډو لاندې به يې څه وویل او په خورا حیرانۍ او خوارۍ کې به کلـه پـر اوږدې څوکۍ کېناست او کلـه بـه پاڅېد ددروازې خواتـه بـه ورغی، د دروازې له سوري نه بـه يې د ننـه د انتظار کوټې تـه وروکتـل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به یې لاسونه وغورځول، بیا به راستون شو، او کوم کتاب به یې راواخیست. دده چوپړ بیا راغی او ده ته یې خبر ورکړ، هغه فرانسوي چې له ګرافینې نه یې لیک راوړی دی ډېره زیاته هیله لري چې که څه هم د یوې دقیقې لپاره وي ورسره وګوري. د ا. بازدییوف د کونډې له خوا هم یو څوک راغلي او غواړي چې تاسې یې ومنئ او هغه کتابونه چې راغلي هغه واخلئ. هغه ویل چې مېرمن بازدییوفه خپله کلي ته تللې ده.

پیېر چوپړ ته وویل:

-هوکې، هوکې! یوه شېبه صبر وکړه! څه ورشه! ورته ووایه چې اوس راځي.

خو همدا چې چوپړ له کوټې نه ووت، پیېر پر میز خپله پرته خولۍ راواخیسته او د کوټې د شا دروازې له خوا ووت. په دهلیز کې هېڅ څوک نه و. پیېر د دغه اوږده دهلیز لاره ووهله، زینو ته ورسېد، تندی یې تریو کړ، په داسې حال کې چې په دواړو لاسونو یې تندی سولاوه، په زینو کې د لومړي پوړ تر دالانه پورې ښکته شو. د دروازې مخې ته یو ساتونکی ولاړ و. له دغه دالانه چې پیېر ورښکته شوی و، د ودانۍ د شا دروازې پورې زینې ورښکته شوې وې. پیېر پر همدې زینو ورښکته او انګړ ته ورسېد. هېڅ چا هغه ونه لید، خو همدا چې له ګرځنۍ نه تاو شو، هلته ولاړ ګاډیوان او څوکېدار خپل بادار (پیېر) ولید او د هغه په درناوي یې خپلې خولۍ له سره پورته کړه. کله چې پیېر د دغو کسانو د کتو اغېز احساس کړ، هغه، لکه فیل مرغ چې له خلکو نه د پټېدو په وخت کې سر په بوټو کې منډي، سرښکته واچاوه، ګامونه یې چټک کړل او همداسې په کوڅه کې وخوځېد.

له ټولو هغو چارو او کارونو نه چې باید هغه ورځ پیېر سرته رسولي وای، د یوسف الکسي یوویچ د کتابونو او پاڼو سمول او ځای پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو تر پامه غوره ورغلل.

پيير مخ ته ورغلې په لومړی ګاډی کې سپور شو او ورته وې ویل چې د پاترياشي د چينو د واټ پلو ته چې هلته د بازدييوف کونډه اوسېده لاړه شي.

پرله پسې به يې شا ته مخ اړاوه، چې له مسکوه، دهرو راتلونکو او وتونکو ګاډيو او کراچيو د کتارونو ننداره وکړي. هغه دې ته هم پام و چې د هغې زړې ګاډی، ته چې د زوړوالي نه يې له هر پلو نه چغې پورته وې، دده څورب او شدل بدن ونه غورځېږي او يا ونه ښوييږي. د ښوونځي نه لکه د تښتېدلی ماشوم په شان خوښ او خوشاله و او له ګاډيوان سره يې مرکه پيل کړه.

ګاډيوان ورته وویل چې نن په کرملين کې وسلې ویشل کېږي او سبا به ټول د درې غونډيو تم ځای ته مرش کړي او هلته به لويه جګړه پيل شي.

پيير چې د پاترياشي د چينو کوڅې ته ورسېد، هلته يې د بازدييوف کورڅکه ډېر ولټاوه، چې ډېره موده کېده چې دی هغې خواته نه و، ورغلی. کله چې د هغوی د کور دروازې ته وررسېد ګراسيم هماغه ژېړمخی کوسه بوډا چې پنځه کاله مخکې پيير هغه له الکساندر يوسيفوو يچ سره په تاوژک کې ليدلی و، د دروازې ټکولو نه وروسته راووت.

پيير وپوښتل: په کور کې ده؟

-جلالتمابه ! په دې بده ورځ، تاسو هرومرو پوهېږي چې حال څنګه دی. سوفيا دانيلوفنا له ماشومانو سره کلي ته لاړل. تاوژک ته.

پيير وويل:

-په هر حال، زه کورته ورننوزم. زه بايد کتابونه وګورم او سره جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کړم.

بوډا چوپړ وويل:

-مهرباني، هر کله راشئ ! جنتونه دې ځای شي، د هغه خدای بښلي پلار ماکار الکسيوويچ په کور کې دی، خو هغه شان چې تاسو پوهېږئ لړ ژوبل او ناتوانه غوندې دی.

پيير په دې پوهېده چې ماکار الکسيوويچ د يوسيف الکسيوويچ ورور لږ څه باڅاري او نشه يې غوندې دی.

پيير وويل: هو، هو پوهېږم ! درځه، درځه چې ځو.. او کورته ورننوت. تک شين سر، يو لوړ ونی سور پزيي بوډا چې کميس يې پرغاړه و، جورابې يې نه درلودې او کلوشې يې په پښو وې د کور په بر سر کې ولاړ و. د پيير په ليدو يې طبيعت تريخ شو، وبنګېده او وړاندې دهليز ته ورننوت.

ګراسيم وويل:

-خورا هوښيار سړی و، خو اوس لکه هغه شان چې ګورئ، اعصاب يې نا آرامه دي، مهرباني وکړئ دفتر ته ! پيير سر وښوراوه، خو بوډا دوام ورکړ:

-د دفتر کوټه مهرلاک شوې او هماغه شان پاتې ده. سوفيا دانيلوفنا ويلي وکه ستاسو له خوا څوک راشي، کتابونه ورته وسپارو.

پيير هماغې غمځپلې کوټې ته ورغی چې لا د خپل استاد د ژوند په وخت کې په به په ويرې او ريږديدا ورننوت. دغه دفتر ته چې د يوسيف الکسيوويچ تر مرګه وروسته څوک ورننوتلي نه و، له دوړو ډک او له پخوا نه لا غمځپلی بربښېده.

ګراسيم د يوې کړکۍ نه پرده لرې کړه او خپله له کوټې نه ووت. پيير

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه کوټـه کې وګرځېد ، يـوې الـماری تـه ورنـږدې شـو چې هلتـه خطي نسخې په کې ايښودل شوې وې او له دغـو خطي نسـخو نـه يې ،يـو هغـه ،چې يو وخت د ماسون د ډلې يو له پخوانيو او غورو اسنادو نه يو سند ګڼل کېده ، راواخېسته. دغـه سند د ماسون د ډلې د آسکاتلندي تـګ لارې او د اسنادو لـه اصلي نسـخو نـه يـوه نسخه وه ، چـې د بـازدييوف سپړنې او شننې پـه کې راغلې وې. د ليکنې د دوړو لړلي ميـز تـر شـا کېناست ، هغه خطي نسخه يې تر مخې کېښوده ، خلاصه يې کړه ، بېرتـه يې وتړله او په پای کې يې هغه له مخې پورې وهلـه ، سر يـې پـه لاسـونو کې کېښود او په خيالونو کې ډوب شو.

ګراسيم څو واره په احتيـاط سره دفتـر تـه وروکتـل او هر وار بـه يـې چې ورکتل ،هغه به ، په هماغه فکرونو کې ډوب و. دوه ساعته په همدې حـال تېـر شـو. ګراسيم يـو زړه سـل زړونـه کـړل ، دروازې يـې ددې لپـاره خلاصه کړه چې د هغه پام راواړوي ، خو پېير د هېڅ شي او هـېڅ چـا غـږ نه اوريده ، ګراسيم وپوښتل:

-که اجازه وي ، ګاډيوان رخصت کړم؟

د پېير پام بدل شو ، په چټکۍ پاڅېد او وې ويل:

-اخ ، ګوره ! واوره ! ګراسيم يې له ګريوان نه راونيو ، په داسې حال کې چې سترګې يې له اوښکو ډکې وې او په ګېنۍ يې بوډا تـه کتـل وې ويل:

-اورې ، ته اورې او پوهېږې ، سبا به دلته جګړه پيل شي.

ګراسيم ځواب ورکړ: هو ، ويل کېږي.

-زه له تا نه هيله کوم چې هېڅ چا تـه مـه وايـه چـې زه څـوک يـم ، تـه بـه هغه څه کوې چې زه درته وايم.

ګراسيم وويل: ډوډۍ ته مو خوښه کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پییر چې ناڅاپه یې رنګ تک سور شو، وې ویل:

-نه، خو زما یو بل څه په کار دي، زما کلیوالي کالي او یوه تومانچه په کار دي.

ګراسیم فکر وکړ او وې ویل: وا مې وریدل.

پییر د دغې ورځې پاتې ټول وخت یوازې د خپل مشر په دغه کوټه کې تېر کړ، په خورا ناآرامۍ د کوټې له یوې خوا نه بلې او له بلې خوا نه بلې خواته، ته او راته او ګراسیم یې د ګامونو غږ اورېده. هغه له ځانسره غږېده. هغه د شپې هم په هماغه کوټه کې په هغه کټ وېده شو چې ګراسیم همالته ورته جوړ کړ.

ګراسیم چې په خپل ژوند کې خورا عجیبې پېښې لیدلې وې، د ژوند له خوږو ترخو سره عادت و، په هغه ځای او کوټه کې نه یوازې د پییر مېشته کېدو حیران نه کړ، بلکې ډېر خوشاله و چې یو بادار یې پیدا کړ چې چوپړ یې وکړي. ګراسیم په هماغه شپه پرته له هغ چې په دې اړه فکر یا له ځانه پوښتنه وکړي، د پییر لپاره کلیوال کالي او خولۍ راوړل او ژبه یې وکړه چې سبا به تومانچه هم ورته پیدا کړي. ماکار الکسیوویچ چې کلوشې یې په پښو وې او ګامونه یې ځان پسې کشول، په هغه شپه دوه واره د دفتر دروازې ته نږدې شو، ودرید او په غوره مالۍ یې پییر ته وکتل، خو همدا چې پییر مخ ورواړاوه وشرمېد، خپل کمیس یې راټول کړ او په خورا قهر او چټکۍ له هغه ځایه لرې شو.

په هغه ورځې چې پییر د ګاډیوان هغه جامې چې ګراسیم ورته راوړې وه، واغوستلې او له هغه سره ګډ د سوخاروف د برج خواته د تومانچې د اخیستلو لپاره تللي و، د رستوف له کورنۍ سره مخامخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

کوتوزوف، د سپتمبر په لومړي نېټې فرمان ورکړ چې روسي پوځ له مسکو نه د تېرېدو وروسته د ريزان د واټ پلو ته، په شا لاړ شي.

د پوځ لومړۍ ډلې د شپې وخوځېدلې..

د سپتمبر په دويمه نېټه په لسو بجو د داراګاميلوفسکي په سيمه کې يوازې د شا ډلې د استراحت په حال کې وې، د پوځ نورې ټولې ډلې د مسکو له سيند نه اوښتې او د دې ښار بلې څنډې ته رسېدلې وې. کټ مټ په همدې وخت کې يعنې د سپتمبر په لسمه د سهار په لسو بجو ناپليون د پاکلونيا د غونډۍ پر سر د خپل پوځ په منځ کې ولاړ او خپلې مخې ته د پراته ښکلي پرانستي منظر ننداره کوله. د اګست له ۲۲ مې نه د سپتمبر تر ۲ مې پورې آن د بارادنيو د جګړې له پيله تر هغه وخته پورې چې دښمن مسکو ته رانئوت، په ټولو دغو له ګڼېيو نه ډکو ورځو او نه هېرېدونکې اونۍ کې، داسې ښکلې غير معمولي هوا وه چې هر څوک ورته حيران پاتې کېده. لمرد پسرلي تر لمره کوز او تود و، هر څه په پاکه هوا کې داسې ځلېدل چې سترګې يې سوځولې، ګوګل د مني پاکه هوا وبستله او له دې کبله انسان د خوښۍ او توان احساس کاوه، آن د شپې له خوا هم هوا توده وه، او پرله پسې په تورو تيارو شپو کې له آسمان نه زرين ستوري راوريدل. د سپتمبر د دويمې نېټې د سهار پر لسو بجو همداسې هوا وه. د سهار ځلا کوډې کولې. د پاکلونيا د غونډيو نه به دې چې ښکته کتل، مسکو له خپل سين، باغونو او کليساوو سره لمن غوړولې وه او داسې برېښېده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ورځني ژوند کې ژوند کوي. د کليساوو ګنبدې يې د لمر تر شغلو لاندې داسې ځلېدې لکه ژوندي ژوي.

ناپليون د دغه غير معمولي ښار د هغه د ناليدونکو غير معمولي زړه راښکوونکې ودانيو په ليدو ، په زړه کې رخه او يوه ناآرامه تلوسه احساس کړه. دا هغه احساس او تلوسه وه چې خلک يې د ژوندېو ناپېژندل شويو شيانو ، په ليدو چې خپل ليدونکو ته هېڅ پام نه کوي په زړه کې احساسوي. داسې برېښېده چې ښار په خپل ټول قوت سره خپل ژوند ته دوام ورکوي. ناپليون د هغو نه بيانېدونکو نښو له مخې چې آن له لرې يې کولې شو ژوندي له مړو توپير کړي، د هماغې پاکلونيا له غونډۍ نه د دغه ښار د ژوند تلوسه ليدله او داسې برېښېده چې د دغه ستر او ښکلي ژوندي بدن ساه و بستل احساسوي.

روسانو د مسکو په ليدو هلته خپله مور ليدله، خو پردي چې له مورنۍ عاطفي نه بې خبره وو ، په هغه کې يوازې د ښځتوب ځانګړتياوې موندلې. او ناپليون هم يوازې همدا ځانګړتيا په کې ليدله.

ناپليون وويل:

-دا آسيايي ښار سره له خپلو بې شمېرو کليساوو سره، مسکو سپېڅلی مسکو ! هغه دی ! هغه ! بالاخره هغه پېژندل شوی ښار. نور نو راورسېد !

هغه له آسه راکوز شو او سپارښتنه يې وکړه چې د دغه ښار ، د مسکو نقشه د ده تر مخې وغوړوي. هغه خپل ژباړونکی ليلورګين دليد يفيلی، ځانته راوباله. هغه په زړه کې وويل:

-هغه ښار چې د دښمن لاس ته ورولېږي، هغې نجلۍ ته ورته دی چې پېغلتوب يې بايللي وي. (هغه دغه خبره په سمولينسک کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توچکوف ته هم کړې وه ) او اوس یې دده په وړاندې د پراته، نالیدونکي ښکلي ختیځ شمایل ته هم په دې سترګه کتل. هغه ته د نه منلو وړ وه چې بالاخره دده خورا پخوانی او لاس ته نه راتلونکی ارمان تر سره شوی و. پر سهارنۍ صافې او سپېڅلې هوا کې یې کله ښار او کله نقشې ته کتل. ددې ښار ټولې خواوې، لاندې باندې یې ښارل، ددغه ښار پر لاندې کولو یې باور نه راته او له دې کبله یې وحشت کاوه.
هغه له ځانسره وویل:

- خو آیا پرته له دې بل ډول هم کېدای شو؟ هغه ده، دغه پلازمېنه، دا دی زما تر ګامونو لاندې خپل برخلیک ته سترګې په لاره ده. چېرې دی اوس الکساندر؟ چېرې دی او څه فکر کوي؟ دغه عجیب، ښکلی او پرتمین ښار ! هغه اوس په دې شېبه کې هم عجیب او پرتمین دی. هغه ته خپل پوځیان او سرتېري وریاد شول او وې ویل:

- اوس به،زه هغو ته څنګه خیال ته ورځم؟

هغه خپلو هغو سرتېرو نه چې رانېږدې شوي وو، هغوته چې رارسېدونکي وو، هغو ته چې کتارونه یې جوړول ،ټولو ته کتل او له ځانسره یې ویل:

-هغه ده،ددغو ټولو سست ایمانو لپاره ډالۍ ! زما یوه خبره او زما د لاس یو خوځېدا ددې لپاره بس دی چې د ښارانو(شاهانو ) دغه لرغونې پلازمېنه تالا والا شي،خو زما د بښنې او رحم ښاپیرۍ په خورا چټکۍ پر پرزیدلو نازلېږي. زه باید با رحمه او په رښتیا لوړ او ستر واوسم. ناڅاپه یې په خیال کې تېر شول چې:

-نه، نه، دا رښتیا نه ده، دا زه په مسکو کې یم؟ مګر هغه ده، مسکو زما تر پښو لاندې پروت دی. مسکو له خپلو زرینو ګنبدو او د هغو له صلیبونو سره د لمر تر شغلو لاندې راپرزېږي او رېږدي،خو نه، زه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلې مهربانۍ او زړه سوي نه، نه بې برخې کوم، د ظلمت، بربریت او وحشت په یادګارونو به د عدالت او ښېښنې رانه تورې انځور کړم. الکساندر له ټولو په زوریدلي احساس ما احساسوي او پوهېږي زه هغه پېژنم، هغه مې په خبره پوهېږي (ناپلیون داسې انګېرله چې د دغو پېښو تر ټولو نه غوره اغېز له الکساندر سره دده په سیالۍ کې ده) د کرملین له څوکو، هو، د دغه کرملین، هو کې د دغه کرملین له څوکو به زه د عدالت قوانین نافذ کړم، زه به هغوی ته د رښتیني تمدن معنا وښیم. زه به د روس سپېڅلي نسل دې ته اړ کړم چې د خپل فاتح او ایلوونکي نوم په درناوی او مینې سره په یاد ولري. د خلکو استازو ته به ووایم چې ما جګړه نه غوښته او نه یې غواړم. زه به هغوی ته ووایم چې ما یوازې د هغوی د دربار له رښتیا او حقیقت نه لرې سیاست سره جګړه پیل کړې ده، زه به هغو ته ووایم چې الکساندر ما ته ګران دی او درناوی یې کوم. زه به په مسکو کې داسې سوله ټینګه کړم چې زما او زما د خلکو وړ وي. زه نه غواړم د جګړې نیکمرغي، د درناوي وړ ټولواک د سپکاوي لپاره وکاروم. زه به ووایم چې د روس نومیالیو ! زه د جګړې غوښتونکی نه یم، زه د خپل ټول رعیت لپاره سوله او نیکمرغي غواړم. تر دې سر بېره د هغوی شته والی به ما لا پسې لېواله کړي او زه به له هغوی سره لکه هغه شان چې زما دود دی، په ډاګه، په پرتم او په لوړتیا وغږېږم، خو آیا دا رښتیا دی چې ما مسکو لاندې کړی او زه په مسکو کې یم؟ هو کې، هغه دی. هغه دی مسکو !

هغه خپلو یاورانو ته مخ وروااړاوه او وې ویل:

-لاړ شئ او د مسکو مخور راولئ.

جنرال له یوې ډلې غوره افسرانو سره د مسکو د مخورو د راوستلو لپاره لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ساعته تېر شول. ناپلیون سهارنۍ وخوړه، بېرته خپل پخواني ځای د پاکلونایا غونډۍ ته راستون شو او د مسکو مخورو ته سترګه په لاره پاتې شو. د مسکو مخورو ته یې خپله وینا په خیال کې جوړوله. دغه وینا د هغه پرتم او ځانستاینې انځور وه چې ناپلیون احساسوله. هغه مېړنې بڼه چې ده یې په مسکو کې د ځان لپاره د سرته رسولو تکل کړی و، په خپله دی په ځان مین کړی و. هغه په خیال کې هغه ورځ ټاکلې وه چې د روس د ټولواک په ماڼۍ کې به د روسي مخورو او نومیالي د فرانسې د امپراطورۍ له مخورو سره ګوري. په خپل ذهن کې یې مسکو ته داسې یو والي وټاکه چې خلک پرې راټول شي. کله چې پوه شو چې په مسکو کې خورا ډېرې خیریه موسسې د خلکو په چوپړ کې دي، هغه په تصور کې دا پریکړه وکړه دغه ټولې ټولنې به په بې سارو مرستو سره له ځانسره ملګرتیا ته وهڅوي. هغه تصور کاوه هماغه شان چې ده په افریقا کې اوږد کمیس اغوستی او جومات ته تللی و، په مسکو کې هم باید د ځار په شان سخاوت وبښي. ددې لپاره چې په بشپړه توګه د هر روس زړه ته لاره پیدا کړي، د ټولو فرانسویانو په څېر چې نه شي کولای هېڅ ښکلی احساس زما د ګرانې، مهربانې او خوارې مور له یادونې پرته تصور کړي. پریکړه یې وکړه چې امر وکړي ددغو ټولو خیریه ټولنو د دروازو پر سر په زرینو تورو ولیکي:

-زما د ګرانې مهربانې مور په ویاړ ! زما د مور خونه ! د هغه په خیال کې همداسې ګرځېده:

-آیا په رښتیا زه په مسکو کې یم؟ هو ! هغه دی، مسکو زما تر مخې دی، خو دغو د خلکو مخورو استازو او نومیالو ولې دومره ځنډ وکړ؟ ولې رانغلل؟

خو په همدې لړ کې دده د پوځ جنرالانو او مارشالانو په ګونګسې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټه پټه دا خوا هغه خوا مشورې رواني کړې وې. د مسکو مخورو پسې لېږل شوي استازي راستانه شول او خبر يې راوړ چې له مسکوه ټول خلک او په تيره بيا مخور وتلي او دغه ښار تش شوی دی. د جرګمارو رنګونه الوتي او ګڼې اخېستي وو. د هغو ډار نه له دې کبله چې د مسکو او سپېدونکو ښار پرېښی (که څه هم دا خبره ډېره زورونکې وه) بلکې دوی له دې ډېر ډاريده چې معظم ټولواک ته دغه خبر څنګه ووايي. په څه ډول پرته له هغه چې د ستر ټولواک خاطر له هغه وحشت سره مخامخ کړي، چې فرانسويان يې د ملنډو وړ بولي او هغه ته ووايي چې هسې دومره ډېر ځنډ د مسکو مخورو ته سترګه په لاره پاتې شوی دی. هغه ته څنګه خبر ورکړي چې په مسکو کې له يو څو ډلو نشيانو نه پرته بل هېڅوک پاتې نه دي. يوې ډلې به ويل هر څنګه چې کېږي په کوم ډول نه کوم ډول، څو تنه د مسکو د مخورو د استازو په نامه ټولواک ته راټول کړي، بلې ډلې به بيا ويل چې نه، ښه به دا وي چې ټولواک په خورا احتياط د رښتيا اوريدو ته چمتو شي. دغه ځانګړی حالت له دې کبله کړکيچن و چې ټولواک د خپلو سترو تګلارو د څېړلو په لړ کې، د خپلې کېږدۍ په وړاندې ګرځېده راګرځېده، کله به يې لاس لمر ته سايوان کړ، مسکو ته تلونکي واټ ته به يې وکتل او د کبر موسکا به يې پر شونډو خوره شوه.

دله هغه سره مل مشاورينو اوږې پورته واچولې، هغوی چې نه شو کولای څه سپکه سپوره خبره وکړي، يوازې دا يې ويل:

-د شرم خبره ده، دا ناشونې ده، څنګه دا سې شول؟

په دې وخت کې ټولواک له ځنډنۍ انتظار او چوپتيا نه ستومانه شو او د خپل احساس له احساسه يې داسې انګېرله چې د دغې پرتمينې شېبې رارسېدل، دومره ځنډنۍ شوې، چې کرار کرار خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرتم له لاسه ورکوي، نو ځکه يې لاس وښوراوه. د توپ د ډزيو غږ واوريدل شو. دغه ډزې د خوځېدو نښه وه. فرانسوي پوځ چې مسکو له درې خواوو کلابند کړی و، د مسکو پلو وخوځېد. دغه پوځ د توريسکايا، کالوژسکايا او دروګاميلوسکايا د دروازو له لارو، مسکو ته ورننوت. د سورو او پلو ډلو يو بل نه دوړاندې تګ سياالي کوله، ژر ژر يو له بل نه مخ ته کېدل، هغه دوړې چې د دوی له خوا ځېدا نه پورته کېدې، فضا تته کړې او د دوی شروشور او چغو، غوږونه کڼول.

ناپليون له خپلو مشاورينو سره چې د پوځ خوځېدا او پرمختګ لېواله کړی و، له هغو سره د دروګاميلوسکايا تر تم ځايه پورې وړاندې لاړ. هلته بيا ودريد، له آسه راکوز شو. تر ډېرو پورې د کامرکلوژسکي په نرۍ کوځې کې ګرځېده راګرځېده او د مسکو د مخورو راتګ ته يې شېبې شمېرلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۰

خو مسکو تش و، په دې ښار کې لا د پخوانیو اوسېدونکو پنځوسمه برخه خلک پاتې وو، هغه تش و، د انګبینو د هغه کندو په شان تش و چې ملکه یې ترې کډه شوې وي او کرار کرار لا پسې تشېږي.

بې ملکې کندو، د ژوند له نښو بې برخې وي، که څه هم په لومړي نظر دغه کندو، د نورو کندوانو په څېر له ژونده ډک برېښي، خو بیا هم هغه له ژونده تش وي. د شاتو مچۍ د غرمې د لمر تر زرینو او تودو شغلو لاندې د بې ملکې، کندو په شاوخوا کې د هماغه ژوندیو کندوانو د مچیو په شان، په هماغه شرو شرنګ الوزي را الوزي. له هغه نه هماغه شان د شاتو د خوند بوی راځي او هماغه شان مچۍ په کې وزي، ننوزي، خو د ډاډ لپاره باید په ځیر دغه کندو ته وکتل شي چې پوه شو چې په دغه کندو کې نور نو ژوند نه شته. د دغه کندو ژوند یو کندو ته ورته نه دی، د دې کندو د مچیو الوتل، د نورو کندوانو د مچیو الوتو ته ورته نه دی، نه یې د شاتو بوی هسې دی او نه یې د مچیو شروشور هغه ته ورته وي. پر دغه کندو کې د مچیو خاوند د پخوا په شان د خواخوږي او د ډله ایز غږ پر ځای، د لسګونو زرو مچیو د آوازو پر ځای او د دې پر ځای چې خپلې لکۍ یې په ګوابښمنه توګه پر ځان خښولې، وزرونه یې رپول او د ژوند له ولولو ډک غږونه یې جوړول. د دې ټولو پر ځای د کندو د بیلابیلو ځایونو نه سارړه او بې خونده آوازونه اوریدل کېږي. د کندو د وتلو او الوتو له دریچې نه، نور د پخوا په شان مستونکی او پالونکی بوی چې لږ په زهرو هم لړلی وي، نه اوریدل کېږي. نور نو له خونده ډک بوی له هغه نه راځي بلکې د داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګبينو بوی ترې راځي چې ورستېدو ته نېږدې شوی وي. د دريڅې په شاوخوا کې نور سرښندونکي ساتونکي چې لکۍ يې ځېږي کړي وي او د چغو غږونکو استازو په څېر د خوښۍ چغې پورته کوي، نه ليدل کېږي. ..

دلته غلې تور اندامې مچۍ د کندو د تالانولو لپاره پټې پټې راځي او په شاتو کې په لړو شوي ځان په چټکۍ بېرته له هغه ځايه راوزي. هغوی نور چيچل نه کوي، هغوی خپله له ګوابنه تښتي. پخوا به مچۍ له شاتو ډکې درنې درنې کندو ته راتلې او د بار له ښکته کېدو نه وروسته به تشې بېرته وتلې. اوس خالي راځي او له انګبينو ډکې بېرته وزي. د مچيو خاوند د کندو سر خلاصوي، د هغه لاندنۍ برخې ته ورګوري، توري له شاتو ډکې مچۍ چې د هڅوله شوقه به مستې وې او يو له بل به سره تښتېدلې او لکه کړۍ به سره ځړوندې وې او تل به يې په بنګېدو بنګېدو کې دزبېښلو په شان له ځانه انګبين نښتيځل، خو اوس د هغو مچيو پر ځای ستومانه له ژوند پاتې او خوبولي کارګران ليدل کېږي چې د کندو په غولي هرې خواته بې هدفه روان دي او لکه د مستو نشه يي سرسامو په څېر د کندو له يوه ديواله په بل او له بله په بل لګېږي.

د کندو غولی چې يو وخت په خورا ځير او ښکلا ،د مچيو له خوا ګانډل شوی او دهغو په وزرونو به جارو شوي و او د موم شويو او بويناکو شاتو ،هغه سريښناک شات چې نيم ځانه مچيی ،هغه د مرګ په حال مچۍ چې په خورا ستونزو لاس او پښې وهي او هغه مړې مچې يې چې اوس يې څوک خيال نه ساتي هلته پرې پرتې دي. ..

مچۍ پالونکی د کندو لوړ پوړ ،پورته کوي او د هغه ښکتنۍ برخه ګوري، خو د مچيو د کتارونو پر ځای، چې د شاتو د ږمنځو واټنونه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هګيو د تودولو لپاره ډکول او س د ښه کار او استادۍ په لاس جوړې شوې ږمنځې ويني، نور هغه د پېغلتوب ډوله پخوانى سپېڅلتيا کومه ننښه نه ليدل کېږي، هر څه ګډوډ او لړلي دي. تالانګرې غلې مچۍ بې شروشوره په چټکۍ هر پلو الوزي، خپل تالان کوي خو کوربني وچې ډنګرې بې حسه او بې حاله لکه د زړو او عمر وهلو په شان متې متې خوځېږي، نه چاته ګوابښ پېښوي او نه له چا نه هيله کوي، د مرګ په سرسامۍ کې شپې ورځې تېروي. ډولاډول مچۍ سرې، تورې وړې او غټې په ناخونده او ګډوډو الوتو کې د کندو په ديوالونو لګېږي، کله ناکله خو له دې يا له هغې خوا نه د شاتو له ږمنځو، او يا نويو زوکړ، خو مړو شويو مچيو له مينځه کوم قهرجن آواز راپورته کېږي. يو څېړې خو دوه کارګرۍ مچۍ د پخوانيو يادونو په ياد کندو پاکوي او په ټول قوت سره د مړو شويو مچيو مړي د باندې باسي، هغوی دا کار کوي، خو په دې نه پوهېږي چې دا ټولې هلې ځلې د څه لپاره دي. د کندو په بلې خوا کې دوه زړې مچۍ په خورا تربګنۍ يا يو بل سره وهي يا يو بل پاکوي او يا ډوډۍ خوري، خو په دې نه پوهېږي چې دا کار له خواخوږۍ کوي او يا له تربګنۍ. او د کندو په بله خوا کې دربيمه ډله پر يو بل واړونه کوي او بيا ټول په ګډه يوه بله بدمرغه تر مرګه وهي، هغه خپه کوي او دغه د مرګ په حال کې مچۍ لکه کراره الوتونکې ښاپيرۍ د نورو مړو په سر رالوېږي. د مچيو خاوند دوه منځنۍ ږمنځې لرې کوي. چې د کندو يا ځالې منځ وګوري، د پخوانيو زرګونو مچيو پر ځای چې پخواپې يوې سترې تورې کړۍ ديوه رازمن او ستر ارمان لپاره کار او څارنه کوله، څوسوه غمړلې او خواشينۍ مچې ويني. هغوی ټولې پرته له هغه چې خپله پوه شي، وږې شوي دي. هغوی د خپلې سپېڅلې خزانې د ساتنې په لاره کې ژوند بايللی او نور خزانه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار نه ده. له هغوی نه د مرګ او خوساوالي بوی لګېږي. د هغو ځو دانې خوځېږي، پاځېږي، الوزي د دښمن په لاسو نه کيني او پرته له هغه چې د مرګ توان ولري، نښښونه وهي. نورې ټولې مړې شوې دي او لکه د کبانو د پوټکي په شان سولېږي او تويږي. د مچيو خاوند د کندو سر ترې د غه کندو د ګچ په انځور سره ددې لپاره په ښه کوي چې وروسته يې مات کړي.

کله چې ناپليون سترې ستومانه ناآرامه وړاندې وروسته د کامروکالوژسکي په کوڅه کې ګرځېده او د مسکو مخورو ته سترګې په لاره و او لږ تر لږه د ورځني درناوي له مخې بايد هغوی دده هرکلي ته راوتلي وای. مسکو تش تش و.

د مسکو په بېلابېلو څنډو کې يوازې هغه خلک چې هسې يې موخه او د ورځني عادت له مخې چکرې وهلې، ګرځېدل را ګرځېدل. لا تر اوسه هم په ښار کې ګڼه ګونه جوړه کړې وه.

کله چې يې په ډېر احتياط ناپليون ته خبر ورکړ چې مسکو له خلکو تش شوی دی، هغه په تند غلچک خبر لوخ ته وکتل، بيا يې له هغه مخ واړاوه او په پټه خوله يې ګرځېدو ته دوام ورکړ او وې ويل:

-ګاډی مې راولئ.

هغه په ګاډي کې د خپل نوکريوال ياور تر څنګ کېناست او د لومړې کرښې پلو وخوځېد او له ځانسره يې ويل:

-مسکو تش شوی دی، د نه منلو وړ خبره ده.

هغه ښار ته نه لاړ او دروګوميلوفسکي د تم ځای په يوه مېلمستون کې پاتې شو.

هغه تياتري ننداره چې هغه جوړل غوښتل ،جوړه نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

روسي پوځ د شپې له دوو بجو نه د ورځې تر دوو بجو پورې له مسکو نه تېر او له ښار يې وروستي تلونکي او سېدونکي او ټپيان هم له ځانسره واخېستل.

د پوځ د تېرېدو په وخت کې د خلکو تر ټولو زياته ګڼه ګوڼه د کامن مسکوا ريځکي او يوزوفسکي د پلونو پر سر وه.

کله چې پوځ له کرملين نه د راتاويدو لپاره دوه ډلې شو، ډېرو سرتېرو د مسکوا ريځکي او کامني پر پلونو ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه، يو زيات شمېر سرتېرو له تمېدو او ګڼه ګوڼې نه ګټه واخېسته، په کرار او په پټه د واسيلي بلژانسکوا او باراويځکي د دروازې له لارې پورته غونډيو ته وروختل، ځان يې سره ميدان ته ورساوه او هلته يې دوی داسې وانګېرله او ځانته يې اجازه ورکړه، چې هر پردی شی چې پر مخه ورځي، اخېستی يې شي. د خلکو داسې ډلې او ګڼې ګوڼې لکه د بازار د ورځو په شان د ګاستني دفور(د مېلمستونو مانۍ) ټول دالانونه او لارې ډکې کړې وې. ،خو نه د پلورو نکو د غولوونکو آوازو شروشور، نه د ګرځندو سوالګرو غږ او نه د ښځو بېلابېلې ډلې، يو هم نه ليدل کېدل. يوازې بې وسلې دريشي لرونکي سرتېري چې پوځي کوټونه يې پرغاړه وو، تش لاس راننوتل او له درنو پېټيو سره وتل.

دوکانداران او د هغوی شاګردان (شمېر يې هومره زيات نه و) هک حيران پاتې او د سرتېرو او پوځيانو په ګڼه ګوڼه کې ګرځېدل، کله به يې دوکانونه تړل او کله به يې هغه ددې لپاره خلاصول چې له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاګردانو سره خپل کالي او سودا کوم خوندي ځای ته ورسوي. د ګستیني دفور (د مسکو لوی بازار) په لوی ډګر کې سازیانو ډولونه غږول، خو د ډول غږ د دود برخلاف سرتېري، په تېره بیا تالانګر هغه د پخوا په شان نه د ساز او په کتار کې درېدو ته، بلکې له هغه ځایه لرې کېدو ته هڅول. په دوکانونو او د بازار په دالانونو کې د سرتېرو په منځ کې ځېنې کلیوال چې خړ کالي یې اغوستي او سرونه یې خریلي و، هم لیدل کېدل. دوه تنه افسر چې دیوه یې د غاړې دستمال پر اوږه او تېتر پروت و، پر خړ ډنګر آس سپور و او بل یې کوټ اغوستی، خو پلی و، د ایلینکا د واټ څنډې ته ولاړل او سره غږېدل. درېیم افسر هغو ته په ځغاسته راغی او ورته وې ویل:

-جنرال امر وکړ چې هر څنګه کېږي، باید ټول سمدلاسه له بازاره ووېستل شي. دا څه حال دی؟ دا کړه، د چا کړو ته ورته دي، نیمایي سرتېري تښتېدلي دي.

هغه، پر هغو درې بې وسلو سرتېرو چې د کوټونو لمنې یې په منګلو کې رانیولې وې، او په چټکۍ د هغو له څنګه د بازار دالان ته ورننوتل غږ وکړ:

-چېرې روان یاستئ؟ تاسو ته وایم چېرې؟

بل افسر ځواب ورکړ:

-هو کې، اجازه راکړئ هغوی سره راټول کړو، دا د راټولیدو نه دي، ژر تر ژره باید لاړ شو، ټولی وتښتېدل، چې دا نورې یې هم ونه تښتي.

-څنګه لاړ شو؟ د پله پر سر لاره بنده شوې ده، څوک مخکې تلای نه شي. څه وکړو؟ اوس څځیر ترې کړی کړو، چې ونه تښتي.

مشر افسر غږ وکړ:

-هلته ورشئ ! ټول ،له هغه ځایه، له بازاره وباسئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه افسر چې د غاړې دستمال يې پر اوږې او ټټر غوړولی و، له آسه راکوز شو، ډولچي ته يې ورغږ کړ او له هغه سره يو ځای د بازار د لويې دروازې خوا ته ورغی. يو شمېر سرتېري په ډله ايزه توګه وتښتېدل. يو سوداګر چې د پزې ځنګ ته يې پر مخ سره بخارونه راوتلي وو، د هغه له مړې څېرې نه آرامي او تکل کېده کړې وه، د ځانښودنې لپاره يې تند تند لاسونه ښوروهل، افسر ته ورنږدې شو او وې ويل:

-جلالتمابه! پر موږ رحم وکړئ، موږ وساتئ. زموږ په دوکان کې څه نه شته، خو هر څه چې شته، هغه له تاسو نه ځار. که غواړئ تاسو عاليجناب ته به همدا اوس، وريښميني جامې راوړم، موږ په حق او حق پالنه پوهېږو، خو هغه څه چې دوی کوي، دا خو غلا ده، تالان دی. مهرباني وکړئ موږ له دغو وساتي، لږ تر لږه دومره وخت راکړئ چې دوکانونه وتړلای شو.

څو تنه سوداګر پر دغه افسر راټول شوي وو.

د هغو له ډلې نه يو تن چې ډنګر و او قهر يې له څېرې وريده، وويل:

- بس کړه، اپلتې مه غږوه، سر يې ور پرې کړه او ته د وينښتو غم کوې. پرېږده هر څوک چې هر څه وړي شي، وړي دې. هغه په ډېر قوت لاس وخوځاوه او له افسر نه يې مخ واړاوه.

لومړی سوداګر په خواشينۍ وويل:

-ايوان سېدوريوويچ! تا ته هسې خبرې آسانې دي، تاسو جلالتمابه مهرباني وکړئ!

ډنګر سړي چغه کړل:

- کومې خبرې آسانې دي؟ د څه شي خبرې؟ زما په درې دوکانونو کې د سلو زرو روبلونو مال پروت دي، که پوځونه لاړ شي، بيا دا ساتلی شئ؟ هی هی، څه خلک يو؟ دا به د خدای اراده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي سوداګر په درناوي وويل:

-مهرباني وکړئ، جلالتمابه!

افسر هک پک ولاړ و، په څېره کې يې د شک او ترديد حالت ځرګند و، خو ناڅاپه يې چغه کړل:

-زما يې څه؟ او په چټکو ګامونو د دوکانو د کتار خوا ته وړاندې روان شو.

د يوه خلاص دوکان نه د وهلو او ښکنځلو غږونه اوريدل کېدل، کله چې افسر د هغه مخې ته وررورسېد يو سړي چې خړ کليوال کالي يې اغوستي او سر يې خريلی و، له هغه نه د باندې راودانګل، سر يې ټيټ او ځان يې خم خم کړ، د سوداګرو او افسر له څنګه تېر شو. افسر هغو سرتېرو ته چې په دوکان کې و، ورودانګل، خو په دې وخت کې د مسکو اريڅکي د پله له خوا د بې پايه ډلې د شروشور يو وحشتناک غږ واوريدل شو او افسر په چټکۍ څلور لارې ته راستون شو. هغه پر له پسې په لوړ آواز وپوښتل:

-څه شوي دي؟ څه خبره ده؟ خو د هغه ملګری د واسيلي بلاژنسکي د کليسا له څنګه هغه پلو ته چې چغې ترې راتلې ځغاستل. افسر پر آس سپور شو او هغه پسې وروخوځېد. پل ته چې وررورسېد، وې ليدل چې دوه توپونه له توپ کشونو نه جلا شوي وو. سرتېري پلې پر پله روان او ځو کراچۍ او ښتې پرتې وې. څو تنه يې وليدل چې ګېڼې اخېستي او ورخطا وو، خو څو تنو سرتېرو په کړس کړس خندل. د توپونو تر څنګ يوه ګاډۍ ولاړه وه. دوه آسونه پورې تړلي وو، د ګاډۍ ارابو پورې څلور پټاره لرونکي آسونه هم تړلي وو. پر کراچۍ ډېر شيان بار وو، د بار پر سر د ماشومانو د څوکۍ څنګ ته چې پښې يې پورته وې، يوه ښځه ناسته وه. هغې له خواشينۍ او ناهيلۍ نه زګيروی کاوه. افسر ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ملګرو افسرانو وویل چې د خلکو د چغو او د دغې ښځې د زګیروی علت دا دی چې جنرال یورمولوف د غه ګڼه ګوڼې ته په رسېدو سره پوه شو چې سرتېري په بازار کې خواره شوي، تالان یې ګډ کړی دی، نو ځکه خلکو د ښار پر پله پاټک اچولی او هغه یې تړلی دی. نو له دې امله هغه سپارښتنه کړې ده چې توپونه راخلاص کړي او داسې ځرګندونه کړي چې غواړي پر پله ډزې وکړي، د خلکو دګڼه ګوڼې له ډاره، کراچۍ او ګاډۍ اړوي، یو بل سره ناندرۍ کوي او وهي، له ناهیلۍ نه یې چغې سورې ګډې کړې، د پله لاره یې آزاده کړې او سرتېري بریالي شوي دي چې خپل پرمختګ پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲

په دې وخت کې ښار چور تش و، په کوڅو کې هېڅ څوک نه لیدل کېدل،د دوکانونو او کورونو دروازې تړلي وې، یو نیم ځای په یو نیم سماوار(کافی) کې یو نیم غږ یا د مستانو له مستۍ نه پوهېدونکې سندرې اورېدل کېدې. په واټونو کې هېڅ ګاډۍ یا کراچۍ نه لیدل کېده، خو کله ناکله به د کوم پلي د ګامونو غږ واورېدل شو. د پاورسکایا کوڅه چور تشه او چوپه چوپتیا په کې خوره وه. د رستوف د کور د سترې ماڼۍ په انګړ کې، د ګاډیو او کراچیو آسونو واښه او خوشایي پاتې وو، خو هېڅ څوک هلته نه لیدل کېدل. له رستوفیانو نه د پاتې شوي کور په مېلمستون کې دوه تنه لیدل کېدل، یو ایګنات، چې څوکېدار و او بل د واسیلي لمسی میشکا چې په مسکو کې له خپل نیکه سره پاتې شوی و. میشکا د پیانو دړه پورته کړې وه او په یوې ګوتې یې غږوله. ساتونکي څوکېدار لاسونه تر ملا نیولي وو، د هینداري تر وړاندې ولاړ و او په خوښۍ خوښۍ موسېده.

هلک ناڅاپه په دوو لاسو د پیانو په ډهلو پیل وکړ او وې ویل:

-ګوره! کاکا ایګنات، څومره ښه پیانو وهم.

ایګنات له دې چې خپله څېره یې په هینداره کې لیده،لا پسې خوښېده،موسېده، هغه ته په تعجب ځواب ورکړ:

-راته ګوره! راته ګوره!

ماوراکوزمینیشنا چې په کراره کورته راننوتې وه، د هغو له شانه په ټیټ آواز پرې غږ وکړ:

-بې وجدانو، رښتیا وایم بې وجدانو! ته یې اوربوز ته ګوره، خولۍ ته یې ګوره! دی څنګه خاندي، یوازې همدې کارونو ته خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړي یاست. هلته هر څه ګډوډ پراته دي، واسیلي له پښو ولوید، اوس به زه د رسره ګورم !

ایګنات مړاوستی(کمربند ) ټینګ کړ، موسکا یې له شونډو وتښتېده، سر یې په اطاعت ښکته واچاوه، له کوټې ووت، زلمي وویل:

- تروري !زه به پیانو وهم.

ماورا کوزمینیشنا پر هغه لاس پورته او چغه کړل:

-زه به اوس نه پیانو وهل د روښېیم، ځه، پاڅېږه بابا ته دې سماوار ولګوه.

ماوراکوزمینیشنا له پیانو نه دوړې پاکې کړې، هغه یې وتړله، یو سوړ آسویلی ووېست له مېلمستون نه ووته او دروازه یې پورې کړه.

انګړ ته چې ووته په دې فکر کې شوه چې اوس څه وکړي، له وآسیلېوویچ سره د ځنګ په مانۍ کې چای وڅکي او یا انبار ته لاړه شي او هلته ګډوډ پراته شیان سره ټول کړي.

د آرامې کوڅې نه د چټکو ګامونو غږ واورېدل شو، دغه ګامونه له کوره د چاپېرې وسپنیزې کټارې دروازې ته ورسېدل، ودرېدل، د لاسونو د هغو هڅو غږ تر غوږه شو، چې د دروازې د خلاصول تکل یې درلود.

ماوراکوزمینیشنا د کټارې دروازې ته ورنېږدې شوه او وې پوښتل:

-څوک مو په کار دي؟

-ګراف، ګراف الیه اندریوویچ رستوف.

-تاسو څوک یاستئ؟

یو روسي بادار وزمي خوارېه غږ وویل:

-زه افسر یم، باید هغه ووینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماوراکوزمینیشنا د کتارې دروازه خلاصه کړه او یو اتلس کلن افسر چې ګرده بشره یې رستوفیانو ته ورته وه، انګړ ته راننوت.

ماوراکوزمینیشنا په مهربانۍ وویل:

-هغوی لاړل پلار جانه ! پرون ماښام یې کډه بار کړه او لاړل.

ځوان افسر د وسپنیزې دروازې مخې ته ودرید، زړه نازړه شو چې راننوزي یا رانه ننوزي، وبنګېده او وې ویل:

-وي دې، افسوس دی، کاشکې پرون راغلی وای، بد کار و شو.

ماوراکوزمینیشنا په دې لړ کې خورا ځیر او خواخوږی د دغه ځوان څېرې ته چې دې ته یې د رستوفیانو د آشنا څېرې څرګندوله کوله، کتل او د هغه څېرې کوټ او شلیدلي موزې یې څارلې، هغې وپوښتل:

-له ګراف سره مو څه کار و؟

افسر دروازې ته د اسې لاس وروړ، چې ګواکې غواړي لاړ شي او په خواشینۍ یې وویل:

-افسوس دی، نه پوهېږم څه وکړم.

بیا زړه نازړه شو، خو ناڅاپه یې وویل:

-پوهېږئ زه د هغو خپلوان یم، هغه تل له ما سره ډېره خواخوږي کوله، خو اوس ګورئ چې (هغه په موسکا او مهربانۍ خپل شلیدلی کوټ او موزې ته کتل) کالي مې شلیدلي، پیسې هم نه لرم، ما غوښتل چې له ګرافه..

ماوراکوزمینیشنا د هغه خبره پرېکړه او وې ویل:

-یوه دقیقه به مو صبر کړی وای پلار جانه ! یوازې یوه دقیقه !

همدا چې افسر لاس له دروازې پورته کړ، ماوراکوزمینیشنا راستنه او په چټکو ګامونو، د شا انګړ ته خپل کورته لاړه. کله چې ماوراکوزمینیشنا خپل کورپلو روانه وه، افسر سربښکته اچولی، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیر او موسکا یې خپلو شلیدلو موزو ته کتل، په انګړ کې یې قدم واهه او په زړه کې یې ویل:

-ډېره بده شوه او افسوس دی چې له کاکاجان سره مې دیدن ونه شو، خو خیر، ډېره مهربانه بوډۍ ده. خو دا مهربانه بوډۍ اوس چېرې لاړه؟ خیر، خو نه پوهېږم. د کومو کوڅو له لارو به زه ژر خپل غونډ ته ورسېږم. اوس به غونډ روګوژسکایا ته رسېدلی وي. ماوراکوزمینیشنا له ډاره په ډکې خو زغردې څېرې چې یو چارخانه مروړل شوی دستمال یې په لاس کې له ګرځنې بېرته راتاو شوه. لا څو ګامه افسر ته پاتې و چې د دستمال غوټه یې خلاصه کړه یو سپین پنځه ویشت روبلی لوټ یې ترې راوویست او په چټکۍ یې افسر ته ورکړ.

-که جلالتماب خپله په کور کې وای، دا ښکاره ده چې هغه به هرومرو د خپلوان په توګه کولای شول.. خو خیر سمدلاسه خو همدغه...

ماوراکوزمینیشنا شرمېده او ګېنۍ اخېستې وه، خو افسر هېڅ نه او نو ونه کړ. پرته له تلوار یې لوټ واخېست او ماوراکوزمینیشنا نه یې مننه وکړه. هغې پر له پسې ښښنه غوښته، عذرا یې کاوه او ویل یې:

-که خپله ګراف په کور کې وای.. حضرت مسیح مو مل شه پلارجانه! خدای دې له بدې ورځې وساته!

هغې په درناوی درناوی افسر بدرګه کړ، افسر موسېده او داسې بربښېده چې خپل ځان او حال پورې خاندي. هغه خپل سر ښوراوه او لاړ، له چوپتیا نه په ډکو کوڅو کې په دې هیله چټک روان و چې د یااوزرسکي له پله سره ځان خپل غونډ ته ورسوي.

ماوراکوزمینیشنا تر ډېرو پورې په لمدو سترګو د تړلې دروازې مخې سره ولاړه پاتې، په فکر کې وه، سر یې ښوراوه او له دغه ناآشنا افسر سره یې غیر منتظره مورنۍ خواخوږۍ او زړه خوږي احساساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

د واورکا د کوڅې تر يوې ودانۍ لاندې چې لا پوره جوړه شوې نه وه، په يوه سماوارکې د مستو نشيانو د مستۍ او سندرو ويلو غږ اوريدل کېده. په يوه هومره نه لويې مرداري کوټې کې د ميزونو شاوخوا کې پر څوکيو تر لسو پورې کارګران ناست وو. هغه ټول مست او نشه وو. بشرې يې له خولو نه لمدې، سترګې خړې خړې، په زور يې خولې ښورولې، په خورا زحمت، بې پروايۍ او بې سُره يې کومه سندره ويله.

هغوی هر يو جلا او د زړه په زور سندرې ويلې، خو هغوی نه ددې لپاره سندرې ويلې چې زړه يې غوښت ،بلکې دوی ددې لپاره سندرې ويلې چې غواړې وښيي چې نشه دي او تفريح کوي. له هغو نه يو لوړ ونی، ژيړ څڼی چې ښکلې شين بخونې ښايسته جامې يې اغوستې وې، پر هغو ولاړ و. که د هغه نازکې سره نښتې پرله پسې خوځېدونکې شونډې او تتې ناځلېدونکې او ناخوځېدونکې سترګې نه وای د هغه څېره به د هغه په دې نرۍ او وتلې پزې سره خورا ښکلې وای. هغه د هغو کسانو پر سر ولاړ و چې سندرې يې ويلې. داسې بربښېده چې په خپلو سپينو لاسونو چې لستوڼي يې تر څنګلو پورې بډ وهلي، خپلې ناولې ګوتې يې په زور سره جلا کړې، په خورا زغرده او لاسې خوځېدا او کږېدو وږېدو ددغو سندرغاړو لارښوونه کوي. دغه لستوڼي پرله پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانښکته کېدل او هغه هر وار او په ډېر ټينګار په خپل کين لاس هغه بېرته بېا وهل، داسې چې ګواکې تصور يې کاوه دده دغه سپين او په هغو کې له ورايه د ليدونکو مراندو او خوځېدونکو لاسونه بربنډ والي ځانګړې ځانګړتيا لري.

سندره لا نيمايي ته رسېدلې نه وه چې د کور د زينو د سر په دالان کې د اخ و ډب او وهلو شروشور واوريدل شو.

لوړ وني ځوان لاسونه وارتيږل او په مشر وزمه بڼه يې چغه کړل:

-هلکانو ناندرۍ بس دي !

هغه چې هماغه شان لستوڼي بېا وهل، د زينو د سر دالان ته ووت، کارګران هم ورپسې وو. دغو کارګرانو چې هغه سهار ددغه ځوان په مشرۍ په هغه سماوار کې مستي او ځکل کول، له فابريکې نه د سماوار د خاوند لپاره يوه تيوته چرم راوړی او د هغه په بدل کې يې ځکل اخېستي و. د سماوار په ګاونډ کې د پښن (آهنګر) په دوکان کې ناستو کارګرانو په دې ګمان چې پر سماوار تالان ګډ شوی، هځه کوله په زور، سماوار ته ورننوزي او دوی هم برخه وکړي.

د سماوار خاوند له پښن سره لاس و ګريوان و، خو همدا چې کارګران له سماوار نه ووتل، پښن ځان له سماوارچي، نه وژغوره، خو پر مخ پر غولي ولويد. يو بل پښن د دروازې پلو ورودانګل، سماوارچي يې راونيو او پر خپل ټټر يې هغه ته ګوزار ورکړ.

لستوڼي بېا وهلي ځوان له سماوار نه د راوتلو په شېبه کې هغه پښن ته چې له دروازې نه يې رادانګلي و، پر مخ څپېړه ورکړه او چغه يې کړل:

-هلکانو زموږ اندېيوالان وهي !

په دې وخت کې لومړي پښن له غولي راپورته شو، خپل ژوبل شوی مخ يې نور هم وشکاره، مخ يې وينې وينې شو او په زړغوني آواز يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغه کړل:

-پيره داره !وي واژه !سړي يې وواژه !ورونو مرسته وکړئ !

يوه ښځه چې له ګاونډي ګرځني نه، راوتلې وه چغې وهلې:

-اې پلارکه !په مرګ يې وهلی، وژلی دی، سړی يې وژلی !

پر وينو لړلی پښن د خلګو ګڼه ګوڼه راجوړه شوه، يو تن ،سماوارچي يې ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

-نه يوازې دا چې په خلکو يې تالان جوړ کړی، اوس آن جامې هم ترې باسي، دا دې څه وکړل سړی دې وواژه داړه ماره !

هغه لوړ ونی ځوان پر برنډه ولاړ و، په تتو سترګو يې کله سماوارچي او کله پښن ته کتل، زړه نازړه و چې له چا سره لاس و ګريوان شي، خو ناڅاپه يې پر سماوارچي غږ وکړ:

-قاتله !اوس سړي وژنې، هلکانو !وې تړئ !

سماوارچي چغې کړې:

-څه شی، څو مو داسې تړلي؟ ځان يې پر ده د يرغل راوړونکو خلکو نه وژغوره، هغوی يې پورې وهل، خپله خولۍ يې له سره پورته او کلکه يې پر ځمکه ووهله. دده دغو کړو، ګواکې کوم له رازه ډکه ښه درلوده چې سمدلاسه پر ده راولويدلي کارګران، په خپلو کړو کې زړه نازړه شول.

سماوارچي خپله خولۍ، له ځمکې راپورته کړه او چغې يې کړې:

-قانون، ورونو، زه په قانون ښه پوهېږم. اوس د پوليسو ماموريت ته ورځم، تاسو فکر کوئ، نه ورځم؟ نن هېڅ څوک نه شي کولای د چا په شتمنۍ تالان ګډ کړي.

لوړ ونی ځوان او سماوراچي دواړه په ګډه په کوڅې کې وخوځېدل او يو بل ته يې تکرارول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-درځه چې ځو ! اوس به وګورو ، درځه، درځه چې ځو !

هغه په وینو لړلی پښ هم د دوی تر څنګه روان و. کارګران او هغه نور کسان چې په اخ و ډب کې ورګډ شوي نه وو ، هغوی پسې ورروان وو.

د ماروسیکا د کوڅې په یوه کنج کې، د یوې لوېې ودانۍ تر مخې چې کړکۍ یې تړلې او یوه لویه لوحه چې موچي پرې لیکل شوي ولاړه وه، د شلو په شاوخوا کې موچیان ولاړ وو. ټول ډنګر ډنګر خواشیني، وچ کلک ، جامې یې شلیدلې، او زړې وې.

یو موچي چې نرۍ ږیره او وتلې وروځې یې لرلې، وویل:

-هغه شان چې ښایي خلک یې تالان کړل. څه وو ایم، هغه،زموږ وینې وزبېښلې، او اوس حسابونه پوره ګڼي. پوره یوه اونۍ یې کار راباندې وکړ، وې زورولو ، وې زورولو ، موږ یې خوارۍ ته کینولو ، او خپله لاړ.

غږید ونکی موچي چې په وینو لړلی سړی ولید ، چپ شو او ټول شل تنه موچیان په خورا پاملرنې له دغې راتلونکې ډلې سره یو ځای شول، هغوی ویل:

-دا خلک چیرې روان دي؟

-ښکاره ده چېرې ځي، ماموریت ته ورځي !

-دا څه وایې، دارښتیا ده چې زموږ د انډیوالانو زور نه دی پرې رسېدلی؟

-نو تا څه فکر کاوه؟ ته راشه چې خلک څه وایي؟

هر پلو نه پوښتنې او ځوابونه اوریدل کېدل. سماوارچې له دغې ګڼه ګوڼې نه ګټه واخېسته، له خلکو وروسته پاتې شو او په کراره خپل سماوار ته راستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ وني ځوان پرته له هغه چې د خپل سیال سماوارچي ورکېدو ته پام شي، خپل بربنډ لاس ښنداوه او ځانته يې د خلکو د پام را اړولو لپاره پرله پسې همداسې غږېده. او خلک د خپلو ستونزو د آوارۍ او خپلو ټولو پوښتنو ته د ځوابونو د اوريدو په هيله پر هغه ورټول شوي وو.

د لوړ وني ځوان پرشونډو چې د پام وړ موسکا خوره وه، ويل:

-قانون بايد راوښودل شي، نظم بايد وښودل شي، دا چارواکي د همدې لپاره چارواکي دي او ورونو تاسو ووايئ زه برحقه يم او کنه؟

هغه دا سې فکر کاوه چې چارواکي نه شته که څه بلا؟ که چارواکي نه وي، هر څه به تالا والا شي، غلا او داړه ماران خو ډېر دي.

يو چا د ګڼه ګونې له منځه غږ وکړ:

-دا څه اپلتې غږوي؟ څنګه؟ څنګه کېدای شي مسکو پرېښودل شي؟ تا ته يې په ټوکه وويل او تا ومنله، پرېږدئ چې پوځيان لاړ شي، ځي دې، ته دا منې چې هغو پرېږدي چې دښمن راننوزي؟

هغه چې لوړ وني ځوان ته اشاره کوله، او ويل يې:

-وګوره ! خلک څه وايي؟

د چينايي ديوال خواته يوه بله ډله پر يوه سړي چې شين بخون کوټ يې اغوستی او يو کاغذ يې په لاس کې و، ورټول و.

د ګڼه ګونې نه يو چا غږ وکړ:

-فرمان، فرمان لولي ! فرمان سره لولي !

شين کوټي سړي د اګست د ۳۱ مې نېټې خبرتيا ولوستله. خلک ښه پرې ورټول شول، لږ ګڼې واخېست، خو کله چې لوړ وني ځوان د خلکو له ګڼه ګونې نه ځان هغه ته وروړساوه، له هغه نه يې هيله وکړه چې خبرتيا بيا ولولي، بېرته لږ ډاډمن او غږېې، نور نه رېږديده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرتیا یې بیا ولوستله.

-زه سبا ته د جلالتماب شهزاده حضور ته ورځم.

لوړ ونی ځوان چې موسکا یې پر شونډو خوره وه، خو تندی یې تریو و، ورپسې یې تکرار کړه:

-جلالتماب !

لوستونکي دوام ورکړ:

-چې له هغه سره خبرې وکړم، موږ باید له پوځیانو سره مرسته وکړو، مرسته وکړو چې د ظلمت او شیطنت جرړې وباسو. هغه لوړ ونی ځوان د بري له خوند په ډکه ژبه چغه کړې، ودې لیدل؟ اوس به د ټولو غم درته وخوري.

لوستونکي دوام ورکړ:

ددې مېلمنو جرړې باید ووېستل شي او بلا پسې ولېږل شي. زه به د غرمنۍ په وخت کې بېرته راستنېږم، کار به پیل کړو، کار به پای ته ورسوو او دغه شر به خاورو ته وسپارو.

کله چې لوستونکي وروستې خبرې ولوستلې، ټول چپ شول، هغه لوړ وني ځوان په خواشینۍ سر ښکته واچاوه. داسې برېښېده چې په دې وروستیو خبرو په تېره بیا ددې خبرې –زه سبا ته د غرمنۍ په وخت کې راستنېږم، په معنا هېڅوک پوه نه شول. په ډاګه ځرګنده وه ټول د خبرتیا په اورېدو خواشیني وو. هم د خبرتیا لوستونکي او هم د هغې اورېدونکي. د خلکو د احساساتو کچه خورا لوړه، خو دا خبرتیا ډېره ساده او د نه پوهېدو وړ وه، داسې ساده چې د هغو هر یو کولای شول داسې ووایي او دوی له واکمنو نه د داسې فرمان د اورېدو تمه نه لرله.

ټول خورا خواشیني او چپ وو. لوړ ونې ځوان شونډې ژوولې او خوځېده راخوځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو د ګڼې ګوڼې په وروستیو کتارونو کې ناڅاپه څه غږونه واوریدل شول:

-له هغه باید پوښتنه وشي !.. مهرباني وکړئ، دا هم دی په خپله ! څنګه پوښتنه ترې وشي؟ ښکاره ده چې پوښتنو ته به یې.. خپله بیا هر څه ووایي، د ټولو پام د پولیسو د سرمامور ګاډۍ ته چې په ډګر کې راروانه او دوو دراګونو سورو بدرګه کوله، ورواوښت.

د پولیس سرمامور د ګراف په سپارښتنه نن سهار د سیند پرغاړه څو ببېډیو ته اور ورته کړی او ښې پیسې هم ترلاسه شوې وې. دغه پیسې همدا اوس دده په جیب کې وې. کله چې هغه ولیده چې ګڼه ګوڼه ټوله دده خواته ورروانه ده. خپل ګاډیوان ته یې د دریدو امر وکړ.

د پولیسو مشر دغو خلکو ته چې په حیا او زړه نازړه د ګاډۍ پلو ورنېږدې کېدل ورغږ کړ:

-دا خلک څوک دي؟

کله چې هغه ځواب وانه ورید، بیا یې وپوښتل:

-زه تاسو ته وایم، څوک یاستئ؟

هغه افسر چې کوټ یې پرغاړه و، وویل:

-جلالتمابه !دا ستاسو خدمتګاران دي.. جلالتمابه هغوی د ښاغلي ګراف داعلامیې ترلوستلو وروسته، ستاسو له اطاعته پرته د بل څه هیله نه لري، دا څه یاغیان باغیان نه دي، هغه څه به کوي چې جلالتماب ګراف ویلي دي.

د پولیسو مشر وویل:

- ګراف دلته دی، هغه چېرې تللی نه دی، د تاسو په اړه یې به هم پریکړه وشي. او خپل ګاډیوان ته یې وویل درځه خوځېږه !

ګڼه ګوڼه ځای پر ځای ودریده. هغوی د هغو څو تنو شاوخواته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه چارواکي خبرې يې اوريدلې وې، ورتلل شول او له دوی نه خوځېدونکې ګاډۍ پسې يې وروکتل.

يو ځوان غږ واوريدل شو:

-هلکانو دوکه يې کړئ! مې پرېږدئ! هماغه غږ لا پسې زورور شو: پرېږدئ حساب ورکړئ! راونيسئ! او ګڼه ګونه ګاډۍ پسې وروخوځېده.

دغه ګڼه ګونه چې په شور او چغو سورو سره غږيدل، د پوليسو د مشر د تګ پلو، د لوبيانکا د کوڅې خواته ورروانه شوه.

په ګڼه ګونه کې پرله پسې غږونه پورته وو:

-څه بڼه کار، سوداګر او باداران وتښتېدل او موږ دلته پاتې شو، موږ سپيانو که څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴

د سپتمبر د لومړۍ نېټې په ماښام ګراف راستوپچین له کوتوزوف سره تر کتنې وروسته، له دې کبله چې دی یې د جګړې جرګې ته نه و وربللی، خواشینی او ځان یې سپک شوی ګاڼه، له دې کبله چې کوتوزوف دده دې وړاندیز ته چې د مسکو د ساتنې په چارو کې دی ګډون وکړي، هېڅ پاملرنه نه وه کړې، او دې خبرې هم حیران کړی و چې د پلازمېنې د آرامۍ موضوع او د هېواد پالنې روحیه دد غو ښاغلو لپاره نه یوازې لومړی درېځ نه درلود، بلکې چورد نه اړتیا وړ او بابېزه ګڼل شوې و. لنډه دا چې ګراف راستوپچین خواشینی، سپک شوی او هک پک مسکو ته راستون شوی و. هغه ماښامنۍ وخوړه او پرته له هغه چې دریشي بدله کړي، همداسې په ناسته او پرهماغې اوږده څوکۍ غځېدلی او ویده شوی و. د شپې له دولسو بجو نه اوښتې وې چې له کوتوزوف نه راغلی یو استازی راویښ کړ او هغه ته یې یو لیک وسپاره. په لیک کې غوښتنه شوې وه: له دې کبله چې پوځ د مسکو نه آپلو د ریزان د واټ پلو ته په شا کېږي، باید د پوځ د لارښودنې لپاره هغو ته د پولیس قوتونه ورواستول شي. دې خبر د راستوپچین لپاره نوې والی نه لاره. ګراف راستوپچین نه یوازې له کوتوزوف سره د پاکلونیا په غونډۍ کې تر کتنې بلکې د بارادنیو تر جګړې وروسته چې مسکو ته ټولو راتلونکو جنرالانو په یو آواز ویل چې له دښمن سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر او سه مخامخ کېدل امکان نه لري، او اجازه ورکړې چې دولتي اداري دې د شپې له خوا له مسکو نه کرار کرار ووزي او د مسکو تر نیمايي نه زیات او سېدونکي له پلا زمېنه وتلي وو، په دې پوهېده چې مسکو به تسليمېږي. خو د دې ټولو خبرو سره سره ده ته د پام وړ ټکی دا و چې دغه خبره ده ته د کوتوزوف له خوا د یوه ساده یاددښت په توګه هغه هم د سپارښتني په ډول بیا د شپې له خوا هغه وخت چې دی کلک ویده دی، رسېږي. دی سخت حیران او خوابېې ورشنه کړې وه.

وروسته بیا ګراف راستوپچین د دې مودې په اوږدو کې د خپلو کړو وړو په اړه څو ځله لیکلي و چې ده هغه وخت دوه غوره هدفه لرل:

په مسکو کې د آرامتیا ساتنه او له دې ښاره په کراره د خلکو بدرګه کول. که د راستوپچین د دغو دوو هدفونو په اړه خبرې وشي، د هغه پر هېڅ کړو نه شو کولای نیوکې وکړو. ولې د مسکو د سپېڅلو معابدو قیمتي شمایل، وسلې، کارتوس، باروت، د غنمو زېرمې، نه وې لېږدول شوې؟ او ولې د دې ښار زرګونه او سېدونکي دوکه شوي وو؟ ولې هغوی ته ډاډ ورکول شوی و چې مسکو نه تسليمېږي او نه به دوی قحطۍ او خوارۍ ته سپارل کېږي..

خو ۱۸۱۲ کال په مسکو کې د خلکو له پاڅون او ناآرامۍ نه د ګراف راستوپچین د ډار علتونه څه وو؟ د خلکو پاڅون د پیل لپاره کوم علتونه ښودل کېدل؟ خلک له مسکوه وتل او پوځ له مسکوه په تېرېدو د هغو ځایونه ډکول. نو ولې خلک د دغه چارو په نتیجه کې پاڅون وکړي؟

نه یوازې په مسکو کې بلکې په بل هېڅ ځای کې د دښمن ولکه پاڅون ته ورته کومه پېښه نه وه رامنځ ته کړې. د سپتمبر په لومړې او دویمه له لسو زرو نه زیات وګړي په مسکو کې پاتې شول، خو که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر قوماندان د قوماندانۍ په وړاندې له ګڼه ګوڼې نه سترګې پټې کړو (هغه خلک هم ده په خپله هغې خوا ته هڅولي و) بل کوم څه د پام وړ ښه نه وه ښکاره شوې. دا ښکاره خبره ده چې که د بارادنیو تر جګړې وروسته چې د مسکو د تسلیمېدو امکان زیات شوی و، په خلکو کې یې د وسلو په ویشلو او د خبر پاڼو په خپرولو ډار لاپسې نه وای لمسولای، د کلیساوو ټول سپېڅلي شمایل، نورې وسلې، باروت، مهمات او پیسې په کراره له ښاره لېږدول شوي وای او په رښتیني او زغرده توګه خلکو ته ویل شوي وای چې ښار پرېښودل کېږي، نو د خلکو د پاڅېدو امکان به لاپسې کم شوی وای.

راستوپچین چې خورا تندمزاجه او احساساتي سړی و، خپل ټول ژوند د لوړو اعیانو، اشرافو او مخورو سره تېر کړی و، که څه هم د هېواد پالنې له احساساتو بې برخې و، خو د هغو خلکو له ژوند سره چې ده یې د مشرۍ او لارښوونې دعوا لرله هېڅ ډول آشنایي نه لرله. له هماغه پیله، له هماغه شېبې نه چې دښمن سمولینسک لاندې کړ، راستوپچین ځان لپاره د خلکو د ملي احساساتو د لارښوونې مشري یعنې د روسیې د زړه مشري وټاکله. هغه ته داسې برېښېده (داسې چې بل هر مشر ته برېښي) چې نه یوازې دی د مسکو د خلکو د مادي او ورځنی ژوند مشري کوي، بلکې داسې یې انګېرله چې په خپلو خبرپاڼو او لارښوونو کې چې هسې په بازاري ژبه لیکل کېدې، د هغوی د روحیاتو او ولولو لارښوونه هم کوي. په داسې ژبې چې خلک یې هر ورځ په ورځني ژوند کې په سپکاوی اوري، خو کله که هغه د کوم مشر له خولې اوري، بیا یې سمې نه اوري او نه یې منې. د خلکو د احساساتو د مشرۍ ښکلې دنده داسې د راستوپچین خوښه او داسې ورسره روږدی شوی و چې د دغې دندې پرېښودل او بې له هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرښندنې د مسکو تسلیمېدل، هغه ته د تصور وړ نه و. هغه په دې توګه ناڅاپه ځان د پاڼ پرغاړه احساس کړ او هېڅ په دې نه پوهېده چې څه وکړي. هغه که څه هم په دې پوهېده، خو تر پایه یې په دې باور نه لاره چې مسکو به تسلیمېږي، نو ځکه یې د دې لپاره هېڅ ډول هڅه او هاند هم نه کاوه. خلک دده د ارادې برخلاف له ښاره وتل. دولتي اداري ځکه له ښاره ولېږدول شوې، چې مامورینو هغه غوښتل او دی اړ شو په درناوي دې غوښتنې ته غاړه کېږدي. هغه خپله ځان په هغې ونډې او دریځ اخته کړی و چې خپله یې په خپل خیال کې ځانته جوړ کړې و. داسې خیال او چاره چې زیاتره هغو کسانو ته پېښېږي چې تند مزاجه او دژور خیال خاونده وي. ..

د هغه ټوله هڅه او هاند ددې لپاره و چې په خورا لېوالتیا او پیاوړتیا (دا چې دا هڅه څومره د خلکو په ګټه او د هغو د زړه غوښتنه وه، دا بله خبره وه) په خپل زړه کې د هېواد پالنې او په ځان باور او د فرانسویانو په وړاندې د کرکې احساس نورو ته ورولېږدوي، خو کله چې پېښو رښتینی تاریخي بڼه پیدا کړه، خو کله چې فرانسویانو سره کرکه یوازې په وینا کې بس نه وه، خو کله چې نور ددغې کرکې د څرګندولو جګړه هم بسه دلیل نه و، خو کله چې نور په ځان باور او مېړانې مسکو ژغورلی نه شو، خو کله چې د مسکو ټولو او سېدونکو لکه دیو تن په شان خپله شتمني پرېښوده او ښار یې پرېښود او په دې توګه یې خپل ناوړه کړه څرګند او ملي احساساتو ته شا کړه، نو هغه وخت و چې د راستوپچین ځانته غوره کړی دریځ چوربې معنا شو. ناڅاپه یې ځان بې کسه یوازې او د خندا وړ احساس کړ. داسې ناتوانه چې تا به ویل له پښو لاندې یې ځمکه تللې وي. کله چې راستوپچین له خوبه راویښ کړل شو او هغه ته د کوتوزوف یادداښت او ترخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارښتنه وسپارل شوه، هغه ځان د قهر په اور کې ډوب ولید، نه یوازې د قهر په اور کې بلکې ځان یې ګنهکار هم احساس کړ. هر هغه څه او ادارې چې دده تر لارښوونې لاندې وې، ټولې په مسکو کې پاتې او ژغورل او لېږدول یې هم نور نو ناشونی و، هغه فکر کاوه:

-څوک ملامته دي؟ چا خبره تر دې ځایه راورسوله؟ خو دا ښکاره خبره ده چې نه ما، زما هر څه چمتو و. ما مسکو لکه د سترګو تور داسې ساته ! خو ته ګوره چې هغو څه وکړل او په موږ بې څه راوستل ! دا سپک ! دا خائینان !

هغه فکر کاوه، خو دا یې نه شو ویلای چې دغه سپک او دا خائینان څوک دي. هغه یوازې دا انګېرله او تصور یې کاوه چې له دغو خائینانو سره کرکه لري. هغه خائینان چې په دې پېښه کې ملامته او دی د هغو د کړو له کبله او س دغې بدمرغۍ ته رارسېدلی دی.

ګراف راستوپچین ټوله دغه شپه په هغو سپارښتنو او لارښوونو تېره کړه چې د مسکو د ټولو برخو سیمه ایز مشران د هغو د اخېستو لپاره ده ته راتلل. هغه ته نېږدې کسانو ګراف هېڅکله داسې خواشینی او قهریدلی نه و لیدلی.

ټوله شپه به یې هغه ته خبر ورکاوه چې: جلالتماب ! د املاکو له څانګې نه راغلي، د سپارښتنې غوښتنه کوي.. د ښاروالي نه راغلي او د کتنې هیله لري.. د روحانیونو له ټولنې راغلي او پوښتنه کوي. له مشرانو جرګې.. له پوهنتون نه.. له وړکتون نه... راغلي او پوښتنې کوي. له اطفایې نه. جلالتماب تاسو څه امر کوي؟ له زندان نه، له روغتون نه.. ټولو دغو پوښتنو ته ګراف لنډ او په خوابدۍ ځوابونه ویل. دده ځوابونه ددې څرګندونه کوله چې نور نه دده لارښوونو او سپارښتنو ته، هېڅ څه ته، اړتیا نه لیدل کېږي. هغه داسې انګېرله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چې ده په پاملرنه او میني چمتو کړي و، کوم بل چا بل ډول خراب کړي او اوس باید د غه نور د دغو پېښېدونکو ناوړه بد مرغه پېښو مسوولیت و مني.

هغه د املاکو د ادارې د مشر د غوښتنې په اړه وویل:

-دې احمق ته ووایئ چې هغه دې پاتې شي او د خپلو دفترو او کاغذونو پیره او ساتنه دې وکړي. او د اطفایې ډله بیا ولې پوښتنې کوي؟ هغوی خو آسونه لري، لاړ دې شي، ولادیمیر (د مسکو د څنډو یو ښارګوټی) ته دې لاړ شي، فرانسویانو ته خو به یې نه پرېږدي.

د لېونتون د روغتون د مشر په ځواب کې یې وویل:

-څه سپارښتنه، سپارښتنه دا ده چې ټول دې لاړ شي او لېونیان دې په ښار کې خوشې کړي، ولې؟ ولې، دا چې زموږ د پوځ مشري لېونیان کوي، خدای دوی ته هم ورکړې ده.

د هغو زندانیانو په اړه یې چې په کوټه قفلیو کې زنځیر او زولانه ناست دي، په خورا قهر او چغې وویل:

-څه وکړم، اوس د هغو د ساتنې لپاره دوه کنډکه درکړم؟ زه سرتېري نه لرم، پرېږدئ پرېږدئ چې لاړ شي.

-جلالتماب د زندانیانو په منځ کې سیاسي زندانیان هم شته، مکشوف او ویریشیاګین؟

راستوپچین چغه کړه:

-څه وایئ؟ ویریشیاګین لا ځړول شوی نه دی؟ هغه ماته راولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۵

د سهار تر اتو بجو وروسته چې پوځونو نور نو له مسکو نه تېرېدونکي وو، نور نو هېڅوک ګراف راستوپچین ته د لارښوونو او سپارښتنو د اخېستو لپاره نه ورتلل. ټولو هغو کسانو چې کولای شول له مسکو ه لاړ شي، خپله تلل. هغه څوک چې پاتې و، هغوی خپله د پاتې کېدو او دا چې څه وکړي، پرېکړه کړې وه.

ګراف سپارښتنه کړې وه چې آسونه چمتو شي، هغه غوښتل د سکولنیک سیمې ته لاړ شي. هغه تریو تندی، رنګ الوتی، چپه خوله، یو لاس یې په بل اېښی د خپل کار په کوټه کې ناست و.

په سوله ایز او آرام وخت کې هر چارواکي ته داسې برېښي چې د خلکو د ژوند ټوله اداره، خوځون او واک ده ته سپارل شوي دي، یوازې ده په قوت چورلېږي او په دغه بهیر کې د ده د اړتیا تصور، ده د ټولو کړو او هڅو لپاره تر ټولو نه غوره پالنه او ډالۍ ده. دا څرګنده ده چې تر هغه پورې چې د تاریخ سمندر آرامه دی، مشران او چارواکي آن خپل بیکاره بېړۍ د ولس له بېړۍ سره نښلوي او په مخ روانه وي، خو کله چې توفان راولوزي، د سمندر لېونۍ څپې غاړې وغړوي، بېړۍ د هغو په څپو کې راګیره شي، نور نو دغه انګېرنې او تصور ناشونی کېږي. بېړۍ په خپل ناپېیلی واک روانه وي، واکمن او لارښود پر هغه واک له لاسه ورکوي او په یوه شېبه کې د واک دغه چینه ړنده او په خپله هم د یوه واکمن له دریځه، په یوه ساده، ناتوانه او چا ته ګټه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوونکي سرې بدلېږي.

راستوپچين دغه حالت احساساوه او سخت يې عصبي کاوه.

د پوليسو مشر چې د خلکو ګڼه ګوڼې درولې و، د ګراف راستوپچين له ياور سره په ګډه راغلی و ياور ددې لپاره راغلی و چې هغه ته خبر ورکړي چې آسونه خوځېدا ته چمتو دي. د دواړو رنګ الوتی و. د پوليسو مشر خبر ورکړ چې ده ته سپارل شوې دنده يې سرته رسولې ده او دا يې هم ورته وويل چې زيات شمېر خلک د ودانۍ انګړ ته راغلي او غواړي چې ګراف ووينې.

راستوپچين يوه کلمه هم ونه ويله، پاڅېد او په چټکو ګامونو د خپل پرتمين مېلمستون پلو ته وخوځېد، د مېلمستون دبرندې دروازه يې خلاصه کړه، ورتېر شو، د هغې کړکۍ شاته ودريد چې له هغې نه د خلکو دغه ګڼه ګوڼه ليدل کېده. هغه لوړ ونی ځوان په لومړي کتار کې ولاړ و، له څېره يې قهر وريده، لاسونه يې ښورول او څه يې ويل. په وينو لړلی پښ چې غم لړلی او خواشينی برېښېده، د هغه څنګ ته ولاړ و. د تړلي کړکۍ له شا نه د غې ګڼه ګوڼې شروشور اوريدل کېده.

راستوپچين له کړکۍ نه را لرې شو او وې ويل:

-ګاډۍ چمتو ده؟

ياور يې ځواب ورکړ:

-هو جلالتمابه ! چمتو ده.

راستوپچين بيا د برندې د دروازې خواته ورغی او د پوليسو له مشر نه يې وپوښتل:

-دغه خلک څه غواړي؟

-جلالتمابه ! دوی وايي چې راټول شوي او ستاسو په قوماندې به له فرانسويانو سره جګړې ته ورشي. هېڅ څرګنده نه وه خو دا ښکاره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې هغه د کوم خیانت پر ضد یې ناري وهلې، خو جلالتمابه ! خورا باغي ګڼه ګوڼه ده. ما په سختۍ خوارۍ ځان ترې راوژغوره. ما به وبښۍ چې ځان ته اجازه ورکوم او وړاندیز کومه چې..

راستوپچین په خواشینۍ چغه کړل:

-مهرباني وکړئ، ووزئ، ووزئ، زه ستاسو لارښوونو ته اړتیا نه لرم.

هغه د برنډې د دروازې تر څنګ ودرید او ګڼه ګوڼې ته یې کتل. داسې یې انګېرله چې د هغه چاپېره وړاندې یې نه ایلیدونکې کړکه په زړه کې رالمسېږي چې ددې ټولو بد مرغیو پړه پرې وروا چوي. هغه له ځانسره ویل:

-وګورئ، هغوی له روسیې سره څه وکړل ! وګورئ، هغوی له ما سره څه وکړل !

لکه هغه شان چې زیاتره د تند مزاجه او عصبي وګړو ځانګړتیا وي، تر هغه نه هم د عصبیت لمبې چاپیرې شوې وې، مګر دی د هغو د ځرګندولو لپاره د پلمو په لټولو لګیاو. هغه ګڼه ګوڼې ته کتل او فکر یې کاوه:

-ښه ورته وګورئ ! دا سپک داړه مار ! د ټولنې ناولتیا، څه ناولې او ډاړه مار چې دوی رالمسولي او هغوی هم له دوی سره راپاڅېدلي دي.

هغه لوړ ونی ځوان ته یې وکتل، چې لا سونه یې ښورول او په خیال کې یې تېره شوه:

-سرښندنه او قرباني غواړي !

دغه خیال یې ځکه ذهن ته ورغی، چې ده خپله قربانۍ ته اړتیا لرله، هغه د خپلې کرکې د ځرګندولو لپاره پلمه لټوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا يې وپوښتل: ګاډۍ چمتو ده؟

ياور ځواب ورکړ:

-جلالتمابه ! چمتو ده، خو تاسو به د ويريشياګين په اړه څه سپارښتنه کوئ، هغه د برنډې څنګ ته ولاړ دی.

راستوپچين په داسې حيرانتيا چې ګواکې ناڅاپه يې څه شی ورپه ياد شوي وي، نابېره چغه کړل:

-آه !

هغه په تلوار دروازه ببرته کړه او په چټکو او غوڅوګامونو د مېلمستون برنډې ته ورووت. د ګڼه ګوڼې شروشور ناڅاپه خاموشه شو، ټولو خولې له سره پورته او سترګې يې په برنډې کې راښکار شوي ګراف پلو ورپورته کړې.

هغه په لوړه او چټکې وويل:

-سلام هلکانو !له تاسو مننه چې دلته راغلي. زه اوس تاسو ته دروزم، خو تر هرڅه نه د مخې بايد موږ ځان له جانيانو او خائينانو وژغورو، موږ بايد هغه شر اچوونکي او خائينينو ته جزا ورکړو چې مسکو د هغه له لاسه تباه او تالان شو. تاسو يوه شېبه تم شئ.

او ګراف په هماغې چټکې دروازه پورې وهله، وې ترله او راستون شه.

د خلکو د ګڼه ګوڼې په منځ کې د مننې او قناعت څپه خوره شوه، هغوی ويل:

-وينئ، د ټولو ظالمانو غم به وخورئ ! او تا ويل چې فرانسويانو ته کار کوي.. هغه به اوس هر څه راڅرګند کړي، تجربه لري، ګڼه ګوڼه داسې سره غږېدل چې ګواکې يو بل سره ملامتوي.

يو څو دقيقې وروسته له تشريفاتي دروازې نه يو افسر راووت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومانده يې ورکړه او د تشريفاتو پوځيان تيارسئ شول. ګڼه ګوڼه د برنډې له مخې نه د زينو پلو وروخوځېده، راستوپچين چې په چټکو او ټينګو ګامونو د زينو سر ته راوتلی و، په تلوار يې خپل شا وخوا ته داسې کتل، چې ګواکې څوک ګوري، هغه وويل:

-هغه چېرې دی؟ دده د پوښتنې سره سم د ودانۍ له يوه کنجه يو لوړ نری غاړی ځوان چې دوو تشريفاتي سرتېرو بدرګه کاوه راښکاره شو، د څڼو په منځ کې يې د ککرې خريل شوي ويښتان، بيا څه رالوړ شوي وو. دغه ځوان د ګېدړې شغال ډوله پوست، پوستين اغوستی و او د پوستين مخ يې شين بخوند، بل ټوکر درلود. داسې ښکاريده چې يو وخت به ښه ښايسته و، خو اوس له کاره لويدلی و. ناولی د زندانيانو ځانګړی دخمتا پرتوګ چې پايڅې يې. ،په پونده سوليدلو موزوکې ورننېستلي وې، اغوستی و، نريو او ضعيفو پښو ته ،وراچول شويو درنو کړيو او زولنو يې تګ ګران او بې نظمه کاوه.

راستوپچين د ګېدړ له پوسته جوړ شوی پوستين خاوند ځوان ته غلچک راواړاوه او د خپلې مخې زينې لومړۍ زينې ته يې اشاره وکړه او وې ويل:

-دلته يې راولي !

ځوان د زنځيرو زولنو له دروندوالي د عذاب له امله په سختۍ ده ته ښودل شوې زينې ته وروخوت. د پوستين تنګه غاړه يې چې دده ستونی په عذاباوه په ګوتو لږ څه پراخه کړه او خپله اوږه او اورمېږ يې دوه واره وخوځاوه، سوړ آسويلی يې وويست، په خورا اطاعت يې خپل نري او کار نه کړل شوي لاسونه په خپله ګېډه کېښودل.

يوه څو شېبې تر هغه پورې چې دغه ځوان ده ته پر ښودل شوې زينې ته، ځان برابراوه چوپه چوپتيا خوره شوه. يوازې د ګڼه ګوڼې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستيو کتارونو کې چې ټولو يو ځای ته زور واهه، بنګهاري، توخهاري او د پښو د ځسهاري غږونه اوريدل کېدل.

راستوپچين دې ته ستر ګې په لاره و چې ځوان هغه ته په ښو دل شوی ځای کې ځای پر ځای شي، وروځې يې برندې او لاس يې پر مخ وښه.

راستوپچين په رسا او کلک وسپنيز غږ وويل:

-دا سړی ويريشياګين نومېږي. دا هغه بد مخی سپک انسان دی چې د هغه له لاسه مسکو تسليمېږي.

ځوان چې د ګېډړې پوستين يې پرغاړه و، د اطاعت په نښه سرښکته اچولی، نري خوار لاسونه يې يو پر بل پر ګېډه ايښي و. له ملنډو نيم خريل شوی سر يې ښکته ځوړند او په ناهيلۍ سرښکته ولاړ و. د ګراف د لومړيو خبرو په اوريدو يې په کرار سر راجګ او له ښکته يې پورته ګراف ته وروکتل. داسې چې ګواکې غواړي يو څه شی ګراف ته ووايي او يا لږ تر لږه له هغه سره سترګو شي، خو راستوپچين هغه ته نه کتل، د ځوان په اوږده نرۍ غاړه کې، يوه مرانده (رګ) لکه رشمه تر څټه پورې پړسېدلې وه او ناڅاپه يې بشره تکه سره شوه.

ټولې سترګې هغه ته وراوښتې وې، هغه ګڼه ګوڼې ته کتل، ګواکې د هغو د څېرو په کتلو کې دی يوه هيله ويني، پر شونډو يې يوه غم لړې، خو له حيا ډکه موسکا راخوره شوه، بېرته يې سرښکته وځړاوه او پښې يې په زينه کې برابرې کړې.

راستوپچين په يورنګي، خو تند غږ وويل:

- هغه خپل ځار (شاه) او وطن ته خيانت کړی دی. هغه پر بناپارت ځان پلورلی دی. هغه په ټولو روسانو کې يوازينی څوک دی چې د روس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم يې شرمولی او د هغه له لاسه مسکو سقوط کوي.

خو ناڅاپه يې په تلوار ښکته وکتل او وې ليدل يې چې ويريشياګين سر ځوړند په اطاعت او نرمه غاړه ولاړ دی. داسې وبرېښېده چې د غو کتو راستوپچين ته اور ورته کړی وي، لاس يې پورته کړ، خلکو ته يې مخ ورواړاوه او چغه يې کړل:

-د هغه محکمه ستاسو پرغاړه ده، زه هغه تاسو ته در تسليموم!

خلک ټول خاموشه و او يوازې لا پسې سره نېږدې کېدل. دومره سره نېږدې او کېښکودل شوي وو چې په هغه لړې او خفه هوا کې سا اېستل او ښوريدل ورته ګران و. د کوم ناڅرګند، ناپوهېدونکي او وحشتناک څه پېښېدو انتظار، نور نو د زغم نه و..

راستوپچين چغه کړه:

-وهی يې! پرېږدئ دا خائينين ومري. ومري چې بيا د روس نوم ونه شرموي! وژنه يې! زه امر کوم!

خلکو د راستوپچين خبرې نه اوريدې، هغوی د هغه د خبرو د قهر شور اوريده، خلکو زګيروی وو بست لږ وړاندې وخښېدل او بيا ودريدل.

ويريشياګين د ګراف پلو سرور او چت کړ او بيا يې د نرمې غاړې پړسېدلې رګ لا وپړسېد، مخ يې تک سور شو او په هغه لنډه چوپتيا کې چې بيا پر ټولو راخوره شوې وه، د هغه ريږديدونکی غږ چې ننداريزه ژبه يې لرله واوريدل شو، چې وايي:

-ګرافه، يوازې خدای مو پر سر ولاړ دی.. او هغه څه يې چې غوښتل وو ايي، نيمګړی پاتې شول او بيا يې رنګ تک سپين شو.

د راستوپچين د بشرې رنګ هم چې ناڅاپه د ويريشياګين د رنګ په شان تک سپين شوی و، چغې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-وهئ يې ! ټوټه ټوټه يې کړئ، تاسو ته امر کوم !

يو افسر چې خپله يې هم خپله توره راوويستله، خپلو درګونو ځانګړو سرتېرو ته قومانده ورکړه:

-په توره يې ووهئ !

يو بله خو تر پخوا قوي څپه پر خلکو راخوره شوه، دغه څپه تر لومړيو کتارو وروروسېده، هغو ته يې ټکان ورکړ، څپڅپانده شول او هغوی يې تر زينو پورې پورې وهل. هغه لوړ ونی ځوان چې لوړ کړي لاس يې ځای پر ځای پاتې شوئ و او بڼه يې لکه تېره وچه شوې وه، د ويريشياګين تر څنګه ولاړ و.

افسر په ټيټ زګيروی ډول آواز خپلو سرتېرو ته وويل:

-ټوټه ټوټه يې کړئ !

او يو تن سرتېري په تريو تندي او غضب لړلې څېرې، ناڅاپه په توره د ويريشياګين ککرۍ ته ګوزار ورکړ.

لنډه، خو له حيرته ډکه چغه د ويريشياګين له ستوني پورته شوه:

-اخ !

له وحشت او ډاره په ډک غلچک يې مخ واړاوه او ګواکې غواړي ووايي، نه پوهېږي ولې،له ده سره داسې کوئ. د وحشت او ډار همداغه څپه پر ټولو ورخوره شوه.

د يو چا غمړلي آواز له کومې خوا واوريدل شو: يا خدايه !

د ويريشياګين له حيرت او ډکې چغې نه وروسته، يو وژونکی درد د هغه ګوګل لکه چاړه داسې وځېره او همدغه درد د هغه چاره وکړه. د انساني احساس هغه ولوله چې ترپايه يې د وحشت او شرارت نه ددغو خلکو مخنوی کاوه، په يوه شېبه کې ولويده. پيل شوی جنايت چې پيل شوی و، بايد بشپړ شوی وای. د ياغيتوب او شکايت چغه د ګوابښ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غضب په ځپو کې ډوبه شوه .. هغه سرتېري چې ویریشیاګین ته د توري ګوزار ورکړی و ، غوښتل یې بل ګوزار ورکړي. ویریشیاګین له ډار او وحشته چغې کړې، لاسونه یې د ساتنې لپاره تر سر تاو کړل او ګڼه ګوڼې ته یې ځان ورواراتیره. هغه لوړ ځوان سره له هغه چې لګېدلی و ، د ویریشیاګین نرۍ غاړې ته لاس ورواچاوه ، چغې سورې ګډې شوې، او ویریشیاګین له یو ډول چغیو او سورو سره په ګډه د هغو خلکو ترپښو لاندې ورولوید چې دده خواته یې یرغل کړی و.

چا ویریشیاګین واهه او چا یې کالي څېرول، خو چا هغه لوړ ونی ځوان، د هغو کسانو چغې او سورې چې د خلکو تر پښو لاندې وو او هغو کسانو چې د لوړ ونې ځوان د ژغورنې لپاره یې هلې ځلې کولې، د خلکو قهر لا پسې زیاتوه.

جلادو سرتېرو تر ډېرو پورې نه شو کولای په وینو لړلی تر مرګه ژوبل کارګر د خلکو له پښو لاندې راوباسي. خلکو تر ډېرو پورې ونه شو کولای هغه په وینو لړلی کارګر چې تر وهلو لاندې تر مرګه پورې رسېدلای و ، سره له ټولې کرکې او تربګنۍ نه ونه شو کولای ویریشیاګین مړ کړي .. یو تن وویل:

- په تبر یې ووهو که څنګه؟ څپه کړل شوی دی ! خائین، ده مسیح ته خیانت کړی دی ! لا ژوندی دی؟ اوه ساګانې لري. خپل حق یې تر لاسه کړ، ژوندی دی، که مړ شو؟

دوی تر هغه وهل کول، چې ویریشیاګین له زاریو ولوید ، د هغې دفاع او زارۍ په یو رنګ او پرله پسې خرهارۍ بدل شو ، خلک په تلوار پر ځمکه د لویدلی په وینو لړلی مړي له څنګه لرې شول. هر څوک راتلل کتل یې چې څه پېښ شوي دي او په وحشت ملامتۍ او تعجب یې د لرې کولو هڅه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګڼه ګوڼې غږونه راتلل:
-لویه خدایه ! خلک د ځناور په شان دي، څنګه به ژوندي پاتې شوي وي؟ ځوان و، خوار په ختهه سوداګر و، وایي دا دده کار نه و، د چا کار و؟ خدای دې مورډ ترې وساتي ! یو بل یې سره وواژه، چا ویل چې لا ژوندی دی..

یو غیرتي پولیس چې د جلالتماب په انګړ کې پروت مړی، د هغه د دریغ سپکاوی ګاڼه، خپلو سرتېرو ته سپارښتنه وکړه چې هغه له انګړه د باندې لارې ته وباسي. دوو سرتېرو، مړی له ماتو پښو راونیو او هغه یې د باندې یوور. کله چې ویریشیا ګین پر ځمکه ولوید او د خلکو ډلې په وحشت او اله ګولې د هغه خواته یرغل راوړ، ناڅاپه د راستوپچین له بشري رنګ وتښتېد، هغه ددې پر ځای چې د ماڼۍ مخې ته دده ته انتظار ګاډۍ ته ورشي، سرښکته واچاوه او پرته له هغه چې پوه شي، چېرته او د څه لپاره روان دی، په چټکو ګامونو هغې لارې ته ځان برابر کړ چې د کور لاندني پوړ ته رسېدلې وه، د هغه رنګ الوتی و او نه یې شو کولای د خپلې لاندنې زنې رېږدېدا ودروي.

یو رېږدېدونکی او له وحشته ډک غږ یې له شانه واورېدل شو:
-جلالتمابه ! دې خواته، چېری ځئ؟ دې خواته راشئ !

ګراف راستوپچین ددې توان نه درلود، چې ځواب ورکړي، هغه د خبرو په اورېدو په اطاعت سره راوګرځېد او هغې خواته لاړ چې دده ته ښودل شوې وه. ګاډۍ د ماڼۍ د شا د زینو مخې ته ولاړه وه، د خلکو ګڼه ګوڼه او شروشور له لرې اورېدل کېده، راستوپچین په ګاډۍ کې کېناست، خپل ګاډیوان ته یې امر وکړ چې د دوی کلیوال کور، سکولنیکي خواته لاړ شي. کله چې د میانیڅکایا واټ ته ورسېد، نور یې د خلکو د ګڼه ګوڼې غږ وانه اورید. ګراف د پښیمانۍ احساس وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته په خورا ناآرامۍ هغه تلوار، ډار او ګبنهیتوب وریاد شو چې د خپلو لاس لاندې ماموریڼو تر مخې یې احساس کړی و. په فرانسوي ژبه یې له ځانسره وویل:

-د خلکو پاڅون خورا وحشتناکه دی، هغه کرکجن دی، هغه لکه دلېوانو په څېر دی، تر هغه چې غوښه وروانه چوې، نه آرامېږي. ناڅاپه هغه ته د ویریشیاګین خبره وریاده شوه:

-ګرافه !یوازې خدای دی چې زموږ په سر ولاړ دی. او یوه نا آرامه او خواشینی احساس یې پر ځان راخپور ش، خو دغه احساس ډېراوږد نه و او پرشوندو یې پر ځان له ملنډو نه ډکه موسکا راخوره شوه. هغه له ځانسره وویل:

- زما دنده دا وه چې باید خلک آرامه کړم، زیات شمېر خلک د ولسي ګټو له پاره قرباني شوي دي او باید نور هم قرباني شي ! هغه د خپلو هغو مسوولیتونو په فکر کې شو ،چې د خپلې کورنۍ، د خپلې پلازمېنې (چې د ساتنې واک یې، ده ته سپارل شوی و ) او د خپل ځان په اړه یې لرل، خو د ځان په اړه یعنې نه د فیودرواسیلوویچ راستوپچین (له ځانسره به یې ویل چې فیودرواسیلوویچ جان ځان د ولس او ملت تر ګټو خاورې) هوکې، د ځان په وړاندې مسوولیت یعنې د پلازمېنې د ستر قوماندان د واکمن واک او د ښار د ستر استازي په توګه:

- که زه یوازې فیودر واسیلوویچ وای، زما کړه وړه به بل ډول وای،خو زه باید د سترقوماندان د دریځ نوم او ژوند ساتنه او درناوی وکړم.

د ګاډۍ پر پستې څوکۍ، نرمې خوځېدا ، د خلکو او ګڼه ګوڼې د شروشور نه اوریدل، دی جسما آرامه کړ. راستوپچین جسما آرامه شو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه هغه شان چې تل همدا سې وي، جسمي آرامتيا هم مهالـه د روحي آرامتيا سبب شي. هغه څه چې راستوپچين د روحي آرامۍ سبب و ، څه نوې خبره نه وه ، له هغه ورځې چې دنيا پيدا شوې ده ، هېڅکله دا سې نه دی شوي چې کوم انسان څوک وژلی وي او ځان يې ملامت ګڼلی وي. هغوی تل په دې خيال ځان آرامه او تسلا کوي چې دا کار د ولسي ګټو لپاره کوي، هو کې د نورو د ګټو لپاره.

هر هغه انسان چې پر انساني هوسونو لاسبری پيدا نه کړي، هغه پر دغو ګټو نه پوهېږي، خو هر هغه څوک چې کوم جنايت کوي، تل ښه په دې پوهېږي چې انساني خير او ګټې په څه کې دي. او راستوپچين اوس په دې پوهېده.

هغه نه يوازې په خپلو دلايلو کې، دده له خوا د سرته رسولو شويو چارو له امله ځان نه غانده ، بلکې په هغو کې يې د ځان ستاينې او ډالۍ دلايل هم پيدا کول او دا يې ويل چې ددې ټولو نه يې د چارو د برياليي سرته رسولو لپاره ګټه هم اخېستې ده. ده د يوه جاني ته په جزا ورکولو دغه ګڼه ګونه آراموله.

راستوپچين له ځانسره ويل:

-ويريشيا ګين محکمه او په مرګ محکوم شوی و (حال دا چې هغه يوازې په اجباري کار محکوم شوی و ) هغه خائين او هېوادپلورونکی و. ما نه شو کولای هغه ته جزا ور نه کړم، نو له دې کبله مې په يوه غشي دوه ښکې وويشتې. هم مې يو خائين مجرم تـه جزا ورکړه هم مې خلک آرام کړل.

راستوپچين چې کلـه خپـل کليـوالي کورتـه ورسېد او پـه خپلـو کورنيو چارو اخته شو ، خپله بشپړه هوسايي او آرامي يې پيدا کړه.

نيم ساعته وروسته ګراف، پـه خپلـه ګاډۍ کې چې يرغـه آسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځغلوله د سکولنیکي له دښتې تېرېده، تېرې پېښې يې چور هېرې کړې وې، هغه يوازې د راتلونکې په اړه فکر کاوه. اوس د هغه پله خواته چې ده ته ويل شوي و کوتوزوف هلته دی، روان و. ګراف راستوپچين په خپل تصور کې هغه کرکجنې او د ملامتۍ خبرې را جوړولې چې دی به يې کوتوزوف ته دده د غولولو له امله وايي. هغه غوښتل دغه عمر خوړلي درباري ګېدړې ته داسې خبرې ووايي چې هغه، هغه مسووليت احساس کړي چې د مسکو د تسليمېدو (او د هغه په اند ) او د روسيې د تباهۍ نه وروسته په خلکو راغلی دی. دا مسووليت ټول دده پرغاړه دی. د هغه چا پرغاړه، چې د ډېر زړښت نه يې خپل عقل له لاسه ورکړی دی. راستوپچين هغه څه چې کوتوزوف ته يې ويل غوښتل، په تصور کې يې لاندې باندې کړل، په قهر يې په ګاډۍ کې ډډه واړوله او په خواشينۍ يې شاو خواته وکتل.

د سکولنيکي دښته خالي وه، يوازې د دښتې په پای کې د مرستون او روغتون سره يو څو تنه چې سپينې جامې يې اغوستې وې، راټول شوي وو او ددغو سپين جامو څو تنه هغه هم جلا جلا په دښته کې روان وو ،نارې سورې يې وهلې او لاسونه يې ښورول. د هغو يو تن مخامخ دګراف د ګاډۍ پلو منډې راوهلې. ګراف راستوپچين د هغه ګاډيوان او ساتونکو ټولو ،د وحشت، حيرت او ځيرتيا په احساس هغو لېونيانو ته چې له لېونتون نه راخوشې شوي و ، په تېره بيا هغو ته چې د دوی خواته په ځغاسته وو ، کتل.

يو لېونی چې ډنګرې وچې پښې وې، کالي يې باد تر ده نه تاوول، مخامخ دوی ته په چټکۍ منډې راوهلې. هغه مخامخ ګراف ته کتل، په جږ او شډل آواز يې چغې وهلې، څه يې ويل او لاسونه يې ښورول چې ګاډۍ ودروي. ژيړ ډنګر مخ چې ببره خو ناجوړه شوې ږيره يې لرله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښانه خو خورا عصبي ښکاريده. د سترګو تور او ځلېدونکو ګاټو يې ښکته کتل.. هغه په زوره او زړه ريږدېدونکې غږ چغه کړل:

-ودرېږئ ! تاسو تـه وايـم ودروئ ! زه درتـه وايـم ! غـږ يـې ټيـټ شو ،خو بېرته يې په ټينګ او د چاروا کي په شان غږ وکړ.

هغه ګاډۍ ته وررورسېد ، د هغې تر څنګ يې منډې وهلې او ويل يې:

- زه يـې درې ځله ووژلم، درې ځله بېرتـه لـه مرګـه راژونـدی شـوم، سنګسار يې کړم، په دار يې وځړوم، خو زه بېرته را ژوندی کېږم.. بېرته به ژوندی شم.. بيا به راژوندی شم. زه يې ټوټه کړم، د خدای جنت به ونړېږي، درې ځله به هغه رنګ او درې ځله به هغه ودان کړو ، همدا خبرې يې کـولې او غـږ يـې لا پسـې کـرکجن او زورونکـی کېـده. د راستوپچين رنګ ناڅاپه تک سپين شو ، لکه هغه وخت چې ګڼه ګونې پر ويريشيا ګين يرغل کړی و ، هغه مخ راواړاوه.

هغه په لړزيدلي آواز پر ګاډيوان چغه وکړه:

-ځه، ځه ژر ځه !

آسونو په ټول قوت سره ګاډۍ کشوله، خو ګراف راستوپچين تر ډېرو پـورې د هغـه لېـوني نـاهيلې چغـې او بې معنـا وينـاوې لـه شـانه اوريدې. هغه کرار کرار لرې کېده، خو د هغه خائين ځوان په وينو لړلې او حيرت وهلی بشره او د هغـه د ګېـدړو لـه پوسـته جوړ شوی پوستين يې تر سترګو ګرځېده راګرځېده.

که څه هم دغه خاطرې خورا تاندې وې، خو پـه راسـتوپچين د هغـه اغېز دومره ژور و چې د هغـه پـه زړه انځـور شوې او لـه هغـه يې وينـې څڅولې وې. هغه په ډاګه دا احساسوله چې ددغو وينو ياد او انځـور بـه هېڅکلـه د هغــه لــه يـاده ونــه وزي. او بــرعکس د دغــې غمرلــې او وحشتناکې پېښې ياد چې هر څومره زړېږي د هغه عذاب او زوريدنه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاپسې زیاتیږي او دی به هېڅکله په کرار پرې نه ږدي. هغه داسې انګېرله چې د خپلو خبرو غږ اوري:

-وژنه یې، ځواب یې زه ورکوم ! څنګه ما دا خبره کولای شوه؟ هسې نابېره ! ما کولای شو، هغه ونه کړم، اوس به هېڅ پېښه نه وای، هغه په خیال کې هغه سرتېري ته کتل چې ویریشیاګین یې وهلی و. هغه ډار اخېستی او ځناور ډوله شوی و. هغه ته د هغه ځوان د سترګو غلچک وریاد شو چې د ګېدړې د پوست نه جوړ شوی پوستین یې اغوستی و. د هغه غلچک وریاد شو او له ځانسره یې وویل:

-خو ما دا کار نه د ځان لپاره، دا زما ولسي دنده وه چې باید هغه مې کړای وای. داړه مار، وطن پلورونکی، ولسي ګټې..

د یاا اوزا ،د پله شاو خوا ته بې شمېره سرتېري راټول شوي وو. هوا ډېره توده وه. کوتوزوف د پله څنګ ته پر یوې اوږدې څوکۍ خواشینی او شین زړه ناست و. هغه د خپلې متروکې په څوکه له شګو سره لوبې کولې چې په دې وخت کې په یرغه آس ده ته په شرنګ و شرونګ یوه ګاډۍ راورسېده. یو سړی چې جنرالي دریشي یې اغوستې وه، په خولۍ کې یې بنې ټمبلې، سترګې له غضبه ډکې، خو هم مهاله له ډاره وارخطا په چټکو ګامونو ده ته رانېږدې او په فرانسوي ژبه یې له هغه سره غږېدا پیل کړه. دا سړی راستوپچین و. هغه کوتوزوف ته وویل:

-هغه ځکه دلته راغلی چې نور نه مسکو شته او نه پلازمېنه. یوازې پوځ پاتې دی. هغه زیاته کړه:

-اوس به حال بل ډول وای، که جلالتماب ماته ویلي وای چې مسکو پرته له جګړې نه تسلیموي، دا پېښې به اوس چور بل ډول وای.

کوتوزوف راستوپچین ته داسې کتل چې ګواکې د هغه په هغه خبرو نه پوهېږي چې هغه یې ده ته وایي. هغه هڅه کوله ده ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړېدونکي سړي په څېره کې ځانګړی څه ولولي. راستوپچین چې ګېنځی اخېستی و، همداسې چپ پاتې شو. کوتوزوف لږ شانته سر وښوراوه او پرته له هغه چې خپلې پوښتېدونکې سترګې د هغه له څېرې واړوي، په کراره وویل:

-هو کې! زه مسکو نه تسلیوم ،زه به له جګړې پرته هغه تسلیم نه کړم.

آیا ددې خبرو د ویلو په وخت کې کوتوزوف چور د بل شي په اړه فکر کاوه یا یې قصدي دا خبره ځکه وکړه چې د هغو په بې معنا والی پوهېده، خو ګراف راستوپچین پرته له هغه چې څه ووايي، په تلوار له کوتوزوف نه لرې شو. عجیبه خبره ده، د مسکو ستر قوماندان، مغرور ګراف راستوپچین خپله متروکه راواخېسته، د پله خوا ته ورننېږدې شو او په چغو چغو او د متروکو په ګوزارونو یې له هغه ځایه راکوټه شوې کراچۍ لرې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۶

د ماسپښین دري بجې او څو دقیقې وې چې د میورات په قوماندانۍ پوځونه مسکو ته راننوتل. د ورتیمبیرګسیکي د سورو ډله تر ټولو نه مخکې روانه وه. او تر هغه وروسته خپله ټولواک ناپلیون پر آس سپور، سره له خپلو ساتونکو او ملګرو سره روان و.

د اربات (دمسکو یوه تاریخي کوڅه) د کوڅې په منځنۍ برخه کې، د نیکولای کلیسا ته نږدې میورات ودرید او دې ته سترګې په لاره شو چې د لومړیو کرښو نه خبرونه راورسېږي چې د ښار کلا، کرملین په څه دریځ او حالت کې ده.

په مسکو کې له پاتې کسانو نه یوه کمکۍ ډله خلک د میورات شاوخوا ورټول شوي وو. ټولو له شرمه په ډک حالت او حیرانتیا دغه اوږد څښي عجیب قوماندان ته چې په خولۍ کې یې بڼکې وهلې وې او ځان یې په زرو او ګاڼو ګاڼلی و، کتل.

په کرار یې یو له بله پوښتل:

-دا څوک دی؟ دا د هغوی خپل ټولواک (ثار) دی که څنګه؟

ژباړونکي دغو خلکو ته راغی.

خلکو یو بل ته ویل:

-خولۍ خو دې پورته کړه، خولۍ دې..

ژباړونکي یوه بوډا څوکیدار ته مخ وروااړاوه او وې پوښتل:

-کرملین لرې دی که نږدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا څوکېدار چې د ژباړن پولندي لهجه ورته پردۍ برېښېده، ښه ورته غوږ شو، خو همدا چې د هغه وینا ورته روسي ونه برېښېده، په دې پوه نه شو چې هغه څه وايي، ځان یې د نورو تر شا وواهه.

میورات خپله د ژباړونکي خواته وروړاندې شو او هغه ته یې وویل چې له خلکو وپوښتي چې روسي پوځ چېرې دی؟ یو روس په دې پوه شو چې له هغو نه څه پوښتي او ناڅاپه څو آوازونو ژباړن ته ځواب ورکړ، یو فرانسوي افسر د لومړیو کرښو نه راستون شو او خبر یې راوړ چې د کرملین دروازې تړل شوي او کېدای شي د هغو شاته برید نیول شوی وي.

میورات وویل:

- ډېر ښه !

او سمدلاسه یې د خپلو مشاورینو یوه ته سپارښتنه وکړه چې څلور عرادې توپونه هلته ورولي او پر دروازو اور بل کړي. د میورات له شا نه د توپونو د ولاړ کاروان نه توپونه جلا او د اربابات په واټ کې په چټکۍ وړاندې وخوځېدل او د وزدویژنکي د واټ تر پایه لاړل او هلته ودرېدل. په مېدان کې ځای پر ځای او مورچلونه یې جوړ کړل، خو فرانسوي افسرانو توپچیانو ته د توپونو د پوره ځای پر ځای کېدو او ډزو ته د چمتووالي قومانده ورکړه. دغو افسرانو په لرلید (دوربین) کې د هدف یعنې کرملین لیدنه او څارنه پیل کړه.

په دې وخت کې د کرملین د کلیساوو زنګونه وجرنګېدل او خلکو ته یې د ماښام د لمانځنې بلنه ورکړه. فرانسویان د دغو جرنګونو د آوازونو په اورېدو ځکه وډار شول چې فکر یې وکړ د زنګونو دغه جرنګهارې خلکو ته د ولسي پاڅون د پیل کېدو نښه ده. د پلي پوځ څو تنو سرتېرو مخ پورته د کوتافیوفسکي د لوېې دروازې پلو منډه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دروازې د لرګيو او تمبو په اچولو ، بندې شوې وې. د دروازې پلو د افسرانو له خوځېدو سره هم مهاله د دروازې له شانه د توپک دوه ډزې وشوې. د توپ تر څنګ ولاړ جنرال چغه کړې ،پر افسر يې غږ وکړ او هغه له سرتيرو سره بېرته راستون شو.

د دروازې له شا ،د توپک درې نورې ډزې هم واورېدل شوې. يو ډز د يوه فرانسوي په پښه ولګېد او له هغه سره د دروازې له شانه د څو تنو نورو سرتېرو غږ واورېدل شو. د فرانسوي جنرال، افسرانو او سرتېرو په څېرو کې د پخوانۍ آرامۍ او خوشالۍ ځای،تا به ويل په قوماندې،ناڅاپه ژورې ځيرتيا ،سيالۍ ته چمتووالی او زوريدا ونيو. د هغو ټولو لپاره له مارشاله نيولې بيا تر وروستي سرتېري پورې دغه ځايونه نور نو د وزدويژنکا ،ميخواوايا ،دکوتـايوا او تريوڅکي دروازې نه وې، دا د هغو لپاره په نويو ځايو کې د جګړې نوي ډګرونه وو ، د نوې توييدونکې وينې ،جګړې ډګرونه. ټول د دغې جګړې لپاره چمتو شوي وو. د دروازو له شانه چغې آرامې شوې، توپونه وړاندې وخوځول شول،توپچيان اور بل ته چمتو وو ، افسر قومانده وركړه:

-اور بل !

دوه انګازه لرونکو ډزو يو په بل پسې په فضا کې انګازې خورې کړې او څو شېبې وروسته پر هغو دروازو چې دد ستک لرګي او تمبو بندې کړې وې، د توپونو ګولۍ ولګېدلې. او له هغه سره سم په ډګر کې د لوګيو دوه کرښې پورته شوې.

څو شېبې وروسته چې د ډزو غړمبهار او انګازې د کرملين د ديوالو تر منځ په كراره شوې، پر فرانسويانو يو له شوره ډکه غوغا جوړه شوه. د كرملين په ديوالونو په زرګونه كارغان راوالوتل، په فضا كې يې الوتنې كولې، دكارغانو د كيغيدو او وزرونو شور يو بله غوغا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړه. د دوی د دې غوغا سره هم مهاله د دروازې نه د ننه یوه چغه واوریدل شوه او یو سړی چې نری کوټ یې اغوستی و او سر یې تک شین و، له هغه ځایه راووت. د هغه توپک په لاس کې و او فرانسویان یې په نښه کړي و. توپچي افسر بیا د اوربل قومانده ورکړه او هم مهاله د توپک یو وزری او د توپ دوه غبرګ ډزونه واوریدل شول. او دروازه بیا په لوګیو کې ورکه شوه، په هغه دروازه کې چې د توپونو ډزې شوې وې،نور هیڅ ځوک او هیڅ شی نه ښوریدل. فرانسوي پلي سرتېري له خپلو افسرانو سره یو ځای دروازې ته ورننوتل، هلته یې درې تنه ټپي او څلورتنه وژل شوي ولیدل، دوو تنو نورو هم چې کلیوالي جامې اغوستې وې، د دیوال له بیخ نه د زنانسکا د دروازې پلو په منډه مخه وکړه.

افسر وژل شویو او د تمبو لرګیو ته اشاره وکړه او وې ویل:

-دا ټول کړئ !ګورو به !

فرانسویانو ټپیان په ډزو له درده بې غمه کړل او د هغو مړي یې،له دیواله، لاندې وارتیرل.

دا د کرملین ساتونکي څوک وو؟ هیڅوک په دې پوه نه شو،خو یوازینۍ خبره چې د هغو تر مرګه وروسته هغوی پسې واوریدل شوه، هغه دا وه چې وویل شو:

-دا ټول کړئ، بیا به ګورو !هغوی یې له دیوال نه د باندې واچول. هغه یې لرې وارتیرل چې د هغو له بویه ځان وژغوري. یوازې (تېیر) و چې په رښتیا یې د خپلې وینا څو خوږې کرښې د هغه په ویاړ ولیکلې:

دغو بدمرغو،دغه سپېڅلې ودانۍ لاندې کړه، توپک او وسلې یې واخېستل او په فرانسویانو یې ډزې کولې. او بیا ددغو بدمرغو څوتنو،فرانسویان په تورو ووهل او کرملین یې ترې پاک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میورات ته خبر ورکړ شو چې لاره پاکه شوې ده. فرانسویان له دروازې نه کرملین ته ورننوتل او د سنا په ډګر کې ځای پر ځای شول. سرتېرو له کړکیو نه څوکۍ ددې لپاره ارتېرولې چې ځانته اور بل کړي.

د فرانسویانو بله ډله د کرملین له لارې تېر شول او د ماروسکایا، لوبیانکا او پکروفسکایا په کوڅو کې ځای پر ځای شول. دریمه ډله فرانسویان د وزدویژنکا، زنامینکا او نیکولسکایا او تفریسکایا په سیمو کې موضع ونیوله. هرې خواته چې فرانسویان لاړل، هېڅوک یې په ښار کې ونه لیدل، داسې برېښېده چې دوی نه په ښار، نه د هغو په کورونو بلکې په ښار کې جوړ شویو کمپونو کې ځای پر ځای شوي وي.

فرانسوي سرتېري که څه هم وږي تږي، جامې یې زړې او څېري و، ستړي او ستومانه وو، خپل دریمه برخه ملګري یې له لاسه ورکړي وو، خو بیا هم هغوی په ډېره منظمه بڼه مسکو ته راننوتل. دغه پوځ که څه هم ستړی ستومانه او جګړه ځپلي و خو بیا هم جنګیالی او مېړنی برېښېده. دغه پوځ تر هغه وخته پورې کېدای شو پوځ وبلل شي چې سرتېري یې د مسکو کورونو ته خواره واره شوي نه وو. همدا چې دوی دمه شول او د ښار تش او پرتمین کورونه یې لاندې کړل، د پوځي دود له مخې نور هغوی ته پوځیتوب ورپاتې نه شو. هغوی هغو کسانو ته ورته شول چې نه پوځي و نه ولسي. هغوی د همدې دوو ډلو پوځي او ولسي خلکو تر منځ یو څوک و: غله او تالانګر. دغه ډله: غله او تالانګر په مسکو کې تر پنځو اونیو پاتې کېدو وروسته چې کله له دغه ښاره وتل، هغوی سرتېرو ته ورته نه وو، هغوی یوه ډله غله وو چې هر یو پلي او سورو د خپل توان او واک په کچه هغه شیان چې دوی ته قیمتي او اړتیا وړ برېښېدل له ځانسره اخېستي وو. له مسکو نه د وتلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت، نور نو هغوی د پخوا په شان پر ښار د ولکې او برې هیله نه لرله، د هغوی یوازینۍ هیله دا وه چې تالان او غلا کړي شیان ځنګه وساتي. هغوی هغې بیزو ته ورته و چې په یوه خم یا منګي کې یې لاس ننوېستلی، له هغه یې یو موټی مندکې را اخېستي، خو موټی له خمه راوېستی نه شي، که موټی خلاص کړي را اخېستل شوې مندکې نه شي راوېستي او که خلاص یې کړي، لاس ته راغلی شی یې لا لاسه ځي. فرانسویانو هم له مسکوه د وتلو په وخت کې همدا ستونزه لرله، هغوی باید له هغه لامله تباه شي چې له مسکو نه یې د تالان په وخت کې ځان پسې تړلي وو. هغوی د بیزو په شان تالان شوي شیان نه وړی شول او نه یې د پرېښودلو امکان و. مسکو ته تر ننوتلو وروسته د فرانسې د پوځ، یو پوځي هم پوځي پاتې نه و. د کورونو له کړکیو داسې کسان له ورایه ښکاریدل چې کوټونه یې اغوستي، موزې یې په پښو او په خورا خوشالۍ او خندا کور په کور او کوټه په کوټه ګرځېدل. دې ته ورته کسانو په زیرخانو او ګدامونو کې د کالیو او خوړو په تالان لګیا و، هغو د تړلو کورونو، انګړونو، دروازې ماتولې، اور یې ورته اچاوه، وړه یې لمدل، ډوډۍ یې پخوله، بنډارونه یې کول، ماشومان یې ډارول، ښځې یې نازولې، دغه شان وګړي هرې خوا ته پریمانه وو، په دوکانونو کې وو، په کورونو کې وو، هر هر چېری وو، خو نور نو هغوی، پوځیان نه وو.

مسکو ته د فرانسویانو د ننوتلو د لومړې ورځې نه، فرانسوي قوماندانانو پر له پسې فرمانونه ورکول چې ښار ته د سرتېرو د تګ مخنوی وکړي، ښار کې تالان او وهل ټکول ونه کړي. د خلکو شتمني ته درناوی ولري. هغوی فرمان ورکړ چې نن شپه به عمومي حاضري وي، خو سره له دې ټوله پریکړو او سپارښتنو هغه وګړي چې تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته پورې با نظمه او فرمان ته غوږ سرتېري وو ، اوس په بدا ای خو له او سپدونکو نه په تش ښار کې چې د خوړو او څکلو پریمانه زېرمې یې لرلې، خواره واره ګرځېدل. هغوی هغې ورېې ګلې ته پاتې کېدل چې په ګډه په وچه او له وښو نه په تشه دښته کې خوځېدل، خو کله چې به شنه څړځای ته ورسېدل، ددې ګلې مخنوی به ګرانه وه او خوره وره به شوه. فرانسوي پوځونه هم چې کله بدا ای ښار ته ورننوتل، ټول له واکه ووتل، او مخنوی یې ګران و.

مسکو له خپلو اوسپدونکو نه تش شوی و. سرتېري لکه اوبه چې په شګه کې ننوزي، داسې په دې ښار کې ورکېدل. دوی له کرملین نه چې لومړی ورننوتلي و ، لکه د ستورو پلوشې هرې خواته خوریدل. سواره پوځیان به بې خاونده کورنو ته چې له کېږو او قیمتي کالو نه ډک پاتې و ، ورننوتل. که څه هم دوی به له خپلو اړتیا او هوس نه زیات شیان هلته موندل، خو بیا به یې هم که بل کور تر سترګو ښکلی او بدا ای ورغی، هغه به یې هم لاندې کاوه. زیاترو خو بیا څو کورونه لاندې کول، پر یو نیم کور خو به یې په تباشیر د ځان لپاره کومه نښه هم وویسته او له نورو ډلو سره به یې پرې وهل کول. لا سم به په کور کې ځای پر ځای شوي نه و ، کوڅو ته به یې منډې کړې او د ښار په ننداره به شول ځکه هغو اوریدلي و چې د مسکو اوسپدونکي کورونه پرېښي او تښتېدلي دي. دوی به په دې تمه چې کوم قیمتي شی یا ګاڼې تر لاسه کړي هر پلو ته یرغل کاوه. قوماندانان به هرې خوا ته ددې لپاره تلل چې د خپلو سرتېرو مخنوی وکړي، خو خپله به بې ارادې په چور او تالان ورګډ شول.

په کریتني ریدو ( د کریت ګذر=کوڅه ) کې اوس هم یو شمېر ګاډۍ او کراچۍ ولاړې وې، جنرالانو هغه پلو ګڼه ګوڼه جوړه کړې او ورتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی هر یو ځان لپاره ګاډی او کراچۍ خوښولې. په مسکو کې ځینې پاتې ښاریانو به ځینې فرانسوي قوماندانان په دې هیله خپلو کورونو ته وربلل چې د دوی په کور کې د دغه فرانسوي، په لیدو به د دوی کور له تالان نه وژغورل شي. شتمنی دومره ډېره وه چې پای یې نه لیدل کېده. هغه ځایونه چې فرانسویانو لاندې کړي وو، شاوخوا ته یې لا ډېر داسې ناولکه شوي کورونه او ځایونه پیدا کېدل چې دوی تصور کاوه هلته به شتمنی تر ولکه شوي هغو نه زیاته وي. مسکو دم په دم او لاپسې دوی په ځان کې رانغښتل. کله چې اوبه پر وچه ځمکه تویېږي، سمدلاسه ورکېږي، هم اوبه او هم وچه ځمکه دواړه ورکېږي. دغه شان اوس کله چې د وږیو سرتېرو یوه ډاړه ماره ډله، بډای ښار ته ننوتل، نه سرتېري پاتې شول او نه بډای ښار. هغه څه چې پاتې شول هغه مرداري وه، غلا وه ،تالان و او سوځېدل.

فرانسویانو د مسکو سوځېدل د راستوپچین د وحشت نه ډکې هیوادپالنې پایله ګڼله او روسانو هغه د فرانسوي تعصب نښه. ،خو که د مسکو سوځېدل په رښتیا داسې وګڼو چې ملامتي یې د یوه یا څو تنو پر غاړه وراچوو، بېشکه چې دغه شان لامل نه شته او نه شي کولای واوسي. مسکو له دې کبله وسو چې د بل هر ښار په شان چې له لرګیو جوړ او په دې حال پاتې شوی وای، او سره له هغه چې د اور وژنې ښې یا بدې ۱۳۰ څانګې یې لرلای یا یې نه لرلای، سوځېدلای به وای. مسکو څکه باید سوځېدلای چې د هغه اوسېدونکو هغه پرېښې وو، هغه باید د هغو لرګیو د ټوټو (پرخچې) په شان څکه باید سوځېدلې وای چې د څو ورځنې اور ترسپخنکو لاندې پاتې شوی و.

هغه لرګین ښار چې اوسېدونکي یې په کې اوسېدل، پولیسو په کې څارنه کوله، په اوړي کې داسې ورځ نه و چې په هغه کې اور ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګېږي، نو ځنګه کېدای شي په کې اور ونه لګېږي چې او سېدونکي يې تللي، پرديو هغه لاندې کړی، دغه پردي په کې پيپونه څښوي. پوځونه يې آن د هغه د سنا په ډګر کې د سنا د دفترونو د څوکيو په سوځېدلو، نغري تودوي. که يو پوځ په يوه کلي کې يا بل هر چېری چې وي مېشت شي، دا به آن په سوله ايز وخت کې د دې لپاره بس وي چې په هغه کې د اورلګېدل څو برابره زيات شي، نو ځکه په هغه لرګين ښار کې چې بې څښتنه پاتې او پردي پوځيان په کې ديره شوي، هرومرو د اورلګېدل زياتېږي. نو ځکه د مسکو اور اخېستنې نه د راستوپچين وحشيانه هېوادپالنې پورې اړه لرله. نه د فرانسويانو تعصب پورې، مسکو د فرانسويان د پيپ څښولو، په پخلنځيو کې د اورونو د بلولو، په هر ځای کې د نغريو د لګېدلو، د دښمن د پوځيانو د بې احتياطۍ، د هغو پوځيانو د بې احتياطۍ چې د کورونو خاوندان يې نه وو او پردي په کې مېشت وو، سوځېده او ايره کېده. کېدای شي چې څوک وو ايي، مسکو د لاسي اور اچونې له امله سوځېدلای وي (خو دا خبره ځکه په شک کې ده چې هېڅ چا لاسي اور اچونې ته لامل نه درلود. ځکه هر ځنګه چې وي ښارونو ته لاسي اور اچونه خورا کړکيچن او ستونزمن کار دی) نو ځکه د مسکو سوځېدل، د لاسي اور اچونې پايله نه شو ګڼلی، ځکه له لاسي اور اچونې نه پرته هم هغه سوځېده.

هر څومره چې فرانسويان د راستوپچين وحشي وزمه هېوادپالنه د مسکو د سوځېدو لامل خپل وياړ وګڼي، په هر کچه چې روسان د بناپارت ظلمت او وحشت د دې ښار د ايره کېدو دليل وګڼي او د دې عواملو له امله هر يو ځان او خپل ولس وياړمن وبولي، نه شو کولای په رښتيني لامل سترګې پټې کړو، نه شو کولای وو ايو چې د دغه سوځېدلو لپاره کوم په ډاګه علتونه په کار وو، ځکه مسکو هرومرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بايد سوځېدلي واى، هره کلى، هره فابريکه او هر کور چې د هغه څښتنان، له هغه کډه کېږي، هر هغه څوک چې خپل نغرى بل چا ته پرېږدي، پر هغه کې به بل څوک خپل ديګ باره وي. رښتياني خبره داده چې مسکو ته، نه د هغه اوسېدونکو اور ورته کړ، خو نه هغو اوسېدونکو چې په کې پاتې شول، بلکې هغه اوسېدونکو چې ترې وتښتېدل، ترې لاړل او ترې ووتل. مسکو د برلين، ويانا او نورو ښارونو په شان د دښمن تر ولکې وروسته ځکه آباد پاتې نه شو چې د هغه اوسېدونکو ډوډۍ او مالګه (روسانو مېلمنو ته د هر کلي په وخت کې هغه وړاندې کوي) په لاس، فرانسويانو ته وړاندې نه کړه. د مسکو ښاريان له هغه لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۷

له کرملین نه د فرانسویانو خوریدل چې لکه د ستورو د پلوشو په شان د مسکو شاوخوا ته خوریدل، د سپتمبر په دویمه نېټه ماښام مهال د دغه ښار هغې سیمې ته ورسېدل چې اوس پیېر په کې اوسېده.

پیېر، دغه دوه ورو ستې ورځې په داسې یوازیتوب تېرې کړې وې چې دی ورسره رږدی نه و، نو ځکه نېږدې و چې لېونی شي. د هغه ټوله هستي په یوه سودایي حالت کې راګیره وه. خپله دی هم په دې نه پوهېده چې څنګه او کله، خو دغه حالت اوس په ده داسې لاسبری و چې د هغه نه پخواني څه په یاد و، نه یې په اوسنیو پېښو سر خلاصېده او هغه څه یې چې لیدل، یا یې اوریدل، لکه د خوب لیدل داسې و.

پیېر، یوازې د دې لپاره له خپل کوره ووت چې ځان د ژوند د اړتیاوو له دغه نه پوهېدونکی کړکیچن حالت نه راوباسي، هغه حالت نه چې دی په کې راګیر او ژغورل. له هغه نه ده ته ګران و. هغه د یوسف الکسیوویچ کورته د هغه خدای بښلي د کتابونو او کاغذونو د جوړولو په پلمه د دې لپاره لاړ چې خپله یوازینۍ هیله پوره کړي او هغه دا وه چې د ژوند له ناآرامو نه پریشانو نه په هلته خپله آرامۍ ولټوي.

د یوسف الکسیوویچ، له یادونو سره د هغه روحي حالت غوټه و، د هغه آرام او ښکلي یادونه، د هغو پریشانه او نا آرامه یادونو ضد چې ده اوس ځان په کې راګیر احساساوه. هغه یو آرام ځای لټاوه او هغه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رښتیا د یوسف الکسیوویچ په کوټه کې وموند. کله چې هغه د دغې کوټې په مرګنۍ آرامتیا کې د هغه خدای بښلي د دړو لړي میز ترشا کېناست، په لاسونو یې تکیه وکړه، هغه په خیالونو کې په آرامه، خو په ښکاره یو په بل پسې د څو وروستیو ورځو په تېره بیا د بارادنیو د جګړې او د هغه ډلې د صفا او رښتینتوب په وړاندې چې ده به په ذهن کې "هغوی "بلله، خپل هغه ناڅرګند یاغي او له سپکاوي ډک احساسات یو په بل پسې وریاد او په ګوګل کې راژوندي کړل. کله چې ګراسیم دی له دغو خیالونو نه راووېست، پېیر تکل وکړ چې دی به په هغې ټاکل شوې ولسي جګړه کې ګډون کوي چې د مسکو خلک یې د خپلې ساتنې لپاره پیل کوي. په همدې هیله یې سمدلاسه له ګراسیم نه غوښتنه وکړه چې دده لپاره یو جوړه کلیوالي کالي او یوه تومانچه پیدا کړي. هغه ته یې خپل دغه نیت هم ووایه چې غواړي همداسې په ناآشنا نوم د یوسف الکسیوویچ په کور کې پاتې شي. بیا یې ددغه یوازیتوب او بیکارۍ ورځې د تېریدو نه وروسته (پېیر څو ځله هڅه وکړه خو ونه یې شو کولای خپل پام د ماسوني خطي نسخو نه وروا‌ړوي) څو ځله یې په تته بڼه د خپل او ناپلیون د نومونو تر منځ مرموزه اړیکي وریاد کړل. د مخه هم څو ځله دغه خیال، خیال ته ورغلی و، خو دغه هیله چې تقدیر د زمانې د انسان خوړونکي ځناور واک پای ته رسولی، ده (اوس بېزاو خوف) هېره کړې ده. دغه هیله یوازې او یوازې په یوه خیال بدله شوې چې هسې یې په خیال کې ګرځي او پایله نه لري.

کله چې پېیر کلیوالي کالي واخېستل (یوازې له مسکوه په ولسي دفاع کې د ګډون لپاره) او په هغو کې دی د رستوف د کورنۍ له غړو سره مخامخ شو، ناتاشې هغه ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تاسو پاتېږئ؟ څومره ښه!

د هغه په خیال کې راتېر شو، په رښتیا به دا ښه خبره وای چې دښمن پر مسکو ولکه وکړي، دی به پر ښار د دښمن د ولکې پر وخت هلته پاتې شي او هغه پور به ادا کړي چې دده پر غاړه ایښودل شوی دی.

بله ورځ دهغه یوازینی خیال دا و چې پر ځان یې زړه خوږ نه شي له هغو نه هم ببرته پاتې نه شي، ځان یې خلکو پسې د مسکو د ښار د درې غونډیو سیمې ته ورساوه، خو کله چې ببرته کورته راستون شو، دی په دې ډاډه شو چې له مسکو ه دفاع کېدای نه شي. هغه ناڅاپه دا احساس کړه، هر هغه څه چې تر اوسه ده ته یوازې کېدونکي، ههمهاله او یوه اړتیا برېښېدل اوس باید هرومرو تر سره شي. هغه باید خپل نوم پټ وساتي او په مسکو کې پاتې شي، له ناپلیون سره مخامخ شي او هغه ووژني، یا خپله ووژل شي او یا هم ټوله اروپا له دغې بدمرغۍ نه چې د پېیر په خیال د یوه سړي، ناپلیون له لاسه دی وژغوري.

پېیر ته، د هغه الماني محصل ټولې هڅې معلومې وې چې پر ۱۸۰۹ کال په ویانا کې دناپلیون د وژلو لپاره تر سره کړې وه. هغه له دې نه خبر و چې هغه محصل چانواري شو، هغه ګوابن چې دی به د خپل دغه تکل د سرته رسېدو نه وروسته ورسره مخامخ شي، دی لا پسې لمساوه.

دوو ژورو او یو رنګه قوي احساساتو پرله پسې پېیر خپل دغو کړو ته هڅاوه. لومړی احساس د سرښندنې د اړتیا او د رنځ د زغملو احساس و چې د بدمرغۍ د راتګ په وخت کې یې هرڅوک احساسوي. دا هماغه احساس و چې د اګست په ۲۵ مه نېټه یې دی د موژایسک سیمې او د بارادنیو د جګړې ډګر ته، تګ ته وهڅاوه. اوس همدغه احساس دی له کوره تېښتې ته هڅولی او ده خپل ورځني پرتمین او ارام ژوند ته شا کړې وه. پرته له هغه چې جامې بدلې کړي، پر وچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلکه څوکۍ ویده کېده او ده هم هغه ډوډۍ خوړله چې ګراسیم خوړله. دویم احساس هغه احساس و چې د روسانو ځانګړتیا ده، او هغه دا چې دوی ټول هغه لاسي شرایط او قواعد چې د نړۍ نور خلک، هغه د نړۍ تر ټولو غوره ښېګڼه ګڼي، په سپکه کتلي و. پېیر دغه عجیب او له ادا نه ډک احساس، د لومړي ځل لپاره د سلبود سکي په ماڼۍ کې احساس کړ. ده هلته ناڅاپه احساس کړه چې دغه بدمرغه ایتوب، واک، ژوند او هر هغه چې خلک د هغو د ساتلو لپاره بې پایه هڅې کوي، ټول دا که کوم خوند او ارزښت ولري، هغه په دې کې دی چې له هغو نه سترګې پټې کړي.

دا هماغه احساس دی چې اربکي (داوطلب سرتېری) خپله وروستۍ ټنګه (کپیک) تر شرابو ځاروي، نشه سړی سره له هغه چې پوهېږي دی به خپلې وروستې پیسې د هغه په تاوان کې ورکوي، خو بیا هم پرته له هر دلیله، هینداري او آیینې ماتوي. دا هماغه احساس دی چې هغه په چور لېونتوب (د هغې په بدې معنا) سرته رسوي. ..

که څه هم له هماغې ورځې چې پېیر د سلبود سکي په ماڼۍ کې د لومړي ځل لپاره، دغه احساس احساس کړ، هغه پرله پسې د دغه احساس تر اغېز لاندې و، خو یوازې اوس په دې پوه شو چې ده په هغه کې خپل پوره قناعت موندلی دی. د دې تر څنګ پېیر په اوسني وخت کې هغه څه چې ده په دې لاره کې ترسره کړي و، دی لا پسې ډاډه کاوه، او په دې لاره کې یې لا پرمختګ ته هڅاوه، له خپل کوره د پېیر تېښته، د هغه کلیوالي جامې اغوستل، تومانچه پیدا کول، د رستوف کورنۍ ته په ماسکو کې د پاتې کېدو یادونه، دا ټول به هسې ده ته د سپکاوی او خندا وړ شوي وای، که دی هم د نورو په شان له مسکوه د وتلو تکل کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيير جسمي او روحي حالت، د تل په شان، يو له بل سره پوره اړخ لګاوه، غيرعادي سخت خواره، هغه ودکا چې ده په دې ورځو کې ځکله، د واين (نرمو شرابو) او سيګارو نشتوالی، ناولې او نه بدليدونکې بستره، دوه بې خوبه شوګيرې شپې، بې له توشکې او بړستنې پر وچې ځوکۍ ويديدل، دې ټولو پيير د ګبنهۍ او عصبيت په حالت کې ساته او تر لېونتوبه پورې يې رساوه.

د غرمنۍ نه وروسته د يوې بجې نه اوښتی وخت و چې فرانسويان مسکو ته ننوتل. پيير له دې کاره خبرو، خو ددې پر ځای چې څه وکړي، هغه د خپل تکل د پوره سرته رسېدو په تړاو فکر کاوه. پيير په خپل خيال او هيله کې نه د ځان د ژوندي پاتې کېدو، نه پر ناپليون د ګوزار او ډزو او نه د ناپليون د وژل کېدو تصور کاوه، خو په بې سارې ځرګند ډول او غمرلي لذت يې د ځان د وژل کېدو، او خپلې اتلوالې او مېړانې تصور کاوه.

هغه له ځانسره فکر کاوه:

-هوکې ! يو له ټولو ځار ! زه بايد يا دا کار وکړم او يا ووژل شم ! هوکې، زه ځم..

خو وروسته يې بيا فکر وکړ:

-په تومانچه که په توره؟ په هر حال پروا نه لري او هغه خبرې يې چې د ناپليون د وژل کېدو (ده تکل کړی و ناپليون ووژنی) په وخت ويل غوښتل، له ځانسره وويلې:

-دا زه نه يم، چې تا وژني، دا تقدير دی چې تا ته جزا درکوي !

بيا يې د ناپليون تر وژلو کېدو وروسته د وخت تصور وکړ، په تريو تندي، غمرلې ځبرې خو ټينګې ارادې يې سرښکته واچاوه، خپله يې ځانته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو څه ته ګورئ؟ واخلئ اعدام مې کړئ !

کله چې پيير د کوټې په منځ کې ولاړ و، په خپلو خيالونو کې ډوب و، د کوټې دروازه راخلاصه شوه او ماکار الکسيوويچ چې تل به حياناکه او خواشيني بريښېده، چور په بل بدل حالت راننوت. د هغه د کميس تنۍ خلاصې او داسې بريښېده چې ښه نشه دی. مخ يې تک سور او له حاله وتلی و. د پيير په ليدو د څو شيبو لپاره وشرمېد، خو همدا چې د پيير په څېره کې يې ناآرامي او ګښيتوب وليد لږ څه زړور شو او په ناسمو ناسمو ګامونو د کوټې تر نيمايي پورې وړاندې راغی، په ټيټ خو هيلمند آواز يې وويل:

- وډار شول، زه وايم چې زه خو نه تسليمېږم، زه وايم ! داسې نه ده ښاغليه ! هغه په چرت کې لاړ، پر ميز پرتې تومانچې ته يې پام شو، ناڅاپه او په چټکۍ يې هغه راواخيسته او دهليز ته يې منډه کړه.

ګراسيم او ساتونکی چې ماکارالکسيوويچ پسې ورغلل هغه يې ودراوه او له هغه نه يې د تومانچې د اخيستو هڅه کوله.

پيير دهليز ته راووت. په زړه سوی او کرکه يې لېونتوب ته رسېدلی، دغه بوډا ته کتل. ماکارالکسيوويچ چې له زوره يې مخ ګونځې ګونځې شوی و، تومانچه يې کلکه نيولې وه، په خرپهاری يې چغې وهلې او ځان ورته برحق او غوره بريښېده

- وسله واخلئ، ببښۍ ولکه کړئ، دا ومنئ، اخيستی يې نه شی !

ګراسيم په احتياط ماکارالکسيوويچ له څنګلې راونيولی و، هڅه يې کوله هغه د دروازې خواته پورې وهي او ويل يې:

- ښه ده، ښه ده مهرباني وکړه، هيله لرم چې دا پرېږدئ، مهرباني وکړئ، باداره، پرېږده، هيله کوم !..

ماکارالکسيوويچ چغې وهلې: ته څوک يې؟ بناپارت يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ګوره دا ښه کار نه دی بادار ه ! مهرباني وکړئ، تاسو کوټې ته راشئ. تاسو استراحت وکړئ، هیله کوم تومانچګۍ راکړئ.
ماکارالکسیوویچ تومانچه ښوروله او چغې یې وهلې:
-لرې شه، سپکه مرییه ! ما ته لاس رانه وړې. دا دې نه ده لیدلې (تومانچې ته یې اشاره کوله ) ببډۍ ولکه کړئ.
ساتونکي په کرار ګراسیم ته وویل:
-وې نیسه !
ماکارالکسیوویچ یې له لاسه راونیو او د دروازې پلو یې بوت.
په کوټه کې د مست نشه سړي، د ډډ آواز چغې سورې اوریدل کېدې.
ناڅاپه له دهلیز نه د یوې ښځې زړه زورونکې چغې واوریدل شوې او د کور آشپزې ورمنډه کړه.
هغې چغې وهلې: هغوی، پلارجانه ! راغلل ! د خدای لپاره، هغوی ثلورتنه سواره دي.
ګراسیم او ساتونکي ماکارالکسیوویچ پرېښود او په آرام دهلیز کې له ورایه پر دروازې د څو لاسونو د وهلو ټکهاری واوریدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۸

پـېـير چې له ځانسره يې پريکړه کړې وه، د خپل تکل د سرته رسـېدو پوري، هم خپل نوم پټ وساتي او هم په دې بايد څوک پوه نه شي چې دی په فرانسوي ژبه پوهېږي،دد هليز د دروازې يوه پټ شانته ځای کې ولاړو، تکل يې وکړ د فرانسويانو له راننوتلو سره همهالـه ځان څرګند کړي. فرانسويان راننوتل، خو پېير د دروازې لـه شان نه رادې خواتـه نه شو، يوې ناپېژندلې تلوسې هغه له ځايه راوتلو ته نه پرېښود.

راننوتي فرانسويان دوه تنه وو، يو تن افسر، لوړ زړور ښکلی سړی و او بل تن ښايي يا سرتېری او يا هم د افسر ساتونکی و. هغه ټيټ ونی ډنګر لمر وهلی سړی چې غومبوري يې لويدلي او ساده څېره يې لرلـه. افسر چې لکړه يې لګوله او ګوډګوډ کېده لومړی راننوت. هغه څو ګامه وړاندې راغی، ګواکې خپله يې لـه ځانسره پريکړه وکړه چې کور ښـه کور دی، ودريد، بېرته هغه سرتېرو تـه چې د کلا لـه دروازې سره ولاړ و، ورستون شو. په آمرانه لوړ آواز يې هغو ته ورغږ کړل چې آسونه انګړ ته راننباسي. تر دغې سپارښتنې نه وروسته يې، پـه يـوې ځانښـودنې خوځېدا خپلې څنګلې لوړې کړې، خپـل بريتونه يې تـاو کـړل، او لاس يـې تـر خولـۍ پـورې وروړرساوه، وموسـېد، شـاوخوا يـې وکتـل او پـه خوښۍ يې وويل:

-پر ټولو سلام !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ چا، هېڅ ځواب ورنه کړ.

افسر له ګراسيمه وپوښتل:

-د کور خاوند تاسو یاست؟

ګراسیم په ډار او پوښتنيز غلچک افسر ته وکتل..

افسر له خوښۍ او خواخوږۍ نه په ډکې موسکا له پاسه ښکته دغه واړه سړي ته وکتل او وې ويل:

-کور! دا کور! دا فرانسویان ښه هلکان دي، بيا يې له ډاره چپ ګراسیم پر اوږه وواهه او وې ویل:

- بلا ورپسې، هر څه چې شوي شوي، ناندرۍ ماندرۍ به نه کوو بابا جانه!

تر هغه وروسته يې دې خوا هغې خوا ته وکتل، په پېير يې سترګې ولګېدې، پېير د دروازې له شا راووت. فرانسوي وویل:

-څه کوئ، رښتيا دلته داسې څوک نه شته چې په فرانسوي ژبه پوه شي او بیا يې ګراسیم ته مخ وروا ړاوه. هغه له ګراسیم نه غوښتنه وکړه چې هغه ته د کور کوټې وروښيي.

ګراسیم په دې هیله چې دغه فرانسوي سړی په خبره پوه کړي شي، خپلې روسي خبرې يې داسې ادا کولې چې ناسمې او جلاجلا وې:

-د کور.. خاوند.. نه... شته.. نه پوهېږ... ی... زما.. ستا....

فرانسوي افسر چې موسکا يې پرشونډو خوره وه، لاسونه د ګراسیم تر مخې خلاص او غوښتل يې هغه پوه شي چې دی يې هم په خبرو نه پوهېږي. ګوډ ګوډ د هغې دروازې خواته ورننېږدې شو چې پېير يې تر شا ولاړ و. پېير غوښتل دباندې ووزي، له هغه نه ځان پټ کړي، خو وې ليدل چې له پرانستې دروازې تومانچه په لاس ماکارالکسيوويچ رانښوت. په ځير خو باڅاري ډول يې فرانسوي افسر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وڅاره. تمانچه يې د هغه پلو ورپورته او هغه يې په نښه کړ. دغه بوډا چې ښه نشه و غوښتل د تومانچې ماشه کېښکاږي، چغه کړل:

-ببډی لاندې کړئ !

فرانسوي افسر د چغې په اوريدو مخ راواړاوه او په همدې شېبه کې پيېر پر هغه مست سړي ځان وروارتيره. هغه وخت چې پيېر تومانچه ټينګه او راپورته کړه، ماکار الکسيوويچ ګوته ماشې ته برابره، د ډز کنګوونکی غږ پورته او د ډز له باروتو پيدا شوی دود هره خوا خور شو. د فرانسوي رنګ تک سپين واوښت او د دروازې خواته يې ودانګل.

پيېر چې په فرانسوي د پوهېدو د پټولو تکل يې هېر کړی و ،تومانچه واخېسته اولرې يې واچوله. پيېر د فرانسوي پلو ورمنډې کړل او په فرانسوي ژبه يې له هغه وپوښتل:

-تاسو ټپي شوي ياست؟

فرانسوي افسر په ځان لاس تېر کړ او وې ويل:

-ښکاري چې نه ! هغه د ديوال هغه ځای چې مرمۍ پرې لګېدلې وه، وروښود ، او وې ويل:

-خو دا وار نېږدې و چې ټپي شم. هغه تندی تريو کړ او په قهر يې پيېر ته وکتل او وې ويل:

-دا څوک دی؟

پيېر چې د ځان په اړه هر څه هېر کړي وو ، وويل:

-اخ، په رښتيا هم د زړه له کومې په دې خواشينی يم، دا بدمرغه لېونی په دې نه پوهېږي چې څه وکړي.

افسر د ماکار الکسيوويچ خواته ورنېږدې شو ، هغه يې له ګريوان نه راونيو ، خوله يې وازه پاتې شوه، داسې چې ګواکې خوب يې وړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوړ ووړ کېده او دیوال ته یې ډډه ولګوله.
فرانسوي افسر د هغه ګریوان پرېښود او وې ویل:
-حرمونیه ! اوس به درسره وګورو !
وروسته یې په تریو تندي، خو لږ ځیرې مګر ښې څېرې، په خورا چټک او ښکلي انداز وویل:
-موږ فرانسویان تر بري وروسته ډېر خواخوږي یو، خو خائین نه شو بښلی.
پېیر په فرانسوي ژبه هماغه شان هڅه کوله فرانسوي افسر په دې قانع کړي چې دغه نشه بد مرغه باخاري سړي ته جزا ورنه کړي، فرانسوي همداسې چوپه خوله غوږ غوږ و، خو اشینه بڼه یې نه بدلیده، خو ناڅاپه وموسېد او پېیر ته یې مخ وروااړاوه. پرته له هغه چې څه ووایي، څو شېبې یې، هغه ته کتل. د هغه ښکلي څېرې، خواشینې خو خواخوږې بڼه غوره کړه، خپل لاس یې پېیر ته ور اوږد کړ او وې ویل:
-تاسو زما ژوند وژغوره ! تاسو فرانسوي یاستئ؟ دغه شان تصور د فرانسوي لپاره یوه عادي خبره وه، ځکه د هر کار ښه سرته رسول یې د فرانسویانو ځانګړتیا ګڼله، د هغه د ژوند ژغورنه، د ښاغلي رامبال د فرانسوي د ۱۳ غونډ د تورن، ژغورنه د هغه لپاره یو له غورو نه غوره چاره وه.
که څه هم د فرانسوي افسر دغه خیال د شک وړ نه و، خو پېیر دا ښه وګڼله چې دغه زورونکی رښتیا هغه ته په ډاګه کړي او په ترخه ژبه ورته ووایي:
-زه روس یم !
فرانسوي چې خپله ګوته د خپلې پزې په وړاندې ښوروله، وموسېد او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا کیسې دې نورو ته کوه، اوس به رښتیا خبره راته وکړئ، ډېر خوشاله یم چې خپل وطندار وینم !

فرانسوي بیا مخ پیېر ته ورواړاوه،داسې چې ګواکې له خپل ورور سره غږېږي او زیاته یې کړه:

-نو له دې سړي سره اوس څه وکړو؟

فرانسوي د څېرې په څرګندونې او د ځانګړي فرانسوي افسر په ادا ویل که پیېر فرانسوي هم نه وي، خو آن که یو وار هم دغه د نړۍ تر ټولو نه غوره او ویاړمن ویاړ(فرانسوي ګڼل) هغه ته وروبښل شو، بیا نو ده ته نه ښایي چې ځان ترې خلاص کړي.

پیېر د فرانسوي افسر د وروستې پوښتنې په ځواب کې وویل چې ماکارالکسیوویچ څوک دی، هغه یو لېوني نشیي دی او آن د هغوی،تر راتک نه مخکې دده تومانچه چې چوپړ سمه ځای پټه کړې نه وه، د هغه په لاس ورغلې وه.

فرانسوي ټټر وړاندې کړ، په شاهانه خوځېدا یې لاس وښوراوه، په درانه خو تند غږ یې وویل:

-تاسو زما ژوند وژغوره، تاسو فرانسوي یاستئ او تاسو غواړئ چې زه هغه وبښم؟ زه هغه ببښم، دا سړی بوزئ.

فرانسوي افسر پیېر چې ده خپل ژغورونکی باله، له تخرګ لاندې راونیو او په ګډه کورته ننوتل.

هغه سرتېرو چې د ډزو غږ په انګړ کې اوریدلي و، دهلیز ته ننوتل او پوښتل یې چې څه پېښه ده. هغوی دې ته چمتووالی ښوده چې ګنهکار ته جزا ورکړي،خو افسر په خورا مهربانه د هغو مخه ونیوله، آرام یې کړل او وې ویل:

-هرکله چې تاسو ته اړتیا پیدا شوه، درغږ به کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتېري ووتل، چوپړ چې له دې وخت نه په ګټې اخېستو بيا پخلنځي ته ننوتلى و، بېرته راستون، فرانسوي ته ور نېږدې شو او وې ويل:

-تورن صاحب ! د هغو په پخلنځى کې سوپ او د پسه سره شوې غوښه شته، امر کوئ چې راېې وړو؟

تورن وويل: هو کې، له شرابو سره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۹

کله چې فرانسوي افسر او پيير په ګډه کورته ننوتل، پيير غوره وګڼله چې يو ځل بيا فرانسوي افسر ته ډاډ ورکړي چې دی فرانسوي نه دی او غوښتل يې چې لاړ شي، خو هغه نه غوښتل چې د پيير خبرې واوري. هغه تر هغې کچې خواخوږی، مهربانه، زړه سواند او د خپلې ژغورنې له کبله منت باره و چې پيير نه شو کولای د هغه په خبره سترګې پټې کړي او له هغه سره. په هغه لومړنۍ کوټه کې چې دوی ورننوتلي و، کيننې..

فرانسوي چې د پيير ککړو خو نازک جامو او د هغه په ګوتې ګوتمۍ ته کتل، وويل:

-فرانسوي يې يا روسي شهزاده، هر څه چې يې زه د خپل ژوند د ژغورنې له امله ستا پوررړی يم او تا ته د دوستۍ لاس درغځوم. يو ربښتيني فرانسوی نه د چا سپکاوی هېروي، نه د هغه خدمت. هيله لرم چې زما درغځېدلی لاس کېښکاږې او نور نو څه ونه وايې.

د فرانسوي په غږ او د بشرې په حالت کې دومره خواخوږي او مهرباني نغښتې وه (د هغه په فرانسوي معنا سره) چې پيير د هغه خندا ته په خندا ځواب ورکړ او بې ارادې يې د هغه ورغځېدلی لاس کېښکود.

فرانسوي افسر چې کبرجنه موسکا يې د بريتو لاندې شونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونځې کولې، ځان پېير ته ور وپېژاند:

-تورن رامبال، د ديارلسم خفيفه غونډ پوځي، د سپټمبر د اوومې نېټې د جګړې په وياړ د مډال ګټونکی. (د روسي د پخوانۍ جنترۍ له مخې د بارادنيو د جګړې ورځ) زه ډېره خوشاله يم هرڅه چې و، که تاسو نه وای زه به د هغه لېوني د مرمۍ ښکار شوی وای، تاسو مهرباني وکړئ اوس راته ويلی شی چې له چا سره د خبرو وياړ لرم؟

پېير ځواب ورکړ چې نه شي کولای خپل نوم ووايي. تک سور واوښت. او ځانته د يوه نامه او يوې کيسې د جوړولو په فکر کې شو چې د نوم د ويلو علت په کې پټ کړي، خو فرانسوي سړي ژر د هغه خبره پريکړه او وې ويل:

-تاسو ناآرامه کېږي مه ! زه ستا په خبرو ښه پوهېږم، تاسو افسر ياست، کېدای شي لوړپوړی افسر، تاسو زموږ په وړاندې جنګېدلي ياست، زه ستا منت داره يم، تاسو زما ژوند ژغورلی دی، زه له همدې امله له تاسو نه خورا خوشاله او ټول ستاسو په چوپړ کې يم، تاسو د کومې مخورې کورنۍ ياست، کنه؟

پېير سرښکته خواته وښوراوه.

تاسو خپل نوم ووايا ست، نور نو زه بله پوښتنه نه لرم، تاسو څه وويل، ښاغلي پېير؟ ډېر ښه، همدا زما په کار واو بس.

کله چې د پسه د غوښې کباب، پخې شوې هګۍ، سماوار، ودکا، واين او هغه شراب چې فرانسويانو د روسي کورونو له زېرمځايو نه راخېستي و، ټول د سترخوان ته راوړل شول، رامبال پېير ته بلنه او ست وکړ چې دی دې په دې غرمنۍ کې له دوی سره ګډون وکړي. فرانسوي ځوان په خپله، هماغه شېبه کې، په وږسترګۍ او تلوار لکه د بل وږي ځوان په شان په خوړلو پيل وکړ. هغه هره مړۍ تر خپلو پياوړو غاښونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې په مزه مزه ژووله، خوله يې شړپېدله او پرله پسې يې ويل:
-خورا ښه ده، به بې سارې توګه ښه ده !
د هغه بشره تکه سره او وروسته هم خولې خولې شوه. پيېر هم چې وږی و، په خورا لېوالتيا يې له هغو سره ډوډۍ وخوړله..
د فرانسوي تورن ګېډه مړه شوې وه، شراب هغه زړور کړی و، هغه چې د ډوډۍ په ټوله موده کې يې خپلې غږېدا ته دوام ورکړ، وويل:
-هو کې زما مهربانه ښاغليه پيېره ! زه بايد د تا په وياړ له دې کبله يوم شمع ولګوم چې تاسو زه د دغه لېوني نه وژغورلم. پوهېږئ، زما بدن ډېرې ګولۍ خوړلې دي، د ا وينی (ځانته يې اشاره وکړه) دغه ګولۍ مې د واګرم د جګړې ټپ دی. دا بل ټپ بيا د سمولينسک د جګړې دی، دا پښه مې ګوره ! نه غواړې وخوځېږي. دا د مسکو په څنډو کې د سپتمبر په اوومه د بارادنيو د لويې جګړې سوغات دی. واه، واه، څه پرتمينه وه ! دا دې بايد ليدلای وای، يو اورنی باران و. لوی کار ته مو وهڅولو، بايد تاسو په ځان وويارئ.. زه چمتو يم، يو ځل بيا دا ټول راپيل کړم چې دا جګړه يې نه ده ليدلې، هغوی اصلاً جګړه نه ده ليدلې.. هرچا..
پيېر وويل:
- زه خپله په دې جګړه کې وم.
افسر وويل:
-ښه ! رښتيا وايې؟ ډېره ښه ده کنه؟ بايد اعتراف وکړو چې تاسو مېړني دښمنان ياستئ ! سخت مورچلونه مو جوړ کړي وو او په هغو کې څه جانانه جنګېدئ. بلا پسې، ورکه وه يې. موږ مو اړ کړو چې ډېره قيمته راته تمامه شي. هغه شان چې ګورئ زه هلته درې واره وم، درې واره، تر توپونو پورې ورسېدلو او درې واره يې لکه دلرګيونه د جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي سرتېري په شا وتمبولو. خدای دې ساتي، ستاسو ګرنادیران سیال نه لري. ما خپله په خپلو سترګو ولیدل چې شپږ ځله کربښې ماتې شوې، خو بېرته یې سره جوړې او داسې منظم شول لکه د پریټ لپاره. مېړني خلک دي. زموږ د ناپل ټولواک چې په دې چارو کې بې ساري تجربې لري، د هغو په لیدو چغې وهلې: ها ! ها ! تاسو زموږ ورونه یاست ئ سرتېرو !

هغه وخندل او تر یوې لنډې چوپتیا نه وروسته یې وویل:

-خورا ښه ! خورا ښه ! ښاغلیه پېیره ! فرانسویان په جګړه کې بې رحمه او له ښکلو سره خورا مهربانه دي، همداسې نه ده ښاغلیه پېیره !

د فرانسوي تورن خوښې تر هغې کچې له ساده والي او رښتینتوب سره ملګرتیا لرله او له ځان راضیتوب یې دومره بې اندازې و چې پېیر له خندا نه نېږدې و چې سترګک ته اړ وزي. پېیر په خوشالۍ هغه ته کتل. کېدای شي د ښکلو د زړونو لاس ته راوړل، دغه فرانسوي تورن ته د مسکو حالات ورياد کړل، هغه وویل:

-او، مهرباني وکړه، دا رښتیا ده چې له مسکو نه ټولې ښځې وتلي دي؟ عجیبه ده، دوی له څه شي ډارېږي؟

پېیر وخندل او وې ویل:

-که روسان پاریس ته ننوتي وای، فرانسوي ښځې به له هغه ښاره نه وای وتلې؟

فرانسوي چې په لمسوونکې شهواني بڼې خندل، پېیر یې په اوږه وواهه او وې ویل:

-ها، ها، ها، ته هم خبره کوه ! پاریس؟ نو پاریس.. پاریس..

او پېیر د هغه خبره وربشپړه کړه:

-او پاریس د نړۍ پلازمېنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورن، پېير ته وکتل. هغه دا عادت لاره چې د خبرو په منځ کې چپ شي او په خوشالۍ او مينه ناک غلچک هغه چا ته چې ورسره غږېږي وګوري.

هغه وويل:

-که تاسو ما ته ويلي نه واى چې روس ياست، زه به چمتو واى چې شرط وواهم چې تاسو پاريسي ياستئ، خو په هر حال په دې کې کومه خبره نه شته.

تر دغو ستاينو نه وروسته بيا چپ او هغه ته ځير شو.

پېير وويل:

-زه په پاريس کې وم او ټو کاله مې هلته ژوند کړى دى.

-آه، دا ځرګنده خبره ده، پاريس ! هر سړى چې پاريس ليدلى نه وي، هغه وحشي دى. پاريسي له دوه ميله لرې پېژندل کېږي، پاريس يعنې تالما، دوشنوا، پوتيه، سورين او باغي کوڅې..

د هغه دې ته پام شو چې وروستې خبرې يې تر لومړنيو هغو کمزورې وبرېښېدې، په تلوار يې زياته کړه:

-په ټوله نړۍ کې يو پاريس دى. تاسو په پاريس کې ژوند کړى دى، خو بيا هم روس پاتې شوي ياستئ، خو زما لپاره ستاسو درناوى هماغه دى، چې دى.

پېير د شراب څکلو او له دې امله چې په دې څو ورځو کې زورونکو او غمرلو خياڵونو کې را ايسار کړى و، بې ارادې يې ددغه خوشاله او نيک زړي سړي له خبرو خوند اخيست.

فرانسوي وويل: ښه اوس به، بېرته د روسي ښځو په هکله خبرو ته، راوګرځو ،وايي چې هغوى خورا ښکلې دي. دا به څه حماقت وي چې فرانسوي پوځ په مسکو کې وي او څوک لاړ شي په دښتو کې ځان خښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. هغوی داسې نیکمرغه بخت له لاسه ورکړ. ستاسو کلیوال بزګر خو خیر، خو تاسو پوه کسان باید موږ درک کړئ ! موږ ویانا، برلین، مادرید، ناپل، روم، وارسا، د نړۍ ټولې پلازمېنې مو لاندې کړي، له موږه خلک ډارېږي خو بیا هم ورته ګران یو. زموږ بښه پېژندنه هېڅ تاوان نه لري. او بیا ټولواک خو...

د پېیر پر بشرې د غم څپه راخوره شوه، د افسر خبره یې پرې کړه او وې ویل:

-ټولواک، په ټولواک څه شوي دي؟

-ټولواک، یعنې رحم، مهرباني، عدالت، نظم او نبوغ، هوکې ټولواک دغه شان دی. دا زه رامبال درته وایم. دغه شان چې کټ مټ مې وینې، زه اته کاله د مخه د هغه دښمن وم ! زما پلار یو کډوال ګراف و، خو دغه سړي زه د ځان تابع کړم، داسې تابع لکه یو اسیر چې څوک تابع کوي. زه د هغه ویاړ او پرتم په وړاندې ونه شم دریدی چې ده فرانسې ته وبانښه، کله چې ما هغه څه غوښتل، کله چې ما ولیدل هغه څه وایي او موږ ته د بري لارې آواروي، ما ځانته وویل: دغه ته ټولواک وایي او د هغه تسلیم شوم. هوکې، همداسې ده ! هوکې ګرانه ! دا د اوسنۍ او راتلونکو پېړیو تر ټولو ستر انسان دی.

پېیر له ګناه نه په ډکې ادا وویل: څه وایې، هغه په مسکو کې دی؟

فرانسوي د پېیر د ګناه نه ډک مخ ته کتل، وموسېد او وې ویل:

-نه، سبا ته یې د راتلو تکل کړی دی.

هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

د هغو مرکه، هغه شروشور ماته کړه چې له دروازې نه د څو غږونو په اوریدو واوریدل شول. مورل کوټې ته راننوت او تورن ته یې خبر ورکړ چې د ورتمبرګسکي سواره راغلي او غواړي خپل آسونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه انګړ کې ودروي چې هلته د تورن آسونه ولاړ دي. خو اصلي ستونزه په دې کې ده چې هغه په ژبه نه پوهېږي.

تورن، لومړی برید من راوغوښت او په قهرجن آواز یې له هغه نه وپوښتل چې څوک دی؟ کوم غونډ پورې اړه لري؟ قوماندان یې څوک دی، او څنګه یې ځان ته دا اجازه ورکړې هغه ځای لاندې کړي چې لا د وخته بل چا لاندې کړی دی؟

لومړیو دوه پوښتنو ته الماني افسر چې په فرانسوي ښه نه پوهېده، ځوابونه وویل، خپل غونډ یې یاد او د قوماندان نوم یې وو ایه، خو په وروستي پوښتنې پوه شوی نه و. ماتې ګوډې فرانسوي او الماني کلمې یې سره ګډې وډې کړې، ځواب یې ورکړ او وې ویل چې د خپل غونډ د جایدادونو د چارو مسوول دی او قوماندان یې ورته ویلي دي چې ټولې ودانۍ له یوې مخې لاندې کړي. پیېر چې په الماني ژبه پوهېده.. تورن ته د الماني خبرې وژباړلې او هغه الماني افسر ته یې هغه څه وویل چې تورن ویلي و. الماني افسر په خبره پوه شو، اطاعت یې وکړ او خپل کسان یې له انګړ نه وویستل. تورن له کوټې راووت، د زینو پر سر ودرېد او په لوړ آواز یې څه سپارښتنې ورکړې.

کله چې هغه بېرته کوټې ته راستون شو، پیېر په هماغه ځای کې چې مخکې ناست و، همالته ناست او خپل سر یې په لاسونو کې کلک نیولی و. د هغه پر بشرې د غم څپې خورې وې. هغه په رښتیا په دې شېبو کې زوریده. کله چې تورن ووت او پیېر یوازې پاتې شو، هغه ته ناڅاپه خپل دریځ وریاد شو او په خپل هغه حالت پوه شو چې اوس دی په کې راګیر و. نه دا چې مسکو دښمن ولکه کړی و، نه دا چې د غو نیکمرغو فاتحانو پر هغه واکمني کوله او آن پر ده یې هم حکم چلاوه، ددې ټولو لیدل او احساسول د پیېر لپاره خورا عذابوونکي وو، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم دده اصلي درد... دا و چې ځنګه خپل ارمان ته ورسېږي او خپل تکل تر سره کړي. د هغه تومانچه، توره او کلیوالي کالي چمتو و او ناپلیون هم سبا ته مسکو ته رارسېده. پېیر اوس هم د دغه جاني وژل ګټوراو ښه کار ګاڼه، خو داسې یې انګېرله چې دغه کار به اوس نه کوي، ولې؟ هغه نه پوهېده، خو دا یې احساسوله چې ګواکې خپل تکل نه ترسره کوي. هغه د خپلې دغې ناتوانۍ په وړاندې جنګېده، خو په تته ښه ورته برېښېده چې د نفس په وړاندې به په دغې جګړه کې بریالی نه شي.

د وژنې، غچ او سرښندنې په اړه د هغه پخواني غم لړلي او خواشیني خیالونه د لومړي سرې په لیدو لکه د باد وړیو ایرو او دوړو په شان تري تم شوي وو.

فرانسوي تورن چې ګوډ ګوډ کېده او کومه سندره یې تر شونډو لاندې ویله کوټې ته راننوت. هغه فرانسوي چې د مخه یې خبرو خوند ورکاوه، اوس ورته کرکجن وبرېښېد. د هغه سندره، د هغه ګوډ ګوډ تګ، د هغه د بریتو تاوول، ټول او ټول پېیر ته سپکاوی برېښېده. پېیر ځانته وویل:

زه اوس تر ې ځم، نور به له هغه سره یوه خبره هم ونه کړم.

هغه په همدې خیالونو کې ډوب و او همالته چې ناست و، ناست و.

د ناتوانۍ کوم عجیب احساس په خپل ځای کې کلک کینولی و. هغه غوښتل چې پاڅي او لاړ شي، خو نه یې شو کولای.

تورن د پېیر برخلاف خورا خوشاله برېښېده او دوه ځله په کوټه کې ښکته پورته وګرځېد. سترګې یې ځلېدلې، بریتونه یې نرم نرم ښورول. داسې برېښېده چې ګواکې دی خپله له ځانسره پر کوم څه خاندي.

ناڅاپه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا د ورتمبرګسکیانو ډګروال یادوم ! سره له هغه چې الماني دی، بیا هم بد سړی نه دی ! هو کې، هغه الماني دی.

راغی او پیېر ته مخامخ کېناست.

-رښتیا داسې ښکاره شوه چې تاسو په الماني هم پوهېږئ؟

پیېر پرته له هغه چې څه ووایي، هغه ته کتل.

-د پټېدو ځای ته په الماني څه وایي؟

پیېر د هغه پوښتنه تکرار کړه: د پټېدو ځای؟ د پټېدو ځای ته په الماني یونترکونفت وایي.

تورن په نه ډاډمن آواز او تلوار وویل:

-څنګه؟ یو وار بیا یې ووایه !

پیېر تکرار کړه: یونتیرکونفت.

تورن وویل: یونتیرکونفت. او څو شېبې یې په موسکا موسکا پیېر ته کتل، خو په پای کې یې وویل:

-دا المانیان هم عجیب څناور دي، رښتیا نه وایم ښاغلیه پیېره؟

هغه وویل:

-اوس به یو بل بوتل مسکوي بوردو شراب راوړي، څنګه؟ مورل به مو به یو بل بوتل راته تاوده کړي او چغه یې کړل:

-مورل !

مورل یو بل بوتل شراب او یوه شمعه راوړل. تورن د شمعې تر رڼا لاندې، پیېر ته کتل او داسې بریښېده چې له هغه سره دده د مرکچي غم لړلې څېرې او خواشینۍ دی حیرانه وي، د رامبال په څېره کې هم د رښتینې خواخوږۍ او غم نښې راڅرګندې شولې، پیېر ته ورنږدې شو، سر یې ورټیټ کړ، د هغه مړوند یې راونیو او پوښتنې یې ترې پیل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا څه شی دي، خواشیني یو؟ کېدای شي، ما خپه کړی یې؟ نه، نه، ربښتیا ووایه، کېدای شي له ما نه څه تېروتنه شوی وي؟ یا کېدای شي د جګړې له غمه وي؟

پېیر که څه هم هغه ته ځواب ونه وایه، خو په مینه یې د فرانسوي سترګو ته کتل، دده لپاره د فرانسوي د خبرې دغه حالت ښه پوهېدو وړ و.

تورن وویل:

-که ربښتیا درته ووایم، زه ستا د منت پوروړی یم، زه ستا سره د دوستۍ احساس کوم. دا راته ووایه چې آیا تا سوته زه کوم خدمت کولای شم؟ زه ستاسو په چوپړ کې یم. د مرګ او ژوند، هره خبره چې وي. لاس یې پر زړه کېښود او زیاته یې کړه:

-زه دا خبره د زړه له کومې کوم.

پېیر وویل:

-مننه کوم !

تورن ، پېیر ته هماغه شان کتل، لکه هغه وخت چې هغه د پټېدو د کلمې په معنا په الماني پوه شوی، د هغه څېره ناڅاپه وغوړېدله.

فرانسوي دوه پیالې له شرابو ډکې کړې او په خوښۍ یې چغې کړې:

-چې داسې ده، نو زه یې د خپلې دوستۍ په ویاړ څکم.

پېیر جام پورته کړ او پر سر یې واړاوه. رامبال هم خپله پیاله تشه کړه، بیا یې د پېیر لاس کېښکوده، په خواشینۍ او په نشه یې ډول یې پر مېز څنګل ووهله او وې ویل:

-هوکې ګرانه ! ژوند هم څه لوبې لري. چا کولای شو دا تصور وکړي چې زه به سرتېری شم او د ناپلیون په چوپړ کې پوځي و اوسم؟.. وینئ؟ د هغه په چوپړ کې مسکو ته راغلی یم. هغه په خواشینۍ خو زغرده ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه چا په شان چې غوا ړي لويه کيسه ووايي، خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

-زه بايد تاسو ته ووايم چې زموږ کورنۍ د فرانسي يو خورا مخوره لرغونې کورنۍ ده.

هغه د زړه له کومې او فرانسوي سادګۍ د خپلو نيکونو، د خپل ماشومتوب، د زلميتوب، روغتيا، خپلو خپلوانو، شتمنيو او کورنيو اړيکو په هکله کيسې ورته وويلې. هغه زياته کړه چې په دې ټولو خبرو کې يې د خداى ښنلې مور ونډه تر ټولو زياته اغېزمنه وه.

هغه زياته کړه:

-خو دا ټولې خبرې، يوازې ژوند ته د ننوتلو درشل دى، خو د ژوند جوهر بل شى دى، هغه مينه ده ! مينه، دا سې نه ده، ښاغليه پيير ه !

هغه خپل آواز لا پسې لوړ کړ او وې ويل:

-يو بل جام !

پيير هغه جام پر سر واړاوه او ځانته يې بل جام ډک کړ.

-آه، څه ووايم، ښځې، دا ښځې !

فرانسوي لکه چې په کوچو کې يې سترګې غوړې او ځلېدلې وي، پيير ته په کتو کتو کې د مينې او د خپلې مينې داستانونه پيل کړې. دا کيسې ډېرې او په آسانۍ د باور وړ وې. د هغه ښکلې خبرې، ځانستاينې د ښځو په اړه د هغه د خبرو ولولو او تلوسو په پام سره داسې په آسانۍ د باور وړ وې. که څه هم د رامبال د مينې ټولې کيسې داسې وې چې فرانسويان په هغه کې د مينې ښکلا او شعر وينې. تورن خپلې کيسې داسې د زړه له کومې او ګروهمنه بڼه ويلې چې ګواکې يوازې دى، دى چې د مينې داسې له خونده ډک خوند يې څکلى دى. هغه ښځې داسې ستايلې او انځورولې، چې پيير په خورا ځير هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوږ نیولی و.

داسې ښکاریده هغه مینه چې دغه فرانسوي یې لېوالـه و، نـه هغـه ټیټه او مهربانۍ نه لرې. هغه، مینه چې هغه، هو هغه چې یو وخت پېیر له خپلې ښځې سره لرله او نـه هغـه لوړه شـاعرانه مینـه ده چې ده پـه زړه کې له ناتاشې سره کوله (رامبال دغو دواړو مینـو تـه پـه یوه او هغـه هم سپکه سترګه کتل، یوه یې د ګاډیوانانو او بلـه یـې د سـادګانو مینـه ګڼله) هغه مینه چې فرانسوي هغه غوره ګڼله، زیاتره لـه ښـځو سره غیـر طبیعي اړیکي او دوکې وې چې خورا ښه احساسات یې رامنځ تـه کـول. د هغـه د مینـې پـه داسـتانو کـې یـو هـم لـه زړه راښـکوونکی ۳۵ کلنـې مارکیز او هـم مهالـه د هغـې لـه ۱۷ کلنې زړه راښـکوونکې لـور سره دده مینه وه. له ده سره د مور او لـور د مینـې سیالي پـه دې پـای تـه ورسېده چې مور ځان ځار کړ، په خپلې مینې یې سترګې پټې کړې او خپلـه لـور یې خپل لونډ ته ورکړه. لور یې ددې له لونډ سره واده وکړ. که څه هم دغه داستان خورا پخوا تېر شوی و، خو تورن هغه په خورا خونـد وایـه او پـه ویلو یې لا تر اوسه هم احساساتي کېده..

وروستی داستان یې په پولند کې تېر شوی و. دا کیسـه لا تـازه وه او ده تـه ښـه پـه یـاد وه. هغه، دغـه کیسـه پـه چټکـې خوځېدا او ورنـۍ مـخ کوله. کیسه داسې وه چې هغه د یوه پولنډي ژوند ژغورلی و. (په ټولیزه توګه ددغه فرانسوي تـورن پـه کیسـو کـې د یـو چـا ژونـد ژغـورل کېـده) دغه پولنډي چې دغه تورن د هغه ژوند ژغورلی و، کله چې د فرانسې په پوځ کې خدمت پیل کړی و، خپلـه زړه وړونکې ښـځه یـې ده تـه سـپارلې وه. تورن ځکه ځان نیکمرغه ګاڼه چې دغې زړه وړونکې او ښکلې ښځې غوښتل چې له ده سره وتښتي.. خو دا چې دی د لـوی زړه او پـت خاونـد وه، ده، دغـه ښـځه ببرتـه خپـل پولنـډي مېـړه تـه ورسـپارلې وه. تـورن

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولنډي ته ویلي و:

-ما یو وار ستا ځان ژغورلی او دا وار دې عزت ژغورم. کله چې تورن دغه خبرې کولې، خپلې سترګې یې مښلې او سر یې ښوراوه ګواکې هغه غوښتل هغه ناتواني له ځانه لرې کړي، چې د دغو خبرو د ویلو په وخت کې پر ده راخوریده.

پییر د تورن د کیسې تر اوریدو وروسته، لکه هغه شان، په تېره بیا چې ماښام ناوخته چې د شراب تر څکلو وروسته کېږي، د تورن خبرو ته ښه غوږ او په هر څه ښه پوهېده، خو له دې سره هم مهاله ده ته ناڅاپه ولې خپل ځېنې یادونه هم ورياد شول. کله چې هغه د مینې دغه کیسې اورېدې، ده ته ناتاشا او له هغې سره خپله مینه وریادده او په خیال کې یې دغه مینه د رامبال له هغه سره پرتله کړه. له مینې سره د سیالۍ دندې ته په پام، ده ته د سوخاروف برج ته نږدې له ناتاشې سره خپل وروستی دیدن او د هغه ټول یادونه وریاد شول. دغه دیدن هغه وخت پر ده کوم اغېز نه و کړی، هغه هېڅکله هغه آن یو وار هم رایاد کړی نه و، خو اوس هغه ته داسې برېښېده چې هغه دیدن خورا اغېزمن او شاعرانه و.

پییر ته داسې برېښېده چې د ناتاشا خبرې چې ده ته یې ویلي و، اوس یې اوري:

-پیوتر کیریلېوویچ! دلته راشئ، ما تاسو وپېژندئ، هغه د خپلو سترګو په وړاندې، د هغې سترګې د هغې موسکا، سفري خولۍ او له هغې نه د هغې د ویښتو راوتلي کوڅۍ لیدل...

او په دې ټولو کې هغه ته څه زړه راښکوونکي او مینه ناک څه راڅرګندیدل. فرانسوي تورن چې کله د پولنډي زړه وړونکې ښځې داستان پای ته ورساوه، له پییر نه یې وپوښتل چې هغه هم کله د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معشوقې د مېړه په وړاندې د رخې او سربښندنې دغه شان احساس احساس کړی دی او کنه؟

دغې پوښتنې پېيريوې آزموينې ته را بللی و، هغه سر پورته کړ او دا سې يې احساس کړه، هغه څه وو ايي چې دده خيالونه او زړه يې خپل کړي وو ،نو هماغه و چې هغه په خبرو پيل وکړ او وې ويل چې له ښځې سره مينې کول دده لپاره بله معنا لري. هغه وويل چې هغه ته په ټول ژوند کې يوه ښځه ګرانه وه او ګرانه به وي او دا ښځه به هېڅکله دده نه شي.

تورن وويل: دا څه وايې؟ عجيبه ده !

وروسته پېيير وويل چې هغه ته دا ښځه له تنکی زلميتوبه ګرانه وه، خو ده ځکه نه شو کولای د هغې په اړه فکر وکړي چې هغه خورا ځوانه او دی هم حرموني، بې نومه زوی و. او بيا وروسته چې دی د نوم او شتمنۍ خاوند شو، بيا يې هم د هغې په اړه فکر نه شو کولای دا ځکه چې هغه ډېره ورته ګرانه وه، دا ځکه چې هغه يې په نړۍ کې تر هر څه نه لوړه ګڼله، په تېره بيا هغه يې تر ځانه هم غوره او لوړه ګڼله. کله چې پېيير خپل نقل دې ځای ته راورسوه، هغه مخ تورن ته ورواړاوه او وې پوښتل چې دی په دې پوهېږي او کنه؟

تورن داسې وخوځېد چې ګواکې آن که نه پوهېږم هم دی هيله لري چې بايد پېيير خپل نقل ته دوام ورکړي.

پېيير وبنګېد او ترشونډو لاندې يې وويل:

-معنوي غير شهواني مينه، پر وريځو ګرځېدل.

اوس د شراب تراغېز لاندې و، يا يې غوښتل زړه تش کړي يا ددې تصور له امله چې دغه سړی به هېڅکله دده د مينې د داستان يو لوبغاړی هم ونه پېژني، يا دې ټولو په ګډه د پېيير ژبه جاري کړې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په پرانسته خولې او ځيرمنو سترګو کوم ځای ته ځير و. کتل يې او خپله ټوله کيسه يې ويله، د خپل واده راز يې راسپړه او دده له خورا نېږدې ملګري سره د ناتاشا مينه دده له دوست سره د ناتاشا خيانت او له هغې سره د خپلې خواخوږۍ او مينې په اړه يې خبرې کولې.

د رامبال پوښتنو دې دې ته وهڅوه چې ټول هغه څه، خپل ټولنيز دريځ، آن خپل نوم چې ده په پيل کې پټ کړی و، هغه ته په ډاګه کړي، خو تر ټولو نه زيات فرانسوي تورن د پيير په خبرو کې دې ټکي حيران کړی و چې پيير خورا بډای او په مسکو کې دوې ماڼۍ لري هغه دا ټول پرېښي، خو هغه له مسکوه وتلی نه دی او خپل نوم او دريځ يې هم پټ کړي دي.

د شپې ناوخته هغوی دواړه په ګډه کوڅې ته ووتل، شپه رڼه او توده او د واټ په چپه خوا کې د پتروفسکا په کوڅه کې په مسکو کې د لومړني اورلګېدو لمبو آسمان رڼا کړی و. ښۍ خوا ته د نوې مياشتې فولادي لور ولاړ و او سپوږمۍ ته مخامخ هغه روڼ ستوری چې د پيير په زړه کې يې د مينې خيالونه راوېښول، ولاړ و. ګراسيم، آشپز او دوه فرانسويان، د دروازې مخې ته ولاړ وو. د هغوی خندا او يو بل ته په نه پوهېدونکي ژبې د غږېدا غږ له ورايه اورېدل کېده. هغوی هم د هغه اور لمبو ته چې ښاريې رڼا کړی و، کتل. په دې لوی ښار کې دوی دغه نه چندان لرې لوی اور ګواښمن کړي نه و.

پيير له ستورو لوړ ډک آسمان، سپوږمۍ، راڼه لکۍ لرونکي ستوری او په ښار کې لګېدلي اورته په کتلو سره په ګوګل کې د خوښۍ او مينې احساس کاوه، هغه په زړه کې ويل:

-ګوره ! څومره ښه ده، نور نو څه غواړئ؟

خو ناڅاپه هغه ته خپل تکل ورياد شو، سر يې وګرځېد، حال يې بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول شو، داسې بل ډول چې اړوت دیوال ته ډډه ولګوي، چې ونه لوېږي.

پرته له هغه چې له خپل نوي آشنا سره مخه ښه وکړي، پېير په رېږدېدونکو ګامونو له دروازې ووت، خپلې کوټې ته ستون شو، په کټ کې ولوید او سمدلاسه خوب یووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۰

له ببلا ببلو لارو نه د مسکو نه تښتېدونکو او سېدونکو او شاته تلونکو پوځيانو، د سپتمبر په دويمه په دې ښار کې د لومړي لګېدلې اور لمبو ته کتل.

د رستوف د کورنۍ ریل په هغه شپه د مسکو د شمال ختیځ په شل ورستۍ (۱. ۰۲ K) کې د میتیشي په سیمه کې ولاړ و. د سپتمبر په لومړۍ نېټه لږ څه په ځنډه ځکه وخوځېدل، چې نورو کاروانونو، پوځي ډلو لارې بندې کړې وې هېر شوي کالي او کپړې هو مره زیات وو چې هغه پسې دلېږل شوي کسانو د رارسېدو په تمه، دوی اړوتل هغه شپه د مسکو د ځنډه و په ۵ ورستۍ واټن کې تېره کړي. بل سهار ریل ډېر ناوخته وخوځېد او تم ځایونه دومره بې شمېره وو چې دوی متې تر لویې میتیشي پورې ورسېدل. په لسو بجو د رستوف د کورنۍ ښاغلي غړي او هغه ټپیان چې له دوی سره ملګري وو، د یوه نه لرې کلي په ماڼیو او کورونو کې مېشت شول. چوپړانو، د رستوف د کورنۍ څاروانیانو د ټپیو وړونکو ګاډیو ګاډیوانانو، وروسته له هغه چې اربابانو او افسرانو ته یې ډوډۍ ورکړه، نوره اړتیا یې نه لرله، دوی هم ډوډۍ وخوړله، آسونو ته یې واښه واچول او لاړل برنډې ته ووتل.

د رایوفسکي ټپي یاور په ګاونډه کوټه کې پروت و، د هغه لاس مات شوی و، لېونی درد او خوږو هغه زګیروی ته هڅاوه او دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زګیرویو د شپې په تیاره کې زورونکې او ډارونکې بڼه درلوده. دغه یاور لومړی د شپه په هماغه کور کې ویده شو چې رستوفیان ځای پر ځای او ویده وو. ګرافینې وویل چې د دغه سړي له زګیروی نه یې سترګې نه شوي پټولې او د میتیشي یوه تر ټولو خراب کورته هغه ځکه راغله چې له دغه ټپي نه لرې واوسي.

یو تن چوپړ چې د دهلیز د دروازې د زینو تر ځنګ د ګاډۍ تر شا ولاړ و، د یو بل لګېدلي اور رڼا یې ولیدله. هغه بل اور له پخوا نه لیدل کېده او ټول په دې پوهېدل چې په کمکۍ میتیشه کې اور لګېدلی دی. اور هلته مامونفسکي قزاقانو لګولی وو.

د افسر چوپړ وویل:

-ورونو! دا هم یو بل اور!

ټولو د اور شغلو ته وکتل.

-هوکې، وینئ! کمکی میتیشه ته مامونفسکي قزاقو اور ورته کړی دی.

-نه، نه دا میتیشه نه ده، لرې ده.

-وګورئ! په مسکو کې دی.

دوه ته چوپړان له زینو نه راکوز، له ګاډۍ نه تاو او د ګاډۍ پر زینو کېناستل..

یو تن وویل:

-ګوره! عجب سوځي! نه ښاغلو! دا باید مسکو وي؟ دا د سوشوفسکایا پلو ته دی. او یا په روګوژشکایا کې دی؟

چا دغو پوښتنو ته ځواب ورنه کړ، دغه خلک تر ډېرو پورې خاموشه پاتې شول او هغه نوي اورته یې کتل چې شغلې یې دم په دم زیاتېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا دانیلو تیرینتیچ چې د ګراف ځانګړی چوپړ و او ټولو هغه په همدې نامه یاداوه، دغې ډلې ته رانږدې شو او میشکا ته یې ورغږ کړ:

-تا ونه لیدل، احمقه ! ګراف پوښتنه کوي، ځه لاړ شه کالي ټول کړه.

میشکا وویل: هو ! زه یوازې اوبو پسې ووتم.

یو تن له چوپړانو نه وویل:

-دانیلو تیرینتیچ تاسو څه فکر کوئ؟ دا اور په مسکو کې دی؟

دانیلو تیرینتیچ هېڅ ونه ویل او تر ډېرو پورې همداسې چپ پاتې شو.

د اور شغلې شېبه په شېبه خوریدې او لوړېدې.

یو غږ بیا واوریدل شو: خدای دې رحم وکړي، هر څه وچ او باد هم لګېږي.

-ګورئ ! څه حال دی او خدایه ! اور له ورایه ښکاري، لویه خدایه پر موږ ګنهکارانو رحم وکړه !

-مږ به یې کړي، فکر مه کوئ !

دانیلو تیرینتیچ چې تر هغه پورې خاموشه پاتې و، آواز پورته کړ او وې ویل:

-څوک به یې مړ کړي؟ د هغه غږ آرام او کرار و:

-مسکو دی، ورونو ! زموږ سپین مخې ادکه ! د هغه غږ پرې پرې شو او د بوډا په شان ژړا زګیروی یې پیل کړ. داسې بریښېده چې دوی ټول دې ته سترګه په لاره وو، د هغه څه په معنا پوه شي چې دغه لرې لګېدلی اور ددوی لپاره لاره. د ګراف د بوډا چوپړ د زړه له کومې زاری او ددعا آوازونه، د هغه د ژړا او نارو سورو سره مل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۱

چوپړ چې راستون شو ، ګراف ته يې وويل چې مسکو او راخېستی دی. ګراف خپل کميس واغوست او د باندې ووت چې خپله يې وګوري. له هغه سره مل سونيا چې لا جامې يې نه وې بدلې کړې او مېرمن شوس هم د باندې ووتل. ناتاشا او ګرافينې په کوټه کې يوازې پاتې شول. (پيتيا نور نو له کورنۍ سره نه و ، هغه له خپل غونډ سره وړاندې، تر تريوخې ته تللی و ).

ګرافينې چې د مسکو د سوځېدو خبر واورېد ، وې ژړل. ناتاشا چې رنګ يې الوتی او سترګې يې لويدلې وې، تر شمايل لاندې پر څوکۍ (هماغه ځای کې چې د راننوتلو په وخت کې ناسته وه ) پاتې وه. هغې د پلار خبرې ته هېڅ ډول پاملرنه ونه کړه او د چوپړ زاريو او ژړاوو ته چې درې کورونو نه لرې اورېدل کېدې، غوږ نيولی و.

سونيا چې وېرې او يخنۍ پسې اخېستې وه، له انګړنه بېرته راستنه شوه، وې ويل:

-وای وای چې څومره وحشتناکه ده ! فکر کوم ټول مسکو سوځي، هغې زياته کړه:

- ناتاشا راشه وګوره ! اوس له دې کړکۍ نه هم ښکاري،خو د ناتاشې سترګې داسې وې چې ګواکې نه پوهېږي هغې ته څه وايي او بيا يې د بخارۍ پلو ، کوم ځای ته کتل. ناتاشا له هماغه سهار راهيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې معلومه نه وه ولې سونیا د ګرافینې د مخالفت سره سره دا ورګډلې وه چې د سرداراندرې د ټېپي کېدو او دا چې هغه له دوی سره، په همدې کاروان کې دی، ورته ووایه، هکه پکه وه او نور هر څه ترې هېر شوي وو. داسې ډېره کمه برېښېده چې ګرافینه دې په سونیا داسې سخته په قاره شي. سونیا ژړلې و، ښنه یې غوښتې وه او اوس د خپلې ګناه او تېروتنې د جبران لپاره د ناتاشا، شاوخواته ګرځېده او د هغې څارنه یې کوله، هغې ناتاشا ته وویل:

-ناتاشا وګوره ! څه وحشتناکه سوځي !

ناتاشې ځواب ورکړ:

-څه شی سوځي؟ اخ، هوکې، مسکو.

ددې لپاره چې نه په خپل ځواب سونیا خفه کړي او یا هم له هغې نه لرې شي، سر یې د کړکۍ خواته وروا ړاوه، هغې خواته یې داسې وکتل چې ګواکې هېڅ شی لیدای نه شي او بېرته په خپل پخوانی حالت کېناسته.

-ښه تا ونه لیدل؟

هغې په زارۍ وزمه او آرامه بڼه وویل:

-نه، رښتیا وایم، ومې لیدل.

ګرافینه او سونیا دواړه پوهېدل چې مسکو، د مسکو سوځېدل او نور بل هر څه چې وای، البته د هغو لپاره ارزښت نه لاره.

ګراف بیا شا پلو لاړ او هلته وغځېد. ګرافینه ناتاشې ته ورنېږدې شوه، د لاس په شا یې هغه پر سر ونازوله هوکې ! ده به هروخت چې لور به یې ناروغه وه، نازوله. بیا یې خپلې شونډې په کراره د هغې پر تندي ځکه ورکېښودې چې وګوري هغه تبه لري او کنه؟ او بیا یې مچ کړه.

هغې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ستا سارہ شوي دي، ته ټوله ربړدې، ښه به دا وي چې ویده شوې وای.

ناتاشې وویل: ویده شم؟ ښه ده، زه به ویده شم، زه به اوس ویده شم.

له هغې شپې چې نن سهار یې ناتاشې ته وویل، چې سرداراندرې سخت ټپي او په همدې کاروان کې له دوی سره روان دی، لومړی یې دا پوښتنې ګروېږنې کولې چې چېرې، څنګه، آیا ټپ یې ګواښمن دی؟ آیا کولای شي هغه ووینې؟ خو کله چې یې هغې ته سره وویل چې د ټپي د ټپ د سختۍ له امله ،هغه څوک لیدلای نه شي، خو ښه خبره داده چې ژوند ته یې ګواښ نه شته، هغې په دې خبره باور ونه کړ ،ځکه هغه ډاډمنه شوه وه چې هره پوښتنه چې دایې وکړي،له دې پرته به بل کوم ځواب وانه اوري. ،چې ورته ووایي ،هغه ښه دی،نور یې نه کومه پوښتنه وکړه او نه کومه خبره. د ټولې لارې په اوږدو کې په شکمنو غلچکو او هغو کتلو چې د ګرافینې لپاره خورا آشنا و او دا د هغې له دغه شان حالته ډېره ډاریده، د هغه شپې د حالت په شان چې آرامه او بې خوځېدا به د شمایل په وړاندې ناسته وه، د ګاډۍ په کنج کې ناسته وه. تل په چرت کې وه، داسې تصور کېده چې کوم تکل وکړي او یا کېدای شو چې وخته به یې لا دا تکل کړی وي. ګرافینه په دې پوهېده،خو په دې نه پوهېده چې هغې به له ځانسره څه پریکړه کړې وي او همدې خبرې نه دا ډاریده او زوروله یې.

ګرافینې هغې ته ویل:

-ناتاشا ! جامې دې بدلې کړه د زړه سره ! راشه زما پر کټ ویده شه ! یوازې د ګرافینې لپاره کټ جوړ شوی و ،مېرمن شوس او دواړه نجونې پر ځمکه د وچو وښو پر سر ویدې کېدې.

ناتاشې په خواشینۍ سره وویل: نه مورې ! زه غواړم همدلته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاګ ویده شم. د کړکۍ خواته ورغله، او هغه یې را خلاصه کړه، د خلاصې کړکۍ نه د چوپړ دزګیروي غږ له ورایه اوریدل کېده. ناتاشې سر له کړکۍ نه وویست، هوا خړه پړه وه، ګرافینې لیدل چې د لوړ نرۍ غاړه یې ځنګه له سلګیو او ژړا نه رپېږدي او د کړکۍ په چوکاټ لګېږي. ناتاشا په دې پوهېده چې دا زګیروي د سرداراندرې نه دی. هغه په دې پوهېده چې سرداراندرې د دوی د کور په خوا کورکې چې د یوه دالان له لارې د دوی کورسره نښتی پروت دی.

خو دغو وحشتناکو نه آرامه کېدونکو زګیرویو، د هغې ژړا او سلګۍ لا پسې زیاتولې. ګرافینه به له سونیا سره سترګو په سترګو شوه.

ګرافینې د ناتاشې اوږو ته لاس ور وړ او وې ویل:

-ویده شه ګرانې! زما د زړه سره ویده شه! تا ته وایم نو ویده شه!

ناتاشې په تلوار جامې بدلولې، د خپلې لمنې تڼۍ یې په چټکۍ خلاصولې، کمیس یې له غاړې وارتېره او د خوب کالي یې واغوستل. پښې یې راټولې کړې او په ډاګ هغې ته په جوړ شوي بستر کېناسته. هغې له اوږو نه، خپلې نه چندان اوږدې نرۍ کوڅۍ مخې ته راواړولې او هغه یې بیا واوبدلې. د هغې نریو اوږدو او معمولي ګوتو په چټکۍ او مهارت کوڅۍ راټولولې او اوبدلې. د ناتاشا سر په عادي بڼه کله یوې او کله بلې خواته خوځېده، خو د هغې له تلواره تبې اخېستو، نه خوځېدونکو سترګو مخامخ چېرته کتل. کله چې د شپې سینګار پای ته ورسېد ناتاشا په آرامۍ پر هغه بستر چې پر ډاګ، پر وچو وښو د انګړ په کنج کې دې ته جوړ شوی و، وغځېده.

سونیا وویل: ناتاشې ته په منځ کې څمله.

ناتاشا وویل: نه، نه، زه همدلته څملم. هغې په خواشینۍ زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو څملی، او هغې مخ په بالښت پټ کړ.

ګرافینې، مېرمن شوس او سونیا په چټکۍ جامې بدلې او څملاستې، په کوټه کې یوه شمعه پاتې شوه، خو د باندې د هغه اور د لمبو نه چې کمکۍ میتیشې کې د دوو ورستو په واټن لګېدلی و، هوا رڼا کړې وه، د واټ آ پلو میکدې نه چې مامونفسکې قزاقانو ورانه کړې وه، د نشیانو شروشور د خلکو شورماشور او د چوپړ د زګیروی غږونه راتلل.

ناتاشا تر ډېرو پورې هغو غږونو ته چې له انګړ نه د باندې او د ننه راتلل غوږ وه. له ځایه نه ښوریده، هغې لومړی د خپلې مور د دعا او زاریو او د هغې لاندې د کټ د شرقېدو شروشور واورید. بیا یې د مېرمن شوس د خرپهاري غږ چې له اور سره آشنا وه او وروسته تر هغه د سونیا د نرمې ساه وېستلو آوازونه واورېدل. ګرافینې پر ناتاشې غږ وکړ، خو هغې یې ځواب ورنه کړ.

سونیا په آرامۍ ځواب ورکړ: مورې داسې ښکاري چې ویده ده.

ګرافینه څو شېبې خاموشه وه، بیا یې غږ وکړ، خو دا وار یې هېڅ چا ځواب ورنه کړ.

لا څو شېبې تېرې نه وې چې د مور د ساه اېستلو پر له پسې منظم غږونه واورېدل شول، که څه هم د ناتاشې وړې پښې د بړستنې لاندې راوتلې او پر ساړه ډاګ پرتې او یخې شوې وې، خو دا هېڅ نه ښوریده.

د دیوال له سوري نه د چرچوړۍ اواز پورته شو، داسې بربښېده چې ګواکې پر نورو یې د خپل برې سندرې پیل کړې. چېرته لرې کوم چرګ اذان وکړ او دلته نېږدې بل هغه د هغه ځواب ورکړ. په میخانه کې د نشیانو شروشور آرام شو، خود چوپړ د زګیروي غږ هماغه شان انګازه کوله. ناتاشا په بستره کې کېناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بنګهاري یې وپوښتل:
-سونیا ته ویده یې؟ موري؟ هېڅ چا ځواب ورنه کړ. ناتاشا په کرار او خورا احتیاط پاڅېدله، پر ځان یې صلیب وکېښ، لوڅې نازکې او بربنډې پښې یې پر ساړه او ناولي ډاګ کېښودې. په ډاګ د فرش شویو تختو شغهاري پورته شو. ځوګامه یې د پیشو په شان یې منډې کړې او د دروازې سره کړۍ راونیوه. هغې ته داسې برېښېده چې یو کوم درونند او سندریز او یو رنګه شی پر ټولو دیوالونو لګېږي. دا ددې رپېدونکی زړه و چې له مینې او وحشت نه درزیده.
دروازه یې خلاصه کړه، له هغې واوښته او پر ساړه او لامده دهلیز یې قدم ورکېښود. سړو هغه راتازه کړه. بربنډه پښه یې په ویده سړي کې ونښته، له هغه واوښته د هغې کوټې دروازه یې پرانسته چې سرداراندرې هلته پروت و. په کوټه کې تپه تیاره وه. د کوټې په کنج کې یو کټ ولاړ و چې کوم شی پرې پروت و او د هغه څنګ ته پر ولاړې اوږدې ځوکۍ یو لویه شمع لګېده. شمعه دډېرو سوځېدو او ویلیدو له امله لکه مرخړۍ داسې برېښېده.
ناتاشا چې له هماغه سهاره د سرداراندرې د ټپي کېدو او د دوی په کاروان کې د هغه د تګ خبر اوریدلی و، غوښتل یې هغه ووینې. هغه په دې نه پوهېده چې دغه دیدن ته څه اړتیا ده، خو په دې پوهېده چې هغه به ډېر زوورونکی وی. په تېره بیا چې هغه په دې باور وه چې دغه دیدن خورا ضروري دی.
هغه ټوله ورځ دې ته سترګې په لاره وه، چې د شپې به هغه ووینې، خو اوس چې دغه شپه رارسېدلې وه، دې له هغه څه نه وحشت درلوده چې دې ته تر مخې وه. هغې ویل:
-هغه به اوس څنګه بدرنګه شوی وی؟ له هغه نه به څه پاتې وي؟ آیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه زګیروی، به دهغه چوپړ نه آرامه کېدونکو زګیرویو ته ورته وي؟ هوکې،هوهغه همدا سې و. هوکې،د هغه په خیالونو کې اوس سرداراندرې، ددغو وحشتناکو زګیرویو حالت ته ورته و. کله چې هغې په کنج کې یو تت بدن ولید او د څادر لاندې یې لوړ شوي ځنګنو باندې د اوږو ګمان وکړ. ویرونکې څېره یې ترخیاله ورغله. له ډاره وډریده،خو د هغه نه ایلیدونکی تکل هغه تګ ته هڅوله، هغه په احتیاط یو قدم وړاندې اخېست او بیا بل او چې کتل یې یوې خاموشې کوټې ته چې د خوځېدا ځای په کې نه و، ورسېده. په دې کوټه کې یو بل څوک د شمایل په وړاندې پر اوږدې څوکۍ ویده و. (دا تیموخین و ) په ډاګ یو دوه تنه نور هم پراته وو. (دا ډاکتر او د هغه چوپړ و ).

چوپړ سر راجګ کړ او وبنګېد. تیموخین ته چې د پښې له ټپ او د هغې له سخت درده خوب نه و ورغلی، په دې شپه کې د دوی په کوټه کې د سپین جامې نجلۍ ګرځېدا چې د خوب کمیس او جامې یې اغوستې وې، حیران کړي و. د داکتر چوپړ په ډار او خوبولي آواز وویل:

-څه غواړئ، څه لپاره دلته راغلي یاست؟ خو د دوی دغو پوښتنو ناتاشې دې ته اړ کړه چې ژر تر ژره په کنج کې ناست اېښودل شوی کټ ته پراته شي ته ورنږدې شي، که څه هم پرکټ پراته اندام ډارونکی و او انساني بدن ته یې ورته والی نه درلود ، هغې په دې ټینګار کاوه چې هغه وګوري. ناتاشا له چوپړ نه تېره شوه، د شمعې څاڅکې چې د شمعې شاوخوا کنډک کنډک روان و ، ښکته وڅڅېدل او هغې د هغې تر رڼایي لاندې سرداراندرې چې لاسونه یې پر بړستنې پراته و ، هغه شان ولید چې تل یې لیدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هماغه شان و لکه تل چې و، خو د هغې تبې اخېستی تک سور مخ او ځلېدونکې سترګې، چې بې له کومې لېوالتیا دې ته ځیر وې. په تېره بیا د هغه نازکه، ماشوم وزمه غاړه چې د کمیس له پرانستې او اوښتې غاړې د باندې راوتلې وې. هغه ته داسې ماشوم وزمه ښه ورکړې وه چې ناتاشا په ژوند کې هېڅکله سردار اندرې هغه شان نه و لیدلی. ناتاشا په چټکو تېنګو ګامونو او د ځوانۍ په خوځېدا د هغه خواته ورغله او تر مخې یې ګونډه شوه.

هغه و موسېد او هغې ته یې لاس ور اوږد کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۲

له هغې ورځې چې د بارادنیو په ډاګ کې سرداراندرې په روغتيايي ځانګې کې له بېسدۍ نه راپه حال شوی و، اوه ورځې تېرې شوې وې. هغه په دې ټوله موده کې تل بېسده و. هغه داکتر چې له دوی سره په سفر کې ملګرتیا کوله، ویل یې چې سختې تبې او د کولمو پړسوب باید هغه تر مرګه رسولی وای، خو په اوومه ورځ هغه په لېوالتيا یوه ټوټه ډوډۍ له چايو سره وخوړه او دداکتر دې ته پام شو چې د هغه تبه ماته شوې ده. د سهار پلو و چې سرداراندرې په سد شو. له مسکو نه تر وتلو وروسته، لومړۍ شپه هوا په پوره اندازه توده وه او سرداراندرې یې په خپله هماغه کراچۍ کې پرېښود، خو د میتیشي په سیمه کې ټپي خپله وغوښتل چې له کراچۍ نه یې یوسي او چای ورته راوړي. له کراچۍ نه د هغه لېږدول هغه ته دومره سخت او دردمند و چې چغې یې وختې او بېرته بېسده شو. هغه وخت چې یې هغه په ګرځنده کټ کې څملاوه، تر ډېرو پورې یې سترګې پټې او ناخوځنده پاتې شوې. کله چې یې سترګې پرانستې، په بنګهارې یې وویل:

-او چای څه شو؟

د ژوند ور خبرو ته د هغه هر اړخیز پام داکتر هک پک کړی و. داکتر د هغه نبض ونیو په تعجب او ناخوښۍ یې ولیدل چې د نبض ټکان یې ښه دی. د هغه ناخوښي له دې کبله وه چې دی د خپلې تجربې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ډاډه و چې سرداراندرې به ژوندی پاتې نه شي او که اوس ونه مري، لږ وروسته به ومري، خو د هغه د مرګ عذاب او زوریدنه به بیا زیاته وي. د ورېږ خو سرې پزې خاوند جګړن تیموخین چې د بارادنیو په جګړې کې یې پښه لګېدلې وه او په مسکو کې له دوی سره یوځای او هم په دې کاروان کې له ده سره روان و. یو تن ډاکتر، د سردار چوپړ، د هغه ګاډیوان او یاوران هم له دوی سره مل وو.

سرداراندرې ته یې چای ورکړ. هغه په تلوسې چای څکه، او تبجنې سترګې یې داسې دروازې ته نیولې وې، چې ګواکې هڅه کوي کوم شی ولټوي او یا غواړي څه شی وریاد کړي.. هغه وپوښتل:

-نور مې بس دی، تیموخین دلته دی؟

تیموخین د اوږدې څوکۍ له سره د هغه خواته وروخوځېد.

-زه دلته یم جلالتمابه !

-ټپونه دې څنګه دي؟

-زما ټپ؟ دی نو، ښه دی او ستا ؟

سرداراندرې بیا په خیال کې ډوب شو، داسې ډوب چې ګواکې کوم څه وریادوی، هغه وویل:

-کوم یو کتاب به پیدا نه شي؟

-کوم کتاب؟

-انجیل، زه انجیل نه لرم.

ډاکتر ژبه وکړه چې انجیل ورته پیدا کړي او بیا یې له سرداراندرې نه پوښتنې ګرویږنې پیل کړې. سرداراندرې په ناخوښۍ خو د ډاکتر ټولو پوښتنو ته عاقلانه ځوابونه ورکول. بیا یې وویل چې د هغه شا ته بالښت کېږدئ، ځکه هغه ناآرامه او ټپ یې خورا خوږیده. ډاکتر او د هغه یاور له هغه نه، هغه کوټ چې پر ده پروت و، جګ کړ، د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډډوزونه يې چې د تبې له خوسا کېدو نه پورته کېدې، سپېرمې برندې کړې او د هغه وحشتناک تبې ته يې وکتل. داکتر کوم شي خورا ناراضه کړ، د تبې، تبې يې بدله کړه، نا روغ يې په اړخ واړاوه، خو سرداراندرې د دغو اړولو راړولو زغم نه درلود، بيا يې له درده زګيروی او زاری پورته او بېسده شو. هغه په بېسدۍ کې اپلتې غړولې. هغه پرله پسې ويل چې څومره ژر کېږي، هغه کتاب ورته راوړي او دده تر سر لاندې يې ورته کېږدي.

هغه ويل: تاسو ته د کتاب راوړل ګران دي؟

هغه په داسې آواز چې خورا د زړه سوي و، ويل:

-زه د غه کتاب نه لرم، مهرباني وکړئ، هغه راته پيدا کړئ او شپه مې هغه تر سر لاندې راته کېږدئ.

داکتر له کوټې ووت چې لاس پرېمنځي. هغه، هغه چوپړ ته چې او به يې پر لاس وراچولې، وويل:

-اخ، تاسو په رښتيا وجدان نه لرئ، يوه شپه مې پام بلې خواته شو او تاسو مخامخ د تبې په خوا څملولی و، ته خو ګوره ! دا داسې درد او خوږ دي چې نه پوهېږم څنګه يې زغمي.

چوپړ وويل: مسيح دې رحم پرې وکړي، موږ تصور وکړ چې هغه بالښت يې چې غوښت ترې لاندې مو کړ.

دا لومړی ځل و چې سرداراندرې پوه شوی و چې چېرې دی او څه ورپېښ شوي دي. هغه ته ورياد شول چې ټپي شوی دی او هماغه شپه چې دوی په ميتيشي کې ودريدل، هيله يې کړې وه چې کوټې ته يې بوزي. هلته له درده بيا څه بېسده شوی و، خو په کوټه کې بېرته په سد شو. کله چې يې چای څکه، ټول هغه څه يې ورياد کړل چې پرې تېر شوي وو، تر ټولو نه هغه څه ښه ورياد شول چې د روغتيايي مرستو په مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې و او هغه دا چې هغه ته، د هغه سړي د عذاب په ليدو چې دده نه خوښېده، داسې خيال ذهن ته ورغی چې ده ته يې د نيکمرغي زيری درلود. دغه خيالونه که څه هم ناڅرګند او جړ و، خو هغه بيا پر ده راخواره شوي وو. هغه ته وریاد شول چې هغه نوی روحاني نيکمرغي لري او دا هغه نيکمرغي ده چې له انجيل سره يې څه ګډه ځانګړتيا لرله. له همدې امله هغه وغوښتل چې انجيل ورته راوړي، خو د هغه حالت خورا ژوبل و. کله چې يې هغه په اړخ واړاوه، د هغه د ټپ درد دومره زيات و چې بيا بېسده شو. دريم وار هغه وخت په سد شو چې تياره خوره او په کوټه کې چوپه چوپيا وه. ..

هغه فکر کاوه:

-ما ته داسې نوې نيکمرغي را په برخه شوې چې له انسان نه، نه جلا کېدونکې ده. دا له مادي او دنيايي شتو نه لرې نيکمرغي ده، داسې نيکمرغي چې پر انسان له مادي بهرني اغېز نه خپلواکه ده، دا د روح او مينې نيکمرغي ده، په دې نيکمرغۍ هر څوک پوهېدای شي، خو د هغه درک او فهم يوازې له خدای سره ده. خو دا قانون خدای څنګه انشا کړ؟ ولې مسيح؟.. او ناڅاپه د دغو خيالونو لړلۍ وشليده، ناڅاپه (پرته له هغه چې اندرې پوه شي چې هغه په رښتيني يا د اپلتو او باڅارتوب په دنيا کې دی) هغه يو څه واوريدل. هغه آرامه او زګيروی ډولی غږ واوريد، پرله پسې او تکراريدونکی غږ: پيتي، پيتي، پيتي او بيا پيتي، پيتي، پيتي او بيا پيتي، پيتي، پيتي او سرداراندرې داسې وانګېرله چې د هغه پر بشرې مخامخ د هغه د بشرې په منځنۍ برخه کې د همدې غږونو تر انګازو لاندې د نريو ستنو او ښکلو ټوټو يوه حيرانوونکې ودانۍ جوړېږي. هغه داسې احساسوله چې بايد (که څه هم ګرانه وه) خپل انډول ددې لپاره وساتي چې دغه ودانۍ را ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړېږي، خو دده د ټولو هڅو سره سره دغه ودانۍ رانړیده او بیا بېرته د هماغه انګازو د سندریز او نرم غږلاندې له سره جوړیده. سردار اندرې ځان ته ویل:

-زنګېږي، اوږدېږي، زنګېږي، اوږدېږي بېرته رازنګېږي او اوږدېږي.

سره له هغه چې هغه د زړه له کومې او په ټول قوت، دغه خواږه آواز ته غوږ او خپل ټول پام یې د ستنو دغې ښکلې ودانۍ جوړېدو او رالویدو ته واړولی و، هغه له شمعې نه چاپېره شوې سره رڼا هم لیدله. د مادر کیک خوځېدا او د مچانو د الوتو بزیدل چې کله ناکله به دده پر مخ کېناستل اوریدل. هر وار به یې چې کوم مچ پر مخ کېناست، پر هغه به یې سوځنده اغېز وکړ، خو دی دې ته حیران و چې مچان که څه هم دده پر بشرې پر جوړیدونکې ودانۍ لګېدل خو هغه یې نه ړنګوله. ددې تر ځنګ یو بله د پام وړ خبره هم وه او هغه د دروازې تر ځنګ یوه سپینه لکه او داغ و چې د وهم د یوې مجسمې په توګه پر هغه پېښې شوې وه.

سردار اندرې له ځانسره ویل:

-دا ناشونې ده، زما کمیس پر میز پروت دی؟ نه. دا زما پښې دي، دا دروازه ده، دا ولې هر څه زنګېږي او کشېږي، هغه هم په دې انګاز چې پیتي، پیتي، پیتي. هغه له چا نه، هغه هم معلومه نه وه، له چا نه په درانه آواز هیله وکړه: بس دی، نور یې ودروئ. او ناڅاپه د هغه فکر او احساس بیا، په لا قوت سره وخوځېدل.

هغه بیا په ژورو څرګندو خیالو کې ډوب شو:

-هو کې، مینه، خو دا هغه مینه نه وه چې، د څه شي لپاره د چا لپاره یا ولې لپاره وي په زړه کې احساسوي، بلکې دا هغه مینه وه چې ما په رښتینه توګه د لومړي ځل لپاره ددښمن په لیدو په زړه کې احساسوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د مينې هغه احساس، احساس کړ چې د انساني روح جوهر دی، هغه مينه چې کومه پلمه او موضوع نه غواړي. زه همدا اوس، د دغو احساساتو نېږدې والی احساسوم، د دوستانو ګرانښت، د دښمنانو ګرانښت، د ټولو ګرانښت، له خدای سره باید د هغه په هره بڼه مينه ولرو. انسان کولای شي ځان ته له ګران چا سره انساني مينه ولري، خو له دښمن سره کولای شو يوازې خدايي مينه ولرو، نو له دې کبله ما د هغې خوښۍ احساس وکړ چې ما احساس کړه چې له هغه سړي سره مينه لرم، چې په هغه څه شوي دي؟ آيا هغه ژوندی دی؟ کله چې څوک موږ ته په انساني مينه ګران وي، کېدای شي مينه په کرکه بدله شي، خو خدايي مينه، نه بدليدونکې ده. هېڅ شی، آن مرګ هم نه شي کولای دغه مينه له منځه يوسي. هغه د ځان جوهر دی. څومره خلک وو چې ما په ژوند کې له هغو سره کرکه لرله. )) په ټولو خلکو کې داسې څوک نه و چې ما دې له هغه سره داسې مينه او داسې کرکه لرلې وای، لکه له هغې سره چې ما مينه او کرکه لرله. هغه په خورا ځرګنده ناتاشا تصور کړه، خو نه هغه شان چې پخوا هغه تصوروله، هغه، د ځان لپاره هغه د هغې له ښکلا وو او خوشالۍ سره تصور کړه، د لومړي ځل لپاره يې د هغې روح د ځان لپاره تصور کړ. هغه د هغې احساسات درک کړل، د هغې زغم، د هغې شرم او د هغې پښېماني يې درک کړه. هغه اوس د لومړي ځل لپاره له هغې سره د خپلو اړيکو د انکار په بې رحمۍ پوه شو. هغه له هغې سره د جلا کېدو بې رحمي احساس کړه. ای کاش که يوازې يو وار هم وای چې هغه مې ليدلې وای. يوازې يو وار د هغې سترګې وګورم او ووايم..

ای، پيتي، پيتي، پيتي، پيتي ای، تي، تي ای، پيتي، پيتي، بوم، مچ يې پر مخ ولګېده او ناڅاپه يې پام هغې بلې دنياګۍ ته، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیاګۍ ته چې رښتیا او اپلتې سره ګډې وډې وې او ځانګړي څه هلته پېښېدل، ورواوښت. په هغې دنیاګۍ کې چې هر څه لوړېدل، خو هېڅ شی نه راپرزیدل، پر هغې یو څه کشیدل، شمعه هماغه شان کړۍ کړۍ، تکه سره سوځېده، هماغه کمیس د دروازې په خوله کې د انسان په څېر د زمري په پرتې مجسمې پروت و، خو سره له دې هم د غولي د تختو زګیروی واوریدل شو، سره وړمه وچلېده، او هماغه شان یوه نوې سپینه مجسمه په دروازې کې راڅرګنده شوه، او د دغې مجسمې په سر یې، د هماغې ناتاشې رنګ الوتې څېره او ځلېدونکې سترګې چې همدا اوس دده په خیالونو کې راتاویده، ولیده.

سرداراندرې هڅه وکړه چې دغه څېره له خپله خیاله وشړي، نو ځکه یې له ځانسره وویل:

-دا نه پرېښودونکی باڅاروالی څومره ګران دی؟ خو دغه بشره د هغه په وړاندې ولاړه او د یوه رښتینې واقعیت په بڼه دده ته ورنږدې کېده. سرداراندرې غوښتل د خپلو سپېڅلو خیالونو دنیاګۍ ته ورستون شي، خو هغه نه شو کولای، هغه باڅارتوب ،هغه هم هغه خپلې کړۍ ته ورکشاوه. آرام بنګهاری وزمې آواز خپل بنګهاري ته دوام ورکاوه، کوم شي پر هغه فشار راوړ او هغه عجیبه بشره دده په وړاندې ولاړه وه. سرداراندرې خپل ټول قوت راټول کړ چې را په حال شي، ځان ته یې ټکان ورکړ، ناڅاپه یې په غوږونو کې شرنګهاری شو، سترګې یې تتې شوې او دهغه چا په شان چې په اوبه کې ډوب شوی وي، ببسده شو. کله چې هغه په سد شو، ناتاشا نه د خیالونو، هغه ژوندی ناتاشا، چې ده د نړۍ د ټولو خلکو په منځ کې، تر ټولو زیات غوښتل په نوې پاکې خدایې مینې ورته ګرانه وي، هغه مینه چې په ده نازله شوې وه، دده تر مخې په ګونډو ولاړه وه. هغه پوه شو چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندۍ او رښتيني ناتاشا ده. هغه نه يوازې حيرانه نه شو، بلکې مينه او خوښي يې پر زړه خواره شول. ناتاشا په ګېنهۍ او ډار اخېستي توګه، ځای پر ځای ګونډې وهلې ولاړه وه (هغې نه شو کولای وخوځېږي) هغه ته يې کتل او هڅه يې کوله د خپلو سلګيو مخه ونيسي، رنګ يې تک سپين اوښتی او مخ يې وچ کلک او ناخوځنده و، خو يوازې د هغې د بشرې يوې لاندنې برخه کې يو ځای الوته.

سرداراندرې يوه آرامه ښېښوونکې سا ووېستله، وموسېد، لاس يې وړاندې کړ او وې ويل:

-تاسو؟ څومره نيکمرغه يم!

ناتاشا په چټکۍ خو احتياط نه ډکې خوځېدا، په ګونډو ګونډو هغه ته ورنېږدې شوه په احتياط يې د هغه لاس راونيو، د هغه پر مخ ورټيټه شوه او هغه يې ښکل کړ، داسې ښکلول چې مټې شونډې هغه يې د هغه پر مخ لګېدلې.

هغې سر راپورته کړ، هغه ته يې وکتل او په کراره يې وويل: وبښه! ما وبښه!

سرداراندرې وويل: تاسو ما ته ګران ياست.

-وبښه!

سرداراندرې وپوښتل: څنګه دې وبښم؟

ناتاشا په ټيټ، مټې اوريدونکی غږ چې پرې پرې کېده، وبنګېده او وې ويل:

-ما به د هغه څه له امله چې کړي مې دي..

او بيا يې پرله پسې او په کراره د هغه لاسونه ښکلول.

سرداراندرې په خپل لاس د هغې سر، ددې لپاره راپورته کړ چې د هغې سترګې ووينې او وې ويل: ته ما ته له پخوا لا زياته ګرانه يې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د نیکمرغۍ اوښکو نه په ډکو سترګو په حیا ، په زوریدونکې خو د مینې په خوښۍ هغې ته کتل. د ناتاشا رنګ الوتی، ډنګرې څېرې او پړسېدلو شونډو هغه بدرنګه کړې نه وه، هغه چور وحشتناکه برېښېده. سردار اندرې د غه څېره نه لیدله. هغه یوازې ځلېدونکې سترګې لیدلې، چې خورا ښکلې وې. په دې وخت کې له شا نه یو غږ واوریدل شو.

د سردار ځانګړي چوپړ چې لا د مخه له خوبه راویښ شوی و، داکتر یې راویښ کړ، تیموخین چې د پښې له درده هېڅ ویده شوی نه و، له پیل نه ټول هغه څه ولیدل چې دلته تېر شوي وو او پر څوکۍ یې خپل بربنډ ځان چې په څادر کې مروړلی و، لاپسې مروړه.

ډاکتر چې په خپل بستر کې راکېناست، وویل: دا څه کوئ؟ آغلې مېرمنې، هیله کوم مهرباني وکړئ، لاړه شيئ.

په دې وخت کې د کوټې دروازه وټکېده. دا د ګرافینې مینځه وه چې هغه یې د خپلې لور په لټولو پسې لېږلې وه.

ناتاشا لکه د خوب لیدونکې په څېر چې په خوب کې په لاره روانه وي، خو د خوب په نیمایي کې یې راویښه کړې وی، له کوټې ووته، خپلې کوټې ته ورستنه شوه او په ژړا ژړا په خپل بستر کې ولویده.

له هغه ورځې وروسته د ټول سفر په اوږدو کې هرځله به چې کاروان چېرې درېده او یا به یې شپه کوله، ناتاشا د ټپي بالکونسکي، نه لرې کېده او داکتر دې ته اړ شو په دې اعتراف وکړي چې دا انتظار یې نه درلود چې د غه پېغله دې داسې په ټینګه د ټپي خواخوږي او په داسې هنر دې د هغه پالنه وکړي.

د تعجب وړ وه چې د ګرافینې لپاره دا خیال پیدا شو، چې کېدای شي د لارې په اوږدو کې سردار اندرې مړ شي (د داکترانو په خبره) خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې هم نه شو کولای د خپلې لور د دغو کړو مخه ونیسي. که څه هم د ټپي سردار اندرې او ناتاشې د اوسني دیدن او د هغو بیا نږدې والی، هر څوک په دې فکر کې اچول که ناروغ جوړ شي، د دوی ترمنځ به پخواني اړیکې بیا تازه شي، خو په دې اړه هېڅ چا آن ناتاشا او سردار اندرې هم هېڅ ډول خبره نه کوله. د ژوند نه آوارېدونکې پوښتنې نه یوازې پر بالکونسکي بلکې پر ټولې روسیې لمن غوړولې وه او نورې ټولې چارې او اټکلونه یې له پامه لرې کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۳

د سپتمبر په دريمه پيير څه ناوخته له خوبه راويښ شو، سر يې خوږېده، پرته له هغه چې خپل کوټ وباسي، په کې ويده و، کوټ دده بدن کېښکوده، په ګوګل کې يې يو تت خيال د هغو ناڅرګندو او شرم وړ چارونه چې پرون شپه، له ده نه ترسره شوي وې، د هغه روح زوراوه. دا د شرم کار، له فرانسوي تورن رامبال سره د هغه خبرې اترې وې.

ساعت د ورځې يوولس بجې ښودلې، خو د باندې هوا تر يو اندازې پورې تياره وه. پيير پاڅېد، سترګې يې ومښلې، هغه تمانچه يې وليدله چې لاستی يې کنده کاري شوی و او ګراسيم بېرته هغه د ليک پر ميز ايښې وه، هغه ته وريادده شوه، دی او هغه څه يې ټول تصور کړل چې نن يې بايد سرته رسولي وای.

پيير، له ځانسره فکر وکړ:

-آيا پرما ناوخته شوي نه ده؟ نه، امکان نه لري، چې ناوخته شوي وي، مسکو ته د هغه راتګ له دولسو بجو نه مخکې امکان نه لري.
پيير ځانته دا اجازه نه ورکوله د هغه څه په اړه فکر وکړي چې هغه ته تر مخې و، نو ځکه هغه تلوار درلوده چې خپل کار پيل کړي.

خپل کميس يې جوړ کړ، تومانچه يې په لاس کې راواخېسته او د خوځېدو تکل يې وکړ، خو د لومړی ځل لپاره يې دا په زړه کې وګرځېد چې څنګه هغه هم په لاس کې، د ښار په کوڅو کې دغه وسله وګرځوي. آن د لوی او پراخ کميس لاندې هم په دغه اندازه د لويې تومانچې پټول ګران کار و. نه يې په ملا کې پټولی شوه او نه ترتخرګ لاندې، تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مهمه لا دا چې تومانچه تشه وه، پيير د دې وخت پيدا نه کړ چې هغه ډکه کړي. هغه له ځانسره وويل:

-په هر حال، توره خو شته !

که څه هم د ناپليون د وژلو د لاروچارو د موندلو په لړ کې هغه دې پايلې ته رسېدلی و چې په ۱۸۰۹ کال کې د ناپليون د وژلو لپاره د يوه محصل د بريد اصلي تېروتنه دا وه چې هغه محصل غوښتل ناپليون په توره ووژني، خو بيا هم د هغه اصلي موخه دا نه وه چې خپل تکل تر سره کړي، بلکې د هغه اصلي موخه دا وه، ځان په دې ډاډه کړي چې دی له خپل تکله نه تېرېږي او د هغه د سرته رسولو لپاره به هر څه، که څه هم خورا ګران وي، ترسره کوي. هغه په تلوار په شنه غلاف کې پڅه توره او تومانچه راواخېستل او د خپل واسکټ لاندې يې پټ کړل. خپل اوږد کميس يې جوړ او خولۍ يې پر سر سمه کړه. پيير هڅه کوله بې شروشوره دا سې ووزي چې له فرانسوي تورن سره هم مخامخ نه شي. دهليز ته لاړ او کوڅې ته ووت. هغه اور چې تېر ماښام ده په بې پروايۍ هغه ته کتل، د شپې په اوږدو کې لا پسې زورور شوی و. مسکو اوس له څو خواوو نه اور اخېستی و.

د سيند آپلو، د سوداګرۍ سرای.. د پاورسکايا کوڅې او د داراګاميلو پله ته نېږدې، د لرګيو د خرڅولو بازار ټول او ټول سوځېدل. د پيير لاره د وړوکوڅو له لارې، پاورسکايا او له هغه ځايه اربات ته رسېده او له هغه ځايه بايد نيکولي کليسا ته چې ده لا ډېره موده پخوا پر ناپليون د بريد لپاره په خيال کې خوښه کړې وه، تللی وای. د زياترو کورونو کړکۍ او دروازې تړلې وې. کوڅې او وړې کوڅې له خلکو تشې وې. د لوګي او سوځېدو بوی په هوا کې خپور و. کله ناکله به کوم روسي چې ډارنی او ګبنۍ اخېستې څېرې به يې لرلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا فرانسویان چې د کوڅو په منځ کې به د کلیوالو په شان روان وو، لیدل کېدل. دې او هغو په حیرانۍ پییر ته کتل. روسانو پییر ته نه یوازې د هغه د لوړې ونې او څورب ځان له امله کتل، نه یوازې هغوی د هغه په څېرې کې د تعجب خواشینی پاملرنې او زورېدنې د څرګندېدو له امله کتل چې هغوی نه پوهېدل، بلکې هغوی غوښتل په دې پوه شي چې هغه په روسي ټولنه کې کوم دریځ لري. فرانسویانو بیا په کتو کتو کې په تعجب ځکه هغه بدرګه کاوه چې پییر د نورو روسانو بر خلاف چې په ډار او ځار دوی ته کتل، هغوی ته هېڅ ډول پاملرنه نه کوله. د یوه کور د دروازې په خوله کې درې تنه فرانسویانو چې له روسانو سره یې خبرې کولې، پییر ودراوه او له هغه نه یې وپوښتل، په فرانسوي به نه پوهېږې؟

پییر د نه په نښه سر وښوراوه او وړاندې لاړ. په یوې بلې وړې کوڅې کې یوه ساتونکي چې د یو شین لرګي څنګ ته په خپله پوسته کې ولاړ و، پر هغه غږ وکړ، خو پییر چې کله د توپک په لاس ساتونکي ګواښمنه تکراري چغه واوریدله، پوه شو چې دی باید د کوڅې آپلو ته واوړي. هغه په خپله شاوخوا کې نه څه لیدل او نه یې اوریدل. په ویرې او تلوار روان و او خپل راز یې په خپل ګوګل کې د یوه ګواښمن او پردي څیز په شان ساته. هغه، پرونۍ شپې ته په خیال سره له دې نه ډاریده چې څوک په کوم ډول پرې پوه نه شي، خو دا قسمت نه و چې پییر خپل دغه راز تر هغه ځایه پورې چې ور روان دی و، په بشپړه ورورسوي. له دې پرته آن که هغه ته په لاره کې څه خنډونه نه وای پېښ شوي، د هغه تکل ځکه تر سره کېدای نه شو چې ناپلیون لا څلور ساعته د مخې د داراګامیلووا له سیمې خوځېدلی او د اربات د کوڅې له لارې د کرملین ماڼۍ ته تللی و. اوس ناپلیون په خورا بد طبیعت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرملین د ماڼۍ د ټولواک په کوټه کې ناست و. او په ښار کې د اورونو د وژلو، د غلا او تالان د مخنوي او د خلکو د آراملو لپاره یې هر اړخیزه او د پام وړ سپارښتنې ورکولې، خو پیېر په دغو ټولو خبرو نه پوهېده، هغه ټول د هغه کار په خیالونو کې ډوب و چې ده ته تر مخې و، هغه ډېر زوریده. دا زوریدنه د هغو خلکو زوریدنې ته ورته وه، چې د کوم ناشوني کار د سرته رسېدلو تکل یې کړی وي. د هغه زوریدنه او د کار ناشونیتوب له دې امله نه و چې کار ناشونی دی، بلکې له دې امله و چې دغه کار دده له وجدان او طبیعت سره اړخ نه لګاوه او په دې ویریده چې کېدای شي د کار د سرته رسېدو په کومه ټاکونکې شېبه کې سست نه شي او ځان ته درناوی له لاسه ورنه کړي. که څه هم د ځان شاوخوا ته یې، نه څه لیدل او نه یې اوریدل، خو د غریزې له مخې یې لاره وپستله او د پاورسکایا کوڅې ته په تلونکو تنګو کوڅو کې یې لاره نه ورکوله. په هماغه کچه چې پیېر د پاورسکایا کوڅې ته نږدې کېده، په هماغه کچه لوګی دم په دم زیاتېده او آن د اورونو د شغلو له امله د هوا تودخه زیاتېده. کله ناکله به د اور لمبې د کورونو تر چتونو لاندې یو بل پلو سر هسک کړ. دده ورانده تګ سره په کوڅو کې د خلکو ګڼه ګوڼه هم زیاتېده، خو ټول وارخطا او ګبڼی اخیستي بریښېدل. پیېر که څه هم دا احساسوله چې څه نادوده او غیر معمولې څه یې په شاوخوا کې تېرېږي، خو په دې نه پوهېده چې اورته ورنږدې کېږي. هغه چې کله د پاورسکایا د کوڅې او د ګرجي شهزاده د کور تر منځ په شاړه ځمکه کې په یوې نرۍ لاره تېرېده، ناڅاپه یې له ځانه یو څه لرې د یوې ښځې د زړه ناهیلي چغې واورېدې. هغه ودرید، تا به ویل لکه له خوبه چې راپاڅېدلی وي او سر یې پورته کړ.

د دغې نرۍ لارې څنګ ته په وچو او دوړو وهلو شنیلو د کور بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېره کېږي، له توشکو، برستنو، سماوار او صندوقونه نېولې، بيا تر سپېڅلو شمايلو او نورو شيانو پورې کوټه شوي وو. د صندوقونو تر شنګ پـه ډاګ يـوه زړه ډنګره بوډۍ چې پاسنۍ اوږدې داړې يې لـه ورايـه ښکارېدې، تـورې جامې يې پـه ځان او خولۍ يې پر سر وه، د صندوقونو نه لږ لرې پر ډاګ ناسته وه. بوډۍ کږه وږه کېده، پـه ناستې آواز يې کومه خبره تکرارولـه. دوې نجونې له لسو نه تر دولسو کلونو پورې چې لنډ خرين کميسونه يې اغوستي وو، په ډاريدلو رنګ الوتو څېرو کې يې لـه ورايـه وحشت بربښېده، مورتـه کتـل. يو کمکی د اوو کلونو پـه منګ هلک چې کليوالي کميس يې پـه ځان او پردۍ خولۍ يې پـر سر وه، د يـوې ښځې غېږ کـې ژړل. يـوه چوپړه نجلۍ، چې پښې بربنډې او ناولې وې د صندوق پر سر ناسته وه، خپلې ژېړې کوڅۍ يې راخوشې کړې،له خپلو کوڅيو نه يې سوځېدلي ويښته رابېلول،هغه يې پـزې تـه رسول او بويـول يې. د ښځې مېړه ټيټ ونی، کړوپ چې دولتي دريشي يې اغوستې وه، له بشرې نه يې نرۍ ږيره تاوه شوې وه او پر سر باندې ايښې جګې خولۍ لاندې يې پاکې شقيقې له ورايه معلومېدې، که څه هم څېره يې وچه کلکه او ناخوځېدونکې وه، خو د درد نښې نه پـه کې ليدل کېدې، هغه کوټه شوي صندوقونه لاندې باندې کول او له هغو لاندې نه يې څه جامې راوېستې.

دغې ښځې همدا چې پېير وليد، د هغه پښوته يې ځان وروارتېره او د سلګو او ژړا پـه منځ کې يې ويل:

-پلرونو، خپلو، با ايمانـه ارتودوکسه مسيحيانو، ومو ژغورئ ! مرسته وکړئ ! قربان مو شم، د خدای لپاره يو څوک مرسته وکړئ. لـور مـې، ماشـوم مـې، هلتـه د اور پـه مـنځ کـې پـاتې دی، وی وی، اور يـې اخېستی.. اور، لمبې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاريده چې د ښځې مېړه يو ازې د دې لپاره چې د دغه پردي سړي په وړاندې ځان برحقه وښيي، خپلې ښځې ته مخ ورواړاوه او په کرار آواز يې وويل:

-ماريا نيکولايفنا ! هرومرو به دې خور هغه پورته کړې وي، هغه زياته کړه:

-کنه چېرې به وي؟

ښځې ناڅاپه ژړا بنده او په خورا قهر او غضب يې پر مېړه چغه کړل:

-بې رحمه، ظالمه ! زړه نه لرې، په خپل ماشوم دې زړه نه خوږېږي، لکه بت داسې ولاړ دې، هر بل څوک چې وای ماشوم به يې د اور له لمبو نه را ايستلای وای، دا بت دی، نه انسان، دا پلار نه دی.

هغې ژړل، سلګۍ يې وهلې او په ژړا انګولايې پيير ته وويل:

-داسې ښکاري چې تاسو مهربانه او خوږ زړی سړی ياستئ، د ګاونډي کور اور اخيستی او اوس اور زموږ کورته رارسېدلی دی.

ښځې دوام ورکړ:

-ټولو منډې کړې، دچا چې څه په ځان و ، په هماغه کې يې ودانګل، دغه مو وژغورل، دغه يو سپېڅلی شمايل او دغه پالنګ چې ماته د پلار کورنۍ په واده کې رابښلې و ،را واخېستل او نوره ټوله شتمني مو د اور په لمبو کې ايرې شول. اوس مې چې ماشومان راټول کړل، کمکۍ کاتيا نه شته، او بيا په ژړا شوه:

-زما ماشومې ! د زړه سرې ! اور يې واخيست ! وسوځېده !

پيير وويل:

-چېرې؟ هغه چېرته پاتې شوه؟

د پيير د څېرې له بدليدو او ډار نه ښځه په دې پوه شوې وه چې کېدای شي مرسته ورسره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې د هغه پښو ته ځان ورواړتیره او چغه یې کړل:

-پلار کیه ! پلار جانه ! مهربانه، لږ تر لږه زړه مې آرام کړه.

هغې له قهره خوله پرانسته او په دې توګه یې خپلې اوږدې داړې ښکاره کړې او پر مینځې یې ورچغه کړل:

-تا ته وایم، انیسکا ! بدمرغې، لاړه شه ! بدرګه یې کړه، ځای ورته وښییه !

پېیر چې سا یې بنده بنده کېده، په تلوار وویل:

-بدرګه کړه، بدرګه کړه، زه، زه یې راباسم. ..

دناولو جامو نجلۍ د صندوق له شا راووته، خپلې کوڅۍ یې ورټولې کړې، ژوره سا یې وویسته، په بربنډو پلنو پښو په نرۍ لارې وړاندې لاړه. پېیر چې تا به ویل ناڅاپه له ژورې بېسدۍ نه را په سد شوی وی، سر یې پورته کړ، سترګې یې د ژوند له رڼا نه وځلېدې، په چټکو ګامونو نجلۍ پسې وخوځېد ،تر هغې نه مخکې شو او دپاورسکایا واټ ته ورسېد. په ټوله کوڅه کې د ګڼو لوګیو څپې خورې وې. یو نیم ځای د لوګیو د وریځو او تیارو له منځه د اور لمبو شغلې پورته کولې. د اورونو تر مخې د خلکو سخته ګڼه ګوڼه جوړه وه. د کوڅې په منځ کې یو فرانسوي جنرال ولاړ و او شاوخواته ولاړو کسانو ته یې څه ویل. پېیر چې هغه نجلۍ بدرګه کاوه، غوښتل هماغه ځای ته چې فرانسوي جنرال ولاړ دی ورشي، خو فرانسوي سرتېرو د هغه مخنوی وکړ او وې دراوه.

یو آواز پرې چغه کړه:

-وړاندې تلای نه شئ !

نجلۍ وویل: کاکاجانه ! دې خواته راشه ! ددې کوڅې نه، د نیکولین د کور له مخې به لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پییر راستون شو ، نجلۍ پسې وخوځېد ، کله ناکله به يې يو نيم ګام هم ځکه وا چوه ، چې هغې پسې ځان ورسوي ، نجلۍ د کوڅې بل پلو واوښته ، کینې خواته تنګې کوڅې ته ورتاوه شوه ، د درې کورونو له مخې نه تېره شوه ، ښي خواته د يوې دروازې پلو وروګرځېده ، هغې وويل:

-دغه دی ، راورسېدو ! يوه انګړ ته ورننوته ، وړاندې لاړه ، په يو لرګين ديوال کې يې يوه دروازه راخلاصه کړه ،ودرېد ،يوه لرګینه ودانۍ چې سخت اور يې اخېستی او شاوخوا يې رڼا او تودله ، سوځېده ، د اور لمبې د کور له کړکيو او ترچتونو لاندې راوتلې.

پییر چې له لرګيني پنجرې نه تېر شو ، د اور د لمبو تودخې هغه داسې په عذاب کړ چې بې واکه ودرېد.

هغه وپوښتل: ستاسو کور ، ستاسو کور کوم يو دی؟

نجلۍ په زاريو او سلګيو په داسې حال کې چې لرګين کورته يې اشاره کوله وويل:

-اوخ ، هغه. همدا زموږ کور و.

انيسکا داسې احساسوله چې د اور په ليدو خپل احساسات څرګند کړي ، هغې وويل:

-وای کاتيا جانې ! زما ګرانې نازولې ! اور دې واخېست ، وای ، وای !

پییر د اور اخېستي کور خواته ورنېږدې شو ،خو تودوخه دومره زياته وه چې اړ وت له کوره راتاو شي ، د يوې داسې لويې ودانۍ مخې ته وروا وښت ، چې د يوې خوا چت يې لا سوځېده او فرانسوي پوځيانو يې څنګ ته ګڼه ګونه جوړه کړې وه. پییر لومړی پوه نه شو چې دغه فرانسويا ن چې هر يو له کوره يو څه راباسي ، په څه اخته دي ، خو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې وليدل، چې يو فرانسوي سرتېري، يو کليوال سړی په توره وواهه او د هغه د ګېډې له پوسته جوړ، پوستين يې ترې وويست، پوه شو چې فرانسويان په تالان اخته دي. ،خو هغه وخت نه درلود چې ودرېږي او په دې اړه کې فکر وکړي.

د ديوالونو چاوديدل، د چتونو د رالويدو غرمبهاري، د اور د شغلو شغهاري، د ګڼې اخېستو خلکو شور، چغو او شروشور، د لوګيو د کنډک کنډک وريځو ننداره چې وړاندې وروسته خوځېدل، کله به تک تور، کله به سپين او ګوابنمن شول، پورته به لاړل او د ويرې شغلې به يې د آسمان پلو ته ولېږلې. لمبې به کله ګڼې شوې، سرو سرو شغلو به غاړې غړولې، او کله به زرينو کاغذو ته چې ديوالونه يې پوښول ورته شوې .. تودخې او د لوګي د تند بوی چټک خوځون پر پيير خپل ځانګړی اغېز وکړ او ددې اور او شغلو په ليدو يې ناڅاپه داسې احساس کړه چې له هغو خيالونو نه آزاده شوی، چې تر اوسه پورې په کې ډوب و. هغه ځان ځوان، خوشاله، مست او ډاډمن احساس کړ. د هغې لويې ودانۍ له خوا د لرګين کور خواته راتاو شو، همدا چې غوښتل يې د کور هغې برخې ته چې لا ولاړه وه، ورننوزي چې ناڅاپه يې سر پورې شروشور واوريدل شو او تر هغه وروسته يې د کوم درانه شي د ماتېدو او خپل ځنګ ته د لويدلو غږ واوريد.

د اوريدل شوي غږ خواته يې وروکتل او څو فرانسوي سرتېري يې وليدل چې له يوې کړکۍ نه يو صندوق چې له کپړو او وسپنيزو شيانو ډک دی، را ارتېږلی دی. لاندې نور ولاړ فرانسوي سرتېري، صندوق ته ورنږدې شول.

د فرانسوي سرتېرو نه يو تن پر پيير غږ وکړ:

-دا لا پسې څه غواړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيير وويل:

-يو ماشوم په دې کور کې پاتې دی، آيا تاسو کوم ماشوم نه دی ليدلی؟

څو غږونو غبرګ وويل:

-اوهو، دا لا څه وايي؟ ځه بلا درپسې، ورکېږه!

يو تن له سرتېرو نه په دې خيال چې په صندوق کې د سپينو زرو او برنجي شيانو نه کوم شی، پيير ترې وانخلي، په ګوانګواښ هغه ته ورننېږدې شو.

يو فرانسوي له پاسه ورغږ کړل:

-ماشوم؟ ما د باغ له خوا يو غږ واورېد، کېدای شي، دا د هغه ماشوم واوسي، څه وايې، هر څه بايد انساني وي، موږ ټول د خدای بندګان يو.

پيير وپوښتل:

-چېرې و، چېرې و؟

فرانسوي د ودانۍ شا ته، باغ پلو اشاره وکړه، او د هماغې لوړې کړکۍ نه يې چغه کړل:

-دې خوا ته، دې خوا ته! يوه دقيقه صبر وکړه، زه اوس درځم.

او رښتيا هم، يوه دقيقه وروسته يو فرانسوي تور سترګی، مهربان سرتېری چې په غومبوري يې يو داغ هم لاره، په يوه کميس کې د لومړي پوړ له يوې کړکۍ نه راووانګل. پيير يې په اوږه وواهه او له هغه سره يو ځای يې د باغ پلو منډه کړل. هغه پر خپلو ملګرو غږ وکړ:

-تاسې هم ژر کوئ، کار خلاص کړئ. اور دم په دم لا خپرېږي.

فرانسوي د هغې لاره نه چې شګه پرې آواره وه، له پيير سره يو ځای د کور شاته ورمنډې کړې، هلته يې پيير له لاسه راونيو او يو دايره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوله ځای یې وروښود.

تریوې څوکۍ لاندې یوه درې کلنه نجلۍ چې ګلابي کمیس یې اغوستی و، پرته وه.

فرانسوي وویل:

-دا هم ستاسو ماشوم، اوهو، دا خو نجلۍ ده، دا لا ښه، د خدای په امان ځوربه! نو څه پروا لري، هر څه باید انساني وي، آخر موږ ټول د خدای بندګان یو.

فرانسوي چې غومبورو یې داغ لاره، تر دې خبرې نه وروسته بېرته د خپلو ملګرو پلو ورمنډې کړې.

پېیر له خوښۍ نه ژوره ژوره سا اېسته، نجلۍ ته یې ورمنډه کړې او غوښتل یې هغه راپورته کړي، خو نجلۍ چې بدرنګې یې مورته ورته وه او ژیړې وهلې وه، د پردي سړي په لیدو یې چغې او منډه کړل. په هر حال پېیر هغه راونیوله او راپورته یې کړه. هغې له قهره په ډک آواز چغې وهلې، ورې منګولې یې اچولې، او له لاړو نه په ډکه خولې یې پېیر په غاښاوه. او هڅه یې کوله چې ځان ترې خلاص کړي. که څه هم پر پېیر یو ډول وحشت او وېره، هغه شان چې له کوم واړه ځناور سره د مخامخ کېدو په وخت کې پرې راخور شوی و، راخور شو، خو هغه ټوله هڅه وکړه چې ماشوم پرې نه ږدي او له هغه سره یو ځای د هغې لوېې ودانۍ خواته ستون شو. خو له هغې لارې نه چې راغلی و، بېرته ستنېدل ناشوني و، انیسکا هم نور هلته نه وه، او پېیر هم مهاله د رحم او کرکې له احساس سره هغه نجلۍ چې ژړل یې، سلګۍ یې وهلې او ځان یې لوند کړی و، په لا مهربانۍ په غېږ کې کېښکوده او د باغ پلو یې ددې لپاره منډه کړل، چې د وتلو نوې لاره پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳۴

کله چې پيير په انګړونو، ورو او لويو کوڅو کې تر منډو وروسته بېرته د ګرزوفسکي باغ ته ورستون او ځان يې د پاورسکايا د کوڅې هغه څنډې ته ورساوه، چې له هغه ځايه دی د نجلۍ په لټه پسې خوځېدلی و، په لومړۍ شېبه کې هغه، هغه ځای ځکه ونه پېژاند، چې هلته د خلکو بې ساري ګڼه ګوڼه جوړه شوې وه او له کورونو نه د مالونو او کپړو د راويستلو له امله لوی لوی داسې انبارونه جوړ و، چې د قدم د ايښودو ځای هم پاتې نه و. له روسي کورنيو نه پرته چې د اور له ډاره راتښتېدلي وې او دلته يې خپلو کالو او کپړو سره پناه اخيستې وه، څو فرانسوي سرتېري چې رنګارنګ کالي يې اغوستي وو، هم دلته و. پيير هغو ته ځکه پاملرنه ونه کړه چې د هغه مامور د کورنۍ د پيدا کولو لپاره يې تلوار کاوه او غوښتل يې چې کمکۍ لور يې مورته ورکړي. او بېرته د کوم بل چا د ژغورنې لپاره ورستون شي. پيير داسې انګېرل چې دی بايد نورې ډېرې چارې ژر تر ژره ترسره کړي، د تودخې او منډو له زوره يې سخته ګرمي شوې وه. پيير د ماشوم د ژغورنې په وخت کې تر پخوا نه لا، د ځوانۍ تاند توب او پريکړون احساساوه. نجلکۍ اوس نو، آرامه شوې وه او د پيير د کليوالي کميس لستوني يې کلک نيولي وه. هغه د هغه په غېږ کې ناسته او کله يې لکه ځنګلي کمکي ځناور په شان خپلې شاوخوا ته کتل. پيير به کله ناکله هغې ته وکتل او نرۍ موسکا به يې پر شونډو خوره شوه. هغه داسې احساسوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې له ډاره اخېستې او ښاپېرې وزمه ځېره کې کوم اغېزمن او ساده څه وینې. په پخواني ځای کې نه هغه مامور و او نه يې ښځه. پېير په چټکۍ د خلکو په منځ کې روان و ، د هغو خلکو بېلابېلو څېروته يې کتل چې په مخه ورتلل. بې ارادې به يې هغو ګرجي يا ارمني کورنيو ته چې ښکلې ختيځ ښه څېرې درلودې پام شو. لومړي يې يو ډېر بوډا سړی چې نوی اوږد پوستين او نوې موزې يې په پښو وې ولید ،تر هغه وروسته، دې ته ورته يوه بوډۍ او يوه ځوانه ښځه، دغه خورا ځوانه ښځه وه، هغې له تورو زړه راښکوونکو اوږدو ، کږو وږو لکه په قلم انځور شوي انځور، تورو وروځو او ګل ته ورته ښکلې څېره، چې پاسته غیر معمولي تاند او مینه ناک اننګی يې لرل، د ختيځ د بې ساري ښکلې ښکلا بېلګه وه. خو هغه د کوم حالت څرګندونه نه کوله. دغه ښځه د خلکو د شيانو او په ډاګ کې د ګڼه ګوڼې په منځ کې په خپل غاړه تړلې قيمتي اطلسي کوټ او خړ روښانه دستمال کې چې سر يې په کې مروړی و ، په تودې ګلخانه کې ورته ګل ته پاتې کېده چې پر واورو ارتيږل شوی وي. هغه لږ لرې د بوډۍ شاته، په يوه کنج کې د کاليو پر يوې ګېډۍ ناسته وه، سر يې ښکته اچولی و ،تورو برندو سترګويې، چې نه خوځېدونکي، لوړ تور اوږده باڼه يې لرل، ځمکې ته کتل. دا سې برېښېده چې هغه په خپلې ښکلا پوهېده او په هغې ويريده. دغې بشرې پېير ګوته په غاښ کړی و او له خپل ټول تلوارتوبه سره چې دد ېوال خواته روان و ،څو ځله يې اورمېږ واړاوه او هغې ته يې وروکتل. د ديوال پای ته د رسېدو سره يې هغه کسان چې لټول پيدا نه کړل. پېير ودرېد ، دا خوا هغه خوا يې وکتل.

د پېير څورب غټ ځان، ماشوم په غېږ کې، اوس له پخوانه لا د پام وړ و او څو تنه روسي ښځې او نارينه پرې راټول شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه نه پوښتنې کېدې:

- څوک مو ورک کړي دي؟ مهربانه ! تاسو خپله له مخورو کورنيو نه یاستئ که څنګه؟ دا ماشوم د چا دی؟

پېير ځواب ورکړ چې دا ماشوم د یوه ښځې دی چې تور کوټ یې په ځان و او له نور ماشومانو سره دلته ناسته وه او بيا یې و پوښتل:

-آيا څوک هغه نه پېژني او نه پوهېږي چې چېرې لاړه؟

د پاپ يو بوډا لاسمل يوې بدرنګې ښځې ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

-دا ماشوم بايد د انفيروف د کورنۍ وي !

هغه وروسته په عادي ټيټ غږ وويل:

-خدايه رحم وکړې ! خدايه رحم وکړې !

ښځې وويل:

-د انفيروف کورنۍ چېرې ده؟ انفيروفيان لا سهار د وخته لاړل. نه، نه، دا ماشوم يا د ماريا نيکولايفنا دی او يا هم د ايوانوف د کورنۍ.

يوه چوپړ وويل:

-دغه ماشوم د يوې ښځې دی، نه د ماريا ايوانوفنا چې خپله يوه محترمه مېرمنه ده، هغه خپله اربابه ده.

پېير وويل: هو کې تاسې يې پېژنی، اوږدې داړې او ډنګره.

ښځې وويل:

-هو، هو، هماغه ماريا نيکولايفنا ده، هغې چې فرانسوي سرتېرو ته اشاره کوله وويل:

-کله چې دغه لېوان راتويې شول، هغوی باغ ته لاړل.

د پاپ لاسمل وويل:

-اوه لويه خدايه رحم وکړې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې بیا وویل:

-تاسو هغې خواته ورشئ، هغوی هلته دي. هماغه دي.

هغې پرله پسې بدې ورځې کولې او ژړل یې: هماغه ده، همالته ده !

خو پیېر د هغې ښځې خبرې نه اوریدې، هغه له څو شېبو راهیسې هغه څه ته کتل چې څو ګامه لرې له ده نه پېښېدل. هغه، ارمني کورنۍ او هغو دوو تنو فرانسوي سرتېرو ته کتل چې دغه ارمني کورنۍ ته ورغلل. د دغو سرتېرو نه یو یې لنډ ونی، چالاکه سړی و، چې شین بخون کوټ یې اغوستی او نرۍ رشمه یې تر ملا تاو کړې وه، خولۍ یې پر سر او پښې یې بربنډې وې. هغه بل سرتېری چې لوړ ونی، لږ ملا کړوپی، روڼ څنې، ډېر ډنګر، په کراره خوځېده او احمقانه څېره یې لرله، هغه لنډونی و، پښې بربنډې او شین بخون کوټ یې اغوستی و. سرتېری چې ارمنیانو ته ورورسېد، سمدلاسه یې څه وویل، بوډا یې له پښو راونیو او بوډا هم سمدلاسه او په چټکۍ له پښو نه د موزو په راوېستلو پیل وکړ. هغه بل سرتېری د ښکلې ارمنۍ مخې ته ودرید، له خوځېدا او غږېدا نه پرته یې، لاسونه په جیب کې هغې ته کتل.

پېیر په داسې حال کې چې ماشوم ښځې ته ورکاوه، په تلوار او ترخه ژبه هغې ته وویل:

-واخله، درواخله ! ته یې هغو ته ورکړه، هغه چې هغه نجلکۍ پر ځمکه کېښوله، پر ښځې تقریبا چغه ووهله او وې ویل:

-هغوی ته یې ورکړه.

او بیا یې فرانسویانو او ارمنۍ کورنۍ ته وکتل. بوډا چې نور موزې ترې اخېستل شوې وې، بربنډې پښې ناست و. ټیټ ونی فرانسوي چې له هغه نه وروستۍ موزه راوویسته، هغه موزې یې یو پر بل ووهلې. بوډا بنګېده او څه یې وویل، خو پیېر هغه ته یوازې یو لنډ غلچک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورواړاوه او ټول پام یې هغه سرتېري ته و چې کمیس یې اغوستی و او اوس په کراره، خو ټینګو ګامونو د هغې ځواني ښځې خواته ورنېږدې شو، لاسونه یې له جیبه راوویستل او هغه یې له غاړې راونیوه.

ښکلې ارمنۍ کراره بې خوځېدا په خپل ځای ناسته وه، اوږده بانه یې ښکته لویدلې وو او داسې بریښېده چې د دغه سرتېري کړه چې له دې سره یې کوي، نه ویني او آن نه یې احساسوي. تر هغه پورې چې پېیر دځان او سرتېرو تر منځ څو ګامه لاره ووهي، جګ ونی داړه مار چې کلیوال کمیس یې اغوستی و، د ارمنۍ له غاړې نه یې غاړکۍ راشلولې وه، او ځوانې ښځې لاسونه تر غاړې، کړۍ کړې سوې سوې ساندې کولې او ژړل یې.

پېیر چې آواز یې له قهره او خواشیني نه په چغو بدل شوی و، چغه کړې:

-پرېږدئ، دا ښځه پرېږدئ!

جګ ونی په ملا کړوپ سرتېری یې له اوږې راونیو، هغې خواته یې وارتېره، سرتېری پرځمکه ولوید، بېرته پاڅېد او وتښتېد. د هغه ملګري موزې وارتېرلې، توره یې راوویسته، په ګوابښ ګوابښ د پېیر خواته ورورړاندې شو او چغه یې کړل:

-ښه، اوس به ګورو، حماقت به نه کوې!

پېیر د قهر او غضب په هغه لېونتوب کې و چې په هېڅ شي نه پوهېده او قوت یې په لسګونه وار زیاته شوی و، په لوڅ پښو فرانسوي یې برید وکړ او مخکې له هغه چې هغه د تورې د ګوزار وخت پیدا کړي، هغه یې راځملاوه او د سوکانو تر ګوزار لاندې ونیو. د شاوخوا له ګنې ګوڼې نه یې د ستاینې او آفرین نارې واوریدې او له دې سره هم مهاله د کوڅې له کنجه، د فرانسوي سورو پوځونیوه ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابښکاره شوه. فرانسوي پوځيان په چټکۍ د پيير خواته ورغلل او هغه نه راتاوو شول. د پيير تر دې نه وروسته هېڅ په ياد نه وو، خو يوازې دومره يې په ياد و چې د ه ځوک وهلي او نورو دی واهه. په پاى کې هغه احساس کړه چې لاسونه يې تړل شوي او فرانسوي پوځيانو تري تاو راتا او دده د کوټ جيبونه يې لټول.

پيير په هغو لومړيو خبرو چې پوه شو، د يوه سرتېري خبرې وې چې ويل يې:

-ښاغلی لومړی بريدمن ! يوه چاړه لري.

افسر وويل:

-ښه، وسله وال دی ! او هغه سرتېري ته يې چې له پيير سره نيول شوی و، مخ وروا ړاوه، وويل:

-ښه ده، ښه ده، نورې خبرې به په محکمه کې وکړې. بيا يې مخ پيير ته ورواړاوه او وې ويل:

-تاسو په فرانسوي خبرې کولای شئ؟

پيير چې خپل شاوخواته کتل، په سترګو کې يې وينې راخوټېدې، او ځواب يې نه وايه، داسې برېښېده چې څېره يې خورا وحشتناکه شوې ده چې افسر په بنګهاری څه وويل. څلور فرانسويانو له نورو جلا او د پيير تر څنګه دواړو خواته ودريدل.

افسر چې له پيير نه څه شانته لرې ولاړ و، وويل:

-تاسو په فرانسوي پوهېږئ؟ ژباړونکي ته ورغږ کړئ؟

يو لنډ ونی فرانسوي چې روسي جامې يې په ځان وې، له کتاره راووت. پيير د هغه له جامو او غږيدا نه سمدلاسه په دې پوه شو چې هغه د هغو فرانسويانو له ډلې نه دي چې د مسکو په مغازو کې کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړونکي چې پيېر ته وکتل وې ويل:
-داسې برېښي چې هغه له مخورو نه وي.
افسر وويل:
- هغه او را چونکو ته ډېر ورته دی، ترې وپوښتئ، هغه څوک دی.
ژباړونکي وپوښتل:
-ته څوک يې؟ ته بايد د مشر پوښتنو ته ځواب ورکړې.
پيېر ناڅاپه په فرانسوي ژبه ځواب ورکړ:
-زه به تاسو ته ونه وايم، چې څوک يم، زه ستاسو اسير يم، ځئ ما هم درسره بوزئ.
افسر تندی تريو کړاو وې ويل: آها، آها ! مخ وړاندې !
خلک له فرانسوي پوځيانو راتاوو شول. تر ټولو نېږدې پيېر ته هغه بدرنګه ښځه چې نجلکۍ يې په غېږ کې وه، ولاړه وه. کله چې د پوځيانو ډله وخوځېده، هغه ښځه وړاندې راغله.
هغې وويل: د زړه سره چېرې دې بيايي؟ هغې زياته کړه:
-که دا نجلۍ د هغوی نه وي، په هغې څه وکړم؟
افسر وپوښتل:
-دا ښځه څه غواړي؟
پيېر لکه نشه داسې سرسامه و، د هغه خوښي، د هغې نجلۍ په ليدو چې ده ژغورلې وه، دوه چنده شوه او وې ويل:
-څه غواړئ؟ زما لور چې ما له اوره ژغورلې ده، بيا له خدای په امانۍ پرته، خپله په دې پوه شي، چې څنګه يې دغه بې موخې دروغ ولې ويلي دي، په درنو او وياړمنو ګامونو د فرانسويانو منځ ته ورتېر شو.
دفرانسويانودغه ډله، هغه پوځي ډله وه چې د ((ديورونيل)) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارښتنه، د ښار د واټونو ساتلو ته لېږل شوي وه،هغوی له ښارنې سره هم مهاله باید د خلکو د شتمنیو د تالان مخه هم نیولې وای او په تېره بیا د اور لګوونکو په نیولو کې یې مرسته کړې وای. دا ځکه چې په هغه ورځ فرانسوي لوړپوړو افسرانو تصور کاوه چې مسکو ته په خپله د هغه او سېدونکي اور اچوي.

دغه پوځیان په ځو کوځو کې تر ګرځېدو او ښارنې وروسته یو پنځه تنه روسان د اور اچولو په تور ونیول، په هغو کې یو تن دوکاندار، دوه تنه د کلیسا طالبان، یو کلیوال او یو ځوکېدار وو، خو د ټولو مظنونانو په منځ کې پېیر تر ټولو مظنون و، کله چې یې ټول نیول شوي کسان د زویوفسکي د کوڅې یو لوی کورته چې په زندان بدل شوی و، د شپې تېرولو لپاره راوستل، پېیر یې د نورو نه جلا تر سختې ښارنې لاندې ونیو.

د درېیم ټوک پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library